فتاویٰ دار العلوم زکریا

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتہم

شیخ الحدیث ومفتی دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

زیر اہتمام

حضرت مولانا شبیر احمد سالوجی مدظلہ

مہتمم دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

تہذیب وتحقیق

محمد الیاس شیخ عفی عنہ

رفیق دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

ناشر

مکتبہ رشیدیہ
لنگ بازار
کندھار
افغانستان




فتاوی دار العلوم زکریا

جلد اووم

باب الرهن، باب الغضب، باب اللقطة، باب المزارعة والمساقاة، كتاب الصيد والذبائح ابواب
الاضحية والعقيقة، كتاب الحظر والاباحة

افادات

حضرت مولانا مفتي رضاء الحق صاحب دامت بركاتهم
شيخ الحديث ومفتي دار العلوم زكريا، جنوبي افريقا

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبير احمد سالوجي مدظله
مهتمم دار العلوم زكريا، لينيشيا جنوبي افريقا

تهذيب وتحقيق

محمد الياس شيخ
رفيق دار الافتاء زكريا، جنوبي افريقا

ناشر

مكتبه رشيديه

ارګ بازار، کندهار-افغانستان




د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	**فتاوی دار العلوم زکریا**
تالیف	افادات شیخ الحدیث حضرت مفتي رضاء الحق صاحب
ژباړونکي	مفتي مولوي طیب الله ((السالم)) صاحب
تصحیح	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
جلد	اووم
کمپوز او ډیزاین	عبد الصمد
د چاپ کال	(۱۴۳۸ هـ ق، ۱۳۹۷ هـ ش)
د خپرونو لړ	(۳۵)
ناشر	مکتبه رشیدیه ارګ بازار، کندهار-افغانستان
ټلیفون شمېره	۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹، ۰۷۰۰۳۸۸۶۷۴، ۰۷۰۶۳۴۷۵۱۶

شمېره	عنوان	صفحه

باب اللقطة

باب المزارعة والمساقاة

كتاب الصيد والذبائح

دوهم باب

احکام الأضحیة

الفصل الثانى فيما يجوز به التضحية ومالا يجوز به

الفصل الثالث فی التصدق بلحوم الاضاحی وغیرها

خلورم فصل

داختري په اړوند د متفرق احکامو بیان

باب څلورم
احکام العقیقة

دوهم فصل

د نوي زیږېدلي ماشوم په اړوند د احکامو بیان

كتاب الحظر والاباحة

دوهم فصل

د څښاک د احکامو بیان

باب دوهم

احکام الضیافة

دريم باب

احكام التداوى

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى

﴿وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ﴾. (سورة البقره، ٢٨٣).

عن عائشة رضي الله عنها قالت: من يهودى طعاما الى أجل ورهنه درعه.

(رواه البخارى)

باب الرهن

عن أبى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يغلق الرهن له غنمه وعليه غرمه.

(اخرجه الحاكم).

د ګروې ايښودلو د احکام

له ګرو شي څخه د فائدې اخستلو حکم

سوال: ځينى خلک له ګرو سوې مځکي او ځاى څخه فائده اخلي تر څو چي پور نه وي اخيستل سوى او دا وايي، چي په هدايه او داسي نورو کتابو کي ليکل سوي دي چي د مالک په اجازه سره ګټه اخيستل روا ده، نو ايا د دوى دغه خبره صحيح ده او که نه؟ که چيري له ګرو شي څخه ګټه اخيستل روا نه وي، نو بيا د هغه له پاره يو داسي لاره کښدلاى سي چي په هغه سره د فائدې اخيستلو جواز راسي؟

الجواب: د فقهاؤ له ظاهري عباراتو څخه معلوميږي چي د ګرو شى د مالک د اجازې څخه پرته فائده اخيستل ناروا ده او د مالک په اجازه سره روا او جائز ده:

په هدايه کي يې وګورئ:

وليس للمرتهن أن ينتفع بالرهن لا باستخدام ولا بسكنى ولا لبس إلا أن يأذن له المالك لأن له حق الحبس دون الانتفاع. (الهداية، ۴/ ۵۲۲، كتاب الرهن).

وللمزيد راجع: (البحر الرائق: ۸/ ۲۳۸، ط: كوئته، وتبيين الحقائق، وبدائع الصنائع: ۶/ ۱۴۵، سعيد، والمبسوط، والفتاوى الهندية، والفتاوى البزازية، وخلاصة الفتاوى، وفتاوى قاضي خان، وفتاوى النوازل، وغيره).

مګر د فقهاؤ له عباراتو څخه مطلق د مالک په اجازه سره فائده اخيستل په روا بللو کي غلط فهمي سوې ده حال دا چي داسي نه ده په دې کي تفصيل دئ هغه دا دئ که چيري د مالک اجازه په عقد کي مشروط يا معروف وو، نو نفع اخيستل ناروا ده او که چيرت اجازه نه مشروط وو او نه معروف وو بلکي خالي يو موقتي اجازه وو، نو بيا نفع اخيستل روا ده.

د علامه لکهنوى رحمه الله په رساله ((الفلک المشحون)) کي يې وګورئ:

وقد اغتر كثير من علماء عصرنا ومن سبقنا بظاهر عبارات الفقهاء أنه يجوز الانتفاع للمرتهن بالإذن، فأفتوا به مطلقاً من دون أن يفرقوا بين المشروط وغيره، ومن دون أن يتأملوا في أن المعروف كالمشروط، فضلوا وأضلوا ..... فإلى الله المشتكى من صنيع جهلاء زماننا

يشترطون الإ في الرهن، أو يقصدون ذلک، وأنه لو لاه لما ارتهنوا ذلک، ويظنون جوازه أخذاً من قول الفقهاء يجوز بالإذن، وشتان مابين مرادهم ومرادهم. (الفلک المشحون فيما يتعلق بانتفاع المرتهن بالمرهون، للعلامة عبد الحی اللکنوی، المندرجة فی مجموعة رسائل اللکنوی:۳/ ۴۱۳، المکتبة الامدادية).

په فتاوی شامي کي راځي:

فی جواهر الفتاوی: وإذا کان مشروطاً صار قرضاً فيه منفعة وهو ربا وإلا فلا بأس .....

قال ط: قلت: والغالب من أحوال الناس أنهم إنما يريدون عند الدفع الانتفاع ولولاه لما أعطاه الدارهم وهذا بمنزلة الشرط، لأن المعروف کالمشروط وهو مما يعني المنع والله تعالى أعلم اهـ. (فتاوي الشامي: ٦/ ۴۸۲، کتاب الرهن، سعيد).

وانظر: (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۲۳۶، کتاب الرهن).

په عقد کي له شرط سوې اجازې څخه نفع اخيستل مکروه تحريمي ده.

علامه شامی رحمة الله عليه وايي:

إن کانت بشرط کره وإلا فلا ..... ويؤيده قول الشارح الآتي آخر الرهن إن التعليل بأنه ربا يفيد أن الکراهة تحريمية فتأمل. (رد المحتار:۶/ ۴۸۲، کتاب الرهن، سعيد).

په الفلک المشحون کي راځي:

والمراد بالکراه التحريمية، کما يفيده تعليلهم بأنه ربا، وهی المرادة من الحرمة فی قول من تکلم بحرمة المشروط فإن المکروه التحريمي قريب من الحرام، بل کأنه هو.

ثم المشروط أعم من أن يکون مشروطاً حقيقة، أو حکماً أما حقيقة فبأن يشترط المرتهن في نفس عقد الرهن أن يأذن له الراهن بالانتفاع من الرهن علی ما هو المتعارف فی أکثر العوام، ... وأما حکماً فهوما تعارف فی ديارنا أنهم لايشترطون ذلک فی نفس المعاملة لکن

مرادهم ومنواهم إنما هو الانتفاع.... ومن المعلوم أن المعروف كالمشروط، كما حققه صاحب «الأشباه» وفرع عليه فروعاً كثيرة، فكما أن المشروط حقيقة يتضمن الربا، كذلك المشروط حكماً من أفراد الربا..... (الفلک المشحون فی الانتفاع بالمرهون، المندرجة فی مجموعة رسائل اللكنهوى: ۳/ ۴۱۲، المكتبة الامدادية).

البته كه چيري په ګروي کي نفع اخيستل نه شرط وو او نه رواج وو ګروي خالي د اعتماد له پاره ابښودل کېدي او د نفع اخيستلو اجازه ورکړي وو، نو په دې صورت کي د نفعي اخيستلو جواز سته د فقهاؤ د مطلقو عباراتو هم دا مقصد دئ، ترڅو د ځينی فقهاؤ په آند په دې صورت کي هم نفع اخيستل روا نه ده، نو له دې وجي په دې صورت کي هم نفع اخيستل ښه کار نه دئ، نو لهذا له دې څخه ځان ساتل ښه او غوره کار دئ:

علامه شامی رحمة الله عليه وايي:

قال في المنح: وعن عبد الله بن محمد بن أسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند أنه لا يحل له أن ينتفع بشيء منه بوجه من الوجوه وإن أذن له الراهن، لأنه أذن له في الربا لأنه يستوفي دينه كاملاً فتبقى له المنفعة فضلاً فتكون ربا، وهذا أمر عظيم. قلت: وهذا مخالف لعامة المعتبرات من أنه يحل بالإذن إلا أن يحمل على الديانة، وما في المعتبرات على الحكم ثم رأيت في جواهر الفتاوى: إذا كان مشروطاً صار قرضاً فيه منفعة وهو ربا وإلا فلا بأس. (فتاوى الشامی: ۶/ ۴۸۲، كتاب الرهن، سعيد).

علامه لكهنوى رحمة الله عليه وايي:

وصورة الإذن الغير المشروط المرتهن ذلک فی نفس العقد، ولا يدفع الدين بهذا الشرط، ولا ينوى أيضاً بدفع الدين إباحته، وأنه لولاه لما دفع، بل قصد مجرد الحبس والتوثق، وهذا لاشبهة في جوازه، فإنه ليس فيه ربا، ولاشبهة الربا.... لكن مع ذلک الانتفاع

خلاف الأولى، والاحتراز عنه أولى، فالاحتراز في هذه الصورة تقوى والانتفاع فتوى. (الفلک المشحون، المندرجة فی مجموعة رسائل اللكنوى:۳/ ۴۱۳، الكتبة الامدادية).

نور دا کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه:۲۰/ ۱۲۳- ۱۳۰، وکفایت المفتی: ۸/ ۱۴۰، دار الاشاعت، واحسن الفتاوی: ۸/ ۴۹۸، وامداد الفتاوی:۳/ ۴۵۴).

نن سبا لکه څنګه په عقد شرط لګوي یا مرتهن په خپله د نفعي اراده لري او د لوړو ذکر سوې عباراتو په رڼا کي دا ناروا ده، نو له دې وجي ځینی علماؤ د نفعې د جواز له پاره یو حیله لیکلي ده او هغه بیع الوفاء ده.

بیع الوفاء دا ده چي بائع مشتري ته داسي ووايي، چي دغه شی زه پر تا خرڅوم تر یو معلوم وخت پوري او یا تر څو چي زه پیسې درکړم، نو ته به دغه را کوي تر سودا د مخه یا وروسته د وعدې په صورت کي شرط لګول ښه کار نه دئ، د دې سودا فائده دا ده چي مرتهن د ګرو سوې شی مالک جوړیږي او هر ډول فائده د هغه له پاره روا ده:

په الغة المعجم الغة الفقهاء کي یې وګورئ:

أن يبيع السلعة للمشترى بالذي له عليه من الدين على أنه متى قضاه الدين عادت إليه السلعة. (معجم لة الفقهاء، ص ۱۱۵، ادارة القرآن).

په مجله کي راځي:

بيع الوفاء هو بيع المال بشرط أن البائع متى رد الثمن يرد المشترى اليه المبيع. (المجلة، المادة: ۱۱۸، دار الكتب العلمية).

په مقالات الفقهیه کي راځي:

كان الناس يريدون أن يأخذوا الديون لحاجاتهم، ويرهنوا أراضيهم لذلک، وكان المرتهن الدائن يأبى عن مبرة الإقراض المستحب إلا بان يأخذ عليه منفعة لنفسه، وبما أن الشرع حرم على الدائن أن يأخذ على الدين ربحاً لأن كل قرض جر منفعة فهو ربا، وبما أن الشرع حرم على المرتهن أن ينتفع بالمرهون لكونه ربا، احتال الناس إلى بيع الوفاء لكى

ينتفع المرتهن بالمرهون، فإن المرتهن يصير بهذه الحيلة مشترياً وللمشترى أن ينتفع بمملوكه كيف يشاء إلا أنه وعد أن يرد المشترى المبيع إذا رد عليه الثمن. (المقالات الفقهية، ص: ۳۳۳، بيع الوفاء، المكتبة دار العلوم كراتشى).

د بيع الوفاء پر جواز او نه جواز باندي د علماؤ مختلف اقوال موجود دي او د جواز قول هم موجود دئ:

د زيات تفصيل له پاره دا كتابونه وگورئ: (فتاوى دار العلوم زكريا، د بيع د مختلفو اقسامو بيان). والله ﷻ اعلم.

د گرو شی په خواست ورکول حکم

سوال: که چيري راهن مرتهن ته موټر په گروي ورکړي مګر د موټر د دغسي درولو پر ځای يې د هغه اسناد ورکړل او موټر يې په خپله استعمالوي کوم ته چي عاريةً استعمالول وايي، ايا دا روا دي او که نه په دې صورت کي موټر له دغسي درولو څخه ساتل کيږي شرعاً ددې څه حکم دئ؟

الجواب: شرعاً دا روا او درست دي ځکه د گرو سوې شی په عاريت ورکولو سره گروې نه باطليږي ځکه چي مرتهن څه وخت وغواړي دغه شی بېرته ورلای سي هو گرو سوې شی په عاريت ورکولو سره دغه شی د مرتهن له ضمانت څخه وزي:

په بدائع الصنائع کي يې وګورئ:

فأما الإعارة فليست بلازمة لأن للمعير ولاية الاسترداد في أي وقت شاء فجوازها لا يوجب بطلان عقد الرهن إلا أنه يبطل ضمان الرهن. (بدائع الصنائع:۶/ ۱۴۶، فصل فى حكم الرهن، سعيد).

په يو بل ځای کي ليکل سوی دي:

ولو استعاره الراهن من المرتهن؛ لينتفع به فقبضه، خرج عن ضمان الرهن، حتى لو هلك في يده، يهلك أمانةً والدين على حاله؛ لأن قبضه قبض العارية وإنه قبض أمانةٍ فينافي قبض الضمان، وكذلك لو أذن المرتهن للراهن بالانتفاع بالرهن. (بدائع الصنائع:۶/ ۱۵۶).

په فتاوی شامی کي راځي:

فالعارية توجب سقوط الضمان سواء كان المستعير هو الراهن أو المرتهن إذا هلك حالة الاستعمال أو أجنبيا ولا ترفع عقد الرهن. (رد المحتار: ۶/ ۵۱۱، کتاب الرهن، سعيد).

وللمزيد راجع: (فتاوى قاضي خان على هامش الفتاوى الهندية:۳/ ۶۰۳، فصل في الانتفاع بالرهن والفتاوى الولو الجية:۵/ ۶۹، كتاب الرهن، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

د ګرو سوې ځای راهن ته په عاريت ورکولو حکم

سوال: که چيري زيد وعمر ته دوه لکه روپۍ قرض ورکړي او هغه زيد يو ځای په ګروي ورکړي مګر زيد پر هغه قبضه ونه کړه بلکي هغه ځای يې عمر په عاريت ورکړي، نو په دې کار سره پر ګروې يو اثر لوېږي او که نه؟ ايا دې ته ګرو ځای ويل کيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ګرو سوې شی راهن ته په خواست ورکولو سره پر ګروي څه اثر نه لوېږي او دغه ځای هم ګرو بلل کيږي مګر د مرتهن له ضمانت څخه وزي.

په تبيين الحقائق کي يې وګورئ:

وخرج من ضمانه بإعارته من راهنه أي بإعارة المرتهن الرهن من راهنه يخرج من ضمان المرتهن ؛ لأن الضمان كان باعتبار قبضه ، وقد انتقص بالرد إلى صاحبه فارتفع الضمان لارتفاع المقتضي له ولا يكون مضمونًا على صاحبه ؛ لأن الاسترداد بإذنه فلو هلك في يد الراهن هلك مجانًا لارتفاع القبض الموجب للضمان على ما بينا وبرجوعه عاد ضمانه أي برجوع الرهن إلى يد المرتهن عاد الضمان حتى يذهب الدين بهلاكه لعود القبض الموجب للضمان وللمرتهن أن يسترده إلى يده ؛ لأن عقد الرهن باقٍ إلا في حكم الضمان في هذه الحالة.

(تبيين الحقائق: ۶/ ۸۷، کتاب الرهن، امداديه). والله ﷻ اعلم.

د سرقلفي د دوکان په ګروي ورکولو حکم

سوال: له زید سره د سر قلفي دوکان دئ، زید د دغه دوکان د سرقلفي دوه لکه د سرقلفي روپۍ اداء کړي دي او دوکان يې لاس ته راوړي دئ، اوس زید په خپل تجارت کي ډېرو پیسو ته ضرورت لري چي د دې له پاره دغه دوکان په ګرو ورکوي ایا زید د سر قلفي والا دوکان په ګروي ورکولای سي او که نه؟

الجواب: که چیري له زید سره دغه د سرقلفي والا دوکان د همېشه له پاره وي، نو دا د خپل ملکیت په ډول دئ، چي بل څوک په دې کي ګډون نه سي کولای، لهذا دغه دوکان په ګروي ورکولای سي، په مجله فقه اسلامي کي يې چي د قاضی مجاهد الاسلام صاحب لخوا څخه ترتیب سوې ده وګورئ:

او په دغه علاقه کي عرف او رواج دا دئ چي د دې سرقلفي را کړه او ورکړه له امله څخه اصل مالک له دوکان یا مکان څخه لاس په سر کیږي د هغه ټول مالکانه تصرفات ختمیږي او کرایه دار ته ورکول کیږي، نو دا د بیع حکم دئ او د سر قلفۍ پیسې په منزله د ثمن دوکان او عمارت په منزله د مبیع وي او کرایه د هغې مځکي وي چي پر هغې باندي دوکان یا عمارت ولاړ وي ګواکي مځکه د مالک ده او عمارت د کرایه دار دئ. والله اعلم بالصواب.

د مجله فقه اکیډمي څخه معلومه سوه چي د سرقلفۍ والا مکان یا دوکان د کرایه دار په ملکیت او تصرف کي دئ، لهذا هغه ته يې د ګروي ایښودلو اجازه سته((هو په خپله د سر قلفۍ را کړه ورکړه روا ده او که نه؟ دا جلا مسئله ده په دې کي د علماؤ نظرونه مختلف دي د دې مسئلې د تفصیلي بحث له پاره د فتاوی دار العلوم زکریا پنځم ټوک وګورئ)) همدا رنګه د یو شی د ګروي ایښودلو له پاره ضروري ده چي مرتهن به پر هغه شی مکمله قبضه کولای سي او له خپل ځان سره به يې محبوس ایښودلای سي تر څو چي راهن خپل پور اداء کوي.

په تبیین الحقائق کي يې وګورئ:

ولنا أن موجبه ثبوت يد الاستيفاء واستحقاق الحبس الدائم لتحصيل مقصوده وهو الاستيثاق من الوجه الذي بينا وذلك لا يحصل إلا بثبوت اليد عليه ولهذا شرط في النص أن يكون مقبوضًا. (تبيين الحقائق: ۶/ ۶۹، ط: امداديه).

وفي حاشية الشيخ الشلبي: قوله أن موجبه ثبوت يد الاستيفاء) والمراد منه اختصاص المرتهن بالرهن حبساً إلى أن يقضي الراهن دينه. (حاشية الشيخ شهاب الدين احمد الشلبي:۶/ ۶۹، ط: امداديه).

په هدايه كي راځي:

والثاني أن موجب الرهن هو الحبس الدائم لأنه لم يشرع إلا مقبوضا بالنص أو بالنظر إلى المقصود منه وهو الاستيثاق من الوجه الذي بيناه وكل ذلك يتعلق بالدوام ولا يفضي إليه إلا استحقاق الحبس. (الهداية:۴/ ۵۲۴، والفقه الحنفي في ثوبه الجديد: ۴/ ۴۶۳، باب مايجوز ار تهانه ومالايجوز). والله ﷻ اعلم.

مرتهن د بيع وكيل جوړولو حكم

سوال: كه چيري حامد محمود ته قرض وركړي او محمود حامد ته خپل ځای په ګروي وركړي او دا شرط يې ولګوي چې كه چيري محمود په يو كال كي قرض اداء نه كړي، نو حامد ته دا حق ستنه چي دغه ځاى خرڅ كړي او خپل قرض تر لاسه كړي، نو ايا داسي شرط لګول روا دي او كه نه؟ بيا د ځای خرڅولو په صورت كي يوازې مرتهن دا حق لري او كه راهن ته هم دا حق حاصل دئ؟

الجواب: په دې صورت كي داسي شرط لګول روا او درست دي ځكه راهن د ځای مالک دئ، نو هغه يې په خپله هم خرڅولای سي او بل څوک هم وكيل بالبيع جوړولای سي بيا د ځای خرڅولو وروسته كومي پيسې چي حاصلي سي حامد به يوازې خپل حق اخلي نور پاته پيسې به محمود ته يعنى د ځای مالک بېرته وركوي ځكه چي په زياتو پيسو كي د مرتهن حق نه ستنه:

په هدايه كي يې وګورئ:

وإذا وكل الراهن المرتهن أو العدل أو غيرهما ببيع الرهن عند حلول الدين فالوكالة جائزة لأنه توكيل ببيع ماله. (الهداية: ۴/ ۵۳۸، باب الرهن الذى يوضع على يد العدل).

په تبيين الحقائق كي راځي:

فإن وكل المرتهن أو العدل أو غيرهما ببيعه عند حلول الدين صح، لأن الراهن مالك فله أن يوكل من شاء من الأهل ببيع ماله معلقًا أو منجزًا ؛ لأن الوكالة يجوز تعليقها بالشرط لكونها من الإسقاطات ؛ لأن المانع من التصرف حق المالك وبالتسليط على بيعه أسقط حقه والإسقاطات يجوز تعليقها بالشروط. (تبيين الحقائق:۶/ ۸۱،ط: امدادیه). والله ﷻ اعلم.

د راهن له اجازې څخه پرته د ګروشی خرڅولو حکم

سوال: یو سړي ته د کور یا مځکي ضرورت وو خو له هغه سره پیسې نه وي هغه له بانک والا سره اړیکه ونیوله، بانک والا هغه مځکه په طریقه د وکیل رانیول او ده ته یې ورکړه، معامله په کښتو وسوه چي هغه به هره میاشت بانک ته دومره پیسې ورکوي او بانک والا یو شی ګروی له ځان سره کښېښو وي یعنی د هغه شی اسناد یې له ځانه سره وساتل، څه وخت وروسته هغه سړی کښت اداء کول پرېښودل بانک غوښتنه ورڅخه وکړه، خو له ده سره یې له اداء کولو انکار وکړي، نو اوس پوښتنه دا ده چي ایا بانک دغه شی خرڅولای سي او خپل حق لاس ته راوړلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د راهن په اجازه سره دغه شی خرڅولای سي مګر بیله اجازې یې نه سي خرڅولای، هو که چیري راهن نه پوړ اداء کوي او نه یې دغه شی خرڅوي، نو د هغه په اړه فقهاؤ دا لیکلي دي چي د حاکم یا قاضی په حکم سره یې خرڅول روا دي.

په شرح مجله کي یې وګورئ:

المادة: ۷۵۷ـ إذا حل أجل الدين وامتنع الراهن عن أدائه، فالحاكم يأمره ببيع الرهن وأداء الدين فإن أبى وعائد باعه الحاكم وأدى الدين. والعهدة على الراهن لا على القاضي (رد المحتار) وهذا قولهما لأنهما يريان الحجر على المديون، ومذهب الإمام تأبيد حبسه إلى أن يبيع الراهن بنفسه، لأن لايرى الحجر على الحر المديون، وصرح قاضي خان وغيره بأن الفتوى على قولهما...

المادة: ۷۵۸ـ إذا كان الراهن غائباً ولم تعلم حياته ولا مماته فالمرتهن يراجع الحاكم على أن يبيع الرهن ويستوفى الدين. لما فى البزازية، عن المنية للمرتهن بيع الرهن بإجازة الحاكم وأخذ دينه، إذا كان الراهن غائباً لايعرف موته ولا حياته. (شرح لمجلة:۳/ ۲۰۲، الفصل الرابع فى بيع الرهن).

قال فى الدر المختار: غاب الراهن غيبة منقطعة فرفع المرتهن أمره للقاضى ليبيعه بدينه ينبغي أن يجوز. وفى رد المحتار: بقي ما إذا كان حاضراً وامتنع عن بيعه، وفى الولو الجية: يجبر على بيعه، فإذا امتنع باعه القاضي أو أمينه للمرتهن وأوفاه حقه والعهدة على الراهن، ملخصاً، وبه أفتى فى الحامدية. (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۵۰۲، سعيد).

مکر څنګه چې په اوس وخت کې دا صورت ممکن نه دئ که دا مقدمه را ګرځوو نو په دې کې یو کال انتظار په کار دئ، نو ځکه ښه او غوره صورت یې دا دئ چې مرتهن یې خپله خرڅ کړي او خپل پور ورڅخه واخلي او زیاتي پیسې راهن ته بېرته ورکړي لکه څنګه چې مشتري پیسې نه اداء کوي، نو بائع دیو طرفه فسخې حق لري او خپلي پیسې وصول کول درست دي هغه ته دا حق ستة:

دزیات تفصیل په دغو کتابو کې وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکریا، مخکني جلد وګورئ).

البته بانک چې د ګروي په شکل کوم شی اخلی، نو د دې په وعده کې دا لیکل کیږي چې که چیري راهن پور اداء نه کړي، نو بانک دغه شی خرڅوي او خپل پور ورڅخه اخلی هغه ته د داسي کولو اجازه ستة او پر دغه وعده باندي له راهن څخه دستخط اخلی، نو ځکه د دغه دستخط څخه دا معلومیږي چې راهن دغه بانک وکیل بالبیع جوړ کړی دئ او د وکیل با لبیع له پاره دا روا او درست ده لکه څنګه چې مخکې تېر سول.

په هدایه کې یې وګورئ:

قال وإذا وكل الراهن المرتهن أو العدل أو غيرهما ببيع الرهن عند حلول الدين فالوكالة جائزة لأنه توكيل ببيع ماله. (الهداية:۴/ ۵۳۸، باب الرهن الذى يوضع على يد العدل).

په تبیین الحقائق کې راځي:

فإن وكل المرتهن أو العدل أو غيرهما ببيعه عند حلول الدين صح، لأن الراهن مالك فله أن يوكل من شاء من الأهل ببيع ماله معلقًا أو منجزًا ؛ لأن الوكالة يجوز تعليقها بالشرط لكونها من الإسقاطات ؛ لأن المانع من التصرف حق المالك وبالتسليط على بيعه أسقط حقه والإسقاطات يجوز تعليقها بالشروط. (تبيين الحقائق:۶/ ۸۱،ط: امدايه).

د دې صورت پر بناء دغه بانک ته دا حق سته چې ګرو شی خرڅ کړي او خپل حق ورڅخه واخلی دغسې کول شرعاً روا دي. والله ﷻ اعلم.

حرام مالونه په ګرو ایښودلو حکم

که چیرې یو بانک د یو تاجر سره د پور سودا کوي، نو بانک له هغه څخه ګرو شی اخلی

سوال: که چیرې بانک سامان په ګروي واخیستی او دغه سامان د ناروا شرکت وو، نو د لاندې سوالونو جوابونه مو مطلوب دي؟

الاول: _ ایا دغه بانک دغسې سامان په ګروي ایښودلای سي او که نه؟

۲_ که چیرې پور وړي دغه پور اداء نه کړي، نو بانک دغه حرام سامان خرڅولای سي او که نه؟

۳_ که چیرې له دغه حرام سامان څخه کټه حاصله سوه، نو ایا دغه د مرتهن له پاره هم حرامه ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې چې سامان بالکل حرام وي، نو دا مال واجب التصدق دي دغه سامان ګرو ایښودل او د دې څخه فائده اخیستل د راهن او مرتهن دواړو له پاره ناروا ده او درسته نه ده.

په شرح مجله کې یې وګورئ:

المادة: ۷۰۹_ يشترط أن يكون المرهون صالحاً للبيع فيلزم أن يكن موجوداً مالاً متقوماً مقدور التسليم في وقت الرهن. فلا يجوز رهن ما ليس موجوداً وقت العقد..... ولا رهن الميتة والدم، لانعدام ماليتهما، ولارهن صيد الحرم والإحرام .... ولا رهن الخمير والخنزير من مسلم سواء كان العاقدان مسلمين أو أحدهما مسلماً، لانعدام مالية الخمر والخنزير في حق المنسلم. (شرح المجلة:۳/ ۱۴۲، المحمد خالد الاتاسی).

د دې عبارت خلاصه دا ده چې كوم شيان چې د مسلمان له پاره مال متقوم او قابل نفع نه دي هغه شيان د ګروي په شكل وركول هم روا نه دي، حرام مالونه او د سود مالونه دا ټول د مسلمان په حق كې د نفعې اخيستلو قابل نه دي بلكې دا مالونه ټول واجب التصدق دي، يعنې د دې صدقه كول واجب دي، نو ځكه د دغو مالونو په ګروي وركولو اجازه نه ستره. والله ﷻ اعلم.

د حكومت تر قانون لاندې د مرتهن په ګرو شيانو قبضه كولو حكم

سوال: كه چيرې راهن خپله مځكه وه مرتهن ته په ګروي وركړه او تر ډېره وخته پورې يې پور اداء نه كړي، نو د حكومت قانون دا دى چې له ډېره زمانې وروسته مرتهن د مځكې مالک جوړيږي، نو ايا په شرعه كې مرتهن د دې مځكې مالک جوړيږي او كه نه؟

الجواب: كه چيرې راهن تر يو خاص وخته پورې قرضه نه سي اداء كولاى او د حكومت د قانون مطابق مرتهن دغه مځكه په زور سره لاندې كړي او ځان د هغې مالک جوړ كړي يا د حكومت تر قانون لاندې دعوه مرتهن ورځخه وګټي، نو په دې دواړو صورتو كې مرتهن د دې مځكې شرعاً مالک نه جوړيږي:

په حديث شريف كې راځي:

عن أبي هريرة، ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: «لا يغلق الرهن، له غنمه، وعليه غرمه».

(رواه ابن حبان في صحيحه، رقم ۵۹۳۴، قال الشيخ شعيب: رجاله ثقات رجال الشيخين غير اسحاق).

والمراد بقوله عليه الصلاة والسلام: «لا يغلق الرهن» على ما قالوا: الاحتباس الكلى والتمكن بأن يصير مملوكاً له. كذا ذكر الكرخي عن السلف. (الفقه الحنفي في ثوبه الجديد:۴/ ۴۴۹). والله ﷻ اعلم.

سوال او جواب:

سوال: كه يو څوک دا سوال وكړي چې د حكومت د قانون له امله بايد مرتهن د دې مځكې مالک جوړ سي ګويا د حكومتي قانون د غلبې له امله يې مرتهن د دې مځكې مالک جوړ كړي لكه څنګه چې مولانا ظفر احمد عثمان صاحب په امداد الاحكام (۴۰۲/۳۸۲/۳) كې ليكلي دي او د دې تفصيل په فتاوى دار العلوم زكريا كې په شپږم كې تېر سوى دئ كه چيرې د هغه اعتبار وكړو، نو بايد مرتهن د دې مځكې مالک جوړ سي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ، چې حقیقي غلبه او استیلاء دا نه ده ایا دلته داسې نه دي لکه څنګه چې د یو موټر وظیفه اداء نه کړي او حکومت پر هغه قبضه وکړي او قانوني غلبه او استیلاء په حقیقت کې غلب او استیلاء نه ده که چیرې مرتهن وغواړي ګرو شی بېرته واپس کولای سي، هو حضرت تهانوی رحمه الله او مولانا ظفر احمد تهانوی رحمه الله د میراث په مسئله کې قانوني غلبې او استیلاء ته حقیقي غلبه او استیلاء ویلي دي هغه د مال د حفاظت او د انتظام له پاره یې داسې ویلي دي یعنی کله چې تر قانون لاندې کافر زوی د مسلمان پلار وارث جوړیږي، نو مسلمان پلار یې هم د کافر زوی وارث منلی دئ که نه دا به عجیبه خبره وي چې کافر خو زموږ مال وړي خو موږ محرومه یو. والله تعالیٰ اعلم.

د ګرو سوی شی په هبه کې د قبضې حکم

سوال: حامد د محمود څخه قرض واخیستي او هغه ته یې زېورات په ګروي ورکړل، بیا حامد پور اداء کړي او محمود ته یې هغه زېورات په هبه ورکړل، څنګه چې محمود د فقهي کتابونه ویلي وو په هغه کې لیکلي دي چې د ضمانت قبضه د امان د قبضې قائم مقام نه سي جوړیدلای، نو د نوې قبضې ضرورت سته حال دا چې حامد په یو لېرې ملک کې اوسېږي، نو څه کول په کار دي؟

الجواب: دغه مسئله زموږ په فتاوی کې په تفصیل سره تېره سوې ده دلته دومره لیکل کافي دي چې علامه قاسم بن قطلوبغا رحمه الله په التصحیح والترجیح کې لیکلي دي که قبضې د نوې کولو له پاره دا کفایت کوي، چې محمود د هغه شی دومره واوسېږي په څومره وخت کې چې پر هغه قبضه کېدلای سي:

په تحریر کې یې وګورئ:

أما لو كانت في يده «أي الموهوب له» رهناً يحتاج إلى تجديد القبض قال الاسبيجابى رحمه الله: بأن يرجع إلى موضع فيه العين ويمضى وقت يتمكن عن قبضها. (التصحيح والترجيح على مختصر القدوری، ص ۲۸۶). والله تعالیٰ اعلم.

د شپږم ټوک د هبې د باب د یو مسئلې فقهې حواله

سوال: د مشترک شی هبه یعنی د مجموعه یو برخه لکه پر نصف یا پر دریمه برخه باندې ت
قبضې وروسته تا په فتاوی دار العلوم زکریا کې لیکلي دي چې په دې سره باید هبه مکمله سي او
حضرت علامه انور شاه کشمري رحمه الله د فیض الباري حواله یې ورکړې وه چې که چیري د جګ
باعث نه وه، نو بیا باید دا هبه نافذه سي په دې زمانه کې پر مشترکه هبه تر قبضې وروسته د هبې د نافذ
کېدو ضرورت دئ د هبې د نه نافذ کېدو په صورت کې ډېر مسئلې او جنګونه منځ راتلای سي مګر د
پخوانیو معتمدو فقهاؤ دي یوه حواله هم نه وه ورکړي په دې سلسله کې که یو حواله هم موجوده وي
نو مهرباني وکړي، وې لیکي؟

الجواب: له پخوانیو فقهاؤ څخه لوی عالم لوی فقیه:

علامه شمس الآئمه سرخسی رحمه الله په مبسوط کي داسي لیکلي دي:

وبالإجماع هبة المشاع فيما لا يحتمل القسمة تتم بالقبض وكذلك عندى فيما يحتمل القسمة جائز. (المبسوط للامام السرخسی: ۲۱/ ۶۹، ط: ادارة القران).

علامه سرخسي رحمه الله دغه عبارت د کتاب الهبه څخه وروسته په کتاب الرهن کي لیکلي دئ.

والله تعالیٰ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی:

(یا أیها الذین امنو الا تأکلوا أموالکم بینکم بالباطل، إلا أن تکون تجارة عن تراض منکم)

(النساء: ۲۹).

قال علیه الصلاة والسلام:

علی الیدما أخذت حتی تؤدی

(رواه الترمذی)

باب الغصب

عن عائشة أن النبی صلی الله علیه وسلم قال:

من ظلم شبرأ من الأرض طوقه الله من سبع أرضین

(متفق علیه)

وقال علیه الصلاة والسلام

لا یاخذن أحدکم متاع أخیه لاعباو لاجادا،

فإذا أخذ أحدکم عصا صاحبه فلیردها إلیه

(رواه ابو داؤد).

د غصب د احکامو بیان

د تاوان اداء کولو وروسته د غصب شي حکم

سوال: زما سره د فشار کتلو يو ډېر ښه ماشين وو کوم چي ډېر ښه ماشين وو يو بل زما ملګري زما په غياب کي د کور شخه وړي وو او زما اجازه هم نه وه، بيا يې وروسته راته وويل، چي ما ستا د کور شخه ماشين وړي دئ، يو څو ورځي وروسته ما ورځخه غوښتنه وکړه ده ويې ويل درسته ده در به يې کړم خو وروسته يې وويل، چي هغه ورک سو او تاوان يې راکړي يو څو ورځي وروسته يې راته وويل، چي ستا ماشين پيدا سو، نو اوس زه خپل ماشين بېرته اخيستلای سم او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري يې دغه تاوان د مالک د خوښې مطابق اداء کړي وي، نو اوس مالک دغه ماشين په زور نه سي ورځخه اخيستلای او که چيري تاوان د مالک د خوښې سره مطابق نه وو او د غاصب د خوښې سره مطابق وو، نو مالک ماشين اخيستلای سي او تاوان بېرته غاصب ور رد کولای سي:

په هدايه کي يې وګورئ:

فإن ظهرت العين وقيمتها أكثر مما ضمن وقد ضمنها بقول المالك أو ببينة أقامها أو بنكول الغاصب عن اليمين فلا خيار للمالك وهو الغاصب لأنه تم له الملك بسبب اتصل به رضاء المالك حيث ادعى هذا المقدار. فإن كان ضمنه بقول الغاصب مع يمينه فهو بالخيار إن شاء أمضى الضمان وإن شاء أخذ العين ورد العوض لأنه لم يتم رضاه بهذا المقدار حيث يدعي الزيادة وأخذه دونها لعدم الحجة. (الهداية: ٣/ ٣٨١، كتاب الغصب).

(وكذا في البحر الرائق: ٨/ ١٢٠، كوئته – وتبيين الحقائق: ٥/ ٢٣١، امداديه، ملتان).

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

فإذا قضى القاضي ثم ظهرت الجارية فإن كان القضاء بالقيمة بالبينة أو بنكول الغاصب أو بإقرار الغاصب بما ادعى المالک من قيمة الجارية كانت الجارية للغاصب لا س بيل للمغصوب منه عليها وإن كان القضاء بالقيمة بزعم الغاصب بعد ما حلف الغاصب يخير

المغصوب منه إن شاء استرد الجارية ورد ما قبض على الغاصب وإن شاء أمسک تلک القيمة ولا سبيل عليها. (الفتاوى الخانية على هامش الهندية: ۳/ ۲۴۸).

(وکذا فی الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۲۰۳، سعيد، والفتاوی الهندية: ۵/ ۱۳۷، الباب السابع فی الدعوی الواقعة فی الغصب واختلاف الغاصب والمغصوب منه والشهادة فی ذلک).

يعنی که چيري غاصب د مالک په شاهدانو يا د غاصب په قسم سره يا د غاصب په اقرار سره قيمت اداء کړي وو او د غاصب اقرار د مالک ذکر سوي قيمت سره موافق وو، نو بيا مالک دغه شی بېرته نه سي اخيستلای او که چيري غاصب قسم واخيستئ او د هغه په نتيجه کي يې قيمت اداء کړي وو، نو بيا مالک دغه شی بېرته اخيستلای سي. والله ﷻ اعلم.

د مغصوب شي پر خرابيدو د تاوان حکم

سوال: يو ملګري د بل ملګري موبائل د هغه د بې اجازې واخيستئ او هغه خراب سو، نو اوس پر هغه تاوان سته او که نه؟ که يې چيري په اجازه سره اخيستئ وي، نو بيا څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي بيله اجازې يې واخيستئ او د هغوی په منعٔ عرفي اجازه هم نه سته او موبائل خراب سو، نو تاوان لازم دي او که چيري يې په اجازه سره اخيستي وي، نو بيا دا امانت دئ، نو ځکه که په قصد او تعدی سره يې نه وي خراب کړي، نو بيا تاوان نه راځي:

په شرح مجله کي يې وګورئ:

إذا هلک مال شخص في يد آخر فإن كان أخذه إياه بدون إذن المالک ضمن بكل حال، وإن كان أخذ ذلک المال بإذن صاحبه لايضمن لأن أمانة في يده إلا إذا كان أخذه على سوم الشراء وسمى الثمن فهلک المال لزم الضمان... مثلاً إذا أخذ شخص إناء بلور من دكان البايع بدون إذنه فوقع من يده وأنكسر ضمن قيمته، أما إذا أخذه بإذن صاحبه فوقع من يده فلا قصد أثناء النظر وأنكسر لايلزمه الضمان... وكذا لو وقع كأس الفقاعى من يد أحد فانكسر وهو يشرب لا يلزمه الضمان لأنه أمانة من قبيل العارية، أما لو وقع بسبب سوء استعماله فأنكسر لزم الضمان. (شرح المجلة: ۳/ ۲۳۰، المادة: ۷۷۱).

په شرح مجله کي راځي:

الإذن دلالة كالإذن صراحةً أما إذا وجد النهي صراحة فلا عبرة للإذن دلالة مثلاً إذا دخل شخص دار آخر بإذنه فوجد إناء معداً للشرب فهو مأذون دلالة بالشرب به فإذا أخذ ذلك الإناء ليشرب به فوقع من يده وهو يشرب فلا ضمان عليه..... (شرح المجلة: ۳/ ۲۳۱، المادة: ۷۷۲).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فلا شك أن الإتلاف سبب لوجوب الضمان عند استجماع شرائط الوجوب ؛ لأن إتلاف الشيء إخراجه من أن يكون منتفعًا به منفعةً مطلوبةً منه عادةً ، وهذا اعتداء وإضرار ، وقد قال الله سبحانه وتعالى : [فمن اعتدى عليكم فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم] ، وقال عليه الصلاة والسلام : «لا ضرر ولا ضرار في الإسلام»، وقد تعذر نفي الضرر من حيث الصورة ، فيجب نفيه من حيث المعنى بالضمان ليقوم الضمان مقام المتلف فينتفي الضرر بالقدر الممكن ، ولهذا وجب الضمان بالغصب فبالإتلاف أولى .... سواء وقع إتلافًا له صورةً ومعنًى بإخراجه عن كونه صالحًا للانتفاع ، أو معنًى بإحداث معنًى فيه يمنع من الانتفاع به مع قيامه في نفسه حقيقةً. (بدائع الصنائع: ۷/ ۱۶۴، فصل فی مسائل الاتلاف، سعید).

په شرح مجله کي راځي:

العارية أمانة في يد المستعير فإذا هلكت أو ضاعت أو نقصت قيمتها بلا تعد ولا تقصير لا يلزم الضمان مثلاً إذا سقطت المرآة من يد المستعير بلا عمد أو زلقت رجله فسقطت المرآة فانكسرت لا يلزم الضمان. (شرح المجلة: ۳/ ۳۱۲).

نور دا کتابونه وګورئ: (البحر الرائق: ۸/ ۱۰۹، کوئته، وشرح المجلة:۳/ ۲۳۱، و ۳/ ۳۱۳، وبدائع الصنائع: ۷/ ۱۴۸، سعید).

په فتاوی محمودیه کي یو سوال دئ: خلاصه یې دا ده چي یو سړی د بل چا کتاب د مالک له اجازې څخه پرته په خاموشي سره یو وړ.

په جواب کي یې لیکلي دي چي د هغه دغه کار په غصب کي داخل دئ او داسي کول حرام دي، په دغه کار سره هغه ګناه ګاره کیږي که چیري هغه کتاب موجود وو د هغه قیمت اداء کول کافي نه بلل کیږي بلکي په خپله د هغه کتاب ورکول ضروري دي څنګه چي یې راوړي وو همدغسي به یې ورکوي که چیري هغه ورک سوی وو، نو د هغه قیمت یا به هغه کتاب رانیسي او ورکوي به یې. والله ﷻ اعلم.

د مځکي د غصب حکم

سوال: زه یو کمزوري سړی یم زما پر یوه مځکه یو بد معاش سړی قبضه وکړه او تر پنځو کالو یې په قبضه کي وو په دې وخت کي یې درې کاله په خپل ګټه ورڅخه واخسته او دو کاله یې بل چا ته په کرایه ورکړه او کرایه یې هم واخسته، مطلب دا چي له ډېرو کوښښونو وروسته مي مځکه د ده له ملکیت څخه وایستل، اوس پوښتنه دا ده چي ایا د دې مودې تاوان پر ده راځي او که نه؟ یاده دي وي چي په دغه موده کي د مځکې په قیمت کي هیڅ فرق راغلی نه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د مځکې د غصب له امله که چیري، مځکي ته کوم تاوان نه وي رسېدلی، نو پر غاصب باندي هیڅ ډول تاوان نه واجبیږي مګر د استعمال سوې مودې اجرت غوښتلای سي په دې کي هیڅ باک نه سته:

په شرح مجله کي یې وګورئ:

إن الغصب على ضربين، ما هو وجب للضمان فيشترط له إزالة اليد المحقة، وما هو موجب للرد فيشترط له إزالة إثبات اليد المبطلة، وأن الحد المذكور في تلك المادة إنما هو للضرب الثاني فباعتباره يتحقق الغصب في العقار اتفاقاً بين أئمتنا الثلاثة، إذ لاخلاف بينهم في وجوب الرد، بل وفي جميع ما عدا حكم الضمان من أحكام الغصب.

نعم الخلاف بينهم في حكم الضمان لوهلك بآفة سماوية، فالإ مامان اشترطا لتحقق الغصب الموجب للضمان أن يكون المغصوب منقولاً، لأنه يشترط لذلک إزالة اليد المحقة

كما علمت، وهذه الإزالة لا تتحقق إلا بنقل المغصوب من مكانه إلى مكان آخر، وهذا لايمكن في العقار.

وقال محمد رحمه الله: إن استيلاء الغاصب على العقار المغصوب قائم مقام الإزالة، فيكون مضموناً بالهلاک، وقولهما مشت عليه المتون، وعليه الفتوى إلا في عقار الوقف واليتيم والمعد للاستغلال، فإن الفتوى فيها على قول محمد رحمه الله بالضمان. (شرح المجلة: ٣/ ٤٣٨، للاتاسی).

په عالمګيريه کي راځي:

وسئل شيخ الإسلام عطاء بن حمزة عمن زرع أرض إنسانٍ ببذر نفسه بغير إذن صاحب الأرض هل لصاحب الأرض أن يطالبه بحصة الأرض قال: نعم إن جرى العرف في تلك القرية أنهم يزرعون الأرض بثلث الخارج أو ربعه أو نصفه أو بشيءٍ مقدرٍ شائعٍ يجب ذلك القدر الذي جرى به العرف . (الفتاوى الهندية: ٥/ ١٤٤).

په تنقيح الفتاوى الحامديه کي راځي:

فالحاصل أن من زرع أرض غيره بلا إذنه ولو على وجه الغصب فإن كانت الأرض ملكًا وأعدها ربها للزراعة اعتبر العرف في الحصة إن كان ثمة عرف وإلا فإن أعدها للإيجار فالخارج كله للزارع وعليه أجر مثلها لربها وإلا فإن انتقضت فعليه النقصان وإلا فلا شيء عليه. (تنقيح الفتاوى الحامدية: ٢/ ١٧٢).

په جديد معاملات کي شرعي احکام کي راځي:

شرعاً د يو چا مال غصب کول او له هغه څخه نفع اخيستل حرام ده، د غصب په موده کي چي کوم څه له مغصوبه شی څخه لاس ته راسي هغه د مغصوب منه حق دئ، له دې امله مغصوب منه د مغصوبه ځمکي د ټولو حاصلاتو غوښتنه کولای سي همدا ډول د مغصوبه ځمکې د بېرته لاس ته

راوړلو وروسته په مسجدو او نورو د خیر په کارو کي خرڅ سوی پیسو غوښتنه هم کولای سي، مګر د علاقي له رواج سره سم وغاصب ته د مزارعت اجرت ورکول ضروري ده. والله ﷻ اعلم.

په مغصوب شی کي د کمي راتللو حکم

سوال: یوه سړی د بل چا یو ماشین غصب کړي، څه موده وروسته یې بېرته ورکړي، خو په دې منځ کي د هغه قیمت ډېر کم سوی وو نیم قیمت یې پاته وو، مګر مات سوې نه وو، نو ایا تاوان ورکول یې لازمي دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري د غاصب له لاس وهني څخه د هغه قیمت کم سوی وو، نو پر غاصب یې تاوان ورکول لازمي دئ او که یې چیري د هغه له لاس وهنی قیمت نه وو کم سوی او هغه د غصب په ځای کي ور سپارلی وو، نو غاصب د هغه ذمه دار نه دئ:

صاحب عنایه علامه اکمل الدین بابرتی رحمه الله لیکلي:

فإن كان النقصان بتراجع السعر فلا يخلو إما أن يكون الرد في مكان الغصب أو لا ، فإن كان فيه فلا ضمان عليه لأن تراجع السعر بفتور الرغبات لا بفوات جزءٍ ، وإن لم يكن فيه يخير المالك بين أخذ القيمة والانتظار إلى الذهاب إلى ذلك المكان فيسترده ، لأن النقصان حصل من قبل الغاصب بنقله إلى هذا المكان فكان له أن يلتزم الضرر ويطالبه بالقيمة ، وله أن ينتظر . (العناية شرح الهداية: ۹/ ۳۲۷، دار الفکر).

په ردالمحتار کي راځي:

تنبيه: النقصان أنواع أربعة : بتراجع السعر ، وبفوات أجزاء العين ، وبفوات وصفٍ مرغوبٍ فيه كالسمع والبصر واليد والأذن في العبد والصياغة في الذهب واليبس في الحنطة وبفوات معنًى مرغوبٍ فيه .

فالأول : لا يوجب الضمان في جميع الأحوال إذا رد العين في مكان الغصب .

والثاني : يوجب الضمان في جميع الأحوال .

والثالث : يوجب الضمان في غير مال الربا نحو أن يغصب حنطةً فعفنت عنده أو إناء فضةٍ فهشم في يده فصاحبه بالخيار إن شاء أخذ ذلك نفسه ولا شيء له غيره ، وإن شاء تركه وضمنه مثله تفاديًا عن الربا .

والرابع : هو فوات المعنى المرغوب فيه في العين كالعبد المحترف إذا نسي الحرفة في يد الغاصب ، أو كان شابا فشاخ في يده يوجب الضمان أيضًا هذا إذا كان النقصان قليلًا أما إذا كان كثيرًا فيخير المالك بين أخذه وتركه مع أخذ جميع قيمته. (فتاوى الشامى: ۶/ ۱۸۸، كتاب الغصب، سعيد).

وللمزيد راجع: (شرح المجلة: ۳/ ۴۲۹، المادة: ۹۰۰، لمحمد خالد الاتاسى). والله ﷻ اعلم.

د غصب د منافعو حکم

سوال: يو سړی د بل څا موټر غصب کي او درې مياشتې يې وچلاوه ښه ډېري پيسې يې په وګټلي، بيا يې موټر بېرته مالک ته ورکړي له مذهب حنفي سره سم پر دغه سړی څه تاوان سته او که نه؟ ياده دي وي چي په موټر کي کوم څه تاوان راغلی نه دئ؟

الجواب: د مذهب حنفي سره سم که چيري له موټر چلولو او کرايه اخيستلو وروسته د کرايه پيسې موجود وي هغه به مالک ته ورکوي او که چيري غاصب استعمال کړي وي، نو بيا څه تاوان نه سته مګر په موجوده زمانه کي مفتی به قول دا دئ چي که چيري موټر د کرايه له پاره وي، نو چي څومره ورځي غاصب استعمال کړي وي د دغو ورځو کرايه به ورکوي، د محقق ابن الهمام رحمه الله او شيخ حلبي رحمه الله او شارح مجله شيخ علی حيدر رحمه الله له قول سره سم که چيري موټر د کرايه له پاره نه وي هم به تاوان ورکوي او د ظالمانو له ظلم څخه د ګرځولو له پاره دغه قول ډېر مناسب دي :

په درمختار کي يې وګورئ:

ومنافع الغصب غير مضمونةٍ .... إلا في ثلاث فيجب أجر المثل على اختيار المتأخرين... أن يكون وقفاً ... أو للاستغلال أو مال اليتيم... (الدر المختار:۶/ ۲۰۶، سعيد).

په بنايه شرح د هدايې کي راځي:

قال مشايخنا: هذا إذا لم يكن معداً للاستغلال فإن كان معداً له يضمن المنافع بالغصب.

(البناية: ۱۰/ ۲۹۳).

په التحرير فی اصول الفقه کي راځي:

(وينبغي مثله) أي الإفتاء بضمان إتلاف المنافع مطلقًا زمانًا ومكانًا (ولو غلب غصب المنافع) مطلقًا فيهما، وإن كان على خلاف القياس في باب الضمان زجرًا للغصبة عن ذلك، وقد أسلفناه في أواخر التقسيم الأول من أقسام الوقت المقيد به الواجب .... وحكاية بعضهم الإجماع على ضمان المنافع بالغصب والإتلاف إذا كان العين معدا للاستغلال وإذا كان الموجب لذلك الزجر للغصبة والحفظ لأموال الضعفة فلا بأس بالفتوى بضمانها حينئذٍ على الإطلاق، لاحتياج ما سوى هؤلاء إلى هذا الارتفاق وحسمًا لمادة هذا الفساد بين العباد .

(التحرير لابن الهمام مع التقرير لحلبی: ۳/ ۲۶۰، ط: بيروت).

وفی التقرير للشيخ الحلبی: وفي المجتبى: وأصحابنا المتأخرون يفتون بقول الشافعي .... وفي جامع الفتاوى نقلًا عن المحيط: الصحيح لزوم الأجران معدا للاستغلال بكل حالٍ، وحكى بعضهم الإجماع على ضمان المنافع بالغصب والإتلاف إذا كان العين معدا للاستغلال. (التقرير: ۲/ ۱۶۸،ط: بيروت).

په درر الحکام شرح مجلة الاحکام کي راځي:

إن منافع المغصوب غير مضمونةٍ مطلقًا عند الإمام الأعظم المجتهد في الشرع والإمامين أبي يوسف ومحمدٍ المجتهدين في المذهب إلا أن متأخري الفقهاء أهل التخريج والترجيح الحنفية شاهدوا تعدي الناس على أموال الأيتام والأوقاف فافتوا بلزوم الضمان فيهما قطعًا للأطماع الفاسدة . انظر شرح المادتين (۳۹ و ۵۹۶) إلا أن الإفتاء يجب أن يكون على

فتوى الإمام الشافعي المجتهد في الشرع وإن القول الذي قيل في المجلة بعدم ضمان منافع المغصوب فيما عدا المعد للاستغلال وأموال الأوقاف والأيتام فيؤمل قريبًا أن يعمل بقول الإمام الشافعي بسبب زيادة التعدي على الحقوق فتصبح منافع المغصوب مضمونةً . (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ۴/ ۵۴۹، بيروت).

وفيه أيضاً: أن فقهائنا المتأخرين قد أخذوا في جواز هذه المسألة بقول الإمام الشافعي دون أقوال أئمتنا الثلاثة وللمنافع قيمة كبرى في هذا الزمان ، كما لو أنشأ أحد بنفسه قصرًا للاصطياف وكان أجر المثل السنوي لهذا القصر سبعين جنيهًا فانتهز شخص آخر غياب صاحب القصر وسكنه مدة ثلاث سنواتٍ غصبًا ، فعلى رأي الأئمة الحنفية لا يلزمه أجر . أما عند الشافعي فيلزمه ، وبما أن المتأخرين من فقهاء الحنفية قالوا بضمان المنفعة في مال الوقف واليتيم فيجب على فقهاء عصرنا هذا أن يتشاوروا ويتخذوا قرارًا بخصوص قبول مذهب الشافعي في عموم منافع الأموال ..... ولزم ضمان المنفعة فيما هو معد للاستغلال إنما لأن استعماله يقوم مقام العقد الفاسد . (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ۲/ ۵۸۵، المادة ۵۹۶، ط: بيروت). والله ﷻ اعلم.

د ځای په غصب کولو کي د تاوان حکم

سوال: یو سړی د بل چا پر ځان جبراً په زور سره د غصب قبضه وکړه او دوې میاشتې په هغه کي واوسېدئ بیا دا ځای له ده څخه واخیستل سي ایا پر غاصب کرایه سته او که نه؟

الجواب: د ځمکي د غصب مسئله مخکي تېره سول، خلاصه یې دا ده که چیري ځمکې ته څه نقصان نه وو رسېدلی، نو تاوان یې واجب نه دئ مګر که چیري ځای د کرایه له پاره وو بیا به د دوو میاشتو تاوان ورکوي، همدا ډول که ځای د کرایه له پاره نه وو بیا هم تاوان راتلل په کار دي:

په فتاوی شامي کي یې وګورئ:

ومنافع الغصب غير مضمونةٍ .... إلا في ثلاث فيجب أجر المثل على اختيار المتأخرين... أن يكون وقفاً ... أو للاستغلال أو مال اليتيم... (الدر المختار:۶/ ۲۰۶، سعيد).

په بنايه شرح هدايه كي راځي:

قال مشايخنا: هذا إذا لم يكن معداً للاستغلال فإن كان معداً له يضمن المنافع بالغصب. (البناية: ۱۰/ ۲۹۳).

د زيات تفصيل له پاره د مڅکي د غصب حکم او له غصب څخه د نفع اخستلو حکم مسئلې وګوري. والله ﷻ اعلم.

د غصب د غلې د کښت او کرلو حکم

سوال: يو سړی څه غله غلا کړه او هغه يې وکرله فصل يې تيار کړي وروسته يې توبه وايستله، نو اوس به ټوله فصل مالک ته ورکوي او که به يوازې غلا سوې غله ورکوي او بيا به پر پاته کښت څه کوي او که يې خرڅ کړ په لاس ته راغلی پيسو يې تجارت شروع کړي او ښه ډېره ګټه يې لاس ته راوړله د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د احنافو په آند که چيري په مغصوب شی کي داسي تغير وسي چي د هغه نوم بدل سي او ډېري ګټې يې هم ختمي سي، نو غاصب د هغه شی مالک ګرځي او بيا پر هغه باندي لاسته راغلی ګټه هم د غاصب ملکيت شمېرل کيږي، هو پر غاصب دا لازمه ده چي د مغصوبه شی بدله به ورکوي او تر بدلې ورکولو مخکي له هغه شی څخه نفع اخيستل حرام ده، د نفع اخيستلو حکم يې دا دئ که چيري مال مغصوبه ته اشاره وکړي او يو شی ورڅخه رانسي او هغه مشار اليه حرام مال په قېمت کي ور اداء کړي نو د هغه ګټه حرامه ده د هغه خيراتول واجب دي او که يې مال حرام ته اشاره ونه کړه دغسي يې يو شی ورڅخه رانيوي يا يې حرام مال ته اشاره وکړه، خو حال مال يې ور اداء کړي، نو په دې صورت کي د امام ابو الحسن کرخی رحمه الله په آند لاس تر راغلی ګټه حلاله ده او يوازې اصلي حرام مال خيراتول واجب دي او کوم صورت چي په سوال کي ذکر سوی دئ په هغه کي خو ده مغصوبه شی له هلاکولو وروسته نفع لاس ته راغلی ده له دې امله له کښت څخه لاس ته راغلی غله د غاصب ملک ګرځي او د امام ابو يوسف رحمه الله په آند يې خيراتول هم نه دي ضروري مګر د احتياط له پاره يې خيراتول ښه کار دئ:

ہدایہ لہ فتح القدیر سرہ وگوریٔ:

وإذا تغيرت العين المغصوبة بفعل الغاصب حتى زال اسمها وعظم منافعها زال ملك المغصوب منه عنها وملكها الغاصب وضمنها ، ولا يحل له الانتفاع بها حتى يؤدي بدلها ،.... وجه الاستحسان قوله عليه الصلاة والسلام في الشاة المذبوحة المصلية بغير رضا صاحبها «أطعموها الأسارى» أفاد الأمر بالتصدق زوال ملك المالك وحرمة الانتفاع للغاصب قبل الإرضاء .... وعلى هذا الخلاف إذا غصب حنطةً فزرعها أو نواةً فغرسها غير أنه عند أبي يوسف يباح الانتفاع فيهما قبل أداء الضمان لوجود الاستهلاك من كل وجهٍ ....وفي الحنطة يزرعها لا يتصدق بالفضل عنده خلافًا لهما . (الهداية مع فتح القدير: ٩/ ٣٣٢- ٣٣٦، دار الفكر).

وفي المبسوط للإمام السرخسي: وإن غصب حنطةً فزرعها ثم جاء صاحبها وقد أدرك الزرع أو هو بقل فعليه حنطة مثل حنطته ، ولا سبيل له على الزرع عندنا .... وحجتنا في ذلك أن الزرع غير الحنطة ؛ لأن الحنطة مطعوم بني آدم ، والزرع بقل هو علف الدواب ، وهذا الزرع حادث ؛ لأنه ما لم يفسد الحب في الأرض لا ينبت الزرع .... وإذا ثبت أنه مضاف إلى عمل الزارع كان هو مكتسبًا للزارع ، والكسب ملك للمكتسب ، وعليه ضمان ما صار مستهلكًا بعمله ، إلا أنه لا يطيب له الفضل في قول أبي حنيفة ومحمدٍ رحمهما الله ، وعند أبي يوسف رحمه الله يطيب له الفضل ؛ لأنه كسبه ولكنا نقول : دخل في كسبه من حيث إنه استعمل في الاكتساب ملك الغير ، ولأنه من حيث الصورة هذا متولد من ذلك الأصل.... ومن حيث المعنى والحكم غيره فلاعتبار الصورة قلنا : لا يطيب له الفضل احتياطًا . (المبسوط: ١١/ ٩٤).

وللمزيد راجع: (شرح المجلة للاتاسی: ۳/ ۴۲۶، و درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ۲/ ۴۸۶، المادة: ۸۹۹، ط: بيروت، والفتاوى الهندية: ۳/ ۱۴۰، والبدائع: ۷/ ۱۵۳، كتاب الغصب، سعيد).

په در المختار کي راځي:

لو تصرف في المغصوب الوديعة بأن باعه وربح فيه إذا كان ذلك متعينًا بالإشارة أو بالشراء بدراهم الوديعة أو الغصب ونقدها يعني يتصدق بربحٍ حصل فيهما إذا كانا مما يتعين بالإشارة وإن كانا مما لا يتعين فعلى أربعة أوجهٍ فإن أشار إليها ونقدها فكذلك يتصدق وإن أشار إليها ونقد غيرها أو أشار إلى غيرها ونقدها أو أطلق ولم يشر ونقدها لا يتصدق في الصور الثلاث عند الكرخي قيل: وبه يفتى. (الدر المختار:۶ / ۱۸۹، سعيد).

وكذا في حاشية الطحطاوي على الدر المختار وزاد بقوله: والمختار أنه لا يحل مطلقًا كذا في الملتقى ولو بعد الضمان هو الصحيح كما في فتاوى النوازل واختار بعضهم الفتوى على قول الكرخي في زماننا لكثرة الحرام وهذا كله على قولهما وعند أبي يوسف لا يتصدق بشيءٍ منه كما لو اختلف الجنس ذكره الزيلعي. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۴/ ۱۰۵).

خلاصه يې دا ده چي په دې صورت کي د امام ابو يوسف رحمه الله له قول سره سم د دغه ګټنت خيراتول ضروري نه دي بلکي د هغه د استعمال اجازه هم ورته سته، هو د امام سرخی رحمه الله په قول سره يې خيراتول ښه کار دي او په ائنده کي دي داسي نه کوي ځکه چي د مغصوبه مال وخپل مالک ته ژر تر ژره رسول ضروري دي. والله تعالیٰ اعلم.

له غصب سوې شی څخه د نفع اخيستلو حکم

سوال: که چيري يو چا يو شی غصب کي يا يې غلا کړي بيا يې مالک ته د هغه شی عوض ورکړي يا يې د مالک د نامعلومتيا له امله د هغه له طرفه څخه قيمت خيرات کړي، نو اوس د دې شی استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي خاص د مغصوب شی وه مالک ته رسول ضروري دي، له دې څخه هیڅ قسم ګټه نه سي اخیستلای او که یې چیري مالک نامعلوم وي، نو د هغه له طرف څخه یې قیمت خیراتول لازمي دي، البته که چیري مغصوبه شی هلاک سي، نو بیا یې قیمت ورکول واجب دي او که یې مالک په خپله وبخښي یا یې د نفع اخیستلو اجازه ورکړه، نو د داسي کولو اختیار مالک لري:

هدایه له شرح عنایه سره وګورئ:

قال (وعلى الغاصب رد العين المغصوبة) معناه ما دام قائمًا لقوله عليه الصلاة والسلام «على اليد ما أخذت حتى ترد » أي على صاحب اليد عين ما أخذت اليد حتى ترد، وقال صلى الله عليه وسلم «لا يحل لأحدٍ أن يأخذ متاع أخيه لاعبًا ولا جادا ، فإن أخذه فليرده عليه » ولأن اليد حق مقصود وقد فوتها عليه فيجب إعادتها بالرد إليه ، وهو الموجب الأصلي على ما قالوا ، ورد القيمة مخلص خلفًا ؛ لأنه قاصر ، إذ الكمال في رد العين والمالية. قيل (القائل هو الاتقاني، سعدي): والصحيح هو الأول لأن الموجب الأصلي لوكان القيمة لجاز للغاصب أن يمتنع عن رد إذا قدر على القيمة .... (الهداية مع العناية: ۹/ ۳۲۲، دار الفكر).

وفي حاشية الشيخ سعدى جلبي: ثبت ذلک (رد العين) على خلاف القياس بالنص فيقتصر على مورده. (حاشية الشيخ سعدى جلبى على العناية:۹/ ۳۲۲، دار الفكر، والبدائع:۷/ ۱۵۱، كتاب الغصب، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په بل جنس سره د حق اخیستلو حکم

سوال: که چیري یو څوک د زید مال غصب کړي، نو ایا زید د خپل مال پر ځای د دغومره قیمت یو بل شی وړلای سي او که نه؟

الجواب: اصل مذهب خو دا دئ چي له بدل جنس څخه حق اخیستل ناروا دي مګر په اوس وخت کي د فساد له امله فتوی پر دې ده چي له بدل جنس څخه هم حق اخستلای سي:

په فتاوی شامی کي یې وګورئ:

(قوله وأطلق الشافعي أخذ خلاف الجنس) أي من النقود أو العروض، لأن النقود يجوز أخذها عندنا على ما قررناه آنفا. قال القهستاني وفيه إيماء إلى أن له أن يأخذ من خلاف جنسه عند المجانسة في المالية، وهذا أوسع فيجوز الأخذ به وإن لم يكن مذهبنا فإن الإنسان يعذر في العمل به عند الضرورة كما في الزاهدي . قلت: وهذا ما قالوا: إنه لا مستند له، لكن رأيت في شرح نظم الكنز للمقدسي من كتاب الحجر. قال: ونقل جد والدي لأمه الجمال الأشقر في شرحه للقدوري أن عدم جواز الأخذ من خلاف الجنس كان في زمانهم لمطاوعتهم في الحقوق والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة من أي كان لا سيما في ديارنا لمداومتهم للعقوق:

قال الشاعر:

عفاء على هذا الزمان فإنه ☆ زمان عقوق لا زمان حقوق

وكل رفيق فيه غير مرافق ☆ وكل صديق فيه غير صدوق

(فتاوى الشامي: ۴/ ۹۵، باب السرقة، سعيد).

وكذا نقل الطحطاوى عن الزاهدى. انظر: (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۲/ ۴۲۴، كتاب السرقة، ط: كوئته).

هو، مطلقاً روا نه دي بلكي كه چيرې ضرورت وو هلته روا دي چي له بدل جنس څخه خپل حق واخلي، علامه سندهی رحمه الله همدغسي ليكلي دي كوم چي علامه رافعی رحمه الله په تقريرات الرافعی كي را نقل كړي دي ويې وګورئ:

(قوله والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة الخ) أى عند الضرورة كما يفيده عبارة المجتبى إذ عند عدمها لا يؤخذ بمذهب الغير وبه يرد على من جوزه مطلقاً، سندى عن شرح نظم الكنز. (التحرير المختار على هامش فتاوى الشامى: ۴/ ۵۰، سعيد).

علامه شامی رحمه الله یو بل ځای لیکي:

تنبیه: قال الحموي في شرح الكنز نقلاً عن العلامة المقدسي عن جده الأشقر عن شرح القدوري للأخصب أن عدم جواز الأخذ من خلاف الجنس كان في زمانهم لمطاوعتهم في الحقوق والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة من أي مال كان لا سيما في ديارنا لمداومتهم العقوق، قال الشاعر.... الخ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۱۵۱، سعید).

وکذا نقل عنه فی تکمله فتح الملهم: ۲/ ۵۸۰).

مفتی کفایت الله رحمه الله لیکي:

زموږ د احنافو مذهب دا دي چي د مدیون په مال کي پر له بل جنس څخه اخیستل روا نه دي مګر علامه حموی رحمه الله دکنز په شرح کي په دغه حواله سره لیکلي دي ((مقدسی عن جده الا شقر عن شرح القدوری للا خصب)) چي له بدل جنس څخه قرض اخستل دا ده متقدمین په آند وو مګر نن سبا فتوی پر دغه ده چي د مدیون په لاس هر ډول مال ورسي له هغه څخه قرض اخستل روا دي. والله تعالی اعلم.

د کوچنیانو پر غلا کولو د تاوان حکم

سوال: یو سړی د یو چا درې کلن ماشوم غلا کړ او هغه ماشوم له غله سره وفات سو، نو پر هغه باندي تاوان یا دیت سته او که نه؟ او که یې لوی د پنځلسو (۱۵) کالو ماشوم غلا کړ او وفات سو څه حکم یې دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که یې دغه ماشوم په سم ځای کي ساتلی وو او هغه په خپله یا د تبې او یا کوم بل مرض له امله وفات سو، نو پر دغه غله ضمان نه سته او که یې په غیر مناسب ځای کي اچولی وو او هغه د تبې یا یو بل مرض له امله یا مار یا بل شی وچیچي مړ سو او یا په یو بل آفت سره مړ سو. نو د غلا کوونکی پر کورنۍ دیت اداء کول واجب دي او له کوچني ماشوم څخه هغه مراد دي چي خپل ځان چا ته نه سي ورښودلای لکه د درو کالو ماشوم او که یې چیري بالغ هلک غلا کړي وو او په داسي زندان کي یې اچوولی وو چي هغه د خپل ځای حفاظت نه سو کولای، نو تاوان پر

لازمیږي او که يې د خپل ځان حفاظت کولای سو مګر یو شی پر را وولیدئ یا د مار له چیچلو څخه مړ سو، نو تاوان يې نه سته:

په در مختار کي يې وګورئ:

غصب رجل صبيا حرا لا يعبر عن نفسه والمراد بغصبه الذهاب به بلا إذن وليه فمات هذا الحر في يده فجاءةً أو بحمى لم يضمن وإن مات بصاعقةٍ أو نهش حيةٍ فديته على عاقله الغاصب استحسانًا لتسببه بنقله لمكان الصواعق أو الحيات حتى لو نقله لمواضع يغلب فيه الحمى والأمراض ضمن فتجب فيه الدية على العاقلة لكونه قتلًا تسببًا هداية وغيرها، قلت : بقي لو نقل الحر الكبير لهذه الأماكن تعديًا إن مقيدًا ولم يمكنه التحرز عنه ضمن وإن لم يمنعه من حفظ نفسه لا لأنه بتقصيره فحكم صغيرٍ ككبيرٍ مقيد عناية.

وفي رد المحتار: قوله لا يعبر عن نفسه لأنه لو كان يعبر يعارضه بلسانه ، فلا تثبت يده حكمًا كذا في الشرنبلالية عن البرهان ؛ ومثله في الكفاية والقهستاني وغيرهما . قوله بصاعقةٍ أي نارٍ تسقط من السماء أو كل عذابٍ مهلكٍ كما في القاموس ، فيشمل الحر الشديد والبرد الشديد والغرق في الماء ، والتردي من مكان عالٍ كما في الخانية وغيرها قهستاني. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۶۲۳، فصل فی غصب القن وغيره، سعيد).

(وكذا فی البدائع: ۷/ ۴۶، كتاب الغصب، سعيد، وتبيين الحقائق: ۶/ ۱۶۷، وملتقى الابحر، ص ۳۹۵).

وفی « الفقه الحنفی وأدلته» (۳/ ۱۱۴، ط: بيروت): من اختطف صبياً، فمرض فمات فی يد الغاصب، فلا ضمان عليه أبي حنيفة، وإن لم يمرض، ولم يمت، ولكن قتله رجل في يد الغاصب خطأً، فإن للأولياء أن يطالبوا أيهما شاء وا بالدية، فإن طالبوا الغاصب، رجع على القاتل، وإن طالبوا القاتل، لم يرجع على الغاصب، وكل هذا الضمان على العاقلة، وإن قتله عمداً كان أولياءه بالخيار، إن شاء واقتلوا القاتل، وبرئ الغاصب، وإن شاء وا اتبعوا الغصب

بالدية على قاتلة الغاصب، وتؤخذ من مال القاتل. ولو قتل الصبى نفسه، أو طرح نفسه من السيارة، لاضمان على الغاصب، لأن الطفل هو الذي جنى على نفسه. والله ﷻ اعلم

د غصب سوي مال د گټې حکم

سوال: يو سړي د چا مال غلا کړي يا يې غصب کي او په هغه سره يې تجارت شروع کړي ښه گټه يې وکړل، اوس د تبلغي جماعت په برکت سره الله تعالى هغه ته د توبې کښلو توفيق ورکړي، نو اوس دغه گټل سوې مال ټول د مالک دئ او که به يوازې غلا سوې مال ورکوي او پاته مال د تائب له پاره روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي به غلا سوې او غصب سوې مال بېرته مالک ته ورکوي او له دغه مال شخه چي کومه گټه لاس ته راغلى ده د هغې لاندي څو صورتونه کېدلاى سي:

۱_ غصب سوې مال يې معلوم کړ او د هغه په بدله کي يې حلال مال رانيوي او بيا يې هغه غلا سوې او غصب سوې مال په قېمت کي اداء کړي.

۲_ د غلا سوې شى له معلوميدو پرته يې حلال شى را نيوي بيا يې غصب سوې مال په قېمت کي اداء کړي.

۳_ حلال مال يې معلوم کړ او غصب سوې يې په قېمت کي اداء کړي.

۴_ غصب سوې يې معلوم کړ او حلال مال يې اداء کړي.

په لومړى صورت کي لاس ته راغلى گټه ناروا او خيراتول يې واجب دي په پاته صورتو کي د امام ابو الحسن کرخى رحمه الله په آند د لاس ته راغلى مالو د استعمالولو اجازه سته. لهذا توبه کښونکى ته د پاته مال استعمال روا دئ.

په مختصر القدوري کي يې وگورئ:

ومن غصب شيئاً مما له مثل فهلک في يده فعليه ضمان مثله وإن كان مما لا مثل له فعليه قيمته يوم الغصب. (مختصر القدورى، ص ۲۹۵، مؤسسة الريان).

په رد المحتار کې راځي:

لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه. (رد المحتار:۶/ ۳۸۵، سعيد).

په فتاوی تاتار خانيه کې راځي:

اشترى بدراهم مغصوبة، أو بدراهم اكتسبها من الحرام شيئاً، فهذا على وجوه: (۱) إما أن دفع إلى البائع تلك الدراهم أو لا، ثم اشترى منه بتلك الدراهم، (۲) إذا اشترى قبل الدفع بتلك الدراهم، ودفعها، (۳) أو اشترى قبل الدفع بتلك الدراهم، ودفع غير تلك الدراهم، (۴) أو اشترى مطلقاً، ودفع تلك الدراهم، (۵) أو اشترى بدراهم آخر، ودفع تلك الدراهم، ففي الوجوه كلها لا طيب له التناول قبل ضمان يعني قبل ضمان الدراهم، وبعد الضمان يطيب له الربح، هكذا ذكره في الجامع الصغير قال أبو الحسن الكرخي: هذا الجواب صحيح في الوجه الأول والثاني، أما في الوجه الثالث والرابع والخامس يطيب له، واليوم قالوا: الفتوى على قول أبي الحسن الكرخي، لكثرة الحرام دفعاً للحرج على الناس، وعلى هذا تقرر رأى الصدر الشهيد. (الفتاوى التاتار خانية:۱۶/ ۵۱۰،ط: ديوبند).

وللمزيد راجع: (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۲۳۵، سعيد، والرد المحتار:۶/ ۱۸۹، سعيد، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۴/ ۱۰۵، كوئته).

په فتاوی محموديه کې راځي:

څومره مال چې په حرامه سره لاس ته راوړي وي د هغه بېرته ورکول ضروري دي مګر په دغه مال سره يې نور حلال مال وګټي هغه ته حرام نه ويل کيږي. والله ﷻ اعلم.

د کافر مغصوب منه له طرفه د صدقې حکم

سوال: که يو چا د کافر مال غصب کړ او د هغه ځای معلوم نه وو، نو مسلمان دي په هغه مال څه وکړي که هغه صدقه کړي، نو ايا د کافر له طرفه صدقه او خيراتی کېدلای سي؟

الجواب: د مغصوب شی حکم دا دي چي بعینه دي هغه وخپل مالک ته ورکړي که چیري موجودوي او که هلاک سوی وو نو تاوان ورکول یې واجب دي، مګر که اصلي مالک ورک وو او د هغه لټول هم اسانه کار نه وو، بیا دي د هغه له طرفه خیرات کړي، مګر خو د کافر له طرفه څخه د ثواب نیت نه سي کېدلای، نو دي بېله نیت د ثواب ورکړي لکه مردار سپي یا یوبل شی چي له کوره غورځه وي:

په فتاوی شامی کي یې وګورئ:

ویجب رد عین المغصوب لقوله علیه الصلاة والسلام علی الید ما أخذت حتی ترد ولقوله علیه الصلاة والسلام: لا یحل لأحدکم أن یأخذ مال أخیه لاعباً ولا جاداً، وإن أخذه فلیرده علیه . (فتاوی الشامی: ۶/ ۱۸۲، سعید).

د مغصوب مال په ورکولو سره یې غاړي خلاصیږي: علامه شامی رحمه الله وایي:

قوله یبرأ بردها أی رد العین المغصوبة إلی المغصوب منه. (فتاوی الشامی: ۶/ ۱۸۲، سعید).

د کافر له لوري څخه د ثواب نیت نه سي کېدلای: په حدیث شریف کي راځي:

عبد الرزاق قال حدثنا معمر عن یحیی بن أبي کثیر قال أحسبه عن عمرو بن شعیب قال: کان علی العاص بن وائل مئة رقبة یعتقها فجعل علی ابنه هشام خمسین رقبة وعلی إبنه عمرو خمسین رقبة فذکر ذلك عمرو لرسول الله صلی الله علیه و سلم فقال رسول الله صلی الله علیه و سلم: إنه لا یعتق عن کافر ولو کان مسلما فأعتقت عنه أو تصدقت أو حججت بلغه ذلك. (اخرجه عبد الرزاق: ۹/ ۶۱/ ۱۶۳۴۹).

په عمدة القاري کي راځي:

إن الکافر لا تصح منه قربة فیکون مثاباً علی طاعته، ویصح أن یکون مطیعاً غیر متقرب کنظیره في الإیمان، فإنه مطیع من حیث کان موافقاً للأمر والطاعة عندنا موافقة للأمر، ولکنه لا

يكون متقرباً، لأن من شرط التقرب أن يكون عارفا بالمتقرب إليه، وهو في حين نظره لم يحصل له العلم بالله تعالى بعد. (عمدة القارى: ۶/ ۴۱۵، باب من تصدق في الشرک، ط: دار الحديث، ملتان). والله ﷻ اعلم.

کافر ته په اخرت کي پر ښو اعمالو د ثواب ورکولو حکم

سوال: يو سړی د يو کافر مال غلا کړيا يې په زور ورڅخه يو وړ، نو ايا د قيامت په ورځ به دغه کافر ته د مسلمان نيک اعمال ورکول کيږي او که نه؟ او د دغه کار وبال پر مسلمان راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مسلمان نيک اعمال کافر ته نه ورکول کيږي له دې امله چي کافر د دې لائق نه دئ چي هغه ته دي ثواب ورکول سي او کوم ښه کارونه چي يې په دنيا کي کړي دي د هغو له امله يې په عذاب کي سپکوالی کېدلای سي مګر ځينی علماء وايي، چي له کفر څخه پرته نوري ګناوي يې مسلمان ته ورکېدلای سي او له کافر څخه مراد ذمي او مستامن دئ يعنی محارب به نه وي او نه به په حالت د جنګ کي وي مګر د صلح او اور بند په وخت کي حربي کافر هم داخل دئ:

په فتاوی شامي کي يې وګورئ:

مسلم غصب من ذمي مالًا أو سرقه فإنه يعاقب عليه يوم القيامة، لأنه أخذ مالًا معصومًا، والذمي لا يرجى منه العفو ، بخلاف المسلم، فكانت خصومة الذمي أشد ، وعند الخصومة لا يعطى ثواب طاعة المسلم للكافر، لأنه ليس من أهل الثواب ، ولا وجه لأن يوضع على المسلم وبال كفر الكافر فيبقى في خصومته. (رد المحتار:۳/ ۶۹۴، باب الاستلاد، سعيد).

په فتاوی سراجيه کي يې وګورئ:

مسلم غصب مال الذمي يعاقب يوم القيمة ويخاصمه الذمي يوم القيمة وظلامة الكافر أشد من ظلامة المسلم. (الفتاوى السراجية، ص ۳۵۸، ط: زمزم).

وفی الدر المختار: وظلم الذمی أشد من المسلم، وفی رد المحتار: قوله أشد من المسلم، لأنه یشدد الطلب علی ظالمه لیکون معه فی عذابه، ولا مانع من طرح سیئات غیر الکفر علی ظالمه، فیعذب بها بدله ذکره بعضهم. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۴۰۲، سعید).

(وکذا فی حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۲۰۱، کوئته، وفتاوی قاضیخان علی هامش الفتاوی الهندیة:۳/ ۲۵۸، کتاب الغصب).

قال في « بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية في سيرة أحمدية» فی الصنف الثامن من التسعة فی آفات الرجل (۶/ ۳۵):

(وكذا الذمي) ، وكذا المستأمن بل الحربي عند الصلح (إن لم يستحل) فيحل (في الدنيا) وإلا فمجرد الاستحلال ليس بمفيدٍ إلا أن يجعل على معنى أصل الفعل أي إن لم يحل الذمي، في التتارخانية: علاقة الكافر أشد من علاقة المسلم ؛ لأنه لا وجه أن يعطى ثواب المسلم ولا وجه أن يوضع على المسلم وبال كفره فيعاقب عقوبته . ثم ذكر ما نقل عن قاضي خان آنفًا ونقل عن الحاشية: هنا اعلم أن الطريق في حقوق العباد أحد الأمور الثلاثة : الإعطاء من حسنات من عليه الحق إن وجدت وإلا أو لم تف فيحمل إثم من له الحق عليه وإدخاله في النار بدله أو إعطاء الدرجات العالية من الله تعالى تفضلًا وكل منهما لا يتصور فيهما لعدم دخولهما الجنة فلا فائدة لهما في إعطاء الحسنات والدرجات ، وعدم إمكان تحمل إثمهما لعدم الإثم في الحيوان واقتضاء إثم الكفر التأبيد في النار والمؤمن لا يتأبد فيها وليس للكافر سوى كفره إثم ، وفي بعض النسخ زيد قوله: لأنه غير مكلفٍ بالفروع .

أقول: إن كان المقام مقام الرواية فلا مجال لأحدٍ أن يتكلم ، وإن سوغ جانب الدراية فيجوز تخفيف عذاب الكافر بتحمل قوة بعض وزره إلى المسلم مثلًا ولا شك في تفاوت

عذاب الكفار بل ذلك أنمع له من تعذيب المسلم لحقه ، ويجوز أن يخلق الله تعالى للحيوان مراعي على وفق اقتضاء طبيعته ويجعلها في مقابلة حقه وأنه قادر على خلق قوة الرضاء عنه بمقابلتها وبما ذكر يندفع ما يرد أن الشهادة مانعة من دخول النار وحقوق الكافر والحيوان من دخول الجنة فكيف حال من جمع فيه هذان الأمران وهو المناسب لظاهر قوله: (ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء). والله تعالى أعلم .

كفارو ته په دنيا او آخرت كي د نيكيو بدله وركول كيږي او كه نه؟ د دې له پاره تفصيل وګورئ:

عن أبي سعيدٍ الخدري ، رضي الله عنه، أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم وذكر عنده عمه أبو طالبٍ فقال: لعله تنفعه شفاعتي يوم القيامة فيجعل في ضحضاحٍ من النار يبلغ كعبيه يغلي منه أم دماغه. (رواه البخاري:٢/ ٩٧١، باب صفة الجنة والنار).

وعن عبد الله بن الحارث بن نوفلٍ عن عباس رضي الله عنه أنه قال للنبي صلى الله عليه وسلم: هل نفعت أبا طالبٍ بشيءٍ (وفي رواية: فإنه كان يحفظك ويغضب لك قال: نعم و هو في ضحضاحٍ من نارٍ لولا أنا، لكان في الدرك الأسفل من النار. (البخاري:٢/ ٩١٧، باب كنية المشرك، ١/ ٥٤٨، باب قصة ابى طالب، ط: فيصل). (رواه البخاري:٢/ ٩٧٢، باب صفة الجنة النار).

وفى البخاري: قال عروة: وثويبة مولاة لأبي لهبٍ كان أبو لهبٍ أعتقها فأرضعت النبي صلى الله عليه وسلم فلما مات أبو لهبٍ أريه بعض أهله بشر حيبةٍ قال له: ماذا لقيت قال أبو لهبٍ: لم ألق بعدكم غير أني سقيت في هذه بعتاقتي ثويبة. (صحيح البخاري:٢/ ٧٦٤، كتاب النكاح).

علامه ابن حجر رحمه الله په فتح البارى كي وايي:

قوله بعتاقتى.... وقال البيهقي ما ورد من بطلان الخير للكفار فمعناه انهم لا يكون لهم التخلص من النار ولا دخول الجنة، ويجوز أن يخفف عنهم من العذاب الذي يستوجبونه على ما ارتكبوه من الجرائم سوى الكفر بما عملوه من الخيرات، وأما عياض فقال: انعقد الإجماع على أن الكفار لا تنفعهم أعمالهم ولا يثابون عليها بنعيم ولا تخفيف عذاب، وأن كان بعضهم أشد عذاباً من بعض، قلت: وهذا لا يرد الاحتمال الذي ذكره البيهقي، فإن جميع ما ورد من ذلك فيما يتعلق بذنب الكفر، وأما ذنب غير الكفر فما المانع من تخفيفه؟ وقال القرطبي هذا التخفيف خاص بهذا وبمن ورد النص فيه، وقال بن المنير في الحاشية: هنا قضيتان إحداهما محال وهي اعتبار طاعة الكافر مع كفره، لأن شرط الطاعة أن تقع بقصد صحيح، وهذا مفقود من الكافر. الثانية: إثابة الكافر على بعض الأعمال تفضلاً من الله تعالى، وهذا لا يحيله العقل فإذا تقرر ذلك لم يكن عتق أبي لهب لثويبة قربة معتبرة. ويجوز أن يتفضل الله عليه بما شاء كما تفضل على أبي طالب، والمتبع في ذلك التوقيف نفياً واثباتاً، قلت: وتتمة هذا أن يقع التفضل المذكور اكراما لمن وقع من الكافر البر له ونحو ذلك، والله أعلم. (فتح الباري: ۹/ ۱۴۵).

په عمدة القاري كي علامه عينى رحمه الله وايي:

أن الكافر قد يعطى عوضاً من أعماله التي يكون منها قربة لأهل الإيمان بالله، كما في حق أبي طالب . غير أن التخفيف عن أبي لهب أقل من التخفيف عن أبي طالب وذلك لنصرة أبي طالب لرسول الله ﷺ وحياطته له وعداوة أبي لهب له . وقال ابن بطال: وصح قول من تأول في معنى الحديث الذي جاء عن الله تعالى: إن رحمته سبقت غضبه، إن رحمته لاتنقطع عن

أهل النار المخلدين فيها، إذ في قدرته أن يخلق لهم عذاباً يكون عذاب النار لأهلها رحمة وتخفيفاً بالإضافة إلى ذلك العذاب ومذهب المحققين أن الكافر لا يخفف عنه العذاب بسبب حسناته في الدنيا، بل يوسع عليه بها في دنياه . وقال القاضي عياض .... وقال الكرماني: لا ينفع الكافر العمل الصالح . إذ الرؤيا ليست بدليل، وعلي تقدير التسليم يحتمل أن يكون العمل الصالح والخير الذي يتعلق لرسول الله ﷺ مخصوصاً، كما أن أبا طالب أيضاً ينتفع بتخفيف العذاب..... (عمدة القاری:۱۴/ ۴۴، ط: دار الحدیث، ملتان).

(وکذا فی شرح البخاری لابن بطال:۷/ ۱۹۵).

پہ فتح الباري کي راځي:

فيحتمل ان يجازى بتخفيف العذاب عنه بمقدار ما عمل لقوله تعالى (ونضع الموازين القسط ليوم القيامة فلا تظلم نفس شيئاً) قلت: لكن هذا البحث النظري معارض بقوله تعالى (ولا يخفف عنهم من عذابها) وحديث أنس رضي الله عنه الذي أشرت إليه، وأما ما أخرجه بن مردويه والبيهقي من حديث بن مسعود رضي الله عنه رفعه «ما أحسن محسن من مسلم ولا كافر الا اثابه الله، قلنا يا رسول الله ما اثابة الكافر؟ قال: المال والولد والصحة وأشباه ذلك قلنا: وما اثابته في الآخرة؟ قال: عذابا دون العذاب، ثم قرأ: (ادخلوا آل فرعون أشد العذاب) فالجواب عنه أن سنده ضعيف، وعلى تقدير ثبوته فيحتمل أن يكون التخفيف فيما يتعلق بعذاب معاصيه، بخلاف عذاب الكفر. (فتح الباری: ۱۱/ ۴۳۱).

وفي عمدة القارى: قوله «لعله تنفعه شفاعتي» قيل: يشكل هذا بقوله تعالى: (فما تنفعهم شفاعة الشافعين)(المدثر ٤٨) وأجيب بأنه خص فلذلك عدوه من خصائص النبي ﷺ وقيل: جزاء الكافر من العذاب يقع على كفره وعلى معاصيه فيجوز أن الله تعالى يضع عن بعض

الكفار بعض جزاء معاصيه تطييباً لقلب الشافع لا ثواباً للكافر. لأن حسناته صارت بموته على كفره هباء منثوراً. (عمدة القاري: ۱۵/ ۶۷۲، كتاب الرقاق، باب صفة الجنة والنار).

د احادیث د شراحو د ذکر سوي عباراتو خلاصه لاندي وګورئ:

☆ کفارو ته د ښه اعمالو ګټه هیڅکله نه رسیږي.

☆ په دنیا کي د ښه اعمالو بدله ورکول کیږي نه په آخرت کي لکه په دنیا کي مال، دولت، اولاد، روغتیا او داسي نور ورکول، دا د محققینو مذهب دئ.

☆ د ښه اعمالو له امله یې په آخرت کي عذاب سپک کیږي لکه څنګه چي په روایاتو کي تېر سوله چي د ابو جهل او ابو طالب په عذاب کي به څه اساني وي.

اشکال: پر دغه دا اشکال کیږي چي الله تعالی فرمایي:

﴿ ولا يخفف عنهم من عذابها ﴾ (سورة الفاطر، الآية ۳۶).

له کفارو څخه به په عذاب کي سپک والی نه کیږي د دې جواب څه دئ؟

الجواب: (۱) د دې جواب دا دئ چي کفارو ته له دوو وجو عذاب ورکول کیږي:

الف_ : د کفر له امله.

باء_ : د نورو ګناهونو له امله، د نورو ګناهونو په عذاب کي سپک والی کېدلای سي مګر د کفر له امله په عذاب کي هیڅکله سپک والی نه سي کېدلای.

۲_ د ابو طالب او ابو لهب په عذاب کي سپک والی دا د رسول الله ﷺ له خصوصیاتو څخه دي:

۳_ د شفاعت کونکی د زړه د اطمینان له پاره ده نه د کفارو د ښه اعمالو د ثواب له امله ځکه چي د کفارو عملونه پر کفر د مرګ له امله خاوري هېري سوې دي،

۴_ په عذاب کي سپک والی د خوب خبره ده او خوب دلیل نه سي جوړیدلای. والله ﷻ اعلم.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

قال اللہ تعالیٰ

إن اللہ یأمرکم أن تؤدوا الأمانات إلی أھلھا

عن أبي بن کعب رضی اللہ عنہ أن رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم قال فی اللقطة: عرفھا، فإن جاء أحدیخبرک بعدد ھا ووعائھا وو کائھا فأعطھا إیاہ، وإلا فاستمتع بھا. اخرجہ مسلم

وعن عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ قال فی اللقطة: یعرفھا سنة فإن جاء صاحبھا وإلا تصدق بھا.... ..الخ. (رواہ ابن ابی شیبة فی المصنف)

باب اللقطة

عن أبی ھریرة رضی اللہ عنہ قال: قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وسئل عن اللقطة، فقال: لا تحل اللقطة، من التقط شیئا فلیعرفه سنة، فإن جاء صاحبھا فلیردھا إلیه، وإن لم یات صاحبھا فلیتصدق بھا... ...الخ.(أخرجه الدار قطنی)

د لقطې د احکامو بیان

په اشپز خانه کې د اوړو د پارسل د پیدا کېدو حکم

سوال: زید د طالبانو په اشپز خانه کې د اوړو پارسل پیدا کړي او هغه تقریباً له دوو میاشتو څخه هلته وو او مالک يې معلوم نه دئ، نو اوس د دغه پارسل څه حکم دئ؟ ایا د هغه له پاره يې استعمالولو اجازه سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د اوړو د پارسل حکم د لقطې ده او د لقطې حکم دا دي چې که څوک يې پیدا کړي، نو د هغه اعلان دي وکړي او ښه دي مشهوره کړي تر څو چې مالک يې پیدا سي، البته که چیري له ډېرو پوښتنو سره سره يې مالک پیدا نه سو له راتګ يې امید قطع سو، نو که دی خپله مسکین وو په خپله دي استعمال کړي او که دی مالدار وو بیا دي د مالک له طرف څخه خیرات کړي:

په دغه حدیث شریف کې يې وګورئ:

أخرج الدار قطني: (۴/ ۱۸۲)، والطبراني فی الأوسط: (۵/ ۳۵۳)، عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وسئل عن اللقطة، فقال: لا تحل اللقطة من التقط شيئاً فليعرفه سنة، فإن جاء صاحبها فليردها إليه، وإن لم يات صاحبها فليتصدق بها... الخ. وهذا اللفظ للدار قطني، وإسناده ضعيف.

وروى ابن أبي شيبة فی المصنف عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال فی اللقطة يعرفها سنة فإن جاء صاحبها وإلا تصدق بها... الخ. (رواه ابن ابی شیبة فی المصنف: ۱۰/ ۱۳۹/ ۱۸۶۳۰).

په درمختار کې راځي:

(وعرف) أي نادى عليها حيث وجدها وفي الجامع (إلى أن علم أن صاحبها لا يطلبها أو أنها تفسد إن بقيت كالأطعمة) والثمار، قوله : إلى أن علم أن صاحبها لا يطلبها لم يجعل للتعريف مدة اتباعاً للسرخسي فإنه بنى الحكم على غالب الرأي، فيعرف القليل والكثير إلى أن

يغلب على رأيه أن صاحبه لا يطلبه وصححه في الهداية، وفي المضمرات والجوهرة، وعليه الفتوى ... فينتفع الرافع بها لو فقيراً و إلا تصدق بها على فقير. (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/ ۲۷۸، سعيد).

په هدايه کي راځي:

ويفوض إلى رأي الملتقط يعرفها إلى أن يغلب على ظنه أن صاحبها لا يطلبها بعد ذلك ثم يتصدق بها، وإن كانت اللقطة شيئاً لا يبقى عرفه حتى إذا خاف أن يفسد تصدق به، وينبغي أن يعرفها في الموضع الذي أصابها. (الهداية: ۲/ ۶۱۴، كتاب اللقطة).

د امام محمد رحمه الله شخه په دې باره کي د څه مودې اندازه هم را نقل سوې ده، مګر ملا علي قاري رحمه الله او څه نور علماء کرام ليکي: چي صحيح خبره دا ده چي په دې کي څه موده نه سته د مسلم شريف د حديث په رڼا کي دا ده اخستونکی په رايه پوري تړلی ده:

په فتح باب العنايه کي يې وګورئ:

(وعرفت) ما يبقى، على سبيل الوجوب، (في مكان وجدت) بأن نادى أني وجدت لقطة لا أدري مالكها، فليأت مالكها أو ليصفها لأردها عليه (و) عرف أيضاً (فى المجامع) لأن ذلك أقرب إلى الوصول إلى صاحبها (مدة لا تطلب بعدها).... وروى محمد عن أبي حنيفة: إن كانت أقل من عشرة دراهم عرفها أياماً على حسب ما يرى، وإن كانت عشرة فصاعداً عرفها حولاً... والصحيح أن شيئاً من هذه التقادير ليس بلازم، وإن تفويض التقدير إلى رأى الآخذ، لإطلاق حديث مسلم عن أبي بن كعب رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال فى اللقطة: «عرفها، فإن جاء أحد يخبرک بعددها ووعائها ووكائها فأعطها إياه، وإلا فاستمتع بها. (أخرجه مسلم فى اللقطة، رقم ۱۷۲۳).... ولأن النبي صلى الله عليه وسلم قد زاد على السنة ونقص منها.... (شرح النقاية: ۴/ ۱۱۶، ط: بيروت). (وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۲۰۷).

لنډه دا چي زيد دي د دې پارسل ښه ډېر شهرت وکړي تر څو چي زړه يې ښه مطمئن سي چي د دې مالک له دې وروسته د دې پوښتنه نه کوي، بيا که دی فقير وي استعمالولای سي که فقير نه وو نو د مالک له طرفه دي خيرات کړي. والله ﷻ اعلم.

په مبيع کي د يو قيمتي شی د راوتلو حکم

سوال: نن سبا غله او داسي نور شيان له کمپنيو څخه بسته راځي او په دوکانو کي خرڅيږي که له رانيولو وروسته ورانيونکی ته يو قيمتي شی په لاس ورغلی لکه د سرو زرو سکه او داس نور، نو دا ده چا حق کيږي کمپنۍ والا ته يې ور وړي که بائع ته او که يې رانيونکی په خپل استعمال کړي؟

الجواب: په دې صورت کي دي له بائع او د بائع له بائع څخه پوښتنه وسي که چيري هغه ناخبري وښه يې يا دا ووايي، چي زموږ نه دئ، نو د دې حکم لکه لقطه داسي دئ. د مالک پوښتنه دي وکړي او ور ودي رسوي او که مالک پيدا نه سو بيا که رانيونکی محتاج وي خپله دي استعمال کړي که نه وي، نو خيرات دي کړي:

په فتاوی شامی کي يې وګورئ:

وفی التاتار خانية عن الينابيع: اشترى داراً فوجد في بعض الجدار دراهم. قال أبو بكر: إنها كاللقطة. قال الفقيه: وإن ادعاه البائع رد عليه، وإن قال ليست لي فهي لقطة. (فتاوى الشامي:۴/ ۲۸۵، كتاب اللقطة، سعيد).

په هدايه کي راځي:

إن جاء صاحبها وإلا تصدق بها إيصالا للحق إلى المستحق وهو واجب بقدر الإمكان وذلك بإيصال عينها عند الظفر بصاحبها وإيصال العوض وهو الثواب على اعتبار إجازته التصدق بها وإن شاء أمسكها رجاء الظفر بصاحبها . (الهداية: ۲/ ۶۱۵، كتاب اللقطة).

دغسي بيا په هدايه کي راځي:

وإن كان الملتقط غنياً لم يجزله أن ينتفع بها .... ولنا أنه مال الغير فلا يباح الانتفاع به إلا برضاه لإطلاق النصوص والإباحة للفقير لما رويناه أو بالإجماع فيبقى ما وراءه على الأصل

.... وإن كان الملتقط فقيراً فلا بأس بأن ينتفع بها لما فيه من تحقيق النظر من الجانبين ولهذا جاز الدفع إلى فقير غيره . (الهداية: ۲/ ۶۱۷، كتاب اللقطة). والله ﷻ اعلم.

د مالک په ورکېدو سره د امانت حکم

سوال: د يو سړي سره امانت پروت دئ له ښه ډېر وخت تېريدو وروسته هم د مالک هيڅ ډول درک نه سته اوس د دغه امانت حکم څه دئ؟ نور دي څومره وخت وساتئ او د مالک د نه راتللو په صورت کي دي په دغه امانت څه وکړي؟

الجواب: په دې صورت کي که غالب گمان دا وي چي د دې امانت خاوند مړ سوی دئ، يا نه راځي او وارث يې هم نه سته، نو د دې حکم لکه د لقطې داسي دئ که مالداره وي خيرات دي کړي او که مسکين وي په خپله دي استعمال کړي، البته چي کله يې مالک راسي او د دې امانت غوښتنه يې وکړه، نو بيا يې قېمت ورکول ضروري دئ:

په فتاوی شامي کي يې وګورئ:

قال في شرح الوهبانية: وفي البزازية قال الإمام الحلواني: إذا كان عنده وديعة فمات المودع بلا وارث له أن يصرف الوديعة إلى نفسه في زماننا هذا، لأنه لو أعطاها لبيت المال لضاع لأنهم لا يصرفون مصارفه فإذا كان من أهله صرفه إلى نفسه وإن لم يكن من المصارف صرفه إلى المصرف . (فتاوى الشامى: ۲/ ۳۳۶، باب العشر، سعيد، وكذا في: ۴/ ۱۵۹، سعيد، وكذا فى:۶/ ۷۳۴، سعيد). (وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية:۶/ ۲۰۷). والله ﷻ اعلم.

د کوم مړي چي وارث نه وي د هغه د مال حکم

سوال: يو سړی مړ سو او د چا په کور کي چي مړ سو هغوی ته يې د هيڅ يو وارث معلومات هم نه وو، نو د هغه د مال څه حکم دي او څه وصيت يې هم نه دئ کړي؟

الجواب: په دې صورت کي د هغه مال حکم د لقطې دي که په خپله مسکين وي، په خپله دي استعمال کړي که نه وي، نو پر فقيرانو او مسکينانو دي تقسيم کړي:

په در مختار کي يې وګورئ:

وفي الحاوي : غريب مات في بيت إنسانٍ ولم يعرف وارثه فتركته كلقطةٍ ، ما لم يكن كثيرًا فلبيت المال بعد الفحص عن ورثته سنين ، فإن لم يجدهم فله لو مصرفًا . وفى رد المحتار: قوله ما لم يكن كثيراً.... والظاهر أن المراد بالكثير ما زاد على خمسة دراهم لما في البحر عن الخلاصة والولوالجية: مات غريب في دار رجل ومعه قدر خمسة دراهم فله أن يتصدق على نفسه إن كان فقيرا كاللقطة وفي الخانية: ليس له ذلك لأنه ليس كاللقطة. قال في البحر: والأول أثبت وصرح به في المحيط. (الدر المختار مع رد المحتار:۴/ ۲۸۴، سعيد).

په اختيار کي راځي:

غريب مات في دار رجل ليس له وارث معروف وخلف مالا وصاحب المنزل فقير فله الانتفاع به بمنزلة اللقطة . (الاختيار لتعليل المختار:۳/ ۳۷، كتاب اللقطة، ط: بيروت).

په فتاوی سراجيه کي راځي:

غريب مات في بيت رجل وليس له وارث معروف وخلف مالاً وصاحب الدار فقير، فله أن يتصدق بها على نفسه كذا ذكره في فتاوى أئمة سمرقند. (الفتاوى السراجية على هامش الخانية:۲/ ۴۹، كوئته).

لنډه: دا چي د فقهي له ځينو کتابو لکه اختيار، فتاوی سراجيه او داسي نورو څخه معلوميږي چي که د کور والا مسکين وو، نو په خپله يې د استعمال اجازه ورته سته که مال لږ وي او که ډېر مګر له ځينو نورو کتابونو لکه درمختار، شامي، بحر الرائق، جوهره، محيط او داسي نورو څخه بيا معلوميږي چي که مال لږ وو د پنځو دراهم په اندازه وو استعمالولای او که ډېر وو، نو په بيت المال کي دي جمع کړي مګر نن سبا خو د بيت المال څه نظام نه سته له دې امله د ټول مال استعمالولو اجازه ورته سته مګر قاضی خان رحمه الله مطلق د استعمال اجازه نه ده ورکړي، خو علامه ابن انجيم رحمه الله لومړی قول صحيح ښودلی دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د لقطه د خرڅولو حکم

سوال: یو چا یو شی پیدا کړ هغه پر بل چا په ډېر ارزانه قیمت خرڅ کړ او مالک یې تر اوسه پیدا سوی نه دئ، نو اوس دي ملتقط څه وکړي لاس ته راغلی پیسې دي خیرات کړي که اصلي قیمت او که یې د خیراتولو ضرورت نه سته؟

الجواب: د لقطې حکم دا دئ چي د اصلي مالک پوښتنه دي وکړي، بعینه هغه شی دي مالک ته ورکړي، البته که چیري مالک پیدا نه سو، نو د هغه اعلانونه دي کوي تر څو چي د مالک له راتګ څخه یو مخ نا امیده سو، بیا دي خیرات کړي او که په خپله مسکین وي، نو ده ته هم د استعمال اجازه سته، خو لقطه به نه خرڅوي ځکه چي په دې کي اوس هم د مالک ملکیت سته که یې خرڅ کړو نو قیمت به یې خیراتوي که هر وخت مالک راغلی اصلي قیمت به یې ورکوي:

په اعلاء السنن کي راځي:

عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه أنه قال في اللقطة: يعرفها صاحبها الذي أخذها سنة، إن جاءلها طالب وإلا تصدق بها، ثم إن جاءلها طالب بعد ذلك كان صاحبها بالخيار إن شاء ضمنه مثلها وكان الأجر للذي تصدق بها، وإن شاء أمضى الصدقة وكان له الأجر. أخرجه ابن خسرو في مسنده للإمام، وأخرجه الإمام محمد بن الحسن في الآثار، فرواه عن أبي حنيفة، وقال: وبه نأخذ وهو قول أبي حنيفة .... قوله: فلتكن وديعة عندك رواه البخاري ومسلم، ودلالته على معنى الباب ظاهرة حيث جعل المالك بالخيار بعد ما استنفقها أو تصدق بها الملتقط، إن شاء ضمنه مثلها وإن شاء تركه وكان له الأجر، فثبت أن اللقطة لا تكون ملكاً للملتقط بعد انقضاء مدة التعريف بل تبقى على ملك صاحبها.

واختلف العلماء فيما إذا تصرف في اللقطة بعد تعريفها سنة ثم جاء صاحبها، هل يضمنها له أم لا؟ فالجمهور على وجوب الرد إن كانت العين موجودة أو البدل إن كانت استهلكت. (اعلاء السنن: ۱۳/ ۱۹، باب اللقطة وديعة عند الملتقط يغرمها لمالكها ان تصرف فيها).

وللمزيد انظر: (الهداية: ۲/ ۶۱۵، والدر المختار: ۴/، واحسن الفتاوى: ۶/ ۳۹۰). والله ﷻ اعلم.

د لقطې د شهرت طريقه

سوال: د لقطې تعريف او شهرت څه ډول په کار دئ؟ د دې له پاره څه طريقه سته؟

الجواب: فقهاوو ليکلي دي چي په عامو غونډو، د مساجدو پر دروازو او په بازارو کي دي اعلانونه وسي، اخبارونه او اعلانونه دي وځړه وي، همدا ډول نن سبا لکه راډيو او داسي نورو نشراتو په ذريعه سره هم شهرت کېدلای سي، مطلب دا چي په هره ممکنه لاره دي د هغه شهرت وکړي که چيري مالک پيدا سو او د نښو په ښودلو سره يې د تصديق وسو چي همدغه دئ، نو هغه شی دي مالک ته تسليم کړي:

په حديث شريف کي يې وګورئ:

عن أبي بن كعب ﷺ أن رسول الله ﷺ قال في اللقطة: «عرفها، فإن جاء أحد يخبرك بعددها ووعائها ووكائها فأعطها إياه، وإلا فاستمتع بها. (أخرجه مسلم فى اللقطة، رقم ۱۷۲۳).

په فتح باب العنايه کي راځي:

(وعرفت) ما يبقى، على سبيل الوجوب، (في مكان وجدت) بأن نادى أني وجدت لقطة لا أدري مالكها، فليأت مالكها أو ليصفها لأردها عليه (و) عرف أيضاً (فى المجامع) لأن ذلك أقرب إلى الوصول إلى صاحبها. (شرح النقاية: ۴/ ۱۱۶، ط: بيروت).

په فتاوى شامی کي راځي:

قوله (أي نادى عليها الخ) أشار إلى أن المراد بالتعريف الجهر به كما في الخلاصة لا كما فعله بعضهم حيث دلى رأسه في بئر خارج المصر فنادى عليها فاتفق أن صاحبها كان هناك فسمعه كما حكاه السرخسي.... قوله وفي المجامع، أي محلات الاجتماع كالأسواق وأبواب المساجد بحر، وكبيوت القهوات في زماننا. (رد المحتار: ۴/ ۲۷۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په سیلاب کي د بهېدلی را وړل سوې شی د استعمال حکم

سوال: که چیري سیلاب یو شی راوړي، نو د هغه شی استعمال روا دئ او که نه؟ او د هغو شیانو په اړه دا هم معلوم نه وي چي دا د چا دي او له کومه ځای څخه یې را وړي دئ؟

الجواب: په دې صورت کي اوبو راوړي شیان پر څو ډولونه دي:

۱_ هغه شیان چي معمولی وي او قیمت یې ډېر کم وي، د هغو په اړه دا یقین وي چي مالک یې پوښتنه نه کوي، د داسي شیانو استعمال روا دئ، د دې د شهرت داسي خاص ضرورت نه سته.

۲_ هغه شیان چي قیمتي وي په هغه پسي مالک ډېر وخت کرځي او پوښتنه یې کوي د داسي شیانو استعمال ناروا دئ، دغه د لقطې په حکم کي دي، اعلان او شهرت کول یې ضروري دي.

۳_ هغه قیمتي شیان وي مګر د ژر خرابیدوبېره یې وي، لکه ډېره زیاته مېوه او داسي نور، نو د دې استعمال روا دئ او که چیري مالک راغلی غوښتنه یې وکړه، نو قیمت ورکول یې ضروري دي:

په مجمع الضمانات کي یې وګورئ:

حطب وجد في الماء: إن لم يكن له قيمة فهو حلال لمن أخذه ، وإن كان له قيمة يكون لقطةً وحكم اللقطة معلوم .

التفاح والكمثرى إذا كانا في نهرٍ جارٍ قالوا : يجوز أخذه ، وإن كان كثيرًا ؛ لأن هذا مما يفسد لو ترك ، ولو وجد جوزةً ثم أخرى حتى بلغ عشرًا ولها قيمة فإن وجد الكل في موضعٍ واحدٍ فهو لقطة ، لأن لها قيمة، وإن وجدها في مواضع متفرقةً اختلف المشايخ فيه، والمختار أنها لقطة، بخلاف النوى إذا وجدت، متفرقةً، ويكون لها قيمة، فإنه يجوز أخذها ؛ لأن النواة مما يرمى عادةً فتصير بمنزلة المباح، ولا كذلك الجوز، حتى لو وجد الجوز تحت الأشجار ويتركها صاحبها فإنها بمنزلة النواة . (مجمع الضمانات: ۱/ ۴۶۷، الباب السادس عشر فی مسائل اللقيط واللقطة، ط: دار السلام).

په در مختار کي راځي:

حطب وجد في الماء ، إن له قيمة فلقطة وإلا فحلال لآخذه كسائر المباحات الأصلية، درر . وفى الشامية: قوله (إن له قيمة فلقطة) وقيل: إنه كالتفاح الذي يجده في الماء، وذكر في شرح الوهبانية ضابطاً، وهو أن ما لا يسرع إليه الفساد ولا يعتاد رميه كحطب وخشب فهو لقطة إن كانت له قيمة ولو جمعه من أماكن متفرقة في الصحيح، كما لو وجد جوزة ثم أخرى وهكذا حتى بلغ ماله قيمة، بخلاف تفاح أو كمثرى في نهر جار فإنه يجوز أخذه وإن كثر لأنه مما يفسد لو ترك، وبخلاف النوى إذا وجد متفرقاً وله قيمة فيجوز أخذه لأنه مما يرمي عادة فيصير بمنزلة المباح ولا كذلك الجوز، حتى لو تركه صاحبه تحت الأشجار فهو بمنزلته.

(الدر المختار مع رد المحتار:۴/ ۲۸۴، كتاب اللقطة، سعيد، وكذا فى شرح منظومة ابن وهبان: ۱/ ۲۲۴، كتاب اللقيط واللقطة، ط: ديوبند).

د زیات تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ۱۴/ ۱۷۱، جامعه فاروقیه، وجدید معاملات کی شرعی احکام: ۲/ ۱۱۵، ودار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

په مزدوري یې یو شی د جوړولو له پاره ورکي بیا مالک نه راغلي

سوال: خالد په مزدورۍ شیان جوړه وي، راحل خپل یو شی خالد ته د جوړولو له پاره ورکړي، څو کاله تېر سوه خو هغه سړی یې تر اوسه د وړلو له پاره نه دئ راغلی، نو اوس خالد په هغه شی څه وکړي استعمالولای سي او که یې خرڅ کړي پیسې یې اخیستلای سي او که نه؟ په زیات ایښودلو کي یې د خرابیدو احتمال سته؟

الجواب: که چیري خالد د مالک له راتګ څخه نا امیده سي او په زیات ایښودلو کي یې د خرابیدو اندیښنه وي، په دې صورت کي دی هغه شی خیرات کړي او که خالد په خپله مسکین وي، هم استعمال یې کولای سي، مګر په دواړو صورتو کي که چیري مالک راغلی او غوښتنه یې وکړه، نو قیمت به یې ورکوي:

په فتاوی شامی کي یې وګورئ:

قال في شرح الوهبانية: وفي البزازية قال الإمام الحلواني: إذا كان عنده وديعة فمات المودع بلا وارث له أن يصرف الوديعة إلى نفسه في زماننا هذا، لأنه لو أعطاها لبيت المال لضاع لأنهم لا يصرفون مصارفه فإذا كان من أهله صرفه إلى نفسه وإن لم يكن من المصارف صرفه إلى المصرف . (فتاوى الشامى: ٢/ ٣٣٦، باب العشر، سعيد، وكذا في: ٤/ ١٥٩، سعيد، وكذا فى:٦/ ٧٣٤، سعيد).

په مسلم شريف کي راځي:

عن أبي بن كعب رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال فى اللقطة: « عرفها، فإن جاء أحد يخبرك بعددها ووعائها ووكائها فأعطها إياه، وإلا فاستمتع بها. (أخرجه مسلم فى اللقطة، رقم ١٧٢٣).

په هدايه کي راځي:

فإن جاء صاحبها وإلا تصدق بها إيصالا للحق إلى المستحق وهو واجب بقدر الإمكان وذلك بإيصال عينها عند الظفر بصاحبها وإيصال العوض وهو الثواب على اعتبار إجازة التصدق بها وإن شاء أمسكها رجاء الظفر بصاحبها. (الهداية: ٢/ ٦١٥، كتاب اللقطة).

بل ځای په هدايه کي راځي:

وإن كان الملتقط غنياً لم يجزله أن ينتفع بها.... ولنا أنه مال الغير فلا يباح الانتفاع به إلا برضاه لإطلاق النصوص والإباحة للفقير لما رويناه أو بالإجماع فيبقى ما وراءه على الأصلي .... وإن كان الملتقط فقيراً فلا بأس بأن ينتفع بها لما فيه من تحقيق النظر من الجانبين ولهذا جاز الدفع إلى فقير غيره. (الهداية:٢/ ٦١٧، كتاب اللقطة).

د زيات تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (احسن الفتاوى: ٦/ ٣٨٩، وجديد معاملات كى شرعى احكام: ٢/ ١١٢، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

په مدرسه کي د طالبانو د کتاب او کتابچې حکم

سوال: د کال په پای کي ډېر ملکي او غیر ملکې طالبان خپل ځانی کتابونه، کتابچې په صنفو. وطاقو او د مدرسې په نورو مختلفو ځایونو کي پرېږدي او ورڅخه ځی او هغه بیا ډېر وخت د دې پوښتنه هم نه کوي او دا خبره هم یقیني ده چي هغه هیڅکله هم د خپل کتاب او کتابچې له پاره بیانه راځي، ایا د داسي کتابو استعمال او له ځانه سره ایښودل د یو بل طالب له پاره روا ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که د یو کتاب مالک معلوم وي او پر کتاب د هغه نوم لیکلي وي، نو له هغه سره دي اړیکه ونیسي او پوښتنه دي ورڅخه وکړي چي په کتاب دي څه وکړو، ډېر وخت پر کتاب نوم لیکل سوی وي او که پر کتاب نوم نه وو او مالک یې معلوم نه وو، نو دا کتابونه د لقطې په حکم کي دي د مالک دي ښه ډېره پلټنه وکړي، که یې غالب گمان دا سو چي مالک یې نه پیدا کیږي، نو د مالک له طرف څخه دي یو غریب طالب ته ورکړي او که پیدا کوونکی په خپله صاحب نصاب نه وو او غریب وو، نو په خپله یې هم اخستلای سي:

د لقطې دلائل مخکي په تفصیل سره تېر سوه هلته یې وگورئ. والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابن عمر أن رسول الله ﷺ عامل أهل خيبر بشطر ما يخرج منها من ثمر أو زرع (متفق عليه).

عن ابن شهاب قال: فلم يكن للنبى ﷺ عمال يعملون بها على نخل خيبرو زرعها، فدعا النبى ﷺ يهود خيبر، فدفع إليهم خيبر على أن يعملوها على النصف فيؤدوها إلى النبى ﷺ، وأصحابه.... مصنف عبد الرزاق

باب المزارعة والمساقاة

قال رسول الله ﷺ: ما من مسلم يغرس غرسأ، أو يزرع زرعأ، فيآكل منه طير أو إنسان، أو بهيمة، إلا كان له به صدقة. متفق عليه

د مزارعة او مساقات د احکامو بیان

د مزارعت شرعي حکم

سوال: که چیري یو سړی خپله مځکه بل چا ته په مزارعت ورکړي چي نیمایي کښت به ستا وي او نیمایي به زما، نو دا روا دي او که نه؟ که چیري روا وي او څه موده معلومه نه کړي، نو عقد فاسدیږي او که نه؟ او له څومره مودې وروسته مزارع له مزارعت څخه لېري کولای سي؟

الجواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله اصلي مذهب دا دئ چي مزارعت ناروا دي، خو د صاحبین په آند بیا روا دي او د احنافوو په مذهب کي فتوی د صاحبین پر قول ده. له دې امله دا معامله روا او صحیح ده او مزارعت په نمیایي، دریمه او څلورمه ټوله روا ده او دغه ډول که چیري موده نه کي معلومه بیا هم له مفتی به قول سره سم روا ده مګر خو دا یوازې تر اول وار پرې کولو پورې ده:

د مزارعت د جواز دلائل وګورئ:

قال في الموسوعة الفقهية الكويتية: اختلف الفقهاء في حكم المزارعة إلى اتجاهين :

فذهب المالكية والحنابلة، وأبو يوسف ومحمد، وعليه الفتوى عند الحنفية إلى جواز عقد المزارعة ، ومشروعيتها ، وممن رأى ذلك سعيد بن المسيب ، وطاووس ، وعبد الرحمن بن الأسود ، وموسى بن طلحة ، والزهري ، وعبد الرحمن بن أبي ليلى وابنه ، وابن عباسٍ رضي الله عنهما في قولٍ.وقد روي ذلك عن معاذٍ رضي الله عنه ، والحسن ، وعبد الرحمن بن يزيد ، وسفيان الثوري ، والأوزاعي وابن المنذر وإسحاق ، وآخرين.

واستدلوا على ذلك بالسنة والإجماع والمعقول .

فمن السنة ما روي عن ابن عمر رضي الله عنهما « أن رسول الله ﷺ عامل أهل خيبر بشطر ما يخرج منها من ثمرٍ أو زرعٍ» (أخرجه البخاري ومسلم).

أما الإجماع فقد أجمع الصحابة قولاً وعملاً على مشروعية المزارعة ، ولم يخالف في ذلك أحد منهم . (المغني: ۵/ ۴۱۸).

فالـمزارعة شريعة متوارثة ، لتعامل السلف والـخلف ذلك من غير نكيرٍ . (بدائع:۶/ ۱۷۵، وتبيين الحقائق: ۵/ ۲۷۸).

وأما الـمعقول، فقالوا : إن الـمزارعة عقد شركةٍ بمالٍ من أحد الشريكين وهو الأرض، وعمل من الآخر وهو الزراعة، فيجوز بالقياس على الـمضاربة، والـجامع بينهما دفع الـحاجة في كل منهما ، فإن صاحب الـمال قد لا يهتدي إلى العمل ، والـمهتدي إليه قد لا يجد الـمال، فمست الـحاجة إلى انعقاد هذا العقد بينهما. (تبيين الحقائق: ۵/ ۲۷۸، والمبسوط:۲۳/ ۱۷، والهداية مع تكملة الفتح:۹/ ۴۶۳). (الموسوعة الفقهية الكويتية:۳۷/ ۵۰، ط: وزارة الاوقاف والشئون الاسلامية).

په شرح نقايه کي راځي:

(ولا تصح عند أبي حنيفة).... (وصحت عندهما) لـما أخرجه الـجماعة إلا النسائى عن نافع، عن ابن عمر رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ عامل أهل خيبر بشرط ما يخرج منها من ثمر أو زرع... (وبه) أى: بقولهما فى الـمزارعة (يفتى) لحاجة الناس إليها، وتعامل الناس بها، والقياس يترک التعامل كما فى الاستصناع. وقد أجازها الـخلفاء الراشدون، وعمدة من الأنصار والـمهاجرين.

... والأظهر أن صحة الـمزارعة رواية عنه والـمسائل متفرعة عليها إلا أنه اختار فسادها، وأخذ أصحابه برواية صحتها. (فتح باب العناية:۳/ ۴۳۶، ط: بيروت).

وللمزيد راجع: (بدائع الصنائع: ۶/ ۱۷۵، كتاب المزارعة، سعيد، واعلاء السنن:۱۷/ ۳۸- ۵۵ و الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۲۷۵، سعيد، والتصحيح والترجيح للشيخ قاسم بن قطلوبغا، ص ۳۱۵).

دمودې په نه معلومولو کي دمزارعت دجواز دلائل وګورئ:

قال العلامة أبو بكر الكاسانى: وأما الذي يرجع إلى مدة الـمزارعة فهو أن تكون الـمدة معلومةً ، فلا تصح الـمزارعة إلا بعد بيان الـمدة ؛ لأنـها استئجار ببعض الـخارج ، ولا تصح

الإجارة مع جهالة المدة ، وهذا هو القياس في المعاملة.... إلا أنها جازت في الاستحسان لتعامل الناس ذلك من غير بيان المدة ، وتقع على أول جزءٍ يخرج من الثمرة في أول السنة ؛ لأن وقت ابتداء المعاملة معلوم . (بدائع الصنائع:۶/ ۱۸۰، سعيد).

په شرح نقايه کي راځي:

ويتشرط في المدة: أن لا تكون أقل مما يمكن فيه الزراعة، وأن لاتكون لا يعيش إلى مثلها أحدهما غالباً، وهو المختار للفتوى، على ما في الخزانة. وعند محمد بن سلمة لايشترط بيان المدة، ويقع ما لم يبين فيه المدة على سنة واحدة، وبه أخذ الفقيه أبو الليث وفي الفتاوى المنصورية: الفتوى على ما قاله محمد بن سلمة. (فتح باب العناية: ۳/ ۴۳۶، ط: بيروت).

امکان لري چي په پخوا وخت کي به پرې کول په یوه کال کي وو له دې امله يې يو کال موده د فتوی له پاره غوره کړې ده.

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (شرح المجلة: ۴/ ۳۷۶، والدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۱۹۵و ۲۷۵، والموسوعة الفقهية الكويتية: ۳۷/ ۶۰، والفتاوى السراجية، ص ۵۳۵، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۳۶، واللباب في شرح الكتاب، وعمدة القاري: ۹/ ۲۳، كتاب المزارعة، دار الحديث، ملتان). والله ﷻ اعلم.

بېله معلومولو د مودې د ټاکلو په مزارعت ورکولو حکم

سوال: يو سړی ځمکه چا ته په مزارعت ورکړه، خو دا يې نه ورته ووېل، چي د يوه کال له پاره يا د دوو کالو له پاره، نو دا مزارعت فاسدېږي او که نه؟ که صحيح وي، نو د څومره مودې له پاره به وي؟

الجواب: په دې صورت کي په مزارعت کي د مودې معلومول شرط دي لکه نور شرطونه، مطلق د مودې نه معلومول عقد مزارعت فاسد وي، مګر که په عرف او رواج کي موده معلومه وه بيا عقد نه فاسدېږي، نو مزارعت به تر اول وار پرېکولو پوري وي:

په هدايه کي يې وګورئ:

والثالث (أى شرط الثالث) بيان المدة . (الهداية: ۴/ ۴۲۵).

په عنایه کې راځي:

وبيان المدة يريد به مدة يمكن خروج الزرع فيها. (العناية شرح الهداية: ۹/ ۴۶۴، دار الفكر).

په تبيين الحقائق کې راځي:

وأن يبين المدة لأنه عقد على منافع الأرض أو العامل وهي تعرف بالمدة ويشترط أن تكون المدة قدر ما يتمكن فيها من الزراعة. (تبيين الحقائق:۵/ ۲۷۹).

په شرح مجله کې شیخ محمد خالد الاتاسی لیکي:

وأما الذى يرجع إلى المدة فيشترط أن تكون المدة معلومة .... حتى أنه لوكان في موضع لا يتفاوت، يجوز من غير بيان المدة وتقع المزارعة على أول زرع يخرج... (شرح المجلة: ۴/ ۳۷۶).

په در مختار کې راځي:

وقيل: في بلادنا تصح بلا بيان مدة، ويقع على أول زرع واحد وعليه الفتوى مجتبى وبزازية. وفى الشامية: قوله مجتبى وبزازية، عبارة البزازية: وعن محمد جوازها بلا بيان المدة وتقع على أول زرع يخرج واحد، وبه أخذ الفقيه وعليه الفتوى. (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۲۷۵و ۱۹۵، سعيد).

وفى الفتاوى السراجية: إذا دفع أرضاً مزارعة ولم يبين وقتاً الفتوى على أنه يجوز في بلادنا في سنة واحدة أى في زرع واحد. (الفتاوى السراجية، ص ۵۳۵، ط: زمزم).

په عالمگیریه کې راځي:

.... لو كان في موضع لايتفاوت يجوز من غير بيان المدة وهو على أول زرع يخرج.

(الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۳۶، وكذا فى البدائع الصنائع: ۶/ ۱۸۰، سعيد، وشرح النقاية: ۳/ ۴۳۶).

لنډه دا چې چیرته د مودې د معلومولو رواج نه وي خلک د مودې له معلومولو پرته خپلې مځکې په مزارعت ورکوي، نو هلته د مودې په نه معلومولو سره هم روا ده او د اول کښت په پرېکولو يې عقد

پای ته رسېږي، البته كه چيري د مودې نه معلومول د جنګ او جګړې باعث وو، نو بيا د مودې تعيين ضروري دئ. والله ﷻ اعلم.

د مزارعت څو ډولونه او د هغوی احکام

سوال: ما په يو رساله كي ليدلي دي چي د مزارعت دغه لاندي صورتونه روا دي او نور يې ناروا دي؟

١ _ مځکه د يوه وي او نور شيان لكه تخم، ټكټر او عمل د بل وي دا روا دئ؟

٢ _ مځکه او تخم د يوه وي ټكټر او عمل د بل وي يا مځكه او ټكټر د يوه وي تخم او عمل د بل وي دا هم روا ده.

خو نن سبا پر مځكو ډېر زيات مصرفونه راځي له دې امله رواج او عادت دا دئ چي مځكه به د مالک وي او عمل به د كاښت كار وي او نور شيان لكه ټكټر، تخم او داسي نورو كي به دواړه ګډ وي، نو ايا د شريعت له نظره دا روا ده او كه نه؟ فقهاء كرام رحمه الله مزارعت لكه مضاربت داسي بولي او په مضاربت كي راس المال ((پيسې)) د يوه او عمل د بل وي، نو كه چيري په مزارعت كي مځكه د يوه او عمل د بل وي او په پاته مصارفو كي دواړه سره ګډ سي دا روا ده او كه نه؟

الجواب: په عامو حالاتو كي احنافو د مزارعت يوازې څلور صورتونه روا بللي دي، خو علامه شامي رحمه الله او داسي نورو علماء كرامو څو نور صورتونه هم ليكلي دي چي دا هم روا دي، علامه شامي رحمه الله دا هم ويلي دي چي په دې كي داسي قاعده كليه نه سته چي په هغې كي دي ټول روا صورتونه راسي.

لنډه دا چي د مزارعت اصل بنياد پر تعامل او رواج باندي دئ، امام ابو يوسف رحمه الله د تعامل له امله ځينو داسي شرطونه روا بللي دي چي په ظاهر الرواية سره عقد فاسده وي، د دې تعامل او رواج له امله په سوال كي د ذكر سوې صورت هم اجازه سته او علامه فتح محمد لكهنوى رحمه الله ښكاره دا ويلي دي:

دلائل يې لاندي ذكر كيږي:

وأما الشرائط المفسدة للمزارعة فأنواع .... ومنها شرط الحصاد والرفع إلى البيدر والدياس والتذرية .... وروي عن أبي يوسف أنه أجاز شرط الحصاد ورفع البيدر والدياس

والتذرية على المزارع لتعامل الناس ، وبعض مشايخنا بما وراء النهر يفتون به أيضًا ، وهو اختيار نصير بن يحيى ومحمد بن سلمة من مشايخ خراسان. (بدائع الصنائع: ۶/ ۱۸۰، فصل فى الشرائط المفسدة للمزارعة، سعيد).

وللمزيد راجع: (حاشية ابن عابدين: ۶/ ۲۸۲، سعيد، والموسوعة الفقهية الكويتية: ۳۷/ ۶۳، وزارة الاوقاف، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۳۷، والمبسوط للإمام السرخسى: ۲۳/ ۳۶، وتبيين الحقائق: ۵/ ۲۸۳، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۶۳، وشرح المجلة: ۴/ ۳۷۷).

په شرح نقايه كي ملا علي القاري رحمه الله وايي:

ونفقة الزرع عليهما بالحصص، كاجر الحصاد ونحوه، فإن شرط على العامل، صح عند أبي يوسف، وبه يفتى. وهذا اختيار مشايخ بلخ. قال شمس الأئمة: وهو الأصح فى ديارنا، يعني لتعامل الناس بها، كذا فى الهداية. وفسد في ظاهر الرواية..... وعن نصير بن يحيى، ومحمد بن سلمة أن هذا كله يكون على العامل، شرط عليه أم لا، بحكم العرف قال شمس الأئمة السرخسى: هذا هو الصحيح في ديارنا، كذا في فتاوى قاضيخان، والله أعلم. (فتح باب العناية: ۳/ ۴۳۹، كتاب المزارعت، ط: بيروت). (وكذا فى التصحيح والترجيح، ص: ۳۱۷).

د مذكوره عبارت خلاصه دا ده چي د عامل له پاره څه ضروري دي او څه نه دي ضروري او د دې اصل بنياد د خلكو تعامل او رواج دئ او شمس الائمه سرخسي رحمه الله دغه قول صحيح بللى دئ.

د مولانا فتح محمد لكنهوى رحمه الله، مولانا عبد الحى لكهنوى رحمه الله شاگرد كوم چي ډېر محقق او مدقق مفتى دئ له خبري څخه هم جواز معلوميږي.

په عطر هدايه كي ليكي:

دوهم ((بزگري)) دغه ته مزارعت هم وايي، يعنى كوم حاصلات چي لاس ته راسي له هغو څخه يو څه د زميندار او يو څه د كاښت كاره وي، رسول الله ﷺ له خيبر والا وو سره دغه عقد كړى وو په دې كي مځكه ځاى دي، غوايي، خرڅ او دا نور آلات، تخم او نور چي په اوبو وركولو او نورو شيانو كي خرڅيږي مصارف او نور انتظام او برابرول يې عمل دئ او كوم كار يې په خپل لاس سره

وکړي او یا یې یوازې دی په بل چا کي وکړي هغه هم په عمل کي شمېرل کیږي، نو ضروري دي چې د ځای مقابله په عمل سره وکړي، یعنی که د یوه له خوا مځکه وو د بل له خوا دي عمل وي او په نورو مصارفو کي دي له شرطه سره سم دواړه ګډ وي یا دي په یوه پوري خاص وي. والله ﷻ اعلم.

د چا په مځکه کي د کښت کولو حکم

سوال: که یو سړی د بل چا په مځکه کي د هغه له اجازې پرته یا په زور او ظلم کښت وکړي، دا کښت د چا کیږي او کاښت کار ته څه ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: ١ _ که چیري هغه مځکه د مزارعت له پاره وه او د مزارع برخه په رواج کي معلومه وه، نو دا مزارعت دئ.

٢ _ که چیري د هغه برخه معلومه نه وي مختلفي وي، نو د غصب په حکم کي شمېرل کیږي، نو که چیري په مځکه کي کوم نقصان راغلی وي، تاوان پر واجبیږي او که کوم نقصان راغلی نه وي، نو د غاصب غاړي خلاصیږي، نو مالک د استعمال سوي مودې اجرت غوښتلای سي.

٣ _ کوم تخم او غله چي کاښت کار په مځکه کي اچولی وي او زیات یې لاسته راوړه، نو چي څومره هغه اچولي دئ د هغه په اندازه د استعمالولو اجازه سته او د پاته خیراتول واجب دي.

په ردالمحتار کي راځي:

قال في رد المحتار: قال في الذخيرة . قالوا: إن كانت الأرض معدة للزراعة، بأن كانت الأرض في قرية اعتاد أهلها زراعة أرض الغير، وكان صاحبها ممن لا يزرع بنفسه، ويدفع أرضه مزارعة فذلك عن المزارعة، ولصاحب الأرض أن يطالب المزارع بحصة الدهقان على ما هو متعارف أهل القرية النصف أو الربع أو ما أشبه ذلك. (رد المحتار: ٦/ ١٩٥، سعيد).

په عالمګیری کي راځي:

قال مولانا : رضي الله عنه وعندي إن كانت الأرض معدةً لدفعها مزارعةً ونصيب العامل من الخارج معلوم عند أهل ذلك الموضع ولا يختلف فزرعها رجل جاز استحسانًا وإن لم تكن الأرض معدةً لدفعها مزارعةً أو لم يكن نصيب العامل من الخارج واحدًا عند أهل ذلك

الموضع بل كان مختلفًا فيما بينهم لا يجوز ، ويكون المزارع غاصبًا ، وإنما ينظر إلى العادة إذا لم يعلم أنه زرعها غصبًا ، فإن علم أنه زرعها غصبًا بأن أقر الزارع عند الزرع أنه يزرعها لنفسه لا على المزارعة أو كان الرجل ممن لا يأخذ الأرض مزارعةً ويأنف من ذلك يكون غاصبًا ويكون الخارج له وعليه نقصان الأرض. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٢٧٢).

(وكذا فى فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ٣/ ١٨٧).

وفى الخانية: رجل زرع أرض الغير لنفسه كان الزرع له، وعليه لصاحب الأرض نقصان الأرض إن انتقصت بزارعته وطريق معرفة النقصان عند البعض أن ينظر إلى قيمة الأرض قبل الزرع وإلى قيمتها بعد الزرع فيضمن الفضل وعند البعض ينظر بكم تستأجر الأرض قبل الزرع وبكم تستأجر بعد الزرع فيضمن الفضل، (فتاوى قاضى خان: ٣/ ١٨٧).

وفيه أيضاً: وعلى المزارع أن يرفع من الخارج مقدار أجر عمله وثيرانه وبذره ويتصدق بالباقي كما فى الغصب . (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ٣/ ١٨٧). والله ﷻ اعلم.

د مساقات شرعي حکم

سوال: زيد عمر د خپل باغ د پاللو او اوبه کولو له پاره د مياشتې په درې زره روپۍ مزدور ودراوي، خو هغه د باغ په پالنه کې بې پروايې کول او باغ چې څومره مېوه ورکول هغومره يې نه وکړه، له دې امله چې له هغه سره يوازې د خپلي تنخوا غم وو، نو اوس زيد دا پوښتنه کوي چې له مزدور درولو پرته يو داسي لاره سته چې په هغه کې دي د مزدور هم ګټه وي او زما هم ګټه وي؟

الجواب: په دې صورت کې د تاوان د پوره کولو له پاره په شريعت کې مساقات دي، مساقات دې ته وايي، چې خپلي درختي يا خپل باغ يو چا ته د دې له پاره ورکړي چې هغه يې اوبه کوي او پالي يې تر څو چې هغه ښه زياته مېوه ورکړي او دا شرط کښېږدي چې له لاس ته راغلې مېوي به يوه معلومه برخه په اجرت کې ورکوي له مفتى به قول سره سم شرعاً دغه معامله روا او صحيح ده.

نبي كريم ﷺ له اهل خيبر سره همدغه معامله كړې ده له دې امله په دې مذكوره صورت كې مزدور ته ووايي، چې د باغ خدمت كوه اوبه كوه يې، نو تا ته به له ټولو حاصلاتو دومره برخه دركړم په دغه ترتيب سره به له دواړو طرفو څخه تاوان ختم سي:

أخرج البخاري ومسلم عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنه قال: عامل النبي ﷺ أهل خيبر بشطر ما يخرج منها من ثمرٍ ، أو زرعٍ. (اخرجه البخارى، رقم ٢٣٢٩، ومسلم، رقم: ١٥٥١).

په بدائع الصنائع كې راځي:

قال أبو حنيفة: إنها غير مشروعةٍ وقال أبو يوسف ومحمد – رحمهما الله – والشافعي – رحمه الله – : مشروعة ، واحتجوا بحديث خيبر أنه عليه الصلاة والسلام دفع نخيلهم معاملةً. (بدائع الصنائع: ٦/ ١٨٥، كتاب المعاملة، سعيد).

په هدايه كې راځي:

وقالا: جائزة إذا ذكر مدة معلومة وسمى جزء من الثمرة مشاعاً والمساقاة هي المعاملة فى الأشجار والكلام فيها كا لكلام فى المزارعة. (الهداية: ٤/ ٤٣١، كتاب المساقاة).

په الموسوعه كې راځي:

اختلف الفقهاء في حكم المساقاة على أقوالٍ : القول الأول : أنها جائزة شرعًا ، هو قول المالكية، والحنابلة، والشافعية، ومحمدٍ وأبي يوسف من الحنفية ، وعليه الفتوى عندهم . واستدلوا بحديث ابن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أعطى خيبر اليهود أن يعملوها ويزرعوها ولهم شطر ما يخرج منها. وبالقياس على المضاربة من حيث الشركة في النماء فقط دون الأصل. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ٣٧/ ١١٣، وزارة الاوقاف)

د مساقات شرطونه:

١ _ عمل به يوازې د عامل پر ذمه وي د باغ مالك په هغه كې نه وي ورسره ګډ دغه د مساقات تقاضاء هم ده.

۲_ باغ دي په پوره توګه عامل ته تسليم کړي تر څو چي هغه يې په يوازې سر پوره پالنه وکړي.

۳_ د حاصلاتو دي يوه برخه اجرت مقرره کړي لکه نيمايي، دريمه يا څلورم وغيره.

۴_ داسي موده دې ورته متعين کړي چي په هغه کي يو ځلي په اسانتيا کښت رسېږي او پرې کيږي که داسي موده ورته معلومه کړي چي په هغه کي يو ځلي کښت نه رسېږي، نو په دې سره عقد مساقات فاسديږي او که چيري بالکل موده معلومه نه کړي، نو هم عقد صحيح دئ او تر اول رسد پوري وخت ورکول کيږي لکه څنګه چي د دې تفصيل په باب المزارعة کي تېر سو:

په الموسوعه کي راځي:

قال الحنفية : المساقاة كالمزارعة في الخلاف والحكم وفي الشروط إلا المدة ، والقياس أن تذكر المدة لما فيها من معنى الإجارة ، وفي الاستحسان : يجوز وإن لم يبينها ، وتقع على أول ثمرةٍ تخرج ، لأنَّ وقت إدراك الثمرة معلوم والتفاوت فيه قليل ويدخل فيه المتيقن .

(الموسوعة الفقهة الكويتية: ۳۷/ ۱۲۶، وزارة الاوقاف).

د نورو تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (البحر الرائق: ۸/ ۱۶۴، ط: الماجدية، وتكملة فتح القدير: ۹/ ۴۷۸، دار الفكر، والموسوعة الفقهية الكويتية: ۳۷/ ۱۱۳- ۱۴۰، واحسن الفتاوى: ۷/ ۳۸۰، وجديد معاملات كي شرعى احكام: ۲/ ۲۴۴). والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى: أحلت لكم بهيمة الأنعام

وقال الله تعالى: قل أحل لكم الطيبات وما علمتم من الجوارح مكلبين تعلمونهن مما علمكم الله فكلوا مما أمسكن عليكم واذكروا اسم الله عليه واتقوا الله. (سورة المائدة)

كتاب الصيد والذبائح

قال رسول الله ﷺ: إن الله تعالى كتب الإحسان على كل شيءٍ فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح، وليحد أحدكم شفرته وليرح ذبيحته ». (رواه مسلم).

عن عدى بن حاتم قال قال لى رسول الله ﷺ: « إذا أرسلت كلبك وذكرت اسم الله فإن أمسک علیک فادرکته حياً فاذبحه وإن أدركته قد قتل ولم يأكل منه فكله وإن أكل فلا تآكل فإنما أمسک على نفسه فإن وجدت مع کلبک کلبا غيره وقد قتل فلا تآكل فانک لاتدري أيهما قتل وإذا رميت بسهمک فاذكر اسم الله فإن غاب عنك يوماً فلم تجد فيه إلا أثر سهمک فكل إن شئت وإن وجدته غريقا فی الماء فلا تأكل. (متفق عليه).

اول باب

د ذبح کولو د احکامو بیان

د حیوان تر حلالولو مخکي بې هوښ کولو حکم

سوال: یو سړی یوه غوا په مرمي وویشتله د دې مرمي امله غوا په درې څلور دقیقو کي مړه کېدل، خو دستي یې ذبحه کړه له ذبحه کولو یې تولہ وینه وبهېدله، نو ایا دغه ذبحه شرعاً معتبره ده او که نه؟

الجواب: غوا یا یو بل حیوان چي په کومه مرمي ویشتل کیږي دوه قسمونه یې دي:

۱_ هغه مرمي چي حیوان بې سده کړي او د ذبح په وخت کي یې تکلیف ورکمه وي او له څه مودې وروسته دغه حیوان بېرته جوړیږي، هوښ او شعور یې صحیح کیږي د تګ قابل ګرځي په دې قسم مرمي ویشتلو کي څه باکه نه سته بلکي نن سبا د محقیقینو په آند دا حیوان ته د تکلیف ورکمولو سره برابر دي او په دې کي د ذبح کار هم ژر سر ته رسیږي په دې اړه یو محقق ډاکټر علي مصطفی یعقوب په خپل کتاب کي لیکي:

الصعق: ـ مما يتعلق بعملية الذكاة ما يسمى بالصعق أو stunninq وهو عبارة عن عملية فقدان الوعي والشعور من الحيوان المذبوح. والصعق على نوعين: الصعق بالتيار الكهربائى، والصعق بالضرب على رأس المذبوح.... أما الصعق الضربي فيعمل به إما قبل الذبح، وإما بعد الذبح. وكان الغرض من الصعق أمران:

(١) إزالة الوعي والشعور من الحيوان الذى سيذبح، حتى إذا ذبح لا يشعر بأى ألم.

(٢) إسراع أعمال الانتاج، حيث لايحتاج إلى وقت طويل فى الانتاج، إذا لا يستعمل الذابح الصعق، يكون الانتاج قليلاً جداً..... وإذا ثبت ذلک، فالصعق الذى لم يصل إلى درجة القتل، من باب الإحسان للحيوان المذبوح لأنه لا يشعر بأي ألم عند الذبح، والله

أعلم. (معايير الحلال والحرام فى الاطعمة والاشربة والادوية والمستحضرات التحميلة على ضوء الكتاب والسنة للدكتور على مصطفى يعقوب، ص ٣١٨).

٢_ او دوهم قسم هغه مرمي ده چي په ويشتلو په درې څلورو دقيقو کي حيوان مري او دا له دوه واره قتل کولو سره برابر دي له دې امله چي دا مکروه دئ مګر فقهاء کرام پر دې متفق دي چي د ذبح په وخت کي حيوان ژوندی وي او په شرعي طريقه سره يې ذبح وسي، نو دا مذبوح حيوان حلال دئ، خو په دې کي حيوان ته عذاب دي او رسول الله ﷺ ويلي دي چي له حيوان سره د ذبح په وخت کي نرمي او ښه چلند کوي.

لکه په مسلم شريف کي چي راځي:

عن شداد بن أوسٍ رضي الله عنه قال ثنتان حفظتهما عن رسول الله ﷺ قال « إن الله كتب الإحسان على كل شيءٍ فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدكم شفرته فليرح ذبيحته ». (رواه مسلم: ٢/ ١٥٢، باب الامر باحسان الذبح والقتل).

حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه وايي، ما دوې خبري له رسول الله ﷺ څخه يادي کړي دي، رسول الله ﷺ وويل: چي بېله شک الله عزوجل پر هر شی احسان لازم کړی دئ، نو هر کله چي تاسو يو کافر وژنی په ښه طريقه سره يې ووژني او چي هر کله تاسو يو حيوان ذبح کوي، نو په ښه طريقه سره يې ذبح کړي، خپله چاړه ښه تېزه کړي او خپل حيوان ته راحت ورسوي.

قال الإمام النووى: وقوله صلى الله عليه وسلم: فأحسنوا القتلة عام في كل قتيل من الذبائح، والقتل قصاصًا، وفي حد ونحو ذلك . وهذا الحديث من الأحاديث الجامعة لقواعد الإسلام . والله أعلم . (شرح مسلم: ٢/ ١٥٢).

په مرقات کي راځي:

وقد قال علماؤنا وكره السلخ قبل أن تبرد وكل تعذيب بلا فائدة لهذا الحديث ولما أخرج الحاكم فى المستدرک وقال صحيح على شرط الشيخين عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رجلاً

أضجع شاة يريد أن يذبحها وهو يحد شفرته فقال له النبي ﷺ: أتريد أن تميتها موتتين هلا حددت شفرتک قبل أن تضجعها. (مرقاة المفاتيح: ٨/ ١١٥، امداديه، ملتان).

دهدايې مصنف رحمه الله وايي:

وهذا لأن في جميع ذلك وفي قطع الرأس زيادة تعذيب الحيوان بلا فائدة وهو منهي عنه والحاصل أن ما فيه زيادة إيلام لا يحتاج إليه في الذكاة مكروه.... إلا أن الكراهة لمعنى زائد وهو زيادة الألم قبل الذبح أو بعده فلا يوجب التحريم. (الهداية: ٤/ ٤٣٩، كتاب الذبائح).

او كه حيوان تر ذبح كولو مخكي مړ سو، نو هغه مردار بلل كيږي.

ويې وګورئ:

وإذا وصل الصعق إلى درجة قتل الحيوان، فلاشک أن المذبوح على هذه الحالة لايؤكل، لأن القتل لم يكن عل يالشريعة الإسلامية. (معايير الحلال والحرام، ص ٣١٨).

دمجمع الفقه الاسلامي فتوى وګورئ:

وبعد مناقشة الموضوع، وتداول الرأي فيه قرر المجمع ما يلي:

أولاً: إذا صعق الحيوان المأكول بالتيار الكهربائي ثم بعد ذلک تم ذبحه أو نحوه وفيه حيدة فقد ذكى ذكاه شرعية، وحل أكله العموم قوله تعالى: (حرمت عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل لغير الله به والمنخنقة والموقوذة والمتردية والنطيحة وما أكل السبع إلا ما ذكيتم). (المائدة: ٣).

ثانياً: إذا زهقت روح المصاب بالصعق بالكهربائى قبل ذبحه أو نحره فإنه ميتة يحرم أكله، لعموم قوله تعالى: (حرمت عليكم الميتة).

ثالثاً: صعق الحيوان بالتيار الكهربائى ـ عالى الضغط ـ هو تعذيب للحيوان قبل ذبحه أو نحره، والإسلام ينهى عن هذا ويأمر بالرحمة والرأفة به، فقد صح عن النبى ﷺ أنه قال: «إن الله كتب الإحسان على كل شي.... الحديث.

رابعاً: إذا كان التيار الكهربائى منخفض الضغط وخفيف المس بحيث لا يعذب الحيوان، وكان في ذلك مصلحة، كتخفيف ألم الذبح عنه وتهدئة عنفه ومقاومته فلا بأس بذلک شرعاً ومراعاة للمصلحة، والله أعلم.

په احكام الذبائح كي مفتى تقى عثمانى صاحب ليكي:

أما التدويخ، فيقع بطرق مختلفة، ولعل من أكثرها استعمالاً، هو التدويخ بالمسدس وهذا المسدس غير مسدس الرصاص، وإنما تخرج منه عند إطلاقه إبرة، أو قضيب معدنى ويضعون المسدس فى وسط جبهة الحيوان فيطلقونه، فتخرج هذه الإبرة أو القضيب وتثقب دماغ الحيوان، فيفقد الحيوان الوعى فوراً، وبعد ذلک يذبح.... والطريق الرابع للتدويخ استعمال الصدمة الكهربائية. وتوضح فيها آلة كالملقط على صدغي الحيوان، ويرسل من خلاله تيار كهربائى ينفذ إلى الدماغ، فيفقد الحيوان الوعى بسبب هذه الصدمة الكهربائية.

والحكم الشرعي لهذا التدويخ يحتاج إلى البحث من ناحيتين: الأولى: هل استخدام هذا الطريق جائز شرعاً، والثانية: هل تكون الذبيحة حلالاً إن ذبحها مسلم أو كتابي بالطريق المشروع بعد هذا التدويخ؟

أما كون هذه الطرق جائزه شرعاً، فيتوقف الحكم فيه على أن هذا الطريق يخفف من أم الذبح على الحيوان أم لا، .... أما التدويخ، ففي بعض الحالات يضر بالحيوان ويؤلمه أكثر مما يؤلمه الذبح، ... لأن إطلان المسدس على الجبهة إنما يحصل به وقذ عنيف،

والصدمة الكهربائية لا تخلوا من ألم.... فإذا تحقق ذلک قطعاً وأنه لايموت به الحيوان جاز استعمالها، وإلا فلا.

.... ولاشک أن هذه الطرق للتدويخ لو كانت مسببة للموت، أو يخشى منها الموت فلا يجوز استعمالها، ولا القول بحلة الحيوان المذبوح بعد التدويخ، وما د امت هذه الطرق مشكوكة، فالأسلم أن يبتعدوا عنها، ومن المعروف أن اليهود لايقبلون أي طريق للتدويخ، والمسلمون أولى منهم بالابتعاد على الشبهات، والله سبحانه وتعالى أعلم. (احكام الذبائح:ص ٥٥- ٥٧ الذبح الصناعی للانعام، ط: مکتبة جامعة دار العلوم کراتشی).

خلاصه یې دا سوه چې په حیوان کې که چیرې د ذبح په وخت کې څه ژوند وو، نو حلال دئ که نه وو، نو حرام دئ مگر له ژوند څخه څه مراد دي په دې اړه د امام صاحب رحمه الله او صاحبینو په منځ کې څه اختلاف دئ هغه دا دئ، چې د امام صاحب رحمه الله په آند مطلق ژوند معتبر دئ.

او صاحبین رحمه الله وایي، چې د مطلق ژوند اعتبار نه سته بلکې حیات مستقره یعنی نمیایې ورځ یا تر نمیایې ورځې زیات یې ژوندی پاته کېدل ضروري دي او فتوی د امام صاحب رحمه الله پر قول ده:

په بدائع الصنائع کې یې وګورئ:

ومنها قيام أصل الحياة في المستأمن وقت الذبح قلت أو كثرت في قول أبي حنيفة رحمه الله وعند أبي يوسف ومحمدٍ رحمهما الله لا يكتفى بقيام أصل الحياة بل تعتبر حياةً مقدورةً .... ولأبي حنيفة رضي الله عنه قوله تعالى ﴿حرمت عليكم .... إلا ما ذكيتم﴾ استثنى سبحانه وتعالى المذكي من جملةالمحرم والاستثناء من التحريم إباحة وهذه مذكاة الوجود فري الأ وداج مع قيام الحياة فدخلت تحت النص. (بدائع الصنائع: ٥/ ٥٠، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

المتردية والمنخنقة والموقوذة والشاة المريضة والنطيحة ومشقوقة البطن إذا ذبحت ينظر إن كان فيها حياة مستقرة حلت بالذبح بالإجماع ، وإن لم تكن الحياة فيها مستقرةً

تحل بالذبح سواء عاش أو لا يعيش عند أبي حنيفة - رحمه الله تعالى - وهو الصحيح وعليه الفتوى، كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۶، شرائط الذبح).

په فتاوی النوازل کي راځي:

شاة مريضة بقي فيها من الحياة مقدارما بقي فى المذبوح بعد الذبح إذا ذبحها تحل عند أبي حنيفة. (فتاوى النوازل، ص ۲۳۵، آرام باغ کراچي).

په لسان الحکام کي راځي:

وذكر الإمام السرخسي: إذا علم أنها كانت حية حين ذبحت حل أكلها سواء كانت الحياة فيها يتوهم بقاؤها أو لايتوهم بقاؤها. (لسان الحكام، ص ۳۸۳، كتاب الذبائح، دار الفكر).

په فتاوی الولو الجيه کي راځي:

الشاة إذا مرضت، وبقي فيها من الحياة مقدار ما يبقى فى المذبوح بعد الذبح والثانى: إذا قطع الذئب بطن الشاة وبقي فيها من الحياة مقدار ما ذكرنا، ... واختلف المشايخ على قول أبي حنيفة: قال بعضهم: تقبل الذكاة وعليه الفتوى. (الفتاوى الولو الجية: ۳/ ۶۸، الفصل الثانى فى الذكاة الاختيارى، ط: بيروت).

دزیات تفصیل له پاره (جدید فقهی مسائل) وګورئ:

لنډه دا چي که په حیوان کي ژوند یقیني معلوم وو، او بیا یې دغه حیوان په شرعي طریقه سره ذبح کړ، نو دغه حیوان حلال دئ که نه وي، نو حرام دئ. والله ﷻ اعلم.

د چرګانو د ذبح د ماشین حکم

سوال: د چرګانو د حلالولو د ماشین په اړه ستاسو څه نظر دئ، د دې خوړل حلال دي او که نه؟ که چیري تاسو دغه مذبح ته ورغلی یاست او د هغوی تګ لاره مو لیدلې وي، نو دغه مسئله ښه په تفصیل سره راته بیان کړي، ځکه چي په دې باندي نن سبا ډېر خلک اخته دي؟

الجواب: زه له خپلو ملګرو سره په (۲۰۰۸) کي د دسمبر د میاشتې پر پنځم تاریخ د جمعه په ورځ هلته ورغلم او د ورتګ موخه مو هم د هغوی دا کار لیدل وو چي له شریعت سره برابر دي او که نه؟

موږ د دغه مذبح هغه ځای ته ورغلو په کوم کي چي چرګان له وسپنو سره را ځړول کېدو او بیا به رواڼ وو رواڼ وو تر څو ي ذبح کونکو به ذبح کول، موږ ته دا وویل سول او په خپله مو هم ولیدل چي په دې کي ډېر احتیاط کیږي چي تر حلالولو مخکي چرګه مړه نه سي، چرګانو را ځړونکی تر هر څه مخکي د هغه دژوند په اړه یقین کوي بیا یې ذبح کونکی ګوري، بیا له ذبح کولو وروسته څه لږي یو سړی ولاړ وي او دکومي چرګي چي رنګ بدل وي هغه جلا کوي، که څه هم د ذبح په وخت کي یې وینه تویه سوی وي.

په مذبح کي څلور حلالونکی وو او هر سړی به څلورمه چرګه حلالوله چي په دې کي په آساني سره بسم الله ویلای سي د ذبح کونکی له بسم الله سره موږ هم بسم الله ویله او په ښه کراره سره مو ویلای سوه، هو د ماشینانو له اواز څخه بسم الله اورېدل کېده نه، خو ذبح کونکی مسلمان وو، پر هغه د ښه ګمان کولو تقاضاء دا ده چي بسم الله یې ویله.

په حدیث شریف کي راځي:

عن عائشة ﵂، أن قومًا قالوا: يا رسول الله ﷺ إن قومًا يأتونا باللحم لا ندري أذكر اسم الله عليه أم لا ؟ فقال: «سموا عليه أنتم وكلوه، قالت : وكانوا حديثي عهدٍ بالكفر». (رواه البخاري: ۲/ ۸۲۹).

حضرت عائشه ﵂ وايي، چي د يو قوم خلکو وويل، يا رسول الله! څه خلک نوي مسلمان سوي موږ ته غوښي راوړي، موږ په خبرو نه یو چي دوی د ذبح په وخت کي بسم الله ويلي ده او که نه؟ نو رسول الله ﷺ وويل، تاسو بسم الله پر وواياست وخوري يې.

له دې حديث څخه معلومه سوه چي که ذبح کونکی مسلمان وو او د بسم الله ويلو اقرار يې کاوي، نو د هغه ذبيحه خوړل حلال دي او پر هغه دي بد ګمانۍ نه کوي، چي بسم الله يې نه ده ويلي او دا هم راته معلومه سوه چي هر ذبح کونکی ته له څلوېښتو د قيقو وروسته شل دقيقې يا له يوه ساعته وروسته نيم ساعت تفريح ورکول کيږي چي په دې کي هغه يو څه استراحت وکړي او يو مسلمان نګران د کمپنۍ له طرفه او بل د سنها کميټې له طرفه مقرر وي هغوی دواړه د دې ذبح نګراني کوي له دې امله زما په نظر زما له ليدو سره سم دغه حلال سوي چرګان حلال دي او هر مسلمان يې خوړلای

سي. هو که چیري له هغه شخصه وروسته څه تغیر او بدلون پکښې راغلی وي یا احتیاط نه پکښې کیږي. نو موږ د هغه ذمه داران نه یو، موږ دا له خپلو کتو سره سم ولیکل.

سوالونه او د هغو جوابونه:

د ځینو علماء کرامو له خوا شخصه پر دغه ذبیحه څه سوالونه کیږي، د هغو ذکر کول او د سوالونو رفع کول هم ضروري معلومیږي، نو دغه سوالونه او جوابونه یې لاندي وګورئ:

۱_ **اول سوال دا دئ:** چې دغه چرګان تر ذبح کولو مخکې سرچپه په یوه اسپنه را ځړول کیږي چې په دې سره چرګان په تکلیف او عذاب کي لوېږي.

الجواب: د دې جواب دا دئ چې زما په خیال سره د مرغانو او چرګانو سرونه لاندي او پښې لوړې کول د هغو له پاره تکلیف او عذاب نه جوړیږي.

موږ شپه او ورځ وینو چې په صحراوو کي چرګان او مرغان پر دېوالو خیژي د هغوی سرونه لوړ او پښې یې لاندي وي او له بام یا دېوال څخه په تاکېدلو کي یې سرونه لاندي او پښې یې لوړې وي، نو له دې څخه معلومیږي چې په دې اړه چرګان د انسانانو په ډول نه دي، د انسان سر لاندي او پښې لوړې د هغه له پاره ډېر سخت مشقت او عذاب دئ او په صحراوو کي دا خبره هم مشاهده ده چې کله صحرایان خلک بازار ته راسي چرګان رانیسي نو تر پښو یې نیولي وي، سرونه یې ښکته وي په دې کي د چرګانو له پاره څه خاص تکلیف نه وي ځکه چې هغه په دې کي ډېر زوروونه نه وهي، پر دې سربېره په حلال ځایونو کي د چرګانو سر چپه را ځړول د دې مصلحت له پاره وي چې مشوکه یې لاندي په اوبو کي وي، نو پر دوی بې سدې او کم شعوري راځي، لنډه دا چې دغه ډول را ځړول یې دیو مصلحت له مخي دي.

۲_ **دوهم سوال:** ځینی علماء وایي، د مشوکي په ډوبیدو سره کرنټ ورکوي او دا عذاب او تکلیف له شریعت څخه مخالف دئ، شریعت د احسان او ښه کولو امر ورکوي؟

په حدیث شریف کي راځي:

عن شداد بن أوسٍ ﷺ قال: ثنتان حفظتهما عن رسول الله ﷺ قال « إن الله كتب الإحسان على كل شيءٍ فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة، وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح، وليحد أحدكم شفرته فليرح ذبيحته ». (رواه مسلم: ۲/ ۱۵۲، باب الامرباحسان الذبح والقتل).

حضرت شداد ابن اوس رضی الله عنه وايي، چې ما دوی خبري له رسول الله ﷺ څخه يادي کړي دي رسول الله ﷺ وويل، بېله شک الله عزوجل پر هر شی احسان لازم کړی دئ، نو هر کله چې تاسو يو کافر وژنی په ښه طريقه سره يې ووژنئ او هر کله چې تاسو يو حيوان ذبح کړئ، په ښه طريقه سره يې ذبحه کړئ، خپله چاړه ښه تېره کړئ او خپل حيوان ته راحت ورسوئ.

له دې حديث شريف څخه معلومېږي چې له ذبيحې سره بايد نرمي وسي او کرنټ ورکول له دې څخه مخالف دئ؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چې په هره زمانه کي د راحت رسولو اسباب بدلېږي، لکه په نن زمانه کي چې يو چا ته اپرېش ورکول کيږي، نو د نشې ستن ورلګول کيږي له دې څخه د مريض حواس ختمېږي او بې سده سي او د اپرېش کولو په وخت کي کوم تکليف نه ورته رسېږي که د يو چا د زامي غاښ را ايستل کيږي او ستن نه ور ولګوي، نو هغه ته به څومره تکليف وي بلکي ډاکټر يې غاښ نه سي را ايستلای ځکه چې مريض به حرکت کوي او ځان به نه ټينګه وي او د ستني په لګولو سره د هغه ژرامو وری بيدي سي، نو په ډېره اساني سره يې د غاښو کښل روان وي او دا د مريض له پاره يو لوی نعمت او استراحت دئ.

همدغسي د چرګان له پاره دا کار لکه ستن داسي ده چې له دې سره چرګ بې سده سي او حلالول يې آسان سي لکه څنګه چې د ستني تکليف تر هغه تکليف لږ او اسان دئ کوم تکليف چې په اپرېش کي له ستني پرته وي دغه سي د اوبو د کرنټ تکليف دئ او بل دا چې په دغه اوبو کي په عام ډول له شپاړسو (۱۶) څخه بيا تر دېرش (۳۰) وولټه پوري د برق کرنټ وي او کومو اکابرو چې د دې خلاف فتوی ورکړي ده معلومه نه ده چې د هغوی په زمانه کي د دې څنګه ترتيب وو او د ځينو اکابرو زمانه د سائنس د ترقي د شروع زمانه وو او دا هم نه ده معلومه چې دوی دا کار ليدلی وو که نه؟ که چيري دغه ترتيب اکابرو ليدلی وای، نو غالباً به يې د دې کار تائيد کړي وو، په هر حال په دې کي ظاهري داسي خرابي نه سته، موږ ډېر د غواپانو حلال ځايونه ليدلي دي چې پر تندی يې د بې سدې په مرمي ولي او وروسته يې په کراره حلاله وي. خو په صحرا وو کي يې په ډېرو خلکو رانيسي په پښو کي يې رسياني وراچوي کله د بېري له امله داسي تيزه ځغلي چې ډېر خلک زخميان کړي د بېرې له امله ورته د اسهال مريضي پيښېږي د دې کار له کړو څخه د مرمي لګېدل اسانه معلومېږي که د مرمي

له لګېدو یوازې بې سد کېده د مرګ یا سخت درد اندیښنه یې نه وو، هو هر ځای ماشیني الات نوي موجود، نو د هغو له پاره پخوانی طریقه صحیح ده.

۳_ دریم سوال: دا خوښه راته معلومه سوه چي له کرنټ سوو اوبو سره مشوکي د مرګ احتمال سته له دې امله دا چرګان مشکوک سوو او له مشکوک شی څخه ځان ساتل په کار دي؟

په یو مشهوره حدیث شریف کي راځي:

الحلال بين والحرام بين وبينهما مشبهات لا يعلمها كثير من الناس فمن اتقى المشبهات استبرأ لدينه وعرضه.

یعنی حلال او حرام بالکل ښکار دي د دوی په منځ کي څه مشتبه شیان دي کوم سړی چي له مشتبه شیانو څخه ځان وساتئ هغه خپل دین او عزت دواړه وساتل، نو له مشکوکو شیانو ځان ساتل په کار دي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي د چرګي په مشوکه کي د خرابو اوبو له لګېدو څخه کرنټ راتللو وروسته دا معلومه خبره وي چي چرګه ژوندی دئ، بیا د حلالونکی له لیدلو، ذبح کولو او وینه بهېدو څخه ښه یقین را ولي، نو د دې مشتبه کېدل د منلو وړندي که چیري د اوبو له لګېدو څخه پر چرګه د خوب دوره راتلای هم د مرګ شک پرې کېدئ، مګر موږ وینو چي پر هغه د خوب دوره هم نه راځي بلکي د هغه ښکي او وزرونه ښه سم ښوري او اصلي خبره خو دا ده چي له نشې وروسته که چیري چرګه پرېښوول سي، نو له درو دقیقو وروسته د تګ قابل سي له دې څخه معلومیږي چي له نشه کېدو وروسته چرګان سم ژوندی وي، د ذبح په وخت کي که چیري ژوند یقیني وي، نو د شک هېڅ اعتبار نه سته:

په فتاوی بینات کي راځي:

په کوم صورت کي چي له نشې وروسته د حیوان ژوند یقیني وي په هغه صورت کي ذبح سوې حیوان حلال دئ لهذا له (۷۰) څخه تر (۹۰) وولټه کرنټ سره نشه سوې چرګان چي ژوند یې یقیني وي او ذبح سي حلال دي له دې څخه پرته په (۱۰۰) وولټه بیا تر (۱۲۰) وولټه برق سره کرنټ سوې چرګان چي ذبح سي حلال نه دي تر څو چي دا ښه معلومه نه سي چي تر ذبح کولو مخکي ژوندی وو که تر ذبح کولو مخکي د هغه ژوند یقیني معلوم وو، نو له ذبح وروسته یې خوړل روا دي که معلوم نه وي، نو خوړل یې روا نه دي.

۴_ **څلورم سوال**: یو سوال دا هم کیږي چې د چرګ د ښځکو او وزرونو کښلو له پاره هغه په ګرمو اوبو کې اچول کیږي حال دا چې په نس کې یې مرداري وي، نو د هغې مرداري له غوښې سره د ګډیدو خطره موجود وي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چې له اوبو سره چرګه یوازې تیریږي، هر کله چې د چرګانو قطار دباندې راووزي، نو سړی د دې ګمان هم نه کوي چې دغه دې دننه اوسېدلی وي او وخت دې پر تېر سوی وي، په دومره لږ وخت کې مرداري وغوښې ته نه رسیږي په مراقی الفلاح، طحطاوی، شامی او بحر کې یې دغه مسئله لیکلې ده:

په حاشیه الطحطاوی کې یې وګورئ:

لو ألقيت لدجاجة حال غليان الماء قبل أن يشق بطنها لتنتف، أو كرش قبل أن يغسل إن وصل الماء إلى حد الغليان ومكثت فيه بعد ذلك زماناً يقع في مثله التشرب والدخول في باطن اللحم لا تطهر أبداً إلا عند أبي يوسف كما مر في اللحم، وإن لم يصل الماء إلى حد الغليان أو لم تترك فيه إلا مقدار ما تصل الحرارة إلى سطح الجلد لإنحلال مسام السطح عن الريش والصوف تطهر بالغسل ثلاثاً. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ۱۶۰).

په فتاوی شامی کې راځي:

لكن العلة المذكورة لا تثبت ما لم يمكث اللحم بعد الغليان زماناً يقع فى مثله التشرب والدخول فى باطن اللحم، وكل واحد منهما غير محقق فى السميط. (فتاوى الشامى: ۱/ ۳۳۴، سعيد).

وللمزيد من البحث راجع: (فتح القدير: ۱/ ۲۱۱، دار الفكر، والبحر الرائق: ۱/ ۲۳۹، كوئته).

د مذکوره عباراتو خلاصه دا ده، چې که چیري اوبه نه ایشیدلی یا ایشیدلی خو چرګان یې ډیر کم وخت پکښې ایښودل، نو په دواړو صورتو کې چرګان پاک دي، هو، له دغو اوبو څخه له ایستلو وروسته دې درې واره پرېمنځل سي.

په فتاوی بینات کې راځي:

که چیري چرګانو له شرعي طریقې سره سم حلالیدو چې مسلمان بسم الله پر ویله او په خپل لاس سره یې حلالول له حلالولو وروسته یې په ګرمو اوبو کې اچول او ژر یې بېرته ورڅخه ایستل چې د چرګانو په نسونو کې کومه مرداري ده هغه د مساماتو په واسطه غوښې ته داخل نه سي، نو په دې صورت کې د دغو چرګانو خوړل حلال دي، خو تر ټخولو مخکې دي غوښه ښه پرېمنځي چې په شرعي طریقه نه وي حلال سوی د هغو چرګانو مرداري اوبه ورڅخه لېري سي.

او که چیري په ګرمو اوبو کې دومره پاته سي چې د ګرمي له امله څخه دننه مرداري د غوښې په مساماتو کې داخل سي، نو دغه غوښه حرامه ده او خوراک یې ناروا دئ.

خبرتیا: او وروسته دا معلومه سوه چې اوبه ایشیدلې نه وي، د اوبو د جوش له پاره له (۸۰) درجه حرارت څخه پیا تر (۸۵) درجه پوري ضروري دئ او د دغو اوبو حرارت (۵۲) درجه وي چې په دې سره اوبه را ایشي نه یوازې ګرمي وي او بیا د حلال ځای مالک د چرګانو اینه ګوري که د اینې رنګ بدل وو، نو جلا کوي یې او دا خو معلومه او ښکاره خبره ده چې اینه ژر پخیږي، نو له دې څخه معلومه سوو چې له دغو اوبو سره په تېریدلو کې په چرګ کې د اوبو څه اثرات نه داخلیږي، یوازې ښکې او وزرونه یې په آسانۍ سره خیژي.

۵_ پنځم سوال دا دئ: چې د دغو چرګانو د ښکو او وزرونو په کښلو کې د هغوی دیخیدلو انتظار نه کیږي بلکې حرکت کونکې چرګان په دغو اوبو کې لوېږي او شکوي یې؟

الجواب: د دې په جواب کې باید دومره عرض وکړو چې د ځینو فقهاء په آند د چرګ تر یخیدو او پر روح وتلو مخکې د هغو ښکې او وزرونه کښل مکروه دي، محمد بن عبد اللطیف بن عبد العزیز بن ملک په شرح تحفة الملوک کې لیکي:

وكل زيادة لا يحتاج إليها الذكاة، مكروهة، كجر المذبوح برجله إلى المذبح وسلخه قبل أن يتم موته، وكذا لو مات ولم يبرد لم يسكن من الاضطراب يكره سلخه أيضا عند البعض لما فيه من زيادة الألم. (شرح تحفة الملوك، ص ۱۷۷۲).

یعنی هر هغه زیات کار چې په ذبح کولو کې یې ضرورت نه وي مکروه دئ، لکه د مذبوح حیوان تر حلال ځای پوري تر پښو کشول، تر مړه کېدو مخکې یې پوسته ایستل، همدا ډول که چیري حیوان مړ سو، یخ سوی نه وو او حرکت یې نه وو بند نو دا هم د فقهاء کرامو په آند مکروه دئ ځکه چې

په دې کې ډېر تکلیف وي، له دې عبارت ښخه معلومه سوه چې تر حرکت بندیدو مخکې د پوست را ایستل د ځینو علماء کرامو په آند مکروه دي که چیري د حرکت په وخت کې بښکی، وزریا پوست ورڅخه کاږي، نو فاصله دي څه لږې کړي، خو مذبوح شی حلال دئ.

لکه صاحب د هدایې رحمه الله چې وایي:

إلا أن الكراهة لمعنى زائد وهو زيادة الألم قبل الذبح أو بعده فلا يوجب التحريم فلهذا قال(الإمام القدوری) توكل ذبيحته. (الهداية: ۴/ ۴۳۹، كتاب الذبائح).

لنډه دا چې کراهت لغیره دئ له دې امله ذبیحه حرامه نه ده د امام قدروی رحمه الله له قول سره سم ذبیحه خوړلای سي، هو، د مسلمان شان دا دي چې تر خپل طاقت پوري له مکروه شیانو ښخه هم ځان وساتئ او دا تقوی ده، فتوی نه ده.

٦_ **شپږم سوال**: یو سوال دا هم کیږي، چې د چرګانو مخ قبلې ته نه کیږي حال دا چې په درمختار کې راځي:

وكره ترک التوجه إلى القبلة لمخالفة السنة. وقال الشامی: قوله لمخالفة السنة أی الموكدة لأنه توارثه الناس فيكره تركه بلا عذر. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۲۹۶، کتاب الذبائح، سعید).

الجواب: د دې سوال جواب دا دئ چې د ذبح کونکو مخ قبلې ته وي، هو د دې لار ښوونه دې ورته وسي چې د چرګي مخ د قبلې ته مخا مخ کړي او که چیري چرګه بالفرض وقبلې ته مخا مخ ذبحه نه سي هم حلاله دئ.

په طحطاوی علی الدر کې یې وګورئ:

وتوجيه القبلة سنة مؤكدة وترک السنة لايوجب الحرمة. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار: ۴/ ۱۵۲، کوئته).

په عالمګري کې راځي:

إذا ذبحها بغير توجه القبلة حلت ولكن يكره كذا فی جواهر الأخلاطی. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۸۸).

په محیط برهاني کي راځي:

وإذا ذبحها متوجهة إلى غير القبلة حلت، ولكن يكره. (المحيط البرهانی: ۶/ ۴۶۲، کتاب الذبائح، الفصل الثانی فی صفة الذكاة).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ويستحب أن يكون الذابح حال الذبح متوجهاً إلى القبلة. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۹، سعيد).

د مستحب مقابل خلاف اولی دئ، لنډه دا چي ذبحه حلاله ده.

۷_ اووم سوال: ځینو علماء کرام دغه سوال کوي چي د چرګانو دغه طریقه له سلف صالحینو څخه ثابته نه ده؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي له سلف صالحینو څخه د ذبح کولو هغه طریقه هم ثابته نه ده چي عام خلک يې کوي، ایا په یو حدیث کي راغلی دي چي د چرګ د ذبح په وخت کي پر وزرو یو پښه وربدي او پر پښو يې بله پښه او سر يې نیسي بیا يې حلاله وي.

هو، دغه طریقه د عامو خلکو له پاره اسانه وو، نو يې دغه خوښه کړه. اصل مقصد د حیوان په شرعي طریقه سره ذبح کول دي، ترتیب يې په هره زمانه کي بدلیږي او په هر ځای کي خلک ښه آسانه طریقه غوره کوي لکه مقصد چي اصل دیني علم حاصلول دي مګر نصاب يې هر وخت بدلیږي یا مقصد د الله ﷻ ذکر وي، خو لاري يې نقشبندیه، چشتیه وغیره بدلیږي بدلیږي یا مقصد د الله ﷻ په لار کي جنګ کول وي، مګر اسباب يې په هره زمانه کي بدلیږي یا لکه مقصد د بیت الله حج کول وي، خو د دې له پاره په پخوا زمانه کي پر اوښانو سفر کېدئ اوس د سفر ذرائع بدل سوو په موټر او طیاره کي سفر کیږي او د پخواني قلم او کاغذ پر ځای بیک قلم، د حساب ماشین او ټیپ استعمالیږي، د پخوانیو څراغانو پر ځای د برق ګروپ استعمالیږي، د ګرمي ساعت پر ځای د لاس ساعت استعمال، بدعت نه دئ او نه خلاف شریعت دئ، نو بیا د انسانانو په را ټولولو او یو حیوان غورځارولو پر ځای په یو نوې طریقه سره د هغه بې سده کول څنګه بدعت او خلاف شریعت دئ او د چرګانو پر وزرو او پر پښو يې د پښي ایښودلو پر ځای پر په نوې طریقه سره د هغو په خپل واک کي راوستل او ذبح کول څنګه بدعت او خلاف شریعت دي، هو، د بې احتیاطي له امله څخه څه

مکروهات پکښې داخل داخليږي د کومو له امله چي ذبيحه نه حراميږي، خو د مکروهاتو فهرست جوړول او ذبيحي ته حرام ويل دا پر شريعت باندي جرات کول دي. والله ﷻ اعلم.

د ذبح په وخت کي قبلې ته د مخ ګرځولو حکم

سوال: د ذبح کونکی او مذبوح حيوان د ذبح په وخت کي مخ قبلې ته مخ ګرځول واجب دي که سنت مؤکده او که مستحب او د نورو ائمه په دې اړه څه نظر دئ؟ په تفصيل سره يې راته بيان کړي؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي د ذبح کونکی او مذبوح له پاره قبلې ته د مخ کولو په اړه دوه قول دي ځينو فقهاء لکه علامه شامی رحمه الله، علامه سيد طحطاوی او داسي نورو له تحقيق سره سم سنت مؤکده دي او نور لکه علامه ابو بکر کاساني رحمه الله مصنف د بدائع الصنائع او داسي نورو په آند مستحب دي او شيخ الاسلام قاضی القضاة ابو الحسن علی السغدی نتف الفتاوی والا په آند مخ قبلې ته کول له آدابو څخه دي، عبارتونه يې په لاندي ترتيب سره وګورئ:

په طحطاوی علی الدر کي يې وګورئ:

وتوجيه القبلة سنة مؤكدة وترك السنة لايوجب الحرمة. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۵۲، كوئته).

په درمختار کي راځي:

وكره ترك التوجه إلى القبلة لمخالفة السنة. وقال الشامى: قوله لمخالفة السنة أى الموكدة لأنه توارثه الناس فيكره تركه بلا عذر. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۲۹۶، كتاب الذبائح، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما ما يستحب من الدكاة وما يكره فيها... منها أن يكون الذابح مستقبل القبلة والذبيحة موجهةً إلى القبلة لما روينا، ولما روي أن الصحابة رضي الله عنهم كانوا إذا ذبحوا استقبلوا القبلة، فإنه روي عن الشعبي أنه قال : كانوا يستحبون أن يستقبلوا بالذبيحة القبلة . (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۰، سعيد).

وكذلك إن ذبحها متوجهةً لغير القبلة حلت ، ولكن يكره ذلك .... وهذا ؛ لأن أهل الجاهلية ربما كانوا يستقبلون بذبائحهم الأصنام فأمرنا باستقبال القبلة لتعظيم جهة القبلة ، ولكن تركه لا يفسد الذبيحة، بخلاف ترك التسمية ؛ لأن في التسمية تعظيم الله تعالى ، وذلك فرض . فأما استقبال القبلة لتعظيم الجهة ، وذلك مندوب إليه في غير الصلاة ؛ فلهذا كان تركه موجبًا للكراهة غير مفسدٍ للذبيحة . (المبسوط للامام السرخسي: ١٢/ ٣، ادارة القرآن، كراتشى).

په خلاصة الفتاوى كي راځي:

وفى الأصل يستحب توجيهها إلى القبلة في وقت الذبح. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۰۸، الفصل الثانى فى التسمية).

وفى الهندية: واستحب الجمهور استقبال القبلة. (الفتاوى الهندية: ١/ ٢٦٢).

وفى لسان الحكام: ويستحب توجيهها فى الذبح إلى القبلة. (لسان الحكام، ص ۳۸۱، كتاب الذبائح، دار الفكر).

شيخ الاسلام قاضي القضاة ابو الحسن على بن الحسين السغدى رحمه الله د مذبوح مخ قبلې ته ګرځول په آدابو كي شمېرلي دي، وېې ګورئ:

وآدب الذبح سبعة أشياء: والثالث إقبال وجهها إلى القبلة. (النتف فى الفتاوى، ص ۱۴۸، آداب الذبح، ط: بيروت).

او همدا ډول په ناسته كي هم مخ قبلې ته كول مستحب دي.

په حديث شريف كي يې وګورئ:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن لكل شيء سيداً، وإن سيد المجالس قبالة القبلة». رواه الطبراني في الأوسط : وإسناده حسن. (مجمع الزوائد: ٨/ ٥٩، باب الجلوس مستقبل القبلة، دار الفكر).

زما په خیال سره استحباب والا قول ډېر بهتر دي ځکه چي په دې کي د خلکو له پاره آساني ده او له نورو مذهبو سره مطابقت هم، دریمه وجه یې دا ده چي له کتاب الجنائز څخه هم معلومیږي چي د مسلمان د مړیني په وخت کي د هغه مخ قبلې ته کول سنت مؤکده نه دي، ځکه چي د مخ ګرځولو پرېښودلو ته یې مکروه تحریمي نه دي ویلي بلکي روا یې ورته ویلي دي، نو چي اشرف المخلوقات قبلې ته مخ ګرځول مستحب دي، یو حیوان ته یې سنت مؤکده بلل ګرانه خبر ده.

په در مختار کي یې وګورئ:

یوجه المحتضر أی القبلة علی یمینه هو السنة، وجاز الاستلقاء علی ظهره وقدماه، إلیها.... وقیل: یوضع کما تیسر علی الأصح. (الدر المختار: ۲/ ۱۸۹، سعید).

وقال الطحطاوی: یسن توجیه المحتضر أی للقبلة.... وجاز الاستلقاء.... والأول أفضل لأنه السنة. کذا فی المضمرات. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح، ص ۵۵۸، وکذا فی شرح منیة المصلی، ص ۵۷۶).

د نورو امامانو نظر:

له احنافو پرته د نورو امامانو لکه مالکیه، شافعیه، او حنافو په آند مستحب دي:

د مالکیه وو مذهب:

په حاشیة العدوی کي یې وګورئ:

وتوجه الذبیحة فی الأضحیة وغیرها عند الذبح إلی القبلة استحباباً إجماعاً علی ماحکاه ابن المنذر. (حاشیة العدوی علی شرح کفایة الطالب الربانی: ۱/ ۷۲۲، باب فی الضحایا، دار الفکر).

وفی الثمر الدانی: وتوجه الذبیحة فی الأضحیة وغیرها عند الذبح إلی القبلة استحباباً. (الثمر الدانی، ص ۲۶۰، باب فی الضحایا، دار الفکر).

د شافعيه وو مذهب:

قال فی روضة الطالبین: فصل في سنن الذبح وآدابه.... الثالثة: استقبال الذابح القبلة وتوجيه الذبيحة إليها، وذلک فی الهدی والأضحية أشد استحباباً، لأن الاستقبال مستحب فی القربات. (روضة الطالبين: ۳/ ۲۰۴، المكتب الاسلامى).

وفی المجموع شرح المهذب: والمستحب أن يوجه الذبيحة إلى القبلة لما روت. عائشة رضی الله عنها أن النبي ﷺ قال: « ضحوا وطيبوا أنفسكم، فإنه ما من مسلم يستقبل بذبيحته القبلة إلا كان دمها وفرثها وصوفها حسنات فی ميزانه يوم القيمة» ولأنها قربة لابد فيها من جهة، فكانت القبلة فيها أولى. (المجموع شرح المهذب: ۸/ ۴۰۷، دار الفكر).

د حنابله وو مذهب:

قال فی الإقناع (المستحبات) .... الثالث: استقبال القبلة بالذبيحة أی بمذبحها فقط على الأصح دون وجهها ليمكنه الاستقبال أيضاً. (الاقناع: ۲/ ۲۴۳، باب المستحبات).

وفی المغنی: ويستحب توجيه الذبيحة.... وإن اقتصر على التسمية ووجه الذبيحة إلى غير القبلة ترک الأفضل وأجرأه. (المغنى: ۲/ ۴۶۲، باب نحر الهدى). والله ﷻ اعلم.

د ذبح په وخت کي يوازې د بسم الله ويلو حکم

سوال: په يو حلال ځای کي ځينو ذبح کوونکی په يوه قطار کي ډېر حيوانان ذبح کوي، که چيري يو ذبح کوونکی ته د پوره بسم الله او الله اکبر ويلو موقع په لاس ورنه سي او يوازې يې بسم الله وويله او حيوان يې ذبح کړ، نو ايا دا حيوان حلال بلل کيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ذبح کوونکی د ذبح په وخت کي يوازې بسم الله وويل، هم ذبيحه حلاله ده، خو د رسول الله ﷺ د قول له امله مستحب دا دي، چي پوره بسم الله او الله اکبر ووايي، له احنافو څخه شيخ الاسلام ابو الحسن على السغدى رحمه الله يوازې بسم الله ويل ښه بللی دي:

وګورئ په ابو داؤد شريف کي دغه حديث شريف دئ:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: شهدت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم الأضحى بالمصلى فلما قضى خطبته نزل من منبره وأتى بكبشٍ فذبحه رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده وقال «بسم الله والله أكبر». (رواه ابو داؤد، رقم: ۲۸۱۲، والترمذی، رقم: ۱۵۲۱، والبیهقی فی سنن الکبری: ۹/ ۲۸۶).

په الدر المنثور کي راځي:

وأخرج عبد بن حميد، وابن أبي الدنيا في الاضاحي، وابن أبي حاتم والحاكم وصححه والبيهقي في سننه، عن أبي ظبيان قال: سألت ابن عباس رضي الله عنه عن قوله ﴿فاذكروا اسم الله عليها صواف﴾ قال: اذا أردت أن تنحر البدنة .... ثم قل: «بسم الله والله أكبر، اللّهم منك ولك». (الدر المنثور: ۶/ ۵۲، سورة الحج).

په فتاوی شامی کي راځي:

خلاف قوله «بسم الله» فإنه يصح ولو لم تحضره نية.... تداولته الألسن عند الذبح وهو «بسم الله والله أكبر» منقول عن النبي صلى الله عليه وسلم، وعن علي رضي الله عنه وابن عباس رضي الله عنه مثله قاله ابن عباس رضي الله عنه في تفسير قوله تعالى ﴿فاذكروا اسم الله عليها صواف﴾ ونقل في الذخيرة عن البقال: أنه المستحب. وفي الجوهرة: وإن قال بسم الله الرحمن الرحيم فهو حسن. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۰۱- ۳۰۲، کتاب الذبائح، سعید).

وفی النتف فی الفتاوی: قال: والأحسن أن يقول: «بسم الله». (النتف فی الفتاوی، ص ۱۴۸، کتاب الذبائح والصيد، التسمية، دار الکتب العلمية).

په فتاوی الولو الجیه کي راځي:

رجل ذبح وقال: بسم الله، ولم يظهر الهاء إن قصد ذكر الله تعالى تحل، لأنه قصد التسمية. (الفتاوی الولو الجية: ۳/ ۷۲، کتاب الذبائح، الفصل الثانی، ط: بيروت).

(وکذا فی خلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۰۸، الفصل الثانی فی التسمية). والله تعالى اعلم.

په قصد سره د بسم الله پرې ښودلو حکم

سوال: دا خو موږ ته معلومه ده چې د احنافو په آند د بسم الله په ژبه سره ویل ضروري ده او د امام شافعي رحمه الله په آند په دغه مسئله کې څه تخفیف او آسانې سته د دوی په آند د هر مسلمان په زړه کې بسم الله پرته ده دې خبرې په نظر کې نیولو سره دیو حنفي له پاره دا روا ده چې د شافعی المسلک والا مذبوحه چې بسم الله نه وې پرې ویل سوې وخورئ، په شریعت کې د دې څه حکم دئ او په متروک التسمیه کې د امام شافعی رحمه الله صحیح قول څه دئ؟

الجواب: د جمهورو فقهاء په آند بسم الله ویل ضروري ده، که چیري په قصد سره پرېښودل سي، نو مذبوح حیوان د مردار په حکم کې دئ او که په هېره پرېښودل سي، نو د جمهورو په آند حلال دئ مګر د امام احمد رحمه الله په قول سره ښکار بیا هم حرام دي مګر د امام شافعی رحمه الله په اند بسم الله ویل سنت دي واجب نه ده، خو څوک چې یې استخفافاً پرېږدي، نو حیوان مردار دئ. هو که یې دغسي پرېښودله بیله استخفاف څخه، نو د جمهورو په آند حرام او د امام شافعی رحمه الله په آند حلال دئ مګر که چیري د یو چا قصداً پرېښودل عادت وو، نو دا په استخفاف کې شمېرل کیږي او د امام شافعی رحمه الله په قول سره همدا مردار دئ.

په الفقه الاسلامي وادلته کې راځي:

قال جمهور الفقهاء غير الشافعية: تشترط التسمية عند التذكية وعند الإرسال في العقر، فلا تحل الذبيحة، سواء أكانت أضحية أم غيرها، في حال ترك التسمية عمداً، وكانت ميتة. فلو تركها سهواً، أو كان الذابح المسلم أخرس أو مستكرهاً، تؤكل لقوله تعالى: ﴿ ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه، وإنه لفسق ﴾ وأضاف الحنابلة: من ترك التسمية على الصيد عامداً أو ساهياً، لم يؤكل.... وقال الشافعية: تسن التسمية ولا تجب وتركها مكروه، لقوله تعالى: ﴿ فكلوا مما ذكر اسم الله عليه﴾ فلو ترك التسمية عمداً، أو سهواً، حل الأكل ....الخ. (الفقه الاسلامی وادلته: ۳/ ۶۵۹، الذبائح، دار الفكر).

په احکام الذبائح کي رائحي:

ذهب جمهور الفقهاء إلى أنه يجب للذكاة الشرعية أن يذكر الذابح اسم الله تعالى عند الذبح فإن ترک التسمية عمداً فلا تحل ذبيحته عند أبى حنيفة ومالک وأحمد وجمهور الفقهاء، وأما إذا نسيها فالذكاة معتبرة عند الحنفية والمالكية، ولافرق عندهم في هذا بين الذبيحة والصيد، أما عند الحنابلة، فالنسيان معفو عنه فى الذكاة الاختيارية فقط. أما فى الصيد، فلا تعتبر الذكاة إذا لم يذكر الصائد اسم الله عند إرسال السهم أو الكلب سواء أتركها عمداً أو نسياناً.

أما الإمام الشافعى: فالمشهور عنه أن التسمية ليست بواجبة عنده، وإنما هي سنة، فتحل الذبيحة وإن تركها الذابح عمداً. ولكن الذي يظهر من مراجعة كتاب الأما للشافعى أنه لم يصرح بحل متروک التسمية عمداً، وإنما صرح بحل ما نسى الذابح ذكر الله عليه وعبارته ما يلي:

وإذا أرسل الرجل المسلم كلبه أو طائرة المعلمين أحببت له أن يسمى فإن لم يسم ناسيًا، فقتل أكل، لأنهما إذا كان قتلهما كالذكاة، فهو لو نسى التسمية في الذبيحة أكل لأن المسلم يذبح على اسم الله عز وجل وإن نسى . (كتاب الام: ۲/ ۲۲۷، كتاب الصيد والذبائح).

ثم إن الإمام الشافعي صرح فيما بعد بأن من يترک الستمية عند الذبح استخفافاً لايحل أكل الذبيحة، فقد ذكر في معرض ماهو مسلم عنده.

إن المسلم إن نسي اسم الله تعالى أكلت ذبيحته، وإن تركه استخفافاً لم تؤكل ذبيحته.

(كتاب الام: ۲/ ۱۳۱، باب ذبائح اهل الكتاب).

وقد صرح بعض العلماء بأن الفقهاء أجمعوا على ذلک، فقد جاء فی التفسیر المظهري نقلاً عن شرح المقدمة المالکیة:

وکل هذا في غیر المتهاون، وأما المتهاون فلا خلاف أنها لاتؤکل ذبیحته تحریماً، قال ابن الحارث والبشیر، والمتهاون هو الذي یتکرر منه ذلک کثیراً، والله أعلم. (التفسیر المظهری: ۳/ ۳۱۸، سورة الانعام).

وهذا العبارت تدل على أن مذهب الإمام الشافعي لیس على إطلاق الحل فیما تعمد ترک التسمیة علیه، وإنما تحرم الذبیحة عنده إذا ترک علیها التسمیة تهاوناً واستخفافاً، وجعله الرجل عادة له. (احکام الذبائح، ص ۱۲ - ۱۴، للشیخ المفتی محمد تقی مدظله).

مفتی محمد شفیع صاحب هم د کتاب الام له مذکوره عبارت را نقلولو وروسته وایي، له دې عبارت څخه دوې خبرې معلومې سوې، یو دا چې په هېره سره بسم الله پرېښودل دا معاف ده، دوهم دا چې په قصد سره بسم الله پرېږدي د استخفاف له امله، نو دغه ذبیحه یې د امام شافعی رحمه الله په آند هم حرامه ده او یو بل صورت پاته سو هغه دا چې بسم الله ویل، په قصد سره پرېږدي خو د بې پروایې او استخفاف له امله نه وي بلکي اتفاقاً یې پرېږدي، په دې اړه مې د امام شافعی رحمه الله کوم قول نه دئ تر سترګو سوي خو د فقهي شافعی عبارات چې وګورئ، د دې جواز له دې عبارت ((د کتاب الام د استخفاف والا عبارت کوم چې ذکر سو)) فهمول کېږي همدغه قول امام قرطبي رحمه الله له اشهب رحمه الله څخه په دې طریقه نقل کړی دئ.

په تفسیر قرطبي کي راځي:

قال أشهب توکل ذبیحة تارک التسمیة عمداً إلا أن یکون مستخفاً. (تفسیر قرطبی: ۷/ ۷۶).

لنډه دا چې امام شافعی رحمه الله یا نورو علماء کرامو کومو چې قصداً د بسم الله له پرېښودلو سره ذبیحه حلال بللې ده هغه په دې شرط سره چې د بسم الله پرېښودل به استخفافا او د بې پروایې له امله نه وي یعنی د دې عادت دئ نه جوړه وي بلکي اتفاقاً که کله ورڅخه پاته سي، خو بیا هم د دې خوړل مکروه او ګناه ده:

امام ابو بكر ابن العربي رحمه الله په احكام القرآن كي وايي:

إن تركها متعمداً كره أكلها ولم تحرم قاله القاضي أبو الحسن والشيخ أبو بكر من أصحابنا وهو ظاهر قول الشافعي. (احكام القرآن، لابن العربى: ۱/ ۳۰۹).

علامه نووي رحمه الله كوم چي د شافعى مذهب امام دئ د مسلم په شرح كي وايي:

وعلى مذهب إصحابنا يكره تركها وقيل لايكره والصحيح الكراهة. (صحيح مسلم: ۲/ ۱۴۵، كتاب الصيد والذبائح).

له لوړو ذكر سوو عباراتو ښخه په دغه مسئله د امام شافعى رحمه الله په مذهب كي لاندي شيان ثابتيږي:

۱_ پر ذبيحه په قصد سره بسم الله پرېښودل د دوى په آند مكروه ده.

۲_ پر كومه ذبيحه چي بسم الله په قصد سره پرېښودل سوى وي د امام شافعى رحمه الله له ظاهري قول سره سم د هغې خوړل هم مكروه دي.

۳_ د مكروه والى قول يې هغه وخت دئ چي بسم الله يې په قصد سره نه وي پرېښې بلكي اتفاقاً يې پرېږدي كه داسي نه وي، نو حرامه ده له دې ښخه معلومه سوه چي مطلقاً د امام شافعى رحمه الله طرف ته په قصد سره د متروك التسميه نسبت كول صحيح نه دي او ډېرو شافعى المسلك علماء هم په دغه مسئله كي د جمهورو قول ته ترجيح وركړي ده د امام شافعى رحمه الله د مذهب محقيقينو امامانو هم د امام شافعى رحمه الله دغه قول نه دئ غوره كړي.

امام غزالى په احياء العلوم كي وايي:

لأن الآية ظاهرة في إيجابها والأخبار متواترة فيه فإنه صلى الله عليه وسلم قال لكل من سأله عن الصيد إذا أرسلت كلبك المعلم وذكرت عليه اسم الله فكل ونقل ذلک على التكرار وقد اشتهر الذبح بالبسملة وكل ذلک يقوى دليل الاشتراط. (احياء العلوم:۲/ ۱۰۳، مصرى).

ابن كثير رحمه الله له يو شافعى عالم ابو الفتوح محمد على الطائى له كتاب اربعين ښخه نقل كوي چي هغه كه څه هم شافعى المذهب عالم دئ، خو قصداً متروک التسمية يې حلاله نه ده بللي. (ابن

كثير: ۲/ ۱۶۹، سورة الانعام). (ملخص از جواهر الفقه، جلد ششم، ص ۱۹۰ – ۱۹۹، رساله اسلامي ذبيحه، ط: دار العلوم كراچي).

لنډه دا چي د امام شافعي رحمه الله په آند هم په قصد سره بسم الله پرېښودل مكروه ده د امام شافعي رحمه الله د مذهب د محقيقينو په آند د جمهورو قول ارجح دئ، لهذا نو يو حنفي سړی ته له داسي ذبح څخه ځان ساتل ضروري دي.

په عالمګيري کي يې وګورئ:

ولا تحل ذبيحة تارك التسمية عمداً، وإن تركها ناسياً تحل والمسلم والكتابي في ترك التسمية سواء. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۸).

علامه شامي رحمه الله وايي:

ولا تحل ذبيحة من تعمد ترك التسمية مسلماً إلا كتابياً لنص القرآن ولانعقاد الإجماع ممن قبل الشافعي على ذلك،.... ولو قضى القاضي بجواز بيعه لا ينفذ، وقوله ﷺ «المسلم يذبح على اسم الله سمى أو لم يسم» محمول على حالة النسيان دفعاً للتعارض بينه وبين قوله عليه الصلاة والسلام حين سأله عدي بن حاتم رضي الله تعالى عنه عما إذا وجد مع كلبه كلباً آخر «لا تأكل، إنما سميت على كلبك ولم تسم على كلب غيرك» علل الحرمة بترك التسمية. (فتاوى الشامي: ۶/ ۲۹۹، سعيد). والله تعالى اعلم.

په اور سره د ذبح حکم

سوال: فقهاء په اور سره ذبح ليکلي دي، چي که چيري بسم الله وويل سي او د اور په واسطه حيوان حلال سي، نو دا روا دي، د دې طريقه څه ده او لطفاً حواله يې هم راته وليکي؟

الجواب: فقهاء کرامو د فقه په کتابو کي په وضاحت سره ليکلي دي چي په اور سره ذبح کړل سوې حيوان حلال دئ، که چيري اور د ذبح کار وکړي، يعنی رګونه يې پرې سي او وينه يې وبهيږي په ظاهره خو د حيرانتيا خبره ده چي رګونه په اور سره پرې کيږي، ځکه چي اور خو شی سوځي پرې کوي يې نه. حضرت مفتی محمد پاکستاني به ويل، چي د دې مطلب دا دئ چي هغه پڅه

اوسپينه چي شی نه پرېكوي په اور كي سره كړل سي، تر څو چي د پرېكولو قوت پكښي پيدا سي بيا د حيوان رګونه په پرې كړل سي او وينه يې وبهيږي، نو ذبح وسوه:

په در مختار كي راځي:

وحل الذبح بكل ما أفرى الأوداج وأنهر الدم أى أساله ولو بنار. وفى رد المحتار: قوله ولو بنار قال: في الدر المنتقى: وهل تحل بالنار على المذبح؟ قولان، الأشبه لا كما في القهستاني عن الزاهدي. قلت: لكن صرحوا في الجنايات بأن النار عمد وبها تحل الذبيحة لكن في المنح عن الكفاية إن سال بها الدم تحل وإن تجمد لا، فليحفظ وليكن التوفيق. (رد المحتار: ۶/ ۲۹۶، سعيد).

په مجمع الانهر كي راځي:

وقال في الكفاية: ألا ترى أنها تعمل عمل الحديد حتى أنها أي النار إذا وضعت في المذبح فقطعت ما يجب قطعه في الذكاة وسال بها الدم حل وإن انجمد ولم يسل لا يحل انتهى .... وفي الخلاصة .... لا يجعل النار كالسلاح في حكم الذكاة حتى لو توقدت النار على المذبح وانقطع بها العروق لا يحل أكله انتهى، لكن قال في البزازية : إن النار تعمل في الحيوان عمل الذكاة حتى لو قذف النار في المذبح فاحترق العروق يؤكل انتهى، وهذا موافق لما قدمناه عن الكفاية ويحمل ما إذا سال بها الدم وبه يحصل التوفيق بين كلامي صاحب الخلاصة والبزازية. (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر: ۲/ ۶۱۵، كتاب الجنايات).

په احسن الفتاوى كي راځي:

بس په ماشين سره د ذبح كولو مثال داسي وبوله چي اور بل دئ او تا د اور نلكى را واخسته بسم الله دي ورېله، او په هغه سره دي مذبوح حيوان ته اور ورساوه يا دي د نلكى پر ځاى يو بل شى د اور او مذبوح د غاړې په منځ كي كښېښودئ چي په هغه سره اور مذبوح ته ورسېدئ او رګونه پرې سوه وينه يې وبهيدله، نو ايا د داسي حيوان په حلال واي كه څه شك كېدلاى سي.

په اور سره يې ذبح کول تر دې له تکليف ډکي توجيه په مقابل کي د مفتي محمود صاحب توجيه ډېره اسانه ده، حضرت مفتي ولي حسن صاحب پر دغه تشريح د مفتي محمود صاحب ډېره ستاينه کول. والله ﷻ اعلم.

د هيلۍ په شرعي توګه ذبح کولو حکم

سوال: يو هيلۍ خرڅونکي دا راته وويل، چي د هيلۍ د حلال والي له پاره د هغې تر ذبح کولو مخکي د هغې د پښو په منځ کي د نرم پوست پرېکول ضروري دي او د دغه نرم پوست د پرېکولو په وخت کي بسم الله او الله اکبر هم ضروري دئ او بيا يې دا هم راته وويل، چي د ټولو دغه نرم پوست لرونکي حيواناتو او مرغانو په اړه د احنافو دغه مذهب دئ، نو د هغه له مشورې سره سم موږ همدغه نرم پوست پرېکړي او وينه هم ترې تويه سوه، بيا مو ذبح کړل، مهرباني وکړي د شريعت په رڼا کي مو په صحيح مسئله خبر کړي؟

الجواب: د حيوان تر ذبح کولو مخکي بې ځايه زخمي کول او تکليف ور رسول شرعاً مکروه او منع دي او تر کومه ځايه چي د حلال والي تعلق دئ، نو شريعت د اوښ له ذبح کولو پرته په ذبح اختياري کي د دې تعلق چي د رګونو تر پرېکولو ورکړي دئ، يعني بسم الله دي ووايي او د حيوان اکثره رګونه دي ور پرېکړي، بس حيوان حلال دئ، په دې اړه نرم پوست والا او غير نرم پوست والا دواړه سره برابر دي هيڅ فرق يې نه ستته:

د کراهت وجوهات لاندي وګورئ:

۱_ شريعت د احسان کولو حکم ور کړی دئ:

په حديث شريف کي راځي:

عن شداد بن أوسٍ رضي الله عنه قال ثنتان حفظتهما عن رسول الله ﷺ قال « إن الله كتب الإحسان على كل شيءٍ فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدكم شفرته فليرح ذبيحته ». (رواه مسلم: ۲/ ۱۵۲، باب الامر باحسان الذبح والقتل).

حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه وايي، چي ما دوې خبري له رسول الله ﷺ څخه يادي کړي دي، رسول الله ﷺ وويل: بېله شک الله ﷻ پر هر شي احسان لازم کړی دئ، نو چي هر کله تاسو يو کافر

وژني په ښه طریقه سره یې ووژني او هر کله چې تاسو یو حیوان ذبح کوې په ښه طریقه سره یې ذبح کړې، خپله چاړه ښه تېره کړې او خپل حیوان ته راحت ورسوې.

له دې حدیث شریف څخه معلومه سوه چې ذبیحه ته استراحت رسول په کار دې او زخمي کول له دې څخه خلاف دې.

۲_ تر ذبح کولو مخکې و حیوان ته هر ډول تکلیف رسول مکروه او د شریعت خلاف دي.

مصنف د هدایې رحمة الله علیه وایي:

ومن بلغ بالسكين النخاع أو قطع الرأس كره له ذلك.... روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه نهى أن تنخع الشاة إذا ذبحت .... وكل ذلك مكروه وهذا لأن في جميع ذلك زيادة تعذيب الحيوان بلا فائدة وهو منهي عنه والحاصل أن ما فيه زيادة إيلام لا يحتاج إليه في الذكاة مكروه. (الهداية: ۴/ ۴۳۹).

۳- فقهاء کرامو په پوره وضاحت سره ویلي دي، چې په ذبح اختیاري کې که چیرې حیوان له حلال ځای څخه پرته پر بل ځای زخمي سي او له دې څخه مړ سئ، نو دا حیوان د مردار په حکم کې دئ او په دې صورت کې د هیلی حلالوالی د نرم پوست پر پرېکولو موقوف کول له روایت او درایت دواړو څخه مخالف دئ او همدا ډول له شرعي اصولو او قواعدو سره هم ټکر دئ، که چیرې دغه زخم حیوان هلاکت ته ورسوي او مړ سي، نو دا حیوان مردار بلل کیږي، لهذا له دغه ډول کړو څخه په مکمله توګه ځان ساتل ضروري دي.

د ذبح اختیاري شرعي طریقه وګورئ:

قال الإمام القدوري: والذبح في الحلق واللبة والعروق التي تقطع في الذكاة أربعة: الحلقوم، والمرئ، والودجان، فإذا قطعها حل الأكل، وإن قطع أكثرها فكذلك عند أبي حنيفة. (مختصر القدوري مع، ص ۴۹۴، مؤسسة الريان).

وفی التصحیح والترجیح: قال فی زاد الفقهاء: الصحیح قول أبی حنیفة، واعتمده الإمام المحبوبی والنسفي وغیرهما. (التصحیح والترجیح علی هامش مختصر القدوری مع، ص ۴۹۵، مؤسسة الریان).

هو، مفسرینو رحمهم الله دا لیکلي دي چي پر یهودو د هغوی د سرکښي او نافرمانۍ له امله د څه مودې له پاره د ګوتو په منځ کي پوست لرونکی حیوانات حرام سوي وو، وروسته بیا دغه حکم منسوخ سو لکه وازګه چي پر دوی حرام سوې وه.

امام ابو بکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کي وایي:

وعلی الذین هادوا حرمنا کل ذی ظفر.... وبین النبي صلی الله علیه وآله وسلم أن حکم ذلك التحریم إنما کان موقتا إلی هذا الوقت وإن مضی الوقت أعاده إلی ما کان علیه من حکم الإباحة فلا فرق بینه في هذا الوجه وبین ما لم یحظر قط .... کل ذی ظفر الآیة قال ابن عباس وسعید بن جبیر وقتادة والسدی ومجاهد هو کل ما لیس بمفتوح الأصابع کالإبل والنعام والأوز والبط . (احکام القرآن: ۳/ ۲۲، ط: سهیل، وتفسیر ابن کثیر: ۲/ ۲۰۷).

علامه آلوسی رحمه الله وایي:

﴿وعلی الذین هادوا﴾ أی الیهود خاصة لا علی من عداهم من الأولین والآخرین. (روح المعانی: ۸/ ۴۷).

مولانا ادریس کاندهلوی رحمه الله په معارف القرآن کي وایي:

دغه شیان په خپل ذات کي حلال او پاک دي، خو د یهودو د نافرمانۍ او سرکښي له امله موږ دغه شیان خاص پر یهودو حرام کړه چي پر دوی د رزق دروازه تنګه سي که نه دغه شیان په خپل ځان کي د حرامتیا وړ نه وو. یوازې د څه مودې له پاره د یهودو په حق کي حرام سوه. والله تعالی اعلم.

تر کرنکي لوړ د ذبح حکم

سوال: ځینی خلک د هغه حیوان خوړل حرام او ناروا ګڼی کوم چې تر کرنکی لوړ ذبح سوی وي، که چیري په دغه طریقه سره ټول رګونه یا اکثر پرې سي، نو د ذبح حکم څه دئ؟

الجواب: د پاکستان او هندوستان مفتي اعظم مفتي محمد شفیع وایي، چې د ذبح تعلق د ډېرو رګونو تر پرېکولو ده یعنی من جمله له څلورو رګونو حلقوم، غاړه، و د جین څخه یې درې رګونه پرې سي، نو ذبح وسوه، پر هر ترتیب چې پرې سي تر کرنکی لوړ وي او که لاندي، د غاړې له طرفه وي او که د مغزې له طرفه خو په کوم صورت کي چې حیوان ته ډېر تکلیف رسېږي هغه له بلي وجې مکروه او منع دئ مګر د ذبح پر حلالوالی د هغه څه اثر نه پرېوزي، اوس دا خبره په تجربه پوري اړه لري چې تر کرنکی لوړ په ذبح درې رګونه پرې کیږي او که نه؟ که چیري پرېکیږي، نو ذبيحه صحیح ده، که نه وي، نو صحیح نه ده، خو له ډېرو د تجربې له خاوندانو څخه د پرېکولو تصدیق سوی دئ:

په فتاوی شامی کي راځي:

قال في الهداية: وفي الجامع الصغير : لا بأس بالذبح في الحلق كله وسطه وأعلاه وأسفله، والأصل فيه قوله عليه الصلاة والسلام : «الذكاة ما بين اللبة واللحيين» ولأنه مجمع العروق فيحصل بالفعل فيه إنهار الدم على أبلغ الوجوه فكان حكم لكل سواء، وعبارة المبسوط: الذبح ما بين اللبة واللحيين كالحديث. قال في النهاية: وبينهما اختلاف من حيث الظاهر لأن رواية المبسوط تقتضي الحل فيما إذا وقع الذبح قبل العقدة لأنه اللبة واللحيين، ورواية الجامع تقتضي عدمه لأنه إذا وقع قبلها لم يكن الحلق محل الذبح فكانت رواية الجامع مقيدة لإطلاق رواية المبسوط.

وقد صرح في الذخيرة بأن الذبح إذا وقع أعلى من الحلقوم لا يحل لأن المذبح هو الحلقوم لكن رواية الإمام الرستغفني (هو على بن سعيد أبو الحسن، من رستغفن بضم الراء وسكون السين وضم التاء وسكون الغين وبالنون بعد الفاء: قرية من قرى سمرقند، كان من كبار مشايخ سمرقند،

كان من أجل أصحاب أبی منصور الماتريدی) تخالف هذه، حيث قال: هذا قول العوام وليس بمعتبر، فتحل سواء بقيت العقدة مما يلي الرأس أو الصدر، لأن المعتبر عندنا قطع أكثر الأوداج وقد وجد، وكان شيخي يفتي بهذه الرواية ويقول: الرستغفني إمام معتمد في القول والعمل، ولو أخذنا يوم القيامة للعمل بروايته نأخذه كما أخذنا، ما في النهاية ملخصاً. وذكر في العناية أن الحديث دليل ظاهر لهذه الرواية ورواية المبسوط تساعدها، وما في الذخيرة مخالف لظاهر الحديث . أقول: بل رواية الجامع تساعد رواية الرستغفني أيضاً، ولا تخالف رواية المبسوط بناء على ما مر عن القهستاني من إطلاق الحلق على العنق ...

أقول: والتحرير للمقام أن يقال: إن كان بالذبح فوق العقدة حصل قطع ثلاثة من العروق، فالحق ما قاله شراح الهداية تبعاً للرسغفني وإلا فالحق خلافه، إذ لم يوجد شرط الحل باتفاق أهل المذهب، ويظهر ذلك بالمشاهدة أو سؤال أهل الخبرة، فاغتنم هذا المقال ودع عنك الجدال. (فتاوی الشامی: ۶/ ۲۹۴، سعيد). (وكذا فی اللباب فی شرح الكتاب: ۴/ ۵۶۳- ۵۶۶، كتاب الصيد والذبائح).

په مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر كي راځي:

مقتضى رواية الجامع أن الذبح لو وقع في أعلى من الخلقوم كان المذبوح حلالًا وكلامه هكذا هذه الرواية تقتضي أن يحل وإن وقع الذبح فوق الحلق قبل العقدة ولو جعل بين بمعنى في كما في الكرماني لم يستقم كما لا يخفى وقيل لا يجوز فوق العقدة وإنما أتى بصيغة التمريض لمخالفة ظاهر الحديث الذي مر آنفًا . (مجمع الانهر فی شرح ملتقى الابحر:۴/ ۱۵۸، كتاب الذبائح، ط: دار الكتب العلمية).

قال الشيخ أسعد الصاغري فی « الفقه الحنفی وأدلته»: وفی حديث أبي أمامة قال رسول الله ﷺ : للجارية فی الشاة المعطوبة، وقد كسرت حجراً من المروة، فذبحتها بها، وجائته بأمر سيدها عقبة بن عمر قال لها: « هل أفريت الأوداج؟» قالت: نعم، قال: « كل ما فری الأوداج....» الحديث. (معجم الطبرانی: ۸/ ۲۱۱) وعليه فإذا قطع فوق العقدة، فقد حل، لأنه قطع ثلاثة من أربعة، وإن قطع تحت العقدة، وجعلها تابعة للرأس فقد قطع العروق الأربعة، وهو الأتم إن شاء الله تعالی. (الفقه الحنفی وأدلته:۳/ ۱۹۹، کتاب الذبائح، بیروت).

علامه ملا خسرو رحمه الله په خپل کتاب درر الحکام شرح غرر الاحکام کي حلالوالی ته ترجيح ورکړې ده:

په درر الحکام کي يې وګورئ: (درر الحکام فی شرح غرر الاحکام: ۱/ ۲۷۶، کتاب الذبائح).

حضرت تهانوی رحمه الله لومړی د حرمت فتوی ورکړي وه له ليدو وروسته يې رجوع وکړه وي ګورئ:

د حلت او حرمت دواړو قول د اختلاف بنياد پر دي دئ چي تر کرنکي لوړ په ذبح سره مري او حلقوم پرې کيږي او که نه؟ او دا خبره تر کتلو پوري ترلي ده له ليدو وروسته په دې کي اختلاف نه راځي او په کتلو سره د پرېکولو روايت له ثقات څخه ثابت دئ له دې امله د حلالوالی حکم ورکول کيږي څه موده مخکي احقر د دې د حرمت فتوی د فقهي له کتابو څخه را نقل کړي وه اوس له دې څخه رجوع کوم.

حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله وايي:

بنده د دې تحقيق کړی دئ، د حلال سوې غواېي سر مي را وغوښت او ومي کوت، نو ځکه د بنده په نظر سره اکثره رګونه پرې کيږي او مذبوح حيوان حلال دئ او په حديث شريف سره هم د دې تائيد کيږي ځکه چي ذبح په حديث شريف کي ((ما بين اللبة واللحيين)) ده. والله اعلم. حرره خليل احمد عفی عنه.

په عزيز الفتاوی کي راځي:

رد المحتار والا معروف په شامی سره په دې اړه دا قول فیصل لیکلي دئ ((اقول: التحریر الاقام.... الخ)) او د تجربې له خاوندانو څخه دا معلومه سوې ده چې تر کرنکی لوړ په ذبحه کولو سره هم رګونه پرې کیږي، نو ځکه د دې په حلالوالی کې شک نه سته.

فقیه النفس حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله وايي:

تر کرنکی یې لوړ حیوان حلال کړ، که چیري د هغه غاړه پرې سوه، نو حلال دئ او که چیري دا رګ نه سي پرې، نو بیا حرام دئ، دغه ته د ردالمحتار مصنف رحمه الله ترجیح ورکړې ده او ټول روایات یې جمع کړي دي په ټولو کې دغه قول ښه دئ.

ځینی فقهاء کرامو تر کرنکی لوړ ذبح کولو معتبر نه دي بللی د هغوی نومونه په لاندي ډول دي:

علامه سید احمد طحطاوی رحمه الله، علامه زیلعی رحمه الله تبیین الحقائق والا، برهان الدین محمود بن احمد البخاری رحمه الله ذخیره والا، صدر الشریعه رحمه الله النقایه والا، ملا علي القاري رحمه الله المواهب والا، علامه شمنی رحمه الله، علامه شرنبلالی رحمه الله، ابن کمال باشاه رحمه الله او داسي نور...

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی الشامی: ۶/ ۲۹۵، سعید، وحاشیة الطحطاوی على الدر المختار: ۴/ ۱۵۰ -۱۵۱، ط: کوئته، وتبیین الحقائق: ۵/ ۲۹۰، امدادیه، وفتح باب العنایة: ۴/ ۷۵، ط: بیروت، وحاشیة الشرنبلالی: ۱/ ۲۷۶).

خو د ناروا بلونکو پر دلائلو له غور کولو څخه معلومیږي چې د منع کولو اصلي علت د رګو ښه نه پرېکول دي، نو ځکه یې تر کرنکی لوړ د ذبح کولو د حرمت فتوی ورکړه ده:

لکه علامه زیلعي رحمه الله چې وايي:

ما قاله الرستغفني مشكل ، فإنه لم يوجد فيه قطع الحلقوم ولا المريء وأصحابنا وإن اشترطوا قطع الأكثر فلا بد من قطع أحدهما عند الكل ، وإذا لم يبق شيء من العقدة مما يلي الرأس لم يحصل قطع واحد منهما فلا يؤكل بالإجماع إلخ . (تبين الحقائق: ۵/ ۲۹۰، ط: امدادية، ملتان).

علامه سید احمد طحطاوی رحمه الله د علامه زیلعی رحمه الله د دې تائید کړی دئ، وې ګورئ:

والذی ظهر لي أن الحق قول الزيلعی ومن معه... وعلی كل فالاحتياط فی المتفق عليه. والله تعالی أعلم بالصواب. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۱۵۱، کوئته).

لكن رده محشيه الشلبی والحموی، وقال المقدسی: قوله لم يحصل قطع واحد منهما ممنوع بل خلاف الواقع، لأن المراد بقطعهما فصلهما عن الرأس أو عن الاتصال باللبة. (فتاوی الشامی: ۶/ ۲۹۵. سعيد).

په حاشية الدرر کي مولانا ابو سعيد محمد بن مصطفی الخادمی د علامه زيلعی رحمه الله د خبري ترديد کړی دئ چي دا رايه او نظريه د نص په مقابل کي ده، نو د دې څه اعتبار نه سته. وې ګورئ: ((حاشية الدرر)).

لنډه دا چي د علامه شامی رحمه الله، حضرت تهانوی رحمه الله، حضرت مولانا خليل احمد رحمه الله، حضرت مفتی محمد صاحب او داسي نورو له ذکر سوې تحقيق مشاهدو او تجربو څخه ثابت سوه چي ټول رګونه په ښه توګه سره پرې کيږي، نو ځکه يې د حرام والی هيڅ وجه نه پاتيږي او د مانعين قول د دې په مقابل کي مرجوح ثابتيږي.

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (امداد الاحکام: ۲۵۲، وفتاوی محموديه: ۱۷/ ۲۴۶، جامعه فاروقيه). والله تعالی اعلم.

له حرکت اوويني بهيدو پرته د ذبيحه حکم

سوال: موږ يو حيوان حلال کړي، نه وينه ورڅخه بهېدلی دي او نه يې کوم څه حرکت کړی دئ مګر د ذبح په وخت کي ژوندی وو د کمزورۍ له امله يې حرکت ونه کړي، نو ايا ذبيحه حلال ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ذبيحه حلاله ده، که چيري د ذبح په وخت کي د حيوان ژوند يقيني وو او که په وخت د ذبح کي د هغه ژوند په شک کي وو، نو بيا حرام دئ، همدا ډول که چيري د ژوند څه اثار پکښې پاته وو لکه لاس، پښه ورټولول يا خوله بنده کړي:

په در المختار کي راځي:

ذبح شاةً لم تدر حياتها وقت الذبح ولم تتحرك ولم يخرج الدم إن فتحت فاها لا تؤكل، وإن ضمته أكلت ، وإن فتحت عينها لا تؤكل وإن ضمتها أكلت ، وإن مدت رجلها لا تؤكل ، وإن قبضتها أكلت ، وإن نام شعرها لا تؤكل ، وإن قام أكلت، لأن الحيوان يسترخى بالموت ؛ ففتح فمٍ وعينٍ ومد رجلٍ ونوم شعرٍ علامة الموت لأنها استرخاء ومقابلها حركات تختص بالحي فدل على حياته ، وهذا كله إذا لم تعلم الحياة وإن علمت حياتها وإن قلت وقت الذبح أكلت مطلقًا بكل حالٍ، زيلعي .

وفي حاشية لابن عابدين: قوله ولم تتحرك أى بعد الذبح بحركة اضطر ابية كحركة المذبوح وإلا فضم العين وقبض الرجل حركة.... قوله بكل حال، سواء وجدت تلك العلامات أو لا. (الدر المختار مع حاشية ابن عابدين: ۶/ ۳۰۹، سعيد).

په تبيين الحقائق كي راځي:

ولو ذبحت شاة مريضة ولم تتحرک منها إلا فوها قال محمد بن مسلمة: إن فتحت فاها لاتؤكل وإن ضمت عينها أكلت.... الخ. (تبيين الحقائق: ۵/ ۲۹۷، ط: امداديه، وفتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۶۷).

وللاستزادة انظر: (تكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۷۳، كوئته، ولسان الحكام، ص ۳۸۲، ط: دار الكفر، والفتاوى السراجية، ص ۳۸۰، والفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۳۹۴، مكتبة زكريا، وفتاوى محمودیه: ۱۷/ ۲۸۶، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د ذبح اختياري پر ځای اضطراري كولو حكم

سوال: د حضرت مفتى محمد شفيع صاحب د كتاب جواهر الفقه څه عبارات لاندي ذكر كيږي چي تعلق يې له ذبح سره دئ اوس زما سوال د هغو عباراتو په رڼا كي دا دئ؟ چي ايا د ذبح په ماشين

سره ذبح کول تر اضطراري ذبح لاندي راتللای سي چي د دې امله نه د ټولو رګو پرېکول ضروري وي او نه قبلې ته مخ کول ضروري وي او نه یو بل داسي شی پکښې ضروري وي؟

د جواهر الفقه عباراتونه په لاندي ډول دي:

د غیر اختیاري ذبح ښکار وغیره احکام په لاندي ډول دي:

لوړ د اسلامي ذبح په اړه د قرآن کریم لس آیاتونه او احادیث شریف وړاندي سوه، په هغو کي خو یو عام حلالولو حکم ذکر دئ کوم چي له کورنی او پالل سوې حیواناتو سره اړه لري، د دې د حلالوالی له پاره دري شرطونه په پوره وضاحت سره ذکر سوه یعنی:

۱_ ذبح کونکی به مسلمان وي.

۲_ د ذبح په وخت کي د الله تعالی نوم اخیستل.

۳_ او رګونه په تېره شی سره پرېکول.

دوهم حکم د ښکار په اړه په سورت المائده کي دا ذکر سو چي که چیري پر تعلیم یافته سپي یا یو بل شی بسم الله وویل سي او په ښکار پسي پرېښودل سي او هغه حیوان ونیسي زخمي یې کړي راېې وړي په خپل یې نه ورخخه وخورئ، نو دا ښکار حلال دئ، په احادیثو صحیحه وو کي هم په بسم الله سره پر ښکار د غیشې ویشتلو دغه حکم راغلی دئ؟

الجواب: له شرعي قانون سره سم انسان چي کله هم پر ذبح اختیاري باندي قادر وي تر هغه وخته ذبح اضطراري نه سي کولای او له اختیاري صورت شخه د هغو حیواناتو ذبح ده چي په کورو کي ساتل کیږي لکه بزه، غوا، غوایې، ګامیښه او داسي نور او که چیري یو یاغې حیوان لکه هوسۍ، وغیره په کور کي ساتل کیږي او ایل سي، نو هغه هم په دې حکم کي داخلیږي، د قرآن او حدیث په رڼا کي د اختیاري اسلامي ذبیحه له پاره لاندي دري شرطونه په نظر کي نیول ضروري دي:

۱_ ذبح کونکی به مسلمان یا اهل کتاب وي.

۲_ د ذبح په وخت کي د الله عزوجل د نوم اخیستل.

۳_ په شرعي طریقه سره د حلقوم، مریې او ویني رګونه پرې کول له دغو که چیري یو پاته سي، نو اسلامي ذبیحه نه شمېرل کیږي.

په دغه صورت په ماشیني حلال ځای کي چرګان د انسانانو په قبضه کي وي، نو ځکه دا ذبح اختیاري بلل کیږي او د دې په ذبح غیر اختیاري ((اضطراري)) کي داخلول صحیح نه دي.

د نور تفصیل له پاره دغه لاندي کتابونه وګورئ: (الاختيار لتعليل المختار: ۵/ ۱۰، الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۳، سعيد، والجوهرة النيرة: ۲/ ۲۷۷، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۶۷، وجواهر الفقه: ۲/ ۳۸۱، اسلامی ذبیحه).

تنبیه: د ماشیني ذبح په اړه زموږ تفصیلي فتوی نشر سوې ده هغه هم کتلای سي. والله ﷻ واعلم.

د حیوانانو په نشه کونکو شیان په قبضه کي راوستلو حکم

سوال: زموږ په ځای موزنبیق کي یو سړی په ځنګل کي له شرابو ډکه کاسه کښېښوله چي ښکاریې ورڅخه وڅښي، نو بیا ښکار هغه شراب وڅښل او نشه سو، د نشې له امله هغه نه سو تللای ښکاري هغه په شرعي طریقه سره ذبح کړ اوس پوښتنه دا ده چي ایا د دې حیوان غوښه خوړل روا ده او که نه؟ او په غوښه کي یې څه تبدیلي راغلی نه ده او د دې ډول حیلي کولو اجازه سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري شراب له څلور قسمه حرامو شراقو څخه علاوه وي، نو بیا خبر اسانه ده او که چیري له دې څلور قسمه څخه یو وي، نو حیوان چونکه مکلف نه دئ، نو چي شراب یې لېري کښېښودل او حیوان په خپله راغلی ورڅخه وې څښل، نو په دې کي څه باک نه سته، لکه څنګه چي په مړو سوو چینجو سره د ماهیانو ښکار روا دئ، همدا ډول د دې حیله د استعمال اجازه هم سته، ځکه چي په دې حیله سره اصل مقصد د حیوان په اساني سره ښکار کول دي دا مقصد نه دئ، چي حیوان ته څه تکلیف ور رسوي او بیا د شرابو له کبله په غوښه کي څه خرابی هم راغلی نه ده، نو ځکه د دې غوښه خوړل روا دي:

په فتاوی شامی کي یې وګورئ:

(قوله ولو لسقي دواب) قال بعض المشايخ: لو قاد الدابة إلى الخمر لا بأس به، ولو نقل إلى الدابة يكره، وكذا قالوا فيمن أراد تخليل الخمر ينبغي أن يحمل الخل إلى الخمر ولو عكس يكره وهو الصحيح. (فتاوی الشامی: ۶/ ۴۴۹، کتاب الاشربة، سعید).

قال فی البزازية: ولا يحمل الجيفة إلى الهرة ويحمل الهرة إلى الجيفة. (الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۴/ ۸۲).

فعلم من هذا أن نقل الخمر أو الجيفة إلى الحيوان مكروه ولو قاد الحيوان إلى الخمر أو الجيفة أو أتى إليه بنفسه لا بأس به والحيوان غير مكلف ولهذا يحل له أكل الميتة.

په بحر الرائق کي راځي:

ولا بأس برش الماء النجس فى الطريق ولايسقى للبهائم وفى خزانة الفتاوى: لابأس بأن يسقى الماء النجس للبقر والإ بل والغنم. (البحر الرائق: ١٠/ ١٢٥، باب التداوى بيول مايؤكل لحمه).

زيات تفصيل له پاره وګورئ: (الهداية: ۴/ ۴۹۵، كتاب الاشربة).

په تبيين الحقائق کي راځي:

ولو سقى ما يؤكل لحمه خمراً فذبح من ساعته حل أكله ويكره. (تبيين الحقائق: ۶/ ١٠، ط: امداديه). (وكذا في الدر المختار: ۶/ ٣۴١، سعيد، وفتاوى اللكنوى، ص ٣٧۶).

مګر په پورته ذکر سوې عباراتو کي د کراهت علت د غوښې خرابتيا ښودل سوې ده که په غوښه کي څه خرابي نه وي، نو له کراهت پرته يې خوړل روا دي:

علامه زيلعی رحمه الله وايي:

أما الدجاجة التي تخلط بأن تتناول النجاسة والجيف، وتتناول غيرها على وجهٍ لا يظهر أثر ذلك في لحمها فلا بأس به ولهذا يحل أكل لحم جديٍ غذي بلبن الخنزير؛ لأن لحمه لا يتغير، وما غذي به يصير مستهلكًا لا يبقى له أثر. (تبيين الحقائق: ۶/ ١٠، امداديه).

په شرح منظومه ابن وهبان کي راځي:

وجازت من الماء المنجس عينه ولو أرسلت فيه إلى حين يكبر

مسئلة البيت من القنية رقم لعين الأئمة الكرابسى، وقال: أرسلت سمكة فى ماء نجس فكبرت فيه لا بأس بأكلها للحال.

وظاهر عبارة المصنف أنه سوى بين ذلك وبين ما لو تولدت من ماء نجس العين ولا يند ذلك كالحيوان المتولد من المنى، ووجهه المصنف بأنه حلال بالنص وكونه يتغذى بالنجاسة لايمنع حله، إذا ثبت حله بالدليل.... ونقل عن مقطعات الظهيرية: ولو أن جدياً غذى بلبن الخنزير لابأس بأكله لأن لحمه لايتغير. (شرح منظومة لابن وهبان: ۲/ ۱۳۸، كتاب الصيود والذبائح).

لنډه دا چي كه چيري په غوښه كي څه بدلون راغلى وو، نو خوړل يې مكروه دي كه نه وي، نو مكروه نه دئ. والله ﷻ اعلم.

د منكر حديث د ذبح حكم

سوال: زموږ په ځاى كي يو قصاب منكر حديث سوى دئ، كه چيري هغه په خپل بزه يا پسه حلال كړي، نو د هغه د ذبيحې خوړل روا دي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي د داسي قصاب ذبيحه بالكل خوړل په كار نه ده، دا زنديق دئ، خپل كفر په اسلام سره ثابتوي، د قادياني همدغه حكم دئ:

په شرح فقه الاكبر كي يې وګورئ:

من رد حديثاً قال بعض مشايخنا يكفر وقال: المتأخرون إن كان متواتراً كفر، أقول: هذا هو الصحيح إلا إذا كان رد حديث الآحاد من الأخبار على وجه الاستخفاف والا ستخفاف الإنكار، نقلاً عن الخلاصة. (شرح فقه الاكبر، ص ۲۰۴).

له پورتني عبارت څخه معلومه سوه چي منكر حديث مرتد دئ:

په ابو داؤد شريف كي روايت دئ:

عن معديكرب عن رسول الله ﷺ أنه قال: ألا إنى أوتيت الكتاب ومثله (أى ومثل الكتاب) معه (وهو الحديث، لأنه وحي غير متلو.... الخ). (سنن ابى داؤد: ۲/ ۲۸۴، باب لزوم السنة، امداديه، مع بذل المجهود: ۱۳/ ۱۴، ط: امداديه).

په ابن ماجه كي راځي:

أن رسول الله ﷺ قال : يوشك الرجل متكئًا على أريكته ، يحدث بحديثٍ من حديثي ، فيقول : بيننا وبينكم كتاب الله عز وجل ، فما وجدنا فيه من حلالٍ استحللناه ، وما وجدنا فيه من حرامٍ حرمناه ، ألا وإن ما حرم رسول الله ﷺ مثل ما حرم الله. (رواه ابن ماجه، ص ۳، باب تعظيم رسول الله ﷺ والتغليظ على من عارضه، قديمی).

په درمختار کي راځي:

لاتحل ذبيحة غير كتابى منِ وثنى ومجوسى ومرتد. (الدر المختار: ۶/ ۲۹۸، سعيد).

وفي تبيين الحقائق: وأما المرتد فلأنه لا ملة له لأنه لا يقر على ما انتقل إليه ولهذا لايجوز نكاحه. (تبيين الحقائق: ۵/ ۲۸۷، امداديه).

وفى البدائع: أن يكون مسلماً كتابياً فلا تؤكل ذبيحة أهل الشرک والمجوسى والوثنى وذبيحة المرتد... وأما المرتد فلأنه لايقر على الدين الذى انتقل إليه فكان كالوثنى الذى لايقر على دينه. (بدائع الصنائع: ۵/ ۴۵، سعيد).

په لسان الحکام کي راځي:

ولا تحل ذبيحة المرتد وإن ارتد إلى دين أهل الكتاب. (لسان الحكام، ص ۳۸۱، كتاب الذبائح، دار الفكر).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۶۸، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۵).

حضرت مولانا يوسف لدهيانوي رحمه الله وايي:

له قاديانيانو سره بايد هيڅ ډول تعلق ونه ساتل سي او د شيانو رانيول او خرڅول هم يو ډول تعلق دئ د قادياني ذبيحه مرداره ده، د هغې خوړل حرام دي ځکه چي هغه مرتد او زنديق دئ.

په فتاوی محموديه کي راځي:

هر کله چي يې د حديث انکار وکړي، نو په کوم آيت کي چي د رسول الله ﷺ د اطاعت او خبر منلو ذکر دئ له هغه څخه هم منکر سو، نو پر قرآن کريم يې ايمان چيري پاته سو، د قرآن منل خو هم د رسول الله ﷺ له خبر منلو څخه معلوم سو، له رسول الله ﷺ او له قرآن څخه انکار له ايمان سره څنګه جمع کېدلای سي. والله ﷻ اعلم.

د الله ﷻ څخه پرته د بل چا په تعظيم کي د حلال سوي حيوان حکم

سوال: د ځينو کفارو په علاقو کي دا رواج دي چي د کورنۍ په خاصه غونډه کي يا د يو کس د مړيني پر ځای حيوان د غير الله په نامه يعنی د مړه د پلار يا نيکه پر نامه ذبحه کوي او ښه ډېرو خلکو ته بلنه هم وکوري؟ د داسي غونډي پر ځای په کور کي يو دوه مسلمانان هم وي او د هغو ګډون هم ضروري وي، که حاضر نه سي د تعلقاتو د پرې کولو قوي انديښنه وي، اوس پوښتنه دا ده که چيري مسلمان له اختلاف څخه ځای ساتی، نو په دې کي ګډون کولای سي او هغه حيوان چي د غير الله پر نامه اينبودل سوی وي پر هغه بسم الله ووايي او په خپل يې ذبح کړي دا ذبيحه حلال ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دا د مالک په نيت پوري اړه لري او کوم حيوان چي يې د غير الله په نامه اينښي وي هغه په بسم الله ويلو سره هم نه حلالېږي او دا په ما اهل لغير الله کي داخل دئ حرام دئ. که چيري د کفارو غونډه وو د مصلحت له پاره دي لږ موده ګډون ورسره وکړي، خو د هغوی مذبوحه دي نه خوري، په دې وخت کي دي عذر ورته وړاندي کړي يا دي ولاړ سي په نيت دعوت او تبليغ سره به يې ګډون صحيح وي.

په در مختار کي راځي:

ذبح لقدوم الأمير ونحوه كواحدٍ من العظماء يحرم لأنه أهل به لغير الله ولو ذكر اسم الله تعالى ولو للضيف لا يحرم.... والفارق أنه.... كان لتعظيم غير الله فتحرم . وفي رد المحتار: قوله والفارق أي بين ما أهل به لغير الله بسبب تعظيم المخلوق وبين غيره. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۹، سعيد).

د زيات تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (الاشباه والنظائر مع شرح الحموی: ۲/ ۴۵۹- ۴۶۰، کتاب الصيد والذبائح).

په کفايت المفتی کي راځي:

کوم حیوان چي نذر لغیر الله یا له الله عزوجل څخه پرته بل چا ته د نژدېکت په نیت سره ذبح سي که څه هم د ذبح په وخت کي بسم الله الله اکبر وویل سي او ذبح سي هغه حرام او مردار دئ، ځکه چي په دې کي نیت د اصلي مالک معتبر دئ او د هغه نیت دا وو چي لغیر الله قرباني وسي. (کفایت المفتی:۸/ ۳).

حضرت مفتی محمد شفیع صاحب وايي:

دوهم صورت دا دئ: چي یو حیوان له الله عزوجل څخه پرته د بل چا له پاره د نژدېکت په خاطر ذبح سي، یعنی د هغه له وینه بهېدو څخه مقصد تقرب ((نژدې والی)) الی غیر الله وي، خو د ذبح په وخت کي د الله عزوجل نوم پرې واخیستل سي، دغه صورت هم د فقهاء په اتفاق سره حرام او مذبوحه په حکم د مردار کي ده مګر په دلیل را ایستلو کي یې څه اختلاف دئ. ځیني مفسرینو او فقهاء دا په ((ما أهل به لغیر الله)) مدلول صریح بللی دئ لکه د بیضاوی په حاشیه او در مختار کتاب الذبائح کي چي راغلي او ځیني علماء کرامو دا د ((ما أهل به لغیر الله)) صریحی مدلول خو نه دئ بللی، ځکه چي په دې کي د عربیت له لحاظ تکلف دئ، خو د علت له ګډوالی یعنی تقرب الی غیر الله له امله څخه یې نا هم په ((ما أهل به لغیر الله)) کي شمېرلي او حرام یې بللی دئ او د احقر په آند همدا صحیح او پر احتیاط باندي بناء ده او د دې صورت د حرمت له پاره یو بل مستقل آیت شریف یعنی ((وما ذبح علی النصب)) هم شاهد دئ ځکه چي د عطف له امله دا ظاهرېږي چي ((ما أهل به لغیر الله)) او ((ذبح علی النصب)) دوه بدل بدل صورتونه دي، ((ما أهل به لغیر الله)) هغه دي چي د ذبح په وخت کي د غیر الله نوم پر وویل سي او ((وما ذبح علی النصب)) هغه دئ چي د نصب د تعظیم او تکریم له پاره ذبح سي که څه هم هغه پر دې د غیر الله نوم نه واخلی بلکی د الله عزوجل نوم واخلی. والله تعالی اعلم.

د شیعه او بریلوی د ذبح حکم

سوال: که چیري یو شیعه یا بریلوی وغیره عقائد کفر ته رسېدلي وي، د هغوی ذبیحه پر اهل کتاب قیاسولو سره حلالیږي او که نه؟ هغه د مشرک په حکم کي بلل کېږي او که د اهل کتاب؟

الجواب: که د یو سړی عقائد کفر ته رسېدلی وي که څه هم هغه ځېل ځان د مسلمانانو په ډله کي شمېري، خو هغه له اهل سنت والجماعت څخه نه شمېرل کیږي، فقهاء کرامو داسي خلک په زندیقانو او ملحدانو کي شمېرلي دي او ځيني فقهاء داسي خلک په باغيانو کي شمېرلي دي، د نن سبا شیعه، بریلویان وغیره چي د ځينو عقائد کفر ته رسېدلی دي، نو ځکه د دوی ذبيحه ته حلال ويل صحيح نه دي او د داسي خلکو په اهل کتاب کي شمېرل هم مشکل دئ، ځکه چي اهل کتاب هغه دي چي له اسلام څخه پرته د یو بل اسماني کتاب پر اصولو او قوانينو پاته وي او یو وحی اسماني مني.

په عالمګیری کي يې وګورئ:

وكل من يعتقد دينًا سماويا وله كتاب منزل كصحف إبراهيم عليه السلام وشيثٍ عليه السلام، وزبور داود عليه السلام فهو من أهل الكتاب فتجوز مناكحتهم وأكل ذبائحهم ، كذا في التبيين .

وفيه: أيضاً: ولايجوز نكاح المجوسيات ولا الوثنيات.... ويدخل في عبدة الأوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التي استحسنوها والمعطلة والزنادیق.... وكل مذهب يكفر معتقده كذا في فتح القدير .(الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۸۱).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

الرافضي إن كان يسب الشيخين ويلعنهما فهو كافر. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۸۱، کتاب الفاظ الكفر).

په عالمګیری کي راځي:

ولو قذف عائشة رضي الله تعالى عنها بالزنا كفر بالله .... من أنكر إمامة أبي بكرٍ الصديق رضي الله عنه، فهو كافر ، وعلى قول بعضهم هو مبتدع وليس بكافرٍ والصحيح أنه كافر.... ويجب إكفارهم بإكفار عثمان رضي الله عنه وعلي رضي الله عنه وطلحة رضي الله عنه وزبيرٍ رضي الله عنه وعائشة رضي الله تعالى

عنها... ويجب إكفار الروافض في قولهم برجعة الأموات إلى الدنيا . (الفتاوى الهندية: ۲/ ۲۶۴).

وفى الخلاصة: ولا يؤكل ذبيحة المجوسى والمرتد والمرتدة والوثنى. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۰۵، كتاب الصيد والذبائح).

حضرت مفتي رشيد احمد صاحب وايي:

د معتزله په اړه د شامی، د تحرير پر بنا ما شيعه اهل كتاب بلل، وروسته خبر سوم چي دا زندقين دي، نو ځکه د هغوی په اهل کتاب کي شمېرل صحيح نه دي.

د زنديق دوه ډولونه دي:

۱_ په معنا د منافق يعنی د اسلام دعوه کوي او خپلي كفر په عقائد پټه وي. قال العلامة التفتازانى رحمه الله تعالى وإن كان مع اعترافه بنبوة النبى ﷺ وإظهاره شعائر الإسلام يبطن عقائد هي كفر بالاتفاق خص باسم الزنديق. (شرح المقاصد: ۲/ ۲۶۹).

وقال الحافظ العيني رحمه الله تعالى: واختلف في تفسيره فقيل هو المبطن للكفر المظهر للإسلام كالمنافق. (عمدة القارى: ۱۶/ ۲۰۰، باب حكم المرتد والمرتدة، ط: دار الحديث، ملتان).

۲_ هغه څوک چي په اسلامي عقائدو كي غلط او باطل تاويلات کوي، داسي سړی که څه هم د خپلو کفريه عقائدو د پټولو کوښښ نه کوي بلکي هغه نشره وي، خو له دې سره دې ته زنديق ويل کيږي.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قوله المعروف أي بالزندقة الداعي أي الذي يدعو الناس إلى زندقته، فإن قلت كيف يكون معروفاً داعياً إلى الضلال وقد اعتبر في مفهومه الشرعي أن يبطن الكفر، قلت: لا بعد فيه فإن الزنديق يموه كفره ويروج عقيدته الفاسدة ويخرجها في الصورة الصحيحة وهذا معنى إبطال الكفر فلا ينافي إظهاره الدعوى إلى الضلال وكونه معروفاً بالإضلال، ابن كمال . (رد المحتار: ۳/ ۳۰۵).

وقال الشاه ولی الله رحمه الله تعالٰی: إن المخالف للدين الحق إن لم يعترف به ولم يذعن له لا ظاهراً ولا باطناً فهو كافر وإن اعترف بلسانه وقلبه على الكفر فهو منافق، وإن اعترف به ظاهراً لكنه يفسر بعض ما ثبت من الدين ضرورة بخلاف ما فسره الصحابة والتابعون واجتمعت عليه الأمة فهو الزنديق. (المسوی:۲/ ۱۳۰).

د زنديق احکام:

۱_ زنديق واجب القتل دئ ((خو دا کار د اسلامي حکومت دئ عام خلک دي قانون په خپل لاس کي نه اخلي)).

۲_ له نيولو وروسته د هغه توبه نه قبليږي تر نيولو مخکي قبليږي.

۳_ له هغه سره نکاح کول حرام ده.

۴_ د هغوی ذبيحه حرام ده. (ماخوذ از احسن الفتاوی: ۱/ ۸۸).

بل ځای وايي:

شيعه، قادياني، آغا خاني، ذکري، پرويزي، انجمن دينداران او داسي نوري ډلې چي له کفر سره سره خپلو ځانو ته مسلمان وايي، په اسلام کي تحريف کوي او خپلي کفريه عقائدي اسلام ښکاره کوي او د دې نشر و اشاعت کوي دا ټول زنديق دي ذبيحه يې حرامه ده. (احسن الفتاوی: ۷/ ۴۰۲).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محموديه: ۲/ ۲۵، جامعه فاروقيه، وفتاوی فريديه: ۱/ ۱۳۳، فتاوی حقانيه: ۶/ ۴۴۷).

لنډه دا چي د کومو خلکو عقائد کفر ته رسېدلی وي هغه په اهل کتاب کي نه شمېرل کيږي، بلکي هغه د مشرکانو په حکم کي دي او ذبيحه يې حرامه ده. والله ﷻ اعلم.

د قاديانی او آغا خانی د ذبيحه حکم

سوال: که چيري يو قاديانی يا آغا خانی بسم الله ووايه او حيوان يې ذبح کړ ايا د دې خوړل روا دي او که نه؟ که جواب منفي وي، نو ايا د دوی تر اهل کتاب هم خراب دي چي د اهل کتاب ذبيحه حلاله او د دوی هغه حرامه ده، حال دا چي دا خلک محمد ﷺ رسول مني او اهل کتاب يې نه مني او که جواب مثبت وي نو ولي؟

الجواب: قادیانی، آغا خانی او خورجه ټوله مرتد او زندیق دي، ذبیحه یې حرامه او ناروا ده:

علامه شامي رحمه الله وایي:

إذ لا خلاف فی کفر المخالف في ضروريات الإسلام من حدوث العالم وحشر الأجساد ونفی العلم بالجزئیات وإن کان أهل القبلة المواظب طول عمره علی الطاعات کما في شرح التحرير. (رد المحتار: ۱/ ۵۶۱، سعيد).

په عمدة القاري کي راځي:

واختلفوا في تفسيره (أی الزنديق) فقيل: هو المبطن للكفر المظهر للإسلام كالمنافق وقيل: من لا دين له وقيل: هم طائفة من الروافض تدعی السبائية ... واختلف فی الزنديق هل يستتاب؟ .... وقول أبي حنيفة و أبي يوسف مختلف فيه، فمرة قالا: بالاستتابة ومرة قالا: لا قلت: روي عن أبي حنيفة أنه قال: إن أتيت بزنديق استبته فإن تاب وإلا قتلته. (عمدة القاری: ۱۶/ ۲۰۰، باب حکم المرتد والمرتدة، ط: دار الحديث، ملتان).

په بحر الرائق کي راځي:

الزنديق..... وهو من لا يتدين بدينٍ وأما من يبطن الكفر والعياذ بالله تعالى ويظهر الإسلام، فهو المنافق ويجب أن يكون حكمه في عدم قبولنا توبته كالزنديق، لأن ذلك في الزنديق لعدم الاطمئنان إلى ما يظهر من التوبة إذا كان قد يخفي كفره الذي هو عدم اعتقاده دينًا . (البحر الرائق: ۵/ ۱۲۶، باب احکام المرتدين، کوئته).

حضرت علامه شاه کشمیري رحمه الله وایي:

ولا ينجو من الكفر إلا من أكفر ذلک الملحد (أی غلام أحمد القاديانی) بلا تلعثم وتردد. (اکفار الملحدين، ص ۱۰،ط: المجلس العلمی).

مصنف د هدایې وایي:

ولا تؤكل ذبيحة المجوسى والمرتد. (الهداية: ۲/ ۴۳۴).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

ولا يؤكل ذبيحة المجوسى والمرتد والمرتدة والوثنى. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۰۵، كتاب الصيد والذبائح).

فقيه الامت حضرت مفتی محمود حسن گنگوهی رحمه الله وايي:

مرزا احمد غلام قادیانی کفریه عقائد غوره کړي چي د دې له امله دی له اسلام څخه خارج او مرتد سو کوم څوک چي د هغه د کفریه عقائدو تصدیق وکړي د هغه هم همدغه حکم دئ.

حضرت مولانا یوسف لدهیانوی وايي:

آغا خاني ډله هم لکه قادیانیان زندیق او مرتد دي له قرون اولی څخه بیا تر نن ورځي ټول اهل علم د دوی پر کفر، ارتداد، زندیق توب او الحاد متفق دي.

د آغا خانیانو حقیقي کلمه:

اشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً رسول الله وأشهد أن أمير المؤمنين على ولى الله ((يا على مدد)) زموږ اسلام دئ. (مكالمه بين المذاهب، ص ۲۲۹، مكتبة فاروقيه، واديان باطله، ص ۸۸).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د قادیانیانو اولاد ((نسبي قادیانی مرزایي)) کوم چي غلام احمد قادیانی نبي یا لږ تر لږه مسلمان بولی هغه هم کافر دئ، ذبیحه یې حرامه او مرداره ده، هغه د اهل کتاب په حکم کي بلل زما په ذهن کي نه راځي.

علامه شامی رحمه الله غالی روافض کافر بولي او اهل کتاب یې نه بولی، نو د قادیانیانو اولاد به څنګه په اهل کتاب کي شمېرل کیږي؟

والظاهر أن الغلاة من الروافض المحكوم بكفرهم لاينفكون عن اعتقادهم الباطل فى حال اتيانهم بالشهادتين وغيرهما من أحكام الشرع كالصوم والصلاة فهم كفار لامرتدون ولا أهل كتاب. (رسائل ابن عابدين، ص ۳۷۰، ط: سهيل).

حضرت مولانا یوسف لدهیانوی، کوم چي په دې اړه ډېر ښه معلومات لري، د قادیانیانو په تردید کې یې څو کتابونه لیکلي دي، هغه لیکي:

د ټولو تحریرات خلاصه یې دا ده:

۱_ کوم څوک چي د قادیانیانو طرفه ته مرتد سي هغه مرتد هم دي او زندیق هم دئ.

۲_ د هغوی صلبی اولاد ((حقیقی اولاد)) د مور او پلار تابع ګرځېدو له مله حکماً مرتد او زندیق دي.

۳_ د هغوی د اولادونو اولادونه ((لمسیان)) مرتد نه دي بلکي یوازې زندیق دي.

۴_ د مرتد او زندیق دواړو وژل واجب دي، د دواړو سره مناکحت باطل دئ دواړو ذبیحه حرامه او مرداره ده، نو ځکه د یو قادیاني ذبیحه په یو وخت کي هم حلاله نه ده. (رساله قادیانی ذبیحه، ص ۲۴، ۲۵)۔ (فتاوی رحیمیه: ۱/ ۱۵۴، مکتبه الاحسان دیوبند).

حضرت مفتي رشید احمد رحمه الله وایي:

د معتزله ؤ په اړه د شامی رحمه الله د تحریر پر بناء ما شیعه اهل کتاب بلل، وروسته خبر سوم چي دا زندقین دي، نو ځکه د هغوی په اهل کتاب کي شمېرل صحیح نه دي. (احسن الفتاوی: ۱/ ۸۸).

بل ځای وایي:

شیعه، قادیاني، آغا خاني، ذکري، پرویزې، انجمن دینداران او داسي نوري ډلې چي له خپل کفر سره سره خپلو ځانو ته مسلمان وایي، په اسلام کي تحریف کوي او خپلي کفریه عقائد اسلام ښکاره کوي او د دې نشرو اشاعت کوي دا ټول زندقین دي ذبحیه یې حرامه ده. (احسن الفتاوی: ۷/ ۲۰۲).

لنډه دا چي د دې ګمراه فرقو (ډلو) ذبیحه حلاله نه ده د دوی او اهل کتاب په منځ کي فرق دا دئ چي اهل کتاب یو آسماني دین منی او دغه ګمراه ډلې د زنادقه ؤ په حکم کي دي چي د اسلام له شا ولاړ د خپلو عقائدو خبیثه او تاویلات فاسده په واسطه کفر پټه وي او اسلام ښکاره کوي چي د دې له امله اسلام ته ډېر سخت تاوان رسېږي. والله تعالی اعلم.

د اهل کتاب د ذبیحه حکم

سوال: که چیري کافره عیسوي ښځه یا یو یهودي یا نصراني سړی حیوان حلال کړي او د الله ﷻ نوم هم نه واخلي او د غیر الله نوم هم نه واخلي، نو دا ذبیحه خوړل کېدلای سي که نه؟ یعنی د اهل کتاب ذبیحه حلاله ده او که نه؟

الجواب: که چیري اهل کتاب په صحیح طریقه سره حیوان ذبح کړي یعنی د الله ﷻ نوم واخلي او بنه رګونه پرې کړي، نو ذبیحه یې حلاله ده، نو که چیري نه د الله ﷻ نوم واخلي او نه د غیر الله نوم واخلي، نو د دې ذبیحه په حلال والي کي د علماء کرامو لاندي اختلاف دئ:

۱_ لومړی قول: د احنافو او حنابله ؤ په آند که یې مسلمان ذبیحه کړي او که اهل کتاب په بسم الله کي دواړه برابر دي، یعنی پر ذبیحه د الله ﷻ نوم اخیستل ضروري دي، نو که چیري یو مسلمان یا اهل کتاب په قصد سره بسم الله پرې ښودل، یا یې د غیر الله نوم پرې واخیستي او ذبیح یې وکړه، نو دا حیوان د مردار په حکم کي دئ:

په شرح اللباب کي یې وګورئ:

وإن ترك الذابح التسمية عمداً، مسلماً كان أو كتابياً فذبيحته ميتة لا تؤكل، لقوله تعالى ﴿ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه﴾ (الآية ۱۲۱).

وإن تركها ناسياً أكلت، لأن في تحريمه حرجاً عظيماً، لأن الإنسان قلما يخلو عن النسيان، فكان في اعتباره حرج، والحرج مدفوع، ولأن الناسي غير مخاطب بما نسيه ... الخ.

(شرح اللباب فی شرح الكتاب: ۴/ ۵۶۰، كتاب الصيد والذبائح).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ثم إنما تؤكل ذبيحة الكتابي إذا لم يشهد ذبحه ولم يسمع منه شيء أو سمع وشهد منه تسمية الله تعالى وحده ؛ لأنه إذا لم يسمع منه شيئًا يحمل على أنه قد سمى الله تبارك وتعالى وجرد التسمية تحسينًا للظن به كما بالمسلم... الخ. (بدائع الصنائع: ۵/ ۴۶، سعيد).

په فتاوی شامی کي راځي:

ولا تحل ذبيحة من تعمد ترک التسمية مسلماً أو كتابياً لنص القرآن. (رد المحتار: ۶/ ۲۹۹، سعيد).

په هدايه كي راځي:

والمسلم والكتابي فى ترک التسمية سواء. (الهداية: ۴/ ۴۳۵، كتاب الذبائح).

علامه بدر الدين عينى رحمه الله وايي:

فلو ترک الكتابى التسمية عمداً أو ذبح وسمى باسم المسيح لم تحل ذبيحته بإجماع الفقهاء وأكثر أهل العلم. (البناية فى شرح الهداية: ۱۰/ ۶۳۸، ط: رشيديه).

په الاختيار لعليل المختار كي راځي:

فلو تركها عامداً لاتحل، لقوله تعالى: ﴿ولا تأكلوا مما لم يذكراسم الله عليه وإنه لفسق﴾(الانعام: ۱۲۱)..... والكتابي فيه كالمسلم ، ولأن ما ذكرنا من النصوص منها أمر بالتسمية ، ومنها جعلها شرطاً لحل الأكل ، وذلك يدل على حرمة المتروك عامداً. (الاختيار لتعليل المختار: ۱۰- ۱۱، كتاب الذبائح، دار الكتب العلمية، بيروت).

په منية الصيادين كي راځي:

ولا تحل ذبيحة تارک التسمية عمداً،.... وللمسلم والكتابي في ترک التسمية سواء. (منية الصادين، ص ۱۵۰، ۱۵۲).

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (البحر الرائق: ۸/ ۱۶۹، كوئته، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۵، احكام الذبائح، ص ۳۴، ۳۶، جديد فقهى مسائل: ۲/ ۲۱۵، وكفايت المفتى: ۸/ ۲۴۶- ۲۴۹، دار الاشاعت، وامداد الاحكام: ۴/ ۲۰۲، وامداد المفتين: ۲/ ۷۷۱، دار الاشاعت).

په تفسير مظهري كي راځي:

قلت: والصحيح المختار عندنا هو القول الاول يعنى ذبايح الكتابي تاركاً للتسمية عامداً أو على غير اسم الله تعالىٰ لا يؤكل إن علم ذلك يقيناً أو كان غالب حالهم ذلك وهو محمل

النهی عن أكل ذبايح نصارى العرب ومحمل قول على رضى الله عنه لا تأكلوا من ذبايح نصارى بنى تغلب فإنهم لم يتمسكوا من النصرانية بشئ الا بشربهم الخمر فلعل علياً علم من حالهم انهم لا يسمون الله عند الذبح أو يذبحون على غير اسم الله تعالى.

فكذا حكم نصارى العجم ان كان عادتهم الذبح على غير اسم الله تعالى غالباً لا يؤكل ذبيحتهم ولا شك ان النصارى فى هذا الزمان لا يذبحون بل يقتلون بالوقد غالباً فلا يحل طعامهم. (تفسير المظهرى: ۳/ ۳۹).

علامه ابن قدامه په ((المغنی)) کي وايي:

فالتسمية مشترطة في كل ذابح مع العمد سواء كان مسلماً أو كتابياً فإن ترک الكتابى التسمية عن عمد أو ذكر اسم غير الله لم تحل ذبيحته، روى ذلک عن علي رضي الله عنه. (المغنى: ۱۱/ ۵۶، ط: دار الكتب العلمية، بيروت).

۲_ دوهم قول: د کتابي د ذبح د حلال والی له پاره پر مذبوح حیوان بسم الله ویل ضروري نه دي بلکي د ذبح په وخت کي که چېه خوله پاته سو بیا یې هم ذبیحه حلاله ده، البته که حیوان د غیر الله په نامه ذبح سو بیا حرام دئ:

په الشرح الصغیر کي راځي:

وجب عند التزكية (ذكر اسم الله) بأي صيغةٍ من تسميةٍ أو تهليلٍ أو تسبيحٍ أو تكبيرٍ، لكن (لمسلمٍ) لا كتابي ؛ فلا يجب عند ذبحه ذكر الله، بل الشرط أن لا يذكر اسم غيره مما يعتقد ألوهيته. (حاشية الصاوى على الشرح الصغير: ۴/ ۱۲۲).

وللاستزادة انظر: (الخلاصة الفقهية لمحمد العربى القروى المالكى، ص ۲۸۲، ط: دار الكتب العلمية، الاستذكار: ۱۵/ ۲۱۷، وبداية المجتهد: ۴/ ۱۲۸).

۳_ دریم قول: دا دي که د غیر الله نوم پري واخلي بیا هم د ځینو مالکیهؤ په آند حلاله ده که څه هم مکروه دي:

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (منح الجليل شرح على مختصر سيد الخليل: ۲/ ۴۱۳، دار الفكر).

امام نووي رحمه الله وايي:

ذبيحة أهل الكتاب حلال سواء ذكروا اسم الله تعالى عليها أم لا لظاهر القرآن العزيز هذا مذهبنا ومذهب الجمهور وحكاه ابن المنذر عن علی رضي الله عنه والنخعي وحماد بن سليمان وأبی حنيفة وأحمد واسحق وغيرهم. (المجموع شرح المهذب: ۹/ ۷۸، دار الفكر).

تنبيه: غالباً د امام نووي رحمه الله د مذهب په نقل او د جمهورو طرف ته په نسبت كي تسامح سوي دي.

په احسن الفتاوى كي راځي:

له دې څخه معلومه سوه چي قصداً په بسم الله پرېښودلو كي د مسلمان په نسبت له اهل كتاب سره آساني سوي دي، د جمهورو په آند اوله حرامه ده او دوهمه حلاله ده. (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۱۶).

د اهل كتاب څخه څوک مراد دئ؟

نن سبا د اروپا په عيسايانو او يهودانو كي ډېر داسي خلک دي چي په خپلو ثبت نامو كي ورته يهودي يا نصراني ويل كيږي، خو په حقيقت كي نه خداى عزوجل مني او نه يو مذهب مني، نه تورات او انجيل د خداى عزوجل كتابونه بولي او نه خضرت موسى عليه السلام او حضرت عيسى عليه السلام د الله عزوجل نبيان او پيغمبران بولي، دا خو ښكاره خبره ده چي هغوى يوازي د ثبت نام له امله په اهل كتاب كي نه داخليږي.

لنډه دا چي د كومو نصرانيانو په هكله دا يقيني معلومه سي چي هغوى د خداى تعالى وجود نه مني يا حضرت موسى وعيسى عليهما السلام د الله عزوجل نبيان او پيغمبران نه بولي، خو هغوى د اهل كتاب په حكم كي نه شمېرل كيږي. (جواهر الفقه: ۶/ ۲۰۳- ۲۰۴).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهى مسائل:۲/ ۲۱۷، ۲۲۰، اهل كتاب سی مراد اور عصر حاضر كی اهل كتاب، وامداد المفتين: ۲/ ۷۷۱، دار الاشاعت).

لنډه يې دا ده چي په شريعت كي د ذبح له شرائطو څخه يو دا شرط هم دئ چي ذبح كونكي
مسلمان يا اهل كتاب وي له دې امله كه چيري يهودي يا عيسوي د خپل مذهب بنيادي لار ښوون
پيروان ؤ خاص د هري عقائد يې نه ؤ او په صحيح طريقه سره ذبح وكړي، نو د هغوى په ذبيحه
خوړلو كي څه باكه نه سته، خو په نن زمانه كي له يهودؤ او نصارؤ څخه داسي خلک سته چي
مذهب نه مني بلكي د خداى تعالى وجود هم نه مني، د دې خلكو ذبيحه په هيڅ وخت كي حلاله
ده كه څه هم بسم الله ووايي، او حيوان ذبح كړي، نو ځكه ښه خبر دا ده چي د كفارو يهودؤ او نصارؤ
ذبيحه څخه ځان وساتل سي:

علامه شامي رحمه الله وايي:

والأولى أن لا يأكل ذبيحتهم ولايتزوج منهم إلا للضرورة كما حققه الكمال ابن الهمام.
(فتاوى الشامي: ۶/ ۲۹۷، سعيد).

په فتاوى علماء البلد الحرام كي راځي:

... أما في هذه الأزمنة فلم يعو دوا يعملون بما في كتبهم فأصبحوا كالمرتدين، فنرى ألا
تؤكل ذبائحهم إلا إذا تحقق أنهم يذبحونها ذبحاً شرعياً... الخ. (فتاوى علماء البلد الحرام، ص:
١٠١٧). والله ﷻ اعلم.

د اهل كتاب له پاره د ذبح په وخت كي د بسم الله حكم

سوال: په يوه حلال ځاى كي اهل كتاب پرته د بسم الله ذبح كوي د هغوى دغه ذبيحه روا ده او
كه نه؟

الجواب: د احنافو له مذهب سره سم د مسلمان او اهل كتاب ذبيحه هغه وخت حلاليږي چي د
ذبيحې په وخت كي بسم الله وويل سي، هو كه په هېره سره پاته سي، نو څه پروا نه لري، البته كه په
قصد سره پرېښودل سي، نو بيا ذبيحه د مردار په حكم كي ده.

خو د شافعيه ؤ په آند كه بسم الله په قصد سره پرېښودل سي بيا هم ذبيحه حلاله ده، خو مكروه
ده:

په هدايه كي يې وكورئ:

وإن ترک الذابح التسمية عمداً، فالذبيحة ميتة، لاتؤكل وإن تركها ناسياً أكل وقال الشافعی: أكل فی الوجهين والمسلم والكتابي في ترک التسمية سواء. (الهداية: ۴/ ۴۳۵، كتاب الذبائح).

(وكذا فی الاختيار لتعليل المختار: ۱۰- ۱۱، كتاب الذبائح، دار الكتب العلمية، بيروت، ومنية الصادين، ص ۱۵۰، وفتاوی الشامی: ۶/ ۲۹۹، سعيد).

په اعانة الطالبين كي رائحي:

واعلم أنه يكره تعمد ترک التسمية، فلو تركها ولو عمداً حلت ذبيحته. (اعانة الطالبين: ۲/ ۷۵۶).

مګر د شافعيه ؤ په اند اهل كتاب هغه څوک دي چي اصلاً ونسلاً اهل كتاب وي، يعنی د قرآن د راتلو په وخت كي اهل كتاب ؤ يا د هغوی پلارونو او نيكه ګانو په دې وخت كي اهل كتاب ؤ او كوم نسلونه چي په وروسته كي يهوديت او نصرانيت ته نقل سوه، د هغوی ذبيحه حلاله نه ده:

علامه محمد زهری الغمراوي وايي:

قال في كتاب النكاح: فمن علم أن قومها دخلوا في دينهم بعد بعثة محمد ﷺ أو في دين اليهود بعد بعثة عيسى عليه السلام أو شک في ذلک لا تحل وكذا لاتحل ذبائحهم. (السراج الوهاج: ۳۷۶، المكتبة التجارية، ومغنی المحتاج: ۴/ ۳۱۲، ط: بيروت).

په جديد فقهي مسائل كي رائحي:

كه چيري اهل كتاب پر ذبيحه د الله ﷻ نوم نه واخلی د ډېرو خلكو په آند داسي ذبيحه حرامه ده او دا ښكاره خبره ده چي د جمهورو رايه صحيح ده او د الله ﷻ قول چي ﴿ وما أهل لغير الله ﴾ حرام دي تقاضا هم دا ده مګر اختلاف په دې كي دئ چي د اهل كتاب له پاره بسم الله ويل ضروري دي او كه نه؟

د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند د اهل کتاب ذبيحه هم په هغه وخت کي حلاله ده چي د ذبحې په وخت کي د الله جل جلاله نوم واخلي، له دې څخه پرته حلاله نه ده. والمسلم والکتابی فی ترک التسمية سواء.

د امام شافعي رحمه الله په آند په قصداً بسم الله پرېښودلو سره هم د اهل کتاب ذبيحه حلاله ده امام نووي رحمه الله دا ده جمهورو مذهب بيان کړی دئ او په شمول د امام ابو حنيفه رحمه الله يې له ډېرو علماء کرامو څخه د دې تائيد نقل کړی دئ خو د دې په ثبوت کي شک دئ. وايي:

ذبيحة أهل الكتاب حلال سواء ذكروا اسم الله تعالى عليها أم لا لظاهر القرآن العزيز هذا مذهبنا ومذهب الجمهور وحكاه ابن المنذر عن علي رضي الله عنه والنخعي وحماد بن سليمان وأبي حنيفة وأحمد واسحق وغيرهم. (المجموع شرح المهذب: ۹/ ۷۸، دار الفكر).

د حنابله ؤ په آند هم د اهل کتاب له پاره بسم الله ويل ضروري دي، البته د امام مالک رحمه الله په آند د اهل کتاب له پاره بسم الله ويل ضروري نه دي. والله تعالی اعلم.

د ماشيني ذبحې حکم

سوال: د ماشيني ذبحې څه حکم دئ؟ د جوړښت په ترقي يافت دې ماشيني زمانه کي انسان تر ډېره خپل کارونه د خپل لاس پر ځای د ماشينانو په واسطه کوي لکه څنګه چي په ډېرو هيوادو کي د دې ماشيني ذبح ترتيب او طريقه دا وي چي ډېر حيوانان تر ماشين لاندي درول کيږي او په يو ځل بټن وهلو سره د ټولو غاړی پرې کيږي دا د برق ماشين ټول ورځ چليږي او د هغه په واسطه سره د چړګانو غاړی پرې کيږي اوس پوښتنه دا ده چي د برق په ماشين کي په ګرزېدونکو چړو غاړه پرې سوي حيوان حلال بلل کيږي او که نه؟ او بټن کښيکښونکی که مسلمان وي يا اهل کتاب بسم الله، الله اکبر ووايي، او بټن کښيکاږي، نو ذبيحه يې حلاله ده او که نه؟

الجواب: د ماشيني ذبح په اړه د اکابرو اختلاف دئ:

۱ _ مفتي محمد شفيع صاحب وغيره له لاندي تفصيل سره سم ماشيني ذبيحه حلاله بولی:

د لومړی قول وضاحت او تفصيل وګورئ:

لومړی خبر خو دا ده چي په لاسي چاړه وي او که په ماشين سره د حيوان سر له تن څخه جلا کول له شرعي ذبح څخه خلاف او مکروه دي، البته کوم حيوان چي په دې طريقه سره ذبح سي د هغه د غوښي په حلال والي کي تفصيل دا دئ که چيري د بټن په يو وار کښيکښنو سره چاړه د ټولو حيوانانو پر سرو راغله او مسلمان يا اهل کتاب بسم الله وويله. بټن يې کښيکښنه، نو دا يوه بسم الله د ټولو له پاره کافي ده او ذبح سوي حيوان حلال دئ او که چيري مخکي وروسته غاړي پرې سوي، نو دا بسم الله يوازي د اول حيوان له پاره کافي بلل کيږي، د پاتو حيوانانو له پاره د دې بسم الله اعتبار نه سته او دا حيوان د مردار په حکم کي دئ، په ځينو وختو کي له څه امله د چرګ غاړه هيڅ نه پرې کيږي او په ځينو وختو کي دومره لږ پرې کيږي چي د هغه په ټولو رګو پرې کولو کي شک وي په دغو دواړو صورتو کي ذبح ته شرعي ذبيحه نه ويل کيږي بلکي د مردار په حکم کي دي:

په هدايه کي يې وګورئ:

من بلغ بالسكين النخاع أو قطع الرأس كره له ذلك وتؤكل ذبيحته... أما الكراهة فلما روي عن النبي عليه الصلاة والسلام أنه نهى أن تنخع الشاة إذا ذبحت .... وإن ذبح الشاة من قفاها فبقيت حية حتى قطع العزوق حل لتحقق الموت بما هو ذكاة ويكره. (الهداية: ۴/ ۴۳۸، كتاب الذبائح).

په الاختيار لتعليل المختار کي راځي:

والذكاة اختيارية، وهى الذبح فى الحلق واللبة، واضطرارية، وهى الجرح فى أى موضع اتفق، وشرطهما التسمية، وكون الذابح مسلماً أو كتابياً، فإن ترك التسمية ناسياً حل، وإن أضجع شاة وسمى فذبح غيرها بتلك التسمية لم تؤكل، وإن ذبح بشفرة أخرى أكل.... ويكره أن يبلغ بالسكين النخاع، أو يقطع الرأس وتؤكل. (الاختيار لتعليل المختار: ۱۰ - ۱۱، ۱۳، كتاب الذبائح، دار الكتب العلمية، بيروت).

په الفتاوی الهنديه کي راځي:

ولو أضجع إحدى الشاتين على الأخرى تكفي تسمية واحدة إذا ذبحهما بإمرارٍ واحدٍ. ولو جمع العصافير في يده فذبح وسمى، وذبح آخر على أثره ولم يسم لم يحل الثاني. ولو امر السكين على الكل جاز بتسميةٍ واحدةٍ، كذا في خزانة المفتين. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۹، وكذا في تحفة الملوك: ۲/ ۱۷۰۰).

د دې جزئيه دا مطلب نه دئ چې ټول ورځ دي ماشين چليږي او د اول ځل بټن کښيکښو په وخت کې دې يوازې يوه بسم الله د ټولو له پاره کافي سي، بلکې د دې مطلب دا دئ چې د بټن کښيکښلو په وخت کې چې تر ماشيني چاړه لاندي کوم حيوان موجود وي او پر هغه په يو وخت کې چاړه وچليږي هغه حلال دي وروسته چې کوم حيوان راسي او په دې چاړه سره ذبح سي د بټن کښيکښونکی بسم الله د دې له پاره کافي نه ده او بيا دا هم ضروري ده چې له بسم الله ويلو وروسته دي فوراً ذبح سي که چيري څه فاصله په منځ کې راغله بيا هم ذبيحه حلاله نه ده:

په الجوهرة النيره کې يې وګورئ:

ولو أضجع شاةً وسمى وكلمه إنسان أو استسقى ماءً فشرب أو شحذ السكين قليلًا ثم ذبح على تلك التسمية الأولى أجزأه وأما إذا طال الحديث أو أخذ في عملٍ آخر واشتغل به ثم ذبح بتلك التسمية الأولى لم تؤكل. (الجوهرة النيرة: ۲/ ۲۷۵، امدادية، ملتان).

وفى المحيط البرهاني: وليس فى ذلک تقدير بل ينظر فيه الى العادة.

إن استكثر الناس فى العادة يكون كثيراً وإن كان يعد قليلاً فهو قليل. (المحيط البرهاني: ۶/ ۴۶۵، الفصل الرابع فيما يتعلق بالتسمية على الذبيح، مكتبة رشيدية).

وللاستزادة انظر: (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۸، والمحيط البرهاني: ۶/ ۴۶۵، مكتبة رشيدية).

د ماشيني ذبح په اړه د مفتي محمد شفيع صاحب د تفصيلي فتوی خلاصه لاندي وګورئ:

د اروپا په ښارو کې رواج سوي ذبح له شريعت څخه مخالف او ګناه ده د مسلمانانو چې څومره قدرت وي له دې څخه دې ځانونه وساتي او د دې رواج دي په خپلو هيوادو کې بند کړي او په اروپا کې د اوسېدونکو مسلمانانو له پاره کوم چې د دې طريقې پر بدلولو قدرت نه لري او غوښې ته يې

ضرورت وي په لاندي شرائطو سره د استعمال اجازه يې ستړه که چيري له دغو شرائطو څخه يو شرط نه وي ذبيحه حرامه ده:

۱_ په ماشين سره ذبح کونکی سړی به مسلمان يا نصراني يا يهودي وي.

۲_ د ماشين چاړه د حيوان غاړي ته د رسېدلو په وخت کي هغه يوازي د الله ﷻ نوم (بسم الله او الله اکبر) واخلی مخکی ذکر سوه چي يوازي بسم الله ويل هم کافي ده بلکي د شيخ الاسلام ابو الحسين علی السغدی رحمه الله په آند همدغه بهتره دي.

۳_ دا چاړه چي د څومره حيوانانو پر غاړه په يوه وخت کي ايښودل سوي وي هغه به يوې خوا ته جلا وي نور حيوانان پر کومو چي چاړه ورروسته لګېدلی وي او هغه د مردار په حکم کي وي د هغو غوښي به له اولو حيوانانو سره نه وي ګډي سوي مګر ظاهره خبره ده چي دباندي رتلونکو او په مختلف علاقو کي د اوسېدونکو مسلمانانو له پاره په دې شرائطو ځان خبرول څه آسانه کار نه دئ له دې امله ځان ورڅخه ساتل ښه خبره ده. والله ﷻ اعلم.

د ماشيني ذبح په هکله د نور تفصيل له پاره لاندي کتابونه وګورئ: (احکام الذبائح، وجديد فقهی مسائل، جلد دوهم، وجديد معاملات کی شرعی احکام، جلد سوم، ومنتخبات نظام الفتاوی: ۱/ ۳۶۹و ۴۰۴- ۴۰۷، وحلال وحرام، ص ۱۳۷- ۱۴۴).

دوهم قول: دوهمه رايه د مفتي محمود صاحب شيخ الحديث مدرسه قاسم العلوم ملتان ده د هغه تفصيلي فتوی دا ده:

وايي، زما مهربانه، زه پوهېږم چي بټن کښېکښونکی هم مسلمان وي او د بټن کښېکښو په وخت کي بسم الله هم ووايي، بيا هم دا په ماشين رواج سوي ذبح ته حلاله ذبيحه نه سي ويل کېدلای بلکي هغه مرداره ده.

ته دې ته وګوره چي بټن کښېکښونکی خو يوازي دومره وکړه چي د برقي طاقت او ماشين په منځ کي چي کوم تعلق پرې سوي وه او د هغوی په منځ کي چي کوم مانع وه هغه يې لېري کړه او بيا يې تعلق سره ورجوړ کړ او بس په اصل کي ماشيني چاړه چلونکی او د حيوان غاړه پرې کونکی برقي کرنټ وي نه د مسلمان لاسي قوت او دا غاړه پرې کول د برق او ماشين کار وي د دغه مسلمان کار نه وي.

په ذبح اختیاري کي د ذابح (ذبح کونکی) کار یعني په خپل لاس سره د غاړي پرې کول او
هغه د حرکت موثر کېدل شرط دي او دلته خو د بټن کښېکښونکی کار پر ته له دې چي يو مانع لیرې
کړي، نور هيڅ نه سته د مانع په لېري کولو سره د ذبح د کار نسبت رافع (لېري کونکی) ته ځنګه
کېدلای سي او دې ته ذبح کوونکی څنګه ویلای سي.

د دې مثال داسي دئ لکه يو مجوسي چي چاړه په لاس کي را واخلی او يو حيوان ذبح کوي، خو
بل څوک يې لاس ونيسي او له ذبح کولو څخه يې منع کړي اوس يو مسلمان سړی بسم الله، الله اکبر
ووايي او د منع کونکی لاس کش کړي د مجوسي لاس ورڅخه خلاص کړي او هغه مجوسي فوراً
حيوان پر غاړه چاړه تېره کړي، نو آيا دا ذبيحه حلاليږي؟

ګوره په دې مثال کي د مانع لېري کولو کار يو مسلمان کړی دئ او په بسم الله سره يې ذبح کړې ده
او په هغه کي د ذبح اهليت هم سته مګر خو اهل ذبح کونکی چي حرکت يې موثر دئ هغه مجوسي
دئ، نو ځکه لازماً هغه اصل محرک ته کتل کيږي او پر دې ذبيحه د حرمت حکم لګوول کيږي او د
مانع لېري کونکی د کار هيڅ اعتبار نه سته.

۲_ همدا رنګه که چيري يو تېره شی مثلاً لکه چاړه لوړ په رسۍ وتړل سي او را ځوړنده وي له
دې سره برابر لاندي چرګ يا مرغومي يا يو بل حيوان ودرول سي اوس که چيري يو مسلمان رسۍ پرې
کړي او هغه تېره شی لاندي په خپل طبعي درنښت سره را وغورځيږي او د هغه حيوان غاړه پرې
کړي، نو آيا دا ذبيحه به حلاله وي او دا ذبح به د هغه مسلمان طرف ته منسوب سي او ده ته به حيوان
حلالونکی او حيوان ته به د مسلمان ذبيحه وويل سي که چيري په دغو دواړو مثالو کي دغه ذبيحه
حلاله نه وي او يقيناً حلاله نه ده، نو پر ماشيني ذبح څنګه د حلال والي حکم لګول کيږي او په دې
دواړو کي فرق څه شی دئ.

بله د غور کولو خبر دا ده که چيري دا حقيقت صرف نظر وګرځول سي او د يو ساعت له پاره ومنل
سي چي بټن کښېکښل يو موثر او اختياري کار دئ، نو د بټن کښېکښنو کار خو د بټن له کښېکښلو
سره پای ته رسېږي د ماشين په چلولو او غاړه پرې کولو کي خو د هغه هيڅ کار نه وي ماشين چليږي
او غاړي پرې کيږي تر غاړه پرې کولو مخکي د هغه کار خلاص سي.

په دې صورت کي خو په ذبح اضطراری کي شرعاً روا دئ چي د غشي غورځولو په وخت کي د
رامی غشي غورځونکی کار ختميږي او د غشی لګېدلو په وخت کي په ظاهره د هغه څه کار نه وي

پاته مګر خو په دې صورت کې شريعت د اضطراري عذر په خاطر د غشي لګېدو نسبت رامي (غشي وشتونکی) ته کړي دي او دغه ويشتونکی يې ذبح کونکی بللی دئ په اصل کې د هغه کار يوازې رمی يعنی ويشتل دي او د غشي لګېدلو په وخت کې د رامي (ويشتونکی) اهليت پاته کېدل هم ضروري نه دي که چيرې د ويشتلو په وخت کې په هغه کې اهليت ؤ.

امام ابو بکر کاساني رحمه الله په بدائع الصنائع کې ليکي:

ولو رمى أو أرسل وهو مسلم ثم ارتد أو كان حلالًا فأحرم قبل الإصابة وأخذ الصيد يحل ولو كان مرتدا ثم أسلم وسمى لا يحل ؛ لأن المعتبر وقت الرمي والإرسال كما بينا فتراعى الأهلية عند ذلك . (بدائع الصنائع: ۴/ ۱۷۲، ط: احياء التراث العربى).

همدا ډول په هدايه کې راځي:

ولأن الكلب والبازى آلة والذبح لايحصل بمجرد الآلة إلا بالاستعمال وذلك فيهما بالإرسال فنزل منزلة الرمى وإمرار السكين. (الهداية: ۴/ ۵۰۰).

د ذبح اضطراري او ذبح اختياري بنيادي فرق دا دئ چې په ذبح اختياري کې د چاړې پر غاړه تېرول او چلول اصل ذبح ده او په ذبح اضطراري کې شريعت له نظره د غشی ويشتل او د تعليم يافته حيوان پر ېښول د ذبح قائم مقام دئ.

وګورئ: امام شافعی رحمه الله هم په ذبح اختياري کې ((فعل انسانی)) شرط بولی.

په کتاب الام کې راځي:

الذكاة وجهان وجه فيما قدر عليه الذبح والنحر وفيما لم يقدر عليه ما ناله الإنسان بسلاحٍ بيده أو رميه بيده فهي عمل يده أو ما أحل الله عز وجل من الجوارح المعلمات التي تأخذ بفعل الإنسان كما يصيب السهم، فأما الحفرة فإنها ليست واحدًا من ذا كان فيها سلاح أو لم يكن ولو أن رجلاً نصب سيفًا أو رمحًا ثم اضطر صيدًا فأصابه فذكاه لم يحل أكله لأنها ذكاة بغير قتل أحدٍ . (كتاب الام: ۲/ ۱۹۸).

او په دې کې شک نه سته چې په برقي ماشین سره د کوم حیوان غاړې پرې کیږي دا نه د انسا
کار دی او نه په دې کې د هغه د لاس څه دخل سته، نو ځکه یو لږ عقل لرونکی سړی دې ته د انسان ذ
نه وایي، له دې امله دې ته ماشیني ذبیحه وایي.

نو ځکه زه له مفتي محمد شفیع صاحب څخه مؤدبانه درخواست کوم چې هغه پر دغه فتوی
دوهم ځل له پاره نظر وکړي او اصلاح یې وکړي. (فتاوی بینات، جلد چهارم، ص ۵۴۰- ۵۴۵، کتار
الذبائح والا ضحیه).

لنډه دا چې د مفتي محمود صاحب په آند شرعي ذبح نه ده سوې او صحیح قول همدغه دئ مړ
هم له دې فتوی سره متفق یو له دې امله له ماشیني ذبح څخه په ټینګه ځان ساتل لازم او ضروري دی
او د فتاوی مفتي محمود صاحب ملتاني په مقدمه کې لیکلي دي چې حضرت مفتي محمد شفیع ل
خپلې دې فتوی څخه رجوع وکړل.

د ماشیني ذبح له شک وتلی صحیح متبادل صورت:

له دې ماشین څخه دې چړې وایستل سي د دې پر ځای دې څو مسلمانان یا اهل کتاب مقرر کړ
چې کله چرګان د دوی مخکې تېرېږي له دوی څخه دي هر یو په خپل وار سره پر هره چرګه بسم الله
وایي او په شرعي طریقه دې ذبح کوي.

یادونه: په ماشیني ذبیحه کې څو نوري خرابۍ هم سته لکه د برق په کرنټ سره بې هوښه کېدل
د پاکۍ یا یو بل شی له پاره په ګرمو اوبو کې اچول وغیره، خو د ((د چرګانو د ذبح د ماشین حکم))
تر بحث لاندې دا په ښه تفصیل سره تېر سوه، نو د بحث د اوږد والي له بېرې دوهم ځل ذکر کول
مناسب نه دي که چیرې څوک د دې تفصیل غواړي، نو هلته دې وګوري. والله ﷻ واعلم.

د حضرت مفتي محمود صاحب پر فتوی اشکال او د هغه جواب:

اشکال: ځینو خلک د مفتي محمود صاحب پر فتوی دا اشکال کوي چې مفتي صاحب دا ویلي
دي چې ماشین خپله کار کوونکی دئ او انسان یوازې مانع لېرې کوونکی دئ، لهذا دا د ماشین ذبیحه
ده د انسان نه ده، نو ځکه دا حرامه ده او فقهاء کرامو په اور سره ذبح منلې ده او د دې دحلت فتوي یې
ورکړې ده حال دا چې دلته هم انسان یوازې د اور رسولو کار کوي، نور د ذبح کار اور کوي کوم چې د
انسان د عمل په منځ کې حائل واقع سوی دئ له دې سره سره فقها کرامو د ذبیحې د حلال والی فتوی
ورکړې ده؟

الجواب: د حضرت مفتي محمود صاحب په مخ کي چي کله دغه اشکال وړاندي سو حضرت مفتي صاحب وخندل او وې ویل چي دا خو عجبه خبره ده چي یو حیوان ودرول سي او اور بل کړل سي په دې سره دي حیوان ذبح سي په دې سره خو حیوان سوځي رګونه یې هیڅکله نه پرې کیږي او فقهاء کرامو چي کومه په اور سره د ذبح کولو فتوی ورکړې ده د دې مطلب دا دي چي یوه پخه اوسپنه په اور کي ښه سره کړل سي او بیا د حیوان پر غاړه تېره سي، نو د حیوان ټوله رګونه په دې سره پرې کیږي او صحیح ذبیحه کیږي.

دا واقعه حضرت مفتي ولي حسن صاحب بیان کړله، علامه یوسف بنوري رحمه الله همدغه جواب صحیح وګڼي. والله تعالیٰ اعلم.

په ستن سره د ماهي د ښکار حکم

سوال: ځینو خلک وایي، چي د ماهۍ د ښکار له پاره په مزي پسي ستن لګول د هغوی له پاره عذاب دئ، نو ځکه دا ناروا دي؟

الجواب: د ماهۍ د ښکار له پاره د ستن لګول له پخوا زمانې څخه مشهور او روا دي، فقهاء کرامو له څه ویلو او انکار کولو پرته د دې ذکر کړی دئ:

په شرح تحفة الملوک کي یې وګورئ:

ولو نصب شبكة فوقع فيها صيداً أو رمى («حديدة معقوفة مخصصة لصيد السمک» وهو بالفتح والكسر شيء يصادبه السمک) فتعلقت به سمكة. فاضطربا أى تحركا حتى انقطعت الشبكة، وخيط الشص فخلصا أى وصل أحدهما إلى الآخر فصادهما آخر فهما له. (شرح تحفة الملوک مع التعليقات: ۲/ ۱۷۳۲).

د عبارت مطلب دا دي چي که چیري یو چا د ښکار له پاره جال یا ستن ولګول او په هغه کي یو ماهۍ بند سو بیا بل ماهۍ راغلی او له دغه اول ماهۍ سره بند سو بیا دواړه خلاص سول او یو بل سړی دواړه ټېنګ کړل، نو دا دواړه ماهیان د دوهم سړی حق کیږي.

په پورته ذکر سوی عبارت کي په ستن سره د ښکار کولو صراحت او جواز لیکل سوی دئ، د منية الصيادين له عبارت څخه هم جواز معلومیږي.

عبارت یې وګورئ:

وفی الخلاصة: الشص (وهو حديدة عقفاء يصاد بها السمک) إذا رمى به الرجل في الماء، فتعلق به السمک: إن رمی به خارج الماء فی موضع يقدر علی أخذه، فاضطرب فوقع فی الماء، ملکه، فليس لرجل آخر أخذه بالاصطياد، وإن انقطع الحبل قبل أن يخرجه من الماء، لا يملکه.

ولو لدغت سمکةً حية فی الماء وقتلتها، أو أصابتها حديدة، أو أکلت شيئاً ألقاه فی الماء، أو قتلها شيء من طير الماء أو غيره، تؤکل، لأنها ماتت بسبب. (منية الصيادين، ص ۱۳۷، ۱۳۸، الفصل الثالث فی بيان صيد البحر واحکامه).

په فتاوی رشیدیه کي راځي:

سوال: يو چينجي چي نوم يې ګهينسا دئ هغه چي ميده ميده سي او له ستن سره يو ځای سي د ماهی ښکار په کيږي، آيا داسي ښکار کول او د دې ماهی خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: لوړی دي هغه مړ کړي بيا دي ټوټې ټوټې کړي، نو له ستن سره يې يو ځای کړل روا دي او د ژوندي يو ځای کول منع دي ځکه چي ذی روح شی ته تکليف ورکول مکروه تحريمي دي، له دې عبارت څخه معلوميږي چي د ماهی د ښکار له پاره د ستن استعمال روا دئ او په دې کي حيوان ته عذاب هم نه سته. والله ﷻ اعلم.

د غير ماکول اللحم حيوان د ښکار حکم

سوال: ځينو خلک د ښکار له پاره ځي او بيا د زمرئ، پړانګ، لېوه او داسي نورو حيواناتو ښکار هم کوي او دا حيوانان خو حرام دي، خو له دې څخه مقصد د هغه پوست يا د بدن بل شی وي، نو آيا د دې حيوانانو د ښکار کولو شرعاً اجازه سته او که نه؟

الجواب: ښکار کول روا دي که د ماکول اللحم حيوان وي که د غير ماکول اللحم وي، که چيري د ښکاري د ښکار څخه شرعاً يو روا غرض مقصد ؤ مثلاً لکه د ماکول اللحم حيوان غوښه خوړل مقصد ؤ او د غير ماکول اللحم وربښتان، پوست، ښکر، يا هډوکي وغيره مقصد ؤ يا يوازي د ضرر دفع کول مقصد ؤ، نو بيا د ښکار کولو اجازه ورته سته، البته يوازي د لهو لعب او وخت تېرولو له پاره ناروا دي.

په هدایې کې یې وګورئ:

قال ويجوز اصطياد ما يؤكل لحمه من الحيوان ومالا يؤكل لإطلاق ما تلونا (أي: وإذا حللتم فاصطادوا)، والصيد لا يختص بمأكول اللحم قال قائلهم:

** صيد الملوك أرانب وثعالب ** وإذا ركبت فصيدي الأبطال **

ولأن صيده سبب للانتفاع بجلده أو شعره أو ريشه أو لاستدفاع شره وكل ذلك مشروع.

(الهداية: ۴/ ۵۱۵، كتاب الصيد).

وفي رد المحتار: قوله لنفع ما أي ولو قليلاً، والهرة لومؤذية لاتضرب ولاتفرك أذنها بل تذبح. (رد المحتار: ۶/ ۴۷۴، سعيد).

وللاستزادة انظر: (البحر الرائق: ۸/ ۲۳۱، وكوئته، والجوهرة النيرة: ۲، امداديه، واللباب في شرح الكتاب: ۴/ ۵۵۸، وتبيين الحقائق: ۵/ ، وفتح القدير: ۹/ ۱۳۴، دار الفكر، ومجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر). والله ﷻ اعلم.

د غلا د حیوان ذبح کولو حکم

سوال: که چیرې یو سړی د غلا حیوان په بسم الله سره ذبح کړي، نو ذبیحه یې حلاله ده او که نه؟ د دې خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: د غلا سوي حیوان په بسم الله سره ذبح کول ذبیحه نه حرامه وي بلکې ذبیحه حلاله ده، هو پر سارق تاوان ورکول واجب دي چې دی به مالک ته د دې قیمت ورکوي له دې شخه وروسته د دې ذبیحې خوړل بل چا ته ورکول ټول روا دي، خو تر تاوان ورکولو مخکې د دې خوړل یا بل چا ته ورکول دواړه ناروا دي یا مالک د قیمت اداء کول وځنډول یا یې له قیمت څخه بالکل بری کي، نو بیا یې هم د خوړلو او یا چا ته د ورکولو اجازه سته.

په فتاوی هندیه کې یې وګورئ:

ولو أن رجلًا أخذ شاةً لرجلٍ بغير إذنه فذبحها وطبخها أو شواها كان لصاحبها أن يضمنه القيمة فإن كان صاحبها غائبًا أو حاضرًا لا يرضى أن يضمنه لم يسع للذي ذبحها وشواها أن يأكلها ولا يطعم منها أحدًا ولا يسع أحدًا أن يأخذها منه حتى يضمن الذي صنع بها ذلك قيمتها لصاحبها فإن ضمنه صاحبها قيمتها بقضاء قاضٍ أو بغير قضاء قاضٍ وسعه أن يأكل منها وأن يطعم من أحب إذا أدى القيمة أو كانت دينًا عليه وإن لم يضمن القيمة فليتصدق بها. (الفتاوى الهندية: ٥/ ١٤٠، الباب الثامن فى تملك الغاصب المغصوب والانتفاع به).

لنډه دا چې تر څو پورې مالک قیمت وانخلي تر هغو پورې له دې حیوان څخه هر ډول نفع اخیستل ناروا ده، هو که چیري قیمت اداء کړي او مالک یې په ښه ورین تندي سره قبول کړي، نو بیا یې خوړل او بل چا ته ورکول ټول روا دي.

په محیط البرهاني کي راځي:

وروي عن أبي حنيفة رضي الله عنه في الشاة المغصوبة: إذا ذبحها وشواها، لم يسع له أن يأكلها، ولا يطعم أحداً حتى يضمن، وإن كان صاحبها غائباً، أو حاضراً لايرضى بالضمان لا يسع له الأكل، وإذا دفع الغاصب قيمتها حل له الأكل؛ لأن حق المالك صار موفى بالبدل، وكذلك إذا أبرأه أصلاً؛ لأن حقه سقط بالبراءة، وكذلك إذا ضمنه المالك القيمة، أو ضمنه الحاكم؛ لأن الحاكم لا يضمنه إلا بعد طلبه فكان راضياً به. (المحيط البرهانى: ٦/ ٢٧٢، الفصل التاسع فى تملك الغاصب المغصوب، والانتفاع به). والله ﷻ اعلم.

د بل په ځمکه کي د ښکار کولو حکم

سوال: که چیري د چا په ځمکه کي هوسی یا کوتره اوسېږي یا یې هلته تګ راتګ وي، آیا یو سړی ته دا روا دي چي د دې سړی له ځمکي ښکار وکړي او که روا نه دي؟ یعنی که چیري یو بل سړی د ځمکي د مالک له اجازې څخه پرته دغه ښکار وکړي، نو هغه د دې ښکار مالک کېدلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که چیرې د مځکې مالک خپله مځکه د دې له پاره جوړه کړې وي چې هوسۍ یا کوتره پکښې ونیسي یا د مځکې مالک ته دومره نژدې ؤ که چیرې هغه خپل لاس ور اوږد کړي، نو ښکار ته مالک نه دی کوم چې ښکار وکړي: نو ښینګولای سي بیا دغه ښکاري د ښکار مالک نه سي ګرځېدلای که داسي نه وي بیا یې مالک ګرځي:

په در مختار کې یې وګورئ:

(ولو فرخ طير أو باض في أرضٍ لرجلٍ أو تكسر فيها ظبي) أي انكسر رجله بنفسه ، فلو كسرها رجل كان للكاسر لا للآخذ (فهو للآخذ) لسبق يده لمباحٍ (إلا إذا هيأ أرضه لذلك) فهو له (أو كان صاحب الأرض قريبًا من الصيد بحيث يقدر على أخذه لو مد يده فهو لصاحب الأرض) لتمكنه منه ، فلو أخذه غيره لم يملكه. وفي رد المحتار: قوله أو تكسر، وقع فى الكنز تكنس.... قوله إلا إذا هيأ أرضه لذلك، إلخ أي بأن حفر فيها بئرًا ليسقط فيها أو أعد مكانًا للفراخ ليأخذها فتح لأن الحكم لا يضاف إلى السبب الصالح إلا بالقصد بحر، قوله أو كان صاحب الأرض قريبًا، إلخ، ظاهره أن سبب الملك أحد شيئين : إما التهيئة أو القرب ، ومقتضاه أنه لو خرج الصيد من أرضه المهيأة قبل قربه منه يبقى على ملكه فليس لغيره أخذه.... الخ. (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۲۳۳، باب المتفرقات، سعيد). وكذا في: (البحر الرائق: ۲/ ۲۳۷، باب العشر، ط: كوئته، والمبسوط للامام السرخسى:۱۱/ ۴۵۴، بيروت، والمحيط البرهانى:۵/ ۶۲۵، ط: التراث العربى، والفتاوى الهندية: ۵/ ۴۱۸).

په تحفة الملوک کې راځي:

ومن أخذ صيداً، أو فراخه، أو بيضة من دار رجل، أو أرضه فهو له، أى للآخذ، لأنه مباح سبقت إليه يده فهو أولى به لقوله صلى الله عليه وسلم: « الصيد لمن أخذه».... إلا أن يغلق الباب لإحرازه فحينئذ يملكه لأن الحكم عند القصد يضاف إلى السبب وعلى هذا لو حفر

رجل في أرضه حفيرة فوقع فيها صيد فجاء رجل وأخذه فهو له إلا أن يتخذ صاحب الأرض تلك الحفيرة لأجل الصيد، ذكره محمد. (شرح تحفة الملوک لمحمد بن عبد اللطيف ابن ملک: ۲/ ۱۷۳۲).

لنډه دا ده که مځکي والا د ښکار د حفاظت له پاره څه انتظام کړي وي، نو هغه يې مالک دئ. بل څوک يې نه سي اخيستلای او که چيري هغه د حفاظت او ساتني څه انتظام نه وي کړي بيا يې ښکاري مالک ګرځي. والله ﷻ اعلم.

د سر پرې سوي مرغه د ذبح حکم

سوال: يو سړی په ګولۍ سره مرغه وويشتي خو بسم الله يې پرې ويلي نه ده د مرغه غاړه پرې سول، لږ پاته وه پر هغه يې بسم الله وويل او چاړه يې پرې تېره کړه آيا د دې ذبح شرعاً څه اعتبار سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري د ذبح ځای يعنی د حلق څلور رګونه پاته وي او بسم الله پر ووايي څلور سره رګونه پرې کړي، نو ذبيحه حلاله ده که داسي نه وي، نو د دې ذبح په شريعت کي هيڅ اعتبار نه سته ذبيحه حرامه ده:

په فتاوی شامي کي راځي:

شاة قطع الذئب أو داجها وهي حية لاتذكى لفوات محل الذبح، ولو انتزع رأسها وهي حية تحل بالذبح بين اللبة واللحيين. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۰۸، سعيد). (وكذا في الفتاوى البزازية على هامش الهندية: ۶/ ۳۰۸، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۱).

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: پر مرغه د ګولۍ وار داسي ونښتي چي غاړه يې پرې سوه د سر يې نوم ونښان نه سو پاته، خو بيا يې هم د غاړې په برخه کي ذبح کړه څه وينه هم تر توي سول، آيا دا ذبيحه شرعاً صحيح ده او که نه؟

جواب: که چيري دغه لوړ رګونه پاته ؤ يعني د غاړې دومره برخه پاتول په کومه کي چي دغه رګونه وي او بيا يې ذبح کړي، نو دا ذبيحه صحيح ده که څه هم سر يې پرې سوی وي که چيري دغه

رګونه پاته نه وي يعني د غاړي دومره برخه هم پاته نه وي په کومه کي چي دغه رګونه وي، نو بيا دغه ذبيحه صحيح نه ده.

په فتاوی رحيميه کي راځي:

که چيري مرغه ژوندی وي او د غاړي يې دومره برخه پاته وي چي ذبح کېدلای سي، نو ذبح کول او خوړل يې روا دي، خو د پرې سوي سر خوړل روا نه دي او که له سر سره تهوله غاړه پرې سوي وي د ذبح کولو ځای يې پاته نه وي، نو ذبح کولو ته يې هيڅ لاره نه سته د دې خوړل حرام دي. والله ﷻ اعلم.

په يوه بسم الله سره د ډېرو چرګانو د ذبح کولو حکم

سوال: په دې نژدې زمانه کي زه د چرګانو يو حلال ځای ته ولاړم چي په هغه کي تقريباً په يوه دقيقه کي (۱۴۰) چرګان ذبح کېدل، د دې طريقه دا وه چي چرګان په ځنځير سره تړلی د مسلمانانو ذبح کوونکو مخکي په ترتيب سره راتلل او تقريباً (۵) مسلمانانو په ډېره چټکتيا سره بسم الله ويل او دغه چرګان يې په خپلو لاسونو ذبح کول، خو کله کله داسي هم کېدل چي د تلوار له امله دوه يا زيات چرګان په يوه بسم الله سره ذبح کېدل اوس پوښتنه دا ده چي آيا په دې صورت کي په يوه بسم الله سره دوه يا زيات چرګان حلالېږي او که نه؟ آيا يوه بسم الله د څو چرګانو له پاره کافي ګرځي او که نه؟ دا دي هم په نظر کي وي چي دا کله کله پېښېږي، د کمپنۍ مالک وايي، چي دا تيزي نه سو کمولای ځکه چي په تجارت کي تاوان راځي او دا حلال ځای په ډېر لوی مقدار سره چرګان تيار وي؟

الجواب: په دې صورت کي پر هر چرګ جلا جلا بسم الله ويل ضروري دي که چيري د تلوارې له امله پوره بسم الله او الله اکبر نه سي ويلای، نو يوازي بسم ويل هم روا دي مګر که چيري يو چرګ بې بسم الله ذبح سي هغه د مردار په حکم کي دئ که په تېزي او چټکتيا کي کمي نه سي کولای بيا دي د ذبح کونکو شمېر زيات کړي چي ذبيحه يې له شريعت سره سمه وسي:

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما شرائط ركن الذكاة فأنواع... ومنها التسمية حالة الذكر عندنا... ومنها أن يريد بها التسمية على الذبيحة. أما وقت التسمية فوقتها في الذكاة الاختيارية وقت الذبح. (بدائع الصنائع: ۵/ ۴۶، ۴۸، سعيد).

په النتف فى الفتاوى كي راځي:

والأحسن أن يقول: بسم الله. (النتف فى الفتاوى، ص ۱۴۸، كتاب الذبائح، دار الكتب العلمية).

فتاوى قاضي خان كي راځي:

رجل أراد أن يذبح عدداً من الذبائح لاتجزيه تسمية واحدة على واحدة لما بعدها. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۶۸).

په در مختار كي راځي:

والمعتبر الذبح عقب التسمية قبل تبدل المجلس حتى لو أضجع شاتين إحداهما فوق الأخرى فذبحهما ذبحة واحدة بتسمية واحدة حلا، بخلاف ما لو ذبحهما على التعاقب لأن الفعل يتعدد فتعدد التسمية ذكره الزيلعي في الصيد. وفي رد المحتار: قوله لأن الفعل يتعدد، فيتبدل المجلس حكماً. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۲، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د شوق له پاره د ښکار حکم

سوال: په جنوبي افريقا كي ډېر خلک د رخصتي پر مهال د ماهيانو د ښکار له پاره ځي، زموږ په علاقه كي ځينو علماء كرامو دا وايي، چي دا ديو لوبي په ډول دي اصلاً يې ماهيان مقصد نه وي، نو ځكه دا ناروا دي، زه دا پوښتنه كوم چي دا خبره تر كومه ځايه سمه ده؟

الجواب: كه چيري ښکار يوازي د لهو لعب او وخت ضائع كولو له پاره نه وي، نو روا دئ وروسته كه يې استعمالول زړه نه غوښتل خيرات دي كړي له ښکار كولو وروسته يې خوړل ضروري نه دي:

په درمختار كي يې وګورئ:

الصيد مباح إلا للتلهى كما هو ظاهر.... وفى الشامية: استدل في الهداية على إباحة الاصطياد بعد استدلاله عليه بالكتاب والسنة والإجماع، وأقره الشراح .... في التاترخانية قال أبو يوسف: إذا طلب الصيد لهواً ولعباً فلاخير فيه وأكرهه، وإن طلب منه مايحتاج إليه من بيع أو إدام أوحاجة أخرى فلا بأس به. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۴۶۲، سعيد).

وفى البحر: ولأن الاصطياد سبب الانتفاع بجلده أو ريشه أو شعره أو لاستدفاء شره وكل ذلک مشروع. (البحر الرائق: ۸/ ۴۶۲، کوئته).

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي وايي:

كل لهو باطل إذا شغله أي شغل اللاهي به عن طاعة الله أي كمن النهي بشيء من الأشياء مطلقاً سواء كان مأذوناً في فعله أو منهياً عنه، كمن اشتغل بصلاة نافلة أو بتلاوة أو ذكر أو تفكر في معاني القرآن مثلاً حتى خرج وقت الصلاة المفروضة عمداً فإنه يدخل تحت هذا الضابط، وإذا كان هذا في الأشياء المرغب فيها المطلوب فعلها فكيف حال ما دونها. (فتح البارى: ۱۱/ ۹۱).

وقال أيضاً: وفيه إباحة الاصطياد للانتفاع بالصيد للأكل والبيع وكذا اللهو بشرط قصد التذكية والانتفاع. (فتح البارى:۹/ ۶۰۲).

په فتاوی هنديه کي راځي:

قتل الزنبور والحشرات هل يباح في الشرع ابتداءً من غير إيذاءٍ وهل يثاب على قتلهم ؟ قال لا يثاب على ذلك وإن لم يوجد منه الإيذاء فالأولى أن لا يتعرض بقتل شيءٍ منه كذا في جواهر الفتاوى . (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۶۱).

مفتي تقی عثماني صاحب په تکمله فتح الملهم کي وايي:

فالألعاب التی یقصد بها ریاضة الأبدان أو الأذهان جائزة فی نفسها ما لم تشتمل علی معصیة أخری وما لم یؤد الانهماک فیها إلی الإخلال بواجب الإنسان فی دینه ودنیاه. (تکملة فتح الملهم: ۴/ ۴۳۵، قبیل الرؤیا).

لنډه دا چي د ماهۍ یا یو بل حیوان د شوق له پاره ښکاره کول مباح مګر خلاف اولی دي نارو او حرام نه دي، تر څو چي کومه ګناه نه وي پکښي کي او د انسان دیني او دنیوي کارو ته څه نقصان پکښي نه وي، همدا ډول ښکا یوازي د لهو لعب او وخت ضائع کولو له پاره نه وي او ښکاري سوي حیوان له زخمي کولو وروسته په اوبو کي ایله نه کړي ځکه چي په دې کي حیوان ته بې ځایه تکلیف ورکول دي او کوم چي د فارم مالک یا لایسنس والا سړی له دې کار څخه ګټه وکړي هغه ګټه یې حلاله ده. والله ﷻ اعلم.

په فارم کي د ښکار کولو حکم

سوال: یو مسلمان سړی د فارم مالک دئ، یا حکومت هغه ته سرکاري فارم لیسنس ورکړی دئ، دغه سړی د ښکار اجازه ورکوي او د هغوی له پاره د ښکار انتظام کوي ښکاري کله د ماکول اللحم حیوان کله د غیر ماکول اللحم حیوان لکه زمری، پړانګ وغیره ښکار کوي او د هر یوه ښکار قیمت مالک یا لیسنس والا سړی اخلي، اوس پوښتنه دا ده چي د فارم مالک د هغو حیواناتو مالک جوړیږي او که نه؟ که چیري مالک وي، نو له قبضي پرته د هغه بیع څنګه روا ده او که یې له ښکاره وروسته خرڅ کړي، نو هوسۍ وغیره خو له ذبح وروسته یا د بسم الله ویلو وروسته خرڅولای سي مګر د زمری وغیره غیر ماکول اللحم حیوان خرڅول څنګه روا دي ځکه چي دا خو د مردار په حکم کي دي؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري دغه فارم د حیواناتو د جمع کولو له پاره جوړ سوي وي یا حکومت دغه حیوانات هلته در ولي وي یا یې د هغوی د تګ راتګ مخ بنده کړي وي، نو په دغو صورتو کي د فارم مالک یا لیسنس والا سړی د دغو حیواناتو مالک کېدلای سي او که یې مالک حکومت وي، نو دا سړی د مالک وکیل جوړیږي:

په عنایه شرح هدایه کي یې وګورئ:

وصاحب الأرض لم یعد أرضه لذلک إشارة إلی أنه لو إعدها لذلک بأن حفرها لیقع فیها أو بغیر ذلک مما یصاد به کان له. (العنایة فی شرح الهدایة: ۶/ ۲۵۷، مسائل منثورة، مکتبة رشیدیة).

په فتح القدير كي راځي:

وإن علم به أي الصيد وأغلق الباب عليه أو سد الكوة كان لصاحب الدار. (فتح القدير: ۶/ ۲۵۷، مسائل منثورة، مكتبة رشيدية).

په شرح تحفة الملوک کي راځي:

.... إلا أن يغلق الباب لإحرازه، فحينئذٍ يملكه لأن الحكم عند القصد يضاف إلى السبب وعلى هذا لو حفر رجل في أرضه حفيرة فوقع فيها صيد فجاء رجل وأخذه فهو له إلا أن يتخذ صاحب الأرض تلك الحفيرة لأجل الصيد، ذكره محمد. (شرح تحفة الملوک لمحمد بن عبد اللطيف ابن ملک: ۲/ ۱۷۳۲).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله د ماهيانو د خرڅولو په اړه د در مختار د يو اوږده عبارت له رانقلو وروسته ليکي:

لنډه دا که چيري دغه ځکه د ماهيانو د جمع کولو له پاره جوړه سوي وي، نو ماهيان د ځکي د مالک ملکيت ګرځي بل څوک يې د نيولو حق نه لري، همدا ډول که ځکه د دې له پاره جوړه سوي نه وي، خو د ماهيانو له ننوتلو وروسته يې د تګ راتګ لاره بنده کړي وه، نو بيا هم د ځکي د مالک ملکيت ګرځي له ذکر سوي عباراتو څخه معلوميږي چي د فارم مالک او حکومت د هغو حيواناتو مالکان دي مګر دا مقدور التسليم نه دئ له دې امله د ژوندو تښتيدونکو حيواناتو را کړه ورکړه صحيح نه ده او چي کله يې ښکاري ښکار کړي او ذبح يې کړي يا د ښکار کولو په وخت کي بسم الله پر ووايي، نو د حلال حيوان خرڅول روا دي، هو تر ښکار کولو مخکي دي د بيع وعده وکړي او تر ښکار وروسته دي وعده پوره کړي او پر مشتري دي خرڅ کړي او په دې وخت کي يې په قيمت کي له دې امله نزاع او جګړه نه راځي چي د هر حيوان قيمت له پخوا څخه معلوم وي او څنګه چي د ماکول اللحم حيوان غوښه خلکو ته مطلوب وي او دلچسپي يې ورسره وي، له دې امله مشتري هغه اخلي.

او د غير ماکول اللحم حيوان غوښه شرعاً او عرفاً نه خوړل کيږي خو په دې کي هم وعده په کار راځي ځکه چي مشتري او ښکاري ته د هغه پوست په کار وي، نو ځکه دی د فارم د مالک لخوا دا وعده ورکړل سي چي پوست له را ايستلو وروسته پر تا خرڅوم او بيا دي په مطلوبه قيمت سره

پوست خرڅ کړي، زمرى وغيره چي کله په ګولۍ وويشتل سي دم مسفوح تري او وزي د هغه پوست لکه مدبوغ پوست خرڅول يې روا دي:
په درمختار کي راځي:

قال في الدر المختار: وهل يشترط لطهارة جلده كون ذكاته شرعيةً بأن تكون من الأهل في المحل بالتسمية، قيل: نعم، وقيل لا، والأول أظهر؛ لأن ذبح المجوسي وتارك التسمية عمدًا كلا ذبحٍ، وإن صحح الثاني، صححه الزاهدي في القنية والمجتبى، وأقره في البحر . (الدر المختار: ١/ ٢٠٥، سعيد).

ذكر أنه في المعراج نقل عن المجتبى والقنية تصحيح الثاني ثم قال: وصاحب القنية هو صاحب المجتبى، وهو الإمام الزاهدي المشهور علمه وفقهه، ويدل على أن هذا هو الأصح أن صاحب النهاية ذكر هذا الشرط أي كون الذكاة شرعية بصيغة قيل معزياً إلى الخانية. (البحر الرائق: ١/ ١٠٦، كوئٹ، فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ١/ ٢٠).

يعني په غير شرعي ذبح سره د پوست پاکېدل اصح قول دئ او د ذبح شرعي شرط په قيل سره ذکر سوی دئ.

د شامي (١/ ٢٠٥، سعيد) له ذکر سوي عباراتو څخه معلومه سوه چي ذبح اختياري که چيري غير شرعي وي هم پوست يې پاکيږي، همدا ډول که ذبح غير اختياري وي يعني د غشي ويشتل يا د ګولۍ ويشتل غيري اختياري دي، نو که چيري دا غير شرعی وي يعني کافر له بسم الله پرته يا مسلمان له بسم الله پرته ويشتلي ؤ، نو د دې پوست پاکيږي او د مذبوح په حکم کي دئ خرڅول يې روا دي او د دې تفصيل په مخکي تېر سوي دئ، هلته يې وګورئ. والله ﷻ اعلم.

په فارم کي د داخله فيس اخستلو حکم

سوال: ښکاريان د ښکار فارم ته ځي هلته د ښکار کولو پر ځای نور ځايونه هم سته، د فارم مالک په هغه کي د داخلي فيس اخلي آيا دا فيس اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: په فارم کي خلک له ښکار او نورو ځایونو څخه ګټه اخلي او دا رواج دئ. نو ځکه په دې صورت کي له دوه وجه څخه فیس اخیستل روا دي:

لومړی وجه: که چیري موده او کرایه معلوم وي، نو په اجاره کي داخلیږي.

په شرح مجله کي یې وګورئ:

يشترط فى الإجارة أن تكون المنفعة معلومة بوجه يكون مانعاً للمنازعة. (شرح المجلة:۲/ ۵۳۲، للشيخ محمد خالد الاتاسى).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

عقد الإجارة لايجوز إلا أن يبين البدل من الجانبين جميعاً أما بيان المنفعة فبإحدى معان ثلاثة بيان الوقت وهو الأجل وبيان العمل وبيان المكان. (خلاصة الفتاوى:۳/ ۱۰۳).

د جواز دوهمه وجه: که اجاره ونه منل سي، نو بیا په تبرع مشروط کي داخلیږي او فیس اخیستل یې روا دي.

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني د داخلي فیس په تبرع مشروط او چنده کي شمېرلي دئ.

د مدرسي د داخله فیس په اړه پوښتنه ورڅخه وسوه، په جواب کي یې ورته وویل، چي روا دي ځکه چي دا اجرت نه دئ بلکي چنده ده او په چنده کي شرط لګول روا دي ځکه چي په دې کښي جبر نه راځي چا ته چي شرط د قبول وړ نه وي هغه ته د داخله نه کولو اختیار دئ.

ودليله أنه صلى الله عليه وسلم قال: لمن أضافه وعائشة رضى الله تعالى عنها قال: لا قال: فلا إذن، حتى قال فى الثالثة: وعائشة، قال: فنعم. (امداد الاحكام:۳/ ۶۰۶).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکریا، جلد شپږم، باب الاجارة وباب الهبة، تبرع مشروط). والله ﷻ اعلم.

د ښکار له پاره د ژوندو چینجو د استعمال حکم

سوال: ډېر خلک د ماهیانو د ښکار له پاره ژوندي چینجي استعمالوي چي د دې امله ماهیان ډېر په آساني سره ټینګیږي آیا یوازي د ماهیانو ټینګولو له پاره د ژوندو چینجو استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د ژوندو چینجو استعمالول روا نه دي بلکې هغه دي ووژنی بیا دې استعمال کړي ځکه چې په دې کې ژوندي حیوان ته تکلیف رسیږي کوم چې د شریعت له نظره دي:

په در مختار کې یې وګورئ:

ويكره تعليم البازى بالطير الحى لتعذيبه. (الدر المختار: ۶/ ۴۷۴، باب. الصيد، سعيد).

په عالمګیري کې راځي:

ويكره تعليم البازى بالطير يأخذه ويعذبه ولابأس بأن يعلم بالمذبوح. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۶۲).

د فتح الملهم په تکمله کې راځي:

وكل طريق أدى الحيوان إلى تعذيب أكثر من اللازم لإزهاق روحه فهو فى النهى ومأمور بالاجتناب عنه. (تكملة فتح الملهم: ۳/ ۵۴۰، باب الامر باحسان الذبح).

قال الحافظ فى الفتح فى باب مايكره من المثلة والمصبورة.... وفى هذه الأحاديث تحريم تعذيب الحيوان الآدمى وغيره. (فتح البارى:۹/ ۴۴۵، ط: لاهور).

په فتاوی رشیدیه کې راځي:

سوال: یو چینجي چې نوم یې ګیهنسا دئ هغه چې میده میده سي او له ستن سره یو ځای سي د ماهیانو ښکار په کیږي آیا داسي ښکار کول او د دې ماهی خوړل روا دي او که نه؟

جواب: لومړی دي هغه ووژنئ بیا دي ټوټې ټوټې کړي بیا یې له ستن سره یو ځا کول روا دي مګر د ژوندي یو ځای کول منع دي ځکه چې ژوندي حیوان ته اذیت رسول مکروه تحریمې دي.

په امداد الفتاوی کې راځي:

که چیري لومړی ووژل سي بیا په هغه سره ښکار وسي، نو روا دي.

دغه وخت یو ښکاري وویل، چې په وژل سوي سره هم همدغه سي ماهیان راځي. (امداد الفتاوی:۳/ ۵۵۷).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

که چیري ووژل سي او په ستن پسي وپیل سي ښکار په وسي، نو دا روا دي. د ژوندي حیوان په ستن پیل ناروا او ممنوع دي. والله ﷻ اعلم.

د نابالغ کوچني د ښکار حکم

سوال: که چیري نابالغ هلک ښکار وکړي، نو مور او پلار وغیره له دغه ښکار څخه خوراک کولای سي او که نه؟ که نابالغ هلک بسم الله ووایي، او ښه هوښیار وي، نو مور او پلار له دې څخه خوراک کولای سي او که نه؟ که د ماهۍ ښکار وکړي په کوم کي چي د بسم الله ویلو ضرورت نه سته له دې څخه یې خوړلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که نابالغ هلک په بسم الله ښه نه پوهیږي ښکار یې حلال نه دئ او د هیڅ چا له پاره یې د خوړلو اجازه نه سته، البته که نابالغ هلک هوښیار ؤ او ښه پوهیدئ، بسم الله یې هم زده وه او بسم الله ووایي، ذبح وکړي یا ښکار وکړي، نو ذبح او ښکار یې حلال دئ او د ماهۍ په ښکار کي د بسم الله ضرورت او حاجت نه سته بیا یې مور او پلار ته د عرف او رواج له امله اجازه سته چي وې خوري:

په فتاوی عالمګیري کي یې وګورئ:

ينبغي أن يكون الصياد من أهل الذكاة، وذلك بأن يعقل الذبح والتسمية حتى لا يؤكل صيد الصبي والمجنون إذا كانا لا يعقلان الذبح والتسمية. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۴۲۱).

په هدایه کي راځي:

إذا كان يعقل التسمية والذبيحة ويضبط وإن كان صبياً أو مجنوناً أو امرأة أما إذا كان لا يضبط ولا يعقل التسمية فالذبيحة لا تحل لأن التسمية على الذبيحة شرط بالنص وذلك بالقصد وصحة القصد بما ذكرنا. (الهداية: ۴/ ۴۳۴).

په تحفة الملوک کي راځي:

والصبي والمجنون، والسكران، إن كان يقدر على الذبح، ويعقل التسمية، حل وإلا فلا.

(تحفة الملوك، ص ۲۱۶، دار البشائر الاسلامية).

په در مختار کي راځي:

ویباح لو الدیه أن یأکلا من مأکول وهب له وقیل لا، فأفاد أن غیر الـمأکول لایباح لـهما إلا لـحاجة . وفی رد الـمحتار: قال فی التاتر خانیة: روی عن مـحمد نصاً أنه یباح: (الدر المختار مع فتاوی الشامی:۵/ ۶۹۶، سعید).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکریا، ابواب الهبة). والله تعالیٰ اعلم.

إبراز الدقائق
فى
حكم صيد
البنادق

ابراز الدقائق في حكم صيد البنادق

په توپک سره د ښکار حکم

سوال: په ښکاري توپک سره چې ښکار وسي او د ويشتلو په وخت کي بسم الله پر ووايي. آيا ښکار حلال دئ او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي د علماء کرامو اختلاف دئ چې په ښکاري توپک سره ښکار وسي او بسم الله هم پرې وويل سي او حيوان مړ سي د ذبح اختياري وخت پيدا نه سي، نو حيوان حلال دئ او که نه؟ د احاديثو، شروحاتو، فقهاء کرامو له عباراتو او د ځينو فقهاء کرامو له فتاواى څخه معلوميږي چې حلال دئ ځکه چې په ذبح اضطراري کي زخم، د ويني بهېدل او د ويشتلو په وخت کي بسم الله ويل دا شيان ضروري دي دا شيان چې کله موجود سي ښکار حلاليږي او په ښکاري توپک کي دا ټوله شيان سته، په دې کي زخم هم وي د ويني بهېدل هم پکښې وي او د دې شيانو تفصيل به نژدې ښه په وضاحت سره ذکر سي:

لاندې آياتونه او احاديث د شاهدې په ډول وګورئ:

قال الله تعالى: ﴿ فكلوا مما ذكر اسم الله عليه إن كنتم بآياته مؤمنين ﴾، (الانعام: ۱۱۸).

وقال أيضاً: ﴿ ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه وإنه لفسق ﴾ (الانعام: ۱۲۱).

عن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا أرسلت كلبک فاذكر اسم الله... وإذا رميت بسهمک فاذكر اسم الله... الخ. متفق عليه.

وعنه، قال: قلت يا رسول الله إنا نرسل الكلاب المعلمة قال كل ما أمسكن عليك قلت: وإن قتلن قال: وإن قتلن، قلت: وإنا نرمي بالمعراض قال: كل ما خزق وما أصاب بعرضه فقتل فإنه وقيذ فلا تأكل. (متفق عليه- مشكوة المصابيح: ۲/ ۳۷۵).

د حدیث شریف تشریح:

په احادیثو کي د ښکار په اړوند ځو الفاظ راغلی دي لکه ((سهم))، ((معراض))، ((خزق))، ((وقیذ)) وغیره ځکه چي د حلت او حرمت تعلق او اړه به دغو الفاظو پوري دي. نو ځکه د تمهید په ډول د دي الفاظو مختصر وضاحت لاندي وګورئ:

د معراض تعریف او د هغه ډولونه:

ملا علي قاري رحمه الله په مرقات کي وايي:

« قلت: إنا نرمی بالمعراض» هو السهم الثقيل الذي لا ريش له ولا نصل ذكره ابن الملک وهو كذا فی النهايه وفی المغرب سهم لا ريش عليه يمضی عرضاً فيصيب بعرض العود لا بحده وفی القاموس كمحراب سهم بلا ريش رقيق الطرفين غليظ الوسط يصيب بعرضه دون حده وقال النووی: خشبة ثقيلة أو عصا في طرفها حديدة وقد تكون بغير حديدة هذا هو الصحيح فی تفسيره وقال الهروی: هو سهم لا ريش فيه ولا نصل وقيل: سهم طويل له أربع قدد رقاق فإذا رمی به اعترض وقيل: هو رقيق الطرفين غليظ الوسط إذا رمی به ذهب مستوياً ويصح إرادة الكل كما لا يخفی ويدل عليه الجواب. (مرقاة: ۸/ ۱۰۹).

د خزق او نفذ تشریح:

قال: « كل ما خزق» أی نفذ ذكره السيوطی وفی النهاية خزق السهم أصاب الرمية ونفذ فيها وقال النووي: خزق معناه نفذ وقال بعض الشراح من علمائنا: الخزق الطعن وهو الظاهر ويؤيده ما فی القاموس: خزقه طعنه والخازِق السنان ومن السهام المقرطس وفيه رمی فقر طس أی أصاب القرطاس فالمعنی كل ما جرح وقتل وهو ما أصاب بحده. (مرقاة).

مولانا وحید الزمان کیرانوی په ((لغات الحدیث)) کي وايي:

«حزق »: وهل، نتوتل، آخوا وتل، ((کل ما خزق))الخ.

عدى بن حاتم رضي الله عنه وويل: يا رسول الله ﷺ! موږ په غشي سره په كوم ځي چې د اوسپيني نوک نه وي ((په عربي كي هغه ته معراض ويل كيږي)) ښكار كوؤ، نو نبي كريم ﷺ وويل: كه چيري هغه په حيوان كي د نوک له خوا ننوزي، نو خوره يې او كه د څوكي له خوا پرې ولګيږي او حيوان د هغه له لګېدو څخه مړ سي مه يې خوره.

عرب وايي: ((سهم خازق)) ننوتونكى غشي دي.

((لا تأكل من المعراض إلا أن يخزق)) د معراض ښكار مه خوره تر څو چي د نوک له خوا څخه نه ننوزي.

د موقوذه وضاحت او د هغه حكم:

« فإنه وقيذ » أي موقوذ مضروب ضرباً شديداً بعصا أو حجر حتى مات قال السيوطي: ما قتل بعصا أو حجر أو ما لا حد له قال النووي: والوقذ والموقوذ هو الذي يقتل بغير محدد من عصًا أو حجر وغيرهما واتفقوا على أنه إذا اصطاد بالمعراض فقتل الصيد بحده حل ، وإن قتله بعرضه لم يحل وقالوا: لا يحل ما قتله بالبندقة مطلقًا : لحديث المعراض وقال مكحول والأوزاعي وغيرهما من فقهاء الشام يحل ما قتل بالمعراض والبندقة.

وفي الشمني: روى أصحاب الكتب الستة عن عدى ابن حاتم قال: قلت يا رسول الله إني أرمي بالمعراض الصيد فأصيد قال: إذا أصاب بحده فكل وإذا أصاب بعرضه فقتل فلا تأكل فإنه وقيذ قال: ولأنه لا بد من الجراح ليتحقق معنى الزكاة وعرض المعراض لا يجرح ولذا لو قتله ببندقة ثقيلة ذات حدة حرم الصيد لأن البندقة تكسر ولا تجرح فكانت كالمعراض أما لو كانت خفيفة ذات حدة لم يحرم ليتقن الموت بالجرح فلو رمى صيداً بسكين أو بسيف إن أصابه بحده أكل وإلا لا ولو رماه بحجر إن كان ثقيلاً لا يؤكل وإن جرح لاحتمال أنه قتل بثقله وإن كان خفيفاً وبه حدة وجرح يؤكل ليتيقن الموت بالجرح والأصل هنا أن الموت إذا

حصل بالجرح بيقين يؤكل وإن حصل بالثقل أو شك فيه لا يؤكل حتماً أو احتياطاً . انتهى.

(المرقاة شرح المشكاة للعلامة القارى: ۸/ ۱۰۹، ط: امداديه، ملتان).

د ذبح اضطراري ركن او د هغه شرطونه

قال الإمام محمد فى « الزيادات » (۶/ ۲۱۱۸، ط: المجلس العلمى): الذكاة نوعان... واضطراري وهو الجرح مع التسمية ممن هو أهل الذكاة في أى موضع كان.

ثم التسمية فى الصيد تشترط عند الإرسال والرمي وهو على الآلة لأن المقدور هو الرمي والإرسال دون الإصابة فيشترط عند فعل يقدر عليه. (الهداية: ۴/ ۴۳۶).

وأما الاضطرارية فركنها العقر وهو الجرح في أي موضعٍ كان وذلك في الصيد وما هو في معنى الصيد وإنما كان كذلك ؛ لأن الذبح إذا لم يكن مقدورًا ولا بد من إخراج الدم لإزالة المحرم وتطييب اللحم وهو الدم المسفوح على ما بينا فيقام سبب الذبح مقامه وهو الجرح على الأصل المعهود في الشرع من إقامة السبب مقام المسبب عند العذر والضرورة ... الخ.(بدائع الصنائع: ۵/ ۴۳، سعيد).

أما الذكاة الاضطرارية فوقتها (أى التسمية) وقت الرمي والإرسال لا وقت الإصابة ؛ لقول النبي عليه الصلاة والسلام لعدي بن حاتمٍ رضي الله عنه حين سأله عن صيد المعراض والكلب إذا رميت بالمعراض وذكرت اسم الله عليه فكل إلى قوله ولا تقع التسمية على السهم والكلب إلا عند الرمي والإرسال فكان وقت التسمية فيها هو وقت الرمي والإرسال ، والمعنى هكذا يقتضي وهو أن التسمية شرط والشرائط يعتبر وجودها حال وجود الركن ؛ لأن عند وجودها يصير الركن علةً كما في سائر الأركان مع شرائطها هو المذهب الصحيح على ما عرف في أصول الفقه .

والركن في الذكاة الاختيارية هو الذبح وفي الاضطرارية هو الجرح وذلك مضاف إلى الرامي والمرسل وإنما السهم والكلب آلة الجرح والفعل يضاف إلى مستعمل الآلة لا إلى الآلة لذلك اعتبر وجود التسمية وقت الذبح والجرح وهو وقت الرمي والإرسال ولا يعتبر وقت الإصابة في الذكاة الاضطرارية ؛ لأن الإصابة ليست من صنع العبد لا مباشرةً ولا سببًا بل محض صنع الله عز وجل يعني به مصنوعه ، هو مذهب أهل السنة والجماعة ... الخ. (بدائع الصنائع فى الترتيب الشرائع: ۵/ ۴۹، سعيد).

إن شرط ذكاة الصيد: الجراحة وإسالة الدم. (احكام القرآن للامام الجصاص: ۲/ ۳۰۴).

د ذكر سوي عباراتو په رڼا كي دا خبر تر لمر ښكاره ده چي د غشي ويشتلو په وخت كي بسم الله وويل سي، نو ښكار حلال دئ، خو اصل خبره دا ده چي په ښكاري توپک سره ښكار سوي حيوان حلال دئ او كه نه؟ په دې كي د علماء كرامو اختلاف دي مګر د احاديثو له شروحو او د فقهاء كرامو له عباراتو څخه معلوميږي چي حلال دئ ځكه چي په ذبح اضطراري كي يوازي زخمي كېدل، وينه بهېدل او د ويشتلو په وخت كي بسم الله ويل دغه شيان ضروري دي، دا چي كله موجود سي ښكار حلال دئ او په توپک كي دا ټول شيان موجود وي، په دې كي زخم هم وي، وينه بهېدل هم وي او بيا د ملا علي القاري رحمه الله د تشريح په يوه جزئيه كي هم د توپک حكم داخليږي.

وايي: ((لو قتل ببندقة خفيفة ذات حدة لم يحرم لتيقين الموت بالجرح)) او كومه ګولۍ چي يوازي د ښكار له پاره وي د هغې هم څوكه تېره وي او د زخم جوړلای سي لكه څنګه چي ښكاريان وايي او پر كوم توپک چي علماء كرامو بحث كړی دئ هغه د هغې زماني توپک ؤ د دې زماني توپک مراد نه دي چي د دې تفصيل به هم نژدې ذكر سي.

په توپک سره د ښكار حلال والي د فقهاء كرامو د عباراتو او مفتيان كرامو د فتواؤ په رڼا كي:

۱_ د علامه شيخ محمد عابد سندى رحمه الله طوالع الانوار حاشية على الدر المختار والا يوه مستقله او جلا رساله په نامه د ((حلة المصيد بالبندقة الرصاصية)) سره شائع سوې ده، علامه د

جواز له فتوی نقل کولو سره سره د علامه ابن نجیم رحمه الله د فتوی جواب هم را نقل کړی دئ، د فائدي له پاره ې درته ذکر کوم:

شیخ رحمه الله وایي:

... فهی مسألة سئل عنها ابن نجيم صاحب البحر فأجاب فی فتاويه بالحرمة، بناء على أنـها موقوذة.

واقتدى به علامة السند الشيخ محمد هاشم السندی فعلى هذا لو أدركها وفيها حياة خفيفة وعجز عن التذكية بأن لـم يـجد آلة وضاق الوقت فماتت ففی متن الوقاية والتنوير إشارة إلى عدم حل أكلها كما نقله فی الدر المختار عن المنح، وهو المروى عن أبي حنيفة وأبي يوسف كما فی جامع الرموز والدرر.

وصرحا بأن ذلک خلاف ظاهر الرواية، لكن الذی يفهم من عبارة التنوير وغيره حل المجروحة بالبندق الرصاصي مطلقاً ماتت قبل إدراک الصائد أو بعده إن وجدت فيها حياة المذبوح، وذلک أنهم فرقوا بين البندقة الثقيلة والخفيفة فقالوا: ولوكانت خفيفة بها حدة حل لقتلها بالجرح حينئذٍ، ولو لـم يجرحه لاتؤكل مطلقاً، كذا فی الدرر.

وكذلک قال الشيخ المحقق عثمان الشامی مدرس المدينة المشرفة وعلامتها المرجع إليه فی الفتيا ومقتدی المشايخ فی وقته (م ۱۲۱۴ هـ) فی مؤلفاته سماه قوت القلوب فی الفقه شرحاً ومتناً فی آخر كتاب الصيد ما لفظه:

واعلم أن مدار حل الصيد حصول الجرح بأی شيء حصل الجرح كما أن شرط حل الذبيحة قطع أكثر العروق بأی شيء حصل القطع، ولو بنار، كما فی الحصكفی أو بليطة أو مروة كما فی المتون، فعلى هذا فما يقتل بالرصاصة يحل لأنه مقتول بالجرح كما لا يخفى

على أهل الدراية لأن الرصاصة تقتل الفيل وينفذ من جانب إلى جانب ومعلوم أن ذلک إنما يحصله بسبب الجرح الحاصل بحدة الرصاص الحاصلة من مس النار.

فإن النار من المحدد بقرينة أن من قتل شخصاً بالنار يقتص منه لأن النار تفرق البدن وهو المراد بقولهم المحدد فإذا كانت مفرقة كانت جارحاً لأن الجرح أثر التفريق، فثبت أن المقتول بالرصاصة مقتول بالجرح بالمحدد.

غاية ما فى الباب أن الحدة فى الرصاصة إنما حصلت بمجاورة النار في نفسها ولا تأثر لذلک لا أن القتل بالثقل، كما كنت أقول به أولاً، ويقول به بعض قاصرى الأذهان. ألا ترى أن الرصاصة لو خرت من السماء ووقعت على حيوان ما قتلته بثقلها لأن المراد بالقتل بالمثقل: القتل الحاصل بالدق إذا كانت البنية لا تحتمل الثقل والقتل بالرصاصة لايحصل بالدق بلا مرية وإنما اشتبه على بعض القاصرين من اشتراک المحدد فى اسم البندقة بما قالها لفقهاء من أن الصيد بالبندقة لايحل مرادهم بها الطين المدور الذى يرمى بالقوس فلا يفرق الأجزاء فيقتل الصيد بثقله حتى قالوا أيضاً لو كان للبندقة حدة وعلم أنه قتل بحدتها يحل وليس مرادهم بها الرصاصة أو أعم منها لما علمت أن العاقل لا يقول أن البندقة الرصاصية هى تقتل بثقلها لا بحدتها.

فمن يدعى أن الصيد مقتول بعمل الرصاصة لايلتفت إليه، لأنه إنكار المحسوس وخروج عن دائرة المعقول والمنقول.

فإن قلت: لم لم يتكلم الفقهاء على الرصاصة صريحاً؟

قلت: لأنها لم تكن فى زمانهم وإما هو شيء محدث بعد انقطاع عصرهم وقد صرحوا بحكمها فى قولهم ذكاة الاضطرار جرح فى أى موضع وقع بأى جارح كان والرصاصة

جارحة بسبب النار كما قد علمته وقد كنت قررت ذلک ولم أره ثم وجدته مكتوباً بهامش كتاب بعض الإخوان نقلاً عن بعض علماء مكة المشرفة فحمدت الله تعالى حيث لم انفرد بحل هذه المسألة، انتهى.

ونقل الشيخ أحمد حماد الحنفى علامة عصره من علماء جدة والعلامة خير الدين إلياس فى فتاويه وهو من علماء المدينة المشرفة كلاهما عن العفيف الكازرونى أنه قال فى فتاويه فى جواب من سأله عن المقتول ببندقة الرصاص فقال: أفتى العلامة ابن نجيم فى فتاوى بحرمة صيد بندقة الرصاص.

وفى شرح الهداية للعلامة العينى ما يفيد حله فتأمل، وعليه الفتوىٰ انتهى.

ثم إنى لما اطلعت على هذا المنقول راجعت البناية على الهداية للعلامة العينى فوجدت فيها ما لفظه: ولا خلاف فى سائر آلات الجراحة أنها إن قتلته بعرضها ولم تجرح لاتحل، وإن جرحت تحل، لأنها إذا لم تجرح فإنها تقتل بثقلها فأشبه ما أصاب بعرض المعراض انتهى.

ولعل هذا مأخذ العفيف. وقد سئل العلامة حسين بن على الطورى (وهو محمد بن الحسين بن على الطورى الحنفى م۱۱۳۸ھ، وله «الفواكه الطورية فى الحوادث المصرية) عن الصيد: ان قتل بالبندقة الرصاصية هل يحل ذلک الصيد أم لا؟ فأجاب بما حاصله أنه ذكر فى الكنز وما قتله المعراض أو البندقة حرم.

وفى الينابيع وإن رماه بالمعراض فجرحه أكل كيف ما أصابه وكذلک البندقة والحجر والعودة، ثم قال بعد هذين النقلين، فعلى هذا يحمل كلام صاحب الكنز على البندقة من الطين

وكلام الينابيع على البندقة من الرصاص ونقل عن المختار أنه قال: ولايؤل ما قتله البندقة والحجر والعصا والمعراض بعرضه فإن خرق الجلد بحده أكل.

ثم قال فهو موافق لما في الينابيع ثم قال أيضاً: أقول: في شرح الهداية للعلامة العيني ما يفيد حل مصيدة بندقة الرصاص فليراجع، انتهى ملخصاً.

وقد ذكر العلامة أبو السعود في طلاق فتح المعين حاشية المسكين أن الفتاوى الزينية لايوثق بها إلا إذا تأيدت بنقل ذلك عن مستقل شيخه علي.

حلية مصيدة الرصاص عولت في طوالع الأنوار شرحي على الدر المختار والله تعالى أعلم.

ياده دي وي چي علامه عابد انصارى سندي رحمه الله ډېر لوى محقق عالم دئ د فقه او حديثو ښه ماهر دي او زموږ د شيخ المشائخ حضرت شاه عبد الغنى مجددي رحمه الله شيخ او استاذ دئ او د علامه شامي رحمه الله هم عصر دئ، شيخ سائد بكداش پر (۵۶۰) صحفاتو مشتمل يو كتاب په نامه د ((الإمام المحدث الشيخ محمد عابد السندي الانصاري رئيس علماء المدينة المنورة في عصره)) د هغه پر حالاتو ليكلي دئ.

۲ _ د دمشق، شام د مفتي علامه شيخ محمود بن محمود الحمزاوي الحنفي الحسيني رحمه الله تفصيلي فتوى چي په نامه د ((فتوى الخواص في حل ما صيد بالرصاص)) سره شائع سوې ده د فائدې په خاطرې درته ذكر كوم، په دې رساله كي د ټولو اشكالاتو حل هم موجود دئ او د ټوپک پر ښكارېې ډېر ښه تحقيق كړى دئ، خداى تعالى دي هغه ته د ټولو مسلمانانو له خوا ښه اجر او ثواب وركړي. آمين.

هغه رحمه الله وايي:

قال: وقد سئلت عن مأكول اللحم من الطير وغيره إذا سمى الصياد ورماه بالرصاص، أو ما يسمونه: الخردق (كلمة أصلها من التركية عن الفارسية: خرده، وأصل معناه: الصغير من القطع المعدنية وغيرها، ثم استعمل لدى اختراع السلام الناري في حب الرصاص الصغير، والواحدة: خردقه)

فوقع ميتاً، ولـم يتأخر الصياد عن طلبه، فهل يقوم الـجرح مقام ذكاته كالسهم أم لا؟ أفيدونا مأجورين.

فأجبت: الـحمد لله وحده، نعم يقول الـجرح مقام ذكاته، ولا فرق بين ما رمى بالرصاص أو الـخردق، وما رمى بالسهم، كما أفتى بذلک مفتی السلطنة علی أفندی، والـمسألة في فتاويه من كتاب الصيد. وفي فتاوى الـمولى أبي السعود العمادی (هذا ليس هو ابو السعود العمادی المصری صاحب فتح المعين شرح منلا مسكين م ۱۱۷۲ هـ) ما نصه:

« هل يؤكل لـحم الصيد الذى رمي ببندق الرصاص بعد التسمية؟

الـجواب: « إذا جرحه يؤكل».

ونص أبو السعود على هذا فى موضع آخر من فتاواه.

وفى « الفواكه» سئلت عن الصيد إذا قتل ببندقة الرصاص، هل يـحل أم لا؟

أجبت: يـحل، وإن قتله ببندقة الطين لا يـحل.

وفى الكازرونية ما نصه: وفى شرح الـهداية للعيني ما يفيد حل الصيد ببندقة الرصاص، والله تعالٰى أعلم.

ورأيته أيضاً في رسالة مستقلة لـمنلا على التركمانى، ونصه: بسم الله الرحـمن الرحيم. الـحمد الله رب العالـمين، وصلى الله على سيدنا مـحمد وآله وأصحابه أجـمعين.

فاعلم أن مدارحل الصيد حصول الـموت بالـجرح بأى شيء حصل الـجرح، كأن شرط حل الذبيحة قطع أكثر العروق باى شيء حصل القطع، ولو بنار كما فى الـحصكفى أو بليطة (دنل بانس او داسی نورو) أو مروة (یوه تیره تیره) كـمـا فی الـمتون.

فعلى هذا فما يقتل بالرصاصة يحل، لأنه مقتول بالجرح، كما لايخفى على أهل الدراية، لأن الرصاصة تقتل الفيل، وتنفذ من جانب إلى جانب، ومعلوم أن ذلك إنما يحصل بسبب الجرح الحاصل بحدة الرصاصة الحاصلة من مساس النار، فإن النار من المحدد، بقرينة أن من قتل شخصاً بالنار يقتص منه، لأن النار تفرق البدن، وهو المراد بقولهم: (المحدد) فإن كانت مفرقة كانت جارحة، لأن الجرح أثر التفريق.

فثبت أن المقتول بالرصاصة مقتول بالجرح، غاية ما فى الباب أن الحدة فى الرصاصة إنما حصلت بمجاورة النار، لا فى نفسها، ولاتأثير لذلک بالثقل، كما يقول به بعض قاصرى الأذهان.

ألايرى أن الرصاصة لو خرت من السماء، ووقعت على حيوان ما قتلته بثقلها، لأن المراد بالقتل بالثقل: القتل الحاصل بالدق إذا كانت البنية (صورت، شكل) لا تحمل الثقل.

والقتل بالرصاصة لا يحصل بالدق بلا مرية، وإنما اشتبه على بعض القاصرين بين اشتراک المحدد فى اسم البندقة، فما قال الفقهاء: إن صيد البندقة لا يحل، مرادهم بها: الطين المدور الذى يرمى بقوس، فيقتل الصيد بثقله.

حتى قالوا: لوكان للبندقة حدة، وعلم أنه قتل بحدتها: يحل، وليس مرادهم بها الرصاصة أو أعم منها، لما علمت أن العاقل لا يقول: إن البندقة الرصاصة يقتل بثقلها لا بحدها، فمن يدعي أن الصيد مقتول بثقل الرصاصة، لا يلتفت إليه، لأنه إنكار للمحسوس، وخروج عن دائرة المعقول.

وإنما لم يتكلم الفقهاء على الرصاصة، لأنها لم تكن فى زمانهم، وإنما هي شيء محدث بعد انقطاع عصرهم وتدخل تحت قولهم: ذكاة الاضطرار جرح في أى موضع وقع

بأی جارح كان. والبندقة (الرصاصة) جارحة بسبب النار، (وليس الأمر كذلک كما سيأتی) كما أعلمناک، والله أعلم.

الحمد لله الذی هدانا لهذا، وما كنا لنهتدی لولا أن هدانا الله، ومن لم يجعل الله له نوراً فما له من نور، انتهی كلامه.

وفی فتاوی شيخ الإسلام علی أفندی من كتاب الصيد ما نصه: الصياد (زيد) إذا رمی حيواناً من الحيوانات التی يؤكل لحمها بالبندق مع التسمية وجرحه، لكنه لما وصل إلی هذا الصيد مات من الجرح قبل أن يذبحه. هل يجوز أكله؟

الجواب: نعم.

قال فی الهداية فی فصل الرمی:

« والأصل في هذه المسائل أن الموت إذا كان مضافاً إلی الجرح بيقين، كان الصيد حلالاً، وإن كان مضافاً إلی الثقل بيقين، كان حراماً، وإن وقع الشک، ولا يدری مات بالجرح أو الثقل؟ كان حراماً احتياطاً. انتهی كلامه.

أقول: وإن يكن حكمه (أی حكم الشيخ علی التركمانی) مسلماً، لكن ينظر فی تعليله وقوله: (إن الرصاص قاتل بناريته). أی فيه نظر.

فليس كذلک، والرصاص إنما هو قاتل مفرق الأجزاء بالقوة القاذفة بواسطة الهواء المنقلب عن النار الحاصلة بواسطة البارود، والبارودة والبارود كلاهما آلة لحصول القوة القاذفة، وانحصارها بواسطة البارودة أو المدفع أو غير ذلک من الآلات.

ولا يشكل عليک حرارة الرصاص، أو الكلة (كرة من حديد يلعب بها ويقذف بها) إ إحراقها في وقت ما، لما تنفذ فيه، فإن هاتيک الحرارة إنما هي من مصادمتها للأجزاء الهوائية بحسب سرعة حركتها، وبعد مسافتها لا غير.

وهذا من الأمور البديهية عند أهل ذلک الشأن، والدليل على ذلک أننا لو فرضنا وضع حبة من الجمد الذى هو بعيد عن النارية في بارودة محل الرصاص، وأثرنا تلک البارودة إلى حيوان، لنفذت تلک الفندقه من الجمد في ذلک الحيوان، وفرقت أجزاءه.

أفيقول أحد: إنها فرقت أجزاءه بناريتها؟

لا، بل إنما هو بسبب القوة القاذفة، كما قلنا.

والمطلوب لأجل حل الصيد إنما هو الجرح قصداً عند عدم إمكان الذكاة بما يخزق ويفرق الأجزاء، ويمكن فيه إنهار الدم.

وأما احترازهم عن صيد البندقة ـ وهي ما عمل من الطين، ورمى به بقوس أو نفس، والحجر والمعراض والعصا، وما أشبه ذلک، وإن جرح فلعدم الخزق.

قال قاضيخان: ولا يحل صيد البندقة والحجر والمعراض والعصا، وما أشبه ذلک، وإن جرح لأنه لا يخزق، (فتاوى قاضيخان: ۳/ ۳۶۰).

فالمطلوب الخزق وإنهار الدم بأى شيء كان، وهو المراد بقولهم: (المحدد)،أى ما يفرق الأجزاء، ويخزق ويريق الدم، وهذه الأوصاف فى الرصاصة والخردق على أكمل وجه، فلاشبهة أن ما صيد بهما، ولم يدرک حياً، حل أكله بشروطه، والله أعلم. (فتوى الخواص فى حل ماصيد بالرصاص، المندرجة فى آخر منية الصيادين، ص ۱۹۲ ـ ۱۹۸، ط: دار البشائر الاسلامية).

۳_ د علامه عيني رحمه الله ميلان هم د جواز خوا ته دئ لكه د علامه سندي رحمه الله په حواله چي ذكر سوه، د نور تفصيل له پاره يې وګورئ په حواله د فخر الاسلام رحمه الله وايي:

(قال ولايؤكل ما أصابه البندقة فمات بها) أى قال (الإمام) القدورى، والبندقة طينة مدورة يرمى بها، ويقال لها: الجلاهق.... ولاخلاف فى سائر آلات الجراحة أنها.... وإن جرحت تحل... وذكر فخر الإسلام فى شرح الزيادات فى باب الصيد: ويحل أكله إذا رمى فأصاب غيره، لأن الحجر والبندقة إذا جرح حل. (البناية فى شرح الهداية: ۱۱/ ۵۲۲، فصل فى الرمى، مكتبة رشيدية).

۴_ علامه ابو سعيد محمد بن مصطفى بن عثمان الخادمي يې په الدرر كي جواز ليكي: وې ګورئ:

واما الرصاص الذى يرمى بآلة معتبرة عنها بالتركية بتوفنک فيحل ما قتل به... الخ.

علامه ابن نجيم رحمه الله يې عدم جواز ليكلي دئ، د هغه جواب يې هم وركړي: وې ګوري:

وبما ذكره يظهر وجه ماذكر فى فتاوى ابن نجيم أنه لايحل صيد بندقة الرصاصى انتهى، وهو أنه لاحدة لها فلا يحصل بها الجرح بالمعنى المعتبر فى حل الصيد على ما مر ومنعه سفسطة للحس كيف لا والرصاص لو اتخذ منه سكين لايتصور به القطع انتهى، وقد علمت مما ذكر أن تعلق الحل بما قتل بالرصاص إنما هو لكون مقتولة مقتولاً بالنار (وليس الأمر كذلک والرصاص إنما هو قاتل ومفرق الأجزاء بالقوة القاذفة) والبندقة فى الحديث ليس كذلک ويمكن أن ما نقل عن ابن نجيم يجوز أن لايكون ما يرمى بالآلة المعروفة المعهودة بأن يرمى بآلة لاتكون فيها عمل النار. (حاشية الدرر على الغرر، ص ۱۳۴، كتاب الصيد، مطبعة عثمانية).

۵_ علامه رافعي رحمه الله د خادمي او علامه سندي رحمه الله په حواله سره جواز ليكلي دئ:

د علامه رافعي رحمه الله عبارت وګورئ:

نقل الخادمی فی حواشی الدرر عن فتاوی علی أفندی الحل معللاً بأن النار تعمل عمل الذکاة فی الحیوان حتی لو قذف النار فی المذبح فاحترقت العروق یؤکل لکن ینبغی ان یحمل علی ما إذا سال الدم حتی إذا انجمد ولم یسل لا یحل إلی آخر ما ذکره فانظره وسیأتي للمحشی فی الجنایات أن القتل بالبندقة الرصاص عمد لأنها من جنس الحدید وتجرح فیقتص به لکن إذا لم تجرح لایقتص به علی روایة الطحاوی انتهی، ومقتضاه حل الصید بها تأمل، وماذکره السندی هنا مؤید للحل وأنه لاشبهة فیه. (التحریر المختار: ۶/ ۳۱۵، سعید).

۷_ علامه شیخ محمد بن عبد المطیف ابن ملک په شرح تحفة الملوک کي وایي:

ولایحل الصید بالبندقة وهي: طینة مدورة یرمی بها، لأنها لاتجرح بل یدق ویکسر....

قال: وفی الکنز وما قتله المعراض بعرضه أو البندقة حرم.

وقال فی الینابیع: وإن رماه بمعراض فجرحه أکل کیف ما أصابه، وکذلک البندقة والحجر، والعودة، فیحمل کلام صاحب الکنز علی البندقة من الطین، وکلام الینابیع علی البندقة من الرصاص. انتهی. وقال الشیخ عبد المجید الدرویش فی تعلیقات شرح التحفة قوله البندقة من الرصاص، وهو محدد یجرح. (شرح تحفة الملوک مع التعلیقات: ۲/ ۱۷۱۸).

۸_ په فتاوی زینیه کي علامه ابن نجیم رحمه الله د عدم جواز فتوی لیکلي ده، خو په تعلیق کي یې محشي شیخ سعید بن سالم بن مساعد الغامدي رحمه الله لیکي چي د جواز قول راجح دئ: وې کورئ: وایي:

سئل (أی العلامة ابن نجیم) عمن اصطاد طیوراً بالبندق الرصاص والطین هل یحل أکلها أم لا؟

فأجاب: لا یحل أکلها. قال المحقق: والراجح القول بحله لأن البندقیة في معنی المحدد ویحمل قول الجمهور علی أن البندقیة التي کانت في عهدهم کانت تختلف فی القوة

والسرعة عن البندقية الموجودة فلم تكن فی معنی المحدد كالبندقية اليوم فقالوا: بعدم حله.
(الفتاوى الزينية مع التعليقات، ص ۴۶۳، ط: دار كنوز اشبيليا).
(أقول: وقد تقدم أن «الفتاوى الزينية» لايوثق بها ما لم تأيدت بنقل آخر كما قاله ابو السعود العمادى المصرى فی فتح المعين على منلا مسكين (۲/ ۱۳۶، قبيل باب تفويض الطلاق، ط: سعيد)).

(۹) قال فی «الجوهرة النيرة» (۲/ ۲۷۴): ثم البندقة إذا كان لها حدة تجرح به أكل.

۱۰_ وهبی سليمان غاوجي رحمه الله په ((الكافي في الفقه الحنفي)) كې د ((فتوى الخواص)) په حواله سره درې فتواوې:
۱_ فتوى منلا علي التركمانی.
۲_ فتوى د ابی السعود العمادی.
۳_ فتوى د الطوری الحنفی را نقل کولو وروسته وايي:
قلت: والفرق واضح بين الطين والرصاص. (الكافی فی الفقه الحنفی: ۲/ ۱۲۹۷، ط: مؤسسة الرسالة).

۱۱_ محمد بيرم بن مصطفی رحمه الله يوه مستقله رساله په نامه د ((تحفة الخواص فی حل صيد بندق الرصاص)) سره ليکلي دي او په ټوپک سره يې د ښکار پر حلت دلائل ذکر کړي دي، دغه رساله له مصر څخه چاپ سوي ده پر دغه رساله په تبصره کې ابن بدران دمشقي په ((درة الغواص)) کې وايي:
ألف المؤرخ محمد بيرم بن مصطفى أحد علماء تونس(م ۱۳۰۷ هـ) رسالة «تحفة الخواص فی حل بندق الرصاص» ذكر فيها الأدلة على حله ونقل عن علماء الحنفية ذلک.... الخ. (درة الغواص فی حكم الذكاة بالرصاص، ص ۴۱).

۱۲_ مولانا خالد سيف الله صاحب وايي:
د ټوپک ښکار په عام ډول فقهاء کرام حرام بولی او همدا ډول جزئې د متقدمينو او متاخرينو فقهاء کرامو په کتاب کې موجودې دي، خو د فقهاء کرامو له دغو ليکنو څخه صاف معلوميږي چې په هغه زمانه کې به ټوپک سره د خاورو لوټې ويشتل کېدلی، نو ځکه د فقهاء کرامو دا نظريه پر خپل

ځای صحیح ده مګر په موجوده زمانه کي چې کوم بارودي ګولۍ جوړي سوي دي هغه تر یو ځوکه لرونکی شی ښه د جسم وینه تویه وي او آخوا تري وزي او د شریعت مطهره مقصد هم همدغه دئ چې وینه ښه وبهیږي په دې اعتبار سره په دې کي هیڅ شک نه سته چې د توپک ښکار د شریعت اصل مقصد ښه پوره کوي، نو ځکه دې ته حلال ویل په کار دي. والله اعلم بالصواب. (حلال وحرام، ص ۱۶۱، ۱۶۲).

د علماء مالکیه ؤ فتواوی په لاندي ډول ده:

(۱) قال الشيخ عبد الرحمن المالكي البغدادي في «إرشاد السالک» في فصل الصيد (ص: ۱۰۲) وأما البندق فهو نوعان بندق الطين وكان معروفاً قديماً يضرب به الحيوان من بعد فقده يقتله وقد لايقتله ولما كان البندق غير محدد فقد منع العلماء جواز أكل الصيد الذي رمي به إلا إذا وجدت به حياة مستقرة وذكي فيجوز أكله كصيد الشبكة والحبالة، والنوع الآخر: بندق الرصاص المعروف لنا الآن وقد حدث الرمي به بحدوث البارود في وسط المائة الثامنة وليس فيه نص للمتقدمين واختلف فيه المتأخرون فمنهم من قال بالمنع قياساً على بندق الطين ومنهم من قال بالجواز كأبي عبد الله القروي وابن غازي وسيدي عبد الرحمن الفاسي لما فيه من انهار الدم والاجهاز بسرعة وهذا الذي شرعت الذكاة لأجله، انتهى كلامه.

(۲) قال الشيخ محمد العربی المالکی القروي فی « الخلاصة الفقهية على مذهب السادة المالكية» (ص ۲۷۹).

وأن يكون العقر بأحد شيئين إما بمحدد سواء كان سلاحاً أو غيره كحجر له سن ويدخل فيه الرصاص فيؤكل الصيد به لأنه أقوى من السلاح وإما بحيوان معلم. انتهى كلامه.

(۳) قال الشيخ محمد عليش المالكی فی «منح الجليل شرح مختصر الخليل» (۲/ ۴۲۱): وأما الصيد بالبندق ومن الرصاص فلم يوجد فيه نص للمتقدمين ، واختلف فيه

المتأخرون من الفاسيين لحدوث الرمي به بحدوث البارود واستخرجه حكيم كان يستعمل الكيمياء ففرقع له فأعاده فأعجبه ، فاستخرج منه هذا البارود في وسط المائة الثامنة وأفتى فيه بجواز الأكل، أبو عبد الله القوري، وابن غازي وعلي بن هارون والمنجور والعارف بالله تعالى عبد الرحمن الفاسي، واختاره شيخ الشيوخ عبد القادر الفاسي لإنهاره وإجهازه بسرعةٍ اللذين شرعت الذكاة من أجله ، قال بل الإنهار به أبلغ وأسهل من كل آلةٍ يقع الجرح بها،.... وقياسه على البندقة الطينية غير صحيحٍ لوجود الفارق بينهما ، وهو وجود الخرق والنفوذ في الرصاص تحقيقًا وعدم ذلك في البندقة الطينية .... الخ.

(۴) قال العلامة الدردير المالكی فی « شرح الکبیر» (۲/ ۱۶۳، ط: دار الفکر): واحترز به عن نحو العصا والبندق أی البرام (پیچل سوي رسی) الذی یرمی بالقوس، وأما الرصاص فيؤكل به لأنه أقوى من السلاح كذا اعتمده بعضهم.

(۵) قال العلامة شمس الدين الدسوقي فی حاشية على الشرح الكبير (۲/ ۱۶۳، ط: دار الفكر): قوله : كذا اعتمده بعضهم، الحاصل أن الصيد ببندق الرصاص لم يوجد فيه نص للمتقدمين لحدوث الرمي به بحدوث البارود في وسط المائة الثامنة، واختلف فيه المتأخرون فمنهم من قال بالمنع قياسًا على بندق الطين ، ومنهم من قال بالجواز كأبي عبد الله القوري وابن غازي والشيخ المنجور وسيدي عبد الرحمن الفاسي والشيخ عبد القادر الفاسي لما فيه من الإنهار والإجهاز بسرعة الذي شرعت الذكاة لأجله ، وقياسه على بندق الطين فاسد لوجود الفارق ، وهو وجود الخرق والنفوذ في الرصاص تحقيقًا ، وعدم ذلك في بندق الطين ، وإنما شأنه الرض والكسر ، وما كان هذا شأنه لا يستعمل ؛ لأنه من الوقذ المحرم بنص القران.

وللاستزادة انظر: (حاشية الصاوى على الشرح الصغير:۴/ ۱۰۸، وبلغة السالک لأقرب المسالک:۲/ ۱۰۴، ط: دار الکتب العلمية، بيروت).

د امام احمد رحمه الله د مذهب علماء کرامو هم د جواز قول غوره بللی دئ: څو فتوای یې وګورئ:

(۱) قال الشيخ صالح بن فوزان فى «الملخص الفقهى» (۲/ ۴۷۲، احکام الصيد): الشروط الثانى، الآلة، وهى نوعان: الأول: المحدد .... الرصاص الذي يطلق من البنادق اليوم، فيحل ما قتل به من الصيد، لأن فيه قوة الدفع التي تخرق وتنهر الدم کالمحدد وأشد.

(۲) قال الشيخ ابن ضويان الحنبلى (م ۱۳۵۳ هـ) فى «منار السبيل فى شرح الدليل» (۲/ ۴۲۸): وأما بندق الرصاص فهي أقوى من كل محدد، فيحل بها الصيد. قال الشيخ عبد القادر الفاسي:

وما ببندق الرصاص صيدا جواز أكله قد استفيدا

أفتى به والدنا الأواه وانعقد الإجماع من فتواه

(۳) قال الشيخ محمد بن صالح العثيمين فى «شرح الممتع على زاد المستنقع» (۱۵/ ۱۰۴) وقد اختلف العلماء أول ما ظهر بندق الرصاص... ولكنهم فى آخر الأمر أجمعوا على حل صيده.

(۴) قال العلامة الشوکانى فى «الدرارى المضية» (۲/ ۳۲۱- ۳۲۲، باب ماجاء فى الصيد، ط: بيروت) وقد نزل صلى الله عليه وسلم المعراض إذا أصاب فخزق منزله الجارح واعتبر مجرد الخزق كما في حديث عدي المذكور وفي لفظ لأحمد من حديث عدي قال: «قلت يا رسول الله إنا قوم نرمى فما يحل لنا ؟ قال: يحل لكم ما ذكيتم وما ذكرتم اسم الله عليه

فخزقتم فكلوا» فدل على أن المعتبر مجرد الخزق وإن كان القتل بمثقل، فيحل ما صاد من يرمي بهذه البنادق الجديدة التي يرمى بها بالبارود والرصاص، لأن الرصاص تخزق خزقاً زائداً على خزق السلاح، فلها حكمة وإن لم يدرك الصائد بها ذكاة الصيد إذا ذكر اسم الله على ذلك.

۵_ علامه شيخ عبد القادر بن احمد بن بدران الدمشقي رحمه الله د يوې استفتاء په جواب كې يوه تفصيلي مقاله ليكلې ده چې د ((درة الغواص فى حكم الذكاة بالرصاص)) په نامه سره چاپ سوې ده كه څه هم د دې رسالې اصل مقصد د حنابله ؤ له مذهب سره سم په بندقة الرصاص سره د ذبح ثابتول دي مګر په ضمن كې يې د بندقة الرصاص په ذريعه سره پر ښكار كولو هم بحث كړى دئ او دحلت قول يې غوره كړى دئ، همدا ډول د رسالې په آخر كې يې د مفتي دمشق شيخ حمزاوي رحمه الله له رسالې ((فتوى الخواص)) څخه د منلا علي التركمانى رحمه الله د عباراتو را نقل كولو وروسته د ځينو مالكيه او حنابله علماء فتواوى هم را نقل كړې ده.

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (درة الغواص فى حكم الذكاة بالرصاص، وتمة فى حكم الصيد بالرصص المندرجة فى آخر درة الغواص فى حكم الذكاة بالرصاص، ص ۴۰- ۴۴).

د توپک پر ښكار اعتراضونه او د هغوى جوابونه:

د علامه شامي رحمه الله اعتراض:

علامه شامي رحمه الله وعدم حلت ته ترجيح وركړېده او د هغه علت يې هم بيان كړى دئ، عبارت يې لاندي وګورئ:

ولا يخفى أن الجرح بالرصاص إنما هو بالإحراق والثقل بواسطة اندفاعه العنيف إذ ليس له حد فلايحل وبه أفتى ابن نجيم. (فتاوى الشامى:۶/ ۴۷۱، سعيد).

الجواب: لومړى د توپک په ښكار كې په اور سره سول نه منو، او د دې تفصيل په حواله د ((فتوى الخواص)) كې ذكر سو، دوهم كه چيري بالفرض احراق بالنار ومنل سي خو بيا هم علامه رافعي رحمه الله د خادمي او علامه سندي په حواله سره د جواز قول ليكلې دئ:

د علامه رافعي رحمه الله عبارت وګورئ:

نقل الخادمی فی حواشی الدرر عن فتاوی علی أفندی الحل معللاً بأن النار تعمل عمل الذكاة فی الحیوان حتی لو قذف النار فی المذبح فاحترقت العروق یؤكل لكن ینبغی أن یحمل علی ما إذا سال الدم حتی إذا انجمد ولم یسل لا یحل إلی آخر ما ذكره فانظره وسیأتی للمحشی فی الجنایات أن القتل بالبندقة الرصاص عمد لأنها من جنس الحدید وتجرح فیقتص به لكن إذا لم تجرح لایقتص به علی روایة الطحاوی انتهی، ومقتضاه حل الصید بها تأمل، وماذكره السندی هنا مؤید للحل وأنه لاشبهة فیه. (التحریر المختار:۶/ ۳۱۵، سعید).

د توپک په گولۍ سره احراق کېدلای سي او که نه؟

ځیني خلک د تجربي او تحقیق په رڼا کي وایي، چي د توپک په گولۍ سره احراق نه کیږي، وې گورئ، د دمشق مفتي شیخ محمود الحمزاوی رحمه الله وایي:

فلیس كذلک، والرصاص إنما هو قاتل مفرق الأجزاء بالقوة القاذفة بواسطة الهواء المنقلب عن النار الحاصلة بواسطة البارود، والبارودة والبارود كلاهما آلة لحصول القوة القاذفة، وانحصارها بواسطة البارودة أو المدفع أو غیر ذلک من الآلات.

ولا یشكل علیک حرارة الرصاص، أو الكلة (كرة من حدید یلعب بها ویقذف بها) أو إحراقها في وقت ما، لما تنفذ فیه، فإن هاتیک الحرارة إنما هي من مصادمتها للأجزاء الهوائیة بحسب سرعة حركتها، وبعد مسافتها لا غیر.

وهذا من الأمور البدیهیة عند أهل ذلک الشأن، والدلیل علی ذلک أننا لو فرضنا وضع حبة من الجمد الذی هو بعید عن الناریة فی بارودة محل الرصاص، وأثرنا تلک البارودة إلی حیوان، لنفذت تلک الفندقه من الجمد فی ذلک الحیوان، وفرقت أجزاءه.

أفیقول أحد: إنها فرقت أجزاءه بناریتها؟

لا، بل إنما هو بسبب القوة القاذفة، كما قلنا.(فتوى الخواص فى حل ماصيد بالرصاص، المندرجة فى آخر منية الصيادين، ص ۱۹۲ - ۱۹۸،ط: دار البشائر الاسلاسية).

وأيضا رده شيخ مشايخنا الكنكوهى بأن الرصاص غير محرق وذلك لما جرب هو بنفسه بإطلاق الرصاص على مجموعة من القطن فنفذ الرصاص ولم يحترق القطن. (تذكرة الرشد، ص ۱۳۹).

په حدیث شریف سره د ټوپک د ښکار ممانعت او د هغو جواب:

سوال: ځینو مفتیان کرام د ټوپک ښکار حرام بولی او په دې لاندي حدیث شریف سره دلیل وایي، وې ګورئ:

عن عدى بن حاتم قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : إذا أرسلت كلبك وسميت فخالط كلاباً أخرى فآخذته جميعا فلا تأكل فإنك لا تدري أيهما أخذه وإذا رميت فسميت فخزقت فكل فان لم يتخزق فلا تأكل ولا تأكل من المعراض الا ما ذكيت ولا تأكل من البندقة الا ما ذكيت . د دې حدیث شریف څه جواب دئ:

الجواب: أخرجه الإمام أحمد رحمة الله عليه فى مسنده (۳۲/ ۱۳۶/ ۱۹۳۹۲) بسنده عن إبراهيم عن عدي بن حاتم... الخ. قال الشيخ شعيب الأرنؤوط في تعليقه على مسند الإمام أحمد: حديث صحيح دون قوله « ولاتأكل من البندقة إلا ما ذكيت» وهذا إسناد ضعيف لانقطاعه ما بين إبراهيم النخعي وعدى بن حاتم. (راجع: السير للامام الذهبى: ۴/ ۵۲۰، ترجمة: ۲۱۳).

والبندقة معروفة تتخذ من طين وتيبس فيرمى بها. انتهى.

شیخ شعیب رحمة الله عليه د دې حدیث دوه جوابونه ورکړي دي:

۱ _ د انقطاع له امله دغه حدیث ضعیف دئ ځکه چي د ابراهیم نخعی رحمة الله عليه سماع له حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه څخه ثابته نه ده.

۲_ له بندقه څخه مراد د پخوا زمانې د خاورې ګولۍ دي او زموږ خبره په بارو دي ګولۍ په اړه ده. ((فافترقا)).

شيخ عبد القادر الدمشقی رحمه الله په خپله رساله ((درة الغواص فی حکم الذکاة بالرصاص)) (۲۴ - ۲۶) کې پر دې حديث شريف کلام کړی دی. وې ګورئ:

والثاني: عدم قبوله، ... وأياً ما كان فلا يصح قياس الرمى بالرصاص على الرمي بالبندقة،... والجامع بين الرصاص والبندقة والخذف والمعراض غير موجود لوجوه:

أولها: أن البندقة المذكورة فى الحديث لاتخزق... وأما الرصاص فإنه يخزق وينهر الدم ويسيله، فقياسه عليهما قياس مع الفارق.

وثانيهما: أن البندقة مخالفة للرصاص فى المادة والشكل والهيئة والاستعمال،... وهذا النوم لم يكن عند العرب.... الخ.

ثالثها: أن النبي صلى الله عليه وسلم علل النهى عن الخذف بقول: «إنها لا تصيد صيداً ولاتنكأ عدواً». وبندق الرصاص ما أشد نكايته للأعداء، وهو اليوم من آلات الحرب التى أبطلت السيف والرمح إلا نادراً، وأبطلت آلات الرمي بالسهام، وهو الذى يردي أعظم الطيور من نقطة أوج طيرانه إلى حضيض الأرض.

والبندقة التي جاء النهي عن الرمى بها، إنما غاية أمرها أن تكسر السن وتفقأ العين كما ذكره النبي صلى الله عليه وسلم، ومثل هذا كاف فى عدم صحة قياس بندق الرصاص على بندق الطين، وعلى الحجر والحصى وأشباه ذلک.

قاضي عياض رحمه الله په ((مشارق الانوار)) کې وايي:

البندقة وهي غالباً تصنع من فخار مطبوخ. (مشارق الانوار: ۱/ ۹۱، المکتبة العتيقة).

علامه عينی رحمه الله په عمدة القاري کې وايي:

والبندقة طينة مدورة مجففة يرمى بها عن الجلاهق وهو اسم لقوس البندقة. (عمدة القارى: ١۴/ ۴٨١، باب الخذف والبندقة، ط: دار الحديث، ملتان).

علامه ابن حجر رحمه الله عليه په فتح الباري كي وايي:

والبندقة معروفة تتخذ من الطين وتيبس فيرمى بها. (فتح البارى: ٩/ ۶٠٧).

شيخ محمد صديق خان حسن خان القنوجى په ((الروضة النديه)) كي وايي:

وما روي من النهي عن أكل ما رمي بالبندقة كما في رواية من حديث عدي بن حاتم عند أحمد.... فالمراد بالبندقة هنا هي التي تتخذ من طين فيرمى بها بعد أن تيبس. (الروضة الندية: ٢/ ١٨٨، دار المعرفة).

د حديث په تشريح كي شارحين رحمهم الله پر دې خبره متفق دي چي په حديث كي له بندوق شخه د موجوده زماني بندوق مراد نه دي بلكي د پخوا زماني بندوق ورشخه مراد دي.

علامه مصطفى الخادمى رحمه الله عليه هم په حاشيه الدرر كي همدغه توجيه ذكر كړې ده او د راتلونكو فقهاء كرامو عبارتونه به هم ذكر سي.

د ځينو اكابرو او مفتيانو كرامو پر اشكالاتو يو نظر لكه:

١_ حضرت مفتي محمد شفيع صاحب.

٢_ حضرت مفتي محمود حسن گنگوهى رحمه الله عليه.

٣_ حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله عليه.

۴_ حضرت مولانا مفتي رشيد احمد لدهيانوى.

۵_ حضرت مولانا شبير احمد عثمانى رحمه الله عليه.

٦_ حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوى.

٧_ حضرت مولانا مفتي كفايت الله رحمه الله عليه وغيره.

د دې ټولو اكابرو په فتاوى او تفاسيرو كي يې د توپک ښكار د مردار په حكم كي بلى دئ، نو ځكه ضروري دي چي د هغوى عبارات صرف نظر ونه گرځول سي بلكي د ممانعت پر اصل وجه يې فكر وكړل سي او ښه مناسب توجيه يې بيان سي.

۱_ د مفتي محمد شفیع صاحب عبارت:

حضرت مولانا محمد شفیع صاحب، په معارف القرآن (ج ۳/ صفحه ۲۹) کي د موقوذة تر تفسیر لاندي لیکي، کوم ښکار چي د توپک په ګولۍ سره هلاک سي هغه هم فقهاء کرامو په موقوذه کي داخل او حرام بللی دئ. امام جصاص رحمة الله علیه له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه نقل کړی دئ، چي هغه وویل: ((المقتولة بالبندقة تلک الموقوذة)) یعنی په توپک سره چي کوم حیوان مړ سي هغه موقوذه دئ، نو ځکه حرام دئ، امامِ اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه امام شافعی رحمة الله علیه، امام مالک رحمة الله علیه وغیره، ټول پر دې متفق دي، حضرت مفتي صاحب د امام جصاص او امام قرطبی رحمهما الله په حواله سره د توپک د ښکار حرمت بیان کړی دئ، نو ځکه موږ د اصل طرف ته رجوع کؤ چي دا معلومه سي چي له بندوق څخه څه مراد دي او د دې د ښکار د حرمت علت او وجه څه شی ده، نو ځکه د دواړو تفسیرو عبارتونه لاندي نقل کوو:

امام جصاص رحمة الله علیه په احکام القرآن کي لیکي:

وقد روى أبو عامر العقدى عن زهير بن محمد عن زيد بن أسلم عن ابن عمر رضي الله عنهما أنه كان يقول في المقتولة بالبندقة تلك الموقوذة إلى قوله..... أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن الخذف وقال: أنها لا تنكأ العدو ولا تصيد الصيد ولكنها تكسر السن وتفقأ العين .... إلى قوله عن عدى بن حاتم قال قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صيد المعراض فقال: ما أصاب بحده فخرق فكل وما أصاب بعرضه فقتل فإنه وقيذ فلا تأكل فجعل ما أصاب بعرضه من غير جراحة موقوذة وإن لم يكن مقدوراً على ذكاته وفي ذلك دليل على أن شرط ذكاة الصيد الجراحة وإسالة الدم. (احكام القران للامام الجصاص: ۲/ ۳۰۴، ط: سهيل).

امام قرطبی رحمة الله علیه په خپل تفسر کي لیکي:

الثالثة: قوله تعالى: ﴿ الموقوذة ﴾.... ومنه المقتولة بقوس البندق... وفي صحيح مسلم عن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال... الخ، قال أبو عمر: اختلف العلماء قديماً وحديثاً في الصيد بالبندق والحجر والمعراض، فمن ذهب إلى أنه وقيذ لم يجزه إلا ما أدرك ذكاته، على ما روى

عن ابن عمر رضي الله عنه، وهو قول مالك وأبي حنيفة وأصحابه والثوري والشافعي. وخالفهم الشاميون في ذلك .... والأصل في هذا الباب والذي عليه العمل وفيه الحجة لمن جأ إليه حديث عدي بن حاتم وفيه وما أصاب بعرضه فلا تأكله فإنما هو وقيذ. (الجامع لاحكام القرآن: ۶/ ۳۴، دار الكتب العلمية).

د دواړو تفسيرو له عباراتو څخه معلوميږي چي په کومه بندقه سره د ښکار ممانعت راغلی دئ، هغه د پخوا زمانې بندقه مرادي چي په هغه کي زخم او د ويني بهېدل نه وي لکه څنګه چي د حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه له روايت څخه معلوميږي او موږ چي له کوم بندوق څخه بحث کوو هغه د موجوده زمانې نوي بندوق دي، لهذا د دواړو بندقو په منځ کي واضح دي.

د پخوانې زمانې د بندقه حقيقت:

وګورئ امام ناصر الدين المطرزی په ((المغرب)) کي وايي:

بندق (البندقة) طينة مدورة يرمى بها، ويقال لها: الجلاهق. (المغرب: ۱/ ۸۷).

په لغات کشوری کي ليکلي دي:

بندق د خاوري ګولۍ چي په کمان کي اينبودل کيږي او ويشتل کيږي. (لغات کشوری، ص ۷۴).

په البنايه شرح الهدايه کي راځي:

قال: ولايؤكل ما أصابه البندقة فمات بها لأنها تدق وتكسر ولا يجرح فصار كالمعراض إذا لم يخزق (ش) أی قال القدوری والبندقة طينة مدورة يرمى بها ويقال لها الجلاهق (فارسی، البندق الذی يرمى به الطين المدور جلاهقة واحد). (البناية: ۴/ ۳۷۴).

په اللباب فی شرح الكتاب کي راځي:

البندقة طينة مدورة يرمى بها. (اللباب: ۴/ ۵۵۴، دار البشائر الاسلامية).

وللمزید راجع: (فتاوی الشامی: ۶/ ۴۷۱، سعید، والعنایة فی شرح الهدایة: ۱۰/ ۱۳۰، دار الکتب، ومجمع الانهر شرح ملتقی الابحر: ۴/ ۲۶۳، کتاب الصید).

لنډه دا چي د پخوا زمانې د بندقه حقیقت دا ؤ چي هغه د خاوري ګولۍ ؤ چي په منجنیق کي اینبودل کېده او ویشتل کېدل چي د هغې له ثقل څخه حیوان مړ کېدئ، په دې کي زخم او وینه بهېدل نه ؤ، نن سبا هم په صحرا ؤ کي دا رواج سته د خپل کښت د ساتني له پاره ډېر خلک دغه بندق استعماله وي په خپله حضرت مفتي محمد شفیع صاحب په فتاوی دار العلوم کي د حلت او جواز فتوی لیکلي دي، وګوئ په توپک سره د ښکار حکم:

سوال: یوه دا اوسپیني باریکه څوکه لرونکی آله ده دا په توپک کي اینبودل کیږي او ویشتل کیږي که چیري بسم الله او الله اکبر وویل سي او په دې سره ښکار وویشتل سي، مړ سي، یا اتفاقاً نیم نه سي آیا ښکاریې حلال بلل کیږي؟

جواب: د ذکر سوې آله د لیدلو او په سوال کي له لیکل سوي صورت څخه معلومیږي چي دغه آله لکه غشي زخم جوړ وي د عامو ګولیو او چړو په ډول جسم نه پرې کوي، لهذا د دې حکم د غشي دئ یعنی که چیري بسم الله ووایي او وې ویلې او په دې سره حیوان مړ سي، نو حلال دئ.

کما هو حکم السهم فی عامة کتب الفقه. مګر دا مسئله یوازي له قواعدو څخه لیکل سوې ده څه صریحه جزئیه مي په نظر راغلی نه ده، نو ځکه له نورو علماء کرامو څخه هم تحقیق کول په کار دي. همدا ډول په فتاوی دار العلوم کي یې دا په درو ځایو کي ناروا او حرام لیکلي دي.

۱ _ صحیح ذبح نه کیږي، همدغه مذهب مفتی به دئ.

۲ _ د توپک ښکار له ذبح پرته حلال نه دئ. په حواله د شامی، ((فلا یحل وبه أفتی ابن نجیم)).

۳ _ همدا ډول په صحفه (۹۵۶) کي وایي، په توپک سره د ښکار په اړه زموږ په آند د علامی شامی او ابن نجیم وغیر رحمهم الله تحقیق صحیح دئ چي ښکار له ذبح پرته روا نه دئ، د علامه شامی رحمه الله او علامه ابن نجیم رحمه الله د تحقیق جواب په تفصیل سره ذکر سو د بیا بیان کولو ضرورت یې نه سته.

۲_ په فتاوی محمودیه کي يې هم د توپک ښکار د مردار په حکم کي شمېرلي دئ او په دليل کي يې د علامه شامي رحمه الله او ابن نجيم رحمه الله عبارت ذکر کړی دئ . (ج ۱۷/ ص ۲۲۰).

همدا ډول په فتاوی محمودیه کي راځي: (ج ۱۷/ ص ۲۲۳).

په بندوق کي ګولۍ وي هغه د چاقو او غشي په ډول تېره نه وي هغه د غشي په حکم کي نه دي او نه هغه حيوان حلال دئ مګر ممکن دي چي په هغه وخت کي تېري څوکي والا ګولۍ نه وي مګر په موجوده ترقي يافته نړۍ کي تېري څوکۍ لرونکي ګولۍ خاص د ښکار له پاره جوړېږي.

۳_ په تذکرة الرشيد کي راځي ((د سوال حاصل لاندي دي)):

سوال: په توپک سره چي کوم ښکار کيږي ډېرو مالکيه ؤ د حلت فتوی ورکړې ده په ظاهره د غشي په ډول معلومېږي:

جواب: خلکو ته د دې دحالت شبه ځکه راغله چي په فقه کي يې احراق بالنار پرې کونکی ليکلي دئ او پر دې بنياد ځينو علماء کرامو د توپک په ګولۍ سره ښکار سوځونکی او پرې کوونکی بللی دي او دحلت فتوی يې ورکړې ده حال دا چي دا غلط ده، له مولانا مملوک علي رحمه الله څخه مورږ د دې پوښتنه وکړه هغه وويل چي پنبه دي نښانه کړي، نو معلومه به سي او بيا موږ همدغسي وکړه، نو ګولۍ تېرې ووته او پنبه هيڅ نه وسوځله په هر صورت ګولۍ ماتونکی ده محرق (سوځونکی) نه ده، تر څو چي ذبح نه سي ښکار حلال نه دئ.

د دې جواب هم نورو محقيقينو او د حضرت ګنګوهی رحمه الله د شيخ الشيخ حضرت مولانا عابد سندي رحمه الله په عبارت کي تېر سو چي په توپک کي احراق بالنار نه وي، هو د ذبح اضطراري چي کوم شرط دئ زخم او وينه بهېدل هغه په ګولۍ کي سته او ګولۍ خو د غشي په ډول تېره وي د اور له يو ځای کېدلو او تيزې څخه زخم جوړوي او وينه هم بهوي.

۴_ په احسن الفتاوی کي راځي چي د مفتي صاحب مخکي کله دحلت دلائل وړاندي سول، نو مفتي صاحب د هغه جوابونه وليکل او خپل رحجان يې د عدم جواز خوا ته ډېر په سختي سره وليکي: په دليل کي يې د علامه شامي رحمه الله عبارت په حواله د ابن نجيم رحمه الله سره وړاندي کي او دغه عبارت يې د عدم جواز بنياد کښېښودئ د حضرت مفتي صاحب جوابونه کوم چي پر حلت د اعتراضاتو صورت غوره کوي د هغوی خلاصه ذکر کيږي:

۱_ **اعتراض**: د توپک د ښکار د حلت بنیاد دا دئ چي په ذبح اضطراري کي د آلې خصوصیت شرط نه دئ او دا د ائمه اربعه ؤ له تصریحاتو څخه خلاف دي.

۲_ **اعتراض**: که چیري د داسي آلې زخم چي تېره نه وي د کومي چي مرګ ثقل ته نه وي مضاف بلکي زخم او وینه بهېدلو ته مضاف وي، موجب حلت وای، نو په بالعرض او بندقه لګېدو به مطلقا د حرمت حکم نهٔ لګېدلی.

۳_ **اعتراض**: له تېره څخه یې مراد لکه چاړه یا چاقو بللی دئ، حال دا چي د جمهورو مراد محدد ((تېره)) دئ که څه هم څوکه لري، په فتح الباري کي له ((السهم وما فی معناه)) څخه ښکاریږي.

۴_ **اعتراض**: ګولۍ نښان ته تر رسېدو مخکي څوکه لرونکی جوړیږي که چیري دغه خبره په مشاهده سره ثابت سي، بیا خو د انکار هیڅ صورت نه سته که نه یوازي په خیال سره د یو شی ثبوت محال او ناممکن دئ ((ان الظن لا یغنی من الحق شیئاً)).

۵_ **اعتراض**: زخم او وینه بهېدل احراق او ضرب غیر محددته منسوب دي تر څو چي د زخم او مرګ نسبت سوځولو ته قطعي معلوم نه سي تر هغو پوري د حلت فتوی نه سي ورکول کېدلای.

٦_ **اعتراض**: ترحتی الامکان پوري په رخصت عمل کول ښه کار دئ مګر د جمهورو مخالفت په خاصه توګه د حلت او حرمت په معامله کي تر هغو روا نه دئ، تر څو چي یو قوي او ډاډمن دلیل پیدا سوي نه وي.

۷_ **اعتراض**: د څوکه لرونکی مرمي څوکه خو تر معراض نه وي کمه د داسي ښکار په حلت کي هیڅ شک نه سته او نه د څه اختلاف ضرورت سته .

په امداد المتبین کي یې همد داسي ښکار د حلت فتوی لیکلي ده مګر که چیري د ګولۍ له ثقل څخه حیوان مړ سي لکه کوچنک حیوان چي د ګولۍ تاب او تحمل نه لري، نو داسي حیوان حلال نه دئ.

د دې اعتراضاتو جوابونه د ذکر سوي احادیثو له تشریحاتو او فقهاء کرامو له عباراتو او کومه رساله چي د حلت په تحقیق کي لیکل سوي ده په خپله معلومیږي خو بیا هم د دغو عباراتو په رڼا کي د دې مختصر جوابونه ذکر کیږي.

۱_ د اول اعتراض جواب: د حلت بنیاد د آلې د تخصیص په نه شرط کولو نه دئ بلکي له خصوصیت سره سره د آلې ذکر هم سوی دئ لکه د معواض په تشریح کي چي تېر سو چي کومه آله زخم کوي او کوه آله په ثقل سره وژل کوي او فقهاء کرامو هم پر همدغه اول درولي دئ.

((حتی قالوا لو کان للبندقة حدة وعلم أنه قتل بحدتها يحل)) او له آله محدده څخه هم د فقهاء کرامو مقصد خزق او وینه تویول دي:

فالمطلوب الخزق وإنهار الدم بأي شيء كان وهو المراد بقولهم (المحدد) أي ما يفرق الأجزاء ويخزق ويريق الدم وهذه الأوصاف في الرصاصة على أكل وجه. لهذا دا له فقهاء خلاف نه دي بلکي له هغو سره بالکل مطابق دي.

۲_ اعتراض جواب: د معراض او بندقه پر ښکار د حرمت حکم ځکه لګېدلی دئ چي دواړه حیوان په ثقل سره وژني کوم چي د غورځېدو په حکم کي دي او په هغه زمانه کي بندقه همدغه مشهوره ؤ لکه څنګه چي د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ په روایت کي چي راغلی دي کوم چي امام جصاص رحمه الله او امام قرطبي رحمه الله نقل کړي دي په دې کي هم خو په هغه زمانه کي داسي څه خبره نه ؤ.

۳_ اعتراض جواب: د لومړي اعتراض په جواب کي تېر سوه.

۴_ اعتراض جواب: د توپک ګولۍ د څوکه لرونکی غشي په ډول کار کوي او دا په مشاهده سره ثابته ده د خیال او ګمان خبره نه ده لکه په فتوی الخواص کي چي راغلی دي:

والرصاص إنما قاتل ومفرق الأجزاء بالقوة القاذفة بواسطة الهواء المنقلب عن النار الحاصلة بواسطة البارود.

د اور له یو ځای کېدو څخه تېره والي او تېز والي پکښې پیدا کیږي او د غشي په ډول کار کوي کوم چا چي تجربه کړي ده همدغسي یې لیکل دي، نو کوم شی چي په تجربه سره ثابت سي هغه خیال او ګمان څنګه بلل کېدلای سي.

۵_ اعتراض جواب: په حدیث شریف کي راځي: « قلت: إنا نرمي بالمعراض قال كل ما خزق» او د خزق په تشریح کي وايي: أي نفذ خزق السهم أصاب الرمية ونفذ فيها وقال

النووي: معناه نفذ الخ. او د توپک د ګولی په هکله راغلي دي: إن الرصاص تنفذ من جانب إلى جانب ومعلوم أن ذلک إنما يحصل بسبب الجرح الحاصل بحدة الرصاصة الحاصلة من مسامر النار.

لهذا اوس دا ويل چي (مرګ او زخم به په قطعي ډول معلوم وي چي له سوځولو څخه به وي) ضروري نه دي ځکه چي د ښکار د حلال والي ټول شرائطو موجود دي کوم چي په احاديثو، شروحاتو وغيره کي ليکل سوي دي همدا ډول په بدائع الصنائع کي يوازي د زخم او وينه تويولو شرط دئ له دې پرته يې بل شرط ذکر کړی نه دئ، لهذا د بدائع له عبارت سره سم په کوم شی چي زخم وسي ښکار حلال دئ.

٦_ **اعتراض جواب:** په دې کي د جمهورو مخالفت نه دئ بلکي د فقهاء کرامو له وضع سوي قاعدو او د احاديثو تر اصولو لاندي د جديد الآتو تحقيق سوی دئ او حکم يې واضح سوي دئ او په دې مسئله کي چي فقهاء کرامو کله هم د بندقه حکم بيان کړی دئ هم هلته يې استثناء هم ذکر کړې ده همدا ډول په احاديثو کي چي چيرته هم د معراض حکم راغلی دئ هم هلته استثناء هم راغلی ده د فقهاء عبارت:

حتی قالو: لو کان للبندقة حدة وعلم أنه قتل بحدتها يحل.

همدا ډول په هدايه، بحر الرائق وغيره کي راغلی دي او په شرح مجله کي خو يې بالکل صراحةً د بندقه د ښکار حلت ليکلي دئ او په زخمي کونکی آله کي يې شمېرلي ده او په حديث کي چي کله د معراض حکم وپوښتل سو، نو په جواب کي يې وفرمايل، ((کل ما خزق)) په جواب کي يې عموم دي پرته د څه تخصيص څخه د آلی د دې له پاره چي په حکم کي يې جديد الآت هم داخل سي.

د دې په خلاف د فقهاء کرامو تر مقرره اصولو او قواعدو لاندي چي په کومه مسئله کي فکر نه کوي هغه د ملامتيا وړ دي او همدا ډول د جديد الآتو او د زمانې پر ضرورياتو غور او فکر نه کول او د توپک ګولی د ختې پر کولی قياس کول او ځان نه خبرول د علماء له شانه لېري خبره ده.

او په دې کي د جمهورو مخالفت هم نه سته ځکه چي د توپک د ښکار پر حلت باندي ډېرو مفتيانو کرامو فتواوی ورکړي دي کوم چي ذکر سوي او په خپل د مفتي صاحب رحجان هم د هغه

ګولۍ په اړوند چي تېره څوکه لري د حلت خوا ته دئ. لکه په ((۷)) اعتراض کي چي د امداد المفتين په حواله ذکر سو.

د اووم اعتراض جواب: له تجربې او مشاهدې څخه معلومه سوه چي ګولۍ يې په ثقل سره نه وژني او په فتاوی الخواص کي راځي:

ولا تأثير لذلک بالثقل کما يقول به بعض ...

۵_ په تفسير عثماني کي (۳۲) آيت ﴿ إنما حرم عليکم الميتة ﴾ تر تفسر لاندي راځي، مردار هغه دي چي په خپله مړ سي او د ذبح کولو وار نه ور ورسېږي يا له شرعي طريقې څخه خلاف حلال يا ښکار سي مثلاً لکه غاړه چي يې خفه کړل سي يا له ژوندي حيوان څخه يو اندام پرې سي يا په لرګي، ډبره، ګاټي او يا په کمان سره وويشتل سي.

٦_ په آپ کي مسائل اور ان کا حل، کي يې له دې تفسير څخه استدلال کړی دئ او مردار يې بللي دي او په بل ځای کي وايي، لنډه دا چي د ربړ د ويشتلو او توپک حکم لکه د لرګي داسي دئ د تېري څوکي آلې والا حکم يې نه دئ، په دې سره ښکار سوي حيوان که چيري مړ سي حلال نه دئ. د دې دواړو عبارتو جواب دا دي چي کله د ذبح اضطراري شرائط موجود سي، نو بيا له څه امله څخه دغه حيوان مردار بلل کيږي؟ لکه د دمشق مفتي چي وايي:

فالمطلوب الخزق وإنهار الدم بأی شیء کان، وهذه الأوصاف فی الرصاصة علی أکمل وجه فلا شبهة أن ما صيد بها ولم يدرک حياً حل أکله بشروطه.

حاصل يې دا سو چي اکابرو د دې ځينو فقهاء کرامو له عباراتو استدلال کړی دئ کومو چي پخوانۍ بندقه خپل مخ ته ايښي او د حرمت حکم يې پر کړی دئ، يا يې د علامه شامي رحمه الله او ابن نجيم رحمه الله له عباراتو څخه استدلال کړی دئ، د دې په اړوند بيان سوی دئ.

د يوې شبهې ازاله:

ځينو مفتيانو کرامو په خپلو رسالو کي ليکلي دي چي علامه شامي رحمه الله د توپک د ښکار پر حلت يوه مستقله رساله ليکلې ده. په فتح الملهم کي يې وګورئ:

وذكر بعض المعاصرين أن ابن عابدين ألف رسالة فى جواز الاصطياد ببندقة الرصاص (راجع: الذبائح فى الشريعة الاسلامية، للدكتور عبد الله عبد الرحيم العمادي، ص ۱۲۳، طبع بيروت) ولكني لم أجد هذه الرسالة، وقد رأيت أنه جزم فى رد المحتار بعدم الجواز. (تكملة فتح الملهم ۳/ ۴۹۱، ط: دار العلوم كراتشى).

مولانا خالد سيف الله صاحب وايي:

ډاکټر عبد الله عبد الرحيم العمادى رحمه الله وايي، چي علامه ابن عابدين شامي رحمه الله د دې پر حلال والي يوه مستقله رساله ليکلي ده، خو علامه شامي رحمه الله په فتاوى الشامى کي د ابن نجيم رحمه الله په حواله سره صراحة د توپک د ښکار حرمت بيان کړی دئ، بيا يې پر حلت څنګه رساله ليکلي ده. (حلال وحرام، ص ۱۶۲، بندوق کاشکار).

که چيري يو رساله وای، نو په فتاوى يا په رساله ابن عابدين کي به يې څه ذکر سوي وای؟

د دې شبه حل دا دئ چي کومو علماء کرامو د علامه شامي رحمه الله طرف ته نسبت وليدئ هغوی ابن عابدين شامى رحمه الله ورڅخه مراد کړ او هغوی ته له لفظ د علامه شامي څخه اشتباه وسو، ځکه چي په اصل کي علامه شامي د دمشق مفتي محمود بن محمد الحمزاوي د توپک د ښکار د حلت په اړه رساله په نامه د ((فتوى الخواص فى حل ما صيد بالرصاص)) سره تصنيف کړې ده کومه چي مخکي په تفصيل سره ذکر سوه که نه د علامه ابن عابدين هيڅ يوه رساله په دې اړوند زموږ د علم مطابق نه سته. والله اعلم بالصواب.

توپک په کومه سنه کي ايجاد سوی دئ؟

د مذکوره ابحاثو له پوهيدلو وروسته د دې پېژندل هم ضروري دئ چي د توپک ايجاد په کومه پيړۍ کي سوی دئ:

په حاشيه الدسوقي کي راځي:

الحاصل أن الصيد ببندقة الرصاص لم يوجد فيه نص للمتقدمين لحدوث الرص به بحدوث البارود فى وسط المائدة الثامنة. (حاشية الدسوقى: ۴/ ۱۰۴).

مؤرخ محمد بيرم بن مصطفى (م۱۳۰۷ هـ) په تحفة الخواص کي وايي:

اعلم أن البارود حدث سية سبعمائة وسبع وثلاثين وذلک، قبل حدوث المدافع بعشر سنين ولايعرف محدثه كذا في بعض كتب المتأخرين والحق أنه كان معروفاً في الصين قبل تاريخ المسيح عليه السلام بأحقاب كثيرة إلا أن استعمالهم له كان للإصلاح لا للتدمير... وإن كان قد ظهر من أدوات سلاحهم ما يتحقق أنهم جعلوه له لكن لم ينقل عنهم استعماله في حرب قط ثم نقلته عنهم العرب.... (نقلاً عن درة الغواص، ص ۱۴ - ۴۲).

(انسائکلو پیډیا) **Encyclopedia**

(برطانکه) **Brittanica**

The invetion of qunpowder in the ۱۴th century and the perfection of the MATCHLOCK- RIFLE in the ۱۵th century dramatically Chanqed the method of huntinq.

ترجمه: په څورلسمه پیړۍ کي د بارودو ایجاداو بیا په پنځلسم پیړۍ کي د رائفل ټوپک له جوړولو د ښکار طریقه بالکل بدله سوه. والله ﷻ اعلم.

د ځینو مفتیانو کرامو مزید شبهات او د هغو جوابونه:

۱_ شبه: د علامه شامي رحمه الله عبارت: ولايخفى أن الجرح بالرصاص إنما هو بالإحراق والثقل بواسطة اندفاعه العنيف إذ ليس له حد. (فتاوی الشامی: ۶/ ۴۷۱، سعيد).

أقول: احراق نه دئ دا خو منل سوي دي، لکه قطب الاقطاب حضرت شيخ ګنګوهی رحمه الله چي يې په خپله تجربه کړې ده. (تذکره الرشيد: ۱/ ۱۳۹)، همدا ډول شيخ حمزاوی رحمه الله د دمشق مفتي هم تحقيق کړی دئ:

پاته سوه خبره د ثقل، نو سوال دا دئ چي آيا ګولۍ په ثقل سره سرايت کوي، ثقل خو يو شی غورځه وي؟

دوهم خبر دا ده چي د ګولۍ ثقل له بداهت څخه خلاف دئ، دا په تېزي کي خپل کار کوي د ګولۍ څوکه او د بارودو زور دواړه يو ځای په هغه کي تېزي پيدا کوي.

قوله: إذ ليس له حد فلايحل ـ حد: د طرف په معنا دي او طرف څنډه پای او ځوکه ته ولو ته وايي، علامه شامي رحمه الله په اصل کي د خپلې زمانې بندوق (توپک) په نظر کي نيولي دئ او وايي چي دا تېره نه دي، وينه نه په بهيږي، خو امکان لري چي په هغه وخت کي د ښکار له پاره څه خاصي ګولۍ موجود نه وي مګر که چيري علامه شامي رحمه الله د نن زمانې د توپک ګولۍ ليدلی وای. کومي چي خالص د ښکار له پاره جوړيږي او تېزي وي له هغو څخه زخم او وينه بهېدل هم حاصليږي. نو هيڅکله به يې د عدم جواز فتوی نه وه ليکلي، او هغه په خپله په صراحت سره ويلي دي چي که چيري تېره وي او وينه ترې وبهيږي، نو ښکار حلال دئ.

وګورئ له قاضي خان څخه نقل کوي:

قال: قاضيخان: لايحل صيد البندقة والحجر والمعراض... لأنه لا يخزق إلا أن يكون شيء من ذلک قد حدده وطوله کالسهم وأمکن أن يرمی به، فإن کان کذلک وخزقه بحده حل أکله، وأما الجرح الذي يدق فی الباطن ولاخزق فی الظاهر لايحل لأنه لايحصل به إنهار الدم... الخ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۴۷۱، سعيد).

د دې عبارت خلاصه دا ده، چي که چيري له خزق يعنی نفوذ څخه زخم پيدا سي او وينه يې وبهيږي، نو ښکار حلال دئ او که زخم د ثقل طرف ته منسوب ؤ چي په هغه کي نفوذ نه وه، نو هغه لکه وهل داسي دي له دې څخه وينه نه بهيږي، لهذا ښکار حلال نه دئ.

په موجوده زمانه کي د ګوليو د ليدو څخه ښکاريږي چي زخم وهلو ته منسوب نه دي بلکي زخم له نفوذ څخه پيدا کيږي او وينه يې هم بهيږي، لهذا د علامه شامي رحمه الله له تحقيق سره سم ښکار حلال دئ.

د مذکوره لوړ عبارت تشريح او ښکاري ګوليو د جوړښت په نظر کي نيولو سره د حضرت مفتي محمد تقی عثماني زيد مجده له عبارت څخه د توپک ښکار بالاتفاق حلال دئ، عبارت يې وګورئ، پورته ليکل سوی اختلاف هغه وخت دئ چي ګولۍ ځوکه نه لري، البته که د ګولۍ جوړښت داسي سوی ؤ چي ځوک يې درلوده، نو په دې صورت کي هغه حيوان بالا تفاق حلال دئ. (تقرير ترمذی: ۲/ ۱۳۳. بندوق سی شکار کيی هوئی جانور کا حکم).

له مشاهدې څخه د رڼا ورځې په شان معلومیږي چې د ښکار له پاره خاصې ګولۍ څوکې لرونکې وي.

تجربه او مشاهده:

ځینو ښکاریانو په دې ډول تجربه کړې ده چې یوه خالي ډبه یې پر مځکه ایښې ده نښانه کړې او ویشتلي یې ده خو ګولۍ ترې وتلې ده او ډبه نه ده غورځېدلې که چیرې په ګولۍ کې ثقل وای، نو ډبه غورځېده مګر داسې ونه سول.

لنډه: دا چې په دې کې ثقل نه سته لکه علامه ابو السعود مصري چې په فتح العين کې لیکلې دي، چې که چیرې زخم له خفت څخه ؤ نو حلال دئ، وګورئ:

وأما إذا كان القتل بالجرح للخفة بأن كان لها حدة فيحل. (فتح المعين: ۲/ ۴۳۱، كتاب الصيد، ط: سعيد).

همدا ډول علامه شامي رحمه الله په كتاب الجنايات کې قصاص واجب بولي او وايي:

قلت: وعلى كل فالقتل بالبندقة الرصاص عمد لأنها من جنس الحديث وتجرح فيقتص به. (فتاوى الشامى: ۶/ ۵۲۸، كتاب الجنايات، سعيد).

وفي حاشية الطحطاوى على الرد المختار: قلت فعلى ظاهر الروايه لا شک فى وجوب القصاص بالقتل بالبندقة لأنها من جنس الحديد وعلى الأصح يقتص أيضاً لجرحها. (حاشية الطحطاوى: ۴/ ۲۵۲).

وفي شرح منظومة ابن وهبان: والحاصل: إن كل ما تتعلق بهِ الذكاة فى البهائم يتعلق به وجوب القصاص وما لا، كذا ذكره الناطفى فى الأجناس. (شرح منظومة ابن وهبان: ۲/ ۲۰۰، وهكذا فى الفتاوى البزازية: ۶/ ۳۸۱، على هامش الفتاوى الهندية).

د احنافو مشهوره مذهب دا دئ چې په آله غير محدد سره قصاص نه واجبیږي.

دلته له مفتیانو کرامو څخه یوه پوښتنه ده چې که چیرې یو چا ګولۍ وویشتله او څوک یې په مړ کړي، نو آیا تاسو قصاص واجب بولې او که نه؟ آیا دا قتل بالمثقل دئ.

او دا خبره چي کيږي چي غشي نري دي او ګولۍ ثقيله دي دا هم له ظاهر او مشاهدې څخه خلاف ده، غشي يقيناً اثقل (ډېر دروند) وي د نن سبا پر غشي دي نه قياسيږي بلکي د نن سبا غشي هم تر ګولۍ ثقيل وي.

۲_ شبه: غشي يوازي بغير له کمانه هم استعمال کېدلای سي د اسلحي پر ځای او په ګولۍ کي د دې صلاحيت نه سته، د دې جواب دا دئ چي پرې سوي نوک يا مات سوي غاښ دا هم اسلحه نه ده، عرفاً رګونه نه پرې کوي خو که چيرته په پرې سي حيوان حلال دئ، همدا ډول که څوک لرونکی ګولۍ وينه توې کړي او وينه تويه وي، نو په کار دي چي حلال وبلل سي، ذبح اختياري او اضطراري خو په انهار دم کي مشترک دي چي شی تېره وي او وينه وبهيوي بس کافي بلل کيږي يوازي د اسلحي په شکل يې استعمال شرط بلل هيڅ يو ځای په نظر راغلی نه دئ.

۳_ شبه: په دې کي شک وي چي شايد په ثقل سره به وژل سوي وي؟

((أقول)) که چيري په ثقل سره د وژلو شک ورک سي او په ښه ډول يې وينه وبهيږي کوم چي په ذبح اضطراري کي رکن دئ، نو بيا ولي حلال نه دئ؟

همدا ډول د دې شک جواب د تحفة الملوک شارح شيخ محمد بن عبد اللطيف ابن مالک په شرح تحفة الملوک کي دا ورکړی دئ چي که چيري د غشي په ګولۍ سره ښکار ووېشتل سي، نو ښکار حرام دئ په دې کي د شک کولو ضرورت نه سته که د اوسپني يا مسو وغيره په ګولۍ يا په چاړه سره چي بسم الله وويل سي او ويشتل سي او د ويني بهېدلو صلاحيت پکښې وي بيله څه شکه ښکار سوي حيوان حلال دئ. عبارت وګورئ:

ولايحل الصيد بالبندقة وهي: طينة مدورة يرمى بها، لأنها لاتجرح بل يدق ويكسر....

قال: وفى الكنز وما قتله المعراض بعرضه أو البندقة حرم.

وقال فى الينابيع: وإن رماه بمعراض فجرحه أكل كيف ما أصابه، وكذلك البندقة والحجر، والعودة، فيحمل كلام صاحب الكنز على البندقة من الطين، وكلام الينابيع على البندقة من الرصاص. انتهى. وقال الشيخ عبد المجيد الدرويش فى تعليقات شرح التحفة قوله البندقة من الرصاص، وهو محدد يجرح. (شرح تحفة الملوك مع التعليقات: ۲/ ۱۷۱۸).

او بیا حلال شی ته حرام ویل هم زیادتي دئ:

﴿ قل من حرم زينة الله التى أخرج لعباده والطيبات من الرزق ﴾ پاک او حلال مال ته حرام ویل هیڅکله هم صحیح نه دي؟ حلال او حرام چي سره جمع سي حرام ته ترجیح ورکول کیږي د دې مثال دا دئ چي د مسلمان او مجوسي سپي په ښکار کي سره ګډ سي، نو هلته شبه قوي ده او حرمت غالب دئ او دلته داسي نه ده.

۴_ شبه: جمهور علماء احناف د حرمت طرف ته دي.

د دې جواب دا دي چي د شام مفتي کوم چي حنفي المسلک ؤ هغه پر حلت باندي رساله لیکلي ده چي د ((فتوى الخواص فى حل ما صيد بالرصاص)) په نامه سره مشهوره ده او په منية الصيادين کي له (۱۹۲ تر ۱۹۸) پوري د دې ذکر دئ، همدا ډول د الفقه الحنفي وادلته مصنف هم د جواز قائل دئ.

علامه شیخ محمد عابد الانصاري السندي رحمه الله هم د ښکار پر حلت رساله لیکلي ده له دې څخه پرته د فقهاء احنافو، مالکیه او حنابله ؤ عبارات ذکر سوه له هغو څخه هم معلومیږي چي جمهور د حلت قائل دي، پاته سوه د موجوده زمانې مفتیان کرام کومو چي د عدم جواز فتواوی لیکلي دي د هغوی پر دلائلو له غور او فکر کولو څخه معلومیږي چي د دوی دوې ډلي دي:




۱_ ځینو د علامه شامي رحمه الله عبارت بنیاد جوړ کړی دئ، خو د دې جواب او څه مختصره خبره مخکي تېره سوه.

۲_ او نور حضراتو بیا د موجوده زمانې توپک د فقهاء کرامو د زمانې پر بندقه قیاس کړی دئ، د دواړو په منځ کي څه فرق دئ مخکي په تفصیل سره تېر سو د موجوده زمانې په توپک کي استعمالېدونکی ګولۍ څوکه لري، زخم او انهار دم په ښه ډول کوي: (دلته د بندقه څخه مراد توپک دئ).

په دغو انځورو کي یې وګورئ:





د ښکار پر مسئله د مقاله ليکوال اسباب:

په اصل کې پر دې مسئله د زيات تحقيق کولو درې اسباب دي:

۱_ په جنوبي افريقا کي د ملک د ډېرو دار الافتاؤ د مفتيانو کرامو يو مجلس ((جمعية المفتين)) په نامه سره منعقد کړی دئ چي په دې کي پر موجوده حالاتو او جديدو مسائلو باندي

بحث او مباحثه کیږي د دې په مناسبت په تاریخ (۷ مئی ۲۰۰۳) له (٦. ربیع الثانی. ۱۴۲۴) سره سم د چار شنبې په ورځ د ازاول په ځای کې د ښکار پر مسئله بحث او مباحثه وسوه او مفتیانو کرامو خپل خپل تحقیقونه او مقالې را وړاندې کړې، د دې مجلس له پاره دا د هغې مقالې یوه برخه تیاره سوه او د مجلس د شرکاؤ مخ ته وړاندې هم سوه وروسته نور اضافات هم کې وسول. بیا د علامه محمد عابد سندي انصاری رحمه الله علیه رساله هم بنده ته د اسلام آباد له یو کتب خانې څخه په لاس ورغله.

شیخ محمد عابد سندی رحمه الله علیه د مولانا عبد الغنی مجددي شیخ دئ، د مولانا عبد الغنی مجد دي د سنن ابن ماجه په حاشیه ((انجاح الحاجة)) کې د توسل په مسئله کې وایي، ((ذکر شیخنا عابد السندی فی رسالته)).

بیا په (صفحه ۹۹) کې لیکي ((وقد کتب شیخنا المذکور رسالة مستقلة فیها التفصیل))

(ص ۹۹) او حضرت مولانا عبد الغنی رحمه الله علیه د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله علیه او حضرت گنگوهی رحمه الله علیه دواړو شیخ دئ.

۲ـ دوهمه مهمه او بنیادي وجه دا ده چې په دې ملک کې د ښکار عام رواج دئ په عام ډول خلک د رخصتیانو په شپو کې د ښکار له پاره ځي او ښکار کوي، حیوان ډېر گران وي مثلاً په پنځه، شپږ زره روپۍ یو حیوان وي بیا له گولۍ ویشتلو وروسته کله کله ښکار ته رسېدل مشکل وي د ډېر مسافت له امله، نو ځکه کله کله داسي کیږي چې له گولۍ ویشتلو وروسته د ښکاري تر رسېدلو مخکې ښکار سوي حیوان مړ کیږي چې د دې له امله ډېر نقصان راځي پر همدې بنیاد ډېرو ښکاریانو خاصه یادونه راته وکړه چې پر دې مسئله دې ښه غور او فکر وسي او د شریعت له نظره دې صحیح لاره راته وښودل سي.

۳ـ څنگه چې په هره زمانه کې الآت بدلیږي لکه د فقهاء کرامو په زمانه کې د توپک جوړښت مختلف ؤ چې د دې له امله ډېرو فقهاء کرامو د خاوري گولۍ ته گولۍ ویل دي او زموږ په زمانه کې د توپک نوعیت او جوړښت ډېر جلا دئ، لهذا د دې ډېر ضرورت ؤ چې د دواړو په منځ کې فرق معلوم سي ځکه چې ښکاره خبره ده چې د الآتو له بدلیدو سره احکام هم بدلیږي کوم حکم چې د خاوري د گولۍ دئ هغه حکم د څوکه لرونکی گولۍ بالکل نه دئ. والله تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى

﴿ ويحل لهم الطيبت ويحرم عليهم الخبئث ﴾. (الاعراف: ۱۵۷)

عن أبي ثعلبة أن رسول الله ﷺ نهى عن أكل كل ذى ناب من السباع. (رواه البخارى).

وعن ابن عباس رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن كل ذى ناب من السباع وعن كل ذى مخلب من الطير. (رواه مسلم).

دوهم باب

مايؤكل لحمه من الحيوانات وما لايؤكل

وعن أبى قتادة رضي الله عنه فى قصة الحمار الوحشى، فاكل منه النبى ﷺ. (متفق عليه).

وعن ابن أبى أو فى قال: غزونا مع رسول الله ﷺ سبع غزوات ناكل الجراد. (متفق عليه)

وعن أنس رضي الله عنه، فى قصة الأرنب، قال: فذبحها فبعث بوركها إلى رسول الله ﷺ فقبله. (متفق عليه).

دوهم باب

د ماکول اللحم حیوان او غیر ما کول اللحم حیوان احکام

د فیل د غوښو خوړلو شرعي حکم

سوال: د فیل غوښه خوړل ولي ناروا ده؟ حال دا چې هغه وابنه خوري، آیا فیل په ذوناب کي شمېرلي کیږي او که نه؟

الجواب: فقهاء کرامو فیل په ذوناب حیواناتو کي شمېرلي دئ، نو ځکه د دې خوړل ناروا دي، د ذوناب مطلب دا دئ چې څېرونکی وي، غاښونه که یې رباعي وي که اضراس وي او فیل خپل دباندي غاښونه د څېرلو له پاره استعمالوي، نو ځکه د هغه خوړل ناروا دي او دا ښکر نه دي ځکه چې ښکر خو پر سر وي او دا د غاښو پر ځای مخامخ وي لکه دا چې د غاښونو یوه برخه وي چې یوازي د څېرلو له پاره استعمالیږي او وابنه خوړل یې د حلت دلیل نه دئ خر او غاتره هم وابنه خوري، خو بیا هم حرام دي:

په حدیث شریف کي یې وګورئ:

عن ابن عباسٍ رضی اللہ عنہ أن رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم نهى عن كل ذى نابٍ من السباع وعن كل ذى مخلبٍ من الطير. (مسلم شريف: ۲/ ۱۴۷).

په بحر الرائق کي راځي:

ولايؤكل ذوناب ولا مخلب من سبع وطير يعني لايحل أكل ذوناب من سباع البهائم وذى مخلب من سباع الطير لما روى ابن عباس رضی اللہ عنہ.... ويدخل فيه الفيل أيضاً لأنه ذوناب. (البحر الرائق: ۸/ ۱۷۱، كوئته). (وكذا فى بذل المجهود: ۱۱/ ۵۲۵، دار البشائر الاسلامية).

وقال فى الهداية: والفيل ذو ناب. (الهداية: ۴/ ۴۴۰).

وقال فى المحيط البرهانيي: والمراد من الناب والمخلب الناب الذى هو سلاح والمخلب الذى هو سلاح.... وكرهوا أيضاً الفيل والدب والقرد والضب. (المحيط البرهاني ۶/ ۴۳۱، مكتبة رشيدية).

وقال في منية الصيادين: ولا يؤكل كل ذى ناب من السباع وكل ذى مخلب من الطير والمراد من الناب والمخلب: الناب الذى هو سلاح وكرهوا لحم الفيل. (منية الصيادين، ص ۲۰۵).

وفيه أيضاً: وكل ذى ناب من السباع وذى مخلب من الطير حرام كالأسد والفهد ... والفيل والقرد. (منية الصيادين، ص ۲۰۶).

وفى الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد: مالايحل اكله... فيل. (الفقه الحنفى: ۵/ ۲۵۹).

په اعلاء السنن كي رائحي:

الفيل محرم، قال أحمد: ليس هو من أطعمة المسلمين، وقال الحسن: هو مسخ، وكرهه أبو حنيفة، والشافعي، ورخص فى أكله الشعبى، ولنا نهى النبى ﷺ عن أكل كل ذى ناب من السباع، وهو من أعظمها ناباً، ولأنه مستخبث، فيدخل فى عموم الآية المحرمة.

أغرب ابن حزم حيث قال: وأما الفيل فليس سبعاً، ولا جاء فى تحريمه نص فهو حلال، قلنا: كونه من السبع أظهر من أن يخفى على عاقل، ولعله رأى الفيلة المستأنسة، ولم يرالمتوحشة فى الجبال والصحارى، ولوكان الاستئناس دليل انعدام السبعية لم يكن الدب، والفهد أيضاً من السباع، فان كلها تستأنس، وتنقاد للانسان، واى نص اصرح فى تحريمه من قوله صلى الله عليه وسلم: « كل ذى ناب من السباع فا كله حرام» والفيل من اعظمها ناباً، كما لايخفى.

والعجب ممن يقول: بأن الكلب ذو ناب من السباع، وكذلك الهر والثعلب، فكل ذلك حرام، ويخفى عليه ناب الفيل، فإن كان كذلك، فقد خفى عليه ما لم يخف على أحد غيره. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۵۴).

په فتح القدير كي رائحي:

الفيل كالخنزير نجس العين عند محمد فيكون حكمه وعند أبى حنيفة وأبى يوسف هو كسائر السباع نجس السؤر واللحم لا العين فيجوز بيع عظمه والانتفاع به في الحمل والمقاتلة والركوب فكان كالكلب يجوز الانتفاع به. (فتح القدير: ۶/ ۴۲۷، دار الفكر).

په مجمع الانهر كي رائحي:

ويحرم أكل ذى أى صاحب ناب.... والفيل لأنه ذو ناب. (مجمع الانهر: ۲/ ۵۱۳).

په لسان الحكام كي رائحي:

(نوع فيما يؤكل وفيما لايؤكل) وفى شرح الطحاوى: لا يؤكل ذو ناب من السباع. بيانه الأسد والذئب والنمر والفهد والثعلب والضبع والكلب والسنور الأهلى والبرى والفيل. (لسان الحكام، ص ۳۸۰، الفصل الثانى والعشرون، دار الفكر).

په بدائع الصنائع كي رائحي:

وعن الزهري رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «كل ذي نابٍ من السباع حرام»، فذو الناب من سباع الوحش مثل الأسد والذئب والضبع والنمر والفهد... والفيل ونحوها فلا خلاف في هذه الجملة أنها محرمة إلا الضبع فإنه حلال عند الإمام الشافعي رحمه الله. (بدائع الصنائع: ۵/ ۳۹، سعيد).

په بنايه شرح الهدايه كي رائحي:

والفيل ذو ناب فيكره فإن قلت: إن لـم يكن من السباع فلا يكره قلت: الناس لايعدونه من السباع ولكن فيه معنى السبعية وإلـحاقه بالسباع يكون بنوع من الاجتهاد فهذا استعمل لفظ الكراهة كذا قال تاج الشريعة قلت: الـمراد من الكراهة التحريم فأكله حرام وبه قال: أكثر أهل العلم إلا الشعبى فإنه أرخص في أكله لعموم قوله سبحانه وتعالى: ﴿ قل لا أجد فيما أوحي إلي محرماً ﴾، الآية: وبه قال أصحاب الظاهر وللعامة أنه ذوناب فيدخل في عموم الـحديث لأنه مستخبث فيدخل في الـخبائث. (البناية شرح الهداية: ۱۰/ ۶۹۸، رشيدية).

دفيل دغاښ په اړه انسائيكلو پيډيا وغيره كتابونه وګورئ، پكښې راځي.

دانګرېزي عباراتو خلاصه په لاندي ډول ده:

په عمومي توګه انياب هغه غاښونه دي چي په هغو سره حيوان شڅېرل كوي مګر فيل يو داسي حيوان دئ چي د دې غاښ خوا اوږد وي مګر د نوي معلوماتو له مخي دا انياب نه دي بلكي رباعي دي.

د فيل غټ غاښ كوم چي د هغه د سر له كاسي څخه دئ دا په اصل كي د غټ انياب پر ځاى غټ رباعي دئ.

فيل هغه خپل دواړه غاښونه د مځكي د كندلو له پاره استعمالوي چي له هغه څخه خواړه را وباسي چي كله په خپل منځ كي جنګ كوي په دې غاښو سره له خپلو ځانو دفاع كوي او په دې سره پر يو تن بار وړلو قدرت پيدا كوي. (ولډبک انسائيكلو پيډيا).

لنډه دا چي د فيل غاښ كه رباعي وي كه اضراس فيل يې د شڅېرلو له پاره استعمالوئ، نو ځكه هغه په ذوناب كي داخل دئ او خوراک يې منع دئ. والله ﷻ اعلم.

د زرافه د غوښو خوړلو شرعي حكم

سوال: د زرافه غوښه خوړل روا دي او كه نه؟ د هغه غاښونه وي مګر په غاښو سره پر يو حيوان حمله نه كوي داوښ په ډول دي؟

الجواب: د زرافه ډېر خوراک د درختو پاڼي او نرم ښاخونه دي او دا له ښكاري حيواناتو څخه نه دي او له شوافع علماء څخه د امام سبكي رحمه الله له تحقيق سره سم دا له ذوناب څخه نه دي، نو ځكه د دې د حرمت څه ظاهري وجه نه معلومېږي، د دې غوښه خوړل روا دي:

په الا شباه والنظائر کي راځي:

ومنها : مسألة الزرافة، مذهب الشافعي رحمه الله القائل بالإباحة الحل في الكل، وأما مسألة الزرافة فالمختار عندهم حل أكلها وقال السيوطي : ولم يذكرها أحد في المالكية والحنفية وقواعدهم تقتضي حلها والله أعلم . (الاشباه والنظائر: ۱/ ۶۶، تحت القاعدة الثالثة: اليقين لايزول بالشک).

امام سیوطی رحمه الله په الا شباه والنظائر کي وايي:

مسألة: الزرافة، قال السبكي : المختار حل أكلها: لأن الأصل الإباحة، و ليس لها ناب كاسر، فلا تشملها أدلة التحريم و أكثر الأصحاب لم يتعرضوا لها أصلاً لا بحل و لا بحرمة، و صرح بحلها في فتاوي القاضي الحسين و الغزالي، و تتمة القول و فروع ابن القطان و هو المنقول عن نص الإمام أحمد .... و لم يذكرها أحد من المالكية و الحنفية و قواعدهم تقتضي حلها.

(الاشباه والنظائر للامام السیوطی: ۱/ ۱۳۳، ط: بیروت).

په در مختار کي راځي:

(ولا يحل ذو ناب يصيد بنابه) فخرج نحو البعير (أو مخلب يصيد بمخلبه) أى ظفره، فخرج نحو الحمامة (من سبع) بيان لذی ناب. (الدر المختار: ۶/ ۳۰۴، کتاب الذبائح، سعيد).

وقال فی « الفقه على المذاهب الأربعة» ويحرم أكل كل ذى ناب من سباع البهائم يسطو به على غيره.... فخرج ما له ناب لايسطو على غيره كالجمل فإنه حلال. (الفقه على المذاهب الاربعة: ۲/ ۵، کتاب الحظر والاباحة، مبحث مايمنع اكله ومايباح او مايحل ومالايحل، مكتبة الثقافة الدينية).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (حلال وحرام چوپائی اور ان کی طبی فوائد، ص ۹۰).

والله تعالیٰ اعلم.

د ځنګلي خره د غوښه خوړلو شرعي حکم

سوال: د ځنګلي خره د غوښو څه حکم دئ؟

الجواب: حمار الزرد، حمار الوحش د ځنګلي خرو له ډولونه څخه يو ډول دئ څنګه چې ځنګلي خره غوښه خوړل روا دي، همدا ډول د دې خره او نورو ځنګلي خرو غوښه خوړل هم روا دي.

په حديث شريف کي راځي:

عن أبي قتادة رضي الله عنه، أنه كان مع رسول الله ﷺ حتى إذا كان ببعض طريق مكة تخلف مع أصحابٍ له محرمين وهو غير محرمٍ فرأى حمارًا وحشيا .... سألوه عن ذلك قال: إنما هي طعمة أطعمكموها الله. (رواه البخاری، رقم :۲۹۱۴، باب ماقيل فی الرماح، ومسلم، رقم ۱۱۹۶).

په المعجم الوسيط کي راځي:

وحمار الزرد أو الوحش: جنس حيوان من ذوات الحوافر وفصيلة الخيل معروف بألوانه المخطط. (المعجم الوسيط، ص ۱۹۶، کتب خانه حسينيه، ديوبند).

په المنجد کي راځي:

الحمار: خره دا کورنی هم وي او ځنګلي هم وي له دې امله ځنګلي ته حمار وحش، حمار الوحش او الحمار الوحشی وايي، حمار الزرد ځنګلي سپين رنګه سپينو ليکو والا خر.

په المورد ((قاموس انکليزي، عربي)) کي راځي:

العثابی، حمار الزرد، حمار وحشی۔ (ZEBRA)۔ (المورد، ص ۱۳۸۰).

په عالمګيري کي راځي:

وما له دم سائل نوعان: مستأنس ومتوحش، أما المستأنس من البهائم فنحو الإبل والبقر والغنم يحل بالإجماع، وأما المتوحش نحو الظباء وبقر الوحش وحمر الوحش وإبل الوحش فحلال بإجماع المسلمين. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۹، باب بيان مايؤكل من الحيوان وما لايؤكل).

په الموسوعة الفقهية کي راځي:

النوع الرابع : كل وحشٍ ليس له ناب يفترس به وليس من الحشرات : وذلك كالظباء ، وبقر الوحش ، وحمر الوحش ، وإبل الوحش . وهذا النوع حلال بإجماع المسلمين ، لأنه من الطيبات . (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۵/ ۱۳۴، ط: وزارة الاوقاف). والله ﷻ اعلم.

د كنگرو د غوښي د خوړلو حكم

سوال: د سائنس پوهانو په قول كنگرو د هوسۍ په ډول دئ اوس پوښتنه دا ده چي آيا په شريعت كي هم د هوسۍ په ډول دئ، او د دې غوښه خوړل د هوسۍ د غوښي په ډول روا ده؟

الجواب: په دې صورت كي د هوسۍ د غوښي په ډول د كنگرو د غوښي خوړل هم روا دي، له ځينو ماهرينو څخه يې تحقيق وسو، نو معلومه سوه چي كنگرو بالكل غوښه نه خوري بلكي د هوسۍ وغيره په ډول يوازي واښه خوري او ذوناب هم نه دئ چي په خپلو غاښو او پنجو ښكار كوي، نو ځكه د دې په خوړلو كي هيڅ باك نه سته:

په عالمگيري كي راځي:

وأما المتوحش نحو الظباء وبقر الوحش وحمر الوحش وإبل الوحش فحلال بإجماع المسلمين. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۹، باب بيان مايؤكل من الحيوان وما لايؤكل).

په الموسوعه الفقهيه كي راځي:

النوع الرابع : كل وحشٍ ليس له ناب يفترس به وليس من الحشرات : وذلك كالظباء ، وبقر الوحش ، وحمر الوحش ، وإبل الوحش . وهذا النوع حلال بإجماع المسلمين ، لأنه من الطيبات . (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۵/ ۱۳۴، ط: وزارة الاوقاف).

كنگرو (kanqaroo) د استړليا يو حيوان دئ چي د مخ پښي يې لنډي او د شا پښي يې اوږدي وي د هغه په نس كي يوه كڅوړه وي چي په هغه كي خپل بچيان ساتي. (فيروز للغات، ص ۱۰۳۶، وقاموس انگريزى عربى، ص ۶۲۸).

په انسائيكلو پيډيا كي دا هم ليكلي دي:

دهغه په خوړلو کې په عامه توګه د درختو پاڼې، واښه او نباتات وغیره وي او د هغه په غاښو کې انیاب هم نه وي. والله ﷻ اعلم.

د کارغه د غوښې د خوړلو شرعي حکم

سوال: آیا کارغه حلال دئ که حرام؟ او د کارغه څو ډولونه دي له احادیثو څخه د کارغه حرمت معلومیږي د دې احادیثو څه تاویل دئ؟

الجواب: د کارغه درې ډولونه دي:

۱_ د کښتو کارغه کوم چې غله دانه وغیره خوري او مرداري بالکل نه خوري، دا په اتفاق سره حلال دئ.

۲_ ((الابقع)) کوم چې همېشه مردار خوري د دې غوښه خوړل په اتفاق سره ناروا ده.

۳_ ((عقعق)) قاق: کوم چې غله (دانه) او مرداري دواړه خوري، په دې کې اختلاف دئ د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند د دې خوړل بلا کراهت روا دي او د امام ابو یوسف رحمه الله په آند مکروه دي او فتوی د امام صاحب رحمه الله پر قول ده:

په اللباب فی شرح الکتاب کې راځي:

(ولا بأس بغراب الزرع)، وهو المعروف بـ : بالزاغ؛ لأنه يأكل الحب، وليس من سباع الطير، وكذا الذي يخلط بين أكل الحب، والجيف كالعقعق، وهو المعروف بـ : القاق، على الأصح، كما في «العناية» وغيرها.

وفي الهداية: لا بأس بأكل العقعق، لأنه يخلط، فأشبه الدجاجة، وعن أبي يوسف: أنه يكره؛ لأن غالب أكله الجيف . (ولا يؤكل) الغراب (الأبقع الذي يأكل الجيف) ...

قال القهستاني: أي لا يأكل إلا الجيفة، وجثة الميت.

وفيه إشعار بأنه لو أكل من الثلاثة : الجيفة، والجثة، والحب جميعاً : حل، ولم يكره. وقالا: يكره، والأول أصح.

وفي « العناية» الغراب ثلاثة أنواع:

☆ نوع يلتقط الحب، ولا يأكل الجيف، وليس بمكروه.

☆ ونوع لا يأكل إلا الجيف، وهو الذي سماه المصنف: الأبقع، وإنه مكروه.

☆ ونوع يخلط : يأكل الحب مرة، والجيف أخرى، ولم يذكره في «الكتاب» وهو غير مكروه عنده مكروه عند أبي يوسف. (اللباب فی شرح الكتاب: ۴/ ۵۷۴، باب مايحل اكله، وما لايحل، ط: دار البشائر الاسلامية).

په مبسوط کي راځي:

وعن هشام بن عروة عن أبيه أنه سئل عن أكل الغراب فقال : ومن يأكله بعد ما سماه رسول الله ﷺ فاسقًا يريد به الحديث المعروف خمس فواسق يقتلهم المحرم في الحل والحرم وذكر الغراب من جملتها ، والمراد به ما يأكل الجيف ، وأما الغراب الزرعي الذي يلتقط الحب فهو طيب مباح ؛ لأنه غير مستخبثٍ طبعًا ، وقد يألف الآدمي كالحمام فهو والعقعق سواء ، ولا بأس بأكل العقعق ، فإن كان الغراب بحيث يخلط فيأكل الجيف تارةً والحب تارةً فقد روي عن أبي يوسف رحمه الله تعالى ... وعن أبي حنيفة رحمه الله تعالى أنه لا بأس بأكله ، وهو الصحيح على قياس الدجاجة ، فإنه لا بأس بأكلها ، وقد أكلها رسول الله ﷺ : وهي قد تخلط أيضًا . (المبسوط للامام السرخسی: ۱۱/ ۲۲۶، كتاب الصيد).

وللاستزادة انظر: (الاختيار لتعليل المختار: ۵/ ۱۶، كتاب الذبائح، والفقه الحنفی فی ثوبه الجديد: ۵/ ۲۵۶، ۲۵۸، ما يحل اكله وما يحرم، و ۶/ ۳۰۸، سعيد، وشرح تحفة الملوک: ۲/ ۱۷۳۷، لابن ملک).

په کومو احاديثو کي چي د دې ممانعت راغلی دئ له هغو څخه څو وګورئ:

عن ابن عمر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: خمس من الدواب ليس على المحرم في قتلهن جناح الغراب والحدأة....الخ. (متفق عليه).

وعن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت: قال رسول الله ﷺ «خمس من الدواب كلها فاسق يقتلن فى الحرم الغراب والحدأة... الخ. (متفق عليه).

مګر فقهاء او محدثينو د دې تصريح کړې ده چې په حديث کې له ذکر سوې غراب څخه هغه مراد دئ چې مردار خوري لکه د مبسوط په حواله چې ذکر سوه، نور يې هم وګورئ:

په مرقات کې ملا علي القاري رحمه الله وايي:

وخرج الزاغ وهو أسود.... ويسمى غراب الزرع لأنه يأكله. (مرقاة المفاتيح: ۵/ ۳۸۸).

په عمدة القاري کې راځي:

الوجه الثاني: في حكم الغراب: فقال صاحب الهداية: المراد بالغراب آكل الجيف وهو الأبقع، روي ذلك عن أبي يوسف، واحتج في ذلك بما رواه مسلم من حديث سعيد بن المسيب عن عائشة عن النبي ﷺ أنه قال: خمس فواسق يقتلن في الحل والحرم: الحية والغراب الأبقع .... وقال القرطبي: هذا تقييد لمطلق الروايات التي ليس فيها الأبقع، وبذلك قالت طائفة، فلا يجيزون إلا قتل الأبقع خاصة... قلت: الروايات المطلقة محمولة على هذه الرواية المقيدة التي رواها مسلم، وذلك لأن الغراب إنما أبيح قتله لكونه يبتدىء بالأذى، ولا يبتدىء بالأذى إلا الغراب الأبقع، وأما الغراب الغير الأبقع فلا يبتدىء بالأذى فلا يباح قتله: كالعقعق وغراب الزرع، ويقال له الزاغ، وافتوا بجواز أكله. (عمدة القارى: ۷/ ۵۰۱، باب مايقتل المحرم من الدواب، دار الحديث، ملتان).

وفيه أيضاً: الغراب الأبقع هو الذى في صدره بياض. وفى المحكم: غراب أبقع يخالط سواده بياض، وهو أخبثهما وبه يضرب المثل لكل خبيث، وقال أبو عمر: هو الذى في بطنه وظهره بياض. (عمدة القارى، ص ۴۹۹).

په بدائع الصنائع کې راځي:

قال أبو يوسف الغراب المذكور في الحديث هو الغراب الذي يأكل الجيف ، أو يخلط مع الجيف إذ هذا النوع هو الذي يبتدئ بالأذى والعقعق ليس في معناه ؛ لأنه لا يأكل الجيف ولا يبتدئ بالأذى . (بدائع الصنائع: ۲/ ۱۹۷، سعيد).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۸/ ۲۲۰و ۲۵۵و ۲۲۷، جامعه فاروقيه، وکفايت المفتی: ۹/ ۱۴۱، دار الاشاعت، وتذکرة الرشيد، ص ۱۷۸، وامداد الاحکام: ۴/ ۳۰۹، و فتاوی رحيميه: ۵، وفقهی مقالات: ۲/ ۳۲۰، واحسن الفتاوی: ۷/ ۴۴۱). والله ﷻ اعلم.

د نوي تحقيق په اعتبار سره د کارغه ډولونه

د نوي تحقيق سره سم د کارغه ټول شپږ ډولونه دي:

۱ – (nutcracker) دا په شمالي امريکا، ايشيا او اوروپا کي پيدا کيږي د دې اصلي غذا (خواړه) غله ده او کوچني کوچني حيوانات هم خوري.

۲ _ (magpie) دا چنجيان، د مرغانو هګۍ، پاڼي، مېوي وغيره ګډ خواړه خوري.

۳ _ (serub jay) دا يوازي وابنه او پاڼي خوري.

۴ _ (jackdaw) دا په اوروپا او مشرقي ايشيا کي پيدا کيږي او ګډ وډ خواره خوري.

۵ _ (raveh) دا په کاناډا او شمالي افريقا کي پيدا کيږي د دې خواړه د درختو پاڼي، ميوه او کوچني مرغان وغيره دي.

۶ _ (rook) دا په اوروپا کي په لاس راځي، په لوړو ذکر سوې ډولونه کي چي د کوم يوه خوراک پاڼي، وابنه، مېوه وغېره ده د هغو خوراک خو روا دئ او کوم چي ګډ وډ خواړه خوري د هغو خوراک مکروه دئ د کوڅه ګښتي چرکۍ په ډول له هغو څخه يو ډول په (jay) کي داخل دي هغو يوازي مردار خوري او د ښکاري حيواناتو سره اوسي، د ښکار غوښه خوري، نو ځکه د دې خوړل بالکل حرام دي.

فائده: فقهاء چي کوم ته عقعق وايي، هغه (maqpie) دي.

الغذاف (raven) وهو المعروف عند اهل اللغة بالابقع، د کوم چي پر نس يا سينه او شا سپينوالي وي.

jay : طائر کالغراب أبو زريق.

rook : الغداب، غراب القيظ، **rookary** موضع تتولد فيه الغدفان أو جماعة من الغدفان.

jackdaw: الزاغ الزرعي. غراب الزيتون.

راجع: (رد المحتار:۲/ ۵۷۰، سعيد، واعلاء السنن: ۱۷/ ۱۷۴، وقاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۵۷). والله ﷻ اعلم.

د خره د غوښي د حراموالي حکمت

سوال: خر واښه خوري، نو بيا د دې د حرمت څه حکمت دئ؟ له حديث شريف څخه د دې حرمت روښانه دئ، خو د واښو خوړلو له امله يې شبه پيدا کيږي؟

الجواب: د اسلام دا قانون دئ چي هغه خپلو منونکو ته د لوړو اخلاقو او ښه صفاتو تعليم ورکوي او د هر ډول بد اخلاقي، بد تميزي او بدو صفاتو څخه يې منع کوي دا خبره خو صحيح ده چي د دې صفاتو صدور د دننه خوړو له اثراتو څخه وي، پر دې بنياد شريعت مطهره د ښه حيواناتو غوښي حلالي بللى دي او د بدو او قبيح صفاتو والا حيوان يې حرام بللى دئ او د خره شمار په بد خويه حيواناتو کي دئ، نو ځکه د هغه غوښه حرامه بلل سوي ده د دې له پاره چي د هغه بد خويونه د انسان ذات ور خراب نه کړي، د خره ځيني بد خويونه په لاندي ډول وګورئ:

۱ـ په خره کي حماقت مشهوره او معروف دئ حتى چي په دې سره متل جوړ سوي دئ.

۲ـ خر واښه خوري، خو که چيري مرداري ورته پيدا سي نو هغه هم خوري.

۳ـ د هغه غوښه د انسان طبيعت سره سمه نه ده د هغه له خوړلو په انسان کي لکه د خر داسي خويونه پيدا کيږي، نو ځکه شريعت خر حرام بللى دئ.

شاه ولي الله رحمه الله وايي:

اعلم أنه لما كانت سعادة الإنسان في الأخلاق الأربعة التي ذكرناها وشقاوته في أضدادها أوجب حفظ الصحة النفسانية وطرد المرضى النفساني أن يفحص عن أسباب تغير مزاجه إلى إحدى الوجهتين.

فمنها: أفعال تتلبس بها النفس وتدخل في جذر جوهرها، وقد بحثنا عن جملة صالحة من هذا الباب.

ومنها : أمور تولد في النفس هيئات دنية توجب مشابهة الشياطين والتبعد من الملائكة وتحقق أضداد الأخلاق الصالحة من حيث يشعرون ومن حيث لا يشعرون ، فتلقت النفوس اللاحقة بالملأ الأعلى التاركة للألوات البهيمية من حظيرة القدس بشاعة تلك الأمور كما تلقى الطبيعة كراهية المر والبشع ، وأوجب لطف الله ورحمته بالناس أن يكلفهم برؤوس تلك الأمور ، والذي هو منضبط منها وأثرها جلي غير خاف فيهم .

ولما كان أقوى أسباب تغير البدن والأخلاق المأكول وجب أن يكون رؤوسها من هذا الباب ، فمن أشد ذلك أثراً تناول الحيوان الذي مسخ قوم بصورته ...

ومنها : الحمار فإنه يضرب به المثل في الحمق والهوان وكان كثير من أهل الطبائع السليمة من العرب يحرمونه ويشبه الشياطين ، وهو قوله صلى الله عليه وسلم : « إذا سمعتم نهيق الحمار فتعوذوا بالله من الشيطان فإنه رأى شيطاناً » .

وأيضاً قد اتفق الأطباء أن هذه الحيوانات كلها مخالفة لمزاج نوع الإنسان لا يسوغ تناولها طبا . (حجة الله البالغة: ۲/ ۳۱۶– ۳۱۸، ط: قديمى).

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (احكام اسلام عقل كى نظر مين، ص ۲۱۳، ط: مكتبة عمر فاروق). والله ﷻ اعلم.

دآس د غوښې شرعي حكم

سوال: دآس غوښه خوړل داحنافو په مذهب كي شرعاً روا ده او كه نه؟ د قرآن كريم او حديث په رڼا كي يې حكم راته بيان كړي؟

الجواب: دآس د غوښو په اړه داحنافو په مذهب كي اختلاف دئ، د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند مكروه ده او د صاحبين په آند روا ده بيا په دې كي اختلاف دئ چي له كراهت څخه مراد كراهت تحريمي دئ او كه تنزيهي دئ، په متونو كي يې كرامت تحريمي غوره ګڼلى دئ او علامه شامي رحمه الله او نورو علماء كرامو كراهت تنزيهي ته ترجيح وركړې ده:

په التصحيح والترجيح كي يې وګورئ:

(ويكره أكل لحم الفرس عند أبي حنيفة)، قال القاضى الإمام الاسبيجابى: الصحيح انه كراهة التنزيه. وقال فى الهداية، وشرح الزاهدى: ثم قيل: الكراهة عنده كراهة تحريم، وقيل: كراهة تنزيه، والأول أصح.

وقالا: لا بأس بأكله. ورجحوا دليل الإمام، واختار قوله المحبوبى والنسفى والموصلى، وصدر الشريعة. (التصحيح والترجيح، ص ۴۱۶، بيروت، البنان، وكذا فى اللباب فى شرح الكتاب: ۴/ ۵۷۷، دار البشائر الاسلامية).

وفي هامش التصحيح: قال المصنف (أى العلامة قاسم بن قطلوبغا) في رسالته في «حكم الإسلام في لحوم الخيل» (۷۶، ۷۷): قال سيف الحق: والرواية الظاهرة عن أبي حنيفة أنه يكره أكلها - أى الخيل - ولا يطلق التحريم، لاختلاف الأحاديث المروية، واختلاف السلف، والاحتياط، قلت: وبهذا أقول، والله سبحان وتعالى أعلم. (حاشية التصحيح والترجيح، ص ۴۱۶).

ځينو علماء كرام وايي، چي امام ابو حنيفه رحمه الله تر وفات دريو ورځي مخكي له دې قول څخه رجوع وكړه.

وګورئ: علامه سيد احمد طحطاوى رحمه الله وايي:

.... بل صح رجوعه عن القول بحرمته قبل موته بثلاثة أيام وعليه الفتوى وذكر شيخ الإسلام وغيره أن أكل لحمه مكروه تنزيهاً فى ظاهر الرواية وهو الصحيح كما فى مجمع الأنهر. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ۲۹، قديمى).

(وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۵، سعيد، وقاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۸).

د امام ابو حنیفه رحمه الله دلائل وګورئ:

د قرآن کریم او ځینو احادیثو تقاضاء دا ده چې د آس غوښه خوړل ممنوع ده ﴿ والأنعام خلقها لكم فيها دفء ومنافع ومنها تأكلون ﴾. (النحل: ۵).

د منها تقاضاء دا ده چې یوازې انعام د خوړلو شی دئ او انعام اوښ، غوا، غوائې، پسه او بوزې ته ویل کیږي، آس په دې کې داخل نه دئ.

بل ځای فرمایي: ﴿ ومن الأنعام حمولةً وفرشًا كلوا مما رزقكم الله ولا تتبعوا خطوات الشيطان إنه لكم عدو مبين ﴾. (الانعام: ۱۴۲).

دریم ځای فرمایي: ﴿ ثمانية أزواجٍ ... ومن الإبل اثنين ﴾(الانعام: ۱۴۳- ۱۴۴).

په دې اتو ډولونه کې د اوښ، غوائې، پسه او بزو ذکر دئ د آس ذکر نه شته:

څلورم ځای وایي: ﴿ والخيل والبغال والحمير لتركبوها وزينةً ﴾. (النحل: ۸).

آسان یې د غیر ماکولاتو په فهرست کې شمېرلي دي او د خوراک ذکر یې کړي نه دئ له دې آیاتو او ځینو احادیثو څخه معلومیږي چې د آس غوښه خوړل منع دي او له ځینو احادیثو څخه معلومیږي چې خوړل یې روا دي، علماء احناف ډېر وخت د تطبیق لاره غوره کوي، نو ځکه د دې تطبیق دا دئ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې کله کله د ضرورت په خاطر د لوږې له امله خوړل سوي دي او د ضرورت له امله د دې کراهت پورته سوې دئ، خو په عامو حالاتو کې یې کراهت پاته دئ مګر په دې زمانه کې نه خوړل سوي دي او نه یې اوس خوړل په کار دي.

په بدائع الصنائع کې راځي:

وتمام هذا الاستدلال أن الله تبارك وتعالى ذكر الأنعام فيما تقدم ومنافعها وبالغ في ذلك ... وكذا ذكر فيما بعد هذه الآية الشريفة متصلًا بها منافع الماء المنزل من السماء ، والمنافع المتعلقة بالليل والنهار والشمس والقمر والنجوم ، والمنافع المتعلقة بالبحر على سبيل المبالغة بيان شفاءٍ لا بيان كفايةٍ ، وذكر في هذه الآية أنه سبحانه وتعالى خلق الخيل ... ذكر

منفعة الركوب والزينة ولم يذكر سبحانه وتعالى منفعة الأكل فدل أنه ليس فيها منفعة أخرى سوى ما ذكرناه. (بدائع الصنائع: ۵/ ۳۸، سعيد).

ځينو احاديثو وګورئ:

ثنا يوسف عن أبيه عن أبي حنيفة عن الهيثم عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه أنه كان يكره لحم الخيل ويقرأ هذه الآية: ﴿ والخيل والبغال والحميرلتر كبوها ﴾. (كتاب الاثار لابي يوسف، ص ۲۳۷، دار الكتب العلمية، بيروت). ونحوه فی مصنف لابن ابی شيبة: (۱۲/ ۳۴۶).

په سنن ابن ماجه کي راځي:

عن خالد بن الوليد رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن لحوم الخيل، والبغال، والحمير. قال البشار عواد: إسناده ضعيف، بقية بن الوليد ضعيف ومدلس، صالح بن يحيى بن المقدام لين الحديث وأبوه يحيى مجهول. (سنن ابن ماجه مع التعليقات: ۴/ ۵۹۸، دار الجيل).

ورواه أبو داود فی سننه وقال: وهذا منسوخ. (سنن ابی داود، رقم: ۳۷۹۰).

وفي رواية الطبراني بسنده عن خالد بن الوليد رضي الله عنه أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا يحل أكل لحوم الخيل والبغال والحمير. (المعجم الكبير للطبرانی:۳/ ۹۵۸، مؤسسة الريان).

په سنن دار قطنی کي راځي:

عن خالد بن الوليد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى يوم خيبر عن أكل لحوم الخيل والبغال والحمير وعن كل ذي نابٍ من السبع أو مخلبٍ من الطير.

وفي رواية له عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن أكل الحمار الإنسى وعن خيلها وبغالها، وهذا إسناد مضطرب. (سنن الدار قطنی: ۵/ ۵۱۷).

وكذا رواه أحمد في مسنده (رقم: ۱۶۸۱۷)، والنسائی فی الكبرى (۴/ ۴۸۳) وقال: هذا الحديث أصح منه ويشبه أن يكون هذا إن كان صحيحاً أن يكون منسوخاً لأن قوله أذن فی

أکل لحوم الخیل دلیل علی ذلک. وکذا رواه البیهقی فی الکبری. (۹/ ۳۲۸، نشر الکتب الاسلامیة).

پر ذکر سوي احادیثو لاندي اعتراضات وارد یږي:

۱_ اعتراض: د دې په سند کي اضطراب دئ په ځینو کي صالح عن ابیه او په ځینو کي عن جده دئ د دې څه جواب دئ؟

الجواب: د دې جواب په اعلاء السنن کي مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله دا ورکړي دئ:

والجواب عنه أن لا اضطراب فی السند، لأن الصحیح هو ما رواه بقیة والواقدی وسلمیان بن سلیم فی روایة علی بن بحر وما رواه محمد بن حمیر أنه سمع جده فوهم ومنشأه أن صالحاً أو ثوراً اختصر فی الروایة فقال عن جده فتوهم منه ابن حمیر أنه سمع جده فرواه علی التوهم ومع ذلک فمحمد بن حمیر متکلم فیه وما رواه عمر بن هارون البلخی فهو إما اختصار فی الروایة أو خطأ منه لأنه ضعیف جداً.

والدلیل علی ما قلناه إن محمد بن حرب یرویه عنه أحمد بن عبد الملک فیقول فی روایة عن صالح عن جده ویرویه عنه علی بن بحر فیقول فی روایة عن صالح عن أبیه عن جده ویدل هذا علی أن هذا الاختلاف لیس من قبیل الاضطراب بل من قبیل الإرسال علی وجه الاختصار والإسناد علی وجه الإتمام فاندفع طعن اضطراب السند. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۴۳، ادارة القرآن).

علامه ابن الترکمانی رحمه الله په الجوهر النقی کي د دې جواب دا ورکړي دئ:

وعمر بن هارون لینظر فیه علی ان عمر بن هارون متروک ومحمد بن حمیر ذکره ابن الجوزی فی کتاب الضعفاء وقال: قال یعقوب بن سفیان لیس بالقوی فکیف توجب روایة

مثل هذين اضطراباً لمارواه اسحاق الحنظلى وغيره عن بقية. (الجوهر النقى: ۹/ ۳۲۸،ط: نشر الكتب).

دابن الجوزي رحمه الله كلام وګورئ: (كتاب الضعفاء، ترجمة: ۳۶۵، ۴۷۵، ۳۵۱۴).

که څه هم د محمد بن حمير توثيق هم سوی دئ وګورئ: (تهذيب الكمال: ۲۵/ ۱۱۹، مؤسسة الرسالة).

لهذا ښه جواب هغه دئ چي په حواله داعلاء السنن ذکر سو.

۲_ اعتراض: ددې په سند کي بقية بن الوليد راوي دئ کوم چي ضعيف او مدلس راوي دئ؟

الجواب: ددې جواب دا دئ چي کله بقية د تحديث تصريح وکړي، نو روايت يې مقبول دئ، په خاصه توګه چي له اهل شام څخه روايت کوي. وګورئ: (الجوهر النقى: ۹/ ۳۲۸، وتهذيب الكمال: ۴/ ۱۹۲، مؤسسة الرسالة).

۳_ اعتراض: په دې روايت کي صالح بن يحيى ضعيف راوي دئ.

امام بيهقى رحمه الله وايي:

أخبرنا محمد بن إبراهيم الفارسى.... ثنا محمد بن إسماعيل البخارى قال: صالح بن يحيى... فيه نظر. (السنن الكبرى: ۹/ ۳۲۸).

الجواب: ددې جواب په الجوهر النقى کي دا ورکړل سوي دئ:

وصالح ذكره ابن حبان فى الثقات. (الجوهر النقى: ۹/ ۳۲۸). (وكذا فى تهذيب الكمال: ۱۲/ ۱۰۹).

۴_ اعتراض: يحيى بن المقدام بن معديكرب مجهول دئ.

الجواب: ددې جواب دا دئ چي حافظ ذهبى رحمه الله ددې توثيق نقل کړی دئ:

قال: وأبوه يحيى ذكره الذهبى فى الكاشف وقال وثق وأبوه مقدام بن المعديكرب صحابى. (الكاشف: ۲/ ۳۷۷، ط: علوم القرآن). وذكره ابن حبان فى الثقات(۵/ ۵۲۴).

پر دې سربېره په ابو داؤد شریف کې يې دغه روايت منسوخ بللی دئ. که چيرې دغه روايت صحيح نه واى، نو د منسوخ بللو يې څه ضرورت نه ؤ.

۵_ اعتراض: د دې په متن کې اضطراب دئ.

الجواب: په اعلاء السنن کې د دې جواب موجود دئ. وګورئ:

فالجواب عنه أن الروايات كلها متفقة على أن رسول الله ﷺ نهى عن لحوم الخيل، وأما الاختلاف فى أنهم جعلوا الرمكة أو البرذونة أو أنهم كانوا مضطرين إلى الأكل أو قارمين إلى اللحم، فذلک اختلاف فى أمر خارج ولايضرنا فاندفع طعن اضطراب المتن أيضاً.

(اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۴۳).

٦_ اعتراض: د حضرت خالد بن الوليد ﷺ روايت صحيح نه دئ ځکه چې په هغه کې دغه الفاظ راغلی دئ ((أمرلى يوم خيبر)) او حضرت خالد بن الوليد ﷺ په دې وخت کې اسلام نه ؤ راوړې؟

الجواب: د حضرت خالد بن الوليد په اسلام راوړلو کې اختلاف دئ.

په الاستيعاب کې يې وګورئ:

واختلف في وقت إسلامه وهجرته فقيل هاجر خالد بعد الحديبية وقيل: بل كان إسلامه بين الحديبية وخيبر وقيل: بل كان إسلامه سنة خمس بعد فراغ رسول الله صلى الله عليه وسلم من بين قريظة، وقيل في أول سنة ثمان مع عمرو بن العاص وعثمان بن طلحة. (الاستيعاب لابن عبد البر: ۲/ ۴۲۷، دار الجيل).

همدا ډول په کومو رواياتو کې چې د خيبر ذکر دئ، دا د راوي وهم دئ او د راوي وهم روايت ته څه نقصان نه رسوي ځکه چې دا وهم خارجي دئ.

په اعلاء السنن کې راځي:

لأنه صرح هذا القائل بنفسه فى ترجمة خالد أنه اختلف فى شهوده خيبر فكيف يقول ههنا أنه أسلم بعد خيبر بلا خلاف فإذا وقع الاختلاف فكيف يدفع الرواية بهذا العذر ولو سلم

فغايته أن ذكر خيبر وهم من الرواة ولا يقدح هذا الوهم فى الرواية لأنه وهم فى أمر خارج عن المقصود لأن المقصود هو أنه صلى الله عليه وسلم حرم لحوم الخيل لا أنه متى حرم وكيف حرم؟ (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۴۴، ادارة القرآن).

علامه شيخ زاهد الكوثري رحمه الله وايي:

ولم يقع ذكر خيبر إلا في إحدى الروايتين عند أبى داود، وروايات أحمد والنسائى وابن ماجه خلو من ذلک، فلا مانع من أن يكون مرسلاً، حيث وهم أحد الثقات فى ذكر خيبر، والثقة قديهم، ومخالفة الأكثر من إمارات الوهم، ومرسل الصحابى حجة عند الجميع. (النكت الطريقة، ص ۶۵، اكل لحم الخيل، آدارة القرآن).

همدا ډول د حضرت جابر رضي الله عنه په روايت كي علي الاطلاق رخصت ثابت دئ او مقيد په كوم كي چي د خيبر ذكر دئ هغه په فهم كي د غلطي نيتجه ده.

په اعلاء السنن كي يې وګورئ:

وثانياً أن الذى ثبت عن جابر وصح عنه هو الرخصة على الإطلاق لا المقيدة بيوم خيبر.... ثم لما تأملنا فى منشأ هذه الزيادة علمنا أن منشأها هو الخطأ فى الفهم لأنه لما سمع من جابر رضي الله عنه أنه صلى الله عليه وسلم نهى يوم خيبر عن لحوم الحمر الأهلية و رخص فى لحوم الخيل توهم أن الرخصة أيضاً كانت يوم خيبر. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۴۵، آدارة القرآن).

۷_ اعتراض: د حضرت جابر رضي الله عنه روايت ناسخ دئ ځكه چي په هغه كي د ((اذن)) او ((رخص)) الفاظ موجود دي.

الجواب: علامه عينى رحمه الله په لاندي الفاظو كي جواب وركړي دئ:

قلت لا يصح الاستدلال على النسخ بقوله أذن أو رخص لأنه يحتمل أن يكون إذنه في حالة المخمصة إذهي أغلب أحوال الصحابة رضي الله تعالى عنهم وفي الصحيح أنهم ما وصلوا إلى

خیبر إلا وهم جیاع. (السنن الکبری للنسائی: ۱۲/ ۲۲۸) فلا یدل علی الإطلاق. (عمدة القاری: ۱۲/ ۲۲۸).

والإذن في خیبر لعله کان لضرورة المجاعة.... (النکت الطریفة، ص ۶۵، ادارة القرآن).

وفی المرقاة: ولعل حدیث الإباحة محمول علی الضرورة. (مرقاة المفاتیح: ۸/ ۱۳۰).

وفی بذل المجهود: ثنا أبو أسامة عن هشام عن الحسن قال: کان أصحاب رسول الله ﷺ یأکلون لحوم الخیل فی مغازیهم. (مصنف ابن ابی شیبة، رقم ۲۴۷۹۵).

فهذا یدل علی أنهم کانوا یأکلونها حال الضرورة کما قال الزهری. (بذل المجهود: ۱۱/ ۵۱۳).

لنډه دا چي د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه روایت حسن دئ او دا محرم دئ او د حضرت جابر رضی الله عنه مبیح دئ او محرم ته پر مبیح باندي ترجیح حاصله وي مګر خو د اباحت روایت اصح دئ او په تعداد کي زیات دي، نو ځکه امام صاحب رحمه الله دواړه طرفه په نظر کي نیولي دي او د کراهت تنزیهي قول یې غوره بللی دئ او صاحبینو د اباحت په روایت سره استدلال کړی دئ، د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه روایت یې پرایښي دئ مګر خو له مذکوره بحث څخه معلومه سوه چي د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه هم تر حسن کم نه دئ، خو په دلائلو کي د ابو حنیفه رضی الله عنه مذهب قوي معلومیږي.

علامه کوثري رحمه الله وایي:

فیرجح حدیث خالد رضی الله عنه لکونه حاظراً، لکن لم یبتوا بالمنع ولا بالإباحة لکون حدیث جابر أصح مع وجود أحادیث أخری تعارضه، بل راعوا الجانبین وقالوا بالکراهة بمعنی کراهة التنزیهة. (النکت الطریفة، ص ۶۵).

په اعلاء السنن کي راځي:

ولله در أبي حنیفة ما أدق نظره فی الجمع بین الأحادیث وتنزیلها منازلها.... وکره لحم الفرس ولم یقل إنه حرام لما ثبت عن رسول الله ﷺ أنه رخص فی لحوم الخیل وجاء

عنه أنه نهى عنها، وقد عرفت أنه لم ينفرد بذلک بل له سلف فيه عن ابن عباس ﷺ وبه قال الحكم بن عتيبة ومالک بن أنس. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۵۱).

وفی « النکت » قال: وخالفهم أبو حنيفة ومالک والأوزاعی وأبو عبيد وقالوا: لايؤكل لحم الخيل. (النكت الطريفة، ص ۶۴).

همدا ډول د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب تقويت په دليل خارجي سره هم كيږي هغه دا دئ چي دآس په غوښه خوړلو كي په آله جهاد كي كمي راځي، نو ځكه په نه خوړلو كي يې د آله جهاد ساتنه راځي.

وګورئ په النكت كي راځي:

والحاصل أن القول بالكراهة الاحتفاظ بالخيول التي تشتد الحاجة إليها فی الجهاد، والله سبحانه وتعالى أعلم. (النكت، ص ۶۵).

سائدبكداش د شرح اللباب په تعليق كي وايي:

والتحريم ليس لنجاستها، بل احتراماً لها، حيث هي آلة الجهاد، وبها يقع إرهاب العدو، ويضرب لها بسهم. ينظر: الجوهرة:۲/ ۲۸۰، وابن عابدين: ۶/ ۳۰۵. (تعليقات الشيخ سائدبكداش على شرح اللباب:۴/ ۵۷۷).

كه څه هم صحيح قول د كراهت تنزيهي دئ لكه مخكي چي ذكر سول او دنور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (عمدة القاری: ۱۴/ ۵۲۴، دار الحديث، ملتان، وفيض الباری: ۴/ ۳۴۲).

دآس دغوښي په مباح والي كي څو روايات وګورئ:

عن أسماء قالت: نحرنا فرساً على عهد رسول الله ﷺ فأكلناه. (رواه البخاری: ۲/ ۸۲۹، ومسلم: ۲/ ۱۵۰، وابن ماجه، رقم: ۳۱۹۰).

عن جابر بن عبد الله ﷺ قال: نهى رسول الله ﷺ يوم خيبر عن لحوم الحمر و رخص في لحوم الخيل. (رواه البخاری:۲/ ۸۲۹، ومسلم: ۲/ ۱۵۰). والله ﷻ اعلم.

د سوى خوړلو شرعي حكم

سوال: د سوى غوښه خوړل روا ده او كه نه؟

الجواب: د سوى غوښه خوړل روا ده په حديث شريف كي راځي چي صحابهٔ كرامو رضى الله عنهم سوى حلال كړي او څه برخه يې رسول الله ﷺ ته د هديه په توگه واستول او رسول الله ﷺ هم قبوله كړه، په ځيني رواياتو كي دغه الفاظ هم راځي چي رسول الله ﷺ يې د خوړلو امر وكړ:

په حديث شريف كي راځي:

عن أنسٍ رضي الله عنه، قال : أنفجنا أرنبًا ونحن بمر الظهران فسعى القوم فلغبوا فأخذتها فجئت بها إلى أبي طلحة فذبحها فبعث بوركيها ، أو قال بفخذيها إلى النبي ﷺ فقبلها. (رواه البخاری، رقم: ۵۵۳۵، باب الارنب، ومسلم، رقم ۱۹۵۳، باب اباحة الارنب).

په ترمذی شريف كي راځي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه: أن رجلا من قومه صاد أرنباً أو اثنين فذبحهما بمروة فتعلقهما حتى لقي رسول الله ﷺ فسأله فأمره بأكلهما. قال ابو عيسى: وقد رخص أهل العلم أن يذكي بمروة ولم يروا بأكل الأرنب بأساً وهو قول أكثر أهل العلم. (ترمذی شريف، رقم: ۱۴۷۲).

په هدايه كي راځي:

ولا بأس بأكل الأرنب لأن النبي ﷺ أكل منه حين أهدى إليه مشوياً وأمر أصحابه بالأكل منه ولأنه ليس من السباع ولامن أكلة الجيف فأشبه الظبي. (الهداية: ۴/ ۴۴۱).

وللمزيد راجع: (البحر الرائق: ۸/ ۱۷۲، واللباب فی شرح الكتاب: ۴/ ۵۷۸، دار البشائر، والمبسوط للامام السرخسی: ۱۱/ ۴۱۶، والمحيط البرهانی: ۶/، وبدائع الصنائع: ۵/ ۳۹، سعيد، وتبيين الحقائق: ۵/ ۲۹۵، امداديه، و حلال وحرام چوپائی او ران کی طبی فوائد، ص: ۲۵). والله تعالى اعلم.

د ګاوبز د خوړلو شرعي حکم

سوال: د ګاوبز خوړل شرعاً روا دي او که نه؟

الجواب: ګاوبز د ځنګلي غوا په ډول یو حیوان دئ او څنګه چي د ځنګلي غوا خوړل روا دي.
همدا ډول د دې خوړل هم شرعاً روا دي:

په عالمګیري کي یې وګورئ:

وأما المتوحش نحو الظباء وبقر الوحش وحمر الوحش وإبل الوحش فحلال بإجماع المسلمين. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۸۹). (وكذا فی النتف فی الفتاوی، ص ۱۴۹، اصناف الحيوان وما يحل اكله وما يحرم، وبدائع الصنائع: ۵/ ۳۹، سعيد).

وفی الطحطاوی علی الدر: وحل الابل فی المغرب... الذكر من الأوعال، وفی القاموس... تيس الجبل. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۱۵۷).

په الموسوعه الفقهیه کي راځي:

النوع الرابع: كل وحش ليس له ناب يفترس به وليس من الحشرات: وذلک كالظباء، وبقر الحش، وحمر الوحش، وإبل الوحش، وهذا النوع حلال بإجماع المسلمين، لأنه من الطيبات. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۵/ ۱۳۴، ط: وزارة الاوقاف).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (حلال وحرام چوپائی اور ان کی طبی فوائد، ص ۱۱).
والله ﷻ اعلم.

د ملا چرګک د خوړلو حکم

سوال: آیا شرعاً د ملا چرګک خوړل روا دي او که نه حال دا چي ملا چرګک د حضرت سلیمان علیه السلام په زمانه کي ډېره لویه کارنامه کړې ده چي الله ﷻ د هغه ذکر په قرآن کریم کي کړی دئ؟

الجواب: له فقهاء کرامو څخه ځینو لکه علامه شامي رحمه الله وغیره ؤ مکروه بللی دئ مګر علامه طحطاوی رحمه الله حلال لیکلي دي، همدا ډول په لسان الحکام، عالمګیري، فتاوی الولوالجیه وغیره کي هم د ((لا باس به)) الفاظ لیکلي دئ، نو ځکه یې حلت اصل دئ او کراهت د هغه د شرافت او عزت له امله پر تنزیهې حمل کېدلای سي.

په شامي کي يې وګورئ:

قال فی غرر الأفکار: عندنا يؤکل الخطاف والبوم ويکره الصرد والهدهد. (رد المحتار:۶/ ۳۰۶، سعيد).

په حاشيه الطحطاوی علی الدر المختار کي راځي:

ويؤکل القمری والسوادين والزرزور والصلصل والهدهد والبوم والطاووس. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۱۵۷، کوئته).

په لسان الحکام کي راځي:

وفی فتاوی الولوالجی: أکل الهدهد لابأس به لأنه ليس بذی مخلب من الطيور. (لسان الحکام، ص ۳۸۱، دار الفکر).

په عالمګيري کي راځي:

أکل الخطاف والصلصل والهدهد لابأس به لأنها ليست من الطيور التی هی ذوات مخلب کذا فی الظهيرية. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۰).

ملا علي قاري رحمه الله په لاندي حديث سره استدلال کړی دئ او حرام يې بللی دئ:

نهی عن قتل أربع من الدواب النملة والهدهد والصرد. (المرقاة: ۸/).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د حاشية الطحطاوی او عالمګيري عبارتونه د ملا چرګک په حلت کي صريح دي، نو ځکه دې ته ترجيح ورکول کيږي د ملا علي قاري رحمه الله له حديث څخه استدلال کول محل نظر دي، ځکه چي د ملا چرګک د نه وژلو علت د هغه د احترام له امله هم کېدلای سي او د فقهي عباراتو په موجوديت کي همدغه له قياس سره برابره ده د دې د احترام وجه دا ده چي الله عزوجل دي د حضرت سليمان عليه السلام د خدمت له پاره غوره کړي ؤ او دی د يو قوم د ايمان راوړلو سبب هم جوړ سو، نو ځکه ده ته په ټولو مرغانو کي يو جلا حيثت ورکړل سوی دئ، همدا ډول ملا علي قاري رحمه الله د حلت قول هم ذکر کړی دئ ونصه:

وقيل يحل أكله لأنه يحكى عن الشافعي وجوب الفدية فيه وعنده لايفتدى إلا الماكول (المرقاة: ۸/ ۱۵۱).

علامه ابن عابدين چي له غرر الافكار څخه کوم کراهت نقل کړی دئ هغه هم د احترام له کبله پر کراهت تنزيهي حمل کېدلای سي. (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۰۰).

لنډه دا چي د ملا چرګک خوړل مکروه دي، هو پر خوړونکی دي بد نه وايي او نه خوارک به يې. احترام له امله وي ځکه چي په حديث کي د قتل لفظ استعمالول او په غير ماکولاتو کي يې ذکر کول د هغه د مکروه والي دليل دئ. والله ﷻ اعلم.

د ابابيل د خوړلو شرعي حکم

سوال: آيا د ابابيل خوړل شرعاً روا دي او که نه؟

الجواب: فقهاء کرامو د ابابيل د خوړلو تصريح کړې ده، نو ځکه د دې خوړل روا دي:

وګورئ: علامه شامي رحمه الله وايي:

قال فی غرر الأفکار: عندنا يؤکل الخطاف. (رد المحتار:۶/ ۳۰۶، سعيد).

په لسان الحکام کي راځي:

ولا بأس بالخطاف والقمری والسودانية والزرزور والعصافير والفاختة والجراد وکل ماليس له مخلب يخطف بمخلبه. (لسان الحکام، ص ۳۸۱، وکذا فی الفتاوی الولوالجيه:۵/ ۵۵).

په عالمګيري کي راځي:

أکل الخطاف والصلصل والهدهد لابأس به لأنها ليست من الطيور التی هی ذوات مخلب کذا فی الظهيرية. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۰). والله ﷻ اعلم.

د شکوڼ د خوړلو شرعي حکم

سوال: د شکوڼ غوښه خوړل شرعاً روا دي او که نه؟ ځکه چي اکثر اهل لغت والاؤ دا د قنفد يو قسم بللی دئ وې ګورئ:

قال فی الصحاح : الد لدل عظيم القنافذ (٤/ ١٦٩٩) او فقهاء كرامو قنفذ په حرامو حيواناتو كي شمېرلي دئ اوس مو تاسو په شرعي حکم خبر کړي داجر عظيم مستحق به سي؟

الجواب: لوی شکوڼ کوم ته چي موږ په پښتو کي شکون وايو حضرت مولانا كفايت الله صاحب حرام ليکلي دئ وې ګورئ: (کفایت المفتي، ۹/ ۱٤۱، دار الاشاعت طبع قديم).

او ځينو د لغت په کتابو کي يې هم دلدل ته کوم چي غټي وي او هغه ته شکوڼ وايي او کوچني کوم ته چي قنفذ او موږ په پښتو کي جژګي ورته وايو دواړه يې له يوې نوعی بللي دي او يوازي د غټ او کوچني فرق يې بيان کړی دئ، دميري د حاجظ قول را نقل کړی دئ چي په جژګي او شکوڼ کي داسي فرق دئ لکه په ګاميښه او غوا کي يا په عربي او خراساني اوښ کي لکه چي علامه دميری رحمه الله وايي:

الفرق بين الدلدل والقنفذ، كالفرق بين البقر والجواميس والبخاتي والعراب والجرد والفأر، وهو كثير ببلاد الشام والعراق وبلاد المغرب في قدر الثعلب القلطي. وقال الإمام الرافعي: الدلدل على حد السخلة.

وفی الوسيط: أنه كان يعده من الخبائث، وقال ابن الصلاح: هذا غير مرضی وكأنه لم يعرف ما الدلدل. (حيوة الحيوان: ۱/ ۴۸۱).

او د لغتو په عامو کتابو کي يې هم دواړه يوه نوع شمېرلي دي لکه په المعجم الوسيط، الصحاح، لسان العرب وغيره کي يې هم د شکوڼ او جژګي په منځ کي فرق نه دئ کړي، نو ځکه د دغو علماء کرامو له ليکنو سره سم د احنافو په آند دواړه حرام دي مګر پخوانی افغانی علماء کرامو رحمهم الله تعالی او د نن سبا محقيقينو دواړه جلا جلا نوعي بللی جژګي يې په حشرات الارض کي شمېرلي حرام يې بللی دئ او شکوڼ يې وابنه خوړونکی حيوان ګڼلی او حلال يې بللی دئ.

هو په مصباح اللغات کي يې د دلدل ترجمه په جژګي سره کړې ده او قنفذ يې د موږ کانو يو ډول ګڼلی دئ.

افغاني علماء کرامو وايي چي په قنفذ او دلدل کي لاندي فرقونه سته:

۱_ قنفذ مردار او چينجي خوري او دلدل وابنه خوري.

۲_ قنفذ له حشرات الارض څخه دئ او دلدل داسي نه دئ.

۳_ قنفذ ذوناب ښکاري دئ او دلدل له دې څخه مختلف دئ.

۴_ د قنفذ پنځه انیاب وي او د دلدل څلور غاښونه وي(د تجربه کار افغاني علماء په آند او د نوي تحقیق کونکو په آند ده دلدل دوه غاښه وي(Encarta).

۵_ قنفذ د سپي په ډول اوبه څښني او دلدل د بزې په ډول.

له دې تو پیرو څخه ښه معلومیږي چي په قنفذ کي د حرامو حیواناتو صفات موجود دي، او د دې برعکس په دلدل کي د حلالو حیواناتو خصلتونه موجود دي کومه علماء کرامو چي دلدل د قنفذ (جژګي) یو لوی قسم ګڼلی دئ، نو امکان لري چي د دلدل (شکوڼ) دوه قسمه وي یو د جژګي لوی قسم کوم چي عام اهل لغت ذکر کوي (۲) دوهم قسم هغه دئ چي صفات یې لوړ ذکر سو.

حضرت مفتي فرید صاحب هم د شکوڼ د حلت فتوی ورکوي.

د شیخ بن باز رحمه الله په یوه فتوی کي د شکوڼ په هکله ذکر دي:

قد اختلف العلماء في حكمه فمنهم من أحله ومنهم من حرمه، وأصح القولين أنه حلال،.... وهو يتغذى بالنبات كالأرنب والغزال وليس من ذوات الناب المفترسة. (فتاوی الشیخ عبد العزیز بن باز: ۲۳/ ۳۵).

د نوي تحقیق کونکو د عباراتو خلاصه وګورئ:

شکوڼ په وچه کي اوسېدونکی حیوان چي خوراک یې د نباتاتو بیخونه، تخم، دونو خوروکي دي. (جانورون کا انسائیکلو پیډیا).

په انکاټا کي لیکلي دي:

وابنه خوړونکی حیوان د دې شمېر په هغو حیواناتو کي دئ چي د مخ طرف ته یې دوه غټ غاښونه وي په دې دوه غټو غاښو سره وابنه پرېکوي انیاب نه وي. (انکاټا انسائیکلو پیډیا).

په بریطانیکا کي لیکلي دي:

ډېر وخت په شپه کي راوځي نبات خوړونکی حیوان دئ. (انسائیکلو پیډیا بریطانیکا) والله ﷻ اعلم.

د جژګي د خوړلو شرعي حکم

سوال: آيا جژګي خوړل شرعاً روا دي او که نه؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي قنفذ (د جژګي) خوړل شرعاً ناروا دي، په پښتو کي موږ دې ته جژګي وايو:

په حديث شريف کي راځي:

عن أبي هريرة ﷺ قال: ذكر القنفذ لرسول الله ﷺ، فقال: هو خبيث من الخبائث. (رواه ابو داود، ۳۷۹۹، واحمد فى مسنده، ۸۹۵۴).

په فتاوى شامي کي راځي:

ولايحل ذو ناب... ولا الحشرات... كالفارة والوزغة وسام أبرص والقنفذ والحية والضفدع والزنبور والبرغوث والقمل والذباب والقراد. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۴، سعيد).

په النتف فى الفتاوى کي راځي:

ما حشرات الأرض فإنها محرمة في قول أبي حنيفة وأصحابه.... مثل الحية الضب واليربوع والقنفذ والسلحفاة والفارة وابن عرس وأشباهها. (النتف فى الفتاوى، ص ۱۵۰).

په حيواة الحيوان کي راځي:

قال الشافعي: يحل أكل القنفذ لأن العرب تستطيبه، وقد أفتى ابن عمر بإباحته وقال أبو حنيفة والإمام أحمد: لا يحل لما روى أبو داود. (حيوة الحيوان: ۲/ ۲۳۳). والله ﷻ اعلم.

د جهينګي د (اوبو د چينجي) خوړلو شرعي حکم

سوال: د اوبو د چينجي په اړه له مختلفو علماء کرامو څخه مختلفي خبري اورېدل سوي دي، ځيني علماء کرام وايي، چي دا حرام دي او ځيني وايي چي حلال دي او ډېر بيا وايي چي دا مکروه دي، اوس له تاسو څخه مؤدبانه غوښتنه کو چي ښه برابره لاره راوښيه ياست، د اجر عظيم مستحق به سي؟

الجواب: د موجود زمانې د مفتیانو کرامو په منځ کې اختلاف دئ او د اصل اختلاف بنیاد د دې په ماهۍ بللو او نه بلوو کې دئ، کومو علماء کرامو چې د ماهۍ له اقسامو بللی دئ هغوی د حلت فتوی ورکړې ده او کومو چا چې د ماهۍ په اقسامو کې نه دئ شمېرلي هغوی د حرمت فتوی ورکړې ده بیا د ماهۍ کېدو نه کېدل لامل یې هم مختلف دي اهل لغت یې د ماهۍ په اقسامو کې شمېري، خو نوي سائنس پوهانو یې د ماهۍ له تعریف څخه خارج بولی، ځکه چې د حیوانانو ماهرینو د ماهۍ په تعریف کې درې شیان ذکر کړي دي:

۱_ د پښتیو هډوکی.

۲_ د ساخیستلو وري.

۳_ د لامبو وهلو پنکي.

او په جهینگه (د اوبو په چینجي) کې دا شیان نه وي.

وګورئ: په فتح الملهم کې راځي:

لکن خبراء علم الحیوان الیوم لایعتبرونه سمکاً ویذکرونه کنوع مستقل، ویقولون أنه من أسرة السرطان دون السمک، وتعریف السمک عند علماء الحیوان، علی ما ذکر في دائرة المعارف البریطانیة (۹/ ۳۰۵، ط: ۱۹۵۰ م): هو حیوان ذوعمود فقری، یعیش فی الماء ویسبح بعواماته، ویتنفس بغلصمته. (تکملة فتح الملهم:۳/ ۵۱۳، مسألة الروبیان).

د دې تعریف پر بنیاد مفتي رشید احمد الدهیانوي پر عدم حلت رساله لیکلي ده په احسن الفتاوی کې یې وګورئ، او د اهل لغت اقوالو او عام رواج ته په کتو سره مفتي عبد السلام چاټګای د اوبو د چینجي پر حلت او جواز رساله لیکلي ده. (الجوهر الفتاوی:۳/ ۴۶۲.۵۰۳ ط: اسلامی کتب خانه، کراچی).

له دوی دوو څخه پرته د ساحلي علاقو مفتیانو کرامو هم د جواز فتوي لیکلي ده او د غیر ساحلې علاقو مفتیانو بیا د عدم جواز یا کراهت قول لیکلي دئ، د دوی ټولو عبارتونه د اوږد والي په خاطر پرېږدو.

لنډه دا چې ((خير الأمور أوسطها)) و ((ترک شبهات)) و ((دع ما يريبک إلى مالا يريبک)) او د مفتيانو کرامو د اختلاف په نظر کې نيوو سره علماء او طالبانو ته د اوبو له چينجي څخه ځان ساتل په کار دي، الله تعالى د خوراک له پاره نور ډېر نعمتونه پيدا کړي دي هغه دې وخوري او له عوامو يا خواصو څخه چې يې شوک خوري هغوى ته بد ويل په کار نه دي او حرام خور ورته ويل کيږي.

په عربي کې دې ته له ربيان پرته سرطان البحر او جواد البحر هم وايي، چې په دې کې د ماهي کېدو نفى راځي، په المورد کې (۹۰۳) کې يې برغوث البحر، الاربيان (prawn) ورته ويلي دئ، همدا ډول د اوبو چينجي له شروع په درياب کې موجود ؤ او شکل يې د ماهي نه دئ که چيرې په اتفاق سره حلال واى، نو فقهاء کرامو رحمهم الله تعالى لکه څنګه چې د جريث او مار ماهي د حلت تصريح کړې ده چې د حرمت شبه يې بالکل پورته سي او شوک يې حرام ؤ نه بولى، نو د روبيان تصريح بې هم کړې ؤ چې د حرمت شبه يې دفع سي مګر خو داسې يې نه دي کړي، نو ځکه د دې په نه خوړلو کې عافيت او سلامتي ده.

د اوبو د چينجي په اړوند د اکابرو رحمهم الله تعالى معمول:

حضرت مولانا حسين احمد مدنى رحمة الله عليه ته په يوه استيشن کې د تاکيدو په مهال يو چا جهينګا (د اوبو چينجي) کنبېښودئ حضرت پوښتنه وکړه وروره دا څه شى دئ؟ را وړونکي وويل : جهينګا ماهي دئ حضرت مدنى رحمة الله عليه وويل، وروره د ماهي هم پښې وي دا خو پښې لري.

حضرت ګنګوي رحمة الله عليه هم ليکلي دي چې جهينګا د وچې مځکې له حشراتو څخه دئ او دريابي ماهي نه دئ د ماهي پرته ټول دريابې حيوانات د احنافو په آند ناروا دي. (فتاوى رشيديه، ص ۵۳۷).

حضرت مفتي کفايت الله رحمة الله عليه وايي، زما په خيال هغه د ماهي په اقسامو کې داخل نه دئ، خو بيا هم د علماء د اختلاف له امله زه په دې کې سختي نه خوښوم. (کفايت المفتى: ۹/ ۱۳۸، دار الاشاعت).

حضرت تهانوي رحمة الله عليه د دميري په تحقيق اعتماد کړى دئ او ويلي دي احقر ته اوس د دې په ماهي کېدلو کې بالکل اطمينان دئ. ولعل الله يحدث بعد ذلک امراً. (امداد الفتاوى: ۴/ ۱۰۴).

د حضرت مولانا خلیل احمد سهار نپوري رحمه الله په اړه مولانا عاشق الهی په تذکره الخلیل کې لیکلي دي چې د جهینګا ماهی په اړوند هم د ده نظریه دا وه چې د ماهی نوم پرې کنبېښودل سو مګر په حقیقت کي ماهی نه دئ ځکه چي د هغه ژامه نه سته لهذا خلیل احمد رحمه الله هغه دریابي حیوان بلی، خو د حلت فتوی يې نه ورکول. (تذکرة الخلیل، ص ۲۹۳، کتب خانه اشاعت العلوم).

لنډه دا چي دا یوه اختلافي مسئله ده او احتیاط په دې کي دئ چي د دې له خوړلو څخه ځان وساتل سي مګر څوک چي يې خوري پر هغوی دي سختي او تشدد نه کیږي او نه دي بد ورته ويل کیږي ځکه چي د شریعت له نظره دا حرام نه دي او د خوړلو اجازه يې هم سته.

وګورئ: مفتي تقی عثمانی صاحب وایي:

فمن أخذ بحقيقة الإربيان حسب علم الحيوان قال بمنع أكله عند الحنفية، ومن أخذ بعرف أهل العرب قال بجوازه، وربما يرجح هذا القول بأن المعهود من الشريعة في أمثال هذه المسائل الرجوع إلى العرف المتفاهم بين الناس، دون التدقيق في الأبحاث النظرية، فلا ينبغي التشديد في مسألة الاربيان عند الإفتاء، وإن اختلاف الفقهاء يورث التخفيف كما تقرر في محله، غير أن الاجتناب عن أكله أحوط وأولى وأحرى، والله سبحانه وتعالى أعلم. (تكملة فتح الملهم: ۳/ ۵۱۴، مسألة الروبيان، وفقهی مقالات، جلد:۳). والله ﷻ اعلم.

د وهیل ماهی د خوړلو شرعي حکم

سوال: وهیل یو لوی دریابي حیوان یا ماهی دئ د دې خوړل شرعاً څنګه دئ؟

الجواب: د وهیل ماهی په اړه په واضح ډول له حدیث شریف څخه معلومیږي چي د دې خوړل حلال دي او د عامو ماهیانو په ډول دي، صحابهٔ کرامو هم خوړلی دئ او په خپله رسول الله ﷺ هم خوړلی دئ، نو ځکه د دې په حلال والي کي هیڅ شک او شبه نه سته:

په بخاري شریف کي راځي:

عن عمرو ، أنه سمع جابرًا رضي الله عنه، يقول: غزونا جيش الخبط وأمر أبو عبيدة فجعنا جوعًا شديدًا فألقى البحر حوتًا ميتًا لم نر مثله يقال له العنبر فأكلنا منه نصف شهرٍ.... فلما قدمنا

المدينة ذكرنا ذلك للنبي ﷺ فقال: كلوا رزقًا أخرجه الله، أطعمونا إن كان معكم فأتاه بعضهم أكله. (رواه البخاري، برقم: ۴۳۶۲، باب غزوة سيف البحر).

حضرت مفتي كفايت الله ديوې استفتاء په جواب كي په مفصل فتوى ليكلي ده څه خلاصه يې لاندې ده:

كوم حيوان ته چي د موجوده زمانې په انګرېزي كي وهل وايي (whale) په پښتو انګرېزي كي وهال (whal) ورته ويل كېدل او په جرمني ژبه كي دې ته وال (wal) وايي.

البال الحوت العظيم من حيتان البحر وليس بعربي كما في الصحاح يدعى جمل البحر وهو معرب وال كما في العباب قال شيخنا وهي سمكة طولها خمسون ذراعاً. (تاج العروس: ۷/ ۲۳۷).

يعنى بال د درياب له ماهيانو څخه يو لوى ماهى دئ، دې ته جمل البحر هم ويل كيږي، زموږ شيخ وويل چي بال يو ماهى دئ چي پنځوس ذراع (۷۵ فټه) اوږد والي لري.

په حيواة الحيوان، فتح الباري شرح د صحيح البخاري او فرائد الدريه كي يې د بال دوهم نوم عنبر ښودلى دئ او په لسان العرب او تاج العروس كي يې د دې دريم نوم جمل البحر ذكر كړى دئ.

له دې ټوله تحقيق څخه معلومه سوه چي بال، عنبر او جمل البحر يو لوى ماهى دئ چي په انګرېزي كي وهيل ورته ويل كيږي، نو د ماهى معلومېدو وروسته يې په حنفي مذهب كي د حلال بللو هم څه مشكل نه سته ځكه چي د احنافو په آند ماهى له ډېرو صورتو او شكلو سره سره حلال دئ له دې څخه پرته د بال او عنبر يعني وهيل د حلت په اړوند خاص او صريح دليل هم سته او هغه يو صحيح او صريح حديث دئ چي د حديثو په مستندو كتابو په خاصه توګه صحيح البخاري كي يې روايت سوى دئ.

لنډه دا چي وهيل، بال، عنبر وال دا ټول د يوه ماهى مختلف نومونه دي او دا ماهى د عامو ماهيانو په ډول دئ، نو ځكه د دې د تعريف او تحقيق څه ضرورت نه سته د ماهى د تعريف ضرورت هغه وخت ؤ چي د ماهى په كېدو كي يې شك واى، لكه حنثى مشكل چي شك هغه وخت پكښې راځي چي ډېره، بريتونه يې نه وي كه چيري ډېره بريتونه او د نارينه نوري نخښې پكښې موجودي وي، نو

شک پکښي ختمیږي، د مصر د تعریف ضرورت به هغه وخت ؤ چیري چي شک وای مګر د کلکته بمبئي، ډربن، کیپ ټاؤن ښارو له پاره د مصر د تعریف پوښتلو ضرورت نه سته. والله ﷻ اعلم.

د کیټ پیش ماهی د خوړلو شرعي حکم

سوال: دلته په امریکا کي یو ډول ماهی پیدا کیږي چي خلک (cat fish) ورته وایي او د دې په اړوند خلک وایي چي دا د مځکي له تله شخه مردار وغیره خوري او په تل کي یې اوسي، نو آیا د دې ماهی خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د خراب او مردار غذا خوړونکی ماهی خوړل روا دي، د خراب غذا خوړل موجب حرمت نه دئ. بنابرین (cat fish) خوراک روا او درست دئ.

په در مختار کي راځي:

ولایحل حیوان مائي إل السمک الذي مات بآفة ولو متولداً في ماء نجس. وفي رد المحتار: قوله ولو متولدا في ماء نجس فلا بأس بأكلها للحال لحله بالنص وكونه يتغذى بالنجاسة لا يمنع حله. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۶، سعید).

په حاشیه الطحطاوی کي راځي:

وفی البزازیة لو أرسلت السمكة فی الماء النجس فكبرت فيه لا بأس بأكلها للحال.
(حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۱۵۷).

مګر دا هغه وخت دي چي د مرداري او نجاست اثرات په دغه ماهی کي ښکاره سوي نه وي، که چیري په ماهی کي د نجاست اثرات مثلاً لکه بد بوي وغیره ښکاره سوي وي بیا د هغه خوړل په کار نه دي او دغسي هم طبیعت سلیمه د مردار او بد بوي لرونکو شیانو له خوړو شخه نفرت کوي.

په الفقه الحنفی فی ثوب الجدید کي راځي:

وكونه يتغذى بالنجاسة لا يمنع حله، وهذا إذا لم تنتن، فإنها حينئذٍ لا يحل أكلها. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید: ۵/ ۲۶۰، حکم اكل الحیوانات المائیة).

د کټ فیش ماهی د نور تحقیق له پاره دغه کتابونه وګورئ: (ولډبک انسائیکلو پیډیا: ۳/ ۲۲۳، وانسائیکلو پیډیا برطانیکا: ۲/ ۶۳۸). والله ﷻ اعلم.

د شارک ماهۍ د خوړلو شرعي حکم

سوال: شارک ماهۍ یو ډول ماهۍ دئ چې انسانان او نور دریابي حیوانان خوري د دې خوړل روا دي او که نه؟ حال دا چې هغه انسان خوره دئ؟

الجواب: د احنافو په مذهب کې له دریابې حیواناتو څخه یوازي د ماهۍ خوړل حلال دي له ماهۍ پرته د بل کوم دریابي حیوان خوړل ناروا دي، بیا ماهۍ له خپلو ټولو اقسامو سره حلال دئ اوس د دې خبرې تحقیق او معلومات ضروري دي چې آیا شارک د ماهۍ له اقسامو څخه دي او که نه دئ؟

په ولډبک انسائیکلو پیډیا کې یې دا ماهۍ بللی دئ عبارت یې په انګرېزي دئ، چې خلاصه په پښتو ژبه وړاندې کیږي، شارک غوښه خوړونکې ماهۍ دئ او په ټول دریاب کې تر ټولو خوف ناک حیوان دئ، سائنس پوهانو ویلي دي چې د شارک تقریباً (۲۵۰) ډولونه دي او دا ډېر وخت په ګرمو اوبو کې اوسي، د شارک ټول ډولونه غوښه خوري، له دوی څخه اکثر عام ماهیان خوري، شارک ماهۍ په انسان خوړلو کې مشهوره دي خو داسي واقعې ډېرې لږ پیښې سوې دي، په ټوله دنیا کې له (۲۵۰) ډولونه څخه یوازي (۲۵) ډولونه پر انسانانو حملې کړې دي، شارک ماهۍ له نورو ماهیانو څخه مختلف دي. (ملخص از ولډبک انسائیکلو پیډیا: ۱۷/ ۳۰۰).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (انسائیکو پیډیا برطانیکا: ۹/ ۱۱۶).

په احسن الفتاوی کې راځي:

سوال: یو دریابي ماهۍ چې په عربي کې قرش ورته وایي او په المنجد کې یې د دې په اړوند لیکلي دي:

نوع من السمک یعرف بکلب البحر یقطع الحیوان بأسنانه کما یقطع السیف تخافه جمیع دوات البحر.

له دې څخه پرته په دریابي حالاتو پوهانو په خبره چې دغه ماهۍ ته حیض هم راځي او بل دا چې دا د عامو ماهیانو برعکس د هګیو پر ځای بچیان زیږوي، دا ماهۍ حلال دئ که حرام؟

حضرت مولانا عبد الحی رحمه الله په خپله فتاوی کې د دې د حرمت قول را نقل کړی دئ، هیله ده چې صحیح مذهب راته وښایاست؟

الجواب: په دې ډول تحقيقاتو او مسائلو كې دفن د ماهرينو خبر منل په كار ده، د موجوده زمانې د حيواناتو ماهرين د ماهۍ څلور علامې بيانوي:

۱_ د پښتيو هډوكي يې وي.
۲_ د سا اخيستلو كڅوړه.
۳_ لامبو وهلو پنكې يې وي.
۴_ له ماحول سره سم يې د جسم د حرارت درجه كم او زياته وي.

دغه علامې په قرش كې موجودې دي، د هغه له صورت څخه هم همدا معلوميږي، نو ځكه دا حلال دئ، خو له دې سره سره بيا هم د اختلاف له امله احتياط بنه دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۳۹۱).

په المورد (انګريزي، عربي قاموس كې راځي:
(shark) القرش: سمک مفترس. (المورد، ص: ۱۰۶۵).

فقهاء كرامو د ماهۍ ټول ډولونه حلال بللي دي.

۲_ په فتاوی قاضي خان كې يې وګورئ:

ولا بأس بسائر أنواع السمک نحو الجريث والمار ماهي ولا يؤكل ما فی البحر سوى السمک وطير الماء عندنا. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۵۷).

په بدائع الصنائع كې راځي:

ويستوي في حل الأكل جميع أنواع السمك من الجريث والمارماهي وغيرهما ؛ لأن ما ذكرنا من الدلائل في إباحة السمك لا يفصل بين سمكٍ وسمكٍ إلا ما خص بدليلٍ ، وقد روي عن سيدنا علي وابن عباسٍ رضي الله عنهما إباحة الجريث والسمك الذكر ولم ينقل عن غيرهما خلاف ذلك فيكون إجماعًا . (بدائع الصنائع: ۵/ ۳۶، سعيد).

په النتف فی الفتاوی كې راځي:

وأما دواب البحر فإنها محرمة سوى السمک بأجناسها فی قول الفقهاء. (النتف فی الفتاوى، ص ۱۵۰، حكم دواب البحر، ط: بيروت).

وفی « الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید» (۵/ ۲۶۱): قال ابن حجر: ولا خلاف بین العلماء فی حل السمک علی اختلاف أنواعه. والله ﷻ اعلم.

د څو ډولونه ماهیانو شرعي احکام

سوال: دلاندي لیکل سویو ماهیانو خوړل روا دي او که نه؟

۱_ چنګاښ. (crab)

۲_ الدلفین. (dolphin)

۳_ الحوت، (whale) وهیل.

۴_ الاخبوط. (octopus)

۵_ القرش. (shark)

٦_ داوبو چینجي. (prawns)

۷_ کلماري. (calamari)

الجواب: تر هر څه مخکي د دې خبري پېژندل ضروري دي چي د حیواناتو ماهرینو د ماهۍ د پیژندلو له پاره څلور نخښي لیکلي دي:

۱_ د پښتیو هډوکی.

۲_ د سا اخیستلو کڅوړه.

۳_ د لامبو وهلو پنکي.

۴_ له ماحول سره سم یې د جسم د حرارت درجه کم او زیاته وي.

دا نخښې چي پکښې وي هغه ته ماهۍ ویل کیږي او د احنافو په آند له دریابي حیواناتو څخه یوازي د ماهۍ د خوړلو اجازه شته.

لنډه دا چي له سمندري حیواناتو څخه یوازي ماهۍ حلال دئ او ماهۍ هغه دئ چي مذکوره نخښې پکښې موجودي وي.

اوس یې په ترتیب سره حکم وګورئ:

۱_ چنګاښ (crab) د احنافو په آند د دې خوړل ناروا دي دا د ماهۍ په حکم کي داخل نه دئ، همدا ډول په شکل او صورت کي هم د ماهۍ په ډول نه دئ.

۲_ الدلفين (dolphin) د دې خوړل روا دي په دې کي د ماهی ټول صفات موجود دي.

۳_ الحوت (whale) په حديث شريف کي يې حوت ماهی ته عنبر ويلي دي او مخکي ذکر سو چي د دې خوړل روا دي.

۴_ الاخبوت (octopus) دا يو دريابي حيوان دئ او د ماهي په ډولونه کي نه شمېرل کيږي او په دې کي د ماهی علامي هم موجودي نه دي، نو ځکه د دې خوړل روا نه دي.

۵_ القرش (shark) دا هم د ماهی له ډولونه څخه دئ په دې کي د ماهی ټول نخښې هم موجودي دي او مخکي ذکر سوه چي د دې خوړل هم روا دي.

۶_ اوبو چينجي، (prawns) دا د چنګاښ سره مشابه حيوان دئ او په دې کي د علماء کرامو اختلاف دئ، نو ځکه يې په نه خوړلو کي احتياط دئ.

۷_ کلماري (calamari) دا هم د اخبوط په ډول يو دريابي حيوان دئ، د ماهی نخښې پکښې موجود نه دي، نو ځکه د دې خوړل هم ناروا دي.

په انکاټا انسائيکلو پيډيا کي ليکلي دي:

Calamari is not parmissibie eat because it is not fish.

يعنی د کلماري خوړل ناروا دي ځکه چي دا ماهی نه دئ. والله ﷻ اعلم.

په خاصه توګه د ماهيانو د وژلو او خوړلو حکم

سوال: دلته خلک تازه ماهيان په يو ډول کاسه کي اچوي او بنديان وي يې وروسته يې وخت پر وخت د برق په کرنټ سره وژني او خوري يې ايا دا ماهيان حلال دي او که نه؟

الجواب: ماهی که چيري په خپل طبعي مرګ سره مړ سي او چپه واوړي، نو خوړل يې روا نه دي، له دې څخه پرته چي په کومه طريقه سره ووژل سي يا د يو حادثي له امله مړسي يا يو ډول دوا وغيره وخوړي مړ سي، نو بيا يې خوړل روا دي، نو پر دې بناء د دا دول ماهی په خوړلو کي څه باک نه سته:

په درمختار کي راځي:

وما مات بحر الماء أو برده بربطه فيه أو إلقاء شيء فيه فموته بآفة. (الدر المختار: ۶/ ۳۰۷، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله أو إلقاء شيء وكان يعلم أنها تموت منه قال في المنح: أو أكلت شيئا ألقاه في الماء لتأكله فماتت منه وذلك معلوم، قوله فموته بآفة أي جميع ما ذكر وهو الأصل فى الحل كمامر. (رد المحتار: ۶/ ۳۰۷، سعيد).

وإنما قال العلامة عبد البر: الأصل في إباحة السمک أن ما مات بآفة يؤكل ومات بغير آفة لا يؤكل. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۵۷).

په فتاوى محموديه كي راځي:

ژوندى ماهى كه چيري په اوبو كي په لكړه ووهل سي مړ سي، مردار نه بلل كيږي خوړل يې روا دي. (فتاوى محموديه: ۱۸/ ۲۱۲، جامعه فاروقيه).

هو كوم ماهى چي په اوبو كي مړ سي او چپه واوړي، نو د هغه خوړل ناروا دي، په حديث شريف كي يې ممانعت راغلى دئ، دې ته سمک طافى وايي. والله ﷻ اعلم.

په لكړه د وهل سوي ماهى د خوړلو حكم

سوال: په اوبو كي چي ماهى په لكړه ووهل سي او په اوبو كي مړ سي، ايا خوړل يې روا دي او كه نه؟

الجواب: د داسي ماهى خوړل روا دي:

په درمختار كي راځي:

ولا يحل حيوان مائي إلا السمک الذى مات بآفة ... وما مات بحر الماء أو برده بربطه فيه أو إلقاء شيء فيه فموته بآفة وهبانية. وفى رد المحتار: قوله وبربطه فيه أي في الماء لأنه مات بآفة، إتقاني، وكذا إذا مات في شبكة لا يقدر على التخلص منها كفاية، قوله أو إلقاء شيء وكان يعلم أنها تموت منه، قال في المنح: أو أكلت شيئاً ألقاه في الماء لتأكله فماتت منه وذلك معلوم، قوله فموته بآفة أي جميع ما ذكر وهو الأصل في الحل. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۰۶، سعيد).

په عالمگيري كي راځي:

والأصل أن السمک متی مات بسبب حادث حل أکله وإن مات حتف أنفه لا بسبب ظاهر لایحل أکله. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۴۲۸).

وفي الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید: والأصل في إباحة السمک أن ما مات بآفة یؤکل، وما مات بغیر آفة لا یؤکل.... ویؤکل ما مات بحر الماء أو برده، وبربطه فی الماء، لأنه مات بآفة، وکذا إذا مات بشبکة لایقدر علی التخلص منها، أو مات بإلقاء شيء فی الماء، وکان یعلم أنه تموت منه، فماتت منه. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید: ۵/ ۲۶۰، بیروت).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: په لکړه یې په اوبو کي د ماهۍ ښکار وکړه لکړه پرې ولګېده او ماهۍ مړ سو، وروسته یې تېنګ کړ، نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د ژوندی ماهۍ په اوبو کي په لکړه وهلو سره که چیري هغه مړ سي، مردار نه بلل کیږي او خوړل یې روا دي. (فتاوی محمودیه: ۱۸/ ۲۱۲، جامعه فاروقی). والله ﷻ اعلم.

د کوچني ماهۍ بېله پاکوالی د خوړلو حکم

سوال: په احسن الفتاوی کي یې کوچني ماهۍ بېله پاکوالی حرام بللی دئ، عبارت یې وګورئ، د علامه شامي رحمه الله د عبارت له نقل کولو وروسته وایي:

دې بنده ته له څه مودې څخه اشکال وو چي د ماهۍ فضله مواد ولي حلال بلل سوی دئ؟ د جواهر الاخلاطی له عبارت کراهة تحریمه څخه مي د زړه اطمینان وسو، پر جواهر الاخلاطی په عالمګیري کي ډېر حوالې موجود دي له دې څخه معلومیږي چي دا یو معتبر کتاب دئ، د کوچني ماهۍ د حرمت علت دا دئ چي له پاکوالی پرته خوړل کیږي له دې څخه یې معلوم سو، آیا دا صحیح دي او که بل کوم قول هم سته؟

الجواب: د احسن الفتاوی پرته په بل کوم کتاب کي بنده ته د مکروه تحریمي قول په نظر راغلی نه دئ، حال دا چي ډېرو علماء کرامو کوچني ماهۍ له پاکوالی پرته حلال لیکلي دئ، څه عبارات یې په لاندي ډول دي:

علامه شامي رحمه الله وایي:

قلت: وفي معراج الدراية: لو وجدت سمكة في حوصلة الطائر تؤكل وعند الشافعي: لا تؤكل لأنه كالرجيع ورجيع الطائر عنده نجس وقلنا إنما يعتبر رجيعاً إذا تغير وفي السمك الصغار التي تقلى من غير أن يشق جوفه فقال أصحابه: لا يحل أكله لأن رجيعه نجس وعند سائر الأئمة يحل. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۰۹، سعيد).

په امداد الاحكام كي راځي:

ډېر كوچني ماهى له ځېرلو او پاكولو پرته هم حلال دئ كما فى الشامي. (امداد الاحكام: ۴/ ۳۱۳).

له دې جواب ليكلو وروسته سائل د مالا بدمنه د حاشيه له لاندي عبارت ځخه شك ور ولوېدئ. (ص ۱۱۴، حاشيه مالابدمنه).

والعبارة هذه: لكن ماهى نهايت كوچک مكروه تحريمى است. وهو الأ صح هكذا في جواهر الأخلاطى.

خو له دې وروسته هم د حلت قول راجح معلومېږي:

لما في غايته الحواشى وأنواع السمك سواء كان السمک صغيراً لايمكن إخراج المرة عنها أو كبيراً كما فى السراج الوهاج، حيث قال: كل أنواع السمک الغير الطافي حلال صغيراً كان أو كبيراً وفي مختصر الوقاية والهداية وحل أنواع السمک وكذا في غيرها ولم يستثن فى المتون الصغير إلا الطاي ومقرر المتون يفتى عليه كما فى جواهر الأخلاطى وفى المحرر إن وقع التعارض بين المتون والفتاوى فالترجيح للمتون فالرواية التي في بعض الفتاوى أن السمک الصغار التي لايخرج المرة عنها حرام لاعبرة فإنها مرجوحة، كما في إمداد المسائل. (۳/ ۴۳).

نو كه چيري د كوچني ماهى نس پاكول ممكن نه وو، بيا له پاكولو پرته هم حلال دئ. (امداد الاحكام: ۴/ ۳۱۳).

په عزيز الفتاوى كي راځي:

د بد بويه او متغير ماهى د خوړلو په ممانعت كي هيڅ خبره نه سته، البته د ضرر په وجه خو
پكښي ده چي هغه اجزاء چي په دموى حيوان كي حرام او مكروه دي په ماهى كي هم حرام او مكروه
دي او كه نه، نو تر څو چي د ماهى د وژلو سبب د حرمت او كراهت نه وي دا د دې تقاضاء كوي چي
هغه اجزاء لكه مثانه وغيره هم نه حرام او نه نجس دي. ولينظر ما فى رد المحتار عن معراج الدراية
(عزيز الفتاوى، جلد اول، ص ۷۲۰، دار الاشاعت).

په بهشتي زېور كي راځي:

ډېر كوچني ماهى له كولمو او داسي نوزو شيانو سره خوړل روا دي په اتفاق سره پرته د شوافعو
څخه. (بهشتى زيور، نوان حصه، ص ۱۰۴).

د شوافعو په مذهب كي هم له يو قول سره سم كوچني ماهى له كولمو سره حلال دئ او ځينو
شافعي علماء كرامو دغه قول راجح بللي دئ، وې ګورئ:

علامه سيوطي رحمه الله وايي:

هل يحل أكل السمك الصغار إذا شويت ولم يشق ما في جوفها ويخرج ما فيه ؟ فيه
وجهان ، وجه الجواز عسر تتبعها ، وعلى المسامحة جرى الأولون فإن الروياني بهذا أفتى
ورجيعها طاهر عندي انتهى، وهذه غير المسألة لأنه فرضها في الصغار وعلل الجواز بعسر
التتبع وهو مفقود في الكبار . (الحاوى للفتاوى: ۱/ ۲۹۰، ط: فاروقى كتب خانه).

وقال فى الأشباه والنظائر: ويلحق به ما في جوف السمك الصغار على القول بالعفو عنه
لعسر تتبعها وهو الراجح. (الاشباه والنظائر: ۲/ ۳۴۰، اقسام مايعفى من النجاسة، دار الكتب العلمية).

په تحفة النهاج كي راځي:

ولايجب تنقية ما في جوف الجراد وصغار السمك لعسره. (تحفة المحتاج فى شرح المنهاج: ۴/
۳۹۹، كتاب الصيد).

په مغنى المحتاج كي راځي:

وأنه يحل قلى صغار السمك من غير أن يشق جوفه ويعفى عما فيه. (مغنى المحتاج: ۴/ ۲۹۷، دار الفكر).

د شافعي علماء کرامو له عباراتو څخه معلومیږي چي د کوچنی ماهی له کولمو سره د خوړلو علت عسر دئ یعنی په پاکوالی کي یې د مشقت او تکلیف له امله معاف دئ.

لنډه دا چي د لاندي وجوهاتو پر بنیاء د کوچني ماهی له کولمو سره د خوړلو اجازه سته:

۱_ د فقهاء کرامو له عباراتو څخه جواز واضح دئ، د عدم جواز قول یوازي په احسن الفتاوی کي ذکر دي.

۲_ د شوافع په آند هم یو قول د جواز سته بلکي امام سیوطي رحمه الله دې ته ترجیح ورکړې ده، نیتجه یې دا سوه چي ټول امامان یې پر جواز سره متفق دي.

۳_ ماهی به دومره کوچني وي چي په پاکوالی کي یې مشقت او تکلیف وي.

۴_ له پخولو وروسته په کوچنی ماهی کي بد بوي نه وي.

۵_ تر پخولو مخکي چي کله ماهی په اوبو کي اچوي، که چیري اوبه ګرمي وي، نو په دې سره د ماهی صفا کیږي او که چیري یخي اوبه وي بیا یې هم د صفائي امکان سته.

په څلورو مذهبو کي د چنګاښ د خوړلو شرعي حکم

سوال: آیا په اسلام کي د چنګاښ (crab) خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: د احنافو په آند د چنګاښ خوړل ناروا دي، د حنابله او مالکیه وو په آند حلال دي او له شوافعو څخه امام نووي رحمه الله دوه قوله ذکر کړي دي، همدا ډول په متاخرینو کي هم اختلاف دئ، نو ځکه د چنګاښ له خوړلو ځای ساتل په کار دي.

په هدایه کي یې وګورئ:

ولا يؤكل من حيوان الماء إلا السمك. (الهداية: ۴/ ۴۴۲).

په المغنی کي راځي:

كل ما يعيش فى البر من دواب البحر لايحل بغير ذكاة... إلا ما لا دم فيه كالسرطان فإنه يباح بغير ذكاة قال أحمد: السرطان لا بأس به قيل له يذبح قال: لا. (المغنى: ١١/ ٨٣، دار الكتب العلمية، بيروت).

په حاشية الدسوقي كي رائحي:

باب المباح حال الاختيار أكلًا أو شربًا طعام طاهر والبحري بأنواعه ، ولو آدميه وخنزيره (وإن ميتًا قول حال الاختيار أى المباح تناوله حال الاختيار من جهة الأكل أو الشرب. (حاشية الدسوقى على الشرح الكبير: ٢/ ١٨١، دار الفكر).

په شرح المهذب كي رائحي:

الثاني ما يعيش في الماء وفى البر أيضا ... وعد الشيخ أبو حامد وإمام الحرمين من هذا الضرب الضفدع والسرطان وهما محرمان علي المذهب الصحيح المنصوص وبه قطع الجمهور وفيهما قول ضعيف أنهما ...

قلت: الصحيح المعتمد أن جميع ما فى البحر تحل ميتته إلا الضفدع. (شرح المهذب: ٩/ ٣٢، دار الفكر).

(وكذا فى مغنى المحتاج: ٦/ ١٥١، مكتبة توفيقية، و روضة الطالبين وعمدة المتقين: ٣/ ٢٧٥، ونهاية المحتاج: ٨/ ١٥١، دار الفكر).

الحيوان الذي لا يعيش إلا فى البحر يحل منه السمک بلاخلاف، ويحل منه غير السمک على الأصح، أما الحيوان البحرى الذى يعيش فى البر أيضاً فقد اختلف فيه كلام النووى، فرجح فى الروضة والمنهاج التحريم، وتبعه الرملى فى النهاية، واعتمد فى المجموع إطلاق الحل إلا الضفدع، وزاد شيخ الإسلام (زكريا الأنصارى) استثناء ذوات السموم وهذا ما اعتمده ابن حجر فى التحفة والخطيب فى المغنى.

الحاصل: أن الضفدع حرام لدليل خاص ورد فيه، وأن الحيوان البحرى الذى يعيش فى البر أيضاً كالسرطان والسلحفاة البحريين حلال عند ابن حجر والخطيب تبعاً للمجموع، حرام عند الرملى تبعاً للروضة والمنهاج، ومحل الخلاف إذا لم يكن من ذوات السموم، وإلا حرم عند الجميع. (ملخص من تحفة المحتاج: ۹/ ۴۴، دار الفكر، والغرر البهية: ۱۰/ ۴۴، دار الكتب العلمية، والمجموع شرح المهذب: ۹/ ۳۲، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د عجل البحر د خوړلو شرعي حکم

سوال: سيل (seal) فقهة عجل البحر، يو دريابي حيوان دئ چې خپل ژوند په اوبو کي کوي، خو د لنګکېدو په وخت کي وچي مځکي ته را پورته کيږي د احنافو او شوافعو په آند د دې خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: د احنافو په آند له دريابي حيواناتو څخه يوازي د ماهۍ خوړل روا دي، له ماهۍ څخه پرته د بل يو دريابي حيوان خوړل ناروا دي، البته د شوافعو په آند د دې خوړل روا دي:

په النتف فى الفتاوى کي راځي:

وأما دواب البحر فإنها محرمة سوى السمک بأجناسها فى قول الفقهاء. (النتف فى الفتاوى، ص ۱۵۰، حكم دواب البحر، ط: بيروت).

د شوافعو د مذهب حوالې وګورئ:

علامه ماوردي رحمه الله په الحاوى الكبير کي ليکي:

وأما النوع الثالث من الحيوان، وهو ما يجمع في عيشه بين البر والبحر من الحيوانات فينقسم ثلاثة أقسام: أحدها ما يكون مستقره في البر، ومرعاه من البحر مثل: طير الماء فهذا من حيوان البر ويجري عليه حكمه. والقسم الثاني: ما يكون مستقره في البحر ومرعاه في البر كالسلحفاة فهذا من حيوان البحر، ويجري عليه حكمه. والقسم الثالث: ما يستقر في البر والبحر ويرعى في البر والبحر، فيراعى أغلب حاليه. فإن كان أغلبهما البر في مستقره ومرعاه

أجري عليه حكم الحيوان البري ، وإن كان أغلبها البحر في مستقره ومرعاه أجري عليه حكم حيوان البحر ، وإن استوى فيه الأمران ، ولم يغلب أحدهما على الآخر ، ففيه وجهان : أحدهما أنه يجري عليه حكم حيوان البر تغليبًا للحظر : لأنه مستغنٍ عن البحر والوجه الثاني أنه يجري عليه حكم حيوان البحر تغليبًا للإباحة : لأنه مستغنٍ عن البر . (الحاوى الكبير للماوردى: ۱۵/ ۶۳).

په اسنى المطالب شرح روض الطالب كي رائحي:

وما لايعيش من الحيوان إلا فى الماء حلال كيفما مات أى حتف أنفه أو بضغطه أو صدمه أو انحسار ماء أو ضرب من الصياد أو غيره ولو لم يشبه السمک المشهور ككلب وحمار وخنزير... (اسنى المطالب: ۳/ ۴۰۶، وكذا فى مغنى المحتاج: ۶/ ۱۴۶). والله ﷻ اعلم.

په حلالو حيواناتو كي د حرامو او مكروه اعضاء وضاحت

سوال: په حلالو حيواناتو كي د كومو كومو اعضاؤ خوړل ناروا دي او په دغو اعضاؤ كي كوم مكروه دي او كوم حرام دي، مقصد د دې وضاحت دئ؟

الجواب: په حلالو حيواناتو كي لاندي (۷) شيانو خوړل ناروا دي:

۱_ دم مسفوح.
۲_ شرمگاه.
۳_ خصتيني.
۴_ غددو (په ورنو كي مرغړي).
۵_ د بولو كڅوړه.
۶_ مراره.
۷_ تناسل اله (ذكر). او هغه حيوان چي د انسانانو مرداري خوري د هغه غوښه هم مكروه ده.

دغه اووه شيان زمونږ فقهاء كرامو ناروا بللى دي او د ياد ساتلو له پاره د آساني په خاطر ځيني علماء كرامو دغه لاندني كلمه كي سره جمع كړى دي:

((فخذ مدغم)) له ((ف)) څخه مراد فرج دئ، له ((خ)) څخه مراد خصتين دي، له ((ذ)) څخه مراد ذكر دئ، له ((م)) څخه مراد مراره ده، له ((د)) څخه مراد دم مسفوح، له ((غ)) څخه مراد غدود دي له او له ((م)) څخه مراد مثانه د بولو كڅوره ده.

له ذكر سوې اووه اعضاؤ څخه دم مسفوح حرام دي او حرمت يې له نص قطعي څخه ثابت دئ، نو ځكه د دې حرمت هم قطعي دئ او د پاته شپږو شيانو ممانعت له حديث څخه ثابت سوى دئ، نو ځكه دغه شپږ شيان مكروه تحريمې دي.

وګورئ: دالله عزوجل فرمان دئ:

﴿حرمت عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير ﴾. (المائدة: ۳).

يو بل ځاى فرمايي:

﴿ إنما حرم عليكم الميتة والدم﴾. (النحل: ۱۱۵).

بل ځاى فرمايي:

﴿ قل لا أجد في ما أوحي إلي محرمًا على طاعمٍ يطعمه إلا أن يكون ميتةً أو دمًا مسفوحًا ﴾. (الانعام: ۱۴۵).

په حديث شريف كي راځي:

كره رسول الله ﷺ من الشاة سبعاً: المرارة، والمثانة، والغدة، والحياء، والذكر، والانثيين، والدم. (كتاب الاثار للامام ابى حنيفة، باب مايكره من الشاة، ص ۱۳۸، ط: كتب خانه مجيديه، ملتان).

(وكذا رواه البيهقى فى الكبرى: ۱۰/ ۷، وعبد الرزاق: ۴/ ۵۳۵/ ۸۷۷۱، والطبرانى: ۹/ ۱۸۱/ ۹۴۸۰، عن ابن عمر مرفوعاق).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما بيان ما يحرم أكله من أجزاء الحيوان المأكول فالذي يحرم أكله منه سبعة : الدم المسفوح ، والذكر ، والأنثيان ، والقبل ، والغدة ، والمثانة ، والمرارة لقوله عز شأنه ﴿

ويحل لهم الطيبات ويحرم عليهم الخبائث ﴾ وهذه الأشياء السبعة مما تستخبثه الطباع السليمة فكانت محرمةً .

وروي عن مجاهدٍ رضي الله عنه أنه قال : كره رسول الله ﷺ من الشاة الذكر والأنثيين والقبل والغدة والمرارة والمثانة والدم فالمراد منه كراهة التحريم بدليل أنه جمع بين الأشياء الستة وبين الدم في الكراهة ، والدم المسفوح محرم ، والمروي عن أبي حنيفة رحمه الله أنه قال : الدم حرام وأكره الستة أطلق اسم الحرام على الدم المسفوح وسمى ما سواه مكروهًا ؛ لأن الحرام المطلق ما ثبتت حرمته بدليلٍ مقطوعٍ به ، وحرمة الدم المسفوح قد ثبتت بدليلٍ مقطوعٍ به وهو النص المفسر من الكتاب العزيز قال الله تعالى عز شأنه ﴿ قل لا أجد فيما أوحي إلي محرمًا ﴾ إلى قوله عز شأنه ﴿ أو دمًا مسفوحًا أو لحم خنزيرٍ ﴾ وانعقاد الإجماع أيضًا على حرمته فأما حرمة ما سواه من الأشياء الستة فما ثبتت بدليلٍ مقطوعٍ به بل بالاجتهاد أو بظاهر الكتاب العزيز المحتمل للتأويل أو الحديث لذلك فصل بينهما في الاسم فسمى ذلك حرامًا وذا مكروهًا والله عز اسمه أعلم . (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۱، سعيد).

وفي رد المحتار: قوله من الشاة ذكر الشاة اتفاقي لأن الحكم لا يختلف في غيرها من المأكولات. قوله الحياء، هو الفرج من ذوات الخف والظلف والسباع. (رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، مسائل شتى، سعيد).

په تنقيح الفتاوى الحامديه كي راځي:

والمكروه تحريمًا من الشاة سبع: الفرج والخصية والغدة والدم المسفوح والمرارة والذكر وقد نظمها بعضهم بقوله:

إذا ما ذكيت شاة فكلها ☆ سوى سبعٍ ففيهن الوبال

فــفاء ثــم خاء ثم غينِ ☆ وذال ثم ميمـان ودال

أقول: وقد كنت نظمتها بقولي:

إن الذي من الشياه يحرم ☆ يجمعه حروف فخذ مدغم

(تنقيح الفتاوى الحامدية: ۲/ ۲۳۲، كتاب الذبائح).

(ومثله فی الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، ۷۵۰، سعید).

د نور تفصیل له پاره دغه لاندي کتابونه وګورئ: (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، سعید، وحاشية الطحطاوی على الدر المختار: ۴/ ۳۶۰، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۰، فی المتفرقات من الذبائح، والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۳۰۳، والنتف فی الفتاوى، ص: ۱۵۱، مایکره من الشاة المذبوحة، ط: بیروت).

وفی النتف فی الفتاوى: قال: وتكره الجلالة من الأنعام ويستحب إذا أراد ذبحها أن يحسبها أياماً ويعلفها حتى تنظف أجوافها ثم يذبحها. (النتف فی الفتاوى، ص ۱۵۱، ط: بیروت).

په اعلاء السنن کي راځي:

عن ابن عمر ﵄ قال: نهى رسول الله ﷺ عن أكل الجلالة وألبانها، رواه الخمسة إلا النسائي.

أقول: النهي عن أكل لحم الجلالة وشرب لبنها والركوب عليها إنها هو إذا ظهر أثر النجاسة فی لحمها ولبنها وعرقها بأن يظهر فيها طعمها أو ريحها أو لونها وإلا فلا، ثم لما كانت هذه الكراهة عارضة يرتفع بارتفاع العارض بأن تحبس أياماً وتعلف حتى يغلب أثر العلف على أثر العذرة ويفني وليس له مدة معينة، قال السرخسی: الأصح عدم التقدير وتحبس حتى تزول الرائحة المنتنة كذا فی «رد المحتار». (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۹۴).

وللمزيد انظر: (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۹۴- ۱۹۷).

لنډه دا چي د دې اوو شيانو خوړل ناروا دي او دم مسفوح خو مطلقاً حرام ده، که يې چيري څوک خوري، نو د هغه دا کار د حلت دليل نه دئ او صبعية سليمه هم د دې له خوړلو څخه نفرت کوي. نو که چيري څوک ووايي، چي د دې په خوړلو کي ډېر خوند دئ، نو دا خبره يې خلاف فطرت ده او هيڅ اعتبار يې نه سته. والله ﷻ اعلم.

د ملا د تېر د ماغزه خوړلو شرعي حکم

سوال: د ملا د تېر ماغزه کوم چي په خلکو کي مشهور دي، د دې خوړل څنګه دي، حرام که مکروه که مباح، که خلاف اولی دي او له کوچني حيوان او مرغه څخه يې را ايستل تکليف هم دئ، نو شرعي حکم راته بيانه کړه؟

الجواب: د ملا د تېر ماغزه خوړل مکروه دي او راجح قول دا دي چي په دې کي کراهت تنزيهي دئ.

په فتاوی هنديه کي راځي:

كره من الشاة الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر والنخاع الصلب ، كذا في الكنز . (الفتاوى الهندية: ۶/ ۴۴۵).

په کنز الدقائق کي راځي:

كره من الشاة: الحياء (الفرج) والخصية، والغدة، المثانة، والمرارة، والدم المسفوح، والذكر.

وفى تعليقات الكنز للشيخ سائد بكداش: قال: لورود الأثر فى النهى عن هذه الأشياء، ولاستخباث النفوس السليمة لها، وأما الدم: فقال أبو حنيفة بحرمته لثبوت النص فى تحريمه.

تنبيه: جاءت فى ص ۲۱۷ من نسخة الكنز المطبوعة فى الهند سنة ۱۲۹۴ هـ زيادة جملة على هذه السبع، وهى: «ونخاع الصلب»، وهو حكم تفردت به هذه النسخة دون غيرها من النسخ الخطية والمطبوعة، ولم يذكر هذا الفرع أيضاً فى الكنز مع تتمة الطورى ۸/ ۵۵۳،

ولا فی تفریعات الطوری، وکذلک فی بقیة الشروح، ینظر: تبیین الحقائق ۶/ ۲۲۶، فتح المعین لأبی السعود ۳/ ۵۶۰، کشف الحقائق ۲/ ۳۳۸، وکذلک لم یذکر فی الدر المختار، ولا في فروع ابن عابدین علیه ۶/ ۷۴۹.

وفي حین أن علماء الهند فی الفتاوی الهندیة (العالمکیریة) ۶/ ۴۴۵، اعتماداً منهم علی هذه المطبوعة الهندیة من الکنز قرروا حکماً شرعیاً وهو: کراهة أکل نخاع الصلب حیث کتبوا فی الفتاوی: «والنخاع الصلب، وکذا في الهندیة». وکتب مصحح الفتاوی الهندیة معلقاً فی الحاشیة: قوله: والنخاع الصلب، ولم أجد ذلک في عبارة الکنز، ولا في شرحه التبیین. (تعلیقات الشیخ سائدبکداش علی الکنز، ص ۶۹۴، مسائل شتی، ط: دار البشائر الاسلامیة).

په کنز کي په صفحه ((۴۹٦)) مکتبه امدادیه ملتان کي د نخاع الصلب، ((د ملا تیر ماغزه)) ذکر سوی دي، خو د هغه محشي مولانا حبیب الرحمن رحمه الله هم د دې انکار کړی دئ، عبارت یې وګورئ:

قوله ونخاع الصلب المراد به ما یقال فی الهندیة «حرام مغز» واعلم أن قوله ونخاع الصلب لم یوجد في جمیع الشروح من المتن وإنما هو فی النسخ المطبوعة ولم یذکر صاحب الدر المختار أیضاً فیما عدوه من الأشیاء المکروهة ولم یأخذه فی نظم الذی ذکر نقلته من ملا مسکین أیضاً بل اکتفی فیه علی سبعة فافهم. «حبیب الرحمن». (حاشیة کنز الدقائق، ص ۴۹۶، ط: امدادیه ملتان، باکستان).

لنډه دا چي د کنز الدقائق په هندستاني نسخو کي د نخاع الصلب ذکر موجود دئ، خو نه په بله کومه مخطوطه او نه په مطبوعه کي د دې ذکر سته، همدا ډول په عالمګیری کي یې د کنز په حواله ذکر سوې دي مګر په حاشیه کي یې وضاحت کړی دئ، چي دا عبارت نه په کنز کي سته او نه د کنز په شرح تبیین الحقائق کي، نو ځکه د کنز عبارت مشکوک سو او د سائد بکداش رحمه الله له تحقیق سره سم کالعدم داسي دئ، نو ځکه د نخاع الصلب مکروه کېدل مشکوک دي، البته که چیري د مذهب

په نورو کتابو کي مکروه ليکلي وو، نو کراهت يې ثابتيږي، خو د کراهت تحريمې ثبوات بيا هم مشکل دئ، يوازي تنزيهي ثابتيدلای سي.

علامه سيد احمد طحطاوی رحمه الله وايي:

(قوله والدم المسفوح) أی السائل من العروق أما الدم الباقی فی العروق بعد الذبح لايكره كما فی المفتاح وزيد نخاع الصلب. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۳۶۰، ط: كوئته).

نو که چيري نخاع الصلب په آساني سره ايستل کېدای سي، نو ايستل يې په کار دي مګر که له کوچني حيوان څخه د دې ايستل مشکل وو، نو بيا يې ايستل ضروري نه دي.

وګورئ: علامه عبد الحی لکهنوی رحمه الله په مجموعه الفتاوی کي ليکي:

سوال: د ملا د تېر ماغزه مکروه تحريمې دي او که تنزيهي، که مکروه تحريمې وي، نو له هر کوچني او لوی حيوان څخه د ملا د تېر ماغزه ايستل واجب دئ، مثلاً لکه بزه، چرګه، چوغکه، کوتره او داسي نور يا يوازي له لوی حيوان څخه ايستل کيږي؟

جواب: په نصاب الاحتساب، مطالب المومنين او داسي نورو کي يې مکروه ليکلي دي او د کتابو له ظاهر څخه معلوميږي چي د دې کراهت تنزيهي دئ تحريمې نه دئ، نو چي د کومو حيواناتو په نخاع الصلب ايستلو کي مشقت وي بيا يې ايستل ضروري نه دي. (معلم الفقه، ترجمه اردو مجموعة الفتاوی، جلد دوم، ص ۳۲۱، ط: آرام باغ کراچی).

د نصاب الاحتساب عبارت وګورئ:

وأما ما يكره فهو عشرة: الغدة، والقبل، والدبر، والذكر، والخصيان، والمرارة، والمثانة، ونخاع الصلب..... الخ. (نصاب الاحتساب، الباب الثامن والخمسون فی الاحتساب علی الطباخ، ص ۳۷۵).

د حضرات اکابرو رحمهم الله تعالی عبارت هم په دې اړوند مختلف دي د څو فتاوو عبارتونه لاندي وګورئ:

حضرت مفتي کفايت الله صاحب وايي:

خصیه خوړل مکروه دي پښتورګي روا دئ د ملا د تېر ماغزه نه حرام دي نه په مکروه دغسي بې چاره بد نامه دئ. (کفایت المفتی: ۸/ ۲۶۲، دار الاشاعت).

د بذل المجهود مؤلف حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله وايي:

د نخاع حرمت د فقه په کتابو کي زما تر نظر نه دئ تېر سوي. (فتاوی مظاهر علوم، ص ۲۹۹).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله وايي:

د ملا د تېر د ماغزو پر حرمت هیڅ یو دلیل نه سته او له پسه څخه اووه شیان مکروه دي په هغو کي دا داخل نه دي، نو د دې خوړل بالکل حلال دي. (امداد الاحکام: ۴/ ۳۱۲).

د یوې استفتاء په جواب کي لیکي:

د حرام مغز پر حرمت موږ ته د فقه په کتابو کي صراحة څه دلیل په نظر راغلی نه دئ که چیري تاسو صراحة لیدلی وي، نو د کتاب عبارت د صفحې، ټوک او باب له حوالې سره ولیکي او راوې لېږي. (امداد الاحکام: ۴/ ۳۱۲).

حضرت مفتي محمود حسن ګنګوهی رحمه الله د طحطاوی په حواله سره ممانعت لیکلی دئ، وې ګورئ:

سوال: د ملا د تېر ماغزه خوړل څنګه دي؟

الجواب: خوړل يې منع دي، ((طحطاوی: ۴/۳٦۰)).

د دې په تعلیقات کي یې د کنز عبارت هم د دلیل په توګه لیکلی دئ. (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۲۹۸، جامعه فاروقیه).

حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله هم په فتاوی رشیدیه کي د دې منع لیکلی دئ، وې ګورئ:

اووه شیان په حلال حیوان کي دي، خوړل يې منع دئ ذکر، فرج، د بنځینه، مثانه، مرغړي، د ملا تېر ماغزه کي وي، نور ټول شیان يې حلال دي. (فتاوی رشیدیه، ص ۵۸۷، ط: لاهور).

په امداد المفتین کي راځي:

سوال: د حلال حیوان د شاه تېر ماغزه خوړل روا دي او که نه؟ په فقه حنفیه کي اووه شیان د حلال حیوان حرام لیکلي دي، خو په دې کي د شیاه تېر د ماغزو څه ذکر نه سته مګر د مولانا رشید احمد

ګنګوهي رحمه الله په فتاوى رشيديه کي يې حرام ليکلي دي مګر حواله يې نه ده ورسره ليکلي د زړه د اطمنان په خاطر له علماء کرامو څخه دا هيله لرو چي حواله يې راته وليکي؟

الجواب: احقر ته هم له ډېر کوښښ سره سره د دې حواله په نظر نه ده راغلې.... الخ.

په حاشيه کي ليکلي دي، په وروسته کي محترم مولانا سعيد احمد مفتي مظاهر علوم سهارنپوري رحمه الله وکتل او د دې حواله يې راته وښودله هغه حواله په لاندي ډول ده:

صرح به الطحطاوى على الدر حيث قال: وزيد نخاع الصلب. (امداد المفتين مع الحاشية مؤلف: ۲/ ۸۰۵، دار الاشاعت).

لنډه دا چي يوازي د طحطاوى عبارت په دې اړه صريح دئ مګر د دې له طريقې څخه معلومېږي چي د ملا د تېر ماغزه يې وروسته په مکروهاتو کي داخل کړه، ځکه چي د فقه په عامو کتابو کي د دې هيڅ تصريح نه سته يوازي اووه شيان يې په مکروهاتو کي شمېرلي دي، خو بيا هم د علامه طحطاوى رحمه الله د عبارت له کبله د مکروه تنزيهي قول صحيح دئ، د کراهت تحريمي قول محل نظر دئ.

چونکي د نخاع الصلب معنى څه قدر نامعلومه ده، نو ځکه يې د لغتو له کتابو څخه تعريف را نقل کوو چي ابهام يې ختم سي.

نخع: بالفتح والكسر والضم عرق أبيض في داخل العنق، ينقاد في فقار الصلب حتى يبلغ عجب الذنب وهو يسقى العظام. (لسان العرب: ۸/ ۳۴۸، وتاج العروس: ۵/ ۵۲۰).

وفى المغرب: نخع: النخاع، خيط أبيض في جوف عظم الرقبة يمتد إلى الصلب. (المغرب: ۲/ ۲۹۳).

د دې تعريفاتو خلاصه دا ده چي، نخاع يو سپين رګ دئ چي له غاړې څخه شروع کيږي په ملا کي تېرېږي د لکۍ تر پايه پوري تللی وي. والله ﷻ واعلم.

د غدود ((مرغړو)) د خوړلو شرعي حکم

سوال: د تریخي کوم چي په عربي کي ((الغدة)) وایي او د ملاد تېر ماغزه کوم ته چي ((نخاع الصلب)) وایي، د دې دواړو څه حکم دئ، که چیري په کتغ کي پاخه سي د کتغ خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: د مرغړي ((الغدة)) په اړوند فقهاء کرامو لیکلي دي چي د دې خوړل له صحیح قول سره سم مکروه تحریمې دي او له یوه قول سره سم مکروه تنزیهې دي، رسول الله ﷺ له حلالو حیواناتو څخه، ذکر، خصیتین، شرمګاه ((فرج)) مرغړي، تریخي چي له ځګر سره مبنتي د صفرا کڅوړه چي په هضمیه کي کومک کوي، مثانه او وینه یې نه خوښول.

امام ابو حنیفه رحمه الله وایي، چي وینه خو حرامه ده ځکه چي په دې کي آیت کریمه نازل سوی دئ او پاته شیان مکروه دي ځکه چي طبعیت سلیمه له دې څخه نفرت کوي:

وې ګورئ په درمختار کي راځي:

کره تحريماً وقيل تنزيهاً والأول أوجه من الشاة سبع... للأثر الوارد في كراهة ذلك. وفي رد المحتار: قوله كره تحريما لما روى الأوزاعي عن واصل بن أبي جميلة عن مجاهد قال: كره رسول الله ﷺ من الشاة: الذكر والأنثيين والقبل والغدة والمرارة والمثانة والدم، قال أبو حنيفة : الدم حرام وأكره الستة.... لأنه مما تستخبثه الأنفس، وتكرهه وهذا المعنى سبب الكراهية لقوله تعالى ﴿ ويحرم عليهم الخبائث ﴾... الخ. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، مسائل شتى، سعيد).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (البحر الرائق: / ۴۸، ط: کوئته، وبدائع الصنائع: ۵/ ۶۱، سعید، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۰).

له غدود څخه مراد د هډوکو ماغزه نه دي کوم چي عام خلک یې خوري او په احادیثو کي هم د دې د خوړلو تصریح موجود ده بلکي له دې څخه مراد مرغړي دئ چي په انګرېزي کي (gland) ورته وایي او ماغزه کوم چي خوړل کیږي دې ته په انګرېزي کي (marrow) وایي.

غدود. الغدة او الغددة دا له اوو شیانو څخه دي او مکروه تحریمي دي د دې په اړوند اهل لغت وايي، په جسم کي پیدا کېدونکي غوټه چي شا وخوا يې وازګه وي. همدا ډول د غوبنې غوټه چي د يو مرض له امله را پورته کيږي او د هډوکو په منځ کي ماغزه کوم چي خوړل کیږي دې ته په عربي کي ((مخ)) ((لب)) ويل کیږي او په اردو کي له ګودا، مغز استخوان څخه تعبير کوي. (فیروز اللغات، القاموس الوحيد وغیره).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: تاسو يې راته بیان کړي چي غدود څه شی ده په عام ډول غدود له نل او پښو څخه را ایستل کیږي دې ته وايي او خلک يې ډېر په شوق خوري آیا دا حلال ده او که حرام؟

الجواب: وينه چي سره را ټوله سي او د مند کي صورت ورڅخه جوړ سي دغه ته ((غده)) وايي او په اردو کي ((غدود)) ورته وايي له پښو او نورو هډوکو چي کوم شی را ایستل کیږي هغه ته ((ماغزه او مغز)) وايي د دې خوړل روا دي. (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۲۹۷، جامعه فاروقیه).

د شین جي د ماغزو په اړوند تفصیل بحث مخکي تېر سو. خلاصه يې دا ده چي د علامه سید احمد طحطاوي رحمه الله د عبارت له امله د کراهت تنزیهي یعنی خلاف اولی قول صحیح دئ د کومو شیانو چي خوړل مکروه تحریمي یا حرام دي د هغوی په کتغ کي په پخولو څخه کتغ نه حرامیږي، بلکي د کتغ خوړل روا دي.

په فتاوی شامی کي يې وګورئ:

ذكر (أي صاحب القنية) أن الذكر أو الغدة لو طبخ في المرقة لا تكره المرقة. (فتاوى الشامي: ۶/ ۷۴۹، سعيد).

علامه رافعی رحمه الله وايي:

قوله إنه لا يكره أكل المرقة واللحم، أي المطبوخ مع الذكر أو الغدة وعبارة القنية على ما ذكره في شرح الوهبانية: ذكر الشاة وغددها طبخا في اللحم لا تكره المرقة. (التحرير المختار: ۶/ ۳۵۷، سعيد).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

الاستفسار: ذكر الشاة إذا طبخ في المرقة، هل يكره أكلها؟

الاستبشار: نعم، ولا كراهة في المرقة. كذا في السراج المنير. (فتاوى اللكنوى، ص ۳۷۳، كتاب الحظر والاباحة، ما يتعلق بالاكل والشرب). (وكذا في شرح منظومة ابن وهبان: ۲/ ۱۵۵، ط: ديوبند). والله ﷻ اعلم.

د لرۍ او کولمو ((تینو)) حکم

سوال: که چیري یو ځای داختري لرۍ او کولمې نه خوړل کیږي، نو یو ځای دي په خاورو کې پټ سي او که دې د پښیانو، سپو او مرغانو د خوړلو په ځای کي واچول سي ترڅو هغه یې وخوري؟

الجواب: د لرۍ او کولمو له پاکولو وروسته خوړل روا دي، البته که چیري هغه یو ځای خلک نه خوري، نو بیا یې مذکوره حیواناتو ته غورځول روا دي، په حدیث شریف کي راځي:

وفي كل ذات كبد ر طبة اجر.

هر ژوندی حیوان ته په ورکولو کي ثواب سته د یوې ښځي مغفرت ځکه وسو چي هغې وتږي سپي ته اوبه ورکړي وي (بخاري شریف)

او یوې ښځي ته له دې امله عذاب ورکول سو چي هغې یوه پیشو تړلې وو نه یې ډوډۍ ورکوله او نه یې اوبه ورکولې او نه یې پرېښودله چي په خپله یو شی وخوري مګر که چیري یو ځای یو حیوان نه ورته راتلی او د بد بویې اندیښنه یې وي بیا یې دفن کول ښه کار دئ:

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان ما يحرم أكله من أجزاء الحيوان المأكول فالذي يحرم أكله منه سبعة : الدم المسفوح ، والذكر ، والأنثيان ، والقبل ، والغدة ، والمثانة ، والمرارة لقوله عز شأنه ﴿ ويحل لهم الطيبات ويحرم عليهم الخبائث ﴾ وهذه الأشياء السبعة مما تستخبثه الطباع السليمة فكانت محرمةً . (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۱، سعید).

په تنقیح الفتاوی الحامدیه کي راځي:

والمكروه تحريمًا من الشاة سبع: الفرج والخصية والغدة والدم المسفوح والمرارة والذكر وقد نظمها بعضهم بقوله:

إذا ما ذكيت شاة فكلها ☆ سوى سبعٍ ففيهن الوبال

ففاء ثـم خـاء ثم غين ☆ وذال ثـم ميمان ودال

أقول: وقد كنت نظمتها بقولي:

إن الذي من الشياه يحرم ☆ يجمعه حروف فخذ مدغم

(تنقيح الفتاوى الحامدية: ۲/ ۲۳۲، كتاب الذبائح).

(ومثله في الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، ۷۵۰، سعيد).

د نور تفصيل له پاره دغه لاندي كتابونه وگورئ: (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۴۹، سعيد، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۳۶۰).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د كولمو او لرى خوړل شرعاً روا دي، چي ښه پاک سي او وخوړل سي.

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وگورئ: (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۵/ ۵۱۱، وفتاوى رحيميه: ۵/ ۳۷۸).

أخرج البخاري بسنده عن أبي هريرة ﷺ، أن رسول الله ﷺ قال: بينا رجل بطريق فاشتد عليه العطش فنزل بئرًا فنزل فيها فشرب ثم خرج فإذا كلبٍ يلهث يأكل الثرى من العطش فقال: الرجل لقد بلغ هذا الكلب من العطش مثل الذي كان بلغ مني فنزل البئر فملأ خفه ماء، فسقى الكلب فشكر الله له فغفر له قالوا: يا رسول الله! وإن لنا في البهائم أجرًا قال: في كل كبدٍ رطبةٍ أجر. (رواه البخارى برقم: ۲۴۶۶، ومسلم: ۲۲۴۴، وابو داود: ۲۵۵۰).

وأخرج أيضاً، عن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ قال: غفر لامرأةٍ مومسةٍ مرت بكلبٍ على رأس ركي يلهث، قال: كاد يقتله العطش فنزعت خفها فأوثقته بخمارها فنزعت له

من الماء فغفر لها بذلك. (صحيح البخاری، رقم: ۳۳۲۱، واخرج مسلم فی باب فضل ...
البهائم).

له مذکوره احادیثو څخه معلومیږي چي حیوان ته په ورکولو کي ثواب سته. نو څکه دا تر کولو بنه دي، البته که چیري حیوان موجود نه وُ یا یې د بد بویې اندیښنه وُ بیا یې دفن کول بنه دي.
وګورئ باقیات په فتاوی رشیدیه کي راځي:
او چي کوم شوک د خوړلو او اخیستلو نه وي، نو بیا یې دفن کول ضروري دي چي له بد بـ... څخه یې خلکو ته تکلیف ونه رسیږي. والله ﷻ اعلم.

د حلالو حیواناتو فهرست

بری او بحري حیوانات او مرغان چي خوړل یې روا دي

پښتو نومونه	عربي نومونه	انګریزی نومونه	احناف	شافعیه	مالکیه	حنابله
ابابیل	الخطاب	Swallow	حلال	حرام	حلال	خلاف
اوښ	الابل	Camel	حلال	حلال	حلال	حلال
بزه او پسه	المعز	Goat	حلال	حلال	حلال	حلال
دنبه	الضان	Sheep	حلال	حلال	حلال	حلال
ګامیښ	الجاموس	Buffalo	حلال	حلال	حلال	حلال
هوسۍ	الایل، مثل الوعل	Deer	حلال	حلال	حلال	حلال
کرک	السمانی	Quail	حلال	حلال	حلال	حلال
بلبل	بلبل العندلیب	Niqhtinqale	حلال	حلال	حلال	حلال
	طیر الماء البلشون	Heron	حلال	حلال	حلال	حلال
هیلۍ	بط، الاوزة	Duck, Goose	حلال	حلال	حلال	حلال
داوبو مرغه	دیک الماء		حلال	حلال	حلال	حلال

داوبو مرغی	دجاج الماء		حلال	حلال	حلال	حلال
	الدراج	Francolin, Black Parrtridqe	حلال	حلال	حلال	حلال
	التلير		حلال	حلال	حلال	حلال
ملخ	الجراد	Locust	حلال	حلال	حلال	حلال
چوغکه	العصفور	Sparrow	حلال	حلال	حلال	حلال
	القبرة	Lark	حلال	خلال	حلال	حلال
زرکه	الحجل	Partridqe. Bobwhite	حلال	حلال	حلال	حلال
سُوی	الارنب	Rabbit	حلال	خلال	حلال	حلال
پسه	الكبش	Sheep	حلال	حلال	حلال	حلال
	دهنير		حلال	حلال	حلال	حلال
زرافه	الزرافة	Giraffe	حلال	حلال	حلال	حلال
دغره غوائي	البقر الجبلی		حلال	جلال	حلال	حلال
	الحباری	Bustard	حلال	حلال	حلال	حلال
شترمرغ	النعامة	Ostrich	حلال	حلال	حلال	حلال
شين توتي	الدرة، الببغاء	Parrot	حلال	حرام	حلال	حلال
کفتره	الفاختة اليمامة	Dove	حلال	حلال	حلال	حلال
گوگو کفتره	القمری	Turle dove	حلال	حلال	حلال	حلال
کفتره	الحمامة	Piqeon	حلال	حلال	حلال	حلال
کفتري سره مشابه	الحريل		حلال	حلال	حلال	حلال
کارگه	الزاع	Crow	حلال	حلال	حلال	حلال
ملاچرگک	الهدهد	Hoopoe	حلال	حرام	حلال	خلاف

الکرکی الغرنوق	Craue	حلال	حلال	حلال	حلال
الحمار الوحشی	Zebra, wildass	حلال	حلال	حلال	حلال
البقر	Cow.Ox	حلال	حلال	حلال	حلال
الخیل	Horse	خلاف	حلال	مکروہ	حلال
اللقلق	Stork	حلال	حرام	حلال	حرام
الدیک	Rooster	حلال	حلال	حلال	حلال
الدجاجة	Chicken	حلال	حلال	حلال	حلال
الطائر السابح	Waterfowl	حلال	حلال	حلال	حلال
الزرزور	Starlinq	حلال	حلال	حلال	حلال
الطاووس	Peacock	حلال	حرام	حلال	خلاف
الصعو	Wren	حلال	حلال	حلال	حلال
السمک	Fish	حلال	حلال	حلال	حلال
بقرة الوحش عین	Antelope, wild cow	حلال	حلال	حلال	حلال
الطبی، غزال	Deer, Gazelle, Buck, Antelope	حلال	حلال	حلال	حلال
من اقسام البط	Goose	حلال	حلال	حلال	حلال

د حرامو حیوانانو فهرست

بري او بحري حیوانان او مرغان چي خوړل يې ناروا او حرام

پښتو نومونه	عربي نومونه	انګرېزي نومونه	احناف	شافعیه	مالکیه
	كلب الماء ثعلب الماء	Offer	حرام	حلال	حلال
	النسناس	Guenon	حرام	حرام	مکروه
لېوو	ذئب	Wolf	حرام	حرام	مکروه
مچي	الزنبور	Hometwasp	حرام	حرام	مکروه
	الضبع	Hyena	حرام	حلال	حلال ومکروه
پیشي	السنور، الهرة	Cat/wild cat	حرام	حرام	مکروه
بزو	القرد	Monkey	حرام	حرام	مکروه
باز	البازى	Falcon	حرام	حرام	مکروه
باښه	الباشق	Sparrow hawk	حرام	حرام	مکروه
لړم	العقرب	Scorpion	حرام	حرام	حرام
زمری	الفهد	Cheetan	حرام	حرام	مکروه
شپږه	القمل	Louse	حرام	حرام	مکروه
	الصقر	Falcon	حرام	حرام	مکروه
پړانګ	النمر	Leopard/ panther/ Tiqer	حرام	حرام	مکروه
شو پرک	الخفاش	Bat	حرام	حرام	حرام
موږک	الفأر	Mouse/rat	حرام	حرام	مکروه
ځنګلي	اليربوع	Jerboa	حرام	حلال	حلال

					موږک
مکروه	حرام	حرام	Kite	الحدأة	
مکروه	حرام	حرام	Mule	البغل	غاتره
مکروه	حرام	حرام	Termite	الارضة	
مکروه	حرام	حرام	Bear	الدب	
حرام	حرام	حرام	Piq/swine/hoq	الخنزير	سرکوزي
حلال	حرام	حرام	Snake	الحية	مار
حلال	حلال	حرام	Hedqehoq	القنفذ	
مکروه	حرام	حرام	Pereqrine Falcon	الشاهين	شاهين
مکروه	حرام	حرام	Bee	النحل	مچمچۍ
مکروه	حرام	حرام	Lion	الاسد	زمری
مکروه	حرام	حرام	Falcon	الصقر	
حلال	حرام	حرام	Turtle	السلحفاة	کيشف
حلال	حلال	حرام	Crab/Lobster	السرطان	چنګابښ
حلال	حرام	حرام	Doq	الكلب	سپی
حلال	حرام	حرام	Spotted crow	الابقع	کمپنۍ
خلاف	حلال	حرام	Squirrel	السنجاب	
حلال	حرام	حرام	Jackal	ابن آوی	ګيدړ
مکروه	حرام	حرام	Vulture	النسر	
حرام	حرام	حرام	Donkey	الحمار	خر
حلال	حلال	حرام	Spiny-tailed lizzard	الضب	
مکروه	حرام	حرام	Chameleon	الحرباء	
مکروه	حلال	حرام	Rhino	الكركدن	
حلال	حلال	حرام	Fox	الثعلب	ګيدړه

سمساره	التمساح	Crocodile	حرام	حرام	مکروه	حرام
غوماشه	البعوض	Mosquito	حرام	حرام	مکروه	حرام
مچ	الذباب	Fly	حرام	حرام	مکروه	حرام
چنګوښه	الضفدع	Froq/Toad	حرام	حرام	مکروه	حرام
غړنې	العنکبوت	Spider	حرام	حرام	مکروه	حرام
	ابن عرس	Weasel	حرام	حلال	حلال	حرام
فیل	الفیل	Elephant	حرام	حرام	مکروه	حرام

د حلالو او حرامو حیواناتو د نقشي له پاره له دې کتابو او رسالو څخه استفاده سوې ده:

۱ – رساله مفتي دمشق شیخ محمود حمزاوي.

۲ – اعلاء السنن، جلد ۱۷

۳ – الموسوعة الفقهیة الکویتیة، جلد ۵.

۴ – فتاوی الشامی، جلد ۶.

۵ – النتف فی الفتاوی.

۶ – مخ الجلیل شرح مختصر الخلیل، جلد ۲.

۷ – المغنی لابن قدامه الحنبلی، جلد: ۱۱.

۸ – الفقه المنهجی، جلد ۱.

۹ – الفقه المیسر.

۱۰ – شرح المهذب، جلد ۹، او بعض جدید رسائل. والله ﷻ اعلم.

اقسام السمک

د ماهیانو څو ډولونه په نقشه کي وګورئ:

پښتو نومونه	عربي نومونه	انګرېزی نومونه	احناف	شافعیه	مالکیه	حنابله
	شبوط	Carp	حلال	حلال	حلال	حلال
	زامور	Pilot fisn	حلال	حلال	حلال	حلال

دلفین / دخس	Dolphin	حلال	حلال	حلال	حلال
حوت الحیض (۱)		حلال	حلال	حلال	حلال
جمل البحر		حلال	حلال	حلال	حلال
عنبر	Sperm whale	حلال	حلال	حلال	حلال
قطا		حلال	حلال	حلال	حلال
قوقی		حلال	حلال	حلال	حلال
کوسج	Sail fish	حلال	حلال	حلال	حلال
مینارة		حلال	حلال	حلال	حلال
منشار	Saw fish	حلال	حلال	حلال	حلال
نون	Whale	حلال	حلال	حلال	حلال
ابو مزینة		حلال	حلال	حلال	حلال
القرش	Shark	حلال	حلال	حلال	حلال
جری	Cat fish	حلال	حلال	حلال	حلال
الاسقمری	Mackerel	حلال	حلال	حلال	حلال
الاسقلبین	Sculpin	حلال	حلال	حلال	حلال
السلمون	Salmon	حلال	حلال	حلال	حلال

	المنوة	Minnow	حلال	حلال	حلال
	البلايس	plaice	حلال	حلال	حلال
	الهلبوت	Halibut	حلال	حلال	حلال
	التيمالوس	Grayling	حلال	حلال	حلال
	الرنكة	Herring	حلال	حلال	حلال
	البركودة	Barracuda	حلال	حلال	حلال
	الحفش	sturgeon	حلال	حلال	حلال
	القلقباش	Calico bass	حلال	حلال	حلال
	الفرخ المخطط	Striped bass	حلال	حلال	حلال
	الغرمبس	Gtampus	حلال	حلال	حلال
	الرض	Rudd	حلال	حلال	حلال
	اللشک	Remora	حلال	حلال	حلال
	البينيت	Bonito	حلال	حلال	حلال
کوچني ماهی	تن	Tuna	حلال	حلال	حلال
	کراکی	pike	حلال	حلال	حلال
	زجر		حلال	حلال	حلال
	بوری	Mullet	حلال	حلال	حلال
	سيف	Cutlass fish	حلال	حلال	حلال
	سردين	Sardine	حلال	حلال	حلال
	اللتش	Loach	حلال	حلال	حلال
	ابو الشص	Angler fish	حلال	حلال	حلال

	ابو منقار	Gar/ Halfbeak	حلال	حلال	حلال	حلال
	القیصان	Moon fish	حلال	حلال	حلال	حلال
	سنمورة	Anchovy	حلال	حلال	حلال	حلال
			حلال	حلال	حلال	حلال
	القوبیون	Gudqeon				
	السمک الذهبی	Gold fisn				
	التروتة	Rainbow trout	حلال	حلال	حلال	حلال

(۱) دغه ماهی ته له دې امله حوت الحیض ویل کیږي چي دی غټې کبنتی په دریاب کي د تللو ځخه بندوي، نو د کبنتی خلک داسي جامه چي د حیض په وینو لړلې وي د ده طرفته ورغورځوي، نو دی ځغلي او کبنتی ته نه نژدې کیږي ګویا که حیض د ده ځخه د ځان ساتني وسله ده. نو ځکه ورته حوت الحیض ویل کیږي.

اقسام سمک د نقشي له پاره له دې د لغاتو د کتابو ځخه استفاده سوې ده:

(۱) المورد قاموس انګریزی وعربی.

(۲) المورد قاموس عربی او نګریزي.

(۳) فیروز اللغات.

(۴) المنجد فی اللغة.

(۵) القاموس الجدید اردو عربی.

(۶) انسائیکو پیډیا برطانیکا.

(۷) ورلډبک انسائیکلو پیډیا. والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالی

والبدن جعلناها لكم من شعائر الله لكم فيها خير فاذكروا اسم الله عليها صواف فإذا وجبت جنوبها فكلوا منها وأطعموا القانع والمعتر كذلك سخرناها لكم لعلكم تشكرون (۳۶) لن ينال الله لحومها ولا دماؤها ولكن يناله التقوى منكم. (سورة الحج، ۳۶، ۳۷).

باب .... دریم

أحكام الأضحية

عن زيد بن أرقم رضي الله عنه قالوا: لرسول الله صلى الله عليه وسلم : ما هذا الأضاحي؟ قال: سنة أبيكم إبراهيم عليه السلام، قالوا: ما لنا فيها من الأجر؟ قال: بكل قطرة حسنة. (بيهقى، احمد، حاكم).

لومړی فصل

د واجب او واجب د اداء کولو په اړوند احکام

له آیت کریم ﴿ وانحر ﴾ څخه د اختري د فرضیت شبه:

سوال: اختري فرض دئ که واجب، دآیت کریمه ﴿ فصل لربك وانحر ﴾ تقاضا دا ده چي اختري فرض دئ، ځکه چي ﴿ وانحر ﴾ د امر صیغه ده کوم چي د فرضیت تقاضا کوي، نو بیا ولي واجب دئ؟

الجواب: آیت کریمه که چیري قطعي الثبوت او قطعي الدلالت ؤ نو فرضیت ورڅخه ثابتیږي لکه ﴿ وأقیموا الصلاة ﴾ مګر که آیت موؤ له یعني قطعي الثبوت او ظنی الدلالت ؤ نو بیا وجوب ورڅخه ثابتیږي او آیت ﴿ فصل لربك وانحر ﴾ مؤوله دئ، ځیني خلکو له ﴿ وانحر ﴾ څخه په لمانځه کي پر سینه لاس ایښودل مراد اخیستي دئ که څه هم دا روایت صحیح نه دي دا اثر له حضرت علي ﷺ څخه مروي دي او علامه ماردیني په الجوهر النقی کي د دې روایت تضعیف کړی دئ، او له حضرت ابن عباس ﷺ څخه مروي دئ، خو د دې په سَند کي روح بن المسیب دئ، ابن حبان رحمه الله وایي، یروی الموضوعات او ساعاتی رحمه الله د مسند احمد په تبویب کي لیکي:

نسبة هذا التفسیر إلى علی ﷺ وابن عباس ﷺ لاتصح، لهذا . (الفتح الربانی).

د دې آیت کریمه پر آختري دلالت ظنی سي، نو له دې امله یې فرضیت نه ثابتیږي، په مذهب احنافو کي له مشهور او مفتی به قول سره سم اختري واجب دئ:

په نور الانوار کي یې وګورئ:

والثاني واجب وهو ما ثبت بدليل فيه شبهة كالعام المخصوص البعض والمجمل وخبر الواحد كصدقة الفطر والأضحية فإنهما ثبتا بخبر الواحود الذى فيه شبهة فيكونان واجبين.

(نور الانور، ص ۱۶۶، ط: سعید).

وفي هامش نور الأنور: فإن قلت: إن الأضحية ثابتة بالنص القرآني كما قال الله تعالىٰ: ﴿فصل لربك وانحر﴾ فيكون فرضاً؟ قلت: إن الآية مؤولة ولذا قال الشافعي: إن معنى النحر: وضع اليد فى الصلاة على المنحر، فيكون الآية ظني الدلالة وإن كانت قطعية الثبوت. (حاشية نور الانور، ص ۱۶۶، رقم الحاشية ۱۹).

په اصول الشاشي كي راځي:

والوجوب: وفى الشرع هو ما ثبت بدليل فيه شبهة كالآية المؤولة والصحيح من الآحاد. (أصول الشاشي، ص: ۳۷۹، دار الكتب العلمية، بيروت).

په فتاوى بينات كي راځي:

په قرآن كريم كي ځينى آياتونه دآختري په اړوند قطعي الدلالت خو نه دي، البته قطعي الثبوت دي له دې څخه وجوب ثابتيږي.

امام بيهقى رحمة الله عليه په سنن الكبرى كي څو اثار را نقل كړى دي وې ګورئ:

عن على رضي الله عنه ﴿فصل لربك وانحر﴾ قال: هو وضع يمينك على شمالك فى الصلاة، كذا قال شيخنا عاصم الجحدرى عن عقبة بن صهبان، عن ابن عباس رضي الله عنه في قول الله عزوجل ﴿فصل لربك وانحر﴾ قال: وضع اليمين على الشمال فى الصلاة عند النحر. (السنن الكبرىٰ: ۲/ ۲۹، ۳۱، كتاب الصلاة، بيروت).

امام جلال الدين سيوطى رحمة الله عليه په خپل تفسير الدر المنثور فى التفسير الماثور، (۸/۶۵۰-۶۵۱) كي څو مختلف اثار را نقل كړى دي هغه هم كتلاى سي:

ملا علي القاري رحمة الله عليه په شرح النقايه كي ليكي:

واعلم أن الأضحية واجبة عندنا على كل حر مسلم، مقيم، موسر، فجر يوم النحر وتلويه، وقالا: سنة فى رواية، كمالك والشافعي،... ولنا إطلاق قوله تعالى ﴿وانحر﴾ (الكوثر: ۲) أي: الأضحية، والأمر للوجوب، وقول رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان له سعة ولم يضح فلايقربن

مصلانا. (رواه احمد، وابن أبي شيبة، والحاكم وقال: صحيح الإسناد ولم يخرجاه). (شرح النقاية: ۴/ ۹۵،ط: بيروت).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولنا) قوله عز وجل ﴿ فصل لربك وانحر ﴾ قيل في التفسير : صل صلاة العيد وانحر البدن بعدها ، وقيل : صل الصبح بجمعٍ وانحر بمنًى، ومطلق الأمر للوجوب في حق العمل ومتى وجب على النبي عليه الصلاة والسلام يجب على الأمة لأنه قدوة للأمة ، فإن قيل : قد قيل في بعض وجوه التأويل لقوله عز شأنه ﴿ وانحر ﴾ أي ضع يديك على نحرك في الصلاة ، وقيل : استقبل القبلة بنحرك في الصلاة، فالجواب: أن الحمل على الأول أولى لأنه حمل اللفظ على فائدةٍ جديدةٍ ، والحمل على الثاني حمل على التكرار. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۲، سعيد، وكذا فى احكام القران للجصاص: ۳/ ۴۷۵، ط: سهيل اكيدمى). والله ﷻ اعلم.

د قرباني (اختري) د وجوب نصاب

سوال: اختري پر چا واجب دئ يعنى داختري د وجوب نصاب څو دئ؟

الجواب: د اختري د وجوب له پاره همغه نصاب دئ کوم چي د صدقه فطر (سر سايه) له پاره دئ يعنى له چا سره چي د اوسېدلو له ځای د خوړلو او څښلو د سامان د استعمال د جامو، نور د ضرورت له استعمالي شيانو سپرلي وغيره څخه پرته او اووه نيمي تولي (۸۷ گرام ۴۸ ملی گرام) سره زر يا دو پنځوس نيمي تولي (۶۱۲ گرام ۳۵ ملي گرام) سپين زر يا له دې سره برابر نوري پيسې يا يو بل سامان، مځکه، موټر موجود وي، نو پر دې زکات واجب دي او د اختري د نصاب له پاره د يوه کاله تېريدل هم ضروري دي، همدا ډول د مال يې تجارتي کېدل هم ضروري نه دي بلکي تر حوائج اصليه چي يې څه مال زيات وي هغه معتبر بلل کيږي.

نو پر دې بنياد باندي د اوسېدلو تر ځای يو زيات ځای يا د ځای له پاره پر زيات يا له ضروري سپرلی څخه زيات سپرلی دا ټوله که د تجارت له پاره وي او که نه وي ټول په نصاب کي داخليږي او د نصاب په پوره کېدو سره زکات واجبيږي.

ياده دي وي: چي ټلويزون (T_V) ډي، وي، ډي (D-V-D) او داسي نور خرافات قيمتي وي، نو دا هم په حوائج اصليه ؤ كي داخل نه دي، د دې قيمت به هم د قربانۍ په نصاب كي شمېرل كيږي، همدا ډول تر ضرورت زيات د قيمتي موبائل قيمت هم په نصاب كي شمېرل كيږي:

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

قال رسول الله ﷺ: من كان له سعة ولـم يضح فلايقربن مصلانا. (رواه احمد، رقم ۸۲۵۶، وابن ماجه، رقم ۳۱۲۳، وابن أبى شيبة، والحاكم وقال: صحيح الإسناد ولم يخرجاه:۴/ ۲۳۱،۲۳۲، قلت: اسناده حسن).

په فتاوى شامى كي راځي:

(واليسار الذي يتعلق به وجوب صدقة الفطر) قوله واليسار إلخ، بأن ملك مائتي درهم أو عرضا يساويها غير مسكنه وثياب اللبس أو متاع يحتاجه إلى أن يذبح الأضحية ... وصاحب الثياب الأربعة لو ساوى الرابع نصاباً غني وثلاثة فلا، لأن أحدها للبذلة والآخر للمهنة والثالث للجمع والوفد والأعياد... الخ. (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۳۱۲، ط: بيروت).

په فتاوى هنديه كي راځي:

وأما شرائط الوجوب منها اليسار وهوما يتعلق به وجوب صدقة الفطر دون مايتعلق به وجوب الزكاة. (الفتاوى الهندية:۵/ ۲۹۲، كتاب الاضحية).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما شرائط الوجوب.... منها الغنى لـما روي عن رسول الله ﷺ أنه قال: من وجد سعةً فليضح شرط عليه الصلاة والسلام السعة وهي الغنى ... وهو أن يكون في ملكه مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شيء تبلغ قيمته ذلك سوى مسكنه وما يتأثث به وكسوته وخادمه وفرسه وسلاحه وما لا يستغني عنه وهو نصاب صدقة الفطر ، وقد ذكرناه وما يتصل به من المسائل في صدقة الفطر. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۴،ط: سعيد).

په جدید معاملات کي شرعي احکام کي راځي:

د سرو زرو، سپينو زرو، تجارتي مال او په کور کي تر ورځني د استعمال تر شيانو زيات سامان دي قيمت ولګوي پيسې دي جمع کړي د دې پنځو مجموعه يا له دې څخه څني چي له ۸۷، ګرام ۴۷۹ ملي ګرام سرو زرو يا ۳۵ ملي ګرام ۶۱۲ ګرام سپينو زرو سره برابر سي، نو د دې پر ذمه اختري واجب دئ تر درو جوړو زياتي جامي او د راډيو او ټي وي په ډول خرافات په انساني حاجاتو کي داخل نه دي، نو ځکه د دې قيمت هم په حساب کي لګول کيږي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۳/ ۱۰۰، دارالاشاعت).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه:۱۷/ ۳۱۰،ط: جامعه فاروقيه، وفتاوی بینات:۴/ ۵۶۷، مکتبه بينات). والله ﷻ اعلم.

پر ښځه د زېوراتو له امله د اختري حکم

سوال: له يوې انجلۍ سره غوږ والي دي چي له يوې تولي سرو زرو سره برابره دي له هغې سره ۳ سو پيسې هم سته هغه غوږ والي که چيري په سپينو زرو بدلي سي او له هغو سره درې سو پيسې ګډي سي، نو نصاب يې پوره کيږي او اختري پر واجبيږي، خو د اختري له پاره به غوږ والي خرڅوي، نو پر دې اختري واجب دئ او که نه؟ او که چيري سپين زر معيار نه کړي بلکي اجزاء يې سره ګډ کړي، نو دا صحيح کيږي او که نه؟ او د اجزؤ د ګډولو مطلب څه دئ، پر دې باندي کوم فقيه فتوی ورکړې ده او که نه؟

الجواب: په عام ډول فقهاء کرام ليکي چي د فقراء د ګټي په خاطر سپين زر معيار جوړېدلای سي په دې اعتبار سره پر ذکر سوې انجلۍ اختري واجب دئ که چيري د سرو زرو له پيسو سره په يو ځای کېدو کي د سپينو زرو نصاب جوړېدئ، د احنافو مشهور مذهب همدغه دئ، البته د ځينو مفتيانو کرامو رحجان دې طرف ته دئ چي ضم بالاجزاء کېدل په کار دي کوم چي د صاحبينو مذهب دئ، چي د دې له امله پر مذکوره انجلۍ اختري نه واجبيږي.

دمفتي خالد سيف الله رحماني او مفتي غلام قادر صاحب ميلان همدې طرف ته دئ:

همدا رنګه ځينو مفتيانو کرامو سره زر معيار جوړ کړي دي مګر نن سبا د سرو زرو قيمت دومره زيات دئ چي د دې په معيار جوړلو کي ډېر مالداره خلک د زکات له ورکولو څخه خلاصيږي:

په بدائع الصنائع کي يې وګورئ:

ومنها (أي من شرائط وجوب الأضحية الغنى... وهو أن يكون في ملكه مائتا درهم أو عشرون دينارًا أو شيء تبلغ قيمته ذلك سوى مسكنه وما يتأثث به وكسوته وخادمه وفرسه وسلاحه وما لا يستغني عنه وهو نصاب صدقة الفطر ... وجميع ما ذكر من الشروط يستوى فيها الرجل والمرأة لأن الدلائل لا تفصل بينهما. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۴،ط: سعيد).

دسرو زرو دمعيار جوړولو دلائل وګورئ:

والذي يظهر لي أن تقدير النصاب بالذهب أولى من تقديره بالفضة مع ارتفاع تكاليف المعيشة ونزول قيمة الفضة نزولاً ملحوظاً. (الفقه الحنفى وادلته: ۱/ ۳۵۲).

په فقه الزكات كي راځي:

فبا لمقارنة بين الأنصبة المذكورة في أموال الزكاة كخمس من الإبل وأربعين من الغنم أو خمسة أو سق من الزبيب أو التمر نجد أن الذى يقاربها في عصرنا هو نصاب الذهب لا نصاب الفضة. (فقه الزكاة: ۱/ ۲۶۴).

دنور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (فتاوى دار العلوم زكريا، رشيديه).

دصاحبينو مذهب ضم بالاجزاء مطلب:

د امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په آند كه چيري د دې اجزاء نصاب ته ورسيږي، نو زكات پر واجبيږي د قيمت د يو ځاى كولو اعتبار يې نه سته مثلاً كه چيري له يو چا سره سل درهم سپين زر او لس مثقاله سره زر وي، نو دواړه د اجزاى په اعتبار سره نصاب ته رسيږي، نو ځكه پر دې سړي زكات واجب دئ مګر كه چيري سل درهم سپين زر او پنځه مثقاله سره زر وي، نو زكات نه پر واجبيږي، د نصاب د نه پور كېدو له امله.

په قدوري كي يې وګورئ:

وتضم قيمة العروض إلى الذهب والفضة، وكذلك يضم الذهب إلى الفضة بالقيمة حتى يتم النصاب عند أبى حنيفة وقال أبو يوسف ومحمد: لايضم الذهب إلى الفضة بالقيمة ويضم بالأجزاء. مختصر القدورى، ص ۱۲۴، باب زكاة العروض، مؤسسة الريان).

په المحيط البرهاني كي راځي:

قال أبو حنيفة رحمه الله آخراً: يضم باعتبار القيمة، وقال أبو يوسف ومحمد: يضم باعتبار الأجزاء، يعني به الوزن... وصورة الكتاب بالأجزاء والوزن أن يكون النصف من هذا وزناً والنصف من آخر وزناً، بأن كانت الدراهم مائة والدنانير عشرة أو كان الربع من أحدهما وزناً، وثلاثة الأرباع من آخر وزناً بأن كانت الدراهم خمسين والدنانير خمسة عشر. (المحيط البرهانى: ۲/ ۳۸۴، الفصل الثالث فى بيان مال الزكاة، مكتبة رشيدية).

پر ضم بالاجزاء غالباً چا فتوى نه ده وركړې، البته د حالاتو له امله مولانا خالد سيف الله صاحب او مولانا مفتي غلام قادر صاحب خپل رحجان د صاحبينو طرف ته ښكاره كړي دي.

په جديد فقهي مسائل كي يې وګورئ:

كه چيري د سرو او سپينو زرو په منځ كي هغه تناسب واى كوم چي په لوړى صدى كي ؤ نو د نصاب د ضم مسئله به له انصاف سره برابره وه لكه څنګه چي د احنافو مذهب دئ چي په دې كي د فقيرانو ګټه هم ده، مګر په موجوده زمانه كي د دوى دواړو په منځ كي ډېر فرق پيدا سوى دئ، ضرورت ډېر سته چي پر دې جزئيه د دوهم ځل له پاره نظر وسي او د جمهورو نظريه غوره سي يا لږ تر لږه د صاحبينو نظريه غوره سي چي د سرو او سپينو زرو د نصاب كله والى د اجزاؤ په لحاظ وسي نه د قيمت په لحاظ سره.

په القول الرجح كي راځي:

قال أستاذنا المفتى غلام قادر النعمانى: أفتى الفقهاء على قول أبي حنيفة لأن قوله أحوط والفتوى على قوله موافق لأصول الإفتاء لأن الأصل فى العبادات الفتوى على قول أبي حنيفة لكن قولهما أو فق للقياس لأن على قول أبي حنيفة يصير نصاب الذهب تابعاً لقيمة الفضة مع

أن القيمة تابع للذهب والفضة في تعيين النصاب وأيضاً في صورة الذهب والعروض يكون النصاب تابعاً للمعدوم وهو الفضة وأما على قولهما فيكون القيمة تابعاً للذهب والفضة ولايكون الموجود تابعاً للمعدوم وأن قولهما أرفق بالناس فينبغي أن يفتى بقولهما في هذا الزمان وخصوصاً في مسئلة الأضحية ترفقاً بالنساء لأن أكثر النساء يوجد معهن شيء من الذهب وهو يساوي نصاب الفضة باعتبار القيمة وهن لايستعدن لبيع الذهب والشراء الأضحية وإذا كان الانضمام بالأجزاء فحينئذٍ يكون الحكم أسهل عليهن. (القول الراجح:۱/ ۱۷۴).

په الايضاح فی شرح الاصلاح کي راځي:

ويضم الذهب إلى الفضة، والعروض إليهما بالقيمة، هذا عنده، وأما عندهما فيضم الذهب إلى الفضة بالأجزاء، وهو رواية عنه (عن أبي حنيفة). (الايضاح فی شرح الاصلاح فی الفقه الحنفی: ۱/ ۱۹۵، ط: بيروت).

د ابن کمال باشا له مذکوره عبارت څخه معلوميږي چي د امام صاحب رحمه الله هم يو قول د صاحبينو په ډول دئ.

لنډه دا چي له مشهور مذهب سره سم پر مذکور انجلۍ اختري واجب دئ، که چيري پيسې د سرو زرو له قيمت سره ګډې او د سپينو زرو قيمت ته رسيدلي مګر که چيري ضم بالاجزاء والاقوال غوره کړل سي، نو اختري نه پر واجبيږي، نو ځکه د موجوده زمانې مفتيانو کرامو ته پر دې مسئله غور او فکر کول په کار دي. والله ﷻ اعلم.

پر نابالغ ماشوم د اختري د وجوب حکم

سوال: که چيري يو نابالغ ماشوم صاحب نصاب وي، نو پر ده اختري واجب دئ او که نه؟ همدا ډول د هغه له طرفه د ده پر پلار اختري واجب دئ او که نه؟

الجواب: له راجح او مفتی به قول سره سم پر نابالغ ماشوم اختري واجب نه دئ، همدارنګه د هغه له طرفه د هغه پر پلار او پر وصي وغيره هم واجب نه دئ. البته علامه شامي رحمه الله له قاضي خان څخه د استحباب قول را نقل کړی دئ:

په الدر المختار کي يې وګورئ:

فتجب التضحية عن نفسه، لا عن طفله على الظاهر. وفي الشامية: قوله على الظاهر، قال في الخانية: في ظاهر الرواية أنه يستحب ولايجب، بخلاف صدقة الفطر... والفتوى على ظاهر الرواية. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۱۵، ۳۱۶، كتاب الاضحية، ط: بيروت).

وفي الهداية: وروي عن أبي حنيفة: أنه لا يجب عن ولده، وقيل: لايجوز التضحية من مال الصغير في قولهم. (الهداية: ۴/ ۳۷۸).

وفي شرح النقاية للملا على القارى: ولايذبح عن طفله الفقير في ظاهر الرواية، ولايجب عن طفله الغني من ماله في أصح ما يفتى به كما فى شرح الوافي. (فتح باب العناية: ۴/ ۹۶، ط: بيروت).

وفى الفقه الحنفى وأدلته: قال: ولوكان للصبي مال، فالأصح أنها لاتجب فى ماله بالإجماع. (الفقه الحنفى وادلته: ۳/ ۲۱۴، ط: بيروت) (وكذا فى الفتاوى الولوالجية: ۳/ ۸۲، ط: بيروت، وفتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۴۵، ومجمع الانهر: ۴/ ۱۶۷).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د نابالغ ماشوم له طرفه مفتی به قول دا دئ چي قرباني واجب نه ده. (فتاوى محموديه: ۱۷/ ۳۱۱، جامعه فاروقيه).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۹۸، وفتاوى بينات: ۴/ ۵۶۶، ط: مكتبه بينات). والله تعالى اعلم.

د زوج له طرفه د هغه له اجازې پرته د اختري حکم

سوال: يوې ښځې د خپل خاوند له طرفه د هغه له اجازې پرته واجب اختري وکړي. نو واجب اختري اداء سو او که نه؟ همدا ډول د پاته شرکاء قربانۍ صحيح ده او که نه؟

الجواب: د يو چا له طرف څخه د اختري کولو له پاره افضل او ښه دا ده چي په ښکاره اجازه سره اختري وسي، البته اجازه سابقه او عرفيه هم صحيح ده، نو ځکه په دغه صورت کي د عرفۍ اجازې له کبله د خاوند له طرف څخه سوې اختري صحيح دئ:

په فتاوی شامي کي يې وګورئ:

ولو ضحى عن أولاده الكبار وزوجته لا يجوز إلا بإذنهم .وعن الثاني أنه يجوز استحسانًا بلا إذنهم بزازية. قال في الذخيرة : ولعله ذهب إلى أن العادة إذا جرت من الأب في كل سنةٍ صار كالإذن منهم ، فإن كان على هذا الوجه فما استحسنه أبو يوسف مستحسن. (فتاوى الشامی: ۶/ ۳۱۵، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وليس على الرجل أن يضحى عن أولاده الكبار وامرأته إلا بإذنهم وعن أبي يوسف أنه يجوز بغير أمرهم استحسانا. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۴۵، كتاب الاضحية). (وكذا فی الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۲۹۵).

وفی المحيط البرهانی: والإذن دلالة كالإذن صريحاً. (المحيط البرهانی: ۶/ ۴۸۳، فی التضحية عن الغير، ط: مكتبه رشيديه).

په امداد الاحکام کي راځي:

له امام ابو يوسف رحمه الله څخه اسحساناً مروي دي چي د قربانو له طرفه څخه له امر پرته هم اختري روا دئ، ځکه په مذکوره صورت کي د اکثرو ائمه کرامو پر قول په فتوی ورکولو کي ډېر حرج دي چي له اکا سره د نورو اختري هم باطلېږي، نو ځکه د امام ابو يوسف رحمه الله په قول فتوی ورکول کېږي چي سوې قربانۍ د ټولو له طرف څخه اداء سوې ده، خو په اينده کي دي داسي نه کوي

بلكي اكا ته دا ضحيه تر وخت مخكي اجازه وركول يا هغوى ته اجازه اخيستل په كار ده. (امداد الاحكام: ۴/ ۲۳۲). والله ﷻ اعلم.

د كورنۍ پر هر غړي د اختري د وجوب حكم

سوال: اختري د كورنۍ پر هر مالك نصاب واجب دئ او كه يوازي د كورنۍ پر مشر، كه چيري پر ټولو واجب وي، نو د يوه په اختري سره د ټولو غاړي خلاصيږي او كه نه؟

الجواب: پر هر ازاد كورنۍ مسلمان چي د نصاب مالك وي اختري واجب دئ كه په كور كي هر څو نفره وي، كه چيري ټول صاحب نصاب وي، نو د سرسايې په ډول پر ټولو اختري واجب دئ، د يوه نفر په اختري سره د ټولو غاړې نه خلاصيږي، البته كه چيري ټول زامن خپله ګټه پلار ته وركوي او جلا جلا يو هم صاحب نصاب نه وي، يوازي پلار صاحب نصاب وي، نو يوازي پر پلار اختري كول واجب دئ:

په حديث شريف كي يې وګورئ:

عن أبي هريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ قال: من كان له سعة ولـم يضح فلايقربن مصلانا.

(رواه وابن ماجه).

د هدايې مصنف رحمه الله وايې:

الأضحية واجبة على حرمسلم مقيم موسر في يوم الأضحى عن نفسه. (الهداية: ۴/ ۴۴۳).

(وكذا في البحر الرائق: ۸/ ۱۷۳، ط: كوئته، والدر المختار مع الشامي: ۶/ ۳۱۵، ط: سعيد).

په فتاوى رحميه كي راځي:

د كورنۍ پر هر صاحب نصاب اختري واجب دئ د يوه اختري د ټولو له طرف څخه كافي نه بلل كيږي كه چيري د بزې اختري ګران تماميږي، نو د لوى حيوان قرباني دي وكړي. (فتاوى رحيميه: ۵/ ۴۱۵، مكتبة الاحسان، ديوبند).

په آپ كي مسائل اوران كا حل كي راځي:

كه چير پلار، زامن، لوڼي ټول مالدار او صاحب د نصاب وي، نو د هر يوه پر ذمه جلا جلا اختري واجب دي ځكه چي پر هر عاقل، بالغ نر او ښځه چي صاحب نصاب وي اختري واجب دئ كه واده والا وي او كه غير واده والا وي. (آپ كى مسائل اور ان كا حل: ۴/ ۱۷۷).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۳۱۲، ط: جامعه فاروقیه. واسلامی فقه: ۱/ ۵۲۱). والله ﷻ اعلم.

له شرکاء څخه یوه د قضاء نیت وکړ، نو د قربانۍ حکم

سوال: د قربانۍ په حیوان کې یوه سړي د موجوده کال نیت وکړ او نورو د تېر سوې کال د اختري نیت وکړ، نو اختریان وسوه او که نه؟ د دواړو وسوه او که د یوه دا هم سوي نه دئ یا د یوه هغه وسوا و د بل دا نه دئ سوي؟

الجواب: په دې صورت کې د موجوده کال د اختري کونکی اختري صحیح دئ او د تېر سوې کال نیت کونکی نفلي اختري اداء سو، قضائې اداء سوي نه دئ، الهذا د دې له پاره د بزې قېمت خیراتول واجب دي او د اختري ټولي غوښې خیراتول هم واجب دي:

په فتاوی قاضي خان کې یې وګورئ:

سبعة اشتروا بقرة للأضحية فنوى أحدهم الأضحية عن نفسه لهذه السنة ونوى أصحابه الأضحية عن السنة الماضية قالوا: تجوز الأضحية عن هذا الواحد ونية أصحابه للسنة الماضية باطلة وصاروا متطوعين و وجبت الصدقة عليهم بلحمها وعلى الواحد أيضاً لأن نصيبه شائع. (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندية: ۳/ ۳۴۹، فصل فيما يجوز من الضحايا ومالاتجوز).

ونقل العلامة الشامی عن الخانية فی رد المحتار وزاد عليه بقوله: وظاهره عدم جواز الأكل منها تأمل. (رد المحتار: ۶/ ۳۲۶، ط: سعید).

په عالمګیري کې راځي:

وإن نوى بعض الشركاء التطوع وبعضهم يريد الأضحية للعام الذي صار دينًا عليه وبعضهم الأضحية الواجبة عن عامه ذلك جاز الكل ، وتكون عن الواجب عمن نوى الواجب عن عامه ذلك ، وتكون تطوعًا عمن نوى القضاء عن العام الماضي ، ولا تكون عن قضائه بل

يتصدق بقيمة شاةٍ وسطٍ لـما مضى ، كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۵، كتاب الاضحية، الباب الثامن).

په امداد الاحکام کي راځي:

د اضحيه له ورځو وروسته د پسه قيمت خيراتول واجب دي، په موجوده کال کي په برخه اخيستلو يا د پسه په حلالولو سره د تېر کال قضاء نه راګرځي.

ولو يفعل شيئاً من ذلک حتى جاء أيام النحر من السنة القابلة وضحى بـها عن العام الأول لا يـجوز لأن إراقة الدم عرف قربة أداء لاقضاء. (امداد الاحکام: ۴/ ۲۱۴، مکتبه دار العلوم کراچی).

په فتاوى رحمييه کي راځي:

د شريکانو قرباني اداء کيږي او ستا د دې کال قرباني هم اداء کيږي، د تېر سوي کال قضاء نه اداء کيږي اختري يې نفل ګرځي، د دې په عوض کي د يو پسه قيمت خيراتول ضروري دي. (فتاوى رحيميه: ۵/ ۴۱۴، ط: ديوبند). والله ﷻ اعلم.

د مالکانو له خوا له تعين پرته د اختري حکم

سوال: که چيري يو اداره يا يو بانک د سلو کسانو لخوا سل حيوان قرباني کوي، خو دا تعين يې نه کوي چي دا حيوان د زيد دي او دا د عمرو دئ، نو اختريان يې صحيح کيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي اداره يا بانک د مؤکل په حيثيت سره پسونه رانيسي او بيا يې د مالکانو له خوا ذبح کوي او د وکيل د رانيولو په وخت کي د مؤکل له خوا د تعين ضرورت نه سته، همدا رنګه د قرباني کولو په وخت کي هم د هر سړي جلا جلا نوم اخيستل يا د هر يوه له پاره حيوان متعين کول ضروري نه دي، د ټولو له خوا څخه قرباني صحيح ده.

د وکيل د مؤکل له طرف څخه د رانيولو په وخت کي تعين ضروري نه دئ: د دې مسئلې دلائل وګورئ:

قال في الـهداية: العقد الذي يعقده الو كلاء على ضربين كل عقد يضيفه الو كيل إلى نفسه كالبيع والإجارة... (الهداية: ۳/ ۱۷۹).

قال العلامة العيني فى «البناية»: لأن الوكيل يستغنى عن إضافة العقد إلى الموكل. (البناية شرح الهداية: ۷/ ۲۷۷، ط: رشيدية).

وفي المجلة: لا يشترط إضافة العقد إلى الموكل فى البيع والشراء والإجارة. (المجلة، المادة: ۱۴۶۱).

دامر ثاني دلائل وګورئ:

رجل ضحى عن نفسه وعن أربعة من عياله خمس شياهٍ ولم يعين كل واحد عن صاحبها عن أبي يوسف أنه يجوز عن الكل استحساناً. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۵۱).

په عالمګيري کي راځي:

وفي الأضاحي للزعفراني اشترى سبعة نفرٍ سبع شياهٍ بينهم ولم يسم لكل واحدٍ منهم شاة بعينها فضحوا بها كذلك فالقياس أن لا يجوز ، وفي الاستحسان يجوز ، فقوله اشترى سبعة نفرٍ سبع شياهٍ بينهم يحتمل شراء كل شاةٍ بينهم ويحتمل شراء شياهٍ على أن يكون لكل واحدٍ شاةً، ولكن لا بعينها ، فإن كان المراد هو الثاني، فما ذكر في الجواب باتفاق الروايات ؛ لأن كل واحدٍ منهم يصير مضحيًا شاةً كاملةً ، وإن كان المراد هو الأول فما ذكر من الجواب على إحدى الروايتين. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۶، والمحيط البرهاني: ۶/ ۴۸۷، ط: مكتبة رشيدية).

په امداد الفتاوی کي حضرت تهانوی رحمه الله د عالمګيري د عبارت را نقل کولو وروسته ليکي:

له دي شخه معلومه سوه چي برخه نه مقرره وي، په دې صورت کي يې اختري صحيح دئ او بنه خبره دا ده چي پر هر حيوان دي د يو معلوم سړی نوم ولګوي چي دا د فلاني له طرفه دئ او هغه د فلاني له طرفه دئ. (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۶۲).

په کفايت المفتي کي راځي:

د اختري د ذبح کولو په وخت کي د شريکانو د نوم اخيستلو هيڅ ضرورت نه سته، هو ذبح کونکی دي په نيت کي د هغو ټولو له خوا شخه ذبح کولو په خيال کي لري. (کفايت المفتی: ۸/ ۱۸۷، دار الاشاعت).

په فتاوی خلیلیه کې راځي:

کوم څوک چې د خپلو مړو له خوا ذبح کوي او د خپل ځان له خوا یې هم کوي او هغه سړی د یوه غوایې او دوو پسو اختري له څه تعین پرته وکړي، نو اختري یې صحیح دئ. (فتاوی خلیلیه. ص ۲۹۶، مکتبة الشیخ). والله ﷻ اعلم.

د شریکانو له تعین پرته د درو غوایانو د اختري حکم

سوال: یوویشت نفره سره ګډ سو او درې غوایان یې قرباني کړل، خو دایې معلومه نه کړه چې په کوم غوایې کې به کوم اووه نفر ګډ وي، نو اختریان یې اداء سوه او که نه؟

الجواب: د اختري کولو نیت کافي دئ، د هر یوه له پاره د برخې معلومول ضروري نه دي، پر دې بناء په دې صورت کې د ټولو له خوا اختریان اداء سوله. البته افضل او ښه کار دا دی چې په راتلونکې کې په هر لوی حیوان کې چې کوم اووه کسان ګډ وي، د هغوی تعین وسي.

په امداد الاحکام کې راځي:

سوالٔ: که چیرې څلورلس کسان په دوو غوایانو کې شریک سي اختریان وکړي چې د هر یوه برخه په یو خاص غوایې کې متعین نه سي او دا نه وویل سي، چې دا غویې د اوو کسانو دئ او هغه دوهم غویې د هغه نورو اوو کسانو دئ بلکې دا وویل چې دغه دوه غوایې په ګډه د څورلس کسانو له خوا څخه دي، نو دا ډول اختریان روا دي او که نه؟ أمر حضرة الشیخ دام مجده وعلاه بتحقیقه.

الجواب: دا صورت خو قیاسانه دئ روا هو، استحساناً روا دئ.

ولو اشترک سبعة في سبع شیاهٍ لایجزیهم قیاساً لأن کل شاة بینهم علی سبعة أسهم وفی الاستحسان یجزیهم وکذا اثنان في شاتین. (رد المحتار: ۵/ ۳۰۸). (امداد الاحکام: ۴/ ۲۷۳).

نور زیات دلائل تر مخکنی مسئله لاندې ذکر سوه هغه هم کتلای سي. والله ﷻ اعلم.

په خطاء سره د یوه د بل د اختري د ذبح کولو حکم

سوال: موسی او عیسی دوی دواړو پسو رانیول او دواړو د خپلو خپلو ځانو له پاره متعین کړ بیا په خطاء سره موسی د عیسی متعین سوې پسه ذبح کړه او عیسی د موسی پسه ذبح کړه، نو اوس پوښتنه دا ده چې د دواړو اختریان صحیح دي او که نه؟ یا یې دوهم ځل کول ضروري دي؟

الجواب: هر کله چي دواړو د خپلو ځانو له پاره دوو پسو رانیولي او د اخترې له پاره یې متعین کړلي، نو د دواړو له خوا اختریان اداء سوله او هر یو د بل له پاره معاون بلل کیږي:

په المحیط البرهاني کي یې وګورئ:

رجل ذبح أضحية غيره بغير أمره صريحاً، ففي القياس هو ضامن لـها، ولا يـجزىء الآمر عن أضحيته. وفي الاستحسان لا ضمـان، ويـجزىء عن أضحية الأمر، ووجه ذلك: أن الـمالك لـما عينها بجهة الذبح صار مستعيناً بكل أحد في التضحية بـها في أيام الأضحية دلالة؛ لأن ذلك قد يفوته بمضي الوقت، واعتراض عارض يمنعه عن إقامتها، والإذن دلالة كالإذن صريحاً.

(المحيط البرهاني: ۶/ ۴۸۳، فصل في التضحبة عن الغير، مكتبة رشيدية).

په الموسوعة الفقهية الکویتیة کي راځي:

إذا غلط رجلان فذبح كل واحدٍ منهمـا أضحية الآخر أجزأ عنهمـا ولا ضمان عليهمـا عند الـحنفية والـحنابلة ، قال الـحنفية : وهذا استحسان ، وأصل هذا أن من ذبح أضحية غيره بغير إذنه لا يـحل له ذلك وهو ضامن لقيمتها . ولا يـجزئه عن الأضحية في القياس وهو قول زفر . وفي الاستحسان ، يـجوز ولا ضمـان على الذابح ، ووجهه أنـها تعينت للذبح لتعينها للأضحية ، حتى وجب عليه أن يضحي بـها بعينها في أيام النحر ، ويكره أن يبدل بـها غيرها ، فصار الـمالك مستعينًا بكل من يكون أهلاً للذبح آذنًا له دلالةً ... (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۱۹/ ۱۵۵، ۱۵۶).

(وكذا في بدائع الصنائع: ۵/ ۶۷، والخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۱۶، ورد المحتار: ۶/ ۳۲۹، سعيد، والهداية: ۴/ ۴۵۱، وتبيين الحقائق: ۶/ ۹، ملتان).

وفي إذا ذبح أضحية غيره بغير إذنه؛ إن ذبح في غير أيام الأضحية لا يـجوز، ويضمن الذابح، وإن ذبح في أيام الأضحية يـجوز، ولا يضمن؛ لأن الإذن ثابت دلالة في هذه الـمسائل، والدلائل

يجب اعتبارها ما لم يوجد الصريح بخلافه. (المحيط البرهاني: ۶/ ۲۴۷، كتاب الغصب، الفصل الثالث، مكتبة رشيدية).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (الفتاوى الولوالجية: ۳/ ۷۴، ومجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر: ۲/ ۵۲۲، وفتاوی محمودیه: ۱۷/ ۴۹۹، جامعه فاروقیه).

الاستحسان: هو ترک القياس والأخذ بما هو أوفق للناس. (التعريفات الفقهية، ص ۱۷۱). والله ﷻ اعلم.

د یوه شریک د غوښې په نیت کولو سره د قربانۍ حکم

سوال: که چیرې له شریکانو څخه یو د غوښې نیت وکړي، نو د هغه د ملګرو اختریان اداء کیږي او که نه؟ حال دا چې د اختري غوښه خوړل شرعاً مندوب او مرغوب ده، ځکه د اختري چاغښت هم مطلوب دئ، نو بیا د اختري د غوښې نیت کول ولې قبیح دئ او ډېر خلک د غوښې نیت هم کوي؟

الجواب: د فقه په کتابو کې دغه عبارت راځي، چې کله له شرکاء څخه یو د غوښې نیت وکړي اختري نه اداء کیږي مګر د دې عبارت مطلب دا دئ چې هغه سړی یوازې د غوښې د لاس ته راوړلو نیت وکړي دا واجب یا عبادت نه بولي، که هغه سړی دا د ثواب کار بولی د غوښې د ښه والي نیت وکړي، نو بیا روا دئ او شرعاً هم مطلوب دئ که داسې نه وي، نو بیا د حدیثو او فقهي په کتابو کې د چاغ حیوان بهتر او ښه بلل بې فائدې دي:

په ترمذی شریف کې راځي:

عن أبي سعيد رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يضحي بكبشن أقرن فحيل ينظر في سواد ويأكل في سواد ويمشي في سواد. (رواه الترمذى، رقم ۱۴۹۶، وابو داود، رقم: ۲۷۹۸، والنسائى، رقم: ۴۳۹۰، وابن ماجه، رقم: ۳۱۲۸، وصحيح ابن حبان، رقم: ۵۹۰۲، قال الشيخ شعيب: اسناده صحيح على شرط مسلم).

ژباړه: حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ د داسې ښکرور چاغ پسه اختري کاوه چې په تور والی کې به یې کتل یعنی د سترګو شاو خوا به یې تور ؤ په تور والي کې به

يې خوړل يعنى خوله به يې توره ؤ او په تور والي کي به يې تک کاوه يعنى د هغه پښې به هم توري وي.

د لوړ حديث په شرح کي علماء کرام ليکي چي د داسي حيوان اختري کول ښه او مستحب دي چي ډېر چاغ او تيار وي، د يوې چاغي او تازه بزې اختري کول تر دوو ډنګرو ښه دئ. همدا رنګه د ډېري غوښې والا بزه تر لږ غوښې والا افضل او ښه ده په دې شرط سره چي غوښه به يې خرابه نه وي.

وګورئ ملا علي قاري رحمه الله په مرقات شرح مشکوة کي ليکي:

قال العلماء يستحب للتضحية الأسمن الأكحل حتى أن التضحية بشاة سمينة أفضل من شاتين وكثرة اللحم أفضل من كثرة الشحم إلا أن يكون اللحم رديئاً. (مرقاة المفاتيح: ٣/ ٢١١، ط: ملتان).

وفي بدائع الصنائع: وأما الذى يرجع إلى الأضحية فالمستحب أن يكون اسمنها وأحسنها وأعظمها لأنها مطية الآخرة. (بدائع الصنائع: ٥/ ٨٠، سعيد).

وفي رد المحتار: قد علم أن الشرط قصد القربة من الكل، وشمل ما لو كانت القربة واجبة على الكل أو البعض اتفقت جهاتها أو ...لأن المقصود من الكل القربة، وكذا لو أراد بعضهم العقيقة عن ولد قد ولد له من قبل لأن ذلك جهة التقرب بالشكر على نعمة الولد ذكره محمد ولم يذكر الوليمة . وينبغي أن تجوز لأنها تقام شكرا لله تعالى على نعمة النكاح ووردت بها السنة، فإذا قصد بها الشكر أو إقامة السنة فقد أراد القربة ... وقد ذكر في غرر الأفكار : أن العقيقة مباحة على ما في جامع المحبوبي أو تطوع على ما في شرح الطحاوي، وما مر يؤيد أنها تطوع، على أنه وإن قلنا إنها مباحة لكن بقصد الشكر تصير قربة، فإن النية تصير العادات عبادات والمباحات طاعات . (رد المحتار: ٦/ ٣٢٦، سعيد).

يادونه: ښکاره دي وي چي د احنافو په مذهب کي له مشهور قول سره سم عقيقه مستحب ده.

والله ﷻ اعلم.

د قربانۍ د حیوان دبدلولو حکم

سوال: یو سړی داختري له پاره یو حیوان رانیوي په دې کښې پنځه نفره ګډ ؤ بیا يې هغه خرڅ کړ او بل حیوان يې په لږ قېمت رانیوي، اوس پوښتنه دا ده چې کوم تفاوت د دواړو په منځ کې دئ د هغه خیراتول واجب دي او که نه؟ همدا رنګه د قربانۍ د حیوان بدلولو څه حکم دئ؟

الجواب: لومړی په دې خبره ځان پوهول په کار دي چې له عذر شرعي پرته د قربانۍ د حیوان بدلول کوم چې په ایام نحر کې رانېول سوي وي، د فقیر له پاره مطلقاً ناروا دي، پر ده لازمه ده چې دغه رانېول سوي اضحیه ذبح کړي، البته دغني د استبدال په اړوند د فقهاء کرامو اقوال مختلف دي اصح او مفتی به قول دا دئ چې دغني له پاره هم د قربانۍ د حیوان تبدیل کول مکروه دي، له دې تېرلو سره که غني حیوان بدل کړي وي، نو که چیري دوهم حیوان له اول حیوان سره په قېمت کې مساوي وي یا تر هغه زیات وي په دواړو صورتو کې پر غني هیڅ شی نه لازمیږي، هو: که دوهم حیوان له اول حیوان څخه په قېمت کې کم وي، نو چې کوم تفاوت يې په منځ کې دئ د هغه خیراتول واجب دي او په خیرات کې د ادا سوو پیسو اعتبار نه سته بلکې د بازاري نرخ اعتبار دئ:

په کفایه شرح الهدایه کې يې وګوريځ:

قوله حتى وجب عليه أن يضحى بها بعينها في أيام النحر، أى هذا في نذر الغنى وشراء الفقير. قوله: ويكره أن يبدل بها غيرها، أى إذا كان غنياً. (الكفاية على هامش فتح القدير: ۸/ ۴۳۸، مكتبة رشيدية).

په ردالمحتار کې راځي:

انها تعينت للذبح لتعينها للأضحية، حتى وجب عليه أن يضحي بها في أيام النحر أي لو كان المضحي فقيرا، ويكره أن يبدل بها غيرها أي إذا كان غنيا، (نهاية).... أن المشتراة للأضحية متعينة للقربة إلى أن يقام غيرها مقامها فلا يحل له (أى للفقير) الانتفاع بها ما دامت متعينة، ولهذا لا يحل له لحمها إذا ذبحها قبل وقتها.... ويكره أن يبدل بها غيرها فيفيد التعين أيضاً. (فتاوى الشامى: ۶ / ۳۲۹، سعيد).

په اعلاء السنن کې راځي:

قلت: ولنا حديث عروة البارقي: أرسله النبي ﷺ ليشتري له شاة للأضحية بدينار فاشترى به شاتين، والحديث مشهور... ووقع مثله لحكيم بن حزام، وفيه أنه صلى الله عليه وسلم ضحى بالشاة،... وأنها تتعين بالشراء، وإلا لم يأمر بالتصدق بالدينار إلا أنها تتعين في حق المعسر حتى لايجوز له إبدالها، ولو هلكت سقط عنه الوجوب وتتعين في حق الموسر حيث يكره له إبدالها، والانتفاع بصوفها ولبنها، ولو أبدلها بخير منها أو مثلها جاز، ولو هلكت لم يسقط عنه الوجوب. (اعلاء السنن: ١٧/ ٢٨١، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية).

په بدائع الصنائع كي رائحي:

والصحيح أنها تتعين من الموسر أيضًا بلا خلافٍ بين أصحابنا ...أن المشتراة للأضحية متعينة للقربة إلى أن يقام غيرها مقامها... وإن اشترى دونها فعليه أن يتصدق بفضل ما بين القيمتين، ولاينظر إلى الثمن وإنما ينظر إلى القيمة. (بدائع الصنائع: ٥ / ٦٨، ٧٨، سعيد). (وكذا في خلاصة الفتاوى: ٤/ ٣١٩، ٣٢٠، والفتاوى الهندية: ٥/ ٢٩٤).

په فتاوى بينات كي رائحي:

كه يو حيوان د اختري له پاره رانيول سو او د هغه په بدله كي بل حيوان وركول وغواړي، نو دوهم حيوان دي د اول تر قيمت كم نه وركوي، كه چيري دوهم حيوان تر اول په كم قيمت رانيسي شومره فرق چي د اول او دوهم حيوان په منځ كي دئ هغه دي خيرات كړي.

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (المبسوط للامام السرخسي: ١٢/ ١٣، ادارة القرآن، والبحر الرائق: ٨/ ١٧٩، كوئته، وخلاصة الفتاوى: ٤/ ٣١٩، والفتاوى الهندية: ٥/ ٢٩٤، والفتاوى الخانية: ٣/ ٣٤٦، وتبيين الحقائق: ٦/ ٩، ط: ملتان، والهداية: ٤/ ٤٥٢، والموسوعة الفقهية الكويتية: ١٩/ ١٥٦، واحسن الفتاوى: ٧/ ٤٨٨، وفتاوى رحيميه: ٥/ ٤١٦، ط: ديوبند). والله ﷻ اعلم.

د فقیر د قربانۍ د حیوان بدلولو حکم

سوال: یو فقیر د ذوالحجې په لومړی تاریخ د قربانۍ حیوان رانیوي له دې څخه وروسته د څه ضرورت په خاطر د دې حیوان خرڅول غواړي، آیا دا حیوان خرڅولای سي او که نه؟ او د رانیول له امله پر ده قرباني لازمه ده او که نه؟

الجواب: فقیر که چیري تر ایام نحر مخکي د قربانۍ حیوان رانیولي وي د بدلولو اجازه ورته سته مګر که هغه په ایام نحر کي رانیولي وي بیا یې د بدلولو اجازه نه سته او نه یې په یو بل کار کي استعمالای سي، هو که واقعي څه سخت ضرورت وي، نو بیا ایام نحر کي رانیول سوي حیوان تبدیل کولای سي:

په شرح عنایه کي یې وګورئ:

قوله حتى وجب عليه أن يضحى بها بعينها في أيام النحر، أى فيما إذا كان المضحى فقيراً. (شرح العناية على هامش فتح القدير: ۸/ ۴۳۸، مكتبة رشيدية).

وفي الكفاية فى شرح الهداية: قوله حتى وجب عليه أن يضحى بها بعينها في أيام النحر، هذا في نذر الغنى وشراء الفقير. (الكفاية على هامش فتح القدير: ۸/ ۴۳۸، مكتبة رشيدية).

په الدر المختار کي راځي:

... وفقير شراها لها لوجوبها عليه بذلك حتى يمتنع عليه بيعها. وفى رد المحتار: قوله لوجوبها عليه بذلك، أي بالشراء وهذا ظاهر الرواية لأن شراءه لها يجري مجرى الإيجاب وهو النذر بالتضحية عرفا كما في البدائع . ووقع في التاترخانية التعبير بقوله شراها لها أيام النحر، وظاهره أنه لو شراها لها قبلها لا تجب ولم أره صريحا فليراجع. (رد المحتار: ۶/ ۳۲۱، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: قوله وهذا ظاهر الرواية، وفى خزانة الأكمل: أنه المختار، وعند الجمهور لابد مع النية أن يقول بلسانه وأضحى بها. (التحرير المختار على رد المحتار: ۶/ ۳۰۴، سعيد).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفي العتابية: المختار أن الفقيرلو اشتراها بنية التضحية في أيام النحر تصير التضحية واجبة في حقه وإن لم يقل بلسانه شيئاً في جواب ظاهر الرواية هذا اختيار الصدر الشهيد وعليه الفتوى.

(الفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۴۱۱). (وكذا في المحيط البرهاني: ۶/ ۴۷۲، مكتبة رشيدية).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

او که چیري فقیر په ایام نحر کي د قربانۍ په نیت سره یو حیوان رانیسي، نو هغه د قربانۍ له پاره متعین ګرځوي مګر که یې په ایام نحر کي نه وي رانیولي بیا یې بدلول روا دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند، عزیز الفتاوی: ۱/ ۶۸۵، دار الاشاعت، کراچی).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

البته غریب (پر چا چي قربانۍ واجب نه وي) چي د اختري په نیت سره په ایام نحر کي حیوان رانیسي پر هغه د دغه حیوان اختري کول واجب ګرځي، هغه نه خرڅولای سي او نه یې بدلولای سي.

د شامي له عبارت څخه معلومیږي چي تر ایام نحر مخکي یې د اختري په نیت سره حیوان رانیولي ؤ، نو د هغه حیوان اختري کول نه لازمیږي بدلولای سي او خرڅولای هم سي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۳۹۹، دیوبند).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی: ۷/ ۵۳۰).

البته د شمس الائمه حلوانی رحمه الله او شمس الائمه سرخسي رحمه الله په آند پر فقیر په رانیولو سره اختري نه واجبیږي، همدا ډول که د فقیر د کور پسه وي یعنی د اختري له پاره یې نه وي متعین کړي یا یې د رانیولو په وخت کي د اختري په نیت سره نه رانیسي، په دې صورت کي هم پر فقیر اختري واجب نه دئ.

قال العلامة الطوري في تكملة البحر الرائق: فلو قال كلاماً نفسيا: لله علي أن يضحي بهذه الشاة ولم يذكر بلسانه شيئًا فاشترى شاةً بنيّة الأضحية إن كان المشتري ... فقيرًا ذكر شيخ الإسلام خواهر زاده في ظاهر الرواية تصير واجبةً بنفس الشراء وروى الزعفراني عن أصحابنا لا تصير واجبةً وأشار إليه شمس الأئمة السرخسي في شرحه، وإليه مال شمس الأئمة الحلواني في

شرحه وقال : إنه ظاهر الرواية ولو صرح بلسانه والمسألة بحالها تصير واجبةً بشراء نية الأضحية إن كان المشتري فقيرًا . (البحر الرائق: ۸/ ۱۷۵، کوئته). (وكذا فى خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۱۸، وبدائع الصنائع: ۵/ ۶۶، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

فلو كانت في ملكه فنوى أن يضحي بها أو اشتراها ولم ينو الأضحية وقت الشراء ثم نوى بعد ذلک لا يجب لأن النية لم تقارن الشراء فلاتعتبر. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۱، سعيد). (وكذا فى الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۱، والبحر الرائق: ۸/ ۱۷۵، كوئته). والله ﷻ اعلم.

د اختري په زيات قيمت د خرڅولو حکم

سوال: يو سړی په اووه زره روپۍ اختري رانيوي او دا نيت يې کړي ؤ چي په دې لوی حيوان کي نور ملګري پيدا سو ګډ وي به يې او اووم برخه به يې د ځان له پاره ساتم، اتفاقاً شپږ خلک پيدا سوه، اوس که دغه سړی پاته شپږ برخي د خپلو ملګرو ته د شپږ زره پر ځای په زيات قيمت سره خرڅي کړي، نو آيا دا روا دي او که نه؟ مثلاً شپږ برخي په اوو يا اته زره روپۍ خرڅي کړي؟

الجواب: د دې مسئلې په اړوند کوم صريح جزئيه په نظر نه ده راغلي، خو بيا هم له يو فقهي نظير څخه د دې حکم معلوميږي چي داسي کول په کار نه دي او که چا وکړه زياتي پيسې دي خيرات کړي:

په فتاوی قاضي خان کي يې وګورئ:

ولو اشترى شاة للأضحية ثم باعها واشترى أخرى في أيام النحر فهذه على وجوه ثلاثة، الأول: إذا اشترى شاة ينوى بها الأضحية.... ففى الوجه الأول فى ظاهر الرواية لاتصير أضحية مالم يوجبها بلسانه وعن أبى يوسف عن أبي حنيفة أنها تصير أضحية بمجرد النية كما لو أوجبها بلسانه وبه أخذ أبو يوسف وبعض المتأخرين. (فتاوى قاضى خان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۴۶).

وفيه أيضاً: وإن اشترى شاة أخرى بعد ما باع الأولى إن اشترى الثانية بجميع ثمن الأولى جاز ولا شيء عليه وإن اشترى الأخرى بأقل مما تباع الأولى يتصدق بما بقى عنده من ثمن الأولى. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۴۷).

د حضرت عروه بارقی ﷛ او حضرت حکیم بن حزام ﷛ له روایت څخه هم معلومیږي چې د زیاتو پیسو خیراتول په کار دي.

په سنن دار قطنی کي یې وګورئ:

عن حكيم بن حزامٍ ﷛ أن رسول الله ﷺ أعطاه دينارًا يشتري به أضحيةً فاشترى أضحيةً بدينارٍ فباعها بدينارين ، ثم اشترى أضحيةً بدينارٍ وجاءه بدينارٍ وأضحيةٍ فتصدق النبي ﷺ بالدينار ودعا له بالبركة. (سنن الدر قطنى، رقم: ۲۸).

وعن عروة البارقي ﷛ أن النبي ﷺ أعطاه دينارًا يشتري به أضحيةً، أو شاةً، فاشترى شاتين، فباع إحداهما بدينارٍ، فأتاه بشاةٍ ودينارٍ، فدعا له بالبركة في بيعه، فكان لو اشترى ترابًا لربح فيه . رواه الخمسة إلا النسائي. (بلوغ المرام، رقم: ۸۱۹).

له دواړو احادیثو څخه دا خبره معلومیږي چې د اختري له نیت کولو وروسته یې ګټه لاس ته راوړه، نو ځکه رسول الله ﷺ خیرات کړه که څه هم د حضرت عروه بارقي ﷛ په روایت کي د خیرات صراحت نه سته مګر د حضرت حکیم بن حزام ﷛ روایت کي یې صراحت موجود دئ.

په کفایت المفتي کي راځي:

د اختري د حیوان خرڅول په کار نه وه، که چیري خرڅ کړل سي او د لږ قیمت والا رانیول سي، نو څومره ګټه چي لاس ته ورځخه راسي هغه دي هم خیرات کړي.

لنډه دا سوه چي په دې صورت کي یې چونکه د رانیولو په وخت کي د شپږو کسانو د ګډون نیت کړي ؤ له دې امله د ثواب په نیت سره یې شریک کولای سي مګر هغه شپږ برخي د ګټي ذریعه نه سي جوړولای څومره ګټه چي تري حاصله کړي خیرات دي کړي:

په فتاوی شامي کي راځي:

وإن نوى أن يشرك فيها ستة أجزأته لأنه ما أو جب الكل على نفسه بالشراء. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۱۷، و۲/ ۶۱۵، ط: سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

والبقر والبعير يجزي عن سبعةٍ إذا كانوا يريدون به وجه الله تعالى....كذا في الخلاصة لا يشارك المضحي فيما يحتمل الشركة من لا يريد القربة رأسًا ، فإن شارك لم يجز عن الأضحية ، وكذا هذا في سائر القرب إذا شارك المتقرب من لا يريد القربة لم تجز عن القربة ، ولو أرادوا القربة الأضحية أو غيرها من القرب أجزأهم سواء كانت القربة واجبةً أو تطوعًا... (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۴). والله ﷻ اعلم.

د اختري د حيوان له رانيولو وروسته د شركت حكم

سوال: شپږو نفرو د اختري په نيت سره غوايې رانيوي، بيا يوه سپين سري راغله او ويل يې چي ما هم شريكه كړي، آيا د غوايې له رانيولو وروسته هغه ګډولاى سي او كه نه؟

الجواب: كه چيري د رانيولو په وخت كي دا نيت كړي ؤ چي يو به بل هم را ګډه ؤ، نو له كراهت پرته روا دي او كه يې دا نيت كړي نه ؤ روا دي، خو خلاف اولى دي:

په فتاوى قاضي خان كي يې وګورئ:

رجل اشترى بدنة و أوجبها أضحية بلسانه ثم اشترک فيها ستة جملة أو واحداً بعد واحد حتى صاروا سبعة في القياس لايجوز الاشتراک ولو فعل ذلک وضحوا بها يكون لحماً وهو قول زفر وفي الاستحسان يجوز وهو قول علمائنا رحمهم الله تعالى وإذا جاز عندنا لايجب التصدق بشيء من الثمن. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۰).

په بدائع الصنائع كي راځي:

ولو اشترى رجل بقرةً يريد أن يضحي بها ثم أشرك فيها بعد ذلك قال هشام : سألت أبا يوسف فأخبرني أن أبا حنيفة رحمه الله قال : أكره ذلك ويجزيهم أن يذبحوها عنهم ، قال :

وكذلك قول أبي يوسف ،... قال : في الأصل أرأيت في رجلٍ اشترى بقرةً يريد أن يضحي بها عن نفسه فأشرك فيها بعد ذلك ولم يشركهم حتى اشتراها فأتاه إنسان بعد ذلك فأشركه حتى استكمل ؛ يعني أنه صار سابعهم هل يجزي عنهم ؟ قال : نعم استحسن وإن فعل ذلك قبل أن يشتريها كان أحسن ، وهذا محمول على الغني. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۲، سعيد).

وللاستزادة انظر: (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۱۷، سعيد، والهداية: ۴، كتاب الاضحية، ومجمع الانهر: ۴/ ۱۶۹).

په فتاوى محموديه كي راځي:

په داسي كولو سره هم اختري كيږي مگر ښه دا دي چي د حيوان تر رانيولو مخكي شپږ كسان نور پيدا كړي، هر كله چي اووم شريک سي حيوان دي رانيسي. مجمع الانهر. (فتاوى محموديه: ۱۷/ ۴۰۰، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

اووم برخه د نبي كريم ﷺ له پاره د ايښودلو حكم

سوال: شپږ كسانو په گډه سره په يوه لوى حيوان كي خپله خپله واجب برخه متعين كړه او په اوومه برخه كي ټولو په جمع واري سره د نبي كريم ﷺ له پاره يا د ټول امت له پاره نفلي نيت وكړي، دا ډول د ټولو اختريان وسوه او كه نه؟ دا ډول كول روا دي او كه نه؟

الجواب: د ايصال ثواب له پاره څومره خلک په يوه برخه كي گډيدلاى سي لكه څنگه چي يوه برخه د ايصال ثواب په ډول د ډېرو مړو له پاره كافي گرځي د رسول الله ﷺ يو پسه د خپل امت د هغو افرادو له طرف څخه ذبح كړ كوم چا چي اختري نه وكړي:

په بدائع الصنائع كي راځي:

فإن قيل : أليس أنه روي أن رسول الله ﷺ ضحى بكبشين أملحين أحدهما عن نفسه والآخر لايذبح من أمته فكيف ضحى شاة واحدة عن أمته ؟

فالجواب: أنه عليه الصلاة والسلام إنما فعل ذلک لأجل الثواب وهو أنه جعل ثواب تضحيته بشاة واحدة لأمته. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۰، سعيد).

همدا ډول فقهاء کرامو لیکلي دي چې که چیري یو سړی په قربانۍ کي برخه واخستله مګر تر اختر مخکي د هغه انتقال وسي، نو د هغه له طرف څخه د هغه ورثاء د ایصال ثواب په ډول اختري کولای سي او په دې صورت کي خو ډېر وارثان د هغه د برخي مالکان جوړ سوه د دې باوجود د مرحوم له پاره اختري کولای سي:

په بدائع الصنائع کي علامه ابو بکر کاساني رحمه الله لیکي:

وجه الاستحسان أن الموت لايمنع التقرب عن الميت بدليل أنه يجوز أن يتصدق عنه ويحج عنه... الخ. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۲، سعيد).

د شرح النقايه په حاشيه کي راځي:

وجه الاستحسان أن الورثة يقومون مقام المورث بعد موته والتبرع من الوارث عن مورثه بالقرب المالية صحيح كالتصدق. (حاشية شرح النقاية لمولوى إلياس: ۲/ ۲۷۱، ط: سعيد).

هر کله چې فقهاء کرامو دا د تصدیق په ډول وویل، نو ښکاره خبره ده چې مختلف خلک په ګډه سره د یوه یا څو مرحمینو له پاره تصدق کولای سي، همدا ډول په اختري کولو کي هم څه مشکل نه سته.

مفتی عبد الرحیم لاجپوري رحمه الله په فتاوی رحیمیه کي لیکي:

سوال: شپږو کسانو په ګډه سره د قربانۍ له په لوی حیوان کي خپله خپله واجب برخه متعین کړه او په اوومه برخه کي ټولو په ګډه سره د نبي کریم ﷺ له پاره نیت وکړي، دا روا دي او که نه؟ پر واجب اختري خو د دې څه اثر نه راځي؟ یاد دي وي چې اوومه برخه د یوه سړی له طرفه نه ده بلکي په یوه برخه کي شپږ شریکان دي، لهذا د کتاب په حواله جواب راکړي؟

الجواب: إن مات أحد السبعة المشتركين في البدنة وقال الورثة: اذبحوا عنه وعنكم صح عن الكل استحسانًا لقصد القربة من الكل ، ولو ذبحوها بلا إذن الورثة لم يجزهم .(الدر المختار مع الشامی: ۶/ ۳۲۶، سعید).

له مذکوره فقهي روایت څخه استحساناً روا معلومیږي ځکه چې هر کله اوومي برخي والا مړ سو، نو د هغه برخه د هغه ورثاؤ ته منتقلیږي او د دې برخي مالکان د هغه وارثان سوه او هغوی د دې

اوومي برخي د مالک په حیثیت سره د اختري اجازه ورکړه، نو د ټولو اختریان صحیح سو، همدا ډول په مذکوره صورت کي شپږو ملګرو اوومه برخه رانیوله او د نبي کریم ﷺ له پاره یې متعینه کړه. نو صحیح کېدل یې په کار دي، له نورو علماء کرامو څخه دي هم دا مسئله وپوښتل سي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۳۹۲، دیوبند).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۴۰۵– ۴۰۸، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

إضاءة الضواحي في اعتبار مكان الأضاحي

په اختري کي د وکيل د ځای او اضحي اعتبار سته

سوال: که يو چا بل څوک د اختري له پاره وکيل جوړ کړي، مؤکل په پاکستان کي اوسي او وکيل په مدينه منوره کي، مؤکل وکيل ته د اختري کولو وويل او اکثره وخت په سعودي عرب کي اختر يوه يا دوې ورځي مخکي او په پاکستان کي يوه يا دوې ورځي وروسته وي، که وکيل د اختر په ورځ حيوان ذبح کړي، نو د مؤکل اختري کيږي او که نه؟ او تر اوسه د مؤکل په ځای کي د اختر ورځ راغلی نه ده، په نورو الفاظو د قرباني په وخت کي د مؤکل اعتبار دئ او که د اختري د وکيل؟

الجواب: په دې مسئله کي د علماء کرامو دوې ډلي دي، ځيني علماء وايي، چي د مؤکل د ايام النحر اعتبار دئ، پر دې بنياد په مذکوره مسئله کي د مؤکل له طرفه سوي اختري نه اداء کيږي له دې سره سم له دار الافتاء جامعه علوم الاسلاميه بنوري ټاؤن، دار الافتاء دار العلوم کراچي، دار الافتاء جامعه اسلاميه ډابهيل او شاهي مراد آباد او نورو څخه فتواوي نشر سوي دي او نور علماء کرام بيا وايي چي د وکيل او اضحي د ځای او ايام النحر اعتبار دئ، لهذا په پوښتل سوي مسئله کي د مؤکل له طرفه اختري اداء کيږي له دې سره سم مفتي سيد عبد الرحيم لاجپوري ثم رانديري رحمة الله عليه ښه ډېره موده مخکي فتوي ورکړي ؤ او په دا نژدې وخت کي د مدرسه مفتاح العلوم تراج، سورت گجرات مفتي حضرت مولانا مفتي رشيد فريدي صاحب شپږ تحقيقي مقالې وليکلي او پر مذکوره مسئله يې ښه مفصل بحث وکاوه، د دې مقالو نومان په لاندي ډول دي:

١ـ تحقيق الكلام فى بيان السبب لوجوب الأحكام.

٢ـ رفع الارتياب من سببية الوقت للموقتات.

٣ـ تمييز الطرقات لتحقق الشرائط للقربات.

٤ـ نور السنى لمن يجب عليه الأضحية بالغنى.

٥ـ تعقب الفريد على تخصيص الوجوب بصبح العيد.

٦ـ كشف الغطاء عن اعتبار الوقت لمحل الأداء.

دا مجموعه رسائل په ماهنامه ((دار العلوم)) كي په دوو برخو كي نشر سوى دي. د دې رسالو په رڼا كي څو عرضونه په لاندي ډول ليكل كيږي:

۱_ د اختري اصل وجوب فى الذمه له بډايتوب څخه راځي او همدغه پر ذمه باندي وجوب دالله ﷻ له طرفه دئ كوم چي پر وخت نه دئ موقوف:

په ملتقى الابحر كي يې وګورئ:

هي واجبة، وإنما تجب على حرمسلم مقيم موسر. (ملتقى الابحر: ۴/ ۱۶۶).

في مجمع الأنهر: قوله موسر لأن العبادة لا تجب إلا على القادر وهو الغنى دون الفقير. (مجمع الانهر: ۴/ ۱۶۶).

وفي بدائع الصنائع: أما شرائط الوجوب... منها: الإسلام... ومنها الحرية...ومنها الإقامة... ومنها الغناء والغناء شرط الوجوب فى هذا النوع، لأنه حق مالي متعلق بملك المال. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۳، سعيد).

لأن الموسر تجب الأضحية فى ذمته. (البدائع: ۵/ ۷۶، سعيد).

د وجوب فى الذمه حكم پر غني لګول دا دليل دئ چي بډايتوب د حكم علت دي لأن ترتيب الحكم على المشتق نص على علية مبدأ الاشتقاق. (فتح الغفار، ص ۶۰).

فقهاء كرامو د دې خبري تصريح كړي ده چي د اختري وجوب په غني سره دئ او په دې كي د هيڅ اختلاف هم نه سته:

په البنايه شرح الهدايه كي يې وګورئ:

وشرط اليسار لقوله صلى الله عليه وسلم: من وجد سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا، يدل على أن الوجوب بالسعة ولاسعة للفقير. (البناية: ۱۱/ ۴).

په تكلمه فتح القدير كي راځي:

إذ لانزاع لأحد أن علة وجوب الأضحية على الموسر هى القدرة على النصاب. (تكملة فتح القدير: ۹/ ۵۰۷).

تر يوم النحر مخكي پر ذمه د وجوب عقلي دليل وګورئ:

وخت ((ايام النحر)) دا د اشرط دئ او وجوب دا له اداء سره بالكل متصل وي، نو كه چيري يو مقيم غني په صحرا كي د يوم النحر په سهار له لمر ختو سره سم پرته له څه ځنډه اختري وكړ، نو دا اختري بالاتفاق صحيح دئ، نو خا ماخا به دا هم منل كيږي چي د هغه پر ذمه اختري تر يوم النحر مخكي واجب ؤ ځكه چي تر وجوب اداء كوم چي په وخت كي د الله ﷻ له كلام څخه وي، مخكي د نفس وجوب وجود ضروري دئ او اصل وجوب د وجوب تر اداء كولو مقدم وي ((فثبت أن أصل الوجوب قد وجد بالغنا قبل صبح يوم النحر، فامهم وتدبر)).

د ذكر سوي دلائلو په رڼا كي د اخبره د رڼا ورځي په څېر معلوميږي چي د اختري پر ذمه باندي لازميدل له بداېتوب څخه دي، پر وخت هيڅكله موقوف هم نه دي، هو وخت يوازي شرط اداء دئ.

بيا د امام اعظم رحمه الله په آند اصل وخت د ټولو مكلفينو په اړوند ذ يوم النحر په سهار د لمر ختو سره سم شروع كيږي، البته په ښار كي د ذبح له پاره د اختر له لمانځه څخه فراغت يو زيات شرط دئ.

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (المبسوط: ۱۲/ ۱۰، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۳، سعيد، وشرح الوقاية: ۴/ ۳۹).

همدا رنګه د لمانځه، روژې د وخت په ډول د اختري وخت بعينه له شرط اداء سره دوجوب اداء سبب هم دئ، لهذا وخت د دواړو حيثيتو جامع سو.

په بدائع الصنائع كي يې وګورئ:

لاتجوز قبل دخول الوقت لأن الوقت كما هو شرط الوجوب فهو شرط جواز إقامة الواجب. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۳، سعيد، وكذا فى البناية: ۱۱/ ۳، والعناية على هامش فتح القدير: ۱/ ۲۱۶).

او څنګه چي د موقته عباداتو اداء كول تر وخت مخكي صحيح نه دي، همدا ډول تر وخت وروسته يې هم اداء كول صحيح نه دي بلكي قضاء لازميږي، نو اوس بلها سړى تر ايام النحر مخكي

اختري ځکه نه سي کولای چي وخت د اداء له پاره شرط دئ او ((تقدم المشروط علی شرط الصحة لایجوزه)) د نه روا والي دا وجه نه ده چي د غني ذمه اوس په واجب سره مشغوله نه ده.

هو د غني ((وجوب فی الذمه)) وروسته که د حیوان په ځای کي اختر وي، نو اختري کول روا دي ځکه چي سبب یعني د مالک بډایتوب موجود دئ او د اختري د حیوان په ځای کي یا د وکیل په ځای کي اختر ((د اداء شرط)) موجود دئ، لهذا په پوښتل سوې صورت کي اختري صحیح او روا دئ، ځکه چي اختري یو مالي عبادت دئ او د هغه د نفس وجوب علت په اتفاق سره بډایتوب دئ. د کوم چي تعلق له مکلف سره دئ او د اختري د وجوب اداء تعلق د اختري له حیوان سره دئ نه له مکلف سره، نو دا معلومه سوه چي د وخت ((ایام النحر)) اعتبار د اداء د ځای د لحاظ څخه دئ نه د مکلف د لحاظه.

په بحر الرائق کي یې وګورئ:

ولأنها (الأضحیة) تشبه الزکاة فیعتبر فی الأداء مکان المحل وهو المال لا مکان الفاعل.

(البحر الرائق: ۸/ ۱۷۵، کوئته).

۲- له نوي موقف سره مناقشه :

د موجوده زمانې ځینو مفتیانو کرامو مثلاً لکه مفتي محمد تقي عثماني، مفتي شبیر احمد مراد آبادي صاحب، مفتي احمد خانپوري صاحب، مفتي عمر فاروق دیسائي صاحب لندن مدظلهم العالیه او د ځینو نورو مفتیانو کرامو موقف دا دئ چي پر کوم سړي اختري واجب وي د هغه د وجوب اداء له پاره دا ضروري ده چي پر هغوی به د یوم النحر په سهار لمر راختلي وي که نه، نو اختري یې صحیح نه دئ.

دلیل: دا علماء کرام وایي، چي غنا یوازي شرط وجوب دي او د اصل نفس وجوب سبب وخت دئ کوم چي د یوم النحر د سهار د لمر ختو څخه شروع کیږي بیا د دولسمې ورځي تر لمر لوېدو پوري رسي. د دې مطلب دا سو چي د یوم النحر د سهار تر لمر ختو مخکي د اختري وجوب راغلی نه دئ، لهذا غني سړي څه ډول چي په خپل ځای کي د یوم النحر د سهار تر لمر ختو مخکي اختري نه سي کولای. همدا ډول یې په یو بل ځای کي د وکیل په ذریعه ((چیرته چي د یوم النحر د سهار لمر راختلي وي)) سره هم کولای نه سي.

۱۔ **الجواب**: بدایتوب ته یې شرط وجوب ویلي دئ کما فی کتب الفقه وهو الصحیح. مګر مفتیان کرام دې ته د اهلیت وجوب یعني د اصل وجوب د شرط پر ځای یې یوازي شرط وجوب اداء بولي او وخت د اضحیې د وجوب شرط بولي، حال دا چي د ټولو فقهاء کرامو په آند د وجوب اضحیې علت قدرت علی النصاب دئ.

۳_ د نوي موقف لوی تاوان: په دې نوي موقف سره په عمل کولو کي د امت په تکلیف، تنګي او غم کي د مبتلاء کېدلو ډېر تېنګه اندیښنه ده ځکه چي دا مسئله یوازي د مغربي ممالکو د اختریانو په مشرقي ممالکو کي د انجام ورکولو نه ده بلکي د دنیا په ټولو ښارو او صحراوو کي د یوه ځای د قربانۍ په بل ځای کي په کولو پسي اړه لري او بل طرف ته د شمسي اوقاتو په اعتبار سره د ملک په مختلفو ولایتو کي او د ولایت په مختلفو ولسوالیو کي د صبح صادق او لمر لوېدو وغیره اوقاتو کي تفاوت لرل بالکل منل سوي او یقیني خبره ده اوس چي پر کوم چا اضحیه واجب سوې ده هلته تر صبح صادق مخکي د هغه له خوا په بل ځای کي سوي اختري هم کالعدم وبلل سي او دا وویل سي چي د ښاري سړی اختري په صحراوو کي هغه وخت صحیح کیږي څه وخت چي په ښار کي سهار راختلي وي، نو د دې تاوان او تکلیف پر هیڅ چا نه دي پټ.

همدا ډول په افریقا، امریکه، برطانیه او نورو عربي هیوادو د مالدارانو د اختریانو سلسله په هند، پاکستان، بنګال او داسي نورو اسیائي او غیر اسیائې هیوادو کي له پخوا څخه جاري او په خلکو کي رواج دي، نو د اهل مغرب له خوا څخه د مشرقي هیوادو په یو ښار کي یا په صحراوو کي د اوسېدونکو مالدارانو یا غریبانو کوم چي د اختري وکیل وي هغه ته دا معلومه نه وي چي مؤکل څوک دئ، چیرته اوسي که اجمالاً معلوم سي، نو هغه ته د خپل مؤکل په هیواد کي د اوقاتو تفاوت معلوم نه وي که په ملکي سطحه د اوقاتو فرق معلوم هم وي، خو بیا هم د صبح صادق وغیره اوقاتو یقیني علم ورته نه وي او د دې اوقاتو معلومول د هر یو انسان له پاره یقیناً سخت او مشکل دي.

۴_ په نوي موقف کي د متواتر عمل بطلان:

د دې نوي موقف دوهمه مفسدة دا دي: چي د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه حرم ته په را لېږل سوو هدیو او پیسو سره د کېدونکو قربانیو یوه سلسله چي له خیر القرون څخه عملاً را روانه دي چي د دې او حرم په منځ کي د ذبح په وخت کي ډېر زیات فرق وي، بلکي په تاریخ کي یې هم فرق وي، نو له

دې څخه دامت د دې قدر مشترک متواتر عمل بطلان لازم راځي، حال دا چې د شرعي اصولو په رڼا کې دامت دا کار بالکل پر حق دئ.

زموږ د دار الافتاء موقف:

زموږ له دار الافتاء څخه دا مسئله څو واره ولیکل سوه په آخري وار چې کومه ولیکل سوه د هغې خلاصه دا ده چې په وکالت کې د وکیل د وخت او ځای اعتبار سته د مؤکل د وخت او ځای څخه قطع نظر که چیري د وکیل په ځای کې وخت پوره سي، نو هغه د مؤکل له طرف څخه اختري کولای سي لکه څنګه چې د یو معذور یا مریض له طرف څخه په حج بدل کې وکیل د سعودې له تاریخ سره سم، عرفه، مزدلفه او داسې نور د حج افعال تر سره کوي، که څه هم په هندوستان یا پاکستان کې دغه ورځې یوه یا دوې ورځې وروسته راځي، د دې باوجود دا ټول افعال صحیح دي همدا ډول که چیري یو څوک وکیل بالنکاح جوړ کړي او هغه نکاح وتړله د نکاح تړلو له پاره د ایجاب او قبول د مجلس اتحاد ضروري دئ مګر اعتبار د وکیل د مجلس دئ د مؤکل د مجلس اعتبار نه سته.

په بحر الرائق کې یې وګورئ:

وكل وكيلًا بأنه يذبح شاةً له وخرج إلى السواد فأخرج الوكيل الأضحية إلى موضعٍ لا بعد من المصر وذبحها هناك فإن كان الموكل في السواد جازت الأضحية ، وإن كان عاد إلى المصر وعلم الوكيل بقدومه لم تجز الأضحية عن الموكل بلا خلافٍ ، وإن لم يعلم بعود الموكل إلى المصر فكذا عن محمدٍ وعند أبي يوسف يجوز وهو المختار . (البحر الرائق:۸/ ۱۷۶، کوئته) (وكذا فى الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۷، والفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۴۲۳، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۱۳).

د دې مسئلې په اړوند د فقهاء کرامو له عباراتو څخه ښکاره او بې غبار استدلال:

فقهاء کرامو لیکلي دي چې که چیري ښاري سړی ژر اختري کول غواړي، نو یوه کلي ته دې واستوي او صحرایې سړی دې له سهار کېدو سره سم دستي حیوان ذبح کړي اختري یې بالکل صحیح دئ، په دې کې دا ذکر سوي نه دي چې د ښاري سړي اختري په صحرا کې هغه وخت صحیح کېږي چې په ښار کې سهار راختلي وي:

په هدایه کې یې وګورئ:

وحيلة المصري إذا أراد التعجيل أن يبعث بها إلى خارج المصر، فيضحى بها كما طلع الفجر. (الهداية: ۴/ ۴۶۶).

مثلاً که یو سړی له جوهانسبرغ څخه ۲، ۴ ساعته لېري د مشرق خوا ته یو صحرا ته خپل اختري واستوي او هلته تقریباً ۱۰، ۱۵ دقیقې مخکې صبح صادق راخیژي او د صحرایې سهار کېدو سره دستي حیوان ذبح کړي، نو د فقهاء کرامو د عبارت په رڼا کې دا اختري صحیح دئ او د نوي موقف په رڼا کې تر اوسه په جوهانسبرغ کې پر مقیم سړی د اختري وجوب راغلی نه دئ، نو د هغه له خوا اختري څنګه صحیح کیږي.

د رسول الله ﷺ د وفات له تاریخ څخه یو باریک دلیل.

حضرت تهانوي رحمه الله په ((الطرائف والظرائف، ۱۲۸، ص) کې لیکي چې د رسول الله ﷺ د وفات په کال کې د مکې مکرمې تاریخ د مدینې منورې تر تاریخ یوه ورځ مخکې ؤ. وګورئ:

فائد: تاريخية تتعلق بتاريخ وفاة النبى ﷺ. (عن جمع الوسائل فى شرح الشمائل للقارى الحنفى) باب ماجاء في وفاة رسول الله ﷺ... إلى قوله: وحله أن يقال يحتمل اختلاف أهل مكة والمدينة فى رؤية هلال ذي الحجة، عند أهل مكة يوم الخميس وعند أهل مدينة يوم الجمعة وكان وقوف عرفة واقعاً برؤية أهل مكة ولما رجع إلى المدينة اعتبروا التاريخ برؤية أهل المدينة وكان الشهور الثلاثة كوامل فيكون أول ربيع الأول يوم الخميس ويوم الاثنين الثاني عشر منه، هذا، انتهى.

د لوړ ذکر سوي اختلاف په نظر کې نیولو سره موږ دا ویلای سو چې په (سنه ۹ ھ ق) کې له حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه سره رسول الله ﷺ سره اختریان استولی ؤ، په دې وخت کې هم د اهل مکه د یوې ورځې د مخته کېدلو امکان ؤ د دې باوجود له رسول الله ﷺ څخه د اختري یوه ورځ وروستوالی نه د ثابت سوي، له دې څخه هم دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ به د اضحې او وکیل د ځای اعتبار کړي وي، الغرض د دې ټول تحقیق خلاصه او حاصل دا دي چې د اختري د ذبح په

سلسله كي متواتر عمل له عين شريعت سره مطابق دئ ((وهو أن الـمعتبر في الأضحية مكان الأضحية، لامن عليه الأضحية)).

نو دافريقي، برطانيې، امريكي او نورو غربي هيوادو داوسېدونكو اختريان په مشرقي هيوادو كي دهغوی دوخت په اعتبار سره بالكل صحيح او له فقهي تصريحاتو سره بالكل سم دي.

دمفتي سيد عبد الرحيم صاحب فتوي وګورئ:

سوال: عبد الرشيد ورور له مدراس څخه دلته په ((حيدر آباد)) كي داختري كولو راته ليكلي دي هلته اختر د دوشنبې په ورځ دي او دلته د يک شنبې په ورځ د هغه اختري موږ دلته په يکشنبه كولای سو او كه نه؟ او كه يې په دوشنبه وكړو؟

جواب: داختري حيوان چي په كوم ځای كي وي د هغه ځای اعتبار دئ داختري كونكی د ځای اعتبار نه وي، نو كه چيري اختري كونكی په ښار كي وي او هغه د خپل د اختري حيوان يو داسي كلي ته واستوي چيرته چي د اختر لمونځ نه اداء كيږي او هلته له صبح صادق څخه وروسته د هغه د اختري حيوان ذبح كړل سي، نو د دې ښار والا اختري صحيح دئ:

په هدايه اخرين كي راځي:

والـمعتبر في ذلك مكان الأضحية حتى لو كانت في السواد والـمضحى في الـمصر يجوز كما انشق الفجر، ولو كان على العكس لا يجوز إلا بعد الصلاة وحيلة الـمصري إذا أراد التعجيل أن يبعث بها إلى خارج الـمصر فيضحى بها كما طلع الفجر. (الهداية: ۴/ ۴۳۰).

په در مختار كي راځي:

والـمعتبر مكان الأضحية لا مكان من عليه فحيلة مصرى... (الدر المختار مع الشامي: ۶/ ۳۱۸، كتاب الاضحية، سعيد).

په پوښتل سوي صورت كي عبد الرشيد ورور له مدراس څخه تا ته په حيدر آباد كي د خپل اختري كولو له پاره ليكلي دي او په مدراس كي لوی اختر د دوشنبې په ورځ دئ او ستاسو په ځای كي د يكشنبې په ورځ دئ، نو تاسو د هغه اختري د يكشنبې په ورځ له څه تكليف پرته كولای سي او د هغه اختري صحيح دئ. (فتاوی رحيميه: ۵/ ۴۱۸).

یادونه: فتاوی رحیمیه له مطبعه مکتبة الاحسان دیوبند څخه د مفتي سعید پالنپوري صاحب له تعلیق سره نشر سوې ده په دې کي مفتي سعید پالنپوري صاحب د لوړې ذکر سوې مسئلې له ذکر کولو وروسته په متن کي د دار العلوم دیوبند په نامه یوه اضافه تفصیلي فتوی د نوي موقف په تائید کي د مفتي صاحب د فتوي په خلاف د څو نورو مفتیانو کرامو له امضاؤ سره شائع کړي ده او تعلیق خو په حاشیه کي وي په متن کي د مفتي عبد الرحیم صاحب له فتوی سره د دیوبند د تفصیلي فتوي د ذکر کولو څه معنا ده؟.

د مفتي ظفیر الدین د دار العلوم د مفتي فتوي وګورئ:

الجواب: هو الموفق: اختري چي چیرته کیږي د هغه ځای اعتبار وي، لهذا که په هندوستان کي اختري کیږي، نو د دې هیواد د تاریخ ۱۰/۱۱/۱۲/ ذی الحجې اعتبار به کیږي او په دې تاریخو کي به اختري کیږي د امریکي، لندن وغیره هیوادو اعتبار نه سته.

لنډه دا چي د وکیل د خپل ځای په اعتبار سره اختري کول روا دي که څه هم په عباداتو کي پر احتیاط په عمل کولو کي د مؤکل د ځای د ایام النحر د شروع کېدو انتظار اولی او افضل دئ چي د مؤکل له خوا د اختري وجوب د علماء کرامو په اتفاق سره اداء سي او هیڅ ډول شبه پاته نه سي، هم ډول د فقهاء کرامو قاعده ده ((الخروج من الخلاف مستحب)) نو پر دې بنا باندي په راتلونکي کي احتیاط کول په کار دي، هو د تېر سوي اختریانو اعاده لازمه نه ده. والله ﷻ اعلم.

په دیارلسمه د ذی الحجې د اختري کولو حکم

سوال: د اختري کولو ورځي څو دي، زموږ په ځای کي غیر مقلدین د اختر په څلورمه ورځ اختریان کوي؟آیا په څلورمه ورځ اختري کول روا دي؟

الجواب: په دې صورت کي د احنافو، مالکیه ؤ او حنابله ؤ مذهب دا دي چي د اختري درې ورځي دي، یوم النحر او له هغه وروسته دوې ورځي (۱۰، ۱۱، ۱۲) د ذی الحجې په (۱۳) د ذی الحجې اختري روا نه دئ، البته د شوافعو په آند په (۱۳) تاریخ د ذی الحجې هم اختري روا دئ، یعنی د اختري ورځي څلور دي او د غیر مقلدینو خو هیڅ مذهب نه سته، البته د علامه ابن تیمیه رحمه الله او حافظ ابن القیم رحمه الله مذهب هم د امام شافعي رحمه الله په ډول دئ، نو امکان لري چي غیر مقلدین به د علامه ابن تیمیه رحمه الله په قول سره عمل کوي.

په هدایه کي یې وګورئ:

قال وهي جائزة في ثلاثة أيام يوم النحر ويومان بعده وقال الشافعي رحمه الله ثلاثة أيام بعده لقوله عليه الصلاة والسلام : أيام التشريق كلها أيام ذبح ولنا ما روي عن عمر وعلي وابن عباس رضي الله عنهم قالوا: أيام النحر ثلاثة أفضلها أولها وقد قالوه سماعاً. (الهداية: ۴/ ۴۴۶).

په شرح الهذب کې راځي:

أيام نحر الاضحية يوم النحر وأيام التشريق الثلاثة هذا مذهبنا وبه قال علي ابن أبي طالب وجبير بن مطعم وابن عباس وعطاء والحسن البصري وعمر بن عبد العزيز وسليمان بن موسى الاسدي فقيه أهل الشام ومكحول وداود الظاهرى، وقال مالك وأبو حنيفة وأحمد يختص بيوم النحر ويومين بعده وروى هذا عن عمر بن الخطاب وعلي وابن عمر وأنس رضى الله عنهم . (شرح المهذب: ۸/ ۳۹۰، دار الفكر).

په الشرح الکبير کې علامه ابن قدامه رحمه الله وايي:

فصل والثاني في آخر وقت الذبح وآخره آخر اليوم الثاني من أيام التشريق فتكون أيام النحر ثلاثة: يوم النحر ويومان بعده وهذ قول عمر وعلي وابن عمر وابن عباس وأبي هريرة وأنس رضي الله عنهم، قال أحمد: أيام النحر ثلاثة عن غير واحد من أصحاب رسول الله ﷺ، وفي رواية قال: خمسة من أصحاب رسول الله ﷺ ولم يذكر أنساً واليه ذهب مالك والثوري وأبو حنيفة، وروي عن علي رضي الله عنه آخره آخر أيام التشريق، وبه قال عطاء والحسن والشافعي لانه روي أن جبير ابن مطعم أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: أيام منى كلها منحر ... ولنا أن النبي ﷺ نهى عن ادخار لحوم الاضاحي فوق ثلاث ولا يجوز الذبح في وقت لا يجوز ادخار الاضحية، ولأن اليوم الرابع لا يجب الرمي فيه فلم تجز التضحية فيه كاليوم الذي بعده، ولأنه قول من سمينا من الصحابة ولا مخالف لهم إلا رواية عن علي، وقد روي

عنه مثل مذهبنا وحديثهم انما هو «ومنى كلها منحر» وليس فيه ذكر الأيام والتكبير أعم من الذبح، وكذلك الافطار بدليل أول يوم النحر. (الشرح الكبير: ۳/ ۵۵، بيروت). (وكذا فى المغنى: ۱۱/ ۱۱۴، ط: بيروت).

وفى «البحوث العلمية لهيئة كبار العلماء بالمملكة العربية السعودية: (۲/ ۴۳۵).

القول الثاني: أن وقت الذبح ينتهي بغروب الشمس من اليوم الثالث من أيام التشريق. وبهذا قال الشافعي: واختاره شيخ الإسلام ابن تيمية وابن القيم ومن وافقهم من أهل العلم.

په بنكاره دلويو علماء كرامو رحجان داول قول طرف ته دئ يعنى چي ايام النحر درې ورځي دئ، (۱۰، ۱۱، ۱۲) د ذى الحجې له امله يې دا قول په كتاب، سنت او اجماع سره ثابت كړى دئ وګورئ:

وقال في (الإنصاف)، : هذا هو الصحيح من المذهب، وعليه جماهير الأصحاب وقطع به كثير منهم. واستدل لهذا القول بالكتاب والسنة والإجماع والأثر والمعنى: أما الكتاب ... الخ. راجع « البحوث العلمية الهيئة كبار العلماء بالمملكة العربية السعودية». (۲/ ۴۳۴-۴۳۵، رئاسة ادارة البحوث العلمية والافتاء). والله تعالى اعلم.

حديث ((الاضحى يومان بعد يوم النحر)) تحقيق:

مالک عن نافع أن ابن عمر رضي الله عنه قال: الأضحى يومان بعد يوم الأضحى وقال مالک إنه بلغه عن على بن أبى طالب مثل ذلک. (مؤطا الإمام مالک، ص ۱۸۸).

وبلاغات الإمام مالک مقبولة بالاتفاق.

قال الشوكاني: هذا في حكم المرفوع لأن مثل هذا لاتقال بالرأي. (نيل الاوطار: ۴/ ۳۵۹).

قلت: هذا الحديث وإن كان منقطعاً لكنه فى حكم المرفوع وسنده يسمى بالسلسلة الذهبية.

قال الألبانى فى تعليقاته على المشكاة (رقم ١٤٧٣): صحيح.

وللحديث شواهد أخرى،

منها: ذكر الطحاوى فى أحكام القرآن بسند جيد عن ابن عباس رضي الله عنه قال: الأضحى يومان بعد يوم النحر. (الجوهر النقى على هامش السنن الكبرى: ٩/ ٢٩٦، دار المعرفة).

ومنها: من طريق ابن أبى شيبة نا زيد بن الحباب عن معاوية بن صالح ثنى أبو مريم سمعت أبا هريرة يقول: الأضحى ثلاثة أيام.

معاوية بن صالح من رجال مسلم، وأبو مريم ثقة، وزيد بن الحباب من رجال مسلم.

ومنها: من طريق وكيع عن شعبة عن قتادة عن أنس رضي الله عنه قال: الأضحى يوم النحر ويومان بعده. صححه ابن حزم. (المحلى ابن حزم: ٧/ ٣٧٧).

ومنها: كان النبى صلى الله عليه وسلم قد نهى عن ادخار لحوم الأضاحى فوق ثلاث. متفق عليه.

فلهذا الحديث يشير بل يوضح لنا أن الأيام الثلاثة أيام ذبح لا ادخار وبعد الثلاثة أيام ادخار لا أيام ذبح وهذا هو المقصود.

شوافعو چي له كوم حديث څخه استدلال كړی دئ د هغه په اړوند ابن التركمانى رحمه الله وايي:

قلت: سليمان هذا متكلم فيه وحديثه هذا اضطرب اضطراباً كثيراً بينه صاحب الاستذكار وبين البيهقى بعضه في هذا الباب ... وفى نوادر الفقهاء لابن بنت نعيم: أجمع الفقهاء أن التضحية فى اليوم الثالث عشر غير جائزة إلا الشافعى فإنه أجازها فيه. (الجوهر النقى: ٩/ ٢٩٦، ٢٩٧).

وفى نصب الراية (۶/ ۲۱۳،كتاب الاضحية) قال: أخرجه ابن عدى فى «الكامل»... عن أبي سعيد الخدرى ﷺ عن النبى ﷺ قال: أيام التشريق كلها ذبح.... وقال ابن أبي حاتم فى «كتاب العلل» قال أبي: هذا حديث موضوع بهذا الإسناده. والله ﷻ اعلم.

له تعين پرته خپله او د مؤكل له طرفه د اختري حكم

سوال: د زيد درې زامن له هيواد دباندي اوسي درې سره مالداران دي تر لوى اختر مخكي درو واړو ما ته د اختري كولو وويل، نو ما هم څلور پسونه رانيول، يو پسه د ځان له پاره او درې د هغو له پاره مګر متعين مي نه كړ چي دا زما دئ او دا درې معلوم له دوى څخه د هر يوه له پاره دي، آيا دا اختريان صحيح سوه او كه نه؟

الجواب: شرعاً د ټولو له طرف څخه اختريان صحيح دي:

په المحيط البرهاني كي يې وګورئ:

روى بشر بن الوليد عن أبي يوسف: في رجل له تسعة من العيال، وهو العاشر، فضحى بعشر من الغنم عن نفسه، وعن عياله، ولا ينوي شاة بعينها؛ لكن ينوي العشرة عنهم وعنه؛ جاز في الاستحسان، وهو قول أبي حنيفة رحمه الله. (المحيط البرهانى:۶/ ۴۸۰، الفصل الخامس فى بيان ما يجوز فى الضحايا...، مكتبة رشيدية). (وكذا فى الفتاوى الهندية، ناقلاً عن المحيط: ۵/ ۳۰۰).

نور زياتي حوالې مخكي تېري سوي هلته يې هم كتلاى سي. والله ﷻ اعلم.

د غصب سوي بزې د اختري حكم

سوال: يوه سړى د چا پسه غصب كړي بيا يې د هغه اختري وكړ اوس كه مالك هغه ته اجازه وركړي، نو آيا د غاصب له طرف څخه اختري اداء سو او كه نه؟ او واجب يې له ذمي څخه ساقط سو او كه نه؟ كه اداء سوي وي، نو دا څنګه دلته خو اجازه پر معدوم شى واقع سوه؟

الجواب: په دې صورت كي كه مالك هغه د ژوندى پسه ضامن كړى وي، نو دا اختري د غاصب له طرف څخه اداء سو كه څه هم د غلا او غصب ګناه يې سته، پاته سوه دا خبره چي پسه خو ذبح سوي ؤ او دا پر معدوم شى اجازه ده كوم چي باطل ده، د دې جواب دا دئ چي غاصب چي كله ضمان اداء كړ، نو د دې پسه مالك سو او د وجوب ضمان سبب غصب دئ، نو د ضمان اداء كول د غصب

وخت ته منسوبيږي، نو مطلب به يې دا سي چي غاصب يې دغصب په وخت كي مالك سو او ذبح له غصب وروسته وسوه، لهذا اخترى يې صحيح دئ مګر د ناروا كار دابتداء له امله شخه ګناه كاره دئ، نو پر دې سړى توبه او استغفار لازم او ضروري دئ:

قالی فی رد المحتار: قال في البدائع: غصب شاة فضحى بها عن نفسه لا تجزئه لعدم الملك ولا عن صاحبها لعدم الإذن، ثم إن أخذها صاحبها مذبوحة وضمنه النقصان فكذلك لا تجوز عنهما وعلى كل أن يضحي بأخرى، وإن ضمنه قيمتها حية تجزىء عن الذابح لأنه ملكها بالضمان من وقت الغصب بطريق الاستناد فصار ذابحا شاة هي ملكه فتجزيه ولكنه يأثم لأن ابتداء فعله وقع محظورا فيلزمه التوبة والاستغفار. (ردّ المحتار: ۶/ ۳۳۱، سعيد). (وكذا فى بدائع الصنائع: ۵/ ۷۶، سعيد).

وفى البدائع: ووجه الفرق (أى إذا ضحى بالشاة المودعة عن نفسه ثم رضى المالك لايجوز، وبالشاة المغصوبة يجوز) خلاف الغاصب، فإنه كان ضامنًا قبل الذبح لوجود سبب وجوب الضمان وهو الغصب السابق ، فعند اختيار الضمان أو أدائه يثبت الملك له من وقت السبب وهو الغصب فالذبح صادف ملك نفسه فجاز. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۷، سعيد). (وكذا فى رد المحتار: ۶/ ۳۳۱، سعيد، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۷۹، كوئته).

په تبيين الحقائق كي راځي:

لأن المضمونات تملک عند أداء الضمان مستنداً إلى وقت وجود سبب الضمان (وهو الغصب فيستند إلى وقت الغصب فكأنه صار مالكاً حين الغصب). (تبيين الحقائق: ۳/ ۱۸۶، باب الوطء الذى يوجب الحد، ط: ملتان).

وفى البدائع: قال: لأن المضمونات تملک عند أداء الضمان من وقت الغصب. (بدائع الصنائع: ۶/ ۱۶۷، سعيد).

وفي الهداية: وكذلک الملک فی المضمون لأن المضمونات تملک بأداء الضمان مستنداً إلى وقت الغصب عندنا. (الهداية: ۳/ ۳۷۵، كتاب الغصب).

وفی المحيط البرهانی: في «المنتقى»: رجل غصب أضحية غيره، وذبحها عن نفسه، وضمن القيمة لصاحبها أجزأه ما صنع، والذبح يخالف الإعتاق ... والفرق: أن عند أداء الضمان يثبت للغاصب الملك مستنداً إلى وقت الغصب السابق، والمستند فائت للحال من وجه، ومن ذلك الوقت من وجه، وكان الملك فيما بين الغصب وأداء الضمان ثابتاً من وجه، ومثل هذا الملك لا يكفي لنفاذ العين، ويكفي لنفاذ القرب . (المحيط البرهانی: ۶/ ۴۸۳، الفصل السابع فی التضحية عن الغير، وفی التضحية بشاة الغير عن نفسه، مكتبة رشيدية).

لنډه دا چې د غاصب ذبح كونكى اختري اداء سو مګر د ګناه كاري له امله پر دغه سړی توبه ضروري ده. والله ﷻ اعلم.

د غلا سوي پسه د اختري حكم

سوال: كه یو چا حیوان غلا كړ او د هغه اختري وكړي وروسته پښیمانه سو او د هغه قیمت یې مالک ته وركړ، نو اوس د هغه اختري سوي دئ او كه نه؟ ځینو علماء كرام وایي، چې د فقهي په كتابو كي د غصب مسئله پیدا كیږي چې د مغصوب حیوان له اختري كولو وروسته یې تاوان اداء كړي اختري یې صحیح كیږي مګر د غلا مسئله نه پیدا كیږي، ته د غلا د مسئلې حواله راته ولیكه؟

الجواب: په دې صورت كي چې ذبح كونكی غله د غلا سوي پسه قیمت اداء كړ، نو له دې امله د هغه اختري اداء سو، هو د بنه كار شروع په ګناه سره د كولو له امله پر دې سړی توبه او استغفار لازم دئ او د غلا صریح حواله لاندې وګورئ:

علامه ابن الشحنه الحلبی د اختري جواز لیكلي دئ:

وفي نظم الزندوستي: خمسة أشياء إذا أخذها من ملك الغير تجوز بها الأضحية وضمن قيمتها أولها غصب شاة وضحى بها، والثاني: لو سرق شاة وضحى بها... الخ. (لسان الحكام

فی معرفة الاحکام، ص ۳۸۷، نوع فیما یجوز من الاضحیة ومالایجوز). (وکذا فی خلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۱۷، الفصل الرابع، المکتبة الرشیدیة).

په بدائع الصنائع کي راځي:

لکنه یأثم لأن ابتداء فعله وقع محظوراً فیلزمه التوبة والاستغفار. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۶، سعید، ورد المحتار: ۶/ ۳۳۱، سعید).

یادونه: په احسن الفتاوی کي (۷/ ۵۰۵) کي یې عدم جواز لیکلي دئ او حواله یې د غصب ورکړي ده مګر موږ له حوالې سره جواز لیکلي دئ. والله ﷻ اعلم.

یو اشکال او جواب:

اشکال: ماشاء الله د دې مسئلې حواله خو پیدا سو چي د غلا د حیوان له اختري کولو وروسته که چیري د هغه قیمت مالک ته ورکړي، نو اختري یې وسو ((لو سرق شاة وضحی بها... الخ)) مګر یوه خبره په ذهن کي ګرځي هیله ده چي د دې حل هم راته وښیاست هغه دا ده چي فقهاء کرام لیکلي چي په معدوم شی کي اجازه نه چلیږي، مثلاً که فضولي د یو چا بزه خرڅه کړي او هغه له مشتري سره مړه سي او بیا مالک اجازه ورکړي، نو اجازه یې نه نافذیږي ځکه چي په معدوم شی کي اجازه نه چلیږي کذا فی عامة کتب الفقه.

همدا ډول په هدایه کي راځي:

((ولا نفاذ بدون المحل)) یعنی په هلاک سوي شی کي اجازه نه چلیږي په حاشیه کي ذکر دي

یعنی أن المعقود علیه بالهلاک صار إلی حالة لایجوز ابتداء العقد علیه فلا یلحقها الإجازة. (الهدایة: ۳/ ۳۰، رقم الحاشیة، ص ۱۲). اوس د اختري تر ذبح کولو او خوړلو وروسته اجازه څنګه نافذیږي؟

الجواب: د دې اشکال جواب دا دئ چي غل له ضمان اداء کولو وروسته د دې بزې مالک جوړ سو او د ضمان د وجوب سبب غلا ده، نو د ضمان اداء کول د سرقي او غلا وخت ته منسوبیږي یعنی په اصل کي سارق د غلا په وخت کي مالک سو او ذبح له غلا وروسته سوې ده، لهذا اختري صحیح دي.

وګورئ: فقهاء کرام د مغصوبه پسه تر اختري لاندي لیکي:

... وإن ضمن قيمتها حية تجزى عن الذابح لأنه ملكها بالضمان من وقت الغصب بطريق الاستناد فصار ذابحاً شاة هي ملكه فتجزيه. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۳۱).

په تبيين الحقائق كي راځي:

لأن المضمونات تملک عند أداء الضمان مستنداً إلى وقت وجود سبب الضمان (وهو السرقه فى مسئلتنا فتستند إلى وقت السرقه فكآنه صار مالكاً حين السرقة). (تبيين الحقائق: ۳/ ۱۸۶، امداديه، ملتان).

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۷، سعيد، ورد المحتار: ۶/ ۳۳۱، سعيد، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۷۹).

همدا ډول په هدايه كي هم دا عبارت موجود دئ:

وكذالک الملک فى المضمون لأن المضمونات تملک بأداء الضمان مستنداً إلى وقت الغصب عندنا . (الهداية: ۳/ ۳۷۵).

البته دغه قوي ملک نه دئ من وجه ملک دئ او من وجه ملک نه دئ، نو ځکه د عين نفاذ له پاره كافي نه دئ، نو ځکه که د فضولي په بيع كي له مشتري سره يو شى هلاک سو، نو اوس د عين نفاذ له پاره دا نه كافي كيږي او د بائع اجازه كار نه كوي، هو دا ضعيف ملک يامن وجه ملک په نفاذ قرب كي موثر كيږي او دا اختري دئ لهذا اختري يې اداء كيږي او دا به وويل سي چي له قيمت اداء كولو څخه يې مالک جوړ سو، نو تر ذبح مخكي ملک ثابت سو او اختري يې اداء سو مګر د فضولي په بيع كي دا نه منل كيږي، كه نه نو د اموالو د ضائع كېدلو دروازه به خلاصه سي.

د دې تفصيل د محيط البرهاني په عبارت كي وګورئ:

والفرق: أن عند أداء الضمن يثبت للغاصب الملک مستنداً إلى وقت الغصب السابق والمستند فاتت للحال من وجه، ومن ذلک الوقت من وجه، وكان الملک فيما بين الغصب وأداء الضمان ثابتاً من وجه، ومثل هذا الملک لا يكفى لنفاذ العين، ويكفى لنفاذ القرب. (المحيط البرهانى: ۶/ ۴۸۳). والله ﷻ اعلم.

په بیع فاسد کي د رانیول سوي بزي د اختري حکم

سوال: یو سړی د اختري حیوان رانیسي بائع غیر مسلم وایي، چې صحیح دئ مګر قیمت هغه ایږدم چې حیوان وځرول او بیا یې غوښه وتلل سي، د دې وزن په اعتبار سره یې قیمت اخلم، مشتري هم دې ته اماده سوه او حیوان یې رانیوي اختري یې وکړ، نو آیا اختري یې صحیح دئ او که نه؟ حال دا چې دغه بیع ظاهراً صحیح نه ده؟

الجواب: په دې صورت کي یې په بیع کي پیسې نه دي متعین کړي، نو ځکه دغه بیع فاسده سوه او د بیع فاسدي حکم دا دئ چې ترڅو پوري مبیع موجوده وي هغه دي بېرته ور رد کړي مګر د مبیع د هلاکېدلو په صورت کي د مشتري د قبضې له امله مشتري مالک سو او اختري یې هم صحیح دئ، البته قیمت مثل یې واجب دئ:

په فتاوی شامي کي یې وګورئ:

وأما الثالث: وهو شرائط الصحة.... (منها) معلومة المبيع ومعلومة الثمن بما يرفع المنازعم فلايصح بيع شاة من هذا القطيع وبيع الشي بقيمته. (فتاوى الشامى: ۴/ ۵۰۵، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

تسمية الثمن حين البيع لازمة، فلو باع بدون تسمية الثمن كان البيع فاسداً وذلک لأن مطلق البيع يقتضى المعاوضة فإذا سكت عن بيان الثمن كان غرضه القيمة فكأنه باع بقيمته فيفسد. (شرح المجلة، ص ۱۲۲، لسليم رستم باز).

وفيه أيضاً: البيع الفاسد يصير نافذاً عند القبض الواقع بإذن البائع صراحة أو دلالة ولم ينهه البائع عنه. يعني أن تصرف المشترى فى المبيع يصير جائزاً حينئذً. (شرح المجلة، ص ۲۰۴، لسليم رستم باز).

وفيه أيضاً: البيع الفاسد يفيد الحكم عند القبض يعنى أن المشترى إذا قبض المبيع بإذن البائع صار مالكاً له. (شرح المجلة، ص ۲۰۷).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفی الظهیریة: رجل اشتری شاة شراء فاسداً، فذبحها عن الأضحیة جاز، فإن ضمنه قیمتها حیة فلا شيء علی المضحی. (الفتاوی التاتار خانیة: ۱۷/ ۴۴۶، ط: دیوبند). واللہ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن جابر أن رسول الله ﷺ ضحى بكبشين أملحين أقرنين موجو أين عظيمين سمينين.

الفصل الثانی فیما یجوز به التضحية ومالا يجوز به

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لاتذبحوا إلا مسنة إلا أن يعسر عليكم فتذبحوا جذعة من الضأن . (رواه مسلم: ٢/ ١٥٥).

عن علی رضي الله عنه قال: أمرنا رسول الله ﷺ أن نستشرف العين والأذن.

دوهم فصل

د اختري د حیوان په اړوند احکام

د هوسۍ د اختري کولو حکم

سوال: یو سړی د هوسۍ اختري او عقیقه کول غواړي، آیا د هوسۍ اختري یا عقیقه کولای سي او که نه؟

الجواب: د اختري او عقیقې حیوان معلوم دئ له دې څخه پرته د بل ځنګلي حیوان اختري او عقیقه روا نه ده، د اختري حیوانان په لاندي ډول دي:

اوښ، اوښه، غوا، غوايې، نر ګامیښ، ګامیښه، وزګړي، بزه، مږ، میږ یوازې د دې حیواناتو اختري کول روا دي، نو د هوسۍ اختري او عقیقه روا نه ده او که چیري د یو حیوان نسل ګډ وي بیا یې د مور اعتبار دئ که یې مور پاللې ؤ مثلاً لکه بزه، غوا وغیره، نو اختري یې روا دئ که داسي نه وي، نو روا نه دئ.

په بدائع الصنائع کي یې وګورئ:

وأما محل إقامة الواجب... أما جنسه فهو أن يكون من الأجناس الثلاثة: الغنم أو الإبل أو البقر ، ويدخل في كل جنسٍ نوعه والذكر والأنثى منه والخصي والفحل لانطلاق اسم الجنس على ذلك ، والمعز نوع من الغنم ، والجاموس نوع من البقر بدليل أنه يضم ذلك إلى الغنم والبقر في باب الزكاة ولا يجوز في الأضاحي شيء من الوحش ؛ لأن وجوبها عرف بالشرع والشرع لم يرد بالإيجاب إلا في المستأنس ؛ فإن كان متولدًا من الوحشي والإنسي فالعبرة بالأم فإن كانت أهليةً يجوز وإلا فلا، حتى إن البقرة الأهلية إذا نزا عليها ثور وحشي فولدت ولدًا فإنه يجوز أن يضحى به. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۹، سعيد) . (وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۲۲، سعيد).

وفی الفتاوی السراجية: ولا يجوز بالظبی، والوعل، الخيل، والحمار الوحش. (الفتاوی السراجية، ص ۳۸۵، والمبسوط للامام السرخسی: ۱۲/ ۲۹، ط: بيروت).

په فتاوی بنيات کي راځي:

د اختري حيوان په دوه ډوله دئ، کوچني مثلاً لکه وزګري، بزه، مږ، ميږ او غټ لکه غوا، غوايې، نرګاميښ، ګاميښه، اوښ او اوښه د دې حيواناتو اختري روا دئ، له دې څخه پرته د بل کوم حيوان اختري روا نه دئ. (فتاوی بينات، جلد چهارم، ص ۵۷۰، بحواله الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۹).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی رحيميه: ۵/ ۳۸۸، بعنون هرن کی قربان). والله ﷻ اعلم.

د اختري له پاره ښه او بهتر حيوان

سوال: د اختري له پاره کوم حيوان ښه دئ، مذکر که مؤنث (نر که ښځه) همدا رنګه په لوی حيوان کي شرکت ښه دئ يا له شرکت پرته کوچني حيوان ښه دئ؟

الجواب: د اختري د حيوان له پاره ښه او مستحب دا دي چي ښه چاغ او تيار وي، ښايسته وي غوښې يې خوږي وي او يو داسي عيب پکښې نه وي چي په ليدو يې حيوان بد ښکاري، خو بيا هم په لوی حيوان کي علی الاطلاق مؤنث (ښځه) افضل ده او په کوچني حيوان کي خصي افضل دئ که خصي نه وي، نو مؤنث (ښځه) بهتره ده، همدا ډول د کوچني حيوان اختري د لوی حيوان تر اوومي برخي افضل دئ کله چي کوچني حيوان ښه چاغ او تيار وي:

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذي يرجع إلى الأضحية فالمستحب أن يكون أسمنها وأحسنها وأعظمها لأنها مطية الآخرة ... ومهما كانت المطية أعظم وأسمن كانت على الجواز على الصراط أقدر ، وأفضل الشاء أن يكون كبشًا أملح أقرن موجوءًا ؛ لما روى جابر ﷺ أن رسول الله ﷺ ضحى بكبشين أملحين أقرنين موجوءين عظيمين سمينين . والأقرن : العظيم القرن ، والأملح : الأبيض .... والموجوء : قيل: هو مدقوق الخصيتين ، وقيل : هو الخصي ، كذا روي عن أبي

حنيفة رحمه الله فإنه روي عنه أنه سئل عن التضحية بالخصي فقال : ما زاد في لحمه أنفع مما ذهب من خصيتيه . (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۰، سعید).

وفى الدر المختار: قال: الشاة أفضل من سبع البقرة إذا استويا في القيمة واللحم ، والكبش أفضل من النعجة إذا استويا فيهما ، والأنثى من المعز أفضل من التيس إذا استويا قيمةً ، والأنثى من الإبل والبقر أفضل، حاوي، وفي الوهبانية: أن الأنثى أفضل من الذكر إذا استويا قيمةً .

وفى الشامية: قال في التاترخانية: وفي العتابية: وكان الأستاذ يقول: بأن الشاة العظيمة السمينة تساوي البقرة قيمة ولحماً أفضل من البقرة لأن جميع الشاة تقع فرضاً بلا خلاف..... قوله إذا استويا قيمة، فإن كان سبع البقرة أكثر لحماً فهو أفضل، والأصل في هذا إذا استويا في اللحم والقيمة فأطيبهما لحماً أفضل، وإذا اختلفا فيهما فالفاضل أولى،... قوله: والأنثى من المعز أفضل،.... وقال الطحطاوي: مشى ابن وهبان على أن الذكر في الضأن والمعز أفضل لكنه مقيد بما إذا لم يكن موجوءاً لايكون أفضل. (الدر المختار مع الفتاوى الشامي: ۶/ ۳۲۲، سعید، والفتاوى السراجية، ص ۳۹۱، باب المتفرقات).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۸۴، وفتاوی بینات، جلد چهارم، ص ۵۷۰، وفتاوی محمودیه: ۱۷/، جامعه فاروقیه)..والله ﷻ اعلم.

تر دوه کاله د کمي غوا د اختري حکم

سوال: که دغوا اختري وسي، نو دوه کلن کېدل يې ضروري دي مګر تر دوه کاله د کمي غوا چې بنه چاغه او تياره وي چې د دوو کالو له غوا سره برابره معلومېږي اختري يې روا دئ او که نه؟

الجواب: شرعاً تر دوو کالو د کمي غوا اختري روا نه دئ، هو په پسه کي دا تخفيف سته چي د شپږو مياشتو پسه وي ديوه کال له پسه سره برابر معلومېږي، نو د هغه اختري کول روا دي:

په مسلم شريف کي حديث شريف دئ وګورئ:

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لاتذبحوا إلامسنة إلا أن يعسر عليكم فتذبحوا جذعة من الضأن. (رواه مسلم: ۲/ ۱۵۵).

وقال فی معجم لغة الفقهاء: المسن: من البقر ما جاوز السنتين.

(cow more than two years old) (معجم لغة الفقهاء، ص ۴۲۹).

وفي شرح مسلم للإمام النووی: قال العلماء: المسنة هی الثنية من كل شيء من البقر والغنم فما فوقها وهذا تصريح بأنه لايجوز الجذع من غير الضأن في حال من الأحوال وهذا مجمع عليه. (الشرح الكامل: ۲/ ۱۵۵). (وكذا فی بذل المجهود: ۹/ ۵۴۲، دار البشائر الاسلامية).

وفی تكملة فتح الملهم: أجمع الفقهاء على أن الجذع إنما يجزئ من الضأن ولا يجزئ فی المعز ولا في البقر والإبل وإنما تجب فيها الثني. (تكملة فتح الملهم: ۳/ ۵۵۷).

په اعلاء السنن کي راځي:

اختلفوا في تقدير الجذع والثنی على أقوال، والمعتمد عندنا ـ معشر الحنفية ـ أن الجذع من الضأن ابن ستة أشهر، والثنی منها ومن المعزما تم له سنة ودخل فی الثانية، ومن البقر ما تم له سنتان ودخل فی الثالثة، ومن الإبل ما تم له خمس سنين ودخل فی السادسة. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۴۲، باب مايجوز فی الضحيايا من السن، ادارة القرآن).

وللاستزادة انظر: (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۰، سعيد).

حضرت مولانا قاضي ثناء الله پانی پتي رحمه الله وايي:

او دا شرط دئ چي غوائې او ګامېښه به تر دوو کالو کم نه وي او اوبښ به تر پنځو کالو کم نه وي. (مالا بدمنه. ص ۱۶۷).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

د اختري د حيوان ((مسنة)) کېدل ضروري، يعنی اوبښ د پنځو کالو، غوائې وغيره د دوو کالو، پسه، بزه وغيره د يوه کال کېدل ضروري دي، تر دې د لږ عمر والا حيوان اختري روا نه دئ ځکه چي

تر دي لږ عمر والا حیوان سنة نه دئ، البته د شپږو میاشتو پسه (مږ) چې داسې چاغ او تیار وي چې یو کلن معلومیږي، نو د هغه اختري روا دئ. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۳۸۷).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۳۷۴، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

د اختري د حیوان د غاښو حکم

سوال: دغوا په اختري کې دوو غاښو روا دي او که نه او څومره غاښونه یې ضروري دي؟

الجواب: د اختري د حیوان عمرونه متعین دي، د غوائي دوه کلن کېدل ضروري دي او د غاښو یې څه اعتبار نه سته چې کله واښه ښه خوړلای سي، هو که چیرې واښه په سمه توګه نه سي خوړلای، نو بیا د هغه اختري روا نه دئ:

په هدایه کې یې وګورئ:

قال ويجزىء من ذلك كله الثنى فصاعدا إلا الضأن، والثنى منها ومن المعز ابن سنة ومن البقر ابن سنتين ومن الإبل ابن خمس سنين ويدخل فى البقر الجاموس لأنه من جنسه. (الهداية: ۴/ ۴۴۹، وكذا فى الدر المختار: ۶/ ۳۲۰، سعيد).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وتخصيص هذه القربة بس دون سن أمر لايعرف إلا بالتوقيف فيتبع ذلک... وتقدير هذه الأسنان بما قلنا لمنع النقصان لا لمنع الزيادة حتى لوضحى بأقل من ذلک سناً لايجوز. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۰، سعيد).

وفيه أيضاً: وأما الهتماء وهي التي لا أسنان لها فإن كانت ترعى وتعتلف جازت وإلا فلا وذكر فى المنتقى عن أبي حنيفة أنه أن كان لايمنعها عن الاعتلاف تجزيه وإن كان يمنعها عن الاعتلاف إلا أن يصب في جوفها صباً لم تجزه. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد).

وفی الموسوعة الفقهية الكويتية: حكم التضحية بالهتماء.... ذهب الحنفية فی الصحيح إلى أن الهتماء إن كانت ترعى وتعلف جازت التضحية بها. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۴۲/ ۱۵۶).

وللاستزادة انظر: (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۲- ۲۵۳، باب جواز التضحية بالثولاء والهتماء والثرماء، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۸، والفتاوى السراجية، وتكملة فتح القدير، والعناية، والجوهرة النيرة، باب الهدى).

په کفايت المفتي کي راځي:

د اختري له پاره د حيوانانو عمرونه معلومه دي، بزه، وزکړي، به د يوه کال وي، غوائي د دوو کالو خو په اکثر حالاتو کي د حيوانانو عمرونه ښه معلوم نه وي، نو ځکه يې د هغه غاښونه د عمر د معلومولو له پاره او پر دې باندي د عمل کولو حکم ورکړی دئ. (کفايت المفتی: ۸/ ۲۳۷).

په فتاوی بينات کي راځي:

غاښ وتل يې ضروري نه دي بلکي د مودې پوره کېدل يې شرط دي. (فتاوی بينات: ۴/ ۵۷۱).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په غاښ کي اصل معيار دا دئ چي حيوان واښه خوړلای سي، نو اختري يې صحيح دئ که نه؟ نو صحيح نه دئ ځکه چي له غاښو څخه مقصد همدغه دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۵۱۴).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۳۶۴- ۳۶۸، ۳۷۴، جامعه فاروقيه، وفتاوی رحيميه: ۵/ ۳۸۸، وامداد الفتاوی: ۳/ ۶۱۲).

يادونه: ښکاره دي وي چي د فقهي او فتاواؤ په ډېرو کتابو کي دا قيد ذکر سوی دئ چي زيات غاښونه يې پاته وي، نو اختري يې صحيح دئ که نه؟ نو روا نه دئ، دا د امام ابو يوسف رحمه الله قول دئ او مذهب نه دئ اصل مذهب دا دئ چي د غاښ څه اعتبار نه سته اصل اعتبار يې پر واښو خوړلو دئ کوم چي ذکر سو، همدا ډول له امام صاحب رحمه الله څخه منقول دي او په اعلاء السنن کي يې تحقيق کړی دئ چي دغه ظاهر الروايه دئ. والله تعالی اعلم.

د مات سوي ښکر حيوان د اختري کولو حکم

سوال: نن سبا په بزګرانو کي دغه طريقه رواج ده چي هغه د حيواناتو ښکر له بيخ څخه را کاږي ځکه چي له هغو سره په ډېر شمېر حيوانان وي او ديوه پر بل د حمله کولو ډېره انديښنه وي، خصوصاً حلال ځای ته د بوتللو په وخت کي له ډېرو ستوزنو سره مخ کيږي، نو آيا د داسي بې ښکرو حيوانانو اختريان روا دي او که نه؟

الجواب: د کومو حيواناتو چي بالکل ښکر نه وي يا مات سوي وي د هغو اختريان درست دي، البته که ښکر له بيخ څخه مات سوي ؤ يا له بيخ څخه کښل سوي ؤ او د هغه اثر دماغ ته رسېدلی ؤ، نو د داسي حيواناتو اختري کول روا نه دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وتجزي الجماء وهي التي لا قرن لها خلقةً ، وكذا مكسورة القرن تجزي لما روي أن سيدنا عليا ﷺ سئل عن القرن فقال : لا يضرك أمرنا رسول الله ﷺ أن نستشرف العين والأذن وروي أن رجلًا من همذان جاء إلى سيدنا علي ﷺ فقال : يا أمير المؤمنين البقرة عن كم ؟ قال : عن سبعةٍ ثم قال : مكسورة القرن ؟ قال : لا ضير... إلى قوله: فإن بلغ الكسر المشاش لا تجزيه، والمشاش : رؤوس العظام مثل الركبتين والمرفقين. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۶، سعيد). (وكذا في رد المحتار: ۶/ ۳۲۳، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۷).

په فتاوى بينات کي راځي:

که چيري د حيوان ښکر له بيخ څخه مات سوي ؤ دا ډول چي دماغ يې ورڅخه متاثر سوي ؤ، نو د داسي حيواناتو اختري روا نه دئ او که لږ مات سوي وي يا يې بالکل ښکر نه وي لکه داوبښ، نو له څه کراهت پرته يې اختري روا دئ. (فتاوى بينات، جلد چهارم، ص ۵۶۲، از قلم حضرت مفتي ولی حسن).

په بل ځای کي وايي:

ښکر مات سوي ؤ مګر بيخ يې پاته ؤ هډوکی يې راوتلی ؤ په سترګو ليدل کېدئ، نو اختري يې روا دئ که داسي نه وي، نو روا نه دئ. (فتاوى بينات: ۴/ ۵۷۱، از قلم مفتي عبد السلام صاحب).

فقيه الامت حضرت مفتي محمود حسن ګنګوهی رحمه الله:

د هدايې او حجة الله البالغې دعبارت په منځ کې له تطبيق ورکولو وروسته ليکي:

لنډه دا چې درې شيان جلا جلا دي: (۱) جماء، د کومي چې مور زاده ښکر نه وي، (۲) مکسوره، د کومي چې ښکر مات سوي وي، (۳) اعضب، د کومي چې ښکر له بيخ څخه ايستل سوي وي داولو دوو اختري صحيح دئ دآخرني اختري صحيح نه دئ. (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۳۷۸).

د نور تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی رحيميه: ۵/ ۴۰۹– ۴۱۰، مکتبة الاحسان ديوبند). والله ﷻ اعلم.

د ذبح په وخت کې د ښکر له بيخ څخه د ماتېدو حکم

سوال: داختري حيوان د ذبح په وخت کې زور واخستئ او ښکرې له بيخ څخه مات سو، نوآيا د داسي حيوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: که د اختري د ذبح کولو په وخت کې په اختري کې يو داسي عيب پيدا سي چې له اختري څخه مانع وي، نو د هغه حيوان اختري روا دئ، نو ځکه په دې صورت کې د ذبح کولو په وخت کې له بيخ څخه د ښکر مات سوي حيوان اختري روا دئ ځکه چې له دې څخه ځان ساتل مشکل دي.

په هدايه کې يې وګورئ:

ولو أضجعها فاضطربت بانكسرت رجلها فذبحها أجزأه استحساناً. (الهداية: ۴/ ۴۴۸).

وفي العناية: قوله فانكسرت رجلها، من باب ذكر الخاص وإرادة العام فإنه إذا أصابها مانع غير الانكسار بالاضطراب حالة الاضجاع للذبح كان الحكم كذلك. (العناية شرح الهداية على هامش فتح القدير: ۹/ ۵۱۶).

په مجمع الانهر کې راځي:

ولا يضر تعييبها من اضطرابها عند الذبح، وفي الهداية ولو أضجعها ...لأن حالة الذبح ومقدماته ملحق الذبح فكأنه حصل به اعتبارًا أو حكمًا وكذا لو تعيبت في هذه الحالة فانفلتت ثم أخذت من فوره وكذا بعد فوره عند محمدٍ خلافًا لأبي يوسف. (مجمع الانهر: ۲/ ۵۲۰).

وفی البدر المنتقی: ومفاده ترجيح قول محمد وبه جزم فی المضمرات فقال: ولو تركها في ذلک اليوم وذبحها فی الغد أجزأته. (بدر المنتقی فی شرح الملتقی: ۲/ ۵۲۰).

وكذا فی الفتاوی التاتار خانية، وزاد عليه بقوله: وفی العتابية: وعليه الفتوی. (أی علی قول محمد). (الفتاوی التاتار خانية: ۱۷/ ۴۳۳، ط: ديوبند).

وللاستزادة انظر: (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۲۵، سعيد، والبحر الرائق: ۸/ ۱۷۷، كوئته، والفتاوی الولو الجية: ۳/ ۸۱، بيروت).

په فتاوی محموديه كي راځي:

د هغه اختري دي وسي، د اختري كولو له پاره په ځملولو كي كه چيري په هغه كي يو داسي عيب پيدا سي، نو له هغه ځخه په اختري كي څه تاوان نه راځي. (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۳۸۷). والله ﷻ اعلم.

چي مور زاده يې غوږونه نه وي د هغه د اختري حكم

سوال: د كوم حيوان چي د پيدائښت له وخت ځخه غوږونه يا لكۍ نه وي، نو د هغه حيوان اختري كول روا دي او كه نه؟ همدا رنګه كه يې غوږ پرې سوي وي، نو د اختري حكم يې څه دئ؟

الجواب: مشهور او مفتی به قول دا دئ چي د كوم حيوان له پيدائښت ځخه غوږونه يا لكۍ نه وي، د هغه اختري روا نه دئ، البته د امام ابو حنيفه رحمه الله يو قول دا دئ چي د كوم حيوان له پيدايښت ځخه غوږونه يا لكۍ نه وي د هغه حيوان اختري روا دئ، نو كه چيري يو چا اختري كړي وي، د دې روايت په رڼا كي داعا دي حكم نه وركول كيږي او كه يې غوږ تر يوه ثلث زيات پرې سوي ؤ د هغه اختري روا نه دئ، تر دې چي كم وي اجازه يې سته:

په فتاوی شامی كي يې وګورئ:

قوله: ولا التي لا ألية لها خلقة، الشاة إذا لم يكن لها أذن ولا ذنب خلقة. قال محمد: لا يكون هذا ولو كان لا يجوز، وذكر في الأصل عن أبي حنيفة أنه يجوز، خانية، ثم قال: وإن كان لها ألية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز أما على قول أبي حنيفة فظاهر لأن عنده لو لم يكن لها

أذن أصلا ولا ألية جاز، وأما على قول محمد صغيرة الأذنين جائزة، وإن لم يكن لها ألية ولا أذن خلقة لا يجوز . (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۲۵، سعيد).(وكذا فى فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۳).

وفى لسان الحكام: قال: فإن لم يكن لها أذن خلقة لا تجوز، وكذا إذا لم يكن لها إحدى الأذنين. وروى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله إن لم يخلق لها أذن تجوز، وهكذا روى عن محمد رحمه الله. (لسان الحكام، ص ۳۸۷، كتاب الاضحية، دار الفكر، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۰).

په محیط البرهانی کي راځي:

وروى أسد بن عمرو عن محمد ما لم يخلق لها أذنان يجوز، وفى الضحايا للحسن بن زياد، قال ابو حنيفة: جاز إذا خلقت بلا أذنين. (المحيط البرهاني: ۶/ ۴۷۸، مكتبة الرشيدية، وكذا فى الفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۴۲۷، ديوبند).

وفى الفتاوى الولو الجية: ولايجوز أن يضحي بشاة ليس لها أذنان، خلقت كذلک، لأنها لو كانت فائتة إحدى الأذنين بعارض، فلايجوز، فإذا كانت فائتة الأذنين من الأصل أولى أن لاتجوز. (الفتاوى الولو الجية: ۳/ ۸۱، بيروت). (وكذا في الهداية: ۴/ ۴۴۸).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وقال الفقيه أبو الليث: إن كانت الأضحية مقطوعة الأذن الواحدة أكثر من الثلث لايجوز في قول أبي حنيفة. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۲).

وفيه أيضاً: والصحيح أن الثلث ومادونه قليل ومازاد عليه كثيرو عليه الفتوى. (فتاوى قاضيخان: ۳/ ۳۵۴).

په فتاوی بینات کي راځي:

د کوم حیوان چې له پیدائښت څخه غوږونه یا لکۍ نه وي یا یې له غوږو او لکۍ څخه تر دریم ثلث زیاته برخه نه وي، نو د هغه اختري روا نه دئ او که یې د غوږو یا لکۍ دوه ثلث پاته ؤ، نو د هغه اختري روا دئ. (فتاوی بینات: ۴/ ۵۷۱).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۱۰، دیوبند، وجواهر الفقه: ۶/ ۳۲۶، کراچی). والله ﷻ اعلم.

د کوم حیوان چې مور زاده غوږونه کوچني وي د هغه د اختري حکم

سوال: که د یو حیوان له خپل پیدائښت څخه غوږونه ډېر کوچني وي، نو د هغه اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د کوم حیوان چې له خپل پیدائښت څخه غوږونه کوچني وي د هغه اختري روا دئ: په الدر المختار کې یې وګورئ:

فلو لـها أذن صغيرة خلقة أجزأت. (الدر المختار: ۶/ ۳۲۴، سعيد).

په عالمګیری کې راځي:

وتـجزئ السكاء وهي صغيرة الأذن. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۷، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد).

وفی الـمبسوط: فأما صغيرة الأذن تـجزئ لأن الأذن منها صحيحة وإن كانت صغيرة. (المبسوط للامام السرخسی: ۱۲/ ۱۷، ط: بيروت).

وفی الـمحيط البرهاني: وفي «زيادات نوادر هشام» قال أبو حنيفة: إذا كان لـها أذنان صغيران يـجوز. (المحيط البرهانی: ۶/ ۴۷۸، مكتبه رشيديه).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

د کوم حیوان چې له پیدائښت څخه غوږونه کوچني وي د هغه اختر روا دئ. والله ﷻ اعلم.

د شرقاء او خرقاء حيوانانو د اختري حكم

سوال: په حديث شريف كي د شرقاء او خرقاء حيوانانو د اختري ممانعت راغلى دئ، حال دا چي د فقهاء كرامو په آند كه تر نصف يا تر ثلث كم پرې سوي وي، د هغه حيوان اختري روا دئ. آيا د فقهاء دا قول خو د حديث څخه خلاف نه دئ؟

الجواب: په حديث شريف كي راځي:

عن علي رضي الله عنه قال: أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نستشرف العين والأذن ولانضحي بعوراء ولامقابلة ولامدابرة ولاخرقاء ولاشرقاء..... (رواه ابو داؤد: ۲/ ۳۸۸، ط: فيصل، والترمذى: ۱/ ۲۷۵).

وعن علي رضي الله عنه أن النبى صلى الله عليه وسلم نهى أن يضحى بعضباء الأذن والقرن. (ابو داود: ۲/ ۳۸۸).

له مذكوره احاديثو څخه معلوميږي چي د خرقاء او شرقاء حيوان اختري روا دئ مگر دغه روايت مجمل دئ او د حضرت قتاده رضي الله عنه حديث مفسر دئ په كوم كي چي دا راغلى دي چي د كوم حيوان نيمايې يا تر نمياېي زيات غوږ پرې سوي وي د هغه اختر روا دئ او كه تر نميايې لږ پرې سوي وي د هغه حيوان اختري روا دئ او قاعده دا ده چي كله مجمل او مفسر جمع سي، نو مفسر د مجمل وضاحت منل كيږي او پر دې عمل كيږي:

د حضرت قتاده رضي الله عنه مفسر حديث په لاندي ډول دئ:

أخرج أبو داؤد عن قتادة رضي الله عنه قال: قلت لسعيد بن المسيب: ما الأعضب؟ قال النصف فما فوقه. (ابو داؤد، رقم ۲۸۰۶).

قال العلامة ظفر أحمد العثاني: أقول: ما ورد في حديث علي رضي الله عنه أنه صلى الله عليه وسلم نهى أن يضحى بعضباء الأذن والقرن فتفصيله أن العضب فى الأذن أن يكون النصف فما فوقه مقطوعاً، كما رواه شعبة عن قتادة عن سعيد بن المسيب ويرجع إليه ماروى هشام عن قتادة أنه قال: قلت: لسعيد بن المسيب: ما الأعضب؟ قال: النصف فما فوقه، بأن يقال معنى قوله: ما الأعضب أى ما أعضب الأذن؟ جمعاً بين الروايات إرجاعاً للمجمل إلى المفسر...

فتحصل من ذلک جواز التضحية بما قطع أقل من نصف أذنها،... وعدم جواز ما قطع النصف من أذنها أو أكثر من ذلک... هذا هو وجه المسألة. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۳۶- ۲۳۷، باب مايجوز التضحية بها ومايكره، ادارة القرآن).

وفى بذل المجهودک ولاخرقاء أي مثقوبة الأذن ثقباً مستديراً، ولاشرقاء: أى مشقوقة الأذن طولاً من الشق، وهو الشق، وقيل: الشرقاء: ما قطع أذنها طولاً والخرقا ما قطع أذنها عرضاً. قال المظهر: لاتجوز التضحية بشاة قطع بعض أذنها عند الشافعى وعند أبي حنيفة يجوز إذا قطع أقل من النصف، ولابأس بمكسورة القرن. قال الطحاوى: أخذ الشافعي بالحديث المذكور، وما قاله أبو حنيفة هو الوجه، لأنه يحصل به الجمع بين هذا وحديث قتادة،... وأما قول ابن حجر: وعند أبي حنيفة يجزئ ما قطع دون نصف أذنه وهو تحديد يحتاج لدليل، فهو إنما نشأ من قلة الإطلاع على أدلة المجتهدين، وإلا فالمجتهد أسير الدليل. (بذل المجهود: ۹/ ۵۵، ط: دار البشائر الاسلامية).

وأخرج أبو داود عن عبيد بن فيروز أنه قال سألت البراء بن عازب ﷺ مالا يجوز فى الأضاحى؟ فقال: قام فينا رسول الله ﷺ.... فقال: أربع لاتجوز فى الأضاحى: العوراء بين عورها، والمريضة بين مرضها، والعرجاء بين ظلعها، والكبير التى لاتنقى... (ابو داؤد: ۲/ ۳۸۷، فيصل).

قال العلامة في إعلاء السنن: قال العبد الضعيف: قال الخطابي فى حديث البراء: إن فيه دليلاً على أن العيب الخفيف فى الضحايا معفو عنه، ألا تراه يقول: بين عورها... فالقليل منه غير بين، فكان معفواً عنه، انتهى. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۳۸، ادارة القرآن، كراچى).

په اخر كي دفقهاء كرامو عبارات وګورئ:

قال فی « رد المحتار»: (قوله ومقطوع أكثر الأذن إلخ) في البدائع : لو ذهب بعض الأذن أوالألية ....ذكر في الجامع الصغير إن كان كثيرًا يمنع ، وإن يسيرًا لا يمنع . واختلف أصحابنا في الفاصل بين القليل والكثير ؟ فعن أبي حنيفة أربع رواياتٍ : روى محمد عنه في الأصل والجامع الصغير أن المانع ذهاب أكثر من الثلث ، وعنه أنه الثلث ، وعنه أنه الربع ، وعنه أن يكون الذاهب أقل من الباقي أو مثله، بالمعنى والأولى هي ظاهر الرواية ، وصححها في الخانية حيث قال : والصحيح أنه الثلث ، وما دونه قليلٍ ، وما زاد عليه كثير وعليه الفتوى، ومشى عليها في مختصر الوقاية والإصلاح . (رد المحتار: ۶/ ۳۲۳، ۳۲۴، سعيد). (وكذا فی فتاوی قاضیخان: ۳/ ۳۵۴).

قال فی القدوري: فإن كان بقي الأكثر من الذنب والأذن جاز. وقال الشيخ قاسم بن قطلوبغا: قوله بقي الأكثر، الخ. قال الزاهدی: واختيار أبي الليث أنه إذا بقي الأكثر من الأذن والذنب والعين ونحوها جازو عليه الفتوى، وهذا ظاهر الرواية على ما فی الذخيرة، قال: ذكر في ظاهر الرواية أن الثلث وما دونه قليل، والله أعلم. (التصحیح والترجیح علی مختصر القدوری، ص ۴۱۹، ط: بیروت).

قال العلامة العيني فی شرح الكنز ولايضحي بما هو مقطوع أكثر الأذن... لقول علي ﷺ «أمرنا النبي ﷺ أن نستشرف العين والأذن، وأن لانضحي بمقابلة ولامدابرة ولاشرقاء ولاخرقاء» رواه أبو داود، والترمذی، وصححه ... وقيد بقوله: أكثر الأذن، لأنه إذا بقي أكثرها جاز. (رمز الحقائق فی شرح كنز الدقائق: ۲/ ۳۶۹، ط: بیروت).

حضرت مفتي محمد شفيع په جواهر الفقه کي ليکي:

د کوم حيوان چي تر دريمي برخي زيات غوږ يا لکۍ وغيره پرې سوي وي د هغه اختري روا نه دئ، د فقهاء کرامو له مذکوره عباراتو څخه درنا ورځي په ښهر معلوميږي چي فقهاء کرامو دا قول ((

تر نصف یا ثلث زیات پاته وي، نو اختري يې روا دئ)) داحادیثو په منځ کي له تطبیق ورکولو څخه مستنبط کړي دي لکه څنګه چي علامه عینی رحمه الله د ((شرقاء وخرقاء)) حدیث د مقطوعة الاذن تر علت لاندي لیکلي دي، مصنف د بدائع الصنائع لیکي چي دا نهی تنزیهي ده، لهذا پر دې باندي عمل کول مستحب دي او له دې څخه خلاف به کراهت تنزیهي وي:

قال: فالنهی فی الشرقاء والمقابلة والمدابرة محمول علی الندب. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۶، سعید). والله ﷻ أعلم.

عبارات الکتب فی التضحیة بمقطوع الذنب

د لکۍ پرې سوي حیوان د اختري حکم

سوال: دلته په جنوبي افریقا کي د ډېرو پسو له پیدائښت څخه وروسته لکۍ پرې کیږي او ماهرین وایي، چي د دې په پاته کېدو کي د یو خاص مرض او کمزوري وغیره د پیدا کېدو قوي اندیښنه وي، نو اوس پوښتنه د دې لاندي شیانو ده:

۱_ که د لکۍ پرې سوي پسه عمر پوره وي، نو د هغه اختري روا دئ او که نه؟

۲_ فقهاء کرامو ناروا لیکلي ده، دا مسئله پر نص مبني ده او که نه؟ یا یې دا عیب شمارلي دئ او ناروا یې بللې ده او دلته په جنوبي افریقا کي دا عیب نه بلل کیږي؟

۳_ له لکۍ پرېکولو وروسته هغه لکۍ پرې سوي نه ښکاري بلکي په لیدلو کي کوچني لکۍ والا معلومیږي؟

۴_ که یې قدرتي له پیدائښت څخه لکۍ نه وي، نو د هغه اختري روا دئ او که نه؟

۵_ د لکۍ پرې سوي حیوان د اختري عدم جواز متفق علیه دئ او که یوازي د احنافو مذهب دئ؟

۶_ لکۍ چي څومره پرې وي، نو معاف دئ، د دې معیار څه دئ؟

الجواب: په دې مسئله کي د موجوده زمانې د مفتیانو کرامو نظرونه مختلف دي، ډېر علماء کرام یې د فقهاء کرامو د عباراتو له امله ناروا بولی او ځینو علماء کرام وایي، چي دا کار د همدې ځای د حالاتو او آب او هوا په اعتبار سره عیب نه بلل کیږي، بلکي د صحت له پاره مفید بلل کیږي، لهذا د عام رواج او مستندو طبیبانو د نظریاتو په نظر کي نیولو سره دا عیب شمېرل په کار نه دي او د لکۍ پرې سوي حیوان د اختري کولو اجازه ورکول په کار ده بلکي د لکۍ پرې سوي حیوان د اختري ذکر په حدیث شریف کي هم راغلی دئ، خو څومره به پرې وي د دې څه اندازه نه ده پکښې ذکر سوي، هو احتیاط دغه دئ کله چي لکۍ والا حیوان په آسانه پیدا کیږي، نو هغه بهتر دئ:

د ناروا بلونکو دلائل لاندي وګورئ:

قال في الهداية: ولاتجزئ مقطوعة الأذن والذنب أما الأذن فلقوله عليه السلام: استشرفوا العين والأذن أى اطلبوا سلامتهما، وأما الذنب فلأنه عضو كامل مقصود فصار كالأذن. (الهداية: ۴/ ۴۳۱).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذى يرجع إلى محل التضحية فنوعان أحدهما سلامة المحل عن العيوب الفاحشة فلاتجوز.. مقطوعة الأذن والألية بالكلية. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد).

(وكذا فى الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد: ۵/ ۲۱۲، وفتاوى رحيميه: ۵/، وفتاوى بينات: ۴/، وجواهر الفقه: ۶/ ۵۷۱، وعمدة الفقه: ۴/ ۲۴۳).

د جواز والا دلائل وګورئ:

حضرت مفتي رشيد احمد لدهيانوى په احسن الفتاوى کي وايي:

سوال: د پسه تر لم لاندي يوه کوچني لکۍ مبنتي وي دغه لکۍ که پرې سي، نو د هغه اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: باسم ملهم الصواب: د پسه د لکۍ څه اعتبار نه سته لهذا ټوله لکۍ چي يې پرې سوي وي بيا يې هم اختري روا دئ:

قال العلام الحصكفى رحمه الله تعالى: ولا التي لا إلية لها خلقة، مجتبى. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى:

قوله: ولا التي لا ألية لها خلقة، الشاة إذا لم يكن لها أذن ولا ذنب خلقة. قال محمد: لا يكون هذا ولو كان لا يجوز، وذكر في الأصل عن أبي حنيفة أنه يجوز، خانية، ثم قال: وإن كان لها ألية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز أما على قول أبي حنيفة فظاهر لأن عنده لو لم يكن لها أذن أصلاً ولا ألية جاز، وأما على قول محمد صغيرة الأذنين جائزة، وإن لم يكن لها ألية ولا أذن خلقة لا يجوز. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۵، سعيد).(احسن الفتاوى: ۷/ ۵۱۷).

(وكذا في فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ٣/ ٣٥٣).

د مذكوره وجوهاتو پر بناء د مفتي رشيد احمد صاحب قول ډېر مناسب معلوميږي.

❁ په نصوصو كي چي د كومو عيبو ذكر راځي، هم هلته د لكۍ پرېكېدلو هيڅ ذكر نه سته، نو ځكه د لكۍ پرېكېدو عيب قياسي دئ منصوص نه ده:

په سنن ابو داؤد كي روايت موجود دئ:

عن عبيد بن فيروز قال سألت البراء بن عازبٍ: ما لا يجوز في الأضاحي؟ فقال: قام فينا رسول الله ﷺ فقال: أربع لا تجوز في الأضاحي: العوراء بين عورها، والمريضة بين مرضها، والعرجاء بين ظلعها، والكسير التي لا تنقى». قال: قلت: فإني أكره أن يكون في السن نقص، قال: «ما كرهت فدعه ولا تحرمه على أحدٍ». (ابو داود: ٢/ ٣٨٧).

وفي رواية ابن ماجة قال: فإني أكره أن يكون نقص في الأذن... (رواه ابن ماجه، ص ٢٢٧).

عن علي رضي الله عنه قال: أمرنا رسول الله ﷺ أن نستشرف العين والأذن ولانضحي بعوراء ولا مقابلة ولامدابرة ولاخرقاء ولاشرقاء.... (رواه ابو داود: ٢/ ٣٨٨، والترمذي: ١/ ٢٧٥، وابن ماجه، ص ٢٢٧).

عن يزيد ذو مصرٍ قال: أتيت عتبة بن عبدٍ السلمي فقلت: يا أبا الوليد إني خرجت ألتمس الضحايا ... إنما نهى رسول الله ﷺ عن المصفرة والمستأصلة والبخقاء والمشيعة والكسراء.

فالمصفرة: التي يستأصل أذنها حتى يبدو سماخها، والمستأصلة : قرنها من أصله، والبخقاء: التي تبخق (تذهب) عينها، والمشيعة: التي لا تتبع الغنم عجفًا وضعفًا، والكسراء: الكسيرة. (مكسورة الرجل). (أبو داود شريف: ٢/ ٣٨٧).

وعن علي رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى أن يضحى بعضباء الأذن والقرن. (ابو داود: ۲/ ۳۸۸، وابن ماجه، ص ۲۲۷).

أخرج أبو داود عن قتادة رضي الله عنه قال: قلت لسعيد بن المسيب: ما الأعضب؟ قال النصف فما فوقه. (ابو داود، رقم: ۲۸۰۶).

په مذکوره احاديثو کي چي کوم عيوب ذکر سوو په هغو کي د لکۍ پرې کېدو هيڅ ذکر نه سته د دې پر خلاف د ابن ماجه او نور د حديثو له کتابو څخه يې جواز معلوميږي وګورئ:

عن أبي سعيدٍ الخدري، قال: ابتعنا كبشًا نضحي به، فأصاب الذئب من الأليته، أو أذنه، وسألنا النبي صلى الله عليه وسلم فأمرنا، أن نضحي به. (سنن ابن ماجه، ص ۲۲۷).

قال ابن الملقن فی «البدر المنير»: (۹/ ۳۲۱، کتاب الضحايا، الحديث السادس بعد الثلاثين):

ورواه أبو حاتم بن حبان في «ثقاته» بالسند المذكور ولفظه: «اشتريت كبشاً أضحى به فقطع الذئب إليته - أو من الألية... الخ،... قال ورواه ابن حزم فی «محلاه» بالسند المذكور ولفظه: فعدا الذئب على ذنبه فقطعه... الخ،... قال البيقهی (السنن الكبرى: ۹/ ۲۸۹، بيروت، ومعرفة السنن والآثار: ۱۴/ ۵۰): ورواه الحجاج بن أرطأة، عن شيخ، من أهل المدينة، عن أبي سعيد الخدري قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لا بأس بالأضحية المقطوعة الذنب. قال: وهذا مختصر من الحديث الأول، فقد رواه حماد بن سلمة، عن حجاج، عن عطية، عن أبي سعيد رضي الله عنه «أن رجلاً سأل النبی صلى الله عليه وسلم عن شاة قطع (الذئب) ذنبها يضحى بها؟ فقال: ضح بها.

(وكذا فی التلخيص الحبير: ۴/ ۳۵۵/ ۱۹۷۶، بيروت).

په مذکوره رواياتو کي دغه تفصيل نه سته چي لکۍ يې تر يو ثلث کم پرې سوي ؤ نو ځکه دا قيد لګول چي لکۍ يې لږ پرې ؤ، په ظاهره بې دليل دي:

د شرح الوقايه په حاشيه کي مولانا فتح محمد رحمه الله ليکي:

وما روی ابن ماجه من أبي سعيد الخدري رضي الله عنه... محمول على أن مطلق الذهاب من الألية أو الأذن ليس بشيء، ولا دلالة للحديث على ذهاب الأكثر فلا تقوم حجة. (تكملة عمدة الرعاية: ۴/ ۴۱، سعيد).

مطلب دا چي په لوړ حديث شريف کي مطلق لکۍ پرېکول مراد دي له دې حديث شريف څخه د لکۍ تر ثلث کم پرې مراد اخيستل صحيح نه دي.

که څه هم پر مذکوره رواياتو کلام سته چي پر علماء کرامو پټ نه دي.

❁ ځينو مشائخ رحمهم الله د عيوبو د معرفت يو اصل بيان کړی دئ چي هر هغه شی چي يو خاص قسم منفعت يا ظاهري جمال بالکل ختم کړي، نو هغه عيب دئ د همدې له امله اختري روا نه دئ:

علامه زيلعي رحمه الله دغه اصل ذکر کوي او فرمايي:

ومن المشايخ من يذكر في هذا الفصل أصلًا، ويقول: كل عيبٍ يزيل المنفعة على الكمال أو الجمال على الكمال يمنع، وما لا يكون بهذه الصفة لا يمنع. (تبيين الحقائق: ۶/ ۶، ملتان، وكذا في الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۹، والمحيط البرهاني: ۶/ ۴۷۹، مکتبه رشيديه).

په قاموس الفقه کي راځي:

د عيوبو په اړوند اصول دا دي چي که چيري د همدې له امله کوم خاص منفعت يا ظاهري جمال بالکل ختم سي، نو د دې حيوان اختري روا نه دئ او که داسي نه وي، نو اختري يې روا دئ مګر په مبحوث عنها مسئله کي له پيدائښت څخه وروسته فوراً لکۍ ورڅخه پرې کول چي د دې له امله د لويوالی وروسته لکۍ پرې سوي نه معلوميږي، نو پر دې بنياد دا عيب بلل مشکل دئ.

❁ ځينو فقهاؤ ليکلي دي چي لکۍ عضو کامل ده او د لکۍ پرېکول په صورت کي يو پوره عضو ختميږي، نو ځکه دا عيب دئ او اختري يې روا نه دئ؟

د دې جواب دا ورکول کيږي چي لکۍ که څه هم عضو کامل ده مګر د دې د پرېکېدو له امله څخه عيب نه پيدا کيږي، بلکي د ماهرينو په آند د دې صحت دوه ګونه کيږي ځکه چي د پسه لکۍ تقريباً (۱۸) سانتي اوږده وي لکه چي مردارې کوي، نو لکۍ يې ملوث کيږي او د مچانو د کښېناستلو له امله کرار کرار جراثيم پيدا کيږي چي د دې له امله څخه پسه په مسلسل مشکلاتو کي مبتلاء کيږي او

ډنګريږي تر څو چي صحت یې خراب سي او په اختري کي افضل او ښه دا دي چي صحت مند چاغ او تيار حيوان ذبح سي، په خپله رسول الله ﷺ د چاغ او تيار پسه اختري کړی دئ:

په سنن ابن ماجه کي یې وګورئ:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ كان إذا أراد أن يضحي، اشترى كبشين عظيمين، سمينين، أقرنين، أملحين موجوءين، فذبح أحدهما عن أمته...الخ. (رواه ابن ماجه، رقم: ۳۱۲۲، واحمد، رقم: ۲۵۸۸۵، والحاكم، رقم: ۷۵۴۷).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذي يرجع إلى الأضحية فالمستحب أن يكون أسمنها أحسنها وأعظمها لأنها مطية الآخرة. (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۰، سعيد).

او رسول الله ﷺ د خصي حيوان اختري کړی دئ لکه څنګه چي په مذکوره روايت کي تېر سوه، که څه هم په خصي حيوان کي يو اندام معطل سو، خو د دې له امله یې په غوښه کي خوند تور هم زيات سو، نو ځکه دا عيب نه بلل کيږي، همدا رنګه د لکۍ پرې سوي حيوان يو اندام معطل سو، خو د دې له امله یې په صحت، طاقت او غوښه کي زياتوالی راغلي، نو ځکه دا عيب بلل نه دي په کار.

قال في البدائع: روي عن أبي حنيفة أنه سئل عن التضحية بالخصي فقال: ما زاد في لحمه أنفع مما ذهب من خصيته. (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۰، سعيد).

وقال في «الفقه الحنفي في ثوبه الجديد» (۵/ ۲۱۰) وأخرج أبو داود... عن جابر ذبح النبي ﷺ كبشين أقرنين أملحين موجوئين... وفيه جواز الخصي في الأضحية، وقد كرهه بعض أهل العلم لنقص العضو لكن ليس هذا عيباً، لأن الخصاء يفيد اللحم طيباً، وينفي عنه الزهومة وسوء الرائحة. (وكذا في تكملة فتح الملهم: ۳/ ۵۶۲).

په امداد الفتاوی کي حضرت حکيم الامت رحمه الله د يو سوال په جواب کي ليکي:

سوال: خصي کول درې ډوله دي د یوه خصیتني کوټي او د دوهم خصیتیني خیژوي او د دریم هغه راباسي په دې درو واړو کي کوم صحیح دي یا درې سره صحیح دي او کله چي خصتني وایستل سي، نو تر ثلث زیات اندام بلکي پوره اندام ختم سو؟

الجواب: درې واړه روا دي او دغه اندام مقصد نه دئ، نو ځکه له خصي کېدو څخه یې غوښه نوره هم خوږېږي، لهذا د دې ختمیدل تاوان نه کوي لکه څنګه چي په عالمګیري کي د مجبوب حیوان د اختري جواز صریح لیکلي دئ. (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۴۹).

یو بل ځای لیکي:

که د اندام د ختمیدو شبه ؤ نو د هغه اندام ختمیدل مانع دئ چي په قیمت کي یې تاوان راولي او له دې څخه خو قیمت نور هم زیاتیږي، لهذا مضر نه دي. (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۵۰).

❁ همدا رنګه د پسه له لویوالی وروسته لکۍ پرې سوي نه ښکاري بلکي خلقة کوچني لکۍ والا ښکاري او د فقهاء کرام له تصریحاتو سره سم د کوم حیوان چي لکۍ خلقة کوچني وي د هغه اختري روا دئ.

په فتاوی قاضي خان کي یې وګورئ:

وإن كان لها إلية صغيرة خلقة مثل الذنب خلقة جاز. (فتاوی قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۵۳).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

والتي لها إلية صغيرة تشبه الذنب يجوز. (الفتاوی البزازية على هامش الفتاوی الهندية: ۲/ ۹۳، والفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۷، والمحيط البرهاني: ۶/ ۴۷۸، مکتبه رشیدیه، ولسان الحكام، ص ۳۸۸، نوع فی العيوب).

❁ همدا رنګه د کوم حیوان چي مور زاده لکۍ نه وي د هغه حیوان اختري هم د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند روا دئ، البته د امام محمد رحمه الله په آند ناروا دئ او ډېرو علماء کرامو د امام محمد رحمه الله قول غوره ګڼلي دئ.

په فتاوی شامي کي یې وګورئ:

قوله: ولا التي لا ألية لها خلقة، الشاة إذا لم يكن لها أذن ولا ذنب خلقة. قال محمد: لا يكون هذا ولو كان لا يجوز، وذكر في الأصل عن أبي حنيفة أنه يجوز، خانية، ثم قال: وإن كان لها ألية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز أما على قول أبي حنيفة فظاهر لأن عنده لو لم يكن لها أذن أصلاً ولا ألية جاز، وأما على قول محمد صغيرة الأذنين جائزة، وإن لم يكن لها ألية ولا أذن خلقة لا يجوز. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۵، سعيد). (وكذا فى فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۳).

وفي لسان الحكام: وإن لم يكن لها إلية، خلقت كذلك، قال محمد لاتجوز. (لسان الحكام، ص ۳۸۸، دار الفكر).

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وگورئ: (فتاوى بينات: ۴/ ۵۷۱، وجواهر الفقه: ۶/ ۳۲۶، وفتاوى رحيميه: ۵/ ۴۱۰، عمدة الفقه: ۴/ ۶۴۳).

البته مفتي رشيد احمد صاحب لدهيانوي، د امام ابو حنيفه قول غوره كړى دئ لكه څنګه چې د احسن الفتاوى په حواله ذكر سوه.

❁ همدا رنګه د لكۍ مسئله فقهاء كرامو د غوږ او ښكر پر مسئله قياس كړې ده، لهذا دغه منصوص نه دي بلكي قياسي ده:

مصنف د هدايې ليكي:

ولا تجزىء مقطوعة الأذن والذنب أما الأذن فلقوله عليه الصلاة والسلام: استشرفوا العين والأذن أي اطلبوا سلامتهما، وأما الذنب فلأنه عضو كامل مقصود فصار كالأذن. (الهداية: ۴/ ۴۳۱).

د عموم بلوى او عرف عام له امله څخه قياس پرېښودل كېدلاى سي او مذكوره نصوص هم د دتائيد كوي كه څه هم دغه حديثونه ضعيف دي.

وگورئ علامه شامي رحمه الله وايي:

ثم اعلم أن العرف قسمان عام وخاص فالعام يثبت به الحكم العام ويصلح مخصصاً للقياس والأثر بخلاف الخاص.... قال فى الذخيرة فى الفصل الثامن من الإجارات في مسألة ما لو دفع إلى حائک غزلاً لينسجه بالثلث ومشايخ بلخ كنصيرين يحيى ومحمد بن سلمة وغيرهما كانوا يجيزون هذه الإجارة في الثياب لتعامل أهل بلدهم فى الثياب والتعامل حجة يترک به القياس ويخص به الأثر وتجويز هذه الإجارة فى الثياب للتعامل بمعنى تخصيص النص الذي ورد في قفيز الطحان لأن النص ورد في قفيز الطحان لا فى الحائک إلا أن الحائک نظيره فيكون وارداً فيه دلالة فمتى تركنا العمل بدلالة هذا النص فى الحائک وعملنا بالنص في قفيز الطحان كان تخصيصاً لاتركاً أصلاً وتخصيص النص بالتعامل جائز ألاترى أنا جوزنا الاستصناع للتعامل والاستصناع بيع ماليس عنده وإنه منهي عنه وتجويز الاستصناع بالتعامل تخصيص منا للنص الذي ورد في النهي عن بيع ماليس عند الإنسان لاترک للنص أصلاً لأنا عملنا بالنص في غير الاستصناع. (شرح عقود رسم المفتى، ص :۴۱ – وكذا فى رسالة «نشر العرف فى بناء بعض الاحكام على العرف» المندرجة فى رسائل ابن عابدين:۲/ ۱۱۴، سهيل).

لهذا د غوږ او ښکر په اړوند کي نص موجود ده مګر د لکۍ په اړوند کوم نص نه سته او فقهاء کرامو لکۍ پر غوږ او ښکر قياس کړي ده، نو څنګه چي مقطوع الاذن حيوان معيوب معلوميږي همدا رنګه لکۍ پرې سوي هم معيوب ښکاري او پوره اندام دئ مګر مقطوع الاذن ته معيوب ويل مسلم دي مګر لکۍ پرې سوي حيوان چي لوی سي، نو معيوب نه معلوميږي او په جمال کي يې کوم خاص فرق نه راځي د عام عرف او طبيبانو له تحقيق سره سم لکۍ پرې سوي حيوان صحت مند او غوښه کونکی وي، نو ځکه دلته قياس پرې ښودل کيږي په عرف او عموم بلوی عمل کيږي.

لوړ ذکر سوي ضعيف حديث هم د دې موئيد دئ او د امام احمد بن حنبل رحمه الله له مذهب څخه هم د دې تائيد کيږي:

وګورئ علامه ابن قدامه رحمه الله په المغنی کي وايي:

وتجزئ البتراء وهي المقطوعة الذنب كذلک. (المغنی لابن قدامة الحنبلی: ۳/ ۵۸۵، بیروت).

په العده شرح العمده کي علامه بهاء الدين المقدسي الحنبلي (۵۵۶، ۶۲۴ هـ) وايي، چي لکی مقصد اندام نه دئ، لهذا د لکی پرې سوي حيوان اختري روا دئ:

والأبتر المقطوع الذنب لأن ذلک ليس مقصود. (العدة شرح العمدة، ص: ۲۰۸، بیروت).

له دې څخه معلومه سوه چي دا اجماعي مسئله نه ده بلکي د حنابله ؤ په آند د لکی پرې سوي حيوان اختري روا دئ.

✿ د مقطوع الاذن او مقطوع الذنب معيار:

د احنافو په مذهب کي که غوږ او لکی تر يوه ثلث زيات پرې سوي ؤ، نو د هغه حيوان اختري روا نه دئ، دا ظاهر الرواية او مفتى به قول دئ، خو بيا هم د احنافو په دې اړوند څلور قول دي کوم چي ډېرو فقهاء کرامو ليکلي دي او دوه قوله يې مفتي به بللی دئ.

۱ _ ثلث يا تر ثلث چي لږ پرې سوي وي روا دي مګر که تر ثلث زيات ؤ روا نه دي دغه ظاهر الروايه او مفتى به دئ او ډېرو مشائخ رحمهم الله دغه قول غوره کړي دئ او دا قول پر احتياط باندي هم مبنی دئ ((والاحتياط أليق بالعبادات)).

۲ _ نصف يا تر نصف چي لږ پرې سوي وي نو روا دي مګر که تر نصف زيات پرې سوي ؤ روا نه دي دا د صاحبينو قول دئ او ځينو علماء کرامو دغه قول غوره کړی دئ دا قول د خلکو له پاره اسانه او اوسع دئ د ضروت په وخت کي عمل کول پرې روا دي:

په فتاوى شامی کي راځي:

(قوله ومقطوع أكثر الأذن إلخ) في البدائع : لو ذهب بعض الأذن أوالألية .....ذكر في الجامع الصغير إن كان كثيرًا يمنع ، وإن يسيرًا لا يمنع. واختلف أصحابنا في الفاصل بين القليل والكثير ؟ فعن أبي حنيفة أربع رواياتٍ : روى محمد عنه في الأصل والجامع الصغير أن المانع ذهاب أكثر من الثلث ، وعنه أنه الثلث، وعنه أنه الربع ، وعنه أن يكون الذاهب أقل من الباقي أو مثله، بالمعنى والأولى هي ظاهر الرواية، وصححها في الخانية حيث قال: والصحيح

أنه الثلث ، وما دونه قليل، وما زاد عليه كثير وعليه الفتوى، ومشى عليها في مختصر الوقاية والإصلاح، والرابعة هى قولهما... وهو اختيار الفقيه إبى الليث ... الخ. (رد المحتار: ۶/ ۳۲۳، ۳۲۴، سعيد). (وكذا فى فتاوى قاضيخان: ۳/ ۳۵۴). (وكذا فى فتاوي قاضيخان: ۳/ ۳۵۴، وكذا فى التصحيح والترجيح للعلامة قاسم بن قطلوبغا، وحاشية الدرر، والهداية).

په حاشية الطحطاوى على الدر کي راځي:

ومقطوع أكثر الأذن هو اختيار أبى الليث وعليه الفتوى صح عن المجتبى، وفى الشرنبلالية عن قاضي خان: الصحيح أن الثلث وما دونه قليل وما زاد عليه كثير وعليه الفتوى، فقد اختلف الإفتاء. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۵، كوئته).

وينظر: (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد والمحيط البرهانى: ۶/ ۴۷۹، مكتبه رشيديه).

په احسن الفتاوی کي يې د نصف والا قول ته ترجيح ورکړې ده وګورئ: .(احسن الفتاوى: ۷/ ۵۱۵).

حضرت مولانا زوار حسين صاحب په عمده الفقه کي يو عمده تطبيق بيان کړی دئ:

په لومړی قول ((ثلث)) کي کوم چي ظاهر الروايه دي او ډېر احتياط پکښبي دئ او زمونږ علماء کرامو د فتوی له پاره همدا غوره کړي دي او په څلورم قول ((نصف)) کي توسع دي او د ضرورت په وخت کي پر دې باندي عمل کول روا دي ځکه چي دغه قول هم مفتی به دئ. (عمدة الفقه: ۴/ ۶۴۳).

په مذکوره تفصيل کي د ټولو سوالو جوابونه راغلو. والله ﷻ اعلم.

د تی پرې سوي حيوان د اختري حکم

سوال: که د حيوان له تيو څخه يو يا دوه خراب وي، نو اختري يې کېدلای سي او که نه؟

الجواب: که د څلورو تيو والا حيوان وي، مثلاً لکه غوا، کاميښه او اوښه د دې يو تی خراب وي، نو اختري يې روا دئ مګر که يې دوه تی خراب وي، نو اختري يې روا نه دئ او که چيري د دوو تيو والا حيوان وي مثلاً لکه بزه، ميږ او داسي نور او يو تی يې خراب وي، نو اختري يې روا نه دئ يا يې يو تی تريوه ثلث زيات خراب وي بيا يې هم اختري روا نه دئ.

په فتاوی شامی کي يې وګورئ:

وفي الخلاصة: مقطوعة رؤوس ضروعها لا تجوز، فإن ذهب من واحدة أقل من النصف فعلى ما ذكرنا من الخلاف في العين والأذن. وفي الشاة والمعز إذا لم يكن لهما إحدى حلمتيهما خلقة أو ذهبت بآفة وبقيت واحدة لم يجز، وفي الإبل والبقر إن ذهبت واحدة يجوز أو اثنتان لا، وذكر فيها جواز التي لا ينزل لها لبن من غير علة، وفي التاترخانية والشطور لا تجزي، وهي من الشاة ما قطع اللبن عن إحدى ضرعيها، ومن الإبل والبقر ما قطع ضرعيها لأن لكل واحد منهما أربع أضرع. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۲۵، سعيد).

(وهكذا فی الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۸، ولسان الحكام، ص ۳۸۸، وخلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۲۱).

وفی الفتاوی الهندية: ومن المشائخ من يذكر لهذا الفصل أصلاً ويقول: كل عيب يزيل المنفعة على الكمال أو الجمال على الكمال يمنع الأضحية ومالا يكون بهذه الصفة لايمنع. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۹، وكذا فی المحيط البرهانی: ۶/ ۴۷۹، الفصل الخامس من كتاب الاضحية).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د غوا دوه تی او د بزي يو تی خراب ؤ، نو د هغه حيوان اختري روا نه دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۴۸۷).

په کفايت المفتي کي راځي:

په اوښه، غوا او کامیښه کي د يوه تی په وچيدو سره اختري روا دئ مګر که يې دوه تی خراب سي يا پرې سي، نو اختري يې ناروا دئ. (کفايت المفتی: ۸/ ۲۰۴، دار الاشاعت).

په فتاوی بينات کي راځي:

د کوم حيوان چي تی نه وي يا يې وي خو وچ سوي وي، نو د هغه اختر روا نه دئ. (فتاوی بينات: ۴/ ۵۷۲، مکتبه بينات). والله ﷻ اعلم.

د غوا يو تی نه وي د هغې د اختري حکم

سوال: د غوا يو تی لوېدلی دئ او درې پاته دي په دې صورت کي اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د کومي غوا چي يو تی نه وي يا خراب وي د هغې اختري روا دئ، البته که دوه تی نه ؤ يا خراب ؤ، نو اختري يې ناروا دئ.

په لسان الحکام فی معرفة الاحکام کي علامه ابن الشحنه الحلبی رحمه الله وايي:

وفی الإبل والبقر أن ذهبت واحدة يجوز، وإن ذهبت اثنتان لايجوز، والله أعلم. (لسان الحكام، ص ٣٨٨، نوع فی العيوب).

وفی الخلاصة: وفی الإبل والبقر إن ذهبت واحدة تجوز وإن ذهبت اثنتان لاتجوز (خلاصة الفتاوی: ۴/ ٣٢١). (وكذا فی فتاوی الشامی: ۶/ ٣٢٥، والفتاوی الهندية: ۵/ ٢٩٩).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

که د غوا يو تی نه وي، نو د هغې غوا اختري روا دئ. (فتاوی دار العلوم ديوبند: ١/ ۶٨٠). والله تعالیٰ اعلم.

که د غوا په درو تيو کي شيدې نه وي د هغه د اختري حکم

سوال: يو سړي د اختري له پاره يوه شيدې کونکی غوا رانيوله د هغې غوا په درو تيو کي شيدې نه سته او په يوه تی کي يې شيدې سته آيا د داسي غوا اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د فقهاء کرامو له عباراتو څخه معلوميږي چي که د غوا په تی کي شيدې را نه سي او دا د کوم مرض له امله نه وي بلکي له څه علت پرته يې شيدې بندي سوي وي، نو د داسي غوا اختري روا دئ، نو پر دې بناء په پوښتل سوي صورت کي که د غوا تر درو تيو د څه علت او مرض پرته شيدې نه راوزي، نو اختري يې روا دئ او که د کوم مرض له امله داسي وي، نو بيا د دې غوا اختري کول ناروا دي.

په خلاصه الفتاوی کي يې وګورئ:

وفي نظم الزندويستی خمسة عشر من الآفات لايمنع جواز الأضحية... والتی لاينزل لها لبن من غير علة. (خلاصة الفتاوی: ۴/ ٣٢١، مکتبه رشيديه). (وكذا فی لسان الحكام، ص: ٣٨٨).

وفی الشامی: وذكر فيها (ای الخلاصة) جواز التی لاينزل لها لبن من غير علة. (فتاوی الشامی: ۶/ ٣٢٥، سعيد). (وكذا فی الفتاوی الهندية: ۵/ ٢٩٩).

په فتاوى تاتار خانيه كي راځي:

وفى العتابية: والشطور لايجزئ وهي من الشاة ما قطع اللبن عن إحدى ضرعها ومن الإبل والبقر إذا انقطع اللبن من ضرعيها لأن لكل واحد منهما أربع أضرع. (الفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۴۰۳، مكتبه زكريا). (وكذا فى فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۵، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۹).

په احسن الفتاوى كي راځي:

دغوا دوه تى او د بزي يو تى خراب ؤ، نو د هغه حيوان اختري روا نه دئ. (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۸۷).

والله ﷻ اعلم.

چي له څه مرض پرته يې شيدې وچي سي د هغه د اختري حكم

سوال: د يوې بزي په تيو كي شيدې وچي سوي او هيڅ يو مرض وغيره ورته راغلى نه ؤ، نو آيا داسي حيوان اختري روا دئ او كه نه؟

الجواب: كه له څه مرض پرته يې شيدې وچي سوي وي، نو د هغه حيوان اختري روا دئ.

په فتاوى شامي كي يې وګورئ:

وذكر فيها (الخلاصة) جواز التي لاينزل لها لبن من غير علة. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۵، سعيد).

په عالمګيري كي راځي:

ويجوز... والتى لاينزل لها لبن من غير علة. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۷).

وفي لسان الحكام: والتى لاينزل لها لبن من غير علة، والتى لها ولد تجوز. (لسان الحكام، ص ۳۸۸، نوع فى العيوب، وكذا فى خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۱، المكتبة الرشيدية). والله ﷻ اعلم.

د حامله حيوان د اختري حكم

سوال: يو سړي د اختري له پاره حيوان رانيوي وروسته معلومه سوه چي دا حامله ده، نو ايا د دې ذبح كول په كار دي او كه نه؟ يعني د حامله حيوان د اختري كولو څه حكم دئ؟

الجواب: که د حامله حیوان د ولادت موده ډېره نژدې نه وي، نو اختري يې روا دئ. هو د کوم حيوان چي د ولادت موده نژدې وي ذبح کول يې مکروه دي:

په فتاوی شامي کي يې وګورئ:

في الكفاية: إن تقاربت الولادة يكره ذبحها. (رد المحتار: ۶/ ۳۰۴، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: قوله في الكفاية... الخ، نقل في الكفاية هذا الفرع عن النوازل ثم قال: لأن فيه تضييعاً للولد من غير فائدة. (التحرير المختار على الشامي: ۶/ ۳۰۳، سعيد).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

رجل له شاة حامل أراد ذبحها إن تقاربت الولادة يكره الذبح وهذا عند أبي حنيفة بنار على أن الجنين لايتذكى بذكاة الأم عنده. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۰۷، كتاب الذبائح، المكتبة الرشيدية).

وفي الفتاوى الهندية: شاة أو بقرة أشرفت على الولادة يكره ذبحها لأن فيه تضييع الولد وهذا قول أبي حنيفة لأن عنده الجنين لايتذكى بذكاة الأم. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۷، والفتاوى السراجية، ص: ۳۹۱).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د حامله حيوان اختري روا دئ مګر که د ولادت موده ډېره نژدې وي، نو مکروه دئ. (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۳۵۳، جامعه فاورقيه، وامداد الفتاوی: ۳/ ۵۵۹، وامداد الاحکام: ۴/ ۲۷۸). والله ﷻ اعلم.

د خرابې غوښې والا حيوان د اختري حکم

سوال: که چيري يو سړی له هر څه عيب پاک صحيح، سالم حيوان اختري کړي مګر له غاړې پرېکولو وروسته معلومه سوه چي د دې غوښه د څه مرض له امله د استعمال وړ نه ده، نو اوس يې اختري اداء سو او که نه؟

الجواب: د فقهاء کرامو له بيان سو ټولو ظاهري عيبو څخه د پاک او صحيح حيوان له اختري کولو وروسته که په حيوان کي کومه خرابي په نظر راسي او غوښه يې ونه خوړل سي بيا يې هم اختري اداء سو د اختري د اداء کولو له پاره د غوښو خوړل لازم نه دي، هو که له مخکي کومه مريضي

پرې راغلي ؤ چې د هغې له امله يې غوښه خرابه سوې وه، نو د داسې معيوب حيوان اختري کول روا نه دي.

فقهاء کرامو د اختري د حيوان د عيب شمارلو په وخت کې يوازې پر ظاهري عيوبو اکتفاء کړې ده او په حيوان کې چې کوم سپک عيب وي هغه معاف دئ.

په فتاوی شامي کې راځي:

قال القهستانی: واعلم أن الکل لايخلو عن عيب، والمستحب أن يكون سليماً عن العيوب الظاهرة. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۳، سعيد).

وفی الفتاوي الهندية: ومن المشائخ من يذكر لهذا الفصل أصلًا ويقول: كل عيبٍ يزيل المنفعة على الكمال أو الجمال على الكمال يمنع الأضحية، وما لا يكون بهذه الصفة لا يمنع. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۲۹۹، وكذا فی المحيط البرهانی: ۶/ ۴۷۹، مكتبه رشيديه).

وأخرج أبو داود عن عبيد بن فيروز أنه قال سألت البراء بن عازب رضي الله عنه: مالا يجوز فی الأضاحی؟ فقال: قام فينا رسول الله صلى الله عليه وسلم.... فقال: أربع لاتجوز فی الأضاحی: العوراء بين عورها، والمريضة بين مرضها، والعرجاء بين ظلعها، والكبير التی لاتنقی... (ابو داؤد: ۲/ ۳۸۷، فيصل).

قال العلامة في إعلاء السنن: قال العبد الضعيف: قال الخطابي فی حديث البراء: إن فيه دليلاً على أن العيب الخفيف فی الضحايا معفو عنه، ألا تراه يقول: بين عورها... فالقليل منه غير بين، فكان معفواً عنه، انتهى. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۳۸، ادارة القرآن، كراچی). والله تعالى اعلم.

په اختري کې د آس ذبح کولو حکم

سوال: آيا په اختري کې د آس ذبح کول په حديث سره ثابت دي په خبرو کې راځي چې ځينو غير مقلدين آسونه ذبح کوي؟

الجواب: دآس اختري کول په حدیث سره ثابت نه دي، هو نفس ذبح کول يې د بخاري شريفې په روايت سره ثابت دي.

د سلفيانو پيشوا شيخ محمد بن صالح العثيمين وايي:

الشريعة جاءت بشروط معينة للأضاحي، انتبهوا لها: الشرط الأول: أن تكون من بهيمة الأنعام.... هى الإبل والبقر والغنم، لو أن الإنسان ضحى بفرس عن شاة هل تجزئ؟ لا. لا تجزئ الأضحية، لماذا؟ لأنه ليس من بهيمة الأنعام، وإن كان ثمن الفرس يساوي أضعاف أضعاف قيمة الشاة فإنه لا يجزئ لأنه من غير الجنس الذي جاءت به السنة. (جلسات الحج للشيخ محمد بن صالح العثيمين: ۱/ ۱۰۱، وكذا فى مجموع فتاوى ورسائل العثيمين: ۷/ ۳۳۵).

پر ځينو حضراتو د بخاري شريفي روايت مشتبه سوی دئ، چي د ((نحرنا)) لفظ يې د ((ضحينا)) په لفظ سره بيان کړی دئ.

وګورئ، علامه سهيلي رحمه الله په ((الروض الانف)) کي وايي:

عن أسماء رضى الله تعالى قالت: ضحينا على عهد رسول الله ﷺ بالخيل. (الروض الانف: ۶/ ۵۵۳).

وكذا نقل عنه في سبل السلام شرح بلوغ المرام: (۴/ ۱۸۵، شروط الاضحية، رقم ۷) وفى التلخيص الحبير: (۴/ ۲۶۶/ ۲۳۶۷).

أقول: لم أقف عليه. فقد أخرجه البخاري في كتاب الذبائح والصيد: باب النحر والذبح وفي باب لحوم الخيل، وأخرجه مسلم فى كتاب الصيد والذبائح: باب فى أكل لحوم الخيل، بلفظ « نحرنا على عهد رسول الله ﷺ فرساً فأكلناه.

فلفظة «ضحينا» هو مما لا أصل له، ولعلها من أوهام السهيلى فقد ذكرها فى الروض الأنف.

ولـما ذكر الحافظ فى التلخيص قال: ما ذكره السهيلى عن أسماء قالت.... الخ. ولوكان فى الكتب المشهورة لـم يلجأ إلى عزوه للسهيلى فتنبه.

فالحاصل أن لفظة « ضحينا» لا أصل لـها.

والأضحية لاتجوز بغير بهيمة الأنعام على الصحيح المشهور من أقوال أهل العلم.

په څلورو مذهبو کي د آس اختري روانه دئ:

په البحر الرائق کي راځي:

والأضحية من الإبل والبقر والغنم لأن جواز التضحية بهذه الأشياء عرفت شرعاً بالنص على خلاف القياس. (البحر الرائق: ۸/ ۱۷۷، ماجديه).

په الدر المختار کي راځي:

وركنها ذبح ما يجوز ذبحه من النعم لا غير. (الدر المختار: ۶/ ۳۱۲، سعيد).

په روضة الطالبين کي راځي:

للتضحية شروط وأحكام أما الشروط فأربعة أحدها أن يكون المذبوح من النعم وهى الإبل والبقر والغنم وكل هذا مجمع عليه. (روضة الطالبين: ۳/ ۱۹۳، المكتب الاسلامى).

په نهاية المحتاج کي راځي:

(ولاتصح) التضحية (إلا من إبل وبقر) عراب أو جواميس (وغنم) ضأن أو معز لقوله تعالى: ﴿ ويذكروا اسم الله على رزقهم من بهيمة الأنعام ﴾ ولأنها عبادة متعلقة بالحيوان فاختصت بالأنعام. (نهاية المحتاج: ۸/ ۱۳۲، دار الكتب الاسلامى).

په بداية المجتهد کي راځي:

وكلهم مجمعون على أنه لا تجوز التضحية بغير بهيمة الأنعام. (بداية المجتهد: ۴/ ۷۶).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (الذخيرة: ۴/ ۱۴۲، ومختصر سيدى خليل مع منح الجليل: ۲/ ۴۶۵، دار الفكر، والمغنى: ۱۱/ ۹۹، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن علي بن ابی طالب رضي الله عنه قال: أمر ني رسول الله صلى الله عليه وسلم: أن أقوم على بدنه وأن أتصدق بلحومها وجلودها وأجلتها، وأن لا أعطى الجزار منها شيئا، وقال: نحن نعطيه من عندنا. (متفق عليه).

الفصل الثالث

فی التصدق بلحوم

الأضاحی وغيرها

عن جابر رضي الله عنه عن النبی صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن أكل لحوم الضحايا بعد ثلاث ثم قال بعد « كلوا وتزودوا وادخروا». (رواه مسلم).

دريم فصل

د اختري د غوښو او پوست د احكامو بيان

سوال: كه د اختري په غوښو كي ځينې ورونړه ګډ وي او د ټولو خوراک هم ګډ وي، نو د غوښو په تقسيم كي يې برابري ضروري دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي چي د شريكانو خوراک څښاک سره ګډ وي، نو د غوښو تقسيم ضروري نه دئ:

په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله ويقسم اللحم) انظر هل هذه القسمة متعينة أو لا، حتى لو اشترى لنفسه ولزوجته وأولاده الكبار بدنة ولـم يقسموها تـجزيـهم أو لا، والظاهر أنـها لا تشترط لأن الـمقصود منها الإراقة وقد حصلت. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۱۷، سعيد). (وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۲، كوئته).

په احسن الفتاوى كي راځي:

سوال: والدينو خور او ورونړو په ګډه سره يو غوائي اختري كړيو څه غوښه يې په فقيرانو كي تقسيم كړه او پاته يې پخه كړه پر يو ځاى يې خوړل غواړي، نو په دې صورت كي دي غوښه تقسيمول او هر يوه ته يې خپله خپله برخه وركول ضروري دي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي تقسيم ضروري نه دئ، ځكه چي دغه اباحت دئ د تمليک او تملک معنا په دې كي نه سته. (احسن الفتاوى: ۷/ ۵۰۰، بحواله شامى).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د سوال خلاصه دا ده چي ټول شريكان يو ځاى اوسي او پر يوه ځاى د ټولو خوراک او څښاک دئ، نو تقسيم يې ضروري دئ او كه نه؟

په جواب كي يې وويل: چي تقسيم لازمي نه دئ چي په ګډه سره يې پوخ كړي او وې خوري هم روا دي. (فتاوى محموديه: ۱۷/ ۴۲۴، جامعه فاروقيه).

په عزيز الفتاوى كي راځي:

د غوائې په اخترې کې اووه کسانو ګډون کولای سي، خپل وي که پردي که خپل درونه وغیره قربان په یوه کور کې اوسي، نو د تقسیم کولو ضرورت يې نه سته. ټول دي غوښه پر یو ځای کنبېږدي او ودي خوري شامي د دې تصریح کړې ده چې تقسم کول يې ضروري نه دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند، جلد اول، ص: ۶۸۳، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

تخمیناً د غوښي د تقسیم حکم

سوال: غوښه که تخمیناً سره تقسیم کړي او یو د بل څخه ناخوښه نه وي، نو څه حکم يې دئ، ځکه چي د فقهاء کرامو له عباراتو څخه معلومیږي چي جزافاً تقسیم ناروا دئ په ترازو يې تقسیم کول ضروري دي او دا هم راته بیان کړي چي که یو سړی د دوو کېلو هډوکو په عوض کي یوه کېلو غوښه یو وړله، نو دا روا دي او که نه؟

الجواب: په عام ډول فقهاء کرامو غوښه او هډوکي یوه نوعه او سر، پښې، پوست جلا نوعه شمېرلي ده مګر د خلکو له رواج څخه معلومیږي چي غوښه او هډوکي جلا جلا شیان دي ځکه چي خلک عادةً د غوښو او هډوکو د تقسیم په وخت کي غوښي او هډوکي جلا کوي او تقسیم يې کوي، غوښه اعلی او هډوکي ادنی بولي، همدا رنګه په هډوکي کي حیات نه وي او په غوښه کي حیات (ژوند) وي له همدې امله يې د تقسیم په وخت کي برابري ضروري نه دئ مګر فقهاء کرامو دواړه یو جنس بللی دئ، نو ځکه بهتره او ښه دا ده چي دواړه جلا کړي او په وزن يې برابر تقسیم کړي چي د یوه شریک په زړه کي هیڅ ډول ناراضي پیدا نه سي چي ما ته يې لږ غوښه را کړې ده همدا ډول د دوو کېلو هډوکو په عوض کي یوه کېلو غوښه اخیستل هم د عامو فقهاء کرامو له قول سره برابره نه ده:

په عالمګیري کي يې وګورئ:

ولو اشترى شاتين مذبوحتين مسلوختين بشاةٍ مذبوحةٍ غير مسلوخةٍ لم يجز لأن وزيادة اللحم مع السقط ربا، ولو اشترى شاتين مسلوختين بشاةٍ مذبوحةٍ مسلوخةٍ لم يجز لأن كليهما لحم والزيادة ربًا، إلا إذا كانا مستويين في الوزن يجوز حينئذٍ. (الفتاوى الهندية: ۳/ ۱۲۰).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله لا جزافا، لأن القسمة فيها معنى المبادلة، ولو حلل بعضهم بعضاً قال في البدائع: أما عدم جواز القسمة مجازفةً فلأن فيها معنى التمليك واللحم من أموال الربا فلا يجوز تمليكه مجازفة، وأما عدم جواز التحليل فلأن الربا لا يحتمل الحل بالتحليل. قوله إلا إذا ضم معه الخ، بأن يكون مع أحدهما بعض اللحم مع الأكارع ومع الآخر البعض مع الجلد. (فتاوى الشامي:۶/ ۳۱۷، ۳۱۸، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

ويقسم اللحم بينهم بالوزن وإن اقتسموا مجازفةً يجوز إذا كان أخذ كل واحد شيئاً من الأكارع أو الرأس أو الجلد. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۶).

وللاستزادة انظر: (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۱، وبدر المنتقى فى شرح الملتقى على هامش مجمع الأنهر فى شرح ملتقى الابحر: ۲/ ۵۱۷، والبحر الرائق: ۸/ ۱۷۴، وبدائع الصنائع:۵/ ۶۷، سعيد، والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۲۹۰).

د مذکوره عباراتو څخه معلوميږي چي غوښه او هډوکي يو جنس دي، د غوښي او هډوکو د مختلف کېدو يو څو دلائل وګورئ:

قال فى الهداية: وشعر الميتة وعظمها طاهر.... ولنا أنه لاحيوة فيهما ولهذا لايتألم بقطعهما فلا يحلهما الموت إذا الموت زوال الحيوة. (الهداية: ۱/ ۴۱).

فتح القدير کي راځي:

وكل ما لا تحل الحيوة من أجزاء الهوية محكوم بطهارته بعد موت ما هى جزءه كالشعر والريش والمنقار والعظم. (فتح القدير: ۱/ ۹۶، دار الفكر).

په بحر الرائق کي راځي:

إن أجزاء الميتة لا تخلو إما أن يكون فيها دم أولاً والأولى كاللحم نجسة والنانية ففي غير الخنزير والآدمي ليست بنجسة. (البحر الرائق: ۱/ ۱۰۷، کوئته).

مګر د اختري په باب کي فقهاء کرامو غوښه او هډوکي يو جنس او سر، پښې او پوست جلا جنس شمېرلي دئ، علامه انور شاه کشميري رحمة الله عليه د مجازفة تقسيم اجازه ورکړې ده او ليکلي يې دي چي دا من باب المعاوضات نه دئ بلکي من باب المسامحات دئ:

په فيض الباري کي يې وګورئ:

واعلم أن ما في فقه الحنفية من أن رجالاً إذا اشتركوا في أضحيةٍ، ينبغي أن يحذروا من المجازفة في القسمة، وعليهم أن يقسموا اللحم وزنًا. أقول من عند نفسي: وذلك عند مخافة النزاع، وإلا جازت المجازفة أيضًا، فإني جربت أن المجازفة قد سرت في غير واحدٍ من المواضع عند المسامحة، وإنما القواعد عند ظهور النزاع.(فيض الباری: ۳/ ۳۴۳).

يو بل ځای وايي:

باب الشركة في الطعام... ذهب البخاري إلى جواز قسمة المكيلات والموزونات في النهد مجازفةً. والنهد أن ينثر الرفقة زادهم على سفرةٍ واحدةٍ ليأكلوا جميعًا، بدون تقسيم، ففيه شركة أولا، وتقسيم آخرًا، ولا ريب أنه تقسيم على المجازفة لا غير، مع التفاوت في الأكل وهذه الترجمة إحدى الترجمتين اللتين حكم عليهما ابن بطال أنهما خلاف الإجماع؛ فإن المكيلات والموزونات من الأموال الربوية، والمجازفة فيها تؤدي إلى الربا، وقد مر معنا الجواب، أنها ليست من باب المعاوضات التي تجري فيها المماكسة، أو تدخل تحت الحكم، وإنما هي من باب التسامح، والتعامل؛ وكيف يكون الإجماع مع أنه قد جرى به التعامل من لدن عهد النبوة إلى يومنا هذا. (فيض الباری: ۳/ ۳۴۲).

په بخاري شريف کي په يو حديث کي هم همدې طرف ته اشاره سته. وګورئ:

عن سلمة بن الأكوع قال: خفت أزواد القوم وأملقوا فأتوا النبي ﷺ في نحر إبلهم فأذن لهم ... فقال رسول الله ﷺ: ناد في الناس يأتون بفضل أزوادهم فبسط لذلك نطع وجعلوه على النطع فقام رسول الله ﷺ فدعا وبرك عليه ثم دعاهم بأوعيتهم فاحتثى الناس حتى فرغوا ثم قال رسول الله ﷺ: أشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله. (رواه البخاري: ۱/ ۳۳۷، کتاب الشركة).

د مذکوره دلائلو په رڼا کي په واضح ډول معلوميږي چي د مجازفة تقسيم اجازه سته، خو بيا هم د فقهاء کرامو د عباراتو له امله يې برابر تقسيم کول په کار دي. والله ﷻ اعلم.

وکافر ته د اختري د غوښو ورکولو حکم

سوال: د اختري غوښي کافر ته ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د اختري غوښي کافر ته ورکولای سي، هو مسلمان ته يې ورکول افضل او ښه دي، هو د نذر سوي اضحيه څخه يې ورکول ناروا دي:

په عالمګيري کي يې وګورئ:

ويهب منها ما شاء للغني والفقير والمسلم والذمي كذا في الغياثية. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۰).

په اعلاء السنن کي راځي:

وللمضحي أن يهب كل ذلک أو يتصدق به أو يهديه لغني أو فقير مسلم أو كافر. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۸، ادارة القرآن). (وکذا في حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۴/ ۱۶۶، کوئته).

وانظر للمزيد: (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۸۳، ادارة القرآن).

حضرت تهانوي رحمه الله وايي:

اختري واجب ؤ مګر د غوښي تقسيم يې واجب نه ؤ، نو هغه هديه او صدقه نافله ګرځي او مصالح حربي د مستامن په حکم کي دئ، نو ځکه دې ته يې ورکول روا دي، البته د کومي اضحيه چي د غوښي تقسيم واجب وي له هغې څخه يې ورکول ناروا دي. (امداد الفتاوى: ۳/ ۵۵۰).

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی شیهد وایي:

سوال: آیا د اختري غوښه کافر ته ورکولای سي؟

جواب: ورکولای سي، په دې شرط چې اضحیه به د نذر نه وي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۴/ ۲۰۹).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که واقعي څه مصلحت وي، نو ورکولای سي مګر ښه کار نه دئ، ځکه چي په مسلمانانو کي د غریبانو څه کمي نه سته. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۱۵).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۴۳۵، جامعه فاروقیه، واحسن الفتاوی: ۷/ ۴۹۶، وفتاوی بینات: ۴/ ۵۶۳). والله ﷻ اعلم.

د اختري غوښه د زکات په نیت ورکولو حکم

سوال: زید څو اختریان وکړه، ځیني واجب او ځیني نفلي ؤ له دې وروسته یې د دېرو غوښي قیمت ولګاؤ د زکات په نیت یې فقیرانو ته ورکړل، آیا د اختري په غوښو کي د زکات نیت کېدلای سي، زید وایي چي غوښه زما ملکیت دئ، هغه زه د زکات او خیرات په نیت ورکولای سم؟

الجواب: د اختري غوښه د زکات په نیت ورکول ناروا ده، او که یې ورکړې وي، نو زکات یې نه اداء کیږي:

په فتاوی شامي کي یې وګورئ:

وإذا دفع اللحم إلى فقير بنية الزكاة لايحسب عنها في ظاهر الرواية. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۲۸، سعید).

په فتاوی هندیه کي راځي:

تصديق بلحم الأضحية على الفقير بنية الزكاة لايجزئه في ظاهر الرواية. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۸). والله ﷻ اعلم.

د اخترې د ټولې غوښې په خپله خوړلو حکم

سوال: الحمد لله موږ هر کال اخترې کوؤ خو یو څه غوښه قریبانو ته ورکوو او نور په کور کې ایږدو او په خپله یې خورو د قریبانو او میلمنو دراتګ پر وخت یې پخو، اوس پوښتنه دا ده چې آیا دا ټول کول روا دي او که نه؟ او اخترې اداء کیږي او که نه؟

الجواب: د اخترې د غوښو په اړوند مستحب دا دي چې یو ثلث په فقیرانو او مسکینانو تقسیم سي یو ثلث خپلو قریبانو ته ورکړل سي او یو ثلث په خپل کور کې د خپل اولاد او خپل ځان له پاره وساتی، دا تقسیم یوازې مستحب دئ لازم او ضروري نه دئ له دې امله که یو څوک ټوله غوښه په خپله وخوړئ بیا یې هم اخترې له څه کراهیت پرته اداء کیږي، د اخترې اصل مقصد وینې بهېدل دي کوم چې حاصل سو، نو ځکه په سوال کې ذکر سوې طریقه له څه کراهیت پرته روا ده. اخترې یې اداء سو، هو په شروع کې به یې نیت یوازې د اخترې کولو کړې وي، غوښه خوړل به یې مقصد نه وي:

په بدائع الصنائع کې یې وګورئ:

والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافةً لأقاربه وأصدقائه ويدخر الثلث لقوله تعالى: ﴿ فكلوا منها وأطعموا القانع والمعتر ﴾ وقوله عز شأنه ﴿ فكلوا منها وأطعموا البائس الفقير ﴾ وقول النبي ﷺ : كنت نهيتكم عن لحوم الأضاحي فكلوا منها وادخروا، فثبت مجموع الكتاب العزيز والسنة أن المستحب ما قلنا ولأنه يوم ضيافة الله عز وجل بلحوم القرابين فيندب إشراك الكل فيها ويطعم الفقير والغني جميعًا لكون الكل أضياف الله تعالى عز شأنه في هذه الأيام وله أن يهبه منهما جميعًا ، ولو تصدق بالكل جاز ولو حبس الكل لنفسه جاز ؛ لأن القربة في الإراقة وأما التصدق باللحم فتطوع وله أن يدخر الكل لنفسه فوق ثلاثة أيام ؛ لأن النهي عن ذلك كان في ابتداء الإسلام ثم نسخ . (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۱، سعيد).

وللمزيد انظر: (رد المحتار: ۶/ ۳۲۸، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۰، واعلاء السنن: ۱۷/ ۲۶۲، ادارة القرآن، وفتاوى بينات: ۴/ ۵۷۴، وآپ کی مسائل اور ان کا حل: ۵/ ۴۶۱، جديد ايديشن).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د اختري غوښه پخول چا ته ورکول او دعوت کول هم روا دي. (فتاوی محمودیه: ۱۷/ ۴۳۲، جامعه فاروقیه).

البته کوم څوک چي عیالداره وي او ژوندي یې تنګ وي د هغه له پاره مستحب دا ده چي ټوله غوښه د خپل اهل وعیال له پاره کښیږدي د هغه له پاره خیرات کول مستحب نه دي.

په بدائع الصنائع کي یې وګورئ:

والتصدق أفضل إلا أن يكون الرجل ذا عيالٍ وغير موسع الحال فإن الأفضل له حينئذٍ أن يدعه لعياله ويوسع به عليهم ؛ لأن حاجته وحاجة عياله مقدمة على حاجة غيره، قال النبي ﷺ « ابدأ بنفسك ثم بغيرك ». (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۱، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د اختري د پوست د روپو بدلولو حکم

سوال: که د یو چا سره د اختري د پوست له خرڅولو وروسته بعینه د هغه پیسې او قیمت موجود نه وي پیسې په کور کي پرتي وي او یو فقیر مخي ته راسي، نو هغه له خپل جیب څخه پیسې خیرات کړي آیا خیرات یې اداء سو او که دوهم وار د همدغو پیسو خیراتول ضروري دي، پوښتنه دا ده چي د واجب التصدق پیسو بدلول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي یې د بدلولو اجازه سته خاص د هغو پیسو خیراتول لازم او ضروري نه دي، نو له همدې امله یې د دوهم ځل خیرات کولو ضرورت نه سته:

په امداد الاحکام کي راځي:

السوال: که یو سړی د اختري د حیوان پوست یا د عقیقي د حیوان پوست د خیرات په نیت سره خرڅ کړي او پیسې یې له ځانه سره وساتي چي د موقع پر ځای به یې خیرات کړم بیا د خیرات موقع په لاس ورغله مګر په دې وخت کي له ده سره هغه پیسې بعینه نه وي بلکي په کور کي ورڅخه پاته سوي وي چي د سفر له امله لېري وي، نو آیا دغه سړی د هغو پیسو پر ځای نوري پیسې خیراتولای سي یا خاص د هغو پیسو خیرات واجب دئ چي د هغو پیسو د خیراتولو پرته یې ذمه د واجب د خیاتولو نه خلاصیږي:

الجواب: قال في غنية الناسک في بيع لحوم الهدايا وجلودها مانصه: ولو باع اللحم جاز بيعه لأن ملكه قائم إلا أنه فيما لايجوز أكله يتصدق بثمنه لأنه ثمن بيع واجب التصدق كذا فى الفتح عن البدائع وإن كان مما يجوز له الأكل منه فإن باع شيئاً أو أعطى الجزار أجره منه فعليه أن يتصدق بقيمته، أى بقيمته إن كان أكثر وبالثمن إن كان أكثر على ما فى البدائع. (ص ۱۹۲).

له دې څخه معلوميږي چي د پيسو خيراتول په هغو صورت کي واجب دئ چي بيع د جائز الاکل نه وي او په جائز الاکل کي د قيمت خيراتول واجب دي د پيسو خيراتول واجب نه دي، نو دا پر ذمه باندي واجب سو په عين کي واجب نه سو، لهذا په دې صورت کي د پيسو پر ځای نوري پيسې خيراتولای سي مګر دا ضروري ده چي که ثمن تر قيمت کمي وي، نو پوره قيمت به خيرات وي. والله تعالیٰ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن أبی هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ من باع جلد الأضحية فلا أضحية له.

(أخرجه الحاكم).

تنوير الزوايا

فی مصارف

ثمن الضحايا

عن قتادة أن النبي ﷺ قال: ولا تبيعوا لحوم الهدی والأضاحی فكلوا وتصدقوا واستمتعوا بجلودها. (رواه احمد).

تنویر الزوایا فی مصارف ثمن الضحایا

د اختري د پوست د پیسو د مصرف بیان

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

څه وایي دیني علماء کرام او مفتیان عظام د لاندي مسئله په اړوند:

سوال: که یو څوک د اختري پوست د خیرات په نیت خرڅ کړ، نو اوس د پیسو خیراتول ضروري دي او که نه؟ آیا په دې کي د زکات او صدقات واجبه په ډول د فقیر تملیک ضروري دئ یعنی د اختري د پوست پیسې په مسجد، مدرسه، شفاء خانه، صدقه جاریه، خیراتي اداره، د مړي په تکفین او تجهیز او د هغه د قرض په اداء کولو کي یې مصرف روا دئ او که نه؟ مهرباني وکړي، ښه مدلل او مفصل جواب راته ولیکلي، د اجر عظیم مستحق به سي، ځکه چي زموږ په علاقه کي د علماء کرامو تر منځ په دې مسئله کي اختلاف دئ؟ بینوا بالدلیل مع التفصیل، توجروا بالأجر الجزیل.

الجواب: بعون الوهاب حامداً ومصلیاً ومسلماً:

په شریعت مطهره کي د اختري اصل مقصد د اضحیه ذبح کول او وینه بهبول دي کوم چي حاصل سو، اوس په غوښه، پوست وغیره کي اختري کوونکی ته شرعاً درې اختیارات سته:

۱_ بعینه غوښه او پوست په خپله استعمالولای سي مثلاً د پوست څخه مصلی، سلواغه، ژبې، مسند وغیره جوړولای او استعمالولای سي بعینه د پوست خیراتول نه واجب او نه ضروري دي.

۲_ نورو قریبانو او دوستانو ته یې د استعمال له پاره ورکولای سي، په دې کي د غني او فقیر شرط شریعت کړی نه دئ، هو په اجرت کي یې ورکول روا نه دي.

۳_ پر فقیرانو او مسکینانو یې خیرات کول روا دي، له دې څخه پرته د پوست خرڅول او پیسې یې په خپله استعمالول ناروا دي که یو څوک د اختري پوست خرڅ کړ، نو د قیمت خیرات یې واجب ګرځي یعني خیرات کول یې واجب دي، په خپله خوړل یا په غنیانو خوړل یې ناروا دي که څه هم د خیرات په نیت یې خرڅ کړي وي، البته که یې د خیرات په نیت خرڅ کړي، نو بیع له څه کراهت پرته صحیح ده او ګناه ګار هم نه دئ او که یې د مال لاس ته راوړولو په نیت خرڅ کړ، نو بیا یې بیع مکروه ده او ګناه هم لري، له دې تولو سره سره د قیمت خیرات کول یې ضروري دي:

دلائل يې په لاندي ډول دي:

☆ أخرج الحاكم بسنده و عن عبد الله بن عياش القتباني عن الأعرج عن أبي هريرة ﷺ قال : قال رسول الله ﷺ: من باع جلد أضحيته فلا أضحية له. وقال: صحيح. (المستدرک للحاكم: ۲/ ۳۹۰).

قال الذهبی: ابن عياش ضعفه أبو داود.

قال العلامة ظفر أحمد العثماني: فالحديث إن لم يكن صحيحاً فلا ينزل عن مرتبة الحسن. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۶).

ددې حديث شريف مطلب دا دئ چي پوست دځان له پاره خرڅ کړي:

☆ عن قتادة أن النبی ﷺ قال:....« ولا تبيعوا لحوم الهدي والأضاحي فكلوا وتصدقوا واستمتعوا بجلودها...». (رواه أحمد فی مسنده برقم: ۱۶۲۱، وقال الهيثمی: وهو مرسل صحيح الإسناد. وضعفه شعيب الارنؤوط، رقم ۱۶۲۵۵).

په بدائع الصنائع کي علامه ابوبکر کاسانی رحمه الله وايي:

ولا يحل بيع جلدها وشحمها ولحمها ... من الدراهم والدنانير والمأكولات والمشروبات ، ولا أن يعطي أجر الجزار والذابح ... فإن باع شيئًا من ذلك نفذ عند أبي حنيفة ومحمدٍ وعند أبي يوسف لا ينفذ ...ويتصدق بثمنه ؛ لأن القربة ذهبت عنه فيتصدق به ولأنه استفاده بسببٍ محظورٍ وهو البيع فلا يخلو عن خبثٍ فكان سبيله التصدق، وله أن ينتفع بجلد أضحيته في بيته بأن يجعله سقاءً أو فروًا أو غير ذلك ؛ لما روي عن سيدتنا عائشة رضي الله عنها أنها اتخذت من جلد أضحيتها سقاءً. (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۱، سعيد).

☆ مصنف دهدايې وايي:

ولو باع الجلد أو الحم بالدراهم أو بما لا ينتفع به إلا بعد الاستهلاک تصدق بثمنه لأن القربة انتقلت إلى بدله. (الهداية: ۴/ ۴۵۰).

په خلاصة الفتاوى كي راځي:

ولابأس ببيعه بالدراهم ليتصدقها وليس له أن يبيعه بالدراهم لينفقها على نفسه ولو فعل ذلک يتصدق بثمنه. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۲، الفصل السادس فى الانتفاع بالاضحية).

وللاستزاده انظر: (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۲۸، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۱، والبحر الرائق: ۸/ ۱۷۸، ط: کوئته).

د لوړ ذکر سوي عباراتو خلاصه دا ده چي د اختري د پوست استعمال په خپله کولای سي مګر د دراهم دینار، پیسو، ماکولاتو، مشروباتو او داسي نورو شیانو په عوض یې خرڅول ناروا دي، هو که یې د خیرات په نیت خرڅ کړي روا دي او په دواړو صورتو کي د قیمت خیراتول واجب دي.

له دې څخه قطع نظر چي د خیرات علت خاص بیع ده یا خبث د دې خبري هم په ذهن کي نیول په کار دي چي د نفس غوښي او پوست خیرات د غوښي د قیمت او پوست د قیمت په ډول نه دئ ځکه چي د غوښي او پوست څخه ګټه اخیستل روا دي او د دې دواړو د قیمت څخه ګټه اخیستل ناروا ده، د دواړو د قیمت خیراتول واجب دي.

☆ وګورئ: په امداد الاحکام کي راځي:

او پته دي نه وي چي د اختري د پوست د دراهم خیراتول د اختري د پوست د خیراتولو په حکم کي هیڅکله نه دي، ځکه چي د اختري پوست د اختري د غوښو په ډول دئ. بنفسه له هغه څخه ګټه اخیستل روا دي او د اختري د پوست له دراهمو څخه ګټه اخیستل د بائع په حق کي روا نه دي، نو د اختري د پوست د دراهم د اختري د غوښو په ډول دئ په وجوب د خیرات بالتملیک کي. (امداد الاحکام: ۴/ ۲۵۸).

هو دلته عوض په حکم د معوض کي نه دئ، معوض واجب التصدق نه دئ او عوض واجب التصدق دئ:

☆ وګورئ په اعلاء السنن کي یې وګورئ.

عوض د معوض په حکم کي چیري وي او چیري نه وي:

وأما استبدال الجلد بما ينتفع به باقياً كالقربة والسفرة والغربال والجراب والدلو ونحوها فلا بأس به لأن له أن يتخذ منه ما شاء منها ابتداءً فكان الاستبدال بها كاتخاذها انتهاءً، ولأن البدل الذي يمكن الانتفاع به مع بقاء عينه يقوم مقام المبدل فكان المبدل قائماً معنىً فكان الانتفاع به كالانتفاع بعين الجلد بخلاف البيع بالدراهم والدنانير والخل واللحم ونحوه، لأن ذلک مما لا يمكن الانتفاع به مع بقاء عينه، فلا يقول مقام الجلد، فلا يكون الجلد قائماً معنىً فلا يكون إلاتجارة محضة، وقد نهى الشارع صلى الله عليه ومسلم عن الاتجار بشيء من الهدى والأضاحي، هذا هو الفرق بين الغربال والخل. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۸، ادارة القرآن، کراتشی).

د فقهاء کرامو له کلام څخه خو دا خبره واضح سوه چي د اختري د پوست په خرڅولو سره يې قېمت واجب التصدق دئ که يې د خيرات په نيت سره خرڅ کړي، که يې د مال لاس ته راوړلو يا استعمال په نيت سره، هو فرق يې يوازي دومره دئ چي د خيرات په نيت سره ګناه نه لري او په بيع کي يې څه خبث هم نه سته مګر د مال لاس ته راوړلو په نيت سره يې په قېمت کي خبث راځي او بيع مکروه ده دغه سړی ګناه ګار هم دئ، هو په هر صورت قېمت يې واجب التصدق دئ مګر اصل د اشکال خبره دا ده چي د واجب التصدق مطلب څه دئ؟

آيا دغه قېمت د صدقات واجبه، زکات، سر سايي وغيره په ډول ده چي په هغه کي د فقير تمليک ضروري دئ يا يوازي د قېمت خيراتول واجب دي او د فقير تمليک ضروري نه دئ؟

د دې جواب: دا دئ: چي په دې اړه د علماء کرامو اختلاف دئ، د اختلاف تفصيل په لاندي ډول دئ:

د اول جماعت (ډلې) موقف:

د ډېرو هندوستاني علماء کرامو (د ديوبند د اکابرو) وغيره مسلک په دې اړوند دا دئ چي دا قېمت د صدقات واجبه، زکات، سرسايې په ډول دئ، نو ځکه په دې کي د فقير تمليک ضروري دئ، د دې بر عکس په مسجد، مدرسه، شفا خانه يا بل د خير کار يا په نورو خيراتي ادارو کي يې مصرفول

روانه دي مګر چي د فقير له تمليک وروسته يې هغه د خير په کار کي مصرف کړي يا پوست متولي ته ورکړي او هغه يې له مالک جوړېدو وروسته خرڅ کړي خيراتي ادارو ته يې ورکړي.

د دې مسلک د تفصيلي دلائلو له پاره دغه کتابونه وګورئ:

(جواهر الفقهة رساله: رفع التلاحی علی جلود الاضاحی: ۶/ ۳۳– ۳۳۹، وکفایت المفتی: ۸/ ۲۲۶، ط: دار الاشاعت، وامداد الفتاوی:۳/ ۵۶۶، وامداد الاحکام:۴/ ۲۵۷، وفتاوی محمودیه: ۱۷/ ۴۵۸– ۴۲۰، ط: جامعه فاروقیه، وفتاوی حقانیه: ۶/ ۴۲۶، واحسن الفتاوی:۲/ ۴۹۵، وفتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۰۱– ۴۰۵، مکتبه دیوبند، وعزیز الفتاوی: ۱/ ۶۷۷– ۶۷۹).

دغه علماء کرامو وايي، چي فقهاء کرامو د (تصد)) لفظ ليکلي دئ او د تصدق حقيقت تمليک دئ، د زکات او سر سايې په ډول، لهذا د فقير له تمليک پرته يې مصرفول ناروا دي.

دوهم جماعت موقف: ځيني افغاني او پاکستاني علماء کرام وايي، چي په دې کي تمليک فقير ضروري نه دئ.

وګورئ د افغاني علماء کرامو ترجمان فقيه العصر حضرت مفتي فريد رحمه الله وايي:

سوال: د اختري د پوست قيمت په مساجدو کي مصرفول روا دي او که نه؟

جواب: د هندي علماء کرامو په آند ناروا دي:

كما في الهندية (۵/ ۳۰۱): ولايبيعه بالدراهم لينفق الدراهم على نفسه وعياله، لو باعها بالدراهم يتصدق بها لأنه قربة كالتصدق كذا في التبيين، قالوا: والتصدق هو التمليك. او د افغاني مشايخو رحمهم الله په آند دا مصرف روا دئ. وهو المختار، بدليل تعليل الزيلعي لأنه قربة أي التصدق بالدراهم كالتصدق بالجلود.

يعنی مقصد ثواب دئ او دا په دراهم ورکولو کي موجود دئ لکه څنګه چي د پوست په ورکولو کي موجود دئ، ثواب په تمليک او اباحت دواړو کي موجود دئ. ونظيره جلود الهدايا والضحايا فيها الإباحة العامة دون التمليك سلفاً وخلفاً. (فتاوی فریدیه: ۱/ ۵۸۴، مسائل شتی).

د افغاني علماء کرامو د مسلک خلاصه دا ده چي قيمت هغه وخت واجب التصدق دئ چي د اختري پوست د مال لاس ته راوړلو له پاره خرڅ کړي سي ځکه چي په دې کي خبث او خرابي پيدا سوه مګر که د خيرات په نيت سره خرڅ سي، نو په دې کي خبث او خرابي نه راځي په دې وجه د دې

حكم بعينه د پوست او غوښي د حكم په ډول دئ، چي هغه اصلاً نفلي صدقات دي له صدقات واجبه څخه نه دي، همدا رنګه دا د زکات او سر سايې په ډول هم نه دي بلکي د غوښي بدل دئ، نو ځکه يې له تمليک پرته په مساجدو، خيراتي ادارو، مدارسو وغيره کي يې مصرفول روا دي که چيري په دې کي خبث وای، نو په مسجد کي به يې مصرف روا نه وای.

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا: احکام المساجد، طبع هند، وزکوٰة اور مسئله تمليک، از مولانا عتيق احمد صاحب قاسمی).

د دوهم مسلک مثالونه: کوم علماء کرام چي دا پيسې واجب التصدق بولی، خو د فقير تمليک ضروري نه بولی دوی وايي، چي ډېر وخت پيسې واجب التصدق وي مګر د فقير تمليک پکښي ضروري نه وي د دې څو مثالونه په لاندي ډول دي:

لومړی مثال لقطه ده:

د دې واضح او ښکاره مثاله لقطه ده، فقهاء احناف ليکي چي لقطه واجب التصدق ده يعني پر فقير محتاج دي خيرات سي، خو د زکات او سر سايې په ډول نه ده، له همدې امله علامه شامي رحمه الله محيط البرهاني وغيره علماء کرامو د دې خبري تصريح کړې ده چي د لقطي مصرفول د مسلمانانو په ټولو مصالحو کي روا دي.

په شرح منظومة ابن وهبان کي يې وګورئ:

بيوت المـال أربعة لكل ☆ مصارف بينتها العالـمون

فأولـها الـغنائم و الكنوز ☆ الركاز وبعدها متصدقون

وثالثهـا خراج مع عشور ☆ وجالـية يلـيها الـعاملون

ورابعها الضوائع مثل مالا ☆ يكـون له أناس وارثون

فمصرف الأولين اتى بنص ☆ وثالثـها حـواه مقاتلون

ورابعها فمصرفا جهات ☆ تساوی النفع فيها المسلمون

(شرح منظومه ابن وهبان: ۱/ ۸۸، کتاب الزکوة، ط: ديوبند).

علامه شامي رحمه الله د لقطې مصرف په وضاحت سره بيانه وي او وايي:

قوله الضوائع جمع ضائعة أي اللقطات ... قوله ورابعها فمصرفه جهات الخ موافق لما نقله ابن الضياء في شرح الغزنوية عن البزدوي من أنه يصرف إلى المرضي والزمني واللقيط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما أشبه ذلك ولكنه مخالف لما في الهداية و الزيلعي أفاده الشرنبلالي، أي فإن الذي في الهداية وعامة الكتب أن الذي يصرف في مصالح المسلمين هو الثالث، كما مر، وأما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم فيعطي منه نفقتهم وأدويتهم وكفنهم وعقل جنايتهم كما في الزيلعي وغيره. (فتاوى الشامي: ۲/ ۳۳۸، سعيد).

علامه زيلعي رحمه الله په تبيين الحقائق کي وايي:

والرابع اللقطات والتركات التي لا وارث لها وديات مقتول لا ولي له ومصرفها اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم يعطون منه نفقتهم وأدويتهم وتكفن به موتاهم. (تبيين الحقائق: ۳/ ۲۸۳، ملتان).

په المحيط البرهاني کي راځي:

اللقطات والتركات تصرف إلى ما فيه صلاح المسلمين كمال الخراج والجزية، إلا أنه يجعل لها بيت على حدة، لما أنه ربما يظهر لها مستحق بعينها. (المحيط البرهاني: ۲/ ۵۳۹، كتاب المعادن، مكتبة الرشيدية).

مصنف د المحيط البرهاني رحمه الله وايي: د لقطاتو او ترکاتو مصرف د ماليې او جزئې د مصرف په شان دئ او د ماليې او جزئې مصرف بيانه وي او وايي:

وقال: (الإمام محمد) الخراج والجزية تصرف إلى المقاتلة، وإلى سد ثغور المسلمين، وبناء الحصون في الثغور، وإلى مراصد الطريق في دار الإسلام ليقع الأمن عن قطع الطريق من جهة اللصوص، وإلى كري الأنهار العظام الذي فيه صلاح المسلمين، وإلى من فرغ نفسه لعمل

المسلمين نحو القضاة والمحتسب والمفتين والمؤذنين والمعلمين، وإلى عمارة المساجد والقناطر، وإلى معالجة المرضى إذا كانوا فقراء، وإلى تكفين الموتى الذين لا مال لهم،... والحاصل: أن هذا النوع يصرف إلى ما فيه صلاح الدين، وصلاح دار الإسلام والمسلمين.

(المحيط البرهانی: ۲/ ۵۳۹، کتاب المعادن، مكتبة الرشيدية).

وللاستزادة انظر: (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۹۱، باب في صدقة الفطر، والبحر الرائق: ۵/ ۱۲۸، فصل في الجزية، ومجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر: ۲/ ۴۸۶، في كيفية القسمة، بيروت).

له لوړو ذکر سوو عباراتو څخه لاندې شيان معلوميږي:

۱_ لقطات او ترکات واجب التصدق او د دې مصرف فقراء او مسکينان دي.

۲_ د لقطاتو او ترکاتو د فقيرانو، مړو په تکفين او تجهيز کي مصرف کېدل روا دي (او د مړي په تکفين او تجهيز کي تمليک نه وي دا ښکاره دليل دئ چي لقطه واجب التصدق ده واجب التمليک من الفقير نه ده).

۳_ علامه شامي رحمه الله د علامه بزودي رحمه الله څخه نقل کوي چي د لقطاتو او ترکاتو په لاندي شيانو کي استعمال روا دئ:

الف:_ عمارة القفاطر: پل جوړول.

اباء:_ اعمارت الرباطات: سراي، مسافرخانه وغيره جوړول.

جيم:_ عمارت الثغور: د اسلامي حکومتو پر سرحدو باړونه وغيره جوړول.

دال:_ عمارة المساجد: د مسجدانو تعميرول.

له دې څلورو مصارفو څخه په يوه کي هم تمليک متحقق نه دئ، همدغه ابن الشحنه، صاحب محيط البرهاني، صاحب د درمختار وغيره فقهاء کرامو يو جماعت غوره بللی دئ، مصنف محيط البرهاني رحمه الله نور زيات مصارف هم ورسره بيان کړی دئ.

هـ:_ ما في صلاح المسلمين: د مسلمانانو د عامې فائدي له پاره يې استعمالول.

واء:_ وبناء الحصون في الثغور: پر سرحدو د ساتني له پاره د مرچو جوړول.

زاء:_ والى مرا صد الطريق: په اسلامي هيوادو كي د امن او امان له پاره پر سنګرو خرڅ كول.

كاف:_ والى كري الأ نـهار العظام: د لويو ويالو د كارولو له پاره مصرفول چي په هغه كي د مسلمانانو ګټه وي.

مفتي تقى عثماني صاحب، په فتاوى عثماني كي په يو تفصيلي بحث كي وايي:

د لقطه حكم دا دئ چي هغه واجب التصدق دي... كه څه هم فقهاء كرامو فقيران د لقطې مصرف بللي دي مګر د دې له پاره يې تمليك ضروري نه دئ بللى. (فتاوى عثماني: ۳/ ۱۳۶).

حضرت تهانوى رحمه الله ويلي دي چي لقطه د خير په كار كي استعمالولاى سي.

وګورئ په اشرف الاحكام كي يې:

د لقطه حكم دا دئ چي كله هم د مالك درك سخت سي، نو د خير په يو كار كي يې وركولاى سي او زه يې په مدرسه كي وركوم. (اشرف الاحكام: ۱۹۷).

دوهم مثال وقف دئ:

هر كله چي واقف وقف سوي شى د خپل ملكيت څخه جلا كوي او د الله تعالى له پاره يې وقف كوي، نو موقوفه شى د واقف د ملكيت څخه وځي او د دې حكم واجب التصدق دئ، اوس يې هغه په خپله استعمال نه سي كولاى مګر پر موقوفه شى د چا ملكيت نه ثابتيږي او نه هغه واجب التمليك دئ، په مساجدو، مدارسو، عام د خير كارو، مصالح المسلمين او هر ډول خيراتي ادارو وغيره كي يې مصرفول د واقف له تصريح سره سم روا دي.

وګورئ: په بخاري شريف كي حديث شريف دئ:

ابن عمر رضي الله عنهما أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أصاب أرضًا بخيبر، فأتى النبي صلى الله عليه وسلم يستأمره فيها، فقال: يا رسول الله إني أصبت أرضًا بخيبر لم أصب مالاً قط أنفس عندي منه فما تأمر به ؟ قال: إن شئت حبست أصلها وتصدقت بها، قال: فتصدق بها عمر رضي الله عنه أنه لا يباع ، ولا يوهب ، ولا يورث وتصدق بها في الفقراء وفي القربى وفي الرقاب وفي سبيل الله وابن السبيل والضيف. (رواه البخارى: ۱/ ۳۸۲، ومسلم:۲/ ۴۱).

په الدر المختار كي راځي:

هو حبسها على حكم ملك الله تعالى وصرف منفعتها على من أحب ولو غنيا، قوله على حكم الله تعالىٰ قدر لفظ حكم ليفيد أن المراد أنه لم يبق على ملك الواقف ولا انتقل إلى ملك غيره بل صار على حكم ملک الله تعالىٰ الذي لا ملک فيه لأحد سواه وإلا فالكل ملک الله تعالىٰ.
(الدر المختار مع رد المحتار:۴/ ۳۹۹، سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ديباج الكعبة إذا صار خلقًا لا يجوز أخذه لكن يبيعه السلطان ويستعين على أمر الكعبة، كذا في السراجية، ولو وقف على دهن السراج للمسجد لا يجوز وضعه جميع الليل بل بقدر حاجة المصلين ...ولو أراد أن يقف أرضه على المسجد وعمارة المسجد وما يحتاج إليه من الدهن والحصير وغير ذلک على وجه لا يرد عليه الإبطال بقول: وقفت أرضي هذه ويبين حدودها بحقوقها ومرافقها وقفاً مؤبداً... للقيم أن يتصرف في ذلک على ما يرى وإذا استغنى هذا المسجد يصرف إلى فقراء المسلمين فيجوز ذلک كذا في الظهيرية. (الفتاوى الهندية:۲/ ۴۶۰).

د عالمګيري د عبارت څخه په واضح ډول معلوميږي چي د مځکي ديباج، چراغ او داسي نورو موقوفه شيانو نسبت د كعبې او مسجد طرف ته دئ يعني مذكوره شيان د مالک له ملكيت څخه خارج دي او پر مسجد وقف سوي دي مګر د هيچا په ملكيت كي نه دي او واجب التصدق هم دي.

بعينه همدغه ډول د اختري د پوست پيسې واجب التصدق دي مګر واجب التمليک نه دي.

دريم مثال يې وصيت دئ:

د اختري د پوست د پيسو واجب التمليک نه كېدو دريم مثال وصيت دئ چي د مساجدو عام كار خير او خيراتي ادارو له پاره چي كوم وصيت كيږي هغه واجب التصدق خو دي مګر واجب التمليک نه دي ځكه چي په دغه مذكوره مصارفو كي د تمليک صلاحيت نه سته، خو د دې باوجود وصيت صحيح او نافذ دي كه څه هم په دې كي يو څه اختلاف هم سته مګر د امام محمد رحمه الله په آند صحيح دي او فتوى هم پر دغه ده او د مځكي وصيت د مسجد له پاره خو بالاتفاق روا دئ، همدا

رنګه د علامه شامي رحمه الله د قول څخه معلوميږي چي لفظ د ((انفاق)) يې ويلي وي، بيا هم په اتفاق سره روا دي:

په عالمګيري کي يې وګورئ:

وفتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى إذا قال: أوصيت بمائة درهم لمسجد كذا أو لقنطرة كذا نص محمد رحمه الله تعالى أنه جائز وهو لمرمتها وإصلاحها... ولو أوصى أن يجعل أرضه مسجدًا يجوز بلا خلافٍ وإذا أوصى بثلث ماله لله تعالىٰ فالوصية باطلة عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى وقال محمد رحمه الله تعالى: الوصية جائزة ويصرف إلى وجوه البر، وبقول محمد رحمه الله تعالى يفتى ... ولو أوصى بثلث ماله لأعمال البر ذكر في فتاوى أبي الليث أن كل ما ليس فيه تمليك فهو من أعمال البر حتى يجوز صرفه إلى عمارة المسجد وسراجه دون تزيينه... ولو أوصى بالثلث في وجوه الخير يصرف إلى القنطرة أو بناء المسجد. وفيه: ولو أوصى بثلث ماله لبيت المقدس جاز ذلك وينفق على عمارة بيت المقدس وفي سراجه ونحوو ذلك... ولو أوصى بأن ينفق ثلثه على المسجد جاز ويصرف على عمارته وسراجه. (الفتاوى الهندية: ۶/ ۹۶، ۹۷، الباب الثاني من كتاب الوصية).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وكذا كونه من أهل الملك ليس بشرطٍ حتى لو أوصى مسلم بثلث ماله للمسجد أن ينفق عليه في إصلاحه وعمارته وتجصيصه يجوز؛ لأن قصد المسلم من هذه الوصية التقرب إلى الله سبحانه وتعالى بإخراج ماله إلى الله سبحانه وتعالى لا التمليك إلى أحدٍ. (بدائع الصنائع: ۷/ ۳۴۱، سعيد).

وفي الدر المختار: وفي المجتبى: أوصى بثلث ماله للكعبة جاز وتصرف للفقراء الكعبة لاغير وكذا للمسجد وللقدس... وفي رد المحتار: قوله وكذا للمسجد وللقدس أقول: الذي

في المنح عن المجتبى : وبيت المقدس، والحاصل: أن في الإيصاء للمسجد قولين : قول بعدم الصحة ، وقول بالصحة...ثم على الصحة هل تصرف على منافعه ، أو على فقرائه، قال محمد بالأول على ما هو كالصريح في كلامهم.... وأما الثاني فصرح به في المجتبى على ما ترى والقائل بعدم الصحة هو الشيخان إلا أن يقول ينفق: على المسجد ، فيجوز اتفاقًا ، وأجازه محمد مطلقًا حملًا على إرادة مصالحه تصحيحًا للكلام... (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۶۶۵، سعيد).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (المحيط البرهاني:۲۲/ ۲۶۴– ۲۶۶، نوع آخر فی الوصية الله تعالی وفی سبيله والإماکن والحبوانات واعمال البر، ولسان الحکام، ص ۴۱۷، والفتاوی الولو الجية : ۵/ ۳۳۹).

که څه هم وصيت په ابتداء (شروع) کي واجب نه دئ بلکي يو مستحب کار دئ، خو د وصيت کولو وروسته واجب التصدق ګرځي، همدا ډول د اختري د پوست په شروع کي خيراتول مستحب دي مګر د خيرات په نيت له خرڅولو وروسته واجب التصدق دئ.

څلورم مثال د لاوارث ميراث دئ:

د واجب التصدق غير واجب التمليک يو بل مثال د لاوارث ميراث دئ، فقهاء کرام ليکي: چي که يو څوک مړ سي او د هغه هيڅ يو وارث نه وي، نو د هغه مال دي په بيت المال کي جمع سي او د مسکينانو پر ضرورياتو دي خرڅ سي، همدا رنګه د لاوارث فقير مړي په تکفين او تجهيز کي دي هم خرڅ کړي يعني خيراتول يې واجب دي، خو د فقير ملکيت يې ضروري نه دئ.

په سراجي او د هغې په حاشيه کي يې وګورئ:

(... ثم بيت المال) يعني إذا لم يوجد موصى له بجمع المال يوضع المال في بيت المال... ونوعوه إلى أربعة... والرابع: بيت مال الضائع والتركة التي لا وارث لها،... فمصرف الرابع: هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم، فيعطون منه نفقتهم، وأدويتهم، وكفنهم، وعقل جناياتهم. (السراجی مع الحواشی، ص ۱۱).

وفي المبسوط للإمام السرخي: وإذا ثبت أنه لا وارث للملتقط منه كان ميراثه لبيت المال لأنه مسلم ليس له وارث معين فيرثه جماعة المسلمين يوضع ماله في بيت المال. (المبسوط: ۱۰/ ۳۶۹، باب اللقيط).

وفي الدر المختار: ثم يوضع في بيت المال لا إرثاً بل فيئاً للمسلمين. (الدر المختار:۶/ ۷۶۶، سعید).

په شرح منظومه ابن وهبان کي راځي:

ورابعها الضوائع مثل مالا ☆ يكون له أناس وارثون

ورابعها فمصرفا جهات ☆ تساوى النفع فيها المسلمون

قال ابن عابدين: قوله: ورابعها فمصرفه جهات الخ موافق لما نقله ابن الضياء في شرح الغزنوية عن البزدوي من أنه يصرف إلى المرضي والزمني واللقيط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما أشبه ذلك ولكنه مخالف لما في الهداية و الزيلعي أفاده الشرنبلالي، أي فإن الذي في الهداية وعامة الكتب أن الذي يصرف في مصالح المسلمين هو الثالث، كما مر، وأما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم فيعطي منه نفقتهم وأدويتهم وكفنهم وعقل جناياتهم كما في الزيلعي وغيره.(فتاوی الشامی:۲/ ۳۳۸، سعید).

د محيط البرهاني عبارت مخکي د لقطي په بيان کي ذکر سو، دلته يې د ترکي په مناسبت دوهم ځل وګورئ:

اللقطات والتركات تصرف إلى ما فيه صلاح المسلمين كمال الخراج والجزية إلا أنه يجعل لها بيت على حده، لما أنه ربما يظهر لها مستحق بعينها....(المحيط البرهانی:۲/ ۵۳۹، کتاب المعادن، مکتبة الرشيدية).

مصنف د محيط البرهاني رحمه الله ويلي دي، چي د تركاتو مصرف د ماليې او جزئې د مصرف په ډول دئ او د ماليې او جزئې مصرف ذكر كوي ليكي:

وقال: (الإمام محمد) الخراج والجزية تصرف إلى المقاتلة، وإلى سد ثغور المسلمين، وبناء الحصون في الثغور، وإلى مراصد الطريق في دار الإسلام ليقع الأمن عن قطع الطريق من جهة اللصوص، وإلى كري الأنهار العظام الذي فيه صلاح المسلمين، وإلى من فرغ نفسه لعمل المسلمين نحو القضاة والمحتسب والمفتين والمؤذنين والمعلمين، وإلى عمارة المساجد والقناطر، وإلى معالجة المرضى إذا كانوا فقراء، وإلى تكفين الموتى الذين لا مال لهم،... والحاصل: أن هذا النوع يصرف إلى ما فيه صلاح الدين، وصلاح دار الإسلام والمسلمين. (المحيط البرهاني: ۲/ ۵۳۹، كتاب المعادن، مكتبة الرشيدية).

وللاستزادة انظر: (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۹۱، باب فى صدقة الفطر، والبحر الرائق: ۵/ ۱۲۸، فصل فى الجزية، ومجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر: ۲/ ۴۸۶، فى كيفية القسمة، بيروت).

له لوړ ذكر سوو عباراتو څخه لاندي شيان معلوميږي:

۱_ لقطات او تركات واجب التصدق دي او د دې مصرف فقيران او مسكينان دي.

۲_ د لقطاتو او تركاتو د فقيرانو مړو په تكفين او تجهيز كي خرڅ كول روا دي (او د مړي په تكفين او تجهيز كي تمليک نه وي، نو دا يې ښكار دليل دئ چي لقطه واجب التصدق ده، خو د فقير ملكيت پكښي ضروري نه دئ).

۳_ علامه شامي رحمه الله له علامه بزدوي رحمه الله څخه نقل كوي چي د لقطاتو او تركاتو په لاندي شيانو كي استعمال روا دي:

الف:_ عمارة القفاطر: پل جوړول.

اباء:_ اعمارت الرباطات، سراي، مسافر خانه وغيره جوړول.

جيم:_ عمارت الثغور: د اسلامي حكومتو پر سرحدو باډرونه وغيره جوړول.

دال: _ عمارة المساجد، د مسجدانو تعميرول.

له دې څلورو مصارفو څخه په يوه کې هم تمليک متحقق نه دئ، همدغه ابن الشحنه، صاحب محيط البرهانى، صاحب د درمختار وغيره فقهاء کرامو يو جماعت غوره بللى دئ، مصنف محيط البرهانى رحمه الله نور زيات مصارف هم ورسره بيان کړى دئ.

ه: _ ما فيه صلاح المسلمين: د مسلمانانو د عامې فائدې له پاره يې استعمالول.

واء: _ وبناء الحصون فى الثغور: پر سرحدو د ساتنې له پاره د مرچو جوړول.

زاء: _ والى مرا صد الطريق: په اسلامي هيوادو کې د امن او امان له پاره پر سنګرو خرڅ کول.

کاف: _ والى كرى الا نهار العظام: د لويو ويالو د کارولو له پاره مصرفول چې په هغه کې د مسلمانانو ګټه وي.

په الموسوعة الفقهيه کې راځي:

البيت الرابع : وهو بيت مال الفيء : أهم موارد هذا البيت ما يلي :

أ- أنواع الفيء. ب- سهم الله ورسوله من الأخماس .ج - الأراضي التي غنمها المسلمون.

د - خراج الأرض التي غنمها المسلمون . ز - مال من مات بلا وارثٍ من المسلمين ، ومن ذلك ديته ....

مصارف بيت مال الفىء:

مصرف أموال هذا البيت (البيت الرابع) المصالح العامة للمسلمين ، فيكون تحت يد الإمام ، ويصرف منه بحسب نظره واجتهاده في المصلحة العامة .

ز- المصالح العامة لبلدان المسلمين، من انشاء المساجد والطرق والجسور والقناطر والأنهار والمدارس ونحو ذلک، وإصلاح ما تلف منها. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ٨/ ٢٥٠).

یادونه: په الموسوعه کي یې د لقطي مصرف په دریمه نوعه کي ذکر کړی دئ او د لاوارث د ترکې مصرف یې تر څلورمي نوعي لاندي لیکلي دئ:

د مذکوره فقهي عباراتو په رڼا کي دا خبر د رڼا ورځي په څېر ښکاریږي چي د لقطي او ترکې د مصرف په اړوند د فقهاء کرامو دوه قولونه په لاس راځي:

۱_ لومړی قول دا دئ: چي پر فقیرانو دي خرڅ کړي که هغه د دې مالک جوړ کړي یا یې د هغه پر ضروریاتو له مالک جوړولو پرته خرڅ کړي لکه تکفین او تجهیز چي په دې کي تملیک فقیر نه وي.

۲_ په عامو خیراتي کارو کي دي مصرف سي، دغه قول علامه شامي رحمه الله غیر مشهور بللی دئ، خو په المحیط البرهاني کي دغه قول د امام محمد رحمه الله څخه نقل سوي دئ لکه څنګه چي ذکر سو همدا رنګه دغه قول علامه عبد البر ابن الشحنه حلبی، علامه حصکفی، مصنف محیط البرهانی، علامه بزدوی او ابن الضیاء المقدسی وغیره فقهاء کرامو رحمهم الله غوره بللی دئ.

په الموسوعه الفقهیه الکویتیة کي یې همدغه قول غوره بللی دئ.

مطلب دا چي د دوهم قول په رڼا کي فقیر له منځ څخه وزي او په عامو خیراتي ادارو کي یې خرڅ کول روا دي (ښکاره خبره چي دغه قول لویو لویو محققینو غوره کړی دئ).

پنځم مثال د سود مال او حرام مال دئ:

هر هغه مال چي له څه شرعي وجي پرته په لاس راسي د بانک وغیره څخه په قرض کي مشروط عوض واخیستل سي چي د هغه مالک معلوم نه وي، د دې مال حکم دا دي چي دا واجب التصدق ده مګر واجب التملیک دئ که نه دئ؟ په دې اړوند د علماء کرامو دوې ډلې دي:

۱_ د ډېرو علماء کرامو رایه دا ده چي دا واجب التملیک دئ یعني په دې کي د فقیر مالک جوړول ضروري دي.

۲_ ځیني علماء کرام وایي:

چي دغه مالونه واجب التملیک نه دي، لهذا په عامو خیراتي کارو کي یې خرڅ کول اجازه سته له دې سره سم مفتي عبد الرحیم رحمه الله، حضرت مفتي کفایت الله صاحب، حضرت مفتي تقی عثماني، حضرت مولانا خالد سیف الله صاحب او مولانا مجیب الله (اسلامي فقه والا) او داسي نورو د علماء کرامو فتوې ورکړې ده.

شپږم شی غیر منصوص کېدل دي:

له دې سره سره د اختري د پوست د واجب التملیک کېدو په اړوند کوم صریح نص هم نه ستنه بلکي دغه مسئله قیاس ده، نو ځکه په دې کي ډېر تشدد او سختي کول نامناسب ده د دې په خلاف د زکات، سر سایې وغیره تملیک په خپل په نصوصو کي صراحةً دلالةً اشارةً موجود دئ:

او د اختري اصلي مقصد د ويني توېول دي.

په اعلاء السنن کي يې وګورئ:

والقربة إنما تعلقت بنفس الأضحية لا بلحمها وجلدها فلو اشترى لحماً وتصدق به لم يكن من الأضحية في شيء، وقد روى الترمذي عن عائشة رضى الله تعالى عنها وحسنه أن النبي ﷺ قال: ما عمل ابن آدم يوم النحر عملاً أحب إلى الله من إراقة الدم.... فالقربة إنما هو الذبح والنحر على اسم الله، وإنما أمر بأكل اللحم والتصدق به وبالجلد ونحوه،.... لكونه ملابسا لمحل القربة. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۸، باب بیع جلد الاضحیة).

او دا مقصد حاصل سو له همدې امله د غوښي خوړلو او پوست استعمالولو اجازه رسول الله ﷺ په خپله ورکړې ده، هو پوست چي خرڅ کړي د قیمت د استعمالولو اجازه ځکه نه ده ورکړې چي د تجارت دروازه خلاصه نه سي، نو ځکه يې په احادیثو کي د قیمت د خیراتولو حکم راغلی دئ او فقهاء کرامو هم ورکړی دئ، چي د دې اصل ته په کتو سره د تملیک فائده نه ورکوي.

خو بیا هم د دیوبند د اکابرو پر قول په عمل کولو کي احتیاط دئ مګر تشدد او سختي کول ښه نه دي که یو چا قیمت په مسجد کي صرف کړي وي، نو د دوهم ځل له پاره دي د خیراتولو حکم نه ورکول کیږي او تر ټولو ښه طریقه دا ده چي د اختري پوست دي د مسجد متولي ته ورکړل سي او هغه دي خرڅ کړي قیمت دي په مسجد کي مصرف کړي.

څو اشکالونه او د هغوی جوابونه:

۱_ **اشکال:** که یو څوک اشکال وکړي چي د اختري پوست د خیرات په نیت سره خرڅ کړل سي، نو د عدم خبث له امله څخه واجب المتلیک نه دئ دا خو صحیح دي مګر که د مال لاس ته راوړلو په نیت خرڅ کړل سي، نو د خبث له امله واجب التملیک دئ او که نه؟

الجواب. د ځینو اکابرو له نظریې سره سم په سودي مال همدا ډول په غیر شرعي طریقه لاس ته راغلی مالو کي خبث سته له همدې امله یې خیراتول واجب دي، خو د دغو علماء کرامو په آند په دغو مالو کي هم تملیک ضروري نه دئ، په هر نیک کار او خیراتي ادارو کي یې استعمال روا دئ. که څه هم د ځینو مفتیانو کرامو په آند په کوم مال کي چي خبث وي په هغه کي د فقیر تملیک ضروري دئ.

د حضرت مفتي عبد الرحیم رحمه الله، مفتي کفایت الله صاحب، حضرت مفتي تقی عثماني، حضرت مولانا خالد سیف الله رحماني صاحب او مولانا مجیب الله ندوی صاحب وغیره رایه همدا ده چي د فقیر تملیک ضروري نه دئ، د دغو مفتیانو کرامو د مسلک دلیل دغه حدیث شریف جوړیدلای سي:

کله چي رسول الله ﷺ: د قوم ثمود ځای ته ورسېدئ او صحابه کرامو د هغوی د څاه په اوبو سره وړه لانده کړه، نو رسول الله ﷺ د هغو وړو اوبنانو ته د ورکولو امر وکړ.

په بخاري شریف کي یې وګورئ:

عن ابن عمر رضي الله عنهما أن الناس نزلوا مع رسول الله ﷺ أرض ثمود الحجر فاستقوا من بئرها واعتجنوا به فأمرهم رسول الله ﷺ أن يهريقوا ما استقوا من بئرها ، وأن يعلفوا الإبل العجين وأمرهم أن يستقوا من البئر التي كان تردها الناقة. (رواه البخاري: ۱/ ۴۷۸).

په یو روایت کي یې د وړو د غورځولو حکم راغلی دئ په دغو وړو کي کراهت تحریمي راغلی ؤ یا تنزیهي په دواړو صورتو کي یې اوبنانو ته د ورکولو مطلب دا دئ چي په کوم شی کي خبث راسي او په خپله یې استعمال نه سي کولای، نو د هغه د خیر په کار کي استعمال روا دي، هو د شرابو د تویولو حکم دئ، د دې د تملیک اجازه نه سته، البته سرکه ورڅخه جوړولای سي.

د نور تفصیل له پاره یې وګورئ: (عمدة القاری: ۱۱/ ۹۹).

په مذکوره روایت کي د لمدو وړو تملیک نه راغلی.

نو په کوم مال کي چي له واجب التصدق کېدو سره خبث هم نه وي (لکه د اختري د پوست پیسې چي د خیرات په نیت خرڅ سوي وي) په دې کي په طریقه اولی سره د فقیر تملیک ضروري نه دئ.

۲_ اشکال: علماء ديوبند د اختري د پوست د قيمت واجب التمليک ولي بللی دئ د دې څه ثبوت سته؟

الجواب: د علماء ديوبند د اکابرو د قول بنياد دا دئ چې په کوم ځای کي د صدقې لفظ ذکر کيږي هلته له صدقې څخه صدقه واجبه مراد وي او په صدقه واجبه کي د زکات سر سايې وغيره په ډول تمليک ضروري دئ.

وګورئ: مفتي اعظم پاک وهند مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

لما في الخلاصة وفي مجمع النوازل قوله عليه الصلاة والسلام: لا تحل الصدقة لغني ولا لفقير بني هاشم محمول على الصدقة الواجبة.... أما إذا أطلق لفظ الصدقة فهي صدقة واجبة. (خلاصة الفتاوى: ۱/ ۲۴۵).

وفي رد المحتار: وهو (يعني مصرف الزكاة) مصرف أيضاً لصدقة الفطر والكفارة والنذر غير ذلک من الصدقات الواجبة كما في القهستاني. (فتاوى الشامي: ۳/ ۳۳۹، سيعد). (جواهر الفقه: ۶/ ۳۳۲).

امداد المفتين کي فرمايي:

د صدقې او تصدق لفظ چې مطلق ذکر سي، نو د فقهاء کرامو په اصطلاح کي واجب التمليک وي او د دې مصرف فقيران دي، د مدرسو وغيره جوړول په دې کي داخل نه دي. (امداد المفتين، جلد دوم، ۳۸۴، کتاب الزکوة، رساله، اشباع الكلام في مصرف الصدقة من المال الحرام).

مګر په خپله حضرت تهانوي رحمه الله د لقطې خرڅول په هر کار خير کي روا بللی دي. (اشرف الاحکام، ص ۱۹۷).

حضرت مولانا اشرف علي رحمه الله په امداد الفتاوی کي ليکي:

په سوال کي له ده څخه د پوست د قيمت د مسجد په جوړولو کي د مصرفولو د دليل غوښتنه سوې وه.

دغه احکام له مختلفو بابو څخه اخيستل سوې دي:

فی الدر المختار : فإن بیع الحم والجلد أی بمستهلک أو بدراهم تصدق بثمنه وفیه کتاب الهبه والصدقة کالهبة لا تصح غیر مقبوضة وفیه هو أی الهبة تملیک العین مجاناً وفیه باب المصرف للزکاة وجازت التطوعات من الصدقات وغلة الأوقاف لهم. الخ.

له دې روایاتو څخه د پوست د پیسو وجوب خیرات او په خیرات کي يې تملیک شرط بلل او د دې مصرف د صدقاتو واجبو په ډول بلل ثابت سو. (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۶۶).

همدا ډول په څو نورو ځایو کي هم همدغه مسئله ذکر ده: (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۳۵ و ۵۶۱).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله هم په امداد الاحکام کي مذکوره مسئله له دلائلو سره په ښه وضاحت سره لیکلي ده:

د دې خلاصه دا ده چي د اختري د پوست د قیمت حکم د نفلي خیرات په ډول نه دي بلکي د صدقات واجبو په ډول دي لکه زکات، سر سایه مګر له دې دوو پرته په نورو کي اباحت هم کافي دئ او په زکات او سر سایه کي اباحت کافي نه دئ. راجع امداد الاحکام. (امداد الاحکام: ۴/ ۲۵۷ – ۲۵۹).

د مذکوره ټولو دلائلو خلاصه دا ده چي د تصدق په لفظ کي تملیک ضروري دئ، مثل زکات و سر سایه.

☆ مګر که د احادیثو او فقهاء کرامو عبارات ته په دقیق نظر وکتل سي، نو هر ځای د تصدق له لفظ څخه مطلقاً تملیک مراد نه دئ بلکي په داسي تصدق کي هم مستعمل دي چي هغه واجب التملیک نه وي، د تصدق لفظ چي په غیر واجب التملیک کي مستعمل سوي دئ د هغه مثالونه په حدیثو کي وګورئ:

عن علي بن ابی طالب رضي الله عنه قال: أمر ني رسول الله صلى الله عليه وسلم: أن أقوم على بدنه وأن أتصدق بلحومها وجلودها (متفق علیه).

قال العلامة ظفر أحمد العثماني: أما الأمر بالتصدق بالأشياء المذكورة فمحمول على الندب. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۶۰، ادارة القرآن).

په امت کې غالباً نه مخکښې نه وروستني علماء کرامو دا ويلي دي چې د اختري غوښې او د څغه پوست واجب التمليک دئ بلکې خيرات يې هم واجب نه دئ، لان الشارع اباح انتفاع المالک باللحوم والجلود.

(۲) أخرج الشيخان عن ابن عمر رضي الله عنه أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أصاب أرضاً بخيبر... إلى قوله.... قال: فتصدق بها عمر رضي الله عنه أنه لا تباع ولاتوهب ولا تورث وتصدق بها فى الفقراء وفى القربى وفى الرقاب: سبيل الله وابن السبيل والضعيف... الخ. (رواه البخاری: ۱/ ۳۸۲، ومسلم: ۲/ ۴۱).

په لوړ حديث کې که د تصدق له لفظ څخه که د فقير تمليک ضروري وي، نو بيا دا په فى سبيل الله هر د خير کار وغيره کې څنګه ثابتيږي او وقف واجب التمليک الى الفقير نه دئ بلکې د الله عزوجل ملک دئ:

(۳) أخرج الدار قطني: (۴/ ۱۸۲)، والطبراني فى الأوسط: (۵/ ۳۵۳)، عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وسئل عن اللقطة، فقال: لا تحل اللقطة من التقط شيئاً فليعرفه سنة، فإن جاء صاحبها فليردها إليه، وإن لم يات صاحبها فليتصدق بها... الخ. وهذا اللفظ للدار قطني، وإسناده ضعيف.

وروى ابن أبي شيبة فى المصنف عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال فى اللقطة يعرفها سنة فإن جاء صاحبها وإلا تصدق بها... الخ. (رواه ابن ابی شيبة فى المصنف: ۱۰/ ۱۳۹/ ۱۸۶۳۰).

په ذکر سوي حديث شريف کې د لقطې په اړوند د تصدق لفظ موجود دئ او د فقهاء کرامو عبارات مخکې تېر سوه چې لقطه د مسکينانو مړو په کفن کې استعمالېدلای سي، خو په دې کې تمليک نه وي، نو معلومه سوه چې په دې حديث شريف کې د تصدق لفظ د واجب التصدق له پاره دئ، نه د واجب التمليک له پاره:

(۴) أخرج أبو داود والنسائي عن سعد بن عبادة قال: يا رسول الله إن أم سعد ماتت فأي الصدقة أفضل قال: الـمـاء فحفر بئراً، وقال: هذه لأم سعد. (ابو داود، رقم: ۱۶۸۳).

په مذکوره حدیث کې د صدقې د لفظ اطلاق پر څاه سوی دئ چې په دې کې هم تملیک نه سته.

(۵) عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلا من ثلاثة، إلا من صدقة جارية.. الخ. (رواه مسلم: ۲/ ۴۱، والترمذی: ۱/ ۲۵۶).

په صدقه جاريه کې مدرسې، مساجد، مصالح مسلمين خيراتي ادارې، هر نيک کار او داسي نور شيان ټول داخل دي چې په دې کې تمليک نه وي.

(۶) عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما من مسلم يغرس غرساً أو يزرع زرعاً فيأكل منه إنسان أو طير أو بهيمة إلا كانت له صدقة. (متفق عليه).

په مذکوره روايت کې يې لفظ د صدقې د تمليک او غير تمليک دواړو له پاره را وړل سوي دئ ځکه چې انسان يې لاس ته راوړي، نو ملک يې ثابت سو مګر په حيوانانو مرغانو وغيره کې د تمليک ثبوت د منلو وړ خبره نه ده.

هو په قرآن کريم او احاديثو کې چې چيري صدقۀ واجبه وي، نو له هغې څخه مراد واجب التمليک دئ لکه سر سايه زکات وغيره په هغه ځای کې سياق او سباق تمليک متعين کوي که نه په نفس صدقه کې واجب التمليک غالباً نه سته.

(که څه هم ځينو مفسرينو دغه قول غوره کړی دئ چې د تصدق لفظ مطلق د صدقات واجبه له پاره استعماليږي) په صدقات واجبه ؤ کې واجب التمليک مراد د دې څو مثالونه وګورئ:

الف _ مثلاً په قرآن کريم کې آيت شريف دئ:

﴿ إنما الصدقات للفقراء ﴾ (سورة التوبه، الآية ۶۰).

له دې څخه مراد زکات دي کوم چې واجب التمليک دئ او د دې قرينه ((فريضة من الله)) ده.

باء_ په ﴿ خذ من أموالهم صدقةً تطهرهم ﴾ (سورة التوبه، الآیه ۱۰۳)، کي مفسرين وايي، چي زکات مراد دئ، له همدې امله د رسول الله ﷺ له وصاله وروسته يو جماعت له زکات ورکولو منع وکړه، نو حضرت ابو بکر ﷜ له هغوی سره جهاد اعلان کړي.

جيم_ په حديث شريف کي راځي: ((لا تحل الصدقة لبني هاشم)) په دې کي بنی هاشم قرينه ده چي زکات او صدقه واجبه مراد ده، که نه صدقات نافله غير واجب التمليک بنی هاشم ته هم ورکول کېدلای سي.

دال_ د فقهاء کراو په اصطلاح کي هم له صدقې څخه مراد صدقه نافله غير واجب التمليک ده.

علامه شامي رحمه الله ليکلي دي:

ولذا صححوا النذر بالوقف لأن من جنسه واجباً وهو بناء مسجد للمسلمين. (فتاوی الشامی: ۳/ ۷۳۵، سعيد).

معلومه سوه چي د نذر وقف صحيح دئ او دا ښکاره ده چي دا واجب التصدق ده، خو په دې کي د فقير تمليک نه سته، ځکه چي وقف دي، همدا رنګه په کفاره کي کوم چي فقيرانو ته ډوډئ ورکول دي دا واجب التصدق ده مګر په دې کي اباحت هم چليږي، تمليک يې ضروري نه دئ.

په الموسوعة الفقهية الكويتية کي راځي:

والغالب عند الفقهاء استعمل لفظ الصدقة في صدقة التطوع. (الموسوعة: ۴۴/ ۱۰۹).

يو بل ځای کي ليکي:

والغالب عند الفقهاء : استعمل هذه الكلمة في صدقة التطوع خاصةً، يقول الشربيني : صدقة التطوع هي المرادة عند الإطلاق غالبًا، ويفهم هذا من كلام سائر الفقهاء أيضًا ، يقول الحطاب : الهبة إن تمحضت لثواب الآخرة فهي الصدقة، ومثله ما قاله البعلي الحنبلي في المطلع على أبواب المقنع : وفي وجه تسميتها صدقةً يقول القليوبي : سميت بذلك لإشعارها بصدق نية باذلها وهذا المعنى الأخير أي صدقة التطوع هو المقصود في هذا البحث عند

الإطلاق، وقد تطلق الصدقة على الوقف ... وقد تطلق الصدقة على كل نوع من المعروف. (الموسوعة: ۲۶/ ۳۲۳).

د مذکوره ټولو شواهدو او مثالو څخه دا خبر د رڼا ورځې په څېر معلومیږي چې د تصدق یا صدقې لفظ مطلق وي، نو پر صدقات واجبه یې اطلاق نه کیږي بلکې د احادیثو او فقهاء کرامو په اصطلاح کې یې پر صدقه نافله او واجب التصدق هم اطلاق کیږي مګر که سیاق او سباق پر صدقات واجب دلالت وکړي، نو بیا واجب التملیک مراد ورڅخه اخیستل کیږي.

۳_ **اشکال:** ځیني علماء کرام وایي چې په هر ډول صدقه (خیرات) د فقیر تملیک ضروري دئ که نفلي وي که واجب حتی چې هبه هم د تملیک پرته نه تامیږي.

په البحر الرائق کې یې وګورئ:

والصدقة كالهبة لاتصح إلا بالقبض لأنها تبرع كالهبة. (البحر الرائق: ۷/ ۲۹۷، کوئته).

وفی الدر المختار: والصدقة كالهبة بجامع التبرع وحينئذٍ لا تصح غير مقبوضة. (الدر المختار: ۲/ ۳۴۹، کوئته).

له دې عباراتو څخه معلومیږي چې د فقیر تملیک ضروري دئ، د دې جواب څه دئ؟

الجواب: دا خبره خو د منلو وړ ده چې په ټولو خیراتونو، هبه، عطیه وغیره کې قبضه ضروري ده، د قبضې پرته یو هم نه تامیږي، خو دا خبر د منلو وړ نه ده چې د هرې صدقې او عطیې له پاره د فقیر تملیک ضروري دئ، خو د متولي او ناظم قبضه ضروري ده او د مسجد، مدرسې له پاره نفلي صدقه د کوم فقیر ملک نه وي بلکې د مسجد په ملک کې وي.

د صدقو قسمونه او د هغوی په منځ کې فرق:

مناسب معلومیږي چې د صدقو اقسام د احکامو سره په واضح ډول بیان سي د دې له پاره چې د هر یوه قسم په منځ کې فرق هم ښکاره سي که څه هم دې کې ډېر زیات فرق نه سته، په شریعت مطهره کې د صدقاتو اطلاق پر څو معناوو باندې کیږي:

۱_ د صدقې اطلاق پر زکات کیږي او دا د الله ﷻ د طرف څخه پر بندګانو فرض سوي دي.

۲_ د صدقې اطلاق پر سر سایه کیږي او دا واجب ده د دې وجوب هم د شارع د طرفه دئ رسول الله ﷺ د دې حکم کړی دئ.

۳_ پر نذر او كفاراتو هم د صدقې اطلاق سوى دئ دا د بندګانو د خپلو كارو له امله واجبيږي، د صدقاتو له مذكوره درو قسمو څخه په واجب سره تعبير كيږي:

وقال في رد المحتار: قوله أي مصرف الزكاة والعشر....وهو مصرف أيضاً لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلک من الصدقات الواجبه. (رد المحتار:۲/ ۳۳۹، باب المصرف).

۴_ د صدقې اطلاق پر هغو مالو هم كيږي چي خيراتول يې واجب وي يعني كوم چي د ملک غير يا خبث له امله څخه د استعمال قابل نه وي، نو شريعت دغه مال واجب التصدق بللى دئ، يا د يو كار د كولو امله څخه لازم سوي وي لكه د لقطه اخيستلو له امله هغه مال واجب التصدق دئ يا د اختري د پوست د خرڅولو له امله د هغه قيمت واجب التصدق دئ، همدا رنګه غلا، غصب، سود وغيره نور په حرامه او ناروا طريقه سره لاس ته راغلي، مالونه چي مالک يې معلومه نه وي، نو دا ټول واجب التصدق دي.

علامه شامي رحمه الله د داسي مالو په اړوند ليكي:

وقال في النهاية: قال عض مشائخنا : كسب المغنية كالمغصوب لم يحل أخذه وعلى هذا قالوا: لو مات الرجل وكسبه من بيع الباذق أو الظلم أو أخذ الرشوة ... ويردونها على أربابها إن عرفوهم، وإلا تصدقوا بها لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه .

(رد المحتار:۶/ ۳۸۵، فصل في البيع، سعيد).

۵_ د صدقې اطلاق پر وقف، هبه، هديه، عطيه هم كيږي او له دې څخه مراد نفلې صدقات وي كه څه هم فقهاء كرامو د دې په منځ كي څه فرق بيان كړي دئ:

الف_ وقف: له خپل ملكيت څخه يې وباسي د الله عزوجل په ملكيت كي يې له وركولو سره د عين په باقي پرې ښودلو كي د نفع اخيستلو اجازه وركول، پر مساجدو، مدرسو، خيراتي ادارو او فقيرانو ټولو وقف كېدلاى سي.

باء_ هبه: په قريبانو كي دا ړيكو د ټينګښت او محبت له پاره چي وي هبه ده.

جيم_ هديه: چي احترام او عزت يې ور څخه مطلب وي، نو هديه ده.

دال_ عطيه: چي په اخرت کي يې ثواب ورڅخه مطلب وي، نو خاص صدقه ده، بيا عطيه دغو ټولو ته شامله ده.

په الموسوعه الفقهية الكويتية کي يې وګورئ:

وقد تطلق الصدقة على الوقف... وقد تطلق الصدقة على كل نوع من المصروف ...إذا كان لثواب الآخرة فصدقة، وإذا كان للمواصلة والوداد فهبة، وإن قصد به الإكرام فهدية... والعطية شاملة للجميع. (الموسوعة: ٢٦/ ٣٢٣).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما صدقة التطوع فيجوز صرفها إلى الغنى لأنها تجري مجرى الهبة. (بدائع الصنائع: ٢/ ٤٢، سعيد).

﴿ د صدقو په احکامو کي فرق ﴾

له دې مذکوره اقسامو څخه د لومړی او دوهم قسم مصرف فقيران او مسکينان وغيره دي، يعنی په دې کي تمليک ضروري دئ، د تمليک پرته ناروا دي.

نذر او کفارات يعني دريم قسم هم د صدقات واجبه د قبيلې څخه دي مګر د ځينو علماء کرامو په آند په دې کي تمليک د فقير ضروري نه دئ بلکي اباحت هم پکښي روا دئ. کما فی غنية المناسک وامداد الاحکام.

هو عام فقهاء کرامو دې ته صدقات واجبه وايي:

څلورم قسم واجب التصدق دي او په دې کي د علماء کرامو اختلاف دئ چي دا واجب التمليک دي که يوازي واجب التصدق دي چي د دې تفصيل تر څلورم مثال لاندي تېر سو، هلته مراجعه کولای سي.

په پنځم قسم نفلي صدقو کي قبضه ضروري ده د قبضې پرته نه تاميږي.

په غنية المناسک فی بغية المناسک کي يې وګورئ:

لافرق بين الزكاة وبقية الهدايا بل بين كل صدقة واجبة كالفطر والنذور والكفارات في المصارف وأموال الصرف إلا أن الزكاة لايجوز صرفه إلى الذمي بالاتفاق... وإلا أن الزكاة والفطرة يشترط في صرفها التمليک وفي ما سواهما يكفى الإباحة أيضاً. (غية الناسک، ص: ۱۹۲، فصل فی احکام الهدايا).

همدا رنګه په امداد الاحکام کي يې وګورئ: (امداد الاحکام: ۴/ ۴۵۹).

که څه هم علامه شامي رحمه الله د ټولو صدقاتو واجبو (۱-۲_۳) مصرف يو بيان کړی دئ يعني د فقير ملکيت يې شرط بللی، البته په (۴) کي تمليک شرط نه دئ، لکه څنګه چي د لقطې په اړوند د فقهاء کرامو عبارات ذکر سو، له همدې امله د اختري د پوست په پيسو کي د ځيني افغاني علماء کرامو په آند هم تمليک شرط نه دئ.

لنډه دا چي د صدقه واجبه او واجب التصدق په منځ کي فرق دا دئ چي کومه صدقه پر انسان الله عزوجل يا د هغه رسول ﷺ د طرفه لازمه سوي وي يا يې په خپله انسان په خپل ځان په نذر سره لازمه کړي هغه صدقه واجبه ده لکه زکات سر سايه او کومه صدقه چي پر انسان د الله عزوجل د طرفه لازمه سوي نه وي بلکي د يو کار د کولو په نيتجه کي لازمه سوي وي هغه واجب التصدق ده لکه د اختريانو د پوستنو د خرڅولو امله د هغوی قيمت واجب التصدق دئ يا د لقطې د اخيستلو په نيتجه کي لقطه يا د هغې قيمت واجب التصدق دئ. والله ﷻ اعلم.

يو اشکال او د هغه جواب:

اشکال: تاسو چي د صدقات واجبه او واجب التصدق په منځ کي کوم فرق بيان کړی دئ، آيا فقهاء کرامو هم همداسي فرق بيان کړی دئ او که نه؟ که يې بيان کړي وي د هغه حواله راته وليکي؟

الجواب: علامه سرخسي رحمه الله په مبسوط کي د حضرت علي رضي الله عنه تر واقعه لاندي ليکلي دي چي حضرت علي رضي الله عنه لقطه استعمال کړه او صدقات واجبه د بنی هاشمو له پاره روا نه دي، نو د دې وجه يې دا بيان کړې ده چي لقطه د صدقات واجبه په ډول نه ده بلکي د دې حکم جلا دئ، يعني يوازي واجب التصدق دئ له دې امله حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په اجازه سره استعمال کړه.

د مبسوط عبارت وګورئ:

ولـما روي عن علي رضي الله عنه أنه وجد دينارًا فاشترى به طعامًا بعد التعريف فأكل من ذلك رسول الله ﷺ وعلي وفاطمة والحسن والحسين رضي الله عنهم أجمعين ... فلهذا تناولوا منه على أن الصدقة الواجبة كانت لاتحل لهم وهذا لم يكن من تلك الجملة فلهذا استجاز علي رضي الله عنه الشراء بها لحاجته.(المبسوط للامام السرخسي: ۱۱/ ۷، ۸).

د اختري پوست هم د اصل په اعتبار سره واجب التصدق نه دئ، لهذا د دې د قیمت هم واجب التصدق کېدل په کار نه ؤ، خو فقهاء کرامو واجب التصدق ځکه بللی دئ چې د تجارت دروازه خلاصه نه سي، نو دا واجب التصدق لغيره دئ ځکه يې په مسجد کي مصرفول په کار دي.

د دې مثال د اختري غوښه ده چي په خپله يې هم خوړلای سي او نورو ته يې هم ورکولای سي په دې کي تمليک ضروري نه دئ، په پخوا زمانه کي به يې په منې کي لړ غوښي استعمال کړي، نور به يې پرېښودلي هغه ټولي به ضائع سوي، مراغانو به خوړلي، لهذا نو دا ولي خامخا د زکات په ډول وبلل سي.

فقيه العصر مفتي فريد رحمه الله وايي:

حاجيان همېشه په لکو هداياوي ذبح کوي په غوښو او پوستو کي اباحت کوي تمليک نه کوي او پر دغه د خلکو تعامل هم دئ.(فتاوی فریدیه: ۲/ ۶۶۰). والله ﷻ اعلم.

څلورم فصل

د اختري په اړوند د متفرق احکامو بیان

د هیواد بهر د اختري کولو حکم

سوال: د جنوبي افریقا ځیني خلک د خپل هیواد بهر د اختریانو د کولو حکم ورکوي؟ کوم څوک چي د دې کار سر پرستي یا تجارت کوي هغه دوه ډوله معاملې کوي:

۱_ ځیني خلک د اختري پر سر (۵۰۰) روپۍ اخلي او حیوان هلته په هندوستان کي ساتي یو حیوان پر یوه سړی په پنځه سوه روپۍ خرڅوي او خپل وکیل ته خبر ورکوي چي پر یو حیوان د فلانی له پاره نخښي ولګوه، د دې حکم څه دئ؟ په دې صورت کي چي د مشتري قبضه نه وي، نو د هلاکېدو په صورت کي یې پر بائع تاوان راتلل په کار دي، همدا رنګه مشتري یا د هغه وکیل دا لیدلي هم نه دئ، نو بیع مهجول هم سوه؟

۲_ دوهمه طریقه دا ده چي رانیوونکو ته وایي چي موږ به تا ته په څلور سو روپۍ اختري را نیسو او سل روپۍ به زموږ د کوښښ مزدوري وي په دې کي په ظاهره دا خرابی ده چي که چیري حیوان تر څلور سو په کم قیمت رانیسي، نو پاته پیسې به بېرته ورکوي مګر دوی داسي نه کوي؟

الجواب: په دې صورت کي په لومړی صورت کي که د اختري مشتري خپل وکیل ته مکمل اختیار ورکړي وي چي کوم څوک دي خوښ سي هغه ته زما حیوان حواله کړه او په ظاهره همدغه سي کیږي کوم کس چي په هندوستان کي د حیوانانو نګرانی کوي هغه د اختري والا د طرف څخه د مشتري وکیل بالقبض جوړ سو، نو ځکه د هلاکت په صورت کي تاوان پر مشتري راځي پر بائع نه راځي او د وکیل کتل د مؤکل کتل دي، نو دا معامله بالکل صحیح سوه.

۲_ په دوهم صورت کي د را نیولو د وکیل له پاره د خپل کوښښ په مقابل کي سل روپۍ اخیستل بالکل روا دي او که یې تر څلور سو په کم قیمت رانیولي وي، نو د پاتي پیسو یې دوه صورتونه دي.

الف_ : یو دا دئ چي مؤکل ورته ویلي وي چي زیاتي پیسې هم ستا دي بیا یې د خپل ځان له پاره اخیستلای سي.

باء_ : بل دا دئ چي مؤکل دا نه وي ورته ویلي، نو د دې پیسو بېرته ورکول ضروري دي.

د حضرت تهانوي رحمه الله شخه په همدې ډول يو سوال سوي ؤ، د سوال او جواب خلاصه په لاندي ډول ده:

سوال: كه يو طبيب د چا له پاره دوا جوړه كړي او زياتي پيسې يې د مريض څخه واخستلې د دې زياتو پيسو اخيستل روا دي او كه نه؟

حضرت تهانوي رحمه الله د دې په جواب كي ليكلي دئ: چي كه چيري دا كار د مريض په اجازه سره وكړي، نو روا دئ كه د مريض په اجازه سره نه وي ناروا دئ او بيرته وركول يې ضروري دي او كه هغه خلك نامعلوم وي، نو د هغوى له خوا دي خيرات كړي. والله تعالى اعلم.

د ښځي د خپل اختري په خپله كولو حكم

سوال: آيا د ښځي له پاره روا دي چي دلوى اختر په ورځ خپل اختري په خپله حلال كړي؟

الجواب: كه ښځه په ښه طريقه سره ذبح كولاى سي، نو خپل حيوان په خپله ذبح كولاى سي.

په بخاري شريف كي حديث شريف دئ وې ګورئ:

عن نافعٍ سمع ابن كعب بن مالكٍ يخبر ابن عمر رضي الله عنه أن أباه أخبره أن جاريةً لهم كانت ترعى غنمًا بسلعٍ فأبصرت بشاةٍ من غنمها موتًا فكسرت حجرًا فذبحتها فقال لأهله لا تأكلوا حتى آتي النبي ﷺ فأسأله، أو حتى أرسل إليه من يسأله فأتى النبي ﷺ، أو بعث إليه فأمر النبي ﷺ بأكلها. (رواه البخاري: ۲/ ۸۲۷).

په سنن كبرى للبيهقى كي راځي:

عن الشعبي عن جابر رضي الله عنه أن النبي ﷺ رخص في ذبيحة المرأة والصبي أو الغلام إذا ذكروا اسم الله. هذا إسناد فيه ضعف. (السنن الكبرى للبيهقى: ۹/ ۲۸۳/ ۱۹۶۳۲).

په فتاوى عالمګيري كي راځي:

المرأة المسلمة والكتابية فى الذبح كالرجل. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۸۶).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د كراهت پرته حلال دئ. (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۰۸).

په كتاب الفتاوى كي راځي:

د ذبح او ذبیحې د حلال والي له پاره دا ضروري نه ده چې حلالونکی به نارینه وي په دې مسئله کې د نارینه او ښځې حکم یو دئ. (کتاب الفتاوی: ۴/ ۱۹۷). والله ﷻ اعلم.

د اخترې د غوا د شیدو حکم

سوال: یو سړی د اخترې له پاره غوا رانیوله او د هغه غوا شیدې کوي آیا د دغو شیدو استعمال ورته روا دئ او که یې خیراتول ضروري دي؟

الجواب: د اخترې د حیوان که یې د اوسېدو او ښو زیاته برخه د مالک پر کور وي، نو په دې صورت کې یې د استعمالولو اجازه سته مګر که چیرې د اخترې د حیوان ډېر تګ راتګ او وخت تېرول دباندې وي، نو د دې د شیدو په اړوند د فقهاء کرامو اختلاف دئ، ځینې فقهاء کرامو د غني له پاره د استعمال اجازه ورکړې ده او د فقیر له پاره یې مکروه بللی دئ مګر د جمهورو په آند د دواړو له پاره مکروه دي او دا صحیح قول دئ.

نو اوس که د اخترې کولو وخت نژدې وي، نو شیدې دې نه ورځخه را لوشي بلکې یخې اوبه دې پرې وپاشي چې شیدې یې وچې سي او که د اخترې کولو زمانه لېرې وي، نو شیدې دې ورځخه ولوشي او فقیرانو ته دې خیرات ورکړي.

په فتاوی شامي کې یې وګورئ:

قوله (ویكره الانتفاع بلبنها) فإن كانت التضحية قريبة ينضح ضرعها بالماء البارد وإلا حلبه وتصدق به.

وفي الدر المختار: ومنهم من أجازهما للغني لوجوبهما في الذمة فلا تتعين . وفي الشامية: والجواب أن المشتراة للأضحية متعينة للقربة إلى أن يقام غيرها مقامها فلا يحل له الانتفاع بها ما دامت متعينةً ولهذا لا يحل له لحمها إذا ذبحها قبل وقتها بدائع . (رد المحتار مع الدر المختار: ۶/ ۳۲۹، سعيد).

قال الإمام الطحطاوي: والذي في الهندية عن الغياثية لأنه عينها للقربة فلايحل له الانتفاع بجزء من أجزاءها قبل إقامة القربة فيها والصحيح أن الموسر والمعسر في جز صوفها وحلبها سواء، وهو أولى ولا إيراد عليه. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۷، كوئته).

وفي الهندية: فإن كان يعلفها فما اكتسب من لبنها أو انتفع من روثها فهو لهه ولايتصدق بشيء، كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۱، كتاب الاضحية، الباب السادس).

وفي خلاصة الفتاوى:.... وما أصاب من لبنها تصدق بمثله أو قيمته... إلا أن يعلفها بقدرها. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۱، كتاب الاضحية، الفصل السادس).

وللاستزادة انظر: (الكفاية على هامش فتح القدير: ۸/ ۴۳۷، رشيدية، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۸، سعيد، والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۲۹۴، وفتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۴، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۷۹، وتبيين الحقائق: ۶/ ۹، ملتان).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د اختري د حيوان شيدې استعمالول مكروه دي، نو ځكه كه د اختري كولو وخت لېري وي، نو شيدې دي ولوشي او خيرات دي كړي. (فتاوى محموديه: ۱۷/ ۴۷۹، جامعه فاروقيه).

په احسن الفتاوى كي راځي:

كه يې د اختري په نيت رانيولي وي او ډېر وخت دباندي تېره وي، نو د دې د شيدو په اړوند اختلاف دئ د جواز او عدم جواز دواړه روايتونه ظاهر الروايه دي.

والأول أوسع وأيسر والثاني أحوط وأشهر، وفي قول يجوز للغنى لا للفقير.

د عدم جواز له قول سره سم د دې د شيدو استعمالول مكروه دي كه چيري ورڅخه ولوشل سي خيراتول يې واجب دي، د داسي حيوان د شيدو په يخو اوبو پاشلو سره وچېدل په كار دي كه وچي نه سي او حيوان ته تكليف وي، نو ودي لوشي بيا دي خيرات كړي. (احسن الفتاوى: ۷/ ۴۷۸). والله ﷻ اعلم.

چي غوا يې د اختري له پاره نه وي رانيولي د هغې د شيدو حکم

سوال: يو سړی د خپل استعمال له پاره غوا رانيول مګر له دې سره يې دا نيت هم ؤ چي د اضحيې په ورځو کي يې اختري کوم په دې صورت کي د شيدو او ګلکي حکم څه دئ؟

الجواب: په پوښتل سوې صورت کي حيوان د اختري په نيت سره نه دئ رانيول سوي بلکي د خپل استعمال له پاره رانيول سوی دئ، نو ځکه يې د شيدو او ګلکي استعمال له څه کراهت پرته روا دئ کوم حيوان چي د اختري په نيت نه وي رانيول سوي هغه د اختري له پاره نه متعين کيږي، پر دې بنياد د هغې د شيدو او ګلکي څخه ګټه اخيستل روا دي، هو د اختري په نيت رانيول سوي حيوان د اختري له پاره يا د قربت له پاره متعين کيږي، لهذا د هغه له هيڅ يو جزء څخه ګټه اخيستل روا نه ده:

په فتاوی قاضي خان کي يې وګورئ:

وأما إذا اشترى شاة بغير نية الأضحية ثم نوى (بالقلب لا بلسانه) بعد الشراء لم يذكر هذا في ظاهر الرواية وروى الحسن عن أبي حنيفة أنه لايصير أضحية لو باعها يجوز بيعها وبه نأخذ. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۴۶).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو كان في ملك إنسانٍ شاة فنوى أن يضحي بها أو اشترى شاةً ولم ينو الأضحية وقت الشراء ثم نوى بعد ذلك أن يضحي بها لا يجب عليه سواء كان غنيا أو فقيرًا ؛ لأن النية لم تقارن الشراء فلا تعتبر . (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۲، سعيد).

يو بل پکښي راځي:

أن المشتراة للأضحية متعينة للقربة إلى أن يقام غيرها مقامها فلا يحل الانتفاع بها ما دامت متعينة ولهذا لا يحل له لحمها إذا ذبحها قبل وقتها ... فإن ولدت الأضحية ولداً يذبح ولدها مع الأم كذا في الأصل وقال أيضاً وإن باعه يتصدق بثمنه لأن الأم تعينت للأضحية

ولولد يحدث على وصف الأم فى الصفات الشرعية فيسرى إلى الولد كالرق والحرية. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۸، سعيد).

قال الإمام السرخسي: لأن اللبن يتولد من عينها وقد جعلها للقربة. (المبسوط: ۱۲/ ۱۴، ۱۵).

وفى الهندية: لأنه عينها للقربة فلا يحل له الانتفاع. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۰۰).

د مذکوره عباراتو خلاصه دا ده چي د کورنۍ حیوان یا د استعمال په نیت رانیول سوي حیوان د شیدو او بچي څخه ګټه اخیستل روا ده ځکه چي تر اوسه هغه د قربت له پاره نه دئ خاص کړي، هو که چیري حیوان د اختري په نیت سره رانیسي، نو اوس هغه د اختري له پاره خاص سو، لهذا د هغه د شیدو او بچي څخه ګټه اخیستل ناروا ده.

په احسن الفتاوی کي یې تفصیل لیکلي دئ وي ګورئ:

په لاندي صورتو کي د اختري د حیوان د شیدو استعمالول او د هغو څخه ګټه اخیستل د څه کراهت پرته روا ده:

۱_ کوم حیوان چي په کور کي ساتل سوي وي.

۲_ حیوان یې رانیولي وي، خو د رانیولو په وخت کي یې د اختري نیت نه وي کړي.

۳_ د اختري له پاره یې رانیولي وي، خو د هغه ډېره ګذاره پر دباندي وتلو نه وي بلکي په کور کي وابنه خوري که د اختري په نیت رانیول سوي وي او ګذاره یې په دباندي خوراک سره وي، نو په دې کي اختلاف دئ، د جواز او عدم جواز دواړه قولونه ظاهر الرواية دي، ((والأول اوسع وايسر والثانی احوط واشهر، وفى قول يجوز للغنى لا للفقير)).

د عدم جواز د قول سره سم د دې د شیدو استعمالول مکروه دي که چیري ور څخه ولوشل سي، نو خیراتول یې واجب دي، د داسي حیوان د شیدو په یخو اوبو پاشلو سره وچیدل په کار دي که وچي نه سي او حیوان ته تکلیف وي، نو ودي لوشي او خیرات دي کړي. .(احسن الفتاوی: ۷/ ۴۷۸).

دا خبر دي هم یاده وي چي په نیت کي د تردد له امله څخه د هغه اعتبار نه سته.

ابن نجیم مصري رحمه الله وايي:

ومن المنافى: التردد وعدم الجزم فى أصلها، وفى الملتقط: وعن محمد فيمن اشترى خادماً للخدمة، وهو ينوى إن أصاب ربحاً باعه، لا زكاة عليه. (الاشباه والنظائر: ۱/ ۱۷۳). والله ﷻ اعلم.

د غوا د اختري پر ېښودلو حکم

سوال: په هندوستان کي د غوائې پر اختري کول بنديز دئ ځکه چي په هندو مذهب کي د غوايانو عبادت کيږي پر همدې بنياد د هندوستان مسلمانان د غوائې د اختري په وخت کي د ډېرو مشکلاتو سره مخ کيږي حتا چي محبس ته هم اچول کيږي او نور حيوانات بنه په آساني سره لاس ته راځي، آيا په موجوده زمانه کي د هيواد د حالاتو په نظر کي نيولو سره د غوائې اختري پرېښودل کېدلای سي او که نه؟

الجواب: د غوائې اختري کول د اسلام د شعائرو څخه دئ، لهذا که د ځان، مال يا عزت وغيره څه خطره نه وي، نو د غوائې اختري دي وکړي، هو که د فساد څه خطره وي، نو بيا دي نه کوي بلکي د حکمت څخه کار اخيستل په کار دي:

قال الله تعالى: ﴿ والبدن جعلناها لكم من شعائر الله لكم فيها خير ﴾. (سورة الحج: ۳۶).

قال الإمام أبو البركات النسفى فى مدارك التنزيل:

(والبدن) جمع بدنة سميت لعظم بدنها وفى الشريعة: يتناول الإبل والبقر ... (... من شعائر الله) أى من أعلام الشريعة التي شرعها الله... (لكم فيها خير) النفع فى الدنيا والأجر فى العقبى. (مدارک التنزيل: ۲/ ۱۰۲، ط: دار الفكر).

د غوا ذبح په قرآن مجيد سره ثابته ده.

قال الله تعالٰى: ﴿ وإذ قال موسى لقومه إن الله يأمركم أن تذبحوا بقرةً ﴾. (سورة البقرة: ۶۷).

وقال الله تعالٰى: ﴿ ومن الإبل اثنين ومن البقر اثنين ﴾. (سورة الانعام: ۱۴۳).

په حديث شريف سره د غوا د اختري ثبوت:

عن جابر رضي الله عنه قال: نحر رسول الله ﷺ عن نسائه في حجة بقرة. (رواه مسلم: ۱/ ۴۲۴).

وعن جابر رضي الله عنه قال: ذبح عن عائشة بقرة يوم النحر. (رواه مسلم: ۱/ ۴۲۴).

په امداد المفتيين كي يې ښه تفصيلي فتوى ليكلي ده، د هغې آخرني برخه په لاندي ډول ده:

د مذكوره تحرير څخه واضح ډول ښكاره سوه چي د غوائې اختري واجب او د اسلامي شعائرو څخه دئ دا په اجتماعي ډول پرېښودل يا په خپل اختيار سره پر دغه باندي كومه قانوني پابندي قبلول ناروا ده او د اختيار د لفظ څخه دا هم ښكاره سوه چي كه چيري په يو ځاى كي مسلمانان د مقاومت قدرت نه لري، نو د هغوى له پاره مناسبه ده چي د حكومت څخه د خپل ځان د ساتنى پوره انتظام وكړي او د ښه اطمنان پرته پر دې څه اقدام ونه كړي او خپل ځانونه په خطره كي نه واچوي:

وذلک لأن تعين أحد الأصناف مباح لا رخصة: لأن الرخصة مقابلة العزيمة، وههنا ليس بعض الأصناف عزيمة وبعضها رخصة كما هو ظاهر من سياق الآيات والروايات وإذا أكره على ترک المباح يصير بترکه آثماً. (امداد المفتين: جلد دوم، ص ۷۹۹، ۸۰۰، دار الاشاعت).

د نور تفصيل له پاره دغه كتابونه وګورئ: (امداد الاحكام: ۴/ ۱۹۱- ۱۹۹، وفتاوى محموديه مع التعليقات: ۱۷/ ۳۴۷، جامعه فاروقيه، وكفايت المفتى: ۸/ ۱۸۸، دار الاشاعت). والله تعالى اعلم.

حيوان چي په غبن فاحش سره خرڅ سي د هغه د اختري حكم

سوال: كه په يو ځاى كي حيوان په غبن فاحش سره خرڅيږي، مثلاً د (۵۰۰) روپو حيوان په (۱۰۰۰) روپۍ خرڅيږي، نو په دې صورت كي د اختري څه حكم دئ؟

الجواب: پر صاحب استطاعت خلكو اختري واجب دئ، نو د خپل استطاعت په اندازه به حيوان رانيسي او اختري به كوي، هو كه صاحب نصاب نه وي يعني د اختري د رانيولو قدرت نه لري، نو اختري پر واجب نه دئ او د قيمتو د برابر والي له پاره روا تدبيرونه غوره كول په كار دي:

په بدائع الصنائع كي يې وګورئ:

وأما شرائط الوجوب... منها الغنى لما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: من وجد سعة فليضح شرط عليه الصلاة والسلام السعة وهى الغنى. (بدائع الصنائع: ۵/ ۶۴، سعيد).

حضرت مولانا مفتي يوسف لدهيانوي شهيد وايي:

اختري پر صاحب استطاعت خلکو واجب دئ او د واجباتو شرعيه ؤ پورته کول يا موقوف ومنسوخ کول د الله ﷻ په اختيار کي دي، علماء کرامو ته د دې هيڅ ډول اختيار نه سته، تر کومه ځايه چي د قيمتو د برابرولو سوال دئ، د دې له پاره نور تدبيرونه غوره کېدلای سي او غوره کول يې ضروري دي او کوم خلک چي د ګران حيوان قدرت نه لري پر هغوی اختري واجب نه دئ، هغه دي نه کوي مګر د دې علاج دا نه دئ چي په همدې کال دي د اختري د منسوخ کېدلو اعلان وسي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۵/ ۴۳۳). والله ﷻ اعلم.

په ايام اضحيه کي د وکيل اختري هېر سو

سوال: يوه سړي بل څوک د اختري له پاره وکيل جوړ کړي خو د هغه وکيل څخه په ايام اضحيه کي اختري هېر سو؟ وروسته ورته ياد سو، نو اوس دي څه وکړي او د دې د اداء کېدو صورت څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د ايام اضحيه د تېريدو وروسته اختري روا نه دئ بلکي د دې تلافي دا ده چي که يې حيوان رانيولي وي، نو حيوان او که يې حيوان رانيولي نه وي، نو د يو ميانه بزې قيمت دي خيرات کړي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو كان موسرًا في جميع الوقت فلم يضح حتى مضى الوقت ثم صار فقيرًا صار قيمة شاةٍ صالحةٍ للأضحية دينًا في ذمته يتصدق بها متى وجدها ؛ لأن الوجوب قد تأكد عليه بآخر الوقت فلا يسقط بفقره بعد ذلك. (بدائع الصنائع:۵/ ۶۵، سعيد).

وفى الدر المختار: ولو تركت التضحية ومضت أيامها تصدق بها حية.. ولو ذبحها تصدق بلحمها، ولو نقصها تصدق بقيمة النقصان أيضاً ... وفى رد المحتار: وأقول: ذكر في البدائع: أن الصحيح أن الشاة المشتراة للأضحية إذا لم يضح بها حتى مضي الوقت يتصدق الموسر بعينها حية كالفقير بلا خلاف بين أصحابنا، فإن محمداً قال: وهذا قول أبي حنيفة وأبي يوسف وقولنا....وعلى كل فالظاهر أنه لا يحل له الأكل منها إذا ذبحها كما لا يجوز له حبس شيء

من قيمتها، تأمل. قوله فالمراد بالقيمة قيمة شاة تجرى فيها، بيان لما أجمله المصنف، لأن قوله تصدق بقيمتها ظاهر فيما إذا اشتراها لأن قيمتها تعلم، أما إذا لم يشترها فما معنى أنه تصدق بقيمتها فإنها غير معينة، فبين أن المراد إذا لم يشترها قيمة شاة تجزىء في الأضحية كما في الخلاصة وغيرها. قال القهستاني: أو قيمة شاة وسط. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۲۱، سعید). والله ﷻ اعلم.

د تېر سو کلونو د واجب اختري د قضاء حکم

سوال: یو سړی د بلوغ نه وروسته سره د اوو کالو څخه اختري نه دئ کړي اوس هغه ته احساس وسو او د تېرو کالو د قضاء سوي اختریانو اداء کول غواړي او د غوائې په اختري کي اووه برخي په هندوستان کي ذبح کړي، نو د هغه ذمه خلاصیږي او که نه؟

الجواب: داختري ورځي معلومي دي، په هغو ورځو کي اختري کول صحیح دي، د هغو ورځو د تېرېدو وروسته اختري کول روا نه دئ، لکه څنګه چي علامه شامي رحمه الله ویلي دي:

لأن الإراقة إنما عرفت قربة فی زمان مخصوص. شامی.(۶/ ۳۲۰).

یعنی وینه توېول په مخصوصو ورځو (ایام النحر) کي عبادت بلل سوې ده، لهذا په دې صورت کي دي د همدې کال اختري وکړي او د تېر سوؤ کالو داختریانو دي قېمت خیرات کړي:

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ولو تركت التضحية الخ، شروع فی بيان قضاء الأضحية إذا فاتت عن وقتها فإنها مضمونة بالقضاء فی الجملة... فی غاية البيان... وإن لم يوجب ولم يشتر وهو موسر وقد مضت أيامها تصدق بقيمة شاة تجزئ للأضحية... قال القهستاني: قيمة شاة وسط. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۱، سعید).

په المحیط البرهاني کي راځي:

ذكر الفضلي في «فتاواه»: وإذا مضى أيام النحر، فقد فاته الذبح؛ لأن الإراقة إنما عرفت في زمان مخصوص، ولكن يلزمه التصدق بقيمة الأضحية، إذا كان ممن يجب عليه الأضحية،... والتصدق في باب الأضحية، فإن لم يكن ركناً، ولكن له مدخل فيه، وإنه قربة معقولة، فيجعل أصلاً عند تعذر إقامة القربة بالذبح، فوجب التصدق. (المحيط البرهاني:۶/ ۴۷۷، مکتبه رشیدیه).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۴، وفتاوی رحیمیه: ۳/ ۱۸۶، وكفايت المفتى: ۸/ ۲۰۸، دار الاشاعت، وفتاوی دار العلوم دیوبند: ۱/ ۶۸۹، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

د اختري د حيوان د وربښتانو د پرېکولو حکم

سوال: د اختري د حيوان وربښتان پرېکول روا دي او که نه؟

الجواب: د اختري د حيوان وربښتان پرېکول او د هغوی څخه نفع اخیستل مکروه دي، هو که يې د بنايست باله یو یا بل امله څخه پرې کړي نو روا دي، البته د اختري د حيوان ټول اجزاء قرباني وي له دې امله مناسب نه ده.

په در مختار کې یې وګورئ:

وكره جز صوفها قبل الذبح لينتفع به، فإن جزه تصدق به،... لأنه التزم إقامة القربة بجميع أجزائها. (الدر المختار:۶/ ۳۲۹، سعيد).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ولو اشترى شاة للأضحية فيكره أن يحلبها أو يجز صوفها فينتفع به لأنه عينها للقربة فلا يحل له الانتفاع بجزء من أجزائها قبل إقامة القربة فيها كما لايحل له الانتفاع بلحمها إذا ذبحها قبل وقتها ولأن الحلب والجز يوجب نقصاً فيها وهو ممنوع عن إدخال النقص في الأضحية. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۸، سعيد).

په فتاوی بزازیه کې راځي:

يكره حلبها أو جز صوفها قبل الذبح... وإن أخذ صوفاً من أطرافها للعلامة أيام النحر لا يطرحها. (الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۲۹۴، السادس فى الانتفاع).

د نور تفصيل له پاره يې وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۴۸۰، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د خپل اختري څخه د خوړو د شروع کولو حکم

سوال: د اختري په ورځ د خپل اختري څخه خوراک شروع کول د کوم حديث څخه ثابت دي او که نه؟ او د حديث درجه څه ده او د خپل اختري څخه خوراک شروع کول مستحب دي يا د بل چاد اختري په غوښه خوړلو سره هم استحباب اداء کيږي؟ او عمل نه پرې کول مکروه دي او که نه؟

الجواب: د اختر په ورځ د خپل اختري څخه خوراک شروع کول په حديث شريف سره ثابت دي او حديث صحيح دئ، د استدلال قابل دئ، نو ځکه فقهاء کرامو دا مستحب بللی ده، البته که څوک په دې سره عمل ونه کړي، نو له کراهت پرته روا دي، ځکه چې د فقهاء کرامو په آند ترک مستحب د کراهت دليل نه دئ بلکې د کراهت له پاره خارجي دليل په کار دئ او دلته نه سته:

قد ثبت في رواية عبد الله بن بريدة ﷺ (الصحيحة): أن النبي ﷺ كان لايخرج يوم الفطر حتى يطعم ولا يطعم يوم الأضحى حتى يصلى أو ينحر.

وزيد في بعض الطرق عنه: أنه صلى الله عليه وسلم كان لا يطعم يوم الأضحى حتى يصلى أو ينحر فيأكل من أضحيته.

فهذا الزيادة صحيحة تشعر بأن أول شيء ينبغي أن يؤكل يوم الأضحى بعد الصلاة لحم الأضحية.

وأما الطرق المجردة عن الزيادة فما تلي:

(۱) رواية الترمذي: حدثنا الحسن بن الصباح (صدوق) حدثنا عبد الصمد بن عبد الوارث (صدوق، ثبت) عن ثواب بن عتبة (مقبول) عن عبد الله بن بريدة (ثقة) عن أبيه ﷺ قال: كان النبي ﷺ لايخرج يوم الفطر حتى يطعم ولايطعم يوم الأضحى حتى يصلى، قال

أبو عيسى: وفي الباب عن علي رضي الله عنه وأنس رضي الله عنه، وقال: حديث بريدة حديث غريب. (رواه الترمذي، باب ماجاء في الاكل يوم الفطر قبل الخرواج: ۱/ ۱۲۰).

أقول: لايقدح كونه غريباً في صحة الاحتجاج به ولا في صحته كما لا يخفى.

قال الشيخ شعيب الأرنؤوط: إسناده حسن، ثواب بن عتبة وثقه بن معين... (تعليقات الشيخ على سنن الترمذي: ۲/ ۸۸). وللمزيد انظر: (تعليقات احمد شاكر على سنن الترمذي: ۲/ ۴۲۶).

(۲) أخرجه ابن ماجه عن ثواب أيضاً. (باب في الاكل يوم الفطر قبل ان يخرج، رقم ۱۷۵۶).

(۳) وأخرجه الحاكم في المستدرک (۱۰۸۸)، وقال: هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، وثواب هذا قليل الحديث، ولم يجرح بنوع يسقط به حديثه، وهذه سنة عزيزة من طريق الرواية مستفيضة في بلاد المسلمين.

(۴) أخرجه ابن حبان في «صحيحه»(۲۸۰۱، ذكرما يستحب للمرءان يطعم يوم الفطر).

قال شعيب: إسناده حسن، (رقم ۲۸۱۲).

(۵) وابن خزيمة في «صحيحة» (۱۴۲۶)، قال الأعظمي: إسناده حسن.

اما الطرق المذكورة فيها الزيادة: فهي طريقان:

(۱) طريق ثواب بن عتبة المهرى عن عبد الله بن بريدة عن أبيه.

(۲) عقبة بن عبد الله الرفاعى الأصم عن عبد الله بن بريدة عن أبيه. (كما قال الإمام الطبراني في الأوسط: لم يرو هذا الحديث عن عبد الله الا عقبة وثواب، رقم الحديث: ۳۰۶۵).

(۱) طريق ثواب بن عتبة:

(الف) أخرجه الدار قطنی فی سننه (۲/ ۴۵/ ۷، کتاب العیدین): حدثنا الحسين بن إسماعيل ثنا أحمد بن منصور (ثقة، حافظ) ثنا عبد الصمد بن عبد الوارث (صدوق) وأبو

عاصم قالا: نا ثواب بن عتبة. (ح) وحدثنا عثمان بن أحمد بن السماك (ثقة)، ثنا محمد بن سليمان الواسطي (مختلف فيه)، حدثنا مسلم بن ابراهيم (ثقة، مامون)، ثنا ثواب بن عتبة، ثنا عبد الله بن بريدة عن أبيه: أن النبي ﷺ كان لايخرج يوم الفطر حتى يطعم وكان لايأكل يوم النحر شيئاً حتى يرجع فيأكل من أضحيته وقال عبد الصمد: حتى يذبح.

(ب) أخرجه البيهقي في «السنن الكبرى» (۳/ ۲۸۳، باب يترك الاكل يوم النحر حتى يرجع) وفي السنن الصغير (۵۳۲) عن ثواب بن عتبة أيضاً بسنده.

(۲) طريق عقبة بن عبد الله:

وأخرجه احمد في مسنده (۲۳۰۳۴)، والدارمي في سننه (۱۶۰۰)، ووالطبراني في الأوسط(۳۰۶۵).

وعقبة بن عبد الله ضعيف وربما يدلس. لكن يعتبر في المتابعات والشواهد.

قال شعيب الأرنؤوط: حديث حسن وهذا إسناد ضعيف من أجل عقبة بن عبد الله الرفاعي. (تعليقات الشيخ شعيب على مسند الامام احمد رقم ۲۳۰۳۴).

الخلاصة: هذه الزياده صحيحة مقبولة باعتبار إسناد الدار قطني وشواهده.

قال ابن الملقن (م ۸۰۴) في «البدر المنير» (۵/ ۷۲): وقال ابن القطان: هذا الحديث عندي صحيح، لأن ثواباً هذا بصري ثقة وثقه ابن معين رواه عنه عباس واسحاق بن منصور قال: وزيادة الدار قطني أيضاً صحيحة. (كذا في بيان الوهم والايهام: ۵/ ۳۵۶، لابن القصان(م ۶۲۸ هـ) ونصب الراية: ۲/ ۲۰۹).

قلت: وثواب أنكره أبو حاتم وأبوزرعة وثقه كما حكاه صاحب التهذيب عنهما، لكن قال ابن معين: صدوق. قال عباس الدوري: إن كنت قد كتبت عنه الضعف، فهذا آخر قوليه.

وروى هذا الحديث عن ثواب أبو الوليد الطيالسى، وتابعه أبو عبيدة الحداد، ورواه عقبة عن ابن بريدة. انتهى. والله ﷻ اعلم.

د لوى اختر په ورځ د خپل اختري څخه د شروع كولو حكم

فقهاء كرامو او محدثين ليكي: چي د خپل اختري څخه شروع كول مستحب دي ځكه چي دا د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي او د لوى اختر ورځ د الله ﷻ د ميلمستيا ورځ ده، نو د دې تقاضاء همدا ده چي د خپل اختري څخه شروع وكړي ځكه چي غوښي د الله ﷻ د طرف څخه عطيه ده او په پخوا زمانه كي به د اختري كولو وروسته ذبيحه پر غره ايښودل كېدل او اور به سوځوله همدغه يې د قبوليت نخښه ؤ مګر كه څوك د خپل اختري څخه شروع ونه كړي، نو د اصح قول سره سم مكروه نه ده بلكي د څه كراهت پرته دا هم روا دي:

په هدايه كي يې وګورئ:

ويستحب في يوم الأضحى... ويؤخر الأكل حتى يفرغ من الصلاة لما روى أن النبي ﷺ كان لايطعم فى يوم النحر حتى يرجع فيأكل من أضحيته. (الهداية: ۱/ ۱۷۴، باب العيدين).

په الجوهرة النيرة كي راځي:

ويستحب في يوم الأضحى أن يغتسل ...ويتطيب ويؤخر الأكل حتى يفرغ من الصلاة ليخالف الأيام التي قبله فإن أكل قبل الخروج هل يكره فيه روايتان ، والمختار أنه لا يكره لكن يستحب أن لا يأكل اقتداءً برسول الله صلى الله عليه وسلم فإنه كان لا يأكل حتى يرجع .

(الجوهرة النيرة: ۱/ ۱۱۳، باب صلاة العيدين، ط: مكتبه حقانيه).

وفى الفتاوى الهندية: والأضحى كالفطر فيها إلا أنه يترك الأكل حتى يصلي العيد ، كذا في القنية وفي الكبرى: الأكل قبل الصلاة يوم الأضحى هل هو مكروه ؟ فيه روايتان والمختار أنه لا يكره لكن يستحب له أن لا يفعل ، كذا في التتارخانية ، ويستحب أن يكون أول تناولهم من

لحوم الأضاحي التي هي ضيافة الله ، كذا في العيني شرح الهداية . (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۵۰، الباب السابع عشر فی صلاة العیدین).

وكذا فی المحيط البرهانی: (۶/ ۹۰، الفصل الثانی عشر فی الكراهية الاكل من كتاب الاستحسان).

وكذا فی تبيين الحقائق: (۱/ ۲۲۶، ملتان) وزاد بقوله: وقيل هذا فی حق من يضحی ليأكل من أضحيته أولاً أما فی حق غيره فلا.

وكذا فی رد المحتار: (۱/ ۱۲۳- ۱۲۴، سعيد) وزاد بقوله: أقول: وهذا هو الظاهر إذ لاشبهة أن النوافل من الطاعات كالصلاة والصوم ونحوهما فعلها أولى من تركها بلا عارض ولايقال: إن تركها مكروه تنزيهاً.

وقال فی موضع آخر: لأن الكراهة حكم شرعي فلا بد له من دليل. والله تعالى اعلم. (رد المحتار: ۱/ ۶۵۳، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د اختري تر غوښه مخکي څه نه خوړل مستحب دي، چاى دي هم نه چيښي، ځکه چي په چايو کي د شيدو او بوري له امله غذائيت وي د حکم يوازي مستحب دئ، د دې خلاف کول څه بد کار نه دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۵۲۰).

په فتاوی محموديه کي راځي:

په دې ورځ تول د الله ﷻ ميلمانه وي، نو مستحب دا دي چي لومړى هر سړى د اختري خوراک وکړي، حقه، پان، چاى وغيره شى دي تر دې مخکي نه خوري او دا د رسول الله ﷺ معمول ؤ... (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۴۸۵، جامعه فاروقيه).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۷/ ۴۸۳- ۴۸۴، جامعه فاروقيه، وجديد معاملات کی شرعی احکام: ۳/ ۱۱۹). والله ﷻ اعلم.

د چا چي د اخترې اراده نه وي هغه ته د امساک حکم

سوال: که د يو سړي د لوى اختر په ورځ د اخترې کولو اراده نه وي، نو هغه ته د صبح صادق څخه نه خوړل مستحب دي او که نه؟ که د اختر په ورځ هغه د بل چا د اخترې څخه وخوري، نو په استحباب عمل وسو او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کې د علماء کرامو اختلاف دئ، هو بيا هم احتياط په دې کي دئ چي کوم څوک د اخترې قدرت نه لري يا په بل ځای کي اخترې کوي د هغه له پاره هم امساک بهتر دئ:

په فتاوى شامي کي يې وګورئ:

قوله ويندب تأخير أكله عنهما أي يندب الإمساك عما يفطر الصائم من صبحه إلى أن يصلى وإن لم يضح في الأصح... قوله في الأصح، وقيل لا يستحب التأخير فى حق من لم يضح، بحر. (فتاوى الشامى:۲/ ۱۷۶، سعيد).

وفي حاشية اللامع للشيخ زكريا: والتعليل ببداية الأكل من أضحيته يؤيد تقييد الندب بمن له أضحية والتعليل بموافقة المساكين أو اتباع فعله صلى الله عليه وسلم أو إطلاق لفظ الصوم على هذا اليوم في بعض الروايات يؤيد العموم . (حاشية اللامع:۲/ ۳۹).

په تبيين الحقائق كي راځي:

(وهي أحكام الأضحى) ....(لكن هنا يؤخر الأكل عنها) لما روي أنه عليه الصلاة والسلام كان لا يطعم في يوم الأضحى حتى يرجع فيأكل من أضحيته. وقيل : هذا في حق من يضحي ليأكل من أضحيته أو لا أما في حق غيره فلا . (تبيين الحقائق:۱/ ۲۲۶، امدادية، ملتان).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (البحر الرائق: ۲/ ۱۶۳، ومجمع الانهر:۱/ ۱۷۴، احياء التراث، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۵۵، وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ۵۳۶، قديمى، وفتاوى محموديه: ۱۷/ ۴۸۵، فاروقيه، واحسن الفتاوى:۷/ ۵۲۰). والله ﷻ اعلم.

د اخترې په اړوند څو متفرقي مسئلي

سوال: د خارښي حيوان د اخترې څه حکم دئ؟

الجواب: كه د خارش اثر غوښې ته رسېدلى نه وي، نو د هغه اختري روا دي او په جلدي مريضي كي هم همدغه تفصيل دئ. (حاشية الطحطاوى على الدر: ۴/ ۱۶۵، وتبيين الحقائق: ۶/ ۵، امداديه، ملتان، وفتاوى قاضيخان: ۳/ ۳۵۳، وفتاوى بينات: ۴/ ۵۷۲). والله ﷻ اعلم.

سوال: په شپه كي د اختري ذبح كول حكم څه دئ؟

الجواب: د ذى الحجې د يولسم او دوولسم په شپه اختري كول روا دي مگر د رګو په صحيح ډول د نه پرې كېدو د امكان له امله څخه مكروه دي كه د برق ښه رڼا وي، نو بيا مكروه نه دئ. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۰، سعيد، وبدائع الصنائع: ۵/ ۶۰، سعيد، وعالمگيرى: ۵/ ۲۹۶). والله ﷻ اعلم.

سوال: آيا په بل چا سره خپل اختري ذبح كول روا دئ؟

الجواب: په خپل ذبح كول ښه دي، كه يې په خپل نه سي كولاى يا يې عادت يا همت نه وي، نو په بل چا يې هم كولاى سي، هو هلته يې موجوديت ښه دئ. (الدر المختار مع ردالمحتار: ۶/ ۳۲۸، سعيد، وتبيين الحقائق: ۶/ ۹، امداديه، ملتان، وتكملة البحر الرائق: ۸/ ۱۷۹، كوئټه، وعالمگيرى: ۵/ ۳۰۰).

كه چيري ياده وي تر ذبح كولو مخكي دي دغه دعاء ووايي:

« إني وجهت وجهي للذي فطر السموات والأرض حنيفاً وما أنا من المشركين».

«إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العٰلمين، لا شريک له وبذلک أمرت وأنا من المسلمين». اللّٰهم منک ولک. بيا دي. «بسم الله، والله أكبر» ووايي، ذبح دي كړي او د ذبح كولو وروسته دي دا دعاء ووايي: « اللّٰهم تقبل مني كما تقبلت من حبيبک محمد وخليلک إبراهيم عليهما الصلاة والسلام».

د دلائلو له پاره لاندي د حديثو او فقهي كتابونه وګورئ: (ابو داود شريف، رقم: ۲۷۹۵، وابن ماجه، رقم: ۳۱۲۱، ومسند احمد، رقم: ۳/۳۷۵، وسنن الدارمى، رقم: ۱۹۴۶، وصحيح ابن خزيمه، ومسلم شريف: ۲/۱۵۶، ط: قديمى، ومستدرک حاكم، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۹، سعيد، والجوهرة النيرة: ۲/ ۲۸۶). والله ﷻ اعلم.

سوال: يو سړى د اختري له پاره حيوان رانيوي يا يې په حيوان كي يوه برخه واخيسته، وروسته دغه سړى مړ سو، نو د حيوان حكم څه دئ؟

الجواب: که د ذلحجې تر لسمه نیټه مخکې مړ سوي وي، نو اختري ورڅخه ساقطیږي. اوس که ټول وارثان وغواړي، نو دغه حیوان مړی ته د ایصال ثواب له پاره ذبح کولای سي. (تحفة الفقهاء: ۳/ ۸۲، وفتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۶، سعید، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۲، سعید، والمبسوط: ۱۲/ ۱۲). والله ﷻ اعلم.

سوال: د اختري غوښه کافر ته ورکول روا ده او که نه؟

الجواب: کافر ته یې ورکولای سي، خو مسلمان فقیر ته یې ورکول ښه کار دئ. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۸، وطحطاوی علی الدرر: ۴/ ۱۶۶، وعالمکیری: ۵/ ۳۰۰). والله ﷻ اعلم.

سوال: که یو سړی د اختري غوښه پخه کړي او خرڅ یې کړي، نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: داسي کول هیڅکله روا نه دي او که چا وکړه قیمت خیراتول یې لازم دي. (بدائع الصنائع: ۵/ ۸۱، سعید، وخلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۲۲، والجوهرة النیرة: ۲/ ۲۸۶، واعلاء السنن: ۱۷/ ۲۵۸). والله ﷻ اعلم.

سوال: د اختري پوست غني ته ورکولای سي او که نه؟

الجواب: ورکولای سي. (هدایه: ۴/ ۴۵۰، وفتاوی الشامی: ۶/ ۲۳۷، سعید، وفتاوی بزازیه: ۶/ ۲۹۴). والله ﷻ اعلم.

سوال: که پنځو نفرو په لوی حیوان کي د اختري نیت وکړي او یو سړی دوې برخي د عقیقي له پاره کړي، نو دا روا دي او که نه؟

الجواب: روا دي. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۶، سعید، وتبیین الحقائق: ۶/ ۷، امدادیه). والله ﷻ اعلم.

سوال: د کوم حیوان چي خصیتین پرې سوي وي د هغه اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: دا هم د خصي یو ډول دئ د دې اختري روا دئ. (هدایه: ۴/ ۴۴۸، وبدائع: ۵/ ۸۰، سعید). والله ﷻ اعلم.

سوال: که پسه یا بزه د لوی اختر په ورځ پیدا سوي وي، نو په دوهم کال لوی اختري کي یې اختري کولای سي او که نه؟

الجواب: که د ذی الحجې په لسمه نیټه د لمر لوېدلو په وخت کي پیدا سوي ؤ، نو د ذیالحجې په لسمه نیټه د هغه د پیدائښت تر وخت مخکي د هغه اختري روا نه دئ او د ذی الحجې په یولسمه

نيټه يې اختري كولاى سي، مطلب دا چي د كال د پوره كېدو اعتبار يې سته، د دوو غاښو اعتبار يې نه سته، هو كه په خلكو كي درواغ ويل عادت ؤ، نو احتياطاً دي د دوو غاښو اعتبار وكړي.

لنډه دا چي كه په لوى اختر كي د ذى الحجې په لسمه نيټه سهار پر (۹) بجې يو حيوان پيدا سوى وي، نو د (۹) بجو وروسته د هغه اختري روا دئ. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۰، سعيد وعالمگيرى: ۵/ ۲۹۷، وهدايه: ۴/ ۴۴۹، وفتاوى قاضيخان: ۳/ ۳۴۸، وآپ كى مسائل اور ان كا حل: ۵/ ۴۳۸). والله ﷻ اعلم.

سوال: د حيوان غاښونه چي وليدلي وي آيا د هغه اختري روا دئ او كه نه؟

الجواب: د دې حيوان كه چيري ټول غاښونه وليدلي وي او واښه نه سي خوړلاى، نو ناروا دئ او كه ډېر پاته وي واښه خوړلاى سي بيا يې اختري روا دئ. (هدايه: ۴/ ۴۴۸، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد، وتبيين الحقائق: ۶/۶، امداديه، ملتان، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۰، والفتاوى البزازيه: ۶/ ۲۹۳، واحسن الفتاوى: ۷/ ۵۱۴). والله ﷻ اعلم.

سوال: كه د حيوان غوږونه نه وي، نو اختري يې روا دئ او كه نه؟

الجواب: كه چيري له بيخ څخه پرې سوى وي يا يو ثلث يا تر ثلث زيات پرې سوى وي، نو اختري يې ناروا دئ. (ابو داود شريف: ۲/ ۳۲، وابن ماجه شريف، ص ۲۲۷، وهدايه: ۴/ ۴۴۷، ومبسوط: ۱۲/ ۱۵، وعالمگيرى: ۵/ ۲۹۸، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۵، سعيد، والجوهرة النيرة: ۲/ ۲۸۴). والله ﷻ اعلم.

سوال: په ښار كي يو ځاى د اختر لمونځ سوى ؤ مگر اختري كوونكى كس تر اوسه پوري نه ؤ كړي اختري يې روا دئ او كه نه؟

الجواب: چي كله يو ځاى د اختر لمونځ اداء سي د اختري ذبح كول روا ده. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۶، والفتاوى التاتار خانية: ۱۷/ ۴۱۹، والمحيط البرهانى: ۶/ ۴۷۵). والله ﷻ اعلم.

سوال: زموږ په ځاى كي د لوى اختر په ورځ تكر وسو په دې كي ډېر شمېره خلك مړه سوه، له همدې امله د اختر لمونځ اداء نه سو، د اختر د لمانځه پرته اختري روا دئ او كه نه؟ ياده دي وي چي په كلي كي يو ځاى هم لمونځ نه دئ سوي؟

الجواب: د لوى اختر په ورځ تر زوال وروسته اختري روا دئ، لمونځ دي بله ورځ اداء كړي يعنى د لمانځه د وخت د ختميدو وروسته اختري روا دئ او په دې صورت كي په دوهمه ورځ هم تر لمانځه مخكي اختري كولاى سي او په كوچني قريه كي چيرته چي لمونځ نه كيږي يعني د اختري لمونځ واجب نه وي، د ذى الحجې د لسمي نيټې د سهار را ختلو وروسته فوراً اختري ذبح كول روا دي.

(بدائع الصنائع: ۵/ ۷۳، سعید، وتبیین الحقائق: ۶/ ۴، امدادیه، وفتاوی قاضیخان: ۳/ ۳۴۵، وفتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۸، سعید). والله ﷻ اعلم.

سوال: که په لوی حیوان کي دوه یا درې کسان شریکان وي، نو اختري یې صحیح دئ او که نه؟

الجواب: صحیح دئ، ځکه چي د یو برخه هم تر اوومي برخي کمه نه ده، که تر اوومي برخي کمه وي صحیح نه ده مثلاً یو سړی مړ سو او درې زامن یوه ښځه یې پاته سو او په میراث کي یوازي غوا پاته سو ټولو په ګډه په غوا کي د اختري نیت وکړي، نو دا صحیح نه ده ځکه چي د ښځي برخه اتمه ده. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۶، سعید، وفتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة: ۳/۳۵۱، وحاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۱۶۱، وخلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۱۵، وشرح العنایة علی هامش تکملة فتح القدیر: ۹/۵۱۰، دار الفکر). والله ﷻ اعلم.

سوال: د نجاست خوړونکی حیوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: روا دئ. (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة: ۳/ ۳۵۳، وفتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۳، سعید، وتبیین الحقائق: ۶/ ۵، ط: امدادیه، وفتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۰۹). والله ﷻ اعلم.

سوال: که د حیوان ژبه نه وي یا تر ثلث زیاته پرې سوي وي، نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: روا نه دئ ځکه چي هغه په ژبه سره واښه اخلي او په بزه کي دغه عیب نه دئ ځکه بزه په غاښو سره واښه اخلي. (خلاصة الفتاوی: ۴/ ۳۲۰، وحاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۴/ ۱۶۵، وفتاوی هندیه: ۵/ ۲۹۸، وفتاوی تاتار خانیة: ۱۷/ ۴۲۸، مکتبه زکریا دیوبند). والله ﷻ اعلم.

سوال: اوو نفرو اووه پسونه رانیول او هر یوه د نخښې کولو پر ته حلال کړو اختریان یې وسو او که نه؟

الجواب: هو، د ټولو اختریان وسو. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۰۶، وامداد الفتاوی: ۳/ ۵۶۲). والله ﷻ اعلم.

سوال: د اختري په نیت سره یې حیوان رانیوي وروسته یې د څه امله هغه خرڅ کړ او بل یې رانیوي دا روا دي او که نه؟

الجواب: د دې اجازه سته مګر که دوهم حیوان د لږ قیمت وي، نو تر قیمت زیاته برخه دي خیرات کړي. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۶، سعید، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۸، سعید، وتکملة فتح لقدیر: ۹/ ۵۲۰، دار الفکر، وفتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة: ۳/ ۳۴۷، وتبیین الحقائق: ۶/ ۱۰، امدادیه). والله ﷻ اعلم.

سوال: مړی د اختري وصيت وکړي او وارثانو د مړی د مال له يوه ثلث څخه د هغه وصيت پوره کړي اختري يې وکړي اوس د غوښې حکم څه دئ؟

الجواب: ټوله غوښه اخيراتول واجب دي. (شرح منظومه ابن وهبان: ۲/ ۱۴۸، وفتاوى الشامى: ۶/ ۳۳۵، سعيد، واعلاء السنن: ۱۷/ ۲۶۹، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۲). والله ﷻ اعلم.

سوال: که چيري د يوه مړی يا د څو مړو د ايصال ثواب له پاره اختري وکړي، نو د هغه اختري د غوښو څه حکم دئ؟

الجواب: د دغه اختري غوښه خيراتول واجب نه ده په خپل دي وخوري يا دي بل چا ته ورکړي يعني د دغه حکم د خپل اختري د حيوان په ډول دئ. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۲۶۹، وفتاوى الشامى: ۶/ ۳۳۵، سعيد، وفتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۲، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۲). والله ﷻ اعلم.

سوال: که چيري يو سړی د پوره غوائې اختري وکړي، نو يوه برخه واجب او نوري نفل دي يا ټول غوائې په واجب کي شمېرل کيږي؟

الجواب: ټول غوائې په واجب کي شمېرل کيږي او د واجب او فرض ثواب تر نفل زيات دي، لهذا دغه سړی ته ډېر ثواب ورکول کيږي. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۳، سعيد، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۸، وفتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۰). والله ﷻ اعلم.

سوال: يو سړی د څو کالو څخه اختري نه دئ کړي حال دا چي مالدار ؤ اوس د هغه قضاء څنګه وکړي؟

الجواب: د تېرو کالو د اختريانو قيمت دي ورکړي او د زړه څخه دي توبه وباسي. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۰، سعيد، وتبيين الحقائق: ۶/ ۵، امداديه، وبدائع الصنائع: ۵/ ۶۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

سوال: يو سړی د اختري تر رانيولو وروسته د هغه شيدې را ولوشلي، نو په هغو دي څه وکړي؟

الجواب: هغه دي خيرات کړي که وړی يا ورېښتان ورڅخه پرې کړي، د هغه همدغه حکم دئ، البته که واښه وغيره رانيسي او ورکوي يې، نو بيا يې د استعمال اجازه سته. (خلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۲۱، وتبيين الحقائق: ۶/ ۹، وفتاوى الشامى: ۶/ ۳۲۲، سعيد، وفتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۳/ ۳۵۴). والله ﷻ اعلم.

د اختري پر نصاب د حولان حول حكم

سوال: آيا د اختري د نصاب له پاره حولان حول شرط دئ او كه نه؟

الجواب: د اختري د نصاب له پاره حولان حول شرط نه دئ بلكي د اختري په شپو كي چي كله هم يو مسلمان عاقل، بالغ مقيم (كورنى) صاحب نصاب سي، نو پر هغه اختري واجب دئ. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۱۲، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د اختري په شپو كي د ژوندى حيوان د خيراتولو حكم

سوال: كه د اختري په شپو كي يو سړى ژوندى حيوان خيرات كړي، نو واجب اختري يې د ذمه څخه ساقطيږي او كه نه؟

الجواب: د واجب اختري د ذمه د سقوط له پاره د اضحيه په ورځو كي د حيوان ذبح كول ضروري دي د ژوندى حيوان په خيراتولو سره اختري نه اداء كيږي ځكه چي اختري يو جلا عبادت دي او خيرات جلا د ثواب كار دئ او دا خو ښكاره خبره ده چي د يوه عبادت په اداء كولو بل عبادت نه اداء كيږي، نو ځكه په صدقه او خيرات كولو سره اختري هم نه اداء كيږي لكه څنګه چي د صدقې يا زكات په اداء كولو سره نه حج اداء كيږي او نه لمونځ اداء كيږي. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۱۳، ط: سعيد). والله ﷻ اعلم.

په اختري كي د آخر وخت اعتبار

سوال: د ذى الحجې د دوولسم په ماښام د يو چا په لاس دومره مال ورغلى چي پر هغه اختري واجبيږي، نو پر هغه اختري واجب دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي پر دغه سړى اختري واجب دئ، البته كه تر دې مخكي اختري وكړي هغه صحيح دئ د بل ضرورت نه سته. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۱۶، سعيد، والفتاوى الهندية: ۵/ ۲۹۲). والله ﷻ اعلم.

پر ښځه د اختري حكم

سوال: آيا پر ښځه اختري واجب دئ او كه نه؟

الجواب: كه چيري د يوې ښځي سره د نصاب په اندازه مال وي پر كوم چي اختري واجب بلل كيږي، نو پر دغه ښځه باندي هم د نارينه ؤ په ډول اختري واجب دئ او پر مال باندي حولان حول هم ضروري نه ده. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۱۵، سعيد، تنوير الابصار: ۶/ ۳۱۲). والله ﷻ اعلم.

هر کال د اختري حکم

سوال: ځیني خلک وایي، چي مونږ هر کال د خپل ځان د طرف څخه اختریان کوؤ، سږ کال مو د خپلو مړو د طرف څخه د اختري اراده ده؟ آیا د هغوی دا خبر د منلو وړ ده او دا خلک هر یو صاحب نصاب هم دي پر هغوی حج زکات ټول واجب دي او اداء کوي یې؟

الجواب: کوم مسلمان که نارینه وي که ښځینه چي د دومره مال مالک سي پر کوم چي اختري واجبیږي تر څو چي دومره مال د هغه په ملکیت کي وي هر کال پر هغه اختري واجب دئ، یوازي یو کال یا یو څو کاله اختریان د دې له پاره کافي نه بلل کیږي د داسي دي لکه یو سړي چي ووایي، چي مونږ خو هر کال روژه نیسو او سږ کال یې نه نیسو آیا د هغه دا خبر د منلو وړ ده. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۲). والله ﷻ اعلم.

په ګډ کار وبار کي د اختري حکم

سوال: که چیري څو خلک یو کار کي سره ګډ وي او څه مال د هغه کار څخه حاصل کړي خو د هر یوه سره جلا جلا د نصاب په اندازه مال نه وي، البته مجموعه پیسې نصاب ته رسیږي، نو پر چا اختري واجب دئ؟

الجواب: که د هر یوه په برخه کي د نصاب په اندازه مال راځي یا د خپل نور مال په ګډولو سره قدر نصاب ته رسیږي، نو پر دغه سړی اختري واجب دئ که د نصاب په اندازه نه وي، نو بیا پر واجب نه دئ.

لنډه دا چي د مجموعه پیسو اعتبار نه سته د جلا جلا مال د نصاب په اندازه اعتبار دئ. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۲۹۲). والله ﷻ اعلم.

پر مقروض د اختري حکم

سوال: که چیري د یو سړی سره د نصاب په اندازه مال موجود وي مګر تر نصاب زیات پور وربا‌ندي وي، نو پر هغه اختري واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي پر داسي سړی اختري واجب نه دئ. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۲۹۲). والله ﷻ اعلم.

د اضحیې په ورځو کې د مال په ختمیدو سره د اختري حکم

سوال: د یو سړي سره تر نصاب زیات مال ؤ د اضحیې د ورځو د شروع کېدو وروسته هغه مال ضائع سو یا غلا سو یا هغه چا ته هبه کړ اوس د اختري د ورځو تر تېرېدو مخکې هغه صاحب نصاب نه دئ، آیا پر هغه اختري واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي پر مذکوره سړي اختري واجب نه دئ. (الفتاوی الهندیة: ۲۹۳، وفتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۵، سعید). والله ﷻ اعلم.

د مېړه د مال څخه د ښځي د اختري حکم

سوال: یوه ښځه صاحب نصاب ده مګر نقدي پیسې د هغې سره نه سته، نو که چیري د خپل مېړه څخه پیسې واخلی او اختري وکړي، نو اختري یې اداء کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ښځي اختري اداء کیږي. (الفتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۵). والله ﷻ اعلم.

پر حرام مال د اختري حکم

سوال: که چیري د یو سړي سره حرام مال وي، نو پر هغه اختري واجب دئ او که نه؟

الجواب: حرام مال به ټول خیرات وي، نو ځکه په دې کي اختري واجب نه دئ. (فتاوی الشامی: ۲/ ۲۹۱، باب زکوة الغنم، سعید). والله ﷻ اعلم.

په دیارلسم د ذی الحجې د اختري حکم

سوال: د ذی الحجې د دیارلسم تاریخ په شپه کي اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د ذی الحجې د دوولسم په ورځ د لمر لوېدو وروسته اختري ذبح کول روا نه دي، لهذا د دیارلسم تاریخ په شپه کي په درجه اولی سره اختري روا نه دئ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۱۸، والفتاوی الهندیة: ۵/ ۲۹۵). والله ﷻ اعلم.

د ډنګر پسه چې تر کال کم وي اختري روا دئ؟

سوال: ډنګر او کمزوري پسه چې تر یوه کاله کم وي اختري یې روا دئ او که نه؟

الجواب: پسه که چیرې داسې چاغ وي، چې د یوه کال په ټول معلومیږي، نو د شپږو میاشتو د پسه اختري هم روا دئ مګر که داسې چاغ نه وي، نو بیا چې تر یوه کال کم وي اختري یې روا نه دئ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۲). والله ﷻ اعلم.

د ایصال ثواب له پاره ټوله بزه شرط نه ده

سوال: یو سړی یوه بزه اختري کوي او ثواب یې څو مړو یا څو ژوندو ته وربخښي، نو دا روا ده او که به د هر یو له پاره جلا بزه ذبح کوي؟

الجواب: د واجب اختري د اداء کولو له پاره، هو سړي ته یوه بزه یا د غوائې وغیره اوومه برخه ضروري ده مګر د ایصال ثواب له پاره دي یو اختري وکړي او ثواب یې هر څو خلکو ته وربخښلای سي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۳۹۲، وفتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۶). والله ﷻ اعلم.

په خپل ځاني حیوان کې د بل چا د ګډولو حکم

سوال: د یوه سړي سره خپل ځاني غوا یا ګامیښه ده هغه اوومه برخه د خپل ځان له پاره کړه او نورې برخې یې خرڅې کړې د هغه له پاره دا روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې چې یوه برخه د خپل ځان له پاره کړي او نورې خرڅې کړي د هغه له پاره روا دي او دا شرکت صحیح دئ. (فتاوی قاضیخان، وفتاوی الشامی: ۶/). والله ﷻ اعلم.

د پوست د سوځلو له امله چې یې وربښتان نه وي د اختري حکم یې؟

سوال: که چیرې د پسه د پوست د سوځلو له امله پر هغه وربښتان نه را وخیژي او زخم وغیره هم نه وي، ټول اعضاء یې صحیح سالم وي، نو د داسې حیوان اختري صحیح دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د داسې حیوان اختري درست دئ. (امداد الفتاوی: ۳/ ۵۹۷). والله ﷻ اعلم.

د اختري د حیوان د استعمال حکم

سوال: د اختري حیوان د بار وړلو یا بل کار له پاره استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: د اختري پر حیوان بار وړل یا د بار له پاره استعمالول یا پر سپریدل یا یې په کرایه ورکول ټول ناروا دي، بلکې د اختري د حیوان په شی کې هم استعمال روا نه دئ. (درمختار: ۶/ ۳۲۹، سعید، ولسان الحکام، ص ۳۸۸). والله ﷻ اعلم.

د پزي پرې سوي حیوان د اختري حکم

سوال: د کوم حیوان چي پزه پرې سوې وي، د هغه حیوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د پزې پرې سوي حیوان اختري ناروا دئ. (عالمگیری: ۵/ ۲۹۸). والله ﷻ اعلم.

د تی وچ سوي حیوان د اختري حکم

سوال: د کوم حیوان چي د مرض د کبله تی وچ سوي وي، نو د داسي حیوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: که د مرض د کبله د بزې یا میږې یو تی وچ سي یا د غوا یا گامیښي دوه تیان وچ سوي وي، نو اختري یې روا نه دئ. (شامی: ۶/ ۳۲۵، سعید، ولسان الحکام، ص: ۳۸۹). والله ﷻ اعلم.

د پښه پرې سوي حیوان د اختري حکم

سوال: که چیري د یو حیوان پښه پرې سوې وي، نو د هغه اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د کوم حیوان چي پښه پرې سوې وي، د هغه اختري روا نه دئ، (شامي).

او کوم حیوان چي داسي گوډ وي چي یوازي پر درو پښو تګ کوي څلورمه پښه پر مځکه نه سي لګولای یا خو لګوي یې مګر تګ نه سي پر کولای، نو د دې حیوان اختري هم روا نه دئ او که څلورمه پښه سمه لګوي، نو اختري یې روا دئ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۳، سعید). والله ﷻ اعلم.

د ډنګر حیوان د اختري حکم

سوال: د ډېر ډنګر او کمزورې حیوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د داسي ډنګر او کمزورې حیوان اختري روا نه دئ چي په هډوکي یې ماغزه نه وي مګر که دومره کمزوري نه وي، نو د هغه اختري روا دئ، خو بیا هم د چاغ حیوان اختري بهتره دئ. (در مختار: ۶/ ۳۲۳، سعید، وفتاوی قاضیخان: ۳/ ۳۵۳). والله ﷻ اعلم.

د لېوني او خارشي حیوان د اختري حکم

سوال: د لېوني او خارشي حیوان اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: لېوني حیوان که چیري تګ کولای سي او ګرځېدلای سي، نو د هغه اختري روا دئ او د کوم حیوان چي د خارش مرض وي، چاغ او تیار وي د هغه اختري هم روا دئ. (درمختار). مګر که

خارشي یا لېوني حیوان دومره کمزورې وي چي په هډوکو کي يې ماغز نه وي، نو بیا د هغه اختري روا نه دئ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۳، سعید، وفتاوی قاضیخان: ۳/ ۳۵۳). والله ﷻ اعلم.

د ناقابل تولید حیوان د اختري حکم

سوال: که چیري یو حیوان د ډېر عمر د کبله د زوی زېږېدو قدرت نه لري، نو د هغه اختري درست دئ او که نه؟

الجواب: د داسي حیوان اختري روا دئ. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۲۹۷). والله ﷻ اعلم.

د تڼوخ لرونکی حیوان د اختري حکم

سوال: د کوم حیوان چي تڼوخ کیږي د هغه اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د تڼوخ لرونکی حیوان اختري روا دئ. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۲۹۷). والله ﷻ اعلم.

د عیب ور کېدو وروسته د اختري حکم

سوال: که د رانیولو په وخت کي حیوان عیب لرونکی ؤ بیا د هغه عیب ورک سو، د مالدار سړی له پاره يې اختري روا دئ او که نه؟

الجواب: د عیب ور کېدو وروسته د مالدار سړی له پاره هم د دې حیوان اختري روا دئ. (فتاوی عالمکیری: ۵/ ۲۹۸، وفتاوی قاضیخان علی هامش الفتاوی الهندیة: ۳/ ۳۵۳). والله ﷻ اعلم.

پر اختري اشکال او جواب:

اختري د اسلامي شعائرو څخه دئ رسول الله ﷺ لس کاله مسلسل په مدینه منوره کي اختري کاؤ

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : اقام رسول الله ﷺ بالمدينة عشر سنين يضحي. (رواه الترمذی/ رقم: ۱۵۰۷).

په سنن ابن ماجه کي د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وویل:

من كان له سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا. (رواه ابن ماجة، رقم: ۳۱۲۳). وقال الألباني: حسن.

کوم چا چي د وسعت او طاقت سره اختري نه وکاؤ هغه دي زموږ عیدګاه ته نژدې نه رائحي.

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه يو چا پوښتنه وکړه چي اختري واجب دئ، نو هغه ورته وويل:

ضحى رسول الله ﷺ والمسلمون فأعادها عليه فقال: أتعقل؟ ضحى رسول الله ﷺ والمسلمون. (رواه الترمذی، رقم: ۱۵۰۷، وقال: هذا حديث حسن صحيح.

سائل پوښتنه وکړه چي آيا اختري واجب دئ؟ په جواب کي يې ورته وويل: رسول الله ﷺ او مسلمانانو اختريان کړي دي هغه بيا پوښتنه وکړه؟ ده ورته وويل، ته پوهيږې رسول الله ﷺ او مسلمانانو اختريان کړي دي.

په قرآن کريم کي الله عزوجل فرمايي:

﴿قل إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين﴾. (سورة الانعام: ۱۶۲).

ته ووايه! چي يقيناً زما لمونځ او زما اختري او زما ژوند او مرګ د الله عزوجل له پاره دي.

د نسک يوه معنا د اختري راځي.

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه اختري د اسلامي شعائرو څخه بللی دئ:

و لا خلاف فی کونها من شعائر الدين. (فتح الباری: ۱۰/ ۲).

څلور واړه مذهبونه د اختري پر اهميت متفق دي منکرين حديث د وجوب اختري څخه انکار کوي او غلام احمد پرويز خو د اختري په خلاف ډېر شيان ليکلي دي، د هغه د کتابو څه عبارتونه دا دي.

۱_ حج د اسلامي نړۍ د بين الملي مجلس نوم دئ په دې مجلس کي د ګڼون کوونکو د خوراک او څښاک له پاره د حيوان د ذبح کولو ذکر په قرآن کريم کي راغلی دئ، بس همدغه د اختري حقيقت دئ چي نن ورځ د کوم ځای څخه کوم ځای ته رسېدلي دئ. (رساله قربانی، از پرويز، ص ۳).

۲_ په قرآن کريم کي د حيوان ذبح کول د حج په ضمن کي راغلی دئ، د عرفات په ميدان کي چي کله ټول نمائندګان ملت يوه لائحه تصويب کړي له دې وروسته د منی پر مقام د هغوی دوې، درې ورځي اجتماع وي چيرته چي دغه خپل منځي بحث او مباحثه په دې تفصيلي مجلس کي وسي له دې مذاکراتو سره خپل منځي مېلمستياوي هم وي، نن سهار په پاکستان کي سبا سهار په افغانستان کي او بل ورځ په شام کي وي وقس علی ذلک په دې مېلمستياؤ کي د هغه ځای خلک هم

ګډون کوي، غني هم غريب هم د دې مقصد له پاره چې کوم حيوان ذبح سي د اختري حيوان ورته وايي. (د قرآني فيصلي. ص ۵۵).

۳_ د حج د ځای پر ته بل ځای يعني په خپلو خپلو ښارو کي د اختري هيڅ يو حکم نه سته. نو ځکه د نړۍ په ګوټ ګوټ کي چې کوم اختريان کيږي دا يو رواج دئ يو څه حساب وکړي چې د دې رواج د پوره کولو له پاره د دې غريب قوم هر کال څومره روپۍ ضائع کيږي که چيري يوازي د کراچي ښار ته وکتل سي، نو له دې اته يا لس لکه ابادي څخه که چيري پنځوست زره خلکو اختريان کړي وي او د يوه حيوان قيمت يوازي دېرش روپۍ وبلل سي، نو پنځه لس لکه روپۍ په يوه ورځ کي يوازي د يوه ښار څخه ضائع کيږي اوس همدغه حساب په ټول پاکستان کي وکړه بلکي د ټولي دنيا پر مسلمانانو فکر وکړه چې موږ چيرته روان يو که چيري موږ فکر وکړو، نو بيا دا ټولي بربادي او دربدري د څه امله دي. (قراني فيصلي، ص ۵۵، ۵۶).

۴_ د مذهبي رواجو د دغو وينه خوړلو لرګيو د درولو له پاره ډول ډول دلائل وړاندي کيږي لکه اختري سنت ابراهيمي بولي کله يې پر صاحب نصاب واجب ګڼي کله يې الله ﷻ ته د تقرب ذريعه بولي او کله يې پر دوزخ محفوظ تېرېدلو سوارلې يې بولي.

۵_ اختري همله ته د خوراک او څښاک د تياري ذريعه ؤ اوس لکه څنګه چې هلته حيواني ذبح کيږي او بيا يې هلته تر مځکه لاندي کوي نه د هغه څخه د خدای ﷻ رضاء مقصد وي او نه هر ځای د حيوان ذبح کول د هغوی سره کومک وي هلته هم هر شی ضائع سي او دلته هم. و ذالک خسران مبين. (قرآني فيصلی، ۶۵).

☆ د اختري له پاره د حج د ځايه پرته بل ځای حکم راغلی نه دئ او په حج کي هم د دې حيثيت د مجلس د ګډون کوونکو له پاره تر نفقې زيات نه ؤ.

د منکرين حديثو سوالونه او جوابونه

منکرين حديث پر اختري يو څو اعتراضونه کوي:

لومړی اعتراض: دا دئ چې په اختريانو کي بې شمېره حيوانان ضائع کيږي په سعودي کي د هغو غوښي ښخيږي او د مسلمانانو په ميلونو ډالر ضائع کيږي؟

الجواب: دا اعتراض که يو څه وخت مخکي سوی وای نو ممکن ؤ چې ځيني ساده مسلمانان د دې په جال کي راغلي وای، مګر نن سبا د فريزر او يخچال زمانه ده د هيڅ سره هم غوښه نه ضائع

کیږي بلکي زه مزاحاً وایم چي نن سبا د فقیرانو او مسکینانو ځایونه هم فریزرو او یخچالو ډک کړي دي مسکینانو ته لږ ور کوي او د یخچال برخه زیاته وي.

مګر په پخوا زمانه کي همدا اعتراض بې حقیقت او بې ځایه ؤ پخوا زمانه کي به خلکو غوښي خوړلي او مسکینانو ته یې ورکولي او غوښه به یې ځړي کړه مالګه به یې پر واچوله غوښه بې وچوله او په میاشتو میاشتو به یې خوړلي نو که په یو هیواد کي غوښه ضائع کیږي یا پتهیږي هغه د هغه هیواد نقصان دئ په دې کي د شریعت څه تاوان دئ په ځیني هیوادو کي په موټرانو کي څه خرابي راځي، نو هغه غورځوي او ځای ځای د موټرانو هډېري پرتي وي، نو په دې معامله که څیري یو سړی پر جاپان او جرمني اعتراض وکړي چي تاسو دومره موټر ولي جوړ وي چي هډېري یې جوړي سوي دي، نو دا اعتراض بې معنا او بې ځایه دئ. تاسو دا ولي په ښو ماشینانو کي نه ساتی یا یې غریبو هیوادونه ته نه لیږي.

همدا رنګه که څیري څوک دا سوال وکړي چي الله عزوجل د رزق وعده کړي ده د دې باوجود ډېر خلک د قحط او وږ کالي له امله مري نو د دې د ډېرو جوابو څخه یو جواب دا دئ چي الله عزوجل د ټولو له پاره رزق پیدا کوي، رزق پیدا کول د الله عزوجل کار دئ او رسول یې زموږ کار دئ کله یو ځای ډېره غله پیدا سي او کله بل ځای که موږ رزق نه رسو، نو موږ قصور دئ دا الله عزوجل د قدرت قصور نه دئ.

دوهم اعتراض: دا دئ چي د اختري له امله ډېر حیوانان ضائع کیږي چي دا د حیوانانو د کمي سبب دئ؟ خو دا اعتراض د الله عزوجل د عادت او فطري قانون څخه د بې خبري دلیل دئ. د الله عزوجل قانون دئ چي کوم شی خلک ډېر استعمالوي او هغه د ضرورت شی وي، نو الله عزوجل هغه شی په زیاته اندازه پیدا کوي لکه اوبه، هوا او وغیره خلک یې ډېر استعمالوي او الله عزوجل یې بې شمېره پیدا کوي په یوه زمانه کي په ځینو هیوادو کي په ډېر شمېر اوښان ساتل کېدل او ذبح کېدل. وروسته په دې هیوادو کي دغه سلسله کمه سوه. نو د اوښانو نسل هم کم سو. په ځیني ځایو کي خلکو د آسانو استعمال بند کړي. نو آسان کم سؤ په پخوا زمانه کي خلکو د حافظو څخه کار اخیستي. نو د خلکو به ښي ښي حفاظي وي اوس د کتابچو او کمپیوټر زمانه راغله. پخواني حافظي ختمي سوي الا ما شاء الله.

الله عزوجل فرمایي:

﴿ وما أنفقتم من شيءٍ فهو يخلفه ﴾ (سورة سباء، الآية ۳۹).

کوم شی چي تاسو مصرفوي، الله ﷻ د هغه بدل درکوي او حیوان ضائع کیږي نه، بلکي خوړل کیږي بیا خو چي هره ورځ کوم حیوان ذبح کیږي د معترضینو په آند به د سراف په ډله کي راځي. دا اعتراض خو هندوان هم کوي چي تاسو هره ورځ بې شمېره حیوانان ذبح کوي او پر هغوی ظلم کوي یا ځوک دا وایي چي خلک روزانه په میلونو هګۍ، ولي خوري دا هم ضائع کیږي مګر کوم شی چي خوړل کیږي ضائع کیږي نه.

درېیم اعتراض: دا کیږي چي که تاسو د غریبانو کومک کول غواړي، نو نغدي پیسې ورکوي چي غریبان یې په خپلو ضروریاتو کي مصرف کړي، دا اعتراض هم د معترض د بې علمې دلیل دئ ځکه که یو حاکم د چا څخه د ښه نسل والا آس غوښتنه وکړي او دا د زمانې افلاطون د آس پر ځای (۵۰) زره پیسې ورته را ولیږي، نو شاید چي دا دي د سزا وړ وبلل سي، الله ﷻ خو له موږ څخه حیوان غواړي او موږ پیسې ورکړو دا چي د عقل خامي نه ده نور څه دي، همدا رنګه ډېر فقیران بخیلان وي که چیري هغوی ته پیسې په لاس ورسي، نو شاید چي د اختر په ورځ هم خپلي ښځي او ماشومانو ته دال او ډوډۍ ورکړي او پیسې وساتي او د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت محمد ﷺ د سنت مېلمستیا څخه بې برخي سي.

څلورم اعتراض: ځیني خلک د اختري په اړوند دا وایي، چي په ایام النحر کي اختري ضروري نه دئ بلکي قیمت دي جمع کړي او حکومت ته دي ورکړي چي د خیر په کار کي یې استعمال کړي اود هدایې د مصنف رحمه الله د لاندي عبارت څخه استدلال کوي. عبارت یې دا دئ:

والتضحية فيها أفضل من التصدق بثمن الأضحية لأنها تقع واجبة أو سنة والتصدق تطوع محض فتفضل عليه. (الهداية: ۴/ ۴۴۶، شركة علمية).

یعني د اختر په ورځو کي اختري کول د حیوان تر قیمت خیراتولو افضل دي، د هدایې مصنف رحمه الله اختري کول تر قیمت خیراتولو افضل بولی مګر له دې څخه دا معلومیږي چي هغه هم دا خبره منی چي د قیمت په خیراتولو سره هم اختري اداء کیږي. د نور تفصیل له پاره یې وګورئ: (قراني فیصلي، ص ۱۳۸). د دې عبارت څه جواب دئ؟

الجواب: ۱_ د هدایې د مصنف رحمه الله له عبارت څخه مقصد یوازي دا دئ چي په ایام النحر کي اختري کول تر مالي خیرات ذاتاً او صفةً افضل دئ، صفةً خو ځکه چي اختري واجب دئ یا سنت او مالي خیرات نه واجب دئ او نه سنت بلکي یوازي افضل دئ او ښکاره خبره ده چي واجب یا سنت

عبادت په هر حال کي تر نفل عبادت افضل او ښه وي او ذاتاً ځکه افضل دئ چي په اختري کي د روح او مال دواړو قرباني موجود ده او په مالي خيرات کي يوازي د مال قرباني موجود ده او دا خبر تر لمر ښکاره ده چي د دوو عبادتو مجموعه تر يوه عبادت افضل او بهتره ده. (ملخص از فتاوی دار العلوم ديوبند، جلد اول، ص: ۶۹۲).

۲_ د دې اعتراض اصل جواب دا دئ: چي بهتري له واجب او لازم سره ضد نه ده په بخاري شريف کي (صـ ٦) کي حديث شريف دئ:

أی الإسلام أفضل قال: من سلم المسلمون من لسانه ويده.

مسلمان ته د تکليف وضرر رسولو څخه ځان ساتل لازم دي او د دې له پاره د افضل لفظ استعمال سوی دئ بيا يې په (صـ ۸) کي حديث شريف دئ:

أی العمل أفضل فقال: ايمان بالله ورسوله قيل ثم ماذا قال: الجهاد فی سبيل الله قيل: ثم ماذا قال: حج مبرور.

ګوره ايمان، جهاد او قبول سوي حج د فرضياتو څخه دي او افضل هم دي، بيا په (صـ ۷۶) کي حديث شريف دئ، ((أی العمل أحب....)) د دې په جواب کي پر وخت لمونځ د مور او پلار سره ښه کول او جهاد کول ذکر دي دا ټول احب او خير هم دي او ضروري هم دي.

همدا رنګه په آيت کريمه کي ﴿ فاسعوا إلی ذكر الله وذروا البيع ذلكم خير لكم ﴾ (سورة الجمعة، الآية ۹).

د جمعې حاضري خيرهم ده او لازم هم ده، په آيت کريمه کي دي: ﴿ ولو آمن أهل الكتاب لكان خيرًا لهم ﴾ (سورة آل عمران، الآية ۱۱۰).

د اهل کتاب ايمان خير او بهتر دئ او فرض هم دئ، په ﴿ والصلح خير﴾ (سورة النساء، الآية ۱۲۸).

کي د خپل منځي جګړي په مقابله کي صلح خير هم ده او د جنګ په مقابله کي ضروري هم ده په ((الصلاة خير من النوم)) کي لمونځ خير هم دئ او فرض هم دئ په آيت کريمه کي راځي:

﴿ ولا تقولوا ثلاثة انتهوا خيرًا لكم ﴾ (سورة النساء، الآية ۱۷۱).

په دې آیت کریمه کې له تثلیث څخه ځان ساتل خیر هم دي او فرض هم دي همدا رنګه دلته اختري واجب هم دئ او خیر هم دئ ځکه چې واجب یا د ځینې علماء کرامو په قول سره سنت مؤکده د نفلي خیرات په مقابله کې افضل دئ.

د هدایې مصنف اختري واجب لیکلي دئ وګورئ:

الأضحية واجبة على كل مسلم مقيم مو سر فى يوم الأ ضحى... (الهداية:٤/ ٤٤٣، كتاب الاضحية).

هو. دا اشکال کېدلای سي چې اسم تفضیل تقاضاء دا ده چې نفس فعل په جانب مقابل یعني مفضل علیه کې هم موجود دئ لکه په ((أفضل الصحابه ابو بكر رضي الله عنه)) کې په نورو صحابه کرامو کې هم فضیلت سته مګر په حضرت ابو بکر رضي الله عنه کې فضیلت زیات دئ؟

د دې یو جواب دا دئ چې که چیرې یو چا د اختر په ورځ نفلي خیرات ورکړي او اختري یې نه وکاږ د هغه د نفلي خیرات ثواب سته که څه هم د ترک واجب وبال یې په غاړه دي که یو څوک د نفلي روژې په حالت کې ډېره خروي د روژې ثواب یې سته که څه هم د ډېرې د خرولو ګناه یې هم په غاړه ده. هو کله کله اسم تفضیل د نفس فعل په معنا هم راځي لکه: ﴿ أصحاب الجنة يومئذٍ خير مستقرا وأحسن مقيلًا ﴾ (سورة الفرقان، الآية ٢٤).

د دې دا مطلب نه دئ چې د جنتیانو ځای ډېر ښه دئ او د دوزخیانو یو څه ښه دئ بلکې د جنتیانو ځای ښه دئ او د دوزخیانو ځای بد دئ. خو د هدایې د عبارت دا جواب نه دئ بلکې لومړی جواب دئ.

د اختري څو حکمتونه:

اوس موږ د اختري مختصر حکمتونه بیانه ؤ چې د منکرینو له پاره د سترګو رانجه سي:

۱_ اختري د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت محمد ﷺ یادګار دئ. د دې یاد ګار ساتل د هوښیارۍ او پر اسلام د ټینګښت دلیل دئ او اختري د حضرت اسماعیل علیه السلام او د هغه د مور او حضرت ابراهیم علیه السلام د صبر او د دین له پاره د هر ډول لویه قربانۍ ورکولو عظیم الشان یاد ګار دئ. یو عاشق د خپل محبوب نوم او کړن لاره څنګه پرېښودلای سي.

۲_ په اختري كي د مشركينو او ګلګي د عبادت كوونكو ترديد دئ چي دا حيوان زموږ د خوراك له پاره دئ زموږ معبود نه دئ.

۳_ د عبادت مالي دوه ډولونه دي:

لومړى_ : پيسې او نور شيان لكه غنم اوربشي وغيره خرڅ كول.

دوهم_ : حيوان خرڅ كول.

په كوچني اختر كي د اول لحاظ شوى دئ او په لوى اختر كي د دوهم لحاظ سوى دئ چي پر دواړو طريقو باندي عمل وسي او فقيران خوشحاله بنه زړه واوسي دماغ او زړه يې دواړه خوشحاله وي.

۴_ د اختر په ورځ الله ﷻ غريبان د غنيانو سره برابر كړي دي چي د اختر په خوشحالۍ او غوښه خوړلو كي ټول سره ګډ سي.

۵_ چي د بت پرستانو اجتماعي مخالفت وسي، هغوى حيوان د غير الله د خوښي له پاره يا د غير الله پر نوم ذبح كوي او موږ د الله ﷻ د خوښي له پاره او د الله ﷻ پر نوم يې ذبح كوؤ.

۶_ د حيوان ساتوونكي د حيوان سره ډېر محبت وي، د اختر په ورځ هغه ذبح كوي چي خپل محبوب شى د الله ﷻ د خوښي له پاره قربان كړي.

۷_ په اختري كي د الله ﷻ د قدرت ښكارندوي دئ چي مسلمان د الله ﷻ د نوم د لوړ والي له پاره اختري كوي، الله ﷻ د هغه په عوض كي بې شمېره حيواناں پيدا كوي.

۸_ په اختري كي د الله ﷻ په لاره كي د خپل ځان د وركولو تعليم دئ چي الله ﷻ زما د حيوان روح غوښتي دئ او ما وركړي كه الله ﷻ په يو ځاى كي زما روح وغواړي، نو زه د دې په وركولو كي څه منع كوم.

ځكه بهتره خبره دا ده چي نوكان او وريښتان په ذى الحجه كي پرې نه سي بلكي د اختر په ورځ پرې سي چي اې الله! نن د اختر په ورځ ما خپل نوكان او وريښتان پرې كړو او قربان مي كړو كه څه ضرورت پېښ سي خپل ځان مي هم حاضر دئ.

كارعاشق خون دل درپاى جانان ريختن — كارمعشوقان نمك برزخم پنهان يختن

۹_ اختري د حيوانانو د نسل د ډېر والي ذريعه ده لكه مسلمان او اهل كتاب چي حلال حيواناں ذبح كوي، نو د هغوى نسل زياتيږي زياتيږي او سپيان نه ذبح كوي، نو هغه د نورو حيوانانو لسمه برخه بلكي يو فيصد هم نه دي.

۱۰_ داختر په ورځ ټول خلک د الله ﷻ مېلمانه وي او مېلمانه ته سيد الطعام ورکول په کار او دا د حلالو حيوانانو غوښې دي.

۱۱_ د بندګي تقاضاء دا ده چي که د يو حکم په حکمت پوهـ نه سي بيا دي هم په هغه عمل کوي او د انسانيت اخري درجي ته دي ځان ورسوي.

پر محمود غزنوي رحمه الله د اياز سره پر محبت اعتراض وسو، نو هغه يو قېمتي الماس را وغوښتي او ټولو غلامانو ته له اياز سره د هغه د ماتولو حکم وکړي، نورو غلامانو ماتول د حکمت څخه خلاف وبلی او د حکم څخه يې عدول وکاو او اياز د خپلي بندګي ښکارندوينه وکړه ډبره يې واخيسته او الماس يې پرې مات کړ او د خپل بادار په نظر د محبوبيت آخري درجي ته ورسېدئ.

مولانا رومي رحمه الله وايي:

نقض امر از کسر درد شوارتر   لاجرم بستم بکسر او کمر

اياز وويل، د خپل بادار تر حکم ماتولو د الماس ماتول ډېر اسان ؤ، نو ځکه ما د الماس ماتولو ته ملا وتړله.

په ﴿ ولکن يناله التقوى منکم ﴾ (سورة الحج، الآية ۳۷) کي همدې طرف ته اشاره ده چي الله ﷻ ته يې وينه او غوښې نه رسي بلکي اخلاص للهيت او د الله ﷻ د حکم له مخالفت څخه ځان ساتل او د الله ﷻ څخه بېره رسي. والله ﷻ اعلم.

د تکبيرات التشريق په اړوند څو مسئلې

سوال: د تکبيرات التشريق حکم څه دئ؟

الجواب: د عرفې يعني د (۹) ذی الحجې د سهار څخه بيا د ذی الحجې د (۱۳) تاريخ تر مازديګر پوري چي ټول (۲۳) لمونځونه کيږي د هر فرضي لمانځه وروسته يو وار په لوړ اواز سره تکبيرات التشريق ويل واجب دي تکبير تشريق دا دي:

الله أکبر الله أکبر لا إله إلا الله الله أکبر الله أکبر ولله الحمد.

پر نر، ښځه، کورنی، مسافر، امام، مقتدي او منفرد ټولو واجب دي دا د صاحبينو مذهب دئ او فتوی هم پر همدغه قول ده، البته ښځي دي په کراره اواز وايي په لوړ اواز دي نه وايي. والله ﷻ اعلم.

سوال: تکبيرات تشريق څو واره ويل واجب دي؟

الجواب: يو وار ويل واجب دي، د ځيني مفتيانو كرامو په آند درې واره هم روا دي او دوه واره بدعت دي. والله ﷻ اعلم.

سوال: كه د امام تكبيرونه هېر سي، نو مقتدي به څه كوي؟

الجواب: مقتديانو ته په كار ده چي فوراً يې شروع كړي، چي امام ته هم وریاد سي د امام انتظار دي نه كوي. والله ﷻ اعلم.

سوال: داختر د لمانځه وروسته تكبيرات تشريق ويل په كار دي او كه نه؟

الجواب: ويل يې په كار دي ځكه چي د ځيني مفتيانو كرامو په آند واجب دئ. والله ﷻ اعلم.

سوال: كه د يو چا څخه د تكبيرات تشريق په ورځو كي لمونځ قضاء سي، نو له دې قضاء سوي لمانځه وروسته تكبيرات تشريق ويل كيږي او كه نه؟

الجواب: كه د تكبيرات تشريق په ورځو كي قضاء راوړي نو تكبير ويل واجب دي كه وروسته وي، نو واجب نه دي. والله ﷻ اعلم.

سوال: ايام تشريق كوم دئ او څو دئ؟

الجواب: د ذى الحجې اووم تاريخ ته يوم الزينه، اتم ته يوم الترويه، نهم ته يوم العرفه، لسم ته يوم النحر، يوولسم ته يوم القر، دوولسم ته يوم النفر الاول، ديارلسم ته يوم النفر الثانى وايي، همدا رنګه (۱۱_۱۲_۱۳) ته ايام التشريق هم ويل كيږي، لسم يوم النحر دئ، يوم التشريق نه دئ او ديارلسم يوم التشريق دئ، يوم النحر نه دئ او (۱۱_۱۲ په ايام النحر او ايام التشريق كي سره ګډې دي. والله ﷻ اعلم.

سوال: كه د يو سړي څخه له لمانځه وروسته تكبيرات التشريق هېر سي، نو څه دي وكړي؟

الجواب: كه چيري په مسجد كي ورته ياد سي، نو په مسجد كي دي ووايي او كه د مسجد څخه وتلى ؤ، نو بيا دي نه وايي، په اينده كي دي خيال كوي او استغفار دي هم ووايي. والله ﷻ اعلم.

د تکبیرات التشریق په لوړ اواز ویلو حکم

سوال: د احنافو په مذهب کې تکبیرات التشریق جهراً ویل کیږي که سراً؟ که جهراً وي. نو جهراً واجب دي او که سنت؟ او امام ابو حنیفه رحمه الله ویلي دي چې جهراً ویل بدعت دئ، د دې جواب څه دئ؟

الجواب: د احنافو په مذهب کې تکبیرات تشریق جهراً ویل کیږي او جهراً واجب دي او د امام ابو حنیفه څخه چې د بدعت کوم قول مروی دئ هغه پر جهر مفرط محمول دئ او د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند په کوم ذکر کې چې جهر ثابت نه وي په هغه کې اخفاء کول په کار ده:

په بدائع الصنائع کې راځي:

وأما بيان وجوبه فالصحيح أنه واجب. (بدائع الصنائع: ۱/ ۱۹۵، سعید).

په حاشیة الطحطاوی کې راځي:

ويجب تكبير التشريق وكذا يجب الجهر به... واذكروا الله في أيام معدودات... فيفيد الوجوب لا الافتراض وقد واظب عليه النبي ﷺ وكذا الخلفاء الراشدون والصحابة أجمعون . (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ۵۳۸، ۵۳۹، قديمى).

په اعلاء السنن کې راځي:

فإن رفع الصوت بالتكبير تعبداً بدعة فى الأصل، وبقولنا: تعبداً، خرج ما إذا جهر به للنشاط أو لدفع الوساوس والخواطر أو للتعليم بدون اعتقاده الثواب فى الجهر فهو مباح عندنا... ولم يشوس على المصلين ولم يكن الجهر مفرطاً... ودليل كون الجهر بالتكبير تعبداً بدعة أنهم ذكروا السنة فى الأذكار المخافتة لقوله تعالى: ﴿ادعوا ربكم تضرعًا وخفيةً إنه لا يحب المعتدين﴾... فلا يترک هذا الدليل إلا عند قيام الدليل المخصص وجاء الدليل المخصص للتكبير. (اعلاء السنن: ۸/ ۱۵۰).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

تکبیر تشریق په لوړ اواز یو وار ویل په کار دي (مالا بدمنه).

مګر چغاري په ژور اواز ايستل مکروه او ممنوع دي. (فتاوی رحیمیه:۳/ ۴۸۱).

په ذکر اجتماعي او جهري کي فرق:

علامه الوسی رحمة الله عليه مفتي بغداد ليکي:

په ذکر جهری کي که يو مانع شرعي نه وي مندوب دئ بلکي تر ذکر سری افضل دئ.

او د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه شخه هم يو روايت منقول دئ بلکي د مسند ابی حنيفه رحمة الله عليه ظاهر الفاظ پر مطلق ذکر بالجهر دلالت کوي. (وګورئ: روح المعانی:۱۶/ ۱۶۲).

علامه شامي رحمة الله عليه وايي:

د کوچني اختر تکبيرونه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په آند سراً ويل کيږي او د صاحبينو په آند جهراً او يو روايت د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه شخه هم د جهراً مروی دئ او دا اختلاف په افضليت کي دئ، په هر حال کراهت په يوه طرف کي هم نه ستهِ. (ذکر اجتماعی وجهری، ص ۱۵۳، بحواله شامی:۲/ ۱۷، سعيد).

قال الإمام: المراد أن يقع الذكر متوسطاً بين الجهر والمخافة والمراد بالجهر رفع الصوت المفرط وبمادونه نوع آخر من الجهر. (روح المعانی: ۹/ ۱۵۴). الله تعالىٰ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله ﷺ: كل غلام رهينة بعقيقته، تذبح عنه يوم سابعه ويسمى، ويحلق رأسه. (رواه اصحاب السنن الاربعة).

باب ښلورم

احكام العقيقة

قال رسول الله ﷺ: عن الغلام شاتان مكافئتان، وعن الجارية شاة.

(رواه الأمام احمد والترمذي).

لومړی فصل

د عقیقې د احکامو بیان

د حدیث ((الغلام مرتهن....)) مطلب

سوال: ((الغلام مرتهن بعقيقته يذبح عنه يوم السابع ويحلق رأسه ويسمى)) (سنن ابن ماجه، ص ۲۲۸) د دې حدیث مطلب څه دئ؟

الجواب: د مذکوره حدیث څلور مطلب کېدلای سي:

۱ _ ماشوم د عقیقې نه کولو له امله څخه د شفاعت څخه محبوس او ممنوع وي، د عقیقې پرته شفاعت نه کوي.

۲ _ ماشوم د عقیقې پرته له قبولیت څخه محبوس او بند وي.

مګر په دغو دواړو معناؤ کي دا اشکال دئ چي د دې دواړو معناؤ په رڼا کي عقیقه واجب یا سنت مؤکده کېدل په کار دي حال دا چي عقیقه نه واجب ده او نه سنت مؤکده، پرته له دې چي د عقیقې وجوب منسوخ وګڼل سي.

۳ _ دریم مطلب یې دا دئ چي ماشوم د مرهون په ډول دئ، د پور په بدله کي چي کله ګروي راهن ته په لاس ورسي، نو هغه ته په کار دي چي پور یا قرض اداء کړي چي کله الله ﷻ تا ته نعمت یا رحمت درکړ، نو د هغه په عوض کي د الله ﷻ له پاره عقیقه وکړه، په دې معنا کي هم د عقیقې د لزوم او وجب شبه پیدا کیږي.

۴ _ رهن (ګروی) د حبس په معنا ده، نو مطلب یې دا دئ چي ماشوم په خرابو وینو او ناپاکه وربښتانو کي بند دي اومه ورځ عقیقه وکړه د هغه وربښتان وخره ؤ او د بنډ څخه یې خلاص کړه د دې معنا تائید په دغو الفاظو سره کیږي: ((فأميطوا عنه الأذى)).

علامه سیوطی رحمة الله علیه لیکلي دي:

وقيل: معناه أنه مرهون بأذى شعره واستند بقوله: فأميطوا عنه الأذى وهو ما علق به من دم الرحم. (حاشية سنن ابن ماجه، ص ۲۲۸، رقم الحاشية، ۶).

د عقيقې معنا هم د هغو وربښتانو ده كوم چې د زيږېدو په وخت كې د كوچني پر سر وي او هغه پرې او صاف سي:

وهو الشعر الذى يكون على المولود حين يولد من العق والشق واقطع. (سنن ابن ماجه، ص ۲۲۸، رقم الحاشية ۵) والله ﷻ اعلم.

الدلائل القويه لإثبات العقيقة عند الحنيفة

د احنافو په مذهب كې د عقيقې حكم

سوال: د احنافو په مذهب كې د عقيقې حكم څه دئ او د عالمګيري د لاندې عبارت څخه مباح غير مسنون يا مكروه معلوميږي د دې جواب څه دئ.

د عالمګيري عبارت وګورئ:

العقيقة عن الغلام وعن الجارية وهي ذبح شاةٍ في سابع الولادة وضيافة الناس وحلق شعره مباحة لا سنة ولا واجبة، كذا في الوجيز للكردري . وذكر محمد رحمه الله تعالى في العقيقة فمن شاء فعل ومن شاء لم يفعل وهذا يشير إلى الإباحة فيمنع كونها سنةً وذكر في الجامع الصغير ولا يعق عن الغلام ولا عن الجارية وأنه إشارة إلى الكراهية كذا في البدائع في كتاب الأضحية . (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۶۲).

الجواب: فقهاء حنفيه ؤ د جمهورو د قول سره سم عقيقه مستحب بللى ده، دلائل يې په لاندې ډول دي:

د عقيقې په استحباب كې څو روايات وګورئ:

روى البخاري في «صحيحه ». (باب اماطة الاذى عن الصبى فى العقيقة، رقم: ۵۴۷۱) تعليقاً عن سلمان بن عامر الضبي ﵁، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: مع الغلام عقيقة، فأهريقوا عنه دماً، وأميطوا عنه الأذى.

وقدوصله الطحاوي فی شرح مشکل الآثار (۳/ ۷۳)، ورواه أبو داود فی الأضاحي، باب فی العقیقة (۲۸۴۱)، والترمذي فی الأضاحي، باب ماجاء فی العقیقة (۱۵۱۵)، والنسائي فی العقیقة (۴۲۲۵)، وابن ماجه فی الذبائح فی باب العقیقة (۳۱۶۴).

وعن سمرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: کل غلام رهینة بعقیقته تذبح عنه یوم سابعه ویسمی، ویحلق رأسه. (رواه اصحاب السنن الاربعة، وقال الترمذی: هذا حدیث حسن صحیح:۱/ ۲۷۸، ط: فیصل).

وعن عائشة رضی الله تعالٰی عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: عن الغلام شاتان مکافئتان، وعن الجاریة شاة. (رواه الامام احمد، رقم: ۲۴۰۲۸، والترمذی، وقال: حدیث صحیح:۱/ ۲۷۸، ط: فیصل).

وفي روایة لأحمد: أمرنا رسول الله ﷺ أن نعق عن الجاریة شاة وعن الغلام شاتین. (رواه الامام احمد فی مسنده، رقم: ۲۵۲۵۰، والترمذی، رقم: ۱۵۱۳، وقال: هذا حدیث حسن صحیح: ۱/ ۲۷۸، ط: فیصل).

وعن أم کرز الکعبیة، أنها سألت رسول الله ﷺ عن العقیقة، فقال: عن الغلام شاتان، وعن الجاریة واحدة، ولایضرکم ذکراناً کن أو إناثاً. (رواه الترمذی، وقال هذا حدیث صحیح:۱/ ۲۷۸، ط: فیصل، واحمد فی مسنده ۲۷۱۳۹).

وعن ابن عباس ﷺ، أن رسول الله ﷺ عق الحسن والحسین کبشاً کبشاً. (رواه ابو داود، رقم: ۲۸۴۳، والنسائی، رقم: ۴۲۳۰، ولفظ النسائی: بکبشین کبشین).

د احادیثو په منځ کي جمع او تطبیق:

علامه ابن رشد مالکي قرطبي په ((بدایة المجتهد)) کي وایي:

ظاهر حديث سمرة وهو قول النبي عليه الصلاة والسلام: كل غلام مرتـهن بعقيقته تذبح عنه يوم سابعه ويماط عنه الأذى، يقتضي الوجوب، وظاهر قوله عليه الصلاة والسلام وقد سئل عن العقيقة فقال: "لا أحب العقوق ومن ولد له ولد فأحب أن ينسك عن ولده فليفعل". يقتضي الندب أو الإباحة فمن فهم منه الندب قال: العقيقة سنة ومن فهم الإباحة قال: ليست بسنة ولا فرض وخرج الحديثين أبو داود ومن أخذ بحديث سمرة أوجبها. (بداية المجتهد١/ ٣٣٩).

علامه ظفر احمد عثماني رحمہ اللہ په ((اعلاء السنن)) كي د احاديثو په منځ كي تطبيق وركوي او وايي:

وأما الأحاديث التي أشار إليها فلا يخفى أن منها ما هو منسوخ إجماعاً، وهو الذي احتج به الظاهرية على وجوبها، كحديث الحسن عن سمرة مرفوعاً: كل غلام مرتهن بعقيقته... الخ، رواه الخمسة، وصححه الترمذي، وعن سلمان بن عامر الضبى مرفوعاً: مع الغلام عقيقة، فأهريقوا عنه دماً وأميطوا عنه الأذى. رواه الجماعة إلا مسلماً. وعن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت: أمرنا رسول الله ﷺ أن نعق عن الجارية شاة وعن الغلام شاتين. والأمر للوجوب... وقال الجمهور باستحبابها لحديث عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده: سئل النبي ﷺ عن العقيقة فقال: « لا أحب العقوق من أحب منكم أن ينسک عن ولده فليفعل عن الغلام شاتان مكافئتان وعن الجارية شاة». رواه أحمد وأبو داود وسكت عنه هو والمنذرى والنسائى، وروى محمد فى «الموطا» عن مالک عن زيد بن أسلم عن رجل من بنى ضمرة عن أبيه مرفوعاً نحوه.

وهذا يدل على نسخ الوجوب إلى الإباحة كما هو ظاهر قوله: من أحب منكم أن ينسك عن ولده، ومنها ما يدل على النهى عنها كحديث أبي رافع أن حسن بن على رضي الله عنه لما ولد أرادت أمه فاطمة رضى الله تعالٰى عنها أن تعق بكبشين، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « لا تعقي عنه ولكن احلقي رأسه» الحديث. وقد تقدم ولكنه يحتمل اختصاص النهى بفاطمة رضى الله تعالٰى عنها لقول النبي صلى الله عليه وسلم: أكره العقوق فكره لأهل بيته ماكان يكرهه وإن لم ينه عنه غير أهل بيته لما فى حديث أم كرز أنها سألت النبي صلى الله عليه وسلم يوم الحديبية عن العقيقة فقال: عن الغلام شاتان وعن الجارية شاة. (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۱۲، طريق الجمع بين احاديث الباب).

د احنافو قول د جمهورو د قول سره برابر دئ:

په اعلاء السنن کي راځي:

هذا وإنما أخذ أصحابنا الحنفية في ذلك بقول الجمهور وقالوا باستحباب العقيقة لما قال ابن المنذر وغيره: إن الدليل عليه الأخبار الثابتة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وعن الصحابة والتابعين بعده، قالوا: وهو أمر معمول به فى الحجاز قديماً وحديثاً. (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۱۴، وجه اخذ الحنفية بقول الجمهور فى هذا الباب).

په عمدة القاري کي راځي:

وقال أبو حنيفة: ليست بسنة وقال محمد بن الحسن: هي تطوع كان الناس يفعلونها ثم نسخت بالأضحى، ونقل صاحب التوضيح عن أبي حنيفة والكوفيين: أنها بدعة وكذلك قال بعضهم في شرحه والذي نقل عنه أنها بدعة أبو حنيفة. قلت: هذا افتراء فلا يجوز نسبته إلى أبي حنيفة وحاشاه أن يقول مثل هذا، وإنما قال: ليست بسنة فمراده إما ليست بسنة ثابتة وإما ليست بسنة مؤكدة، وروى عبد الرزاق عن داود بن قيس، قال سمعت عمرو بن شعيب عن أبيه

عن جده سئل رسول الله ﷺ عن العقيقة، فقال: لا أحب العقوق .... الخ، فهذا يدل على الاستحباب. (عمدة القاری: ۱۴/ ۴۶۳، امدادیه، ملتان).

په التعلیق الممجد کې علامه عبد الحي الكهنوي رحمه الله وايي:

أنه ماذا أريد من كون العقيقة في الجاهلية وكونها متروكة مرفوضة في الإسلام ؟ إن أريد أنها كانت واجبة ولازمة في الجاهلية وكان أهل الجاهلية يوجبونها على أنفسهم فلما جاء الإسلام رفض وجوبه ولزومه فهذا لا يدل على نفي الاستحباب أو المشروعية أو السنية بل على نفي الضرورة فحسب، وهو غير مستلزم لعدم المشروعية أو الكراهة، وإن أريد أنها كانت في الجاهلية مستحبة أو مشروعة، فلما جاء الإسلام رفض استحبابها وشرعيتها، فهو غير مسلم . فهذه كتب الحديث المعتبرة مملوءة من أحاديث شرعية العقيقة واستحبابها، كما ذكرنا نبذاً منها. (التعليق الممجد: ۲/ ۶۶۵).

همدا رنګه د فقهي په کتابو کې هم مختلف اقوال ليکلي دي، د تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ:(حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۱۶۸، کوئته، وبدائع الصنائع: ۵/ ۶۹، ۷۲، سعيد، ورد المحتار:۶/ ۳۳۶، سعيد).

دامام ابو حنيفه رحمه الله طرفته كراهت منسوب دئ د دغه توجيهات:

۱_ د عمدة القاري عبارت مخکې تېر سو، له دې عبارت څخه معلومېږي چې امام ابو حنيفه رحمه الله د سنت مؤكده نفي کړې ده، د بدعت يا كراهت قول پر امام ابو حنيفه رحمه الله باندې افتراء ده:

۲_ په اعلاء السنن کې راځي:

وإنما كره أبو حنيفة العقيقة إذا كان القصد مجرد إراقة الدم عن الولد، كما في الأضحية. ولو كان للحم وضيافة العشيرة وإطعام الفقراء لم يكره لكونه كالذبح للوليمة وهو مشروع لكل حادث سرور، فافهم . (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۰۹، باب القيقة).

۳_ په فيض الباري کې راځي:

وفي «البدائع»: إنها منسوخة، قلت: وإنما حملته عليه عبارة محمد في «موطاه» ص (۲۲۳) قال محمد: العقيقة بلغنا أنها كانت في الجاهلية، وقد جعلت في أول الإسلام، ثم نسخ الأضحى كل ذبحٍ كان قبله، إلخ. فلم أزل أتردد في مراد الإمام، حتى رأيت في كتاب «الناسخ والمنسوخ» عن الطحاوي أن محمداً قال في بعض أماليه: إن العقيقة غير مرضية، ثم تبين لي مراده، أنه كان يكره اسم العقيقة، لأنه يوهم العقوق، ولكونه من أسماء الجاهلية، ولأنهم كانوا يفعلون عند العقيقة بعض المحظورات، كتلطخ الأشعار بدم الحيوان، مع ورود الحديث في النهي عن ذلك الاسم أيضاً، فكان مراده هذا ثم لا أدري ماذا وقع الخبط في النقل، حتى نسب إليه نسخ العقيقة رأساً، وليت شعريَ ما وجه عدم تغيير هذا الاسم بعد، مع نهي الحديث عنه، فينبغي أن لا يجعل لفظه المبهم حاوياً على العقيقة أيضاً، بل مراده نسخ دماء الجاهلية، كالرجبية، والعتيرة. (فيض الباری: ۴/ ۳۳۷، کتاب العقیقة).

د مذکوره عباراتو خلاصه دا ده چي امام ابو حنيفه رحمه الله يوازي د عقيقې نوم بد ګڼي (يعني عقيقه يې د عقوق څخه ماخوذ ګڼله او بده يې بلله مګر دا د عقوق څخه نه ده د عق څخه دي او عق د پرېکولو او څېرلو په معنا ده چي په دې کي د حيوان د پرې کولو او ټوټې ټوټې کولو معنا موجوده ده).

د عقوق دوهم وجه : ځکه چي دا د جاهليت د زمانې د نومانو څخه ؤ او د جاهليت په زمانه کي د عقيقې سره ځيني نور ناروا او ممنوع کارونه هم کېدل کوم چي اسلام منع کړو، همدغه خبر را نقل کېده نقل کېده تر څو چي يې د امام ابو حنيفه رحمه الله طرف ته د اصل عقيقې د منسوخ کېدو نسبت وسو حال دا چي خبر داسي نه ؤ (د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند هم عقيقه مستحب ده).

۵_ بدائع الصنائع والا وايي، چي د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند د وينه تويولو څخه د الله عزوجل قرب او د زوی پر نعمت شکر مقصد دئ، نو ځکه دا مستحب ده.

په بدائع الصنائع کي يې وګورئ:

ولو أرادوا القربة عن الأضحية أو غيرها من القرب أجزأهم، سواء كانت واجبة لو تطوعاً. لأن المقصود من الكل التقرب إلى الله تعالى، وكذلك إن أراد بعضهم العقيقة عن ولدٍ ولد له من قبل؛ لأن ذلك جهة التقرب إلى الله تعالى عز شأنه بالشكر على ما أنعم عليه من الولد، كذا ذكر محمد رحمه الله في نوادر الضحايا ولم يذكر الوليمة، وينبغي أن يجوز؛ لأنها إنما تقام شكرًا لله تعالى على نعمة النكاح، وقد وردت السنة بذلك عن رسول الله ﷺ أنه قال: « أولم ولو بشاةٍ » فإذا قصد بها الشكر أو إقامة السنة فقد أراد بها التقرب إلى الله عزوجل. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۳، سعید).

۶_ علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله د دې عبارت د ذکر کولو وروسته ليکي:

وهو صريح فى كون العقيقة قربة كالوليمة، فمن عزى إلى أبي حنيفة أنه قال: هي بدعة لايلتفت إليه، نعم أنكر أبو حنيفة كونها إراقة دم بالشرع تعبداً كالأضحية، ولم ينكر كونها قربة بقصد الشكر على نعمة الولد فإنها تكون إذاً كالو ليمة تقام شكراً لله على نعمة النكاح فافهم،ظ. (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۱۵، باب العقیقة).

يعني عقيقه د اختري په ډول خلاف قياس عبادت نه دئ بلکي د نعمت د شکر په ډول د قياس سره سم مدرک بالعقل عبادت دئ:

علامه شامي رحمه الله وايي:

... بأن المراد «لا يعق» على سبيل السنية بدليل كلامه الأول؛ وقد ذكر في غرر الأفكار: أن العقيقة مباحة على ما في جامع المحبوبي أو تطوع على ما في شرح الطحاوي، وما مر يؤيد أنها تطوع، على أنه وإن قلنا إنها مباحة لكن بقصد الشكر تصير قربةً ، فإن النية تصير العادات عباداتٍ والمباحات طاعاتٍ. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۲۶، سعید، وکذا فی درر الحکام فی شرح غرر الاحکام، مکتبه رشیدیه، ارک بازار).

۸_ علامه عبد الحي لکهنوي رحمه الله وايي: چې د امام ابو حنيفه رحمه الله څخه د عقيقې منسوخ بلل په صحيحه طريقه سره چې پر هغې باندې اعتماد وسي ثابت نه دئ که چيرې ثابت ومنل سي، نو د هغه د ظاهر څخه معلوميږي چې نفي د وجوب ده د مشروعيت او استحباب نفي نه ده لکه څنګه چې ديو شی د فرضيت يا وجوب څخه نفي کيږي يعني چې هغه فرض يا واجب منسوخ کيږي، نو د هغه څخه د استحباب او سنت منسوخه کېدل نه لازميږي او کوم چا چې استحباب او فضيلت هم منسوخ بللی دئ او د کراهت قول يې د امام ابو حنيفه رحمه الله طرف ته منسوب کړی دئ، علماء کرامو د دې ترديد کړی دئ:

په التعليق المجد کې يې وګورئ: ښه تفصيلي بحث يې کړی دئ مختصر يې ذکر کوؤ:

السادس : أن البلاغ الثاني لا يثبت من طريق محتج به حتى يحتج به. السابع : بعد تسليم ثبوته ظاهره يدل على منسوخية وجوب العقيقة ونحوها فإن معناه نسخ الأضحي لزوم كل ذبح كان قبله كالعقيقة. ويدل عليه ضمه بنسخ صوم شهر رمضان كل صوم كان قبله فإنه كان صوم يوم عاشوراء وأيام البيض فرضا فلما نزل صوم رمضان نسخ وجوب ذلك على ما بسطه الحازمي في " كتاب الناسخ والمنسوخ " فكما أن نسخ صوم رمضان لما قبله لم يدل إلا على عدم لزومه، لا على انتفاء استحبابه وشرعيته، وقال صاحب " البدائع " : ذكر محمد في " الجامع الصغير " : ولا يعق لا عن الغلام ولا عن الجارية، وأنه إشارة إلى الكراهة لأن العقيقة كانت فضيلة ونسخ الفضل فلا يبقى إلا الكراهة بخلاف الصوم والصدقة فإنهما كانتا من الفرائض، فإذا نسخت الفرضية يجوز التنفل بهما، انتهى . ورده القاري بقوله : فيه بحث لأن الفضيلة إذا انتفت تبقى الإباحة لأن النسخ ما توجه إلا إلى زيادة . وهذا على تقدير أنه كان فضيلة، وإلا فالظاهر من ذكرها مع الصوم والصدقة أنها على منوالهما في كونهما واجبة . انتهى . فليتأمل في هذا المقام فإنه من مزال الأقدام، وأنظم ما ذكرنا في هذا البحث في سلك نظائره التي لم يقف عليها الأعلام. (التعليق المجد: ۲/ ۶۶۶، وکذا فی اوجز المسالک: ۱۰/ ۱۷۱).

مولانا خالد سیف الله صاحب وايي:

د امام ابو حنیفه رحمه الله طرف ته دا منسوب دي چي ده رحمه الله عقيقه يوازي مباح بلله مگر د امام طحاوي رحمه الله څخه د هغې استحباب منقول دي او دا صحيح دي ځکه چي ډېر روايات د عقيقې په اړوند موجود دي گمان کيږي چي امام ابو حنيفه رحمه الله به د دې د وجوب نفي کړی وي او ناقلينو به خبر اباحت (بلکي ځيني فقهاء کرامو کراهت) ته رسولي وي. (قاموس الفقه: ۴/ ۴۱۰).

۱۰_ يوه توجيه يې دا هم سوې ده چي عقيقه د بلوغ وروسته وسي، نو مباح ده.

په کتاب الفتاوی کي يې وګورئ:

د بلوغ وروسته د عقيقې په اړوند خو کوم روايت په نظر نه دئ راغلی مگر د عقيقې حيثيت د دم شکر په ډول دئ، نو ځکه عقيقه کول مباح ده سنت خو په دې سره نه اداء کيږي خو ثواب يې سته. (کتاب الفتاوی: ۴/ ۱۷۴).

په لامع الدراری کي راځي:

واختلفت الروايات عن الحنفية والمعروف فی فروعهم أنها مندوبة وهو الصواب، والثانية: أنها مباحة، والثالثة أنها بدعة، وأنكرها العينی وبسط الكلام علی رد هذا القول وأثبت الاستحباب. (لامع الدراری: ۳/ ۳۰۶).

۱۲_ د مالا بدمنه په آخر کي د عقيقې په احکامو کي يوه رساله موجود ده په هغې کي ليکلي دي:

حامداً ومصليًا: بدانکه عقیقه نزد امام مالک وامام شافعی وامام احمد رحمهم الله سنت مؤکده است وبه روایتی از امام احمد رحمه الله واجب ونزد امام اعظم رحمه الله مستحب وقول به بدعت بودنش افتراء است بر امام همام کذا فی العاجلة الدقيقة. (مالا بدمنه، ص: ۲۱۷، رساله احکام عقيقه).

ترجمه: عقيقه د امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهم الله تعالی په آند سنت مؤکده ده او د امام احمد رحمه الله څخه يو روايت دا هم دي چي عقيقه واجب ده او د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند مستحب ده او امام ابو حنيفه رحمه الله ته چي کوم د بدعت قول منسوب دئ دا پر امام ابو حنيفه رحمه الله يو افتراء ده. کذا فی العاجله الدقيقة.

د اکابرو رحمهم الله تعالی په فتاواؤ کي د مسنون او مستحب اقوال وګورئ:

۱_ په فتاوی رشیدیه کي راځي:

سوال: عقیقه یې مباح لیکلي ده، نو په اباحت کي ثواب وي او که نه؟

الجواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه دا روایت دئ چي عقیقه مباح ده او په مباح کي ثواب هغه وخت وي چي د عبادت په خاطر اداء کړل سي، نو د امام ابو حنیفه رحمه الله د قول څخه مراد دا دئ چي څنګه په واجب کي ثواب وي هغومره په مباح کي نه سته او د ټولو ائمه ؤ په آند عقیقه مستحب ده. (فتاوی رشیدیه، صـ ۵۴۰).

۲_ په کفایت المفتي کي راځي:

سوال: عقیقه واجب ده او که سنت؟

جواب: عقیقه واجب نه ده سنت ده که چیري قدرت لري، نو عقیقه کول ښه او افضل کار دئ. (کفایت المفتی: ۲۴۲، دار الاشاعت).

۳_ په آپ کي مسائل اوران کا حل کي راځي:

سوال: د ماشوم د پیدائښت وروسته چي کومه عقیقه کیږي دا کار سنت دئ که واجب؟

جواب: عقیقه سنت ده. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۵/ ۴۷۸، طباعت جدیده).

۴_ په عزیز الفتاوی کي راځي:

سوال: د احنافو په مذهب کي عقیقه سنت ده که واجب که مباح؟

جواب: صحیح خبره دا ده چي د احنافو په آند عقیقه مستحب ده، سنت نه ده. کما فی الشامی: یستحب لمن ولد له ولد الخ. (عزیز الفتاوی: جلد اول، ص ۶۸۲، دار الاشاعت).

۵_ مولانا خالد سیف الله صاحب په حلال او حرام کي لیکي:

د امام ابو حنیفه رحمه الله مشهور او معروف قول دا دي چي عقیقه یوازي مباح ده، نه واجب ده او نه سنت. (بدائع الصنائع).

ځکه چي د حضرت عائشي رضي الله عنها په روایت کي راځي، چي د اختر په ورځ اختري ټولي قرباني منسوخه کړي، د ډېرو فقهاء کرامو په آند عقیقه سنت ده او همدغه صحیح قول دئ او په دې اړوند ډېر حدیثونه موجود دي، له همدې امله د احنافو محقیقین علماء کرام د دې د مستحب یا سنت قائله دي، په خپله امام طحاوی رحمه الله مستحب بللی ده او همدغه رایه د مولانا عبد الحی لکهنوی فرنګی

رحمه‌الله همده، علامه کاساني رحمه‌الله لیکلي دي چې که چیري د اختري سره د عقیقې برخه گډه وي، نو صحیح ده له دې څخه په ښکاره ډول معلومیږي چې علامه کاساني رحمه‌الله هم عقیقې ته لږ تر لږه د مستحب درجه ضرورور کوي، پاته سو د حضرت عائشې رضي الله عنها حدیث مبارک نو د هغه مفهوم دا دئ چې د اختري د وجوب وروسته عقیقه واجب پاته نه سوه، یوازي د مستحب درجه لري. (حلال وحرام، ص: ۴۵۰).

د عقیقې مصلحتونه:

د عقیقې په کولو کي ډېر مصلحتونه دي، چي د دې ګټه کورنۍ ته غیر د کورنۍ څخه او په خپله عقیقې کوونکی ته هم رسیږي، محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هم عقیقه کړې ده او نورو ته یې د دې ترغیب ورکړی دئ، د هغو ټولو مصلحتونه څخه یو څو په لاندي ډول دي:

۱- په عقیقه کي په ډېره ښه طریقه د نسب اشاعت راځي او د نسب اشاعت یو ضروری شی دئ چي څوک بد نه پسي ووایي.

۲- په عقیقه کي د سخاء ترغیب دئ او بخل پکښي ختمیږي.

۳- د نصارٰی وو چي به کله کوچني ماشوم پیدا سو، نو هغوی به په ژیړو او بورنګاو، نو هغه ماشوم به نصراني سو، نو په دین محمدی صلی الله علیه وسلم کی هم د نصاری وو د دې کار په مقابله کي یو داسي امتیاز درلودل په کار دي چي په هغه سره د نوی پیدا سوی ماشوم حنفی، اسلامی او د ملت ابراهیمي او اسماعیلي متبع کېدل ښکاره سي.

۴- د عقیقې په ذریعه لکه کوچني چي د الله جل جلاله په لار کي قرباني کړل سو، لکه حضرت ابراهیم علیه السلام چي حضرت اسماعیل علیه السلام د الله جل جلاله په لاره کي قربانۍ کړي ؤ. (ملخص از حجة الله البالغه).

په پنځمه ورځ د عقیقې حکم:

سوال: که څوک پنځمه ورځ عقیقه وکړي، نو عقیقه یې وسوه او که نه؟ آیا هغه ته د دوهم ځل له پاره عقیقه کول په کار ده او که نه؟

الجواب: د عقیقې له پاره بهتره او ښه ورځ یوم السابع (اوومه ورځ) ده مګر که څوک تر دې مخکي عقیقه وکړي بیا هم عقیقه اداء کیږي د دوهم ځل اداء کولو ضرورت یې نه سته.

په تنقیح الفتاوی الحامدیه کي یې وګوری:

ولو قدم يوم الذبح قبل يوم السابع أو أخره عنه جاز إلا أن يوم السابع أفضل. (تنقيح الفتاوى الحامدية: ۲/ ۲۳۳).

په اعلاء السنن کی راځي:

فلو ذبحها بعد السابع أو قبله وبعد الولادة أجزأه، وإن ذبحها قبل الولادة لم تجزه بلا خلاف بل تكون شاة لحم. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۱۹، باب افضيلة الشاة فی العقيقة).

په امداد الاحکام کي راځي:

داووم عدد لحاظ کول یوازي افضل دي، که نه عقیقه په هر صورت کي اداء کیږي.

قال فی تنقيح الفتاوى الحامدية فی أحكام العقيقة (۲/ ۲۱۲، ۲۱۳): ولو قدم يوم الذبح قبل يوم السابع أو أخره عنه جاز إلا أن يوم السابع أفضل (الى ان قال) ووقتها بعد تمام الولادة إلى البلوغ فلا يجزى قبلها وذبحها فی اليوم السابع يسن... الخ.

له دې څخه معلومه سوه چي داووم عدد رعایت کول یوازي سنت دئ که نه، د عقیقې په اداء کولو کي له دې پرته هم څه تاوان نه سته. (امداد الاحکام: ۴/ ۱۹۰). والله ﷻ اعلم.

د عقیقې موده

سوال: که په اوومه ورځ عقیقه ونه کړي، نو بیا تر څه وخت پوری عقیقه کولای سي، د دې موده څومره ده؟

الجواب: عقیقه په اوومه ورځ کول سنت او مستحب ده، که په اوومه ورځ ونه سي، نو بیا دي په څوارلسم یا یویشتم تاریخ عقیقه وکړي، همدا رنګه تر قبل البلوغ پوري د اوو د عدد رعایت کول بهتر دي، که له دې څخه خلاف وکړی، نو مستحب اداء نه سو، که څه هم عقیقه کیږي، عقیقه سنت یا مستحب ده، نو ځکه یې په مستحبه طریقه اداء کول ښه دي.

په حدیث شریف کي یې وګورئ:

عن سمرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الغلام مرتهن بعقيقية يذبح عنه يوم السابع، ويسمى ويحلق رأسه. (رواه الترمذی: ۱/ ۲۷۸) وقال: هذا حديث حسن صحيح، والعمل على هذا

عند أهل العلم، يستحبون أن يذبح عن الغلام العقيقة يوم السابع، فإن لم يتهيأ يوم السابع فيوم الرابع عشر، فإن لم يتهيأ عق عنه يوم حاد وعشرين). (وايضاً رواه ابو داود: ۲/ ۳۶، والبيهقي: ۹/ ۳۰۳).

په ځينو رواياتو كي د اوومي، څوارلسمي او يويشتمي ورځي ذكر راځي. كه څه هم پر دغه روايت څه كلام سته.

په بيهقي كي يې وګوريء:

عن عبد الله بن بريدة عن أبيه عن النبي ﷺ قال: العقيقة تذبح لسبع والأربع عشرة ولإحدى وعشرين. (رواه البيهقي في السنن الكبرى: ۹/ ۳۰۳، باب ماجاء في وقت العقيقة).

وكذا رواه الطبراني في الأوسط (رقم: ۴۸۸۲) وفي الصغير (رقم: ۷۲۳). وقال المناوي في التيسير بشرح الجامع الصغير (۲/ ۳۰۱): ضعيف. قال الهيثمي في الجمع (۴/ ۵۹): وفيه إسماعيل بن مسلم المكي، وهو ضعيف لكثرة غلطه ووهمه.

په عزيز الفتاوى كي راځي:

مسنون او مستحب دا ده چي په اوومه ورځ عقيقه وسي، په همدې ورځ دي وربښتان وخروي او په همدې ورځ دي د سر خريلو سره بزه هم ذبح كړي، كه په اوومه ورځ ونه سي، نو بيا دي په څوارلسمه يا يويشتمه ورځ عقيقه وكړي كه له دې څخه خلاف وكړي، نو مستحب اداء نه سو او عقيقه په خپله يو مستحب كار دئ، نو په مستحب طريقه دي اداء كړل سي كه په اوومه ورځ ونه سي، نو عقيقه كيږي، خو مستحب نه اداء كيږي. (فتاوى دار العلوم ديوبند: ۱/ ۶۸۱، دار الاشاعت).

مولانا خالد سيف الله صاحب وايي:

عقيقه د ماشوم د ولادت په اوومه ورځ كول په كار ده، كه تر اوومي ورځي مخكي وسي هم كافي بلل كيږي، تر څه عمر عقيقه كېدلاى سي، په دې اړوند د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمهم الله خيال دا دئ چي تر بلوغ مخكي مخكي كيږي. (شرح المهذب: ۸/ ۳۳۰، والمغنى: ۸/ ۶۴۶).

د امام مالک رحمه الله په آند چي تر اوومي ورځي عقيقه ونه سي له هغه وروسته د عقيقې اجازه نه سته. (سبل السلام: ۴/ ۱۴۲۹).

که په اوومه ورځ عقیقه ونه سي، نو په څوارلسمه که نه په یوېشتمه ورځ یې کول په کار دي، په همدې اړوند حضرت بریده ﷺ د رسول الله ﷺ: څخه یو روایت را نقل کړی دئ، چي د محدیثینو په آند صحت یې مشکوک دئ. (مجمع الزوائد: ۴/ ۵۹).

همدا رنګه د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها د قوله څخه هم د دې تائید کیږي. (حلال وحرام، ص: ۴۵۳).

په مالا بدمنه کي راځي:

د پیدایښت څخه وروسته په اوومه ورځ یا څوارلسمه یا یوېشتمه ورځ او په همدغه حساب سره د اوومي میاشتې یا اووم کال څخه وروسته عقیقه کول په کار ده، الغرض د اوو د عدد رعایت کول بهتر دئ. (مالابدمنه، رساله احکام عقیقه، ص ۲۲۰). والله ﷻ اعلم.

د مرګه وروسته د عقیقې حکم

سوال: یو سړی مړ سو او د هغه عقیقه نه ؤ سوی، آیا اوس د هغه د طرف څخه عقیقه کېدلای سي؟

الجواب: عقیقه د ماشوم د شکرېې له پاره وي، چي د دې تعلق او اړه د ژوند سره ده د مړګه وروسته عقیقه نه وی، هو، د اخترې په ذریعه ایصال ثواب کېدلای سي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وكذلك إن أراد بعضهم العقيقة عن ولدٍ ولد له من قبل ؛ لأن ذلك جهة التقرب إلى الله عزشأنه بالشكر على ما أنعم عليه من الولد ، كذا ذكر محمد رحمه الله في « نوادر الضحايا».

(بدائع الصنائع: ۵/ ۷۳، سعید). (وكذا فی فتاوی الشامی:۶/ ۳۲۶، سعید، وتبيين الحقائق:۶/ ۸، امدادیه، ملتان).

همدا رنګه عقیقه د تکلیف او مصیبت د دفع کولو له پاره وي، چي د دې اړه د ژوند سره ده.

په حدیث شریف کي یې وګورئ:

عن سمرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: كل غلام رهينة بعقيقته يذبح عنه يوم السابعه، ويسمى فيه، ويحلق رأسه. (رواه اصحاب السنن الاربعة، وقال الترمذی: هذا حديث حسن صحيح).

په فيض الباري کې راځي:

قلت: بل يجوز إلى أن يموت لما رأيت في بعض الروايات أن النبي ﷺ عق عن نفسه بنفسه. (فيض الباری: ۴/ ۳۳۷).

په احسن الفتاوی کې راځي:

د مرګه وروسته عقيقه نه سته ځکه چې عقيقه د رد بلا له پاره کيږي. (احسن الفتاوی: ۷/ ۵۳۶).

په فتاوی رحيميه کې راځي:

عقيقه په ژوند کې کيږي د مرګه وروسته عقيقه کول ثابته نه ده که د مړه ماشوم عقيقه مستحب ونه ګڼل سي، يوازې د شفاعت او مغفرت په هيله او طمع وسي، نو روا معلوميږي، لکه چا چې حج نه وي کړي او د وصيت کولو پرته مړ سبي او د هغه وارث د هغه د مغفرت په اميد په خپل مصرف سره حج بدل وکړي، نو اميد سته چې الله تعالى يې قبول کړي. (فتاوی رحيميه: ۵/ ۴۳۲).

په امداد الاحکام کې راځي:

عقيقه د ژوندي کېدلای سي مګر د مړی د طرف څخه دي د اختري په نيت وکړي.

قلت جواز الأضحية عن الصغير الميت يستدعى جواز العقيقة عنه بالأولى لعدم ورود الأمر بالأضحية عنه وقد ورد بالعقيقة وأنه مرتهن بعقيقته وأخرج ابن حزم عن بريدة الأسلمي قال: إن الناس يعرضون يوم القيامة على العقيقة كما يعرضون على الصلوات الخمس ذكره الحافظ فى الفتح. (امداد الاحکام: ۴/ ۲۳۴، ۲۳۶).

د حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په آند عقيقه د مرګه وروسته روا ده، البته مستحب نه اداء کيږي. والله ﷻ اعلم.

د ولد الزنا د عقيقې حکم

سؤال: يو سړي له يوې ښځي سره بېله نکاح ژوند کاؤ او دواړه کافران ؤ، وروسته سړی مسلمان سو مګر تر اوسه يې نکاح نه وه سوي چې لور يې پيدا سوه، ښځه تر اوسه مسلمانه سوي نه ده، عيسائی ده اوس دغه مسلمان سړی د خپلی لور عقيقه کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت كې ماشومه مسلمانه بلل كيږي، نو ځكه مسلمان پلار د هغې له خوا عقيقه كولای سي، خو د زنا د گناه څخه توبه او استغفار كول لازم او ضروري دي ښځي ته دي د اسلام بلنه وركړي مسلمانه دي كړي او نكاح دي ورسره وكړي مگر كه هغه په اسلام راوړلو خوښه نه وي، نو د زنا څخه د ځان ساتلو په خاطر دي له هغې سره په همدغه حالت كې نكاح وكړي او د اسلام دعوت دي وركوي.

په فتاوى شامى كې يې وگورئ:

ورأيت في فتاوى الشهاب الشلبي قال: واقعة الفتون في زماننا مسلم زنى بنصرانية فأتت بولد فهل يكون مسلماً؟ أجاب بعض الشافعية بعدمه وبعضهم بإسلامه، وأفتي قاضى القضاة الحنبلي بإسلامه أيضاً....قال العلامة الشامي: قلت يظهر لي الحكم بالإسلام لحديث الصحيح « كل مولود يولد على الفطرة حتى يكون أبواه هما اللذان يهودانه أو ينصرانه» فإنهم قالوا: إنه جعل اتفاقهما ناقلاً له عن الفطرة فإذا لم يتفقا بقي على أصل الفطرة أو على ما هو أقرب إليهما ولأن الكفر أقبح القبيح فلا ينبغى الحكم به على شخص بدون أمر صريح. (الدر المختار مع الشامى: ۳/ ۱۹۷، سعيد).

همدا رنگه په بخارى شريف كې د جريج د حديث څخه معلوميږي چې پر زاني پلار هم داب اطلاق كيږي.

په بخارى شريف كې يې وگورئ:

وقال الليث : حدثني جعفر ابن ربيعة عن عبد الرحمن بن هرمز قال: قال أبو هريرة ﷺ، قال رسول الله ﷺ: نادت امرأة ابنها وهو في صومعةٍ قالت: يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي، قالت: يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي قالت: يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي، قالت: اللّٰهم لا يموت جريج حتى ينظر في وجه المياميس، وكانت تأوي إلى صومعته راعية ترعى الغنم فولدت، فقيل لها: ممن هذا الولد؟ قالت: من جريجٍ، نزل من صومعته، قال

جريج: أين هذه التي تزعم أن ولدها لي قال: يا بابوس من أبوك؟ قال: راعي الغنم. (رواه البخاري: ۱/ ۱۶۱).

لنډه دا چي د مسلمان ماشوم د طرف څخه مسلمان پلار عقيقه کولای سي، که څه هم د ميراث وغيره په احکامو کی شريعت د زاني نسب له ولدا لزنا څخه قطع کړی دئ مګر له لور سره د عدم النکاح او زکات نه ورکولو وغيره احکامو کي د جزئيت په اعتبار سره د پلار پر ځای بلل کيږي. وللتفصيل راجع (رد المحتار: ۲/ ۱۹۷، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د هلک د طرف د يوې بزې ذبح کولو حکم

سوال: د هلک او انجلۍ په عقيقه کي څه فرق دئ؟ د هلک په عقيقه کي که يوه بزه ذبح کړل سي، نو عقيقه يې اداء کيږي او که نه؟

الجواب: مستحب او سنت طريقه دا ده چي د هلک په عقيقه کي دوې بزې ذبح سي او د انجلۍ په عقيقه کي يوه بزه. هو، که قدرت نه لري، نو د هلک د طرف څخه يوه بزه هم کافي بلل کيږي.

په حديث شريف کي يې وګورئ:

عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: عن الغلام شاتان مكافئتان، وعن الجارية شاة... رواه الإمام أحمد (۲۴۰۲۸)، والترمذي، وقال حديث صحيح(۱/ ۲۷۸، ط: فيصل).

وفي رواية لأحمد: أمرنا رسول الله ﷺ أن نعق عن الجارية شاة، وعن الغلام شاتين، رواه الإمام أحمد (۲۵۲۵۰).

د ځينو رواياتو څخه معلوميږي چي د حضرت حسن او حضرت حسين رضى الله تعالى عهنما د طرف څخه رسول الله ﷺ يو يو پسه ذبح کړی دئ.

وګورئ، په حديث شريف کي راځي:

وعن ابن عباس رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ عق الحسن والحسين كبشاً كبشاً، رواه أبو داود. والنسائي، ولفظ النسائي: بكبشين كبشين. (باب كم يعق عن الاجارية، واسناده صحيح).

په ترمذي کي راځي:

عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه قال: عق رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الحسن بشاة. إسناده منقطع.

(رواه الترمذی: ۱/ ۲۷۸، ط: فیصل).

حضرت مولانا منظور احمد نعمانی وايي:

د حضرت حسن او حضرت حسين رضی الله تعالی عنهما په عقيقه کي رسول الله صلى الله عليه وسلم يو پسه غالباً له دې امله ذبح کړی ؤ چي په هغه وخت کي يې قدرت همدومره ؤ، همدا رنګه د هغو خلکو له پاره چي زيات قدرت نه لري يو مثال هم سو، د دغه حديث په ځيني طرق کي د يوه يوه پسه پر ځای د دوو پسو ذکر هم راغلی دئ. (معارف الحديث: ۶/ ۲۷۲، دار الاشاعت).

په فتاوی شامي کي راځي:

وهي شاة تصلح للأضحية تذبح للذكر والأنثى. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۳۶، سعید).

وفی الهندية: العقيقة عن الغلام وعن الجارية وهي ذبح شاة في سابع الولادة. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۳۶۲).

په اعلاء السنن کي راځي:

ويستحب أن يعق عن الغلام شاتان وعن الجارية شاة، فإن عق عن الغلام شاة حصل أصل السنة (لأن ابن عمر رضي الله عنه كان يعق عن بنيه شاة شاة، رواه مالک فی الموطا وكذا محمد من طريق عن نافع عنه) (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۱۹، باب العقیقة).

په کفایت المفتی کي راځي:

د هلک په عقیقه کي دوه وزګړي یا دوه مړان یا دوې بزې یا دوې میږې ذبح کول مستحب دي که د دوو قدرت نه لري، نو یو هم کافی دئ. (کفایت المفتی: ۸/ ۲۴۲، دار الاشاعت).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: د هلک له پاره یوه بزه کافي کیږي او که نه؟

جواب: که قدرت ولري، نو د هلک له پاره دوې بزې یا دوه موږان یا د اختري په غوائې کی یا اوښ کي یا کامیښه کي دوې برخي اخیستل افضل او ښه کار دئ، که نه یوه بزه یا یو مږ یا په لوی حیوان کي یوه برخه اخیستل هم کافي ده، په دې سره عقیقه کیږي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۳۳).

په احسن الفتاوی کي راځي:

هلک وي که انجلۍ په هر حال یوه بزه کافي ده، البته د هلک له پاره دوې ښه کار دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۵۳۵). والله ﷻ اعلم.

په عقیقه کي د ذبح پر حلق د مخکي کولو حکم

سوال: په عقیقه کي لومړی ذبح کول مستحب ده که حلق د احادیثو په رڼا کي راجح قول راته بیان کړي؟

الجواب: په اصل کي په مذکوره مسئله کي درې قوله دي:

۱- لومړی حلق وروسته ذبح.

۲- په دواړو کي اختیار دئ هریو چي مخکي کوي.

۳- ذبح دي پر حلق مخکي کړي، دریم قول راجح دئ.

د محقیقینو په آند د احادیثو په رڼا کي ذبح پر حلق مخکي کول افضل او ښه کار دئ.

د لومړی قول په اړوند یې وګورئ علامه شامی رحمه الله وایي:

يستحب لمن ولد له ولد أن يسميه يوم أسبوعه ويحلق رأسه ويتصدق عنه الأئمة الثلاثة بزنة شعره فضة لو ذهباً ثم يعق عن الحلق عقيقة. (فتاوى الشامي: ۶/ ۶۶۳، سعيد).

علامه نووي په شرح المهذب کي لیکي:

والثاني: يستحب كونه (الحلق) قبل الذبح وبهذا قطع المحاملي في المقنع و رجحه الروياني ونقله عن نص الشافعي. (شرح المهذب: ۸/ ۴۳۳، ط: دار الفكر).

دوهم قول، په اعلاء السنن کي وګورئ:

فائد: قال الحافظ فی « الفتح » فی حدیث الحسن عن سمرة: الغلام مرتهن بعقیقة تذبح عنه یوم السابع ویحلق رأسه ویسمی ما نصه. واستدل بقوله: یذبح ویحلق ویسمی بالوا وعلی أنه لایشترط الترتیب فی ذلک. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۶).

د دریم او راجح قول په اړوند علامه نووي رحمه الله وايي:

وهل یقدم الحلق علی الذبح؟ فیه وجهان: أصحهما وبه قطع المصنف والبغوی والجرجاني وغیرهم: یستحب کون الحلق بعد الذبح، وفی الحدیث إشارة إلیه. (شرح المهذب: ۸/ ۴۳۳، دار الفکر).

علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله وايي:

وقد وقع فی روایة لأبی الشیخ فی حدیث سمرة: یذبح یوم سابعه ثم یحلق، وأخرجه عبد الرزاق عن ابن جریج: یبدأ بالذبح قبل الحلق. وحکی عن عطاء عکسه، وقال البغوی فی التهذیب: یستحب الذبح قبل الحلق صححه النووی فی شرح المهذب. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۱۹).

په حلال او حرام کي راځي:

مستحبه طریقه دا ده چي لومړی حیوان ذبح کړي او بیا د ماشوم ورېښتان وخروي. (حلال وحرام، ص: ۴۵۴).

په عقیقه کي د ماشوم د ورېښتانو د خرولو حکمت

سوال: په عقیقه کي د ماشوم د ورېښتانو د خرولو حکمت او مصلحت څه دئ؟

الجواب: په عقیقه کي د ماشوم د ورېښتانو د خرولو حکمتونه او مصلحتونه په لاندي ډول دي:

۱ – په حدیث شریف کي راځي، چي د ماشوم عقیقه وکړي او ګندګي ورڅخه لېري کړي.

ډېرو علماء کرامو له دې ګندګي څخه ورېښتان مراد اخیستي دئ، یعنی د هغه ورېښتان دي وخرول سي چي ګندګي ورڅخه لېري سي او ګندګي یې ځکه ورته ویلي ده چي د رحم په وینو لړلي

وي، نو بدن په پرېمنځلو پاکيږي مګر په وربښتانو کي د ګندګي اثرات پاتيږي، نو ځکه يې د خرولو حکم ورکړی دئ.

۲- د پخوانيو وربښتانو د خرولو وروسته نوي مضبوط وربښتان راځي، په دې کي سر ته ډېره ګټه وي.

۳- د سر په خرولو سره د سر مسامات خلاصيږي او ګرمي يې په آساني سره بهر ته راوځي.

۴- د جسم د حواسو د مضبوطی ذريعه ده.

۵- د عقيقې په کولو سره ماشوم د ملت ابراهيمي تابع بلل کيږي لکه عيساويان چي يې په ژېړ رنګ رنګوی.

۶- د وربښتانو سره سم د سپينو زرو د خيراتولو حکم ورکول سوی دئ، په دې کي د فقيرانو ډېره ګټه ده.

۷- د سر په خرولو کی د حاجيانو مشابهت هم دئ.

دا څو حکمتونه علماء کرامو بيان کړي دي، که نه د شرعي احکامو بې شمېره حکمتونه دي چي الله تعالى ته معلوم دي، د بنده قاصر ذهن هغوی ته نه رسېږي.

په حديث شريف کي يې وګورئ:

أخرج البخاري تعليقاً عن سلمان بن عامر الضبي قال: سعمت رسول الله ﷺ يقول: مع الغلام عقيقة، فأهريقوا عنه دماً وأميطوا عنه الأذى. (بخاری شريف:۵۴۷۱، ب اماطة الاذى عن الصبى فى العقيقة).

قال العلامة العيني في عمدة القاري: «أميطو» أى أزيلوا.

« والأذى » قيل: هو إما الشعر أو الدم أو الختان، وقال الخطابي: قال محمد بن سيرين: لما سمعنا هذا الحديث طلبنا من يعرف معنى إماطة الأذى فلم نجد، وقيل: المراد بالأذى هو شعره الذي علق به دم الرحم فيماط عنه بالحلق، وقيل: إنهم كانوا يلطمون رأس الصبي بدم العقيقة، وهو أذى فنهى عن ذلك وقد جزم الأصمعي بأنه حلق الرأس وأخرجه أبو داود

عن الحسن كذلك، والأوجه أن يحمل الأذى على المعنى الأعم، ويؤيد ذلك أن في بعض طرق حديث عمرو بن شعيب «ويماط عنه أقذاره» رواه أبو الشيخ. (عمدة القاری: ۱۴/ ۴۶۸، امدادیه، ملتان، وفتح الباری:۹/ ۵۹۳). (وکذا فی الاستذکار لابن عبد البر:۵/ ۳۱۴، باب ماجاء فی العقیقة).

وفي فيض القدير: وأميطوا عنه الأذى، أي شعر رأسه، وما عليه من قذر طاهر أو نجس ليخلف الشعر شعر أقوى منه، ولأنه أنفع للرأس مع ما فيه من فتح مسام الرأس ليخرج البخار بسهولة، وفيه تقوية حواسه. (فيض القدير:۴/ ۵۴۷).

په حجة الله البالغه کي راځي:

فمن تلك المصالح...ومنها: أن النصارى كان إذا ولد لهم ولد صبغوه بماء أصفر يسمونه المعمودية ، وكانوا يقولون: يصير الولد به نصرانياً ، وفي مشاكلة هذا الاسم نزل قوله تعالى: ﴿ صبغة الله ومن أحسن من الله صبغةً ﴾ فاستحب أن يكون للحنيفيين فعل بإزاء فعلهم ذلك يشعر بكون الولد حنيفياً تابعاً لملة إبراهيم وإسماعيل عليهما السلام.

ومنها... وأما إماطة الأذى فللتشبه الحاج، وقد ذكرنا. (حجة الله البالغة:۲/ ۲۵۳، العقيقة،ط: قديمى).

د نور تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (حجة الله البالغة:۲/ ۲۵۳، ط: قدیمی، واحکام اسلام عقل کی نظر مین، از حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی، ص ۱۵۶). والله ﷻ اعلم.

په عقیقه کي د ماشوم پر سر زعفران لګولو حکم

سوال: په عقیقه کي د ماشوم پر سر د زعفرانو لګولو څه حکم دئ؟

الجواب: په عقیقه کي د ماشوم پر سر زعفران لګول روا او مباح دي، هو د حاکم او ابو داؤد د صحیح روایت له امله څخه د استحباب والا قول هم صحیح دي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن بريدة قال: كنا في الجاهلية إذا ولد لنا غلام ذبحنا عنه شاة و حلقنا رأسه بدمها لطخنا فلما كان الإسلام كنا إذا ولد لنا غلام ذبحنا عنه شاة و حلقنا رأسه و لطخنا رأسه بزعفران.

هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه. (المستدرک للحاكم: ۴/ ۲۳۸).

وأيضاً رواه أبو داود (رقم ۲۸۴)، وقال ابن الملقن فى «البدر المنير» (۹/ ۳۴۲، الحديث السادس): لهذا الحديث صحيح.

په شرح المهذب كي راځي:

قال أصحابنا: يكره أن يلطخ راس المولود بدم العقيقة ولا بأس بلطخه بخلوف أو زعفران وفي استحباب الخلوف أو الزعفران وجهان حكاهما الرافعي أشهرهما وبه قطع المصنف وغيره يستحب (شرح المهذب:۸/ ۴۳۲، دار الفكر).

په اعلاء السنن كي راځي:

قال الموفق فى « المغنى »: ويكره أن يلطخ رأسه بدم كره ذلک أحمد، والزهرى، ومالک، والشافعى، وابن المنذر... ولأن هذا تنجيس له فلا يشرع كلطخه بغيره من النجاسات. وقال: بريدة: كنا فى الجاهلية إذا ولد لأحدنا غلام... ونلطخه بزعفران. رواه أبو داود. (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۲۱، باب العقيقة).

په بهشتي زېور كي راځي:

كه چيري زړه وغواړي، نو د ماشوم پر سر دي زعفران ولګوي. (بهشتی زیور:۳/ ۴۲). والله ﷻ اعلم.

د عقيقې د غوښو د هډوکو ماتولو حکم

سوال: د عقيقې د حيوان د ذبح كولو وروسته د هغه هډوكي ماتول مكروه دي كه مباح، په دې اړوند علماء كرام څه وايي؟

الجواب: د عقيقې د حيوان د ذبح كولو وروسته د هغه هډوكي ماتول روا او مباح دي.

په فتاوی شامی کي يې وګورئ:

وهي شاة تصلح للأضحية تذبح للذكر والأنثى سواء فرق لحمها نيئاً أو طبخه بحموضة أو بدونها مع كسر عظمها أولا. (فتاوى الشامى:۶/ ۳۳۶، سعيد).

په فتاوى محموديه کي راځي:

عوام خلک د هډوکو ماتول ناروا بولي دا عقيده غلطه ده علماء کرامو د دې ترديد کړی دئ. (فتاوى محموديه:۱۷/ ۵۲۷، فاروقيه).

په کفايت المفتى کي راځي:

هډوکي ماتول روا دي، ځيني خلکو د هډوکو ماتول منع کړي دي مګر د دې ممانعت هيڅ سند نه سته. (کفايت المفتى: ۸/ ۲۴۱، ط: دار الاشاعت).

په امداد الفتاوى کي راځي:

د عقيقي د حيوان هډوکي ماتول روا دي... کوم شرائط او احکام چي په اضحيه کي معتبر دي هغه په عقيقه کي هم معتبر دي. (امداد الفتاوى: ۳/ ۶۲۰).

البته ځيني علماء کرامو د احاديثو له امله هډوکي ماتول ښه نه دي بللي.

وګورئ په مراسيل ابى داؤد کي راځي:

حدثنا محمد بن العلاء، حدثنا حفص، حدثنا جعفر عن أبيه، أن النبي ﷺ قال فى العقيقة التى عقتها فاطمة عن الحسن والحسين: «أن تبعثوا إلى القابلة منها برجل، وكلوا وأطعموا ولا تكسروا منها عظماً. (رواه ابو داود فى مراسيله، ص: ۲۷۸، رقم ۳۷۹، باب فى العقيقة).

قال شعيب الأرنؤوط: رجاله ثقات رجال الشيخين غير جعفر، وهو ابن محمد بن على بن الحسين فإنه من رجال مسلم. ورواه البيهقى: (۹/ ۳۰۲) من طريق أبي داود. (تعليق الشيخ شعيب على مراسيل ابى داود، ص ۲۷۹).

د نور تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (مستدرک حاکم:۴/ ۲۹۱/ ۷۵۹۵، کتاب الذبائح، ومسند اسحاق ابن راهويه:۳/ ۶۹۲).

په اعلاء السنن کي راځي:

وفيه (شرح المهذب) أيضاً: يستحب أن تنفصل أعضاءه ولايكسر شيء من عظامها، فإن كسر فهو خلاف الأولى، وبالجملة فلا تقطع إلا من المفاصل، وعن عطاء كانوا يستحبون أن لا يكسر لها عظم. (اعلاء السنن:۱۷/ ۱۲۱).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په جواز او خلاف اولی کي کوم تعارض نه سته او په کفایت المفتی کي یې د ممانعت د سند نفی کړي ده یعنی د هډوکو ماتولو ته د ممنوع او ناروا ویلو هیڅ سند نه سته، د خلاف اولی نفی یې نه ده کړي.

لنډه دا چي په کومو روایتو کي د نه ماتولو حکم دئ، هغه وجوبي نه دئ بلکي استحبابي دئ مګر عوامو دې ته د واجب مرتبه ورکړې ده او د هډوکو ماتول ناروا او ممنوع بولی او دا عقیده غلطه ده باید چي اصلاح یې وسي، نو ځکه علماء کرامو د دې تردید کړی دئ. (احسن الفتاوی:۷/ ۵۳۷).

په امداد المفتیین کي راځي:

ځیني علماء کرامو دا ښه بولی چي هډوکي مات نه سي بلکی یو ځای دي جمع سي او دفن دي سي، خو امام مالک رحمه الله وایي، چي څه ډول د نورو قربانیو هډوکي ماتیږي همدا رنګه د عقیقې حکم هم دئ هیڅ فرق یې نه سته.

کما فی تحفة المودود بألحکام المولود: قول مالک رحمه الله تکسر عظامها ويطعم منها الجيران، ص ۲۷).

د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه هم په دې اړوند کوم صریح نقل نه دئ لیدلي، مګر د احنافو په کتابو کي دا لیکلي دي چي عقیقه په عامو احکامو کي د اختري په ډول ده. (امداد المفتین، جلد دوم، ص ۸۰۳، ط: دار الاشاعت).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په منقوله روایت کي چي کوم څه دي هغه حکم وجوبي نه دئ بلکی یو مستحب شی دئ که چیري پر همدغه ځای پاته سي خو صحیح دئ مګر که چیري دې ته د واجب درجه ورکړل سي، نو بیا کراهت پکښي راځي. (فتاوی محمودیه:۱۷/ ۵۲۷، جامعه فاروقیه).

لنډه دا چي د هډوکو د نه ماتولو په اړوند کوم مرفوع صریح او صحیح روایت په لاس نه دئ راغلی، د مراسل ابی داؤد روایت مرسل دئ که څه هم د سند په اعتبار سره صحیح دئ او د مستدرک حاکم (۴/ ۲۹۱) دا روایت ضعیف دئ.

دوو علتو امله:

۱-انقطاع.

۲- شذوذ وادراج.

همدا رنګه دغه روایت په مسند اسحاق بن راهویه، (۳/ ۶۹۲) کي ذکر دئ مګر د هغه په تعلیق کي دکتور عبد الغفور عبد الحق حسین ضعیف بللی دي. والله ﷻ اعلم.

د عقیقې په اړوند څو سوالونه او د هغو جوابونه

سوال: د عقیقې حکم څه دئ او په دې کي څو حیوانان ذبح کیږي؟

الجواب: عقیقه مستحب ده او د دې په برکت سره د ماشوم څخه آفتونه او مصیبتونه لیري کیږي په عقیقه کي د هلک له پاره دوې بزې یا دوه پسونه یا په لوی حیوان کي دوې برخي دي او د انجلۍ له پاره یوه بزه یا یو پسه یا په لوی حیوان کي یوه برخه ده، خو که د هلک د طرف څخه د دوو قدرت نه لري، نو یوه بزه یا یو پسه هم صحیح دئ. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۱۴، واوجز المسالک: ۱/ ۱۶۹). والله ﷻ اعلم.

عقیقه د ماشوم د پیدایښت په اوومه ورځ کول په کار ده؟

سوال: که په اوومه ورځ عقیقه ونه سي، نو څه وخت یې کول په کار ده؟

الجواب: د اوومي ورځي رعایت دي کوي مثلاً که د یکشنبې په ورځ ماشوم پیدا سي، نو په بله شنبه دي عقیقه وکړي. (بذل المجهود: ۹/ ۶۰۹، وتنقیح الفتاوی الحامدیه: ۳/ ۲۳۳، والمجموع شرح المهذب: ۸/ ۴۳۱). والله ﷻ اعلم.

سوال: د عقیقې له پاره څنګه حیوان په کار دئ؟

الجواب: کوم حیوان چي د اختري له پاره روا دئ هغه د عقیقې له پاره هم روا دئ او کوم حیوان چي د اختري له پاره ناروا دئ هغه د عقیقې له پاره هم ناروا دئ.

د غوښو په تقسیم کي یې هم د اختري والا تقسیم مستحب دئ، یوه برخه د خپل ځان له پاره یوه د خپلو قریبانو او دوستانو له پاره او یوه برخه د فقیرانو او غریبانو له پاره، د دې د پوست احکام هم

همدغه دي کوم چي د اختري د پوست له پاره دي. (رد المحتار: ۶/ ۳۳۶، سعید، وفتاوی محمودیه: ۱۷/ ۵۱۳، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

سوال: آیا دعقیقې هډوکی ماتول ناروا دي؟

الجواب: روا دي. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۳۶، سعید، وتحفة المودود، ص: ۵۲، ط: ریاض، وامداد الفتاوی: ۳/ ۶۳۰، وکفایت المفتی: ۸/ ۲۴۱، واحسن الفتاوی: ۷/ ۵۳۷).

اشکال: په نن زمانه کي عوام د هډوکو ماتول ناروا نه بولی، نو بیا خو د اثارو او مرسل حدیث په رڼا کي د دې نه ماتول مستحب کېدل په کار دي؟

الجواب: د دې جواب دا په ذهن کي راځي چي په خیر القرون کي د روغ او سالم حیوان د پخولو رواج ؤ، نو نه ماتول یې مندوب ؤ اوس هغه رواج ختم سوی دئ، نو ځکه اوس د ضرورت له امله د هډوکو ماتول روا دي چي په پخولو کي یې آساني وي. والله ﷻ اعلم.

سوال: انسان په خپله د خپل ځان عقیقه کولای سي؟

الجواب: هو، کولای سي. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۱، وتحفة المودود، ص: ۵۶، وآپ کی مسائل اوران کا حل: ۵/ ۴۸۸). والله ﷻ اعلم.

سوال: که تر عقیقه مخکي ماشوم مړ سي، نو د هغه عقیقه سته؟

الجواب: نه سته، هو د خیرات او شفاعت په امید یې کولای سي. (شرح المهذب: ۸/ ۴۴۸، دار الفکر، وفتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۳۲، وفتاوی محمودیه: ۱۷/ ۵۲۹، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

سوال: په عقیقه کي د ذبح په وخت کي څه ویل کیږي؟

الجواب: دا دعاء وایي: اللّٰهم هذه عقیقة ابني (د هلک نوم دي واخلی) دمها بدمه، ولحمها بلحمه، وعظمها بعظمه، وجلدها بجلده، وشعرها بشعره، اللّٰهم اجعلها فداءً لابنی من النار. (تنقیح الفتاوی الحامدیة: ۲/ ۲۳۳، وکتاب الفتاوی: ۴/ ۱۷۸).

که دانجلۍ عقیقه وي، نو دا دعاء دي ووایي: اللّٰهم هذه عقیقة بنتی (دانجلۍ نوم دي واخلی): دمها بدمها ولحمها بلحمها، عظمها بعظمها، وجلدها بجلدها، وشعرها بشعرها، اللّٰهم اجعلها فداءً لبنتي من النار. (تنقیح الفتاوی الحامدیة: ۲/ ۲۳۳، وکتاب الفتاوی: ۴/ ۱۷۸).

د هغه وروسته دي دغه دعاء ووایي:

إني وجهت وجهي للذي فطر السموات والأرض حنيفاً وما أناً من المشركين، لا شريک له، وبذلک أمرت وأنا من المسلمين. (ابو داود، رقم: ۲۷۹۵، وابن ماجه، رقم: ۳۱۲۱).

د هغه وروسته دي دغه دعاء ووايي: ((اللّٰهم منک ولک)) بيا دي ((بسم الله اكبر)) وايي او ذبح دي وکړي. (سنن كبرى للبيهقى: ۹/ ۳۰۳). والله ﷻ اعلم.

سوال: په ايام النحر کي دعقيقې حکم څه دئ؟

الجواب: روا دئ، که په ايام النحر کي يوه ورځ اوومه ورځ جوړيږي، نو عقيقه د اختري سره جمع کولای سي مثلاً دوې برخي د ماشوم له پاره او پاته پنځه برخي د اختري له پاره. (بدائع الصنائع: ۵/ ۷۲، سعيد، ورد المحتار: ۶/ ۳۲۶، سعيد، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۶، وفتاوى محموديه: ۱۷/ ۵۱۵، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

سوال: د ماشوم عقيقه به څوک کوي؟

الجواب: پلار يا هغه څوک چي پر هغه د ماشوم نفقه واجب وي. (مؤطا امام مالک، ص ۱۰۴۷، ۱۰۵۰، واعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۷، وفتاوى رحيميه: ۵/ ۴۳۳). والله ﷻ اعلم.

سوال: د عقيقې غوښه د بنادي په ميلمستيا کي استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: روا ده، البته که د راکړي ورکړي رواج ؤ، نو د عوض له شبهې ځان ساتل په کار دي. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۴/ ۱۶۶، واعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۶، وفتاوى رحيميه: ۵/ ۴۳۴، وكفايت المفتى: ۸/ ۲۴۲، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

سوال: د واده په ميلمستيا کي د عقيقې د غوښي ورکولو څه حکم دئ؟

الجواب: روا ده. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۷، وبدائع الصنائع: ۵/ ۷۲، سعيد، ورد المحتار: ۶/ ۳۲۶، سعيد، وتحفة المودود، ص ۵۵، وفتاوى محموديه: ۱۷/ ۵۱۸، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

سوال: په عقيقه کي لوی حيوان ذبح کول روا دئ او که نه؟

الجواب: روا دئ. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۱۷، واوجز المسالک: ۱۰/ ۱۹۱، وفتاوى علماء بلد الحرام، ص ۱۰۲۲، وفتاوى محموديه: ۱۷/ ۵۲۴). والله ﷻ اعلم.

سوال: په لوی حيوان کي د اوو ماشومانو عقيقه پر يو ځای کول روا ده او که نه؟

الجواب: روا ده. (عالمگيري: ۵/ ۳۰۴، تحفة المودود، ص ۶۵، وامداد الاحکام: ۴/ ۲۲۸، وکفایت المفتی: ۸/ ۲۴۰، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

سوال: عقيقه چيرته کول په کار ده؟

الجواب: چيرته چي ماشوم وي. (اعلاء السنن: ۱۷/ ۱۲۶، وبذل المجهود: ۹/ ۸۱۲، وکفايت المفتی: ۸/ ۲۴۱، دار الاشاعت، وفتاوی محموديه: ۱۷/ ۵۲۹، جامعه فاروقيه).

مگر نن سبا د ټيلفون سهولت موجود دئ، نو که چيري په هندوستان کي حيوان ذبح کړل سي او خبر ورکړي په جنوبي افريقا کي د ماشوم ورېښتان وخروي، نو دا هم روا دي. والله ﷻ اعلم.

دوهم فصل

د نوي زيږيدلی ماشوم په اړوند د احکامو بيان

د نوي زېږېدلی ماشوم د غسل وروسته د اذان حکم

سوال: د نوي زيږيدلی ماشوم په غوږ کي اذان څه وخت کول کيږي د زيږيدلو وروسته فوراً او که د غسل ورکولو وروسته ځکه چي ډېر وخت په روغتون کي وروسته کيږي او کور ته د وړلو وروسته ماشوم ته غسل ورکول کيږي؟ بينوا توجروا.

الجواب: په دې صورت کي د نوي زيږيدلی ماشوم په غوږ کي د غسل ورکولو وروسته اذان کول په کار دي ځکه چي تر غسل ورکولو مخکي هغه نجس وي او د نجاست او گندگي په ځای کي د الله ﷻ ذکر مکروه دئ، له همدې کبله د پاکي او غسل ورکولو وروسته دي د هغه په غوږ کي اذان وکړی.

په حديث شريف کي د ماشوم څخه د نجاست د لېري کولو حکم راغلی دئ.

علامه عينی رحمه الله او ابن حجر رحمه الله د بخاری شريف په حديث ((مع الغلام عقيقة فأهريقوا عنه دماً وأميطوا عنه الأذى)) (رقم: ۵۴۷۲) کي ((أميطوا عنه الاذى)) د نورو احاديثو په رڼا کي ډېر عام بللی دئ.

علامه عيني رحمه الله وايي:

قوله: «الأذى » قيل: هو إما الشعر أو الدم أو الختان... والأوجه أن يحمل الأذى على معنى الأعم ويؤيد ذلک أن في بعض طرق حديث عمرو بن شعيب ويماط عنه أقذاره رواه أبو الشيخ. (عمدة القارى: ۱۴/ ۴۶۸، دار الحديث، ملتان). (وكذا فى فتح البارى: ۹/ ۵۹۳).

همدا رنګه د فقهاء كرامو د عباراتو څخه معلوميږي چي ترولادت وروسته او غسل وركول مخكي كه ماشوم په اوبه كي ولوېږي نو اوبه ناپاكه كيږي مګر د غسل وركولو وروسته اوبه نه ناپاكه كيږي.

په فتاوى قاضيخان كي وګورئ:

والسقط إذا استهل فحكمه حكم الكبير إن وقع فى الماء بعد ما غسل لايفسد. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ۱/ ۱۱). (وكذا فى رد المحتار: ۱/ ۲۱۵، فصل فى البئر، سعيد).

په المحيط البرهاني كي راځي:

وكذلک لو دخل فى البئر جنب أو محدث لطلب الدلو وعلى أعضاءه نجاسة... ينزح جميع الماء... وذكر فيما استهل بعد الغسل أنه لا يفسد الماء. (المحيط البرهانى: ۱/ ۱۰۲).

د ګندګي په ځاى كي د الله تعالى ذكر مكروه دئ.

د تبيين الحقائق په حاشيه كي راځي:

قوله: إنما يسمى فيهما أى لا حالة الانكشاف ولا في محل النجاسة. (حاشية تبيين الحقائق: ۱/ ۴، ملتان).

په اعانة الطالبين كي راځي:

لأن الذكر بمحل النجاسة مكروه. (اعانة الطالبين: ۱/ ۲۷۸، دار الفكر).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولا يسمى في حال الانكشاف ولا في محل النجاسة. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۶).

په فتاوى محموديه كي راځي:

سوال: د ماشوم په غوږ کي دي د غسل ورکولو پرته اذان وکړي او که دي غسل ورکړي بيا دي وکړي؟

الجواب: ماشوم ته دي غسل ورکړي، ښه دي پاک کړي بيا دي په راسته غوږ کي پوره اذان ور وکړي او په چپه غوږ کي دي پوره اقامت ور وکړي.

د ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي قبلې ته د مخ کولو حکم

سوال: د ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي مخ قبلې ته کول مستحب دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي مخ قبلې ته کول مستحب دئ.

علامه رافعی رحمه الله د علامه سندی رحمه الله په حواله وايي:

قال السندي: فيرفع المولود عند الولادة على يديه مستقبل القبلة ويؤذن في أذنه اليمنى ويقيم في اليسرى، ويلتفت فيهما بالصلاة لجهة اليمين وبالفلاح لجهة اليسار. (تقريرات الرافعي على رد المحتار: ۱/ ۴۵، باب الاذان، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ماشوم په غوږ کي د اذان وروسته کولو حکم

سوال: د نوي ماشوم په غوږ کي اذان ژر کول په کار دي مګر که په څه وجه تاخير کي راسي نو څه حکم يې دئ؟

الجواب: د نوي زېږېدلي ماشوم په غوږ کي دي د غسل ورکولو وروسته فوراً اذان وکړي مګر که د څه له امله تاخير پکښي راسي، نو بيا يې هم کول په کار دي او پرېږدي دي نه.

أخرج أبو داود والترمذي بسندهما عن أبي رافع رضي الله عنه قال: رأيت رسول الله ﷺ أذن في أذن الحسن بن علي رضي الله عنه حسين ولدته فاطمة رضي الله تعالى عنها بالصلاة. (ابو داود، رقم: ۵۱۰۵).

قال الملا علي القاري رحمه الله: «حين ولدته فاطمة» يحتمل السابع وقبله ... في شرح السنة وري عن عمر بن عبد العزيز كان يؤذن في اليمنى ويقيم في اليسرى إذا ولد الصبي. (مرقاة المفاتيح: ۸/ ۱۵۹، ملتان).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د سوال خلاصه دا ده چي د ماشوم له پیدایښت څخه وروسته د هغه د سپیني په صندوق کی د ایښودلو له امله هفته یا لس ورځي وروسته د هغه په غوږ کي اذان کیږي آیا په دې کي خو به څه تاوان نه وي؟

د مجبورۍ په وخت کي دي کور ته راوړي او په راسته غوږ کي دی اذان ور وکړي او په چپه غوږ کي اقامت. (فتاوی محمودیه: ۵/ ۴۵۶، جامعه فاروقیه).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د دې له پاره د وخت او ورځي هیڅ قید نه سته، کوښښ دي کوي چي ژر يې وکړي که د غفلت له امله څو ورځي پاته سي، نو وروسته دي وکړي. (احسن الفتاوی: ۲/ ۲۷۶). والله ﷻ اعلم.

د اذان په وخت کي په غوږ کي د ګوتو ایښودلو حکم

سوال: د نوي پیدا سوي ماشوم په غوږو کي د اذان کولو په وخت کي دي ګوتي په غوږو کي داخلي کړي او که نه؟

الجواب: د اذان په وخت کي په غوږو کي ګوتي ایښودل ثابت دي او په اقامت کي ثابت نه دي، نو ځکه په اذان کي ګوتي په غوږو کي اچوي او په اقامت کي يې نه اچوي، همدا رنګه د نوي زیږیدلی ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي هم ګوتي په غوږو کی اچول ثابت نه دي، لهذا د ګوتو نه اچول په کار دي.

په تقریرات الرافعی کي وګورئ:

قال السندي: فيرفع المولود عند الولادة على يديه مستقبل القبلة ويؤذن في أذنه اليمنى ويقيم في اليسرى. (تقريرات الرافعی على رد المحتار: ۱/ ۴۵، باب الاذان، سعيد).

د علامه سندي د عبارت څخه معلومه سوه چي دواړه لاسونه د ماشوم په پورته کولو کي مشغول وي، یعني په غوږو کي يې اچول مستحب نه دي.

حضرت مفتي محمود حسن گنګوهي رحمه الله وايي:

د اذان او اقامت الفاظ کافی دي، په غوږونو کي د ګوتو اچول ضروري نه دي، همدا رنګه په دې ځای کي د اواز پورته کول هم مقصد نه دي، فلهذا په غوږو کي د ګوتو ايښودلو ضرورت نه شته. (فتاویمحمودیه: ۵/ ۴۵۴، جامعه فاروقیه).

هو په اذان کي دآدب په وجه ګوتي اچول کيږي، نو ځکه يې اجازه شته. والله تعالیٰ اعلم.

د نوی ماشوم په اذان کي د ترسيل حکم

سوال: د نوی ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي اذان کشول په کار دي او که مختصر کول په کار دي داقامت په ډول؟

الجواب: د نوی ماشوم په غوږ کي دي په کرار اواز او ترسيل سره اذان وکړي يعنی په کشولو سره، ځکه چي په رواياتو کي د اذان سره د اقامت ذکر هم راغلی دئ لهذا د اذان د مقابلې رعايت وکړي او اذان دي په ترسل سره وکړي او اقامت دي مختصر په کرار اواز سره وکړي چي د دواړو په منځ کي فرق ښکاره سي او د مشهور اذان او اقامت سره يې مشابهت راسي، د نوي ماشوم په غوږ کي د اذان سره د اقامت ذکر هم په ځيني رواياتو کي راغلی دئ. وې ګورئ:

أخرج أبو يعلى في مسنده عن حسين رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من ولد له فأذن في أذنه اليمنى وأقام فى اليسرى لـم تضره أم الصبيان. قال حسين سليمأسد إسناده تالف. (مسند ابى يعلى: ۱۲/ ۱۵۰/ ۶۷۸۰).

قال البوصرى فى الزوائد: هذا إسناد ضعيف لضعف يحى بن العلاء (۴۷۸۱. وقال الـهيثمي: فيه مروان بن سالـم الغفاري وهو متروك. (مجمع الزوائد، رقم: ۶۲۰۶).

أخرج البيهقي فى الشعب (۸۲۵۵) عن ابن عباس رضي الله عنهما، أن النبي صلى الله عليه وسلم: أذن في أذن الـحسن بن علي رضي الله عنهما يوم لد، فأذن في أذنه اليمنى، وأقام في أذنه اليسرى. قال الإمام البيهقي: إسناده ضعيف.

روی الطبراني فی الأوسط(۹۲۵۰) بسنده عن أم الفضل بنت الحارث الهلالية قالت مررت بالنبي ﷺ وهو جالس فقال: يا أم الفضل، قلت: لبیک يا رسول الله قال: إنک حامل بغلام... فإذا وضعتيه فأتني به قالت: فلما وضعته أتيت به النبي ﷺ فأذن في أذنه اليمنى وأقام في أذنه اليسرى وألبأه من ريقه وسماه عبد الله... الخ.

قال الهيثمي فی المجمع (۸۹۵۶): رواه الطبراني فی الأوسط وفيه أحمد بن راشد الهلالي وقد اتهم بهذا الحديث.

وروي أن عمر بن عبد العزيز كان يؤذن فی اليمنى ويقيم فی اليسرى إذا ولد الصبی. (شرح السنة للامام البغوی: ۱۱/ ۲۷۳).

لكن قال الحافظ فی التلخيص: لم أره عنه مسنداً. وقد ذكره ابن المنذر عنه. (التلخيص الحبير: ۴/ ۳۶۸، دار الكتب العلمية، بيروت).

علامه سندي رحمه الله وايي:

أخرج الترمذي بسنده عن جابر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال البلال: يا بلال إذا أذنت فترسل في أذانک وإذا أقمت فاحدر. (۱/ ۲.۶۸/ ۱۹۵).

او په حديث شريف كي په مطلق اذان كي ترسل راغلی دئ: وي ګورئ:

وأخرجه الحاكم وقال: هذا حديث ليس في إسناده مطعون فيه غير عمرو بن فائد والباقون شيوخ البصرة وهذ سنة غريبة لا أعرف لها إسناداً غير هذا ولم يخرجاه. (المستدرک، رقم: ۷۳۲).

وأخرج الدار قطني في سننه عن أبی الزبير مؤذن بيت المقدس قال: جاء نا عمر بن الخطاب رضي الله عنه فقال: إذا أذنت فترسل وإذا أقمت فاحدر. (۱/ ۴۴۵، وابن المنذر فی الاوسط:۳/ ۵۱).

په تبیین الحقائق کي راځي:

(ویترسل فیه) أی فی الأذان (ویحدر فیها) أی فی الإقامة، لقوله علیه الصلاة والسلام: یا بلال! إذا أذنت... الخ.

والترسل التمهل یقال: علی رسلک وجاء فلان علی رسله والحدر الإسراع یقال: حدر في قراءته. (تبین الحقائق: ۱/ ۹۱، ط: امدادیه، ملتان). والله ﷻ اعلم.

د نوی ماشوم په اذان کي د کتلو حکم

سوال: تا د فتاوی دار العلوم زکریا په دوهم جلد کي ویلي دی چي د نوی ماشوم په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي هم راسته او چپه طرفته کتل مستحب دي، آیا دا یو قول دئ او که بل قول هم موجود دئ که بل قول هم وي حواله یې راته ولیکي؟

الجواب: په دې اړوند بل قول دا دئ چي د مخ ګرځول مستحب نه دي، ځکه چی دا داواز رسولو له پاره دي او دلته اواز رسول مقصد نه دئ.

حواله یې وګورئ:

قال ابن عابدین الشامي: قوله ولو وحده أشار به إلی رد قول الحلوانی أنه لا یلتفت لعدم الحاجة إلیه. (فتاوی الشامی: ۱/ ۳۸۷، سعید).

دامام شافعي رحمه الله د مذهب په کتابو کي هم لیکلي دي چي د مخ ګرځول نه سته.

په اعانة الطالبین کي راځي:

أما الأذان في أذن المولود فلا یطلب فیه رفع ولا التفات لعدم فائدته. (اعانة الطالبین: ۱/ ۵۱۵). والله ﷻ اعلم.

په یو بزرګ سره د تحنیک کولو حکم

سوال: په یوه لوی بزرګ سره تحنیک کیږي، آیا دا طریقه روا ده؟ نن سبا ځینی سلفیان وایي چي د تحنیک له پاره یو لوی بزرګ ته تلل دا د رسول الله ﷺ سره خاص ؤ، نو ځکه یې د صحابه کرامو او تابعینو په زمانه کي هیڅ مثال نه سته، دوی وایي، چي که څوک تحنیک کوي، نو ماشوم ته

دي د نبي غذا رسولو په نیت په خپله وکړي آیا دا خبره صحیح ده او نیک، بزرګ سړی ته تلل ناروا دي؟

الجواب: تحنیک مستحب دئ، د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو څخه ثابت دي او په هره زمانه کي علماء کرامو فقهاؤ او محدیثنو په دغه سره عمل کړی دئ او په دې اړوند يې په خپلو تصنیفاتو کي مستقل بابونه لیکلي دي او د دې احکام یې لیکلي دي د تحنیک مقصد دا هم دئ چي د ماشوم په خوله کي اول د نیک او صالح سړی لعاب داخل سي، له دې څخه په راتلونکی کي د تقوی او صلاح امید کېدلای سي او د لوی بزرګ څخه برکت لاس ته رائحي.

د تحنیک وضاحت وګورئ:

هو مضغ التمر والدلک به حنک الولد والحنک ماتحت الذقن أو علی داخل الفم أو الأسفل في طرف مقدم اللحیین قال فی المجمع: واتفقوا علی تحنیک المولود عند ولادته بتمر فإن تعذر فبما في معناه من الحلو فیمضغ حتی یصیر مائعاً في فیه لیصل شيء إلی جوفه ویستحب کون المحنک من الصالحین وأن یدعو للمولود بالبرکة. (التعریفات الفقهیة، للشیخ عمیم الاحسان، ص ۵۳، دار الکتب العلمیة).

په مسلم شریف کي رائحي:

عن عائشة أن رسول الله ﷺ کان یؤتی بالصبیان فیبرك علیهم ویحنکهم. (صحیح مسلم، رقم:۶۸۸، باب حکم بول الطفل الرضیع).

په بخاری شریف کي رائحي:

عن أسماء ﵂، أنها حملت بعبد الله بن الزبیر قالت: فخرجت وأنا متم فأتیت المدینة فنزلت بقباءٍ فولدته بقباءٍ ثم أتیت به النبي ﷺ فوضعته في حجره ثم دعا بتمرةٍ فمضغها ثم تفل في فیه فکان أول شيءٍ دخل جوفه ریق رسول الله ﷺ ثم حنکه بتمرةٍ ثم دعا له وبرك علیه ، وکان أول مولودٍ ولد في الإسلام. (صحیح البخاری، رقم: ۳۶۱۹، باب هجرة النبي ﷺ واصحابه الی المدینة).

نیک او صالح سړی ته د ورلو په اړوند د علماء کرامو عبارات وګورئ:

☆ علامه عیني رحمه الله د بخاری شریف په شرح کي وايي:

والحكمة فيه أنه يتفاءل له بالإيمان لأن التمر ثمرة الشجرة التي شبهها رسول الله ﷺ بالمؤمن وبحلاوته أيضاً ولا سيما إذا كان المحنك من أهل الفضل والعلماء والصالحين لأنه يصل إلى جوف المولود من ريقهم ألا ترى أن رسول الله ﷺ لما حنك عبد الله بن الزبير حاز من الفضائل والكمالات ما لا يوصف وكان قارئاً للقرآن عفيفاً في الإسلام وكذلك عبد الله بن أبي طلحة كان من أهل العلم والفضل والتقدم في الخير ببركة ريقه المبارك . (عمدة القاري:۱۴/ ۴۶۴، دار الحديث، ملتان).

په يو بل ځای کي وايي:

وفيه استحباب تحنيک المولود وحمله إلى أهل الصلاح ليكون أول ما يدخل جوفه ريق الصالحين. (۱۴/ ۵۴۱، دار الحديث، ملتان).

علامه ابن القيم رحمه الله وايي:

الباب الخامس في استحباب تحنيكه... وقال الخلال أخبرني محمد بن علي قال: سمعت أم ولد أحمد بن حنبل تقول: لما أخذ بي الطلق كان مولاي نائماً فقلت له يا مولاي هو ذا أموت فقال: يفرج الله فما هو إلا أن قال يفرج الله حتى ولدت سعيداً فلما ولدته قال: هاتوا ذلك التمر لتمر كان عندنا من تمر مكة فقلت لأم علي إمضغي هذا التمر وحنكيه ففعلت. (تحفة المودود باحكام المولود، ص: ۳۳، ط: دمشق).

محمد فواد عبد الباقی په اللؤلؤ المرجان کي ليکي:

استحباب تحنيک المولود عند ولادته وحمله إلى صالح يحنكه... (ص: ۶۷۳، دار الفكر).

امام نووي رحمه الله د صحيح مسلم په شرح کي وايي:

ففيه استحباب تحنيک المولود وفيه التبرک بأهل الصلاح والفضل وفيه استحباب حمل الأطفال إلى أهل الفضل للتبرک بهم. (۳/ ۱۹۴).

حافظ ابن حجر رحمه الله وايي:

وفى هذا الحديث من الفوائد الندب إلى حسن المعاشرة والتواضع والرفق بالصغار وتحنيک المولود والتبرک بأهل الفضل وحمل الأطفال إليهم حال الولادة وبعدها. (فتح الباری: ۱/ ۳۲۷، ط: دار نشر الكتب الاسلامية، لاهور).

په يو بل ځاى كي ليكي:

وفيه قصد أهل الفضل لتحنيک المولود لأجل البركة. (فتح الباری: ۳/ ۳۶۷، ط: دار نشر الكتب الاسلامية، لاهور). والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن النعمان بن بشيرٍ ﷺ قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول : إن الحلال بين وإن الحرام بين وبينهما مشبهات، لا يعلمهن كثير من الناس فمن اتقى المشبهات فقد استبرأ لدينه وعرضه ، ومن وقع في الشبهات وقع فى الحرام، كالراعِ يرعى حول الحمى يوشك أن يقع فيه ألا وإن لكل ملكٍ حمًى ألا إن حمى الله محارمه، ألا وإن في الجسد مضغةً إذا صلحت صلح الجسد كله ، وإذا فسدت فسد الجسد كله ألا وهي القلب.

(متفق عليه).

كتاب الحظر

والإباحة

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالٰی: ﴿ كلوا واشربوا ﴾. (البقرة: ۶۰).

وقال تعالٰی: ﴿ كلوا من طيبات ما رزقناكم ﴾. (البقرة: ۵۷).

وقال تعالٰی: ﴿ ولا تسرفوا إنه لا يحب المسرفين ﴾. (الانعام: ۱۴۱).

وقال تعالٰی: ﴿ كلوا من الطيبات واعملوا صالحًا إني بما تعملون عليم ﴾. (المؤمنون: ۵۱).

باب اول
أحكام الأكل والشرب

عمر بن أبي سلمة يقول: كنت غلامًا في حجر رسول الله ﷺ وكانت يدي تطيش في الصحفة فقال لي رسول الله ﷺ يا غلام سم الله وكل بيمينك وكل مما يليك فما زالت تلك طعمتي بعد. (رواه البخاری).

عن أنسٍ رضی الله عنه، قال ما علمت النبي ﷺ أكل على سكرجةٍ قط ، ولا خبز له مرقق قط ، ولا أكل على خوانٍ قيل لقتادة فعلام كانوا يأكلون قال: على السفر. (رواه البخاری).

لومړی فصل

د خوراک په شروع کي د بسم الله ويلو حکم

سوال: دا خو ما ته معلومه ده چي تر ډوډۍ خوړلو مخکي بسم الله ويل سنت ده مګر ځيني مسنوني دعاګاني، بسم الله وعلى بركة الله)) په کتابو کي ليکل سوی دي آيا دا د حديث څخه ثابتي دي او که نه؟ او صحيح کومه ده (بسم الله)) دي ووايي او که ((بسم الله الرحمن الرحيم)) او که ((بسم الله وعلى بركة الله)) مهرباني وکړئ د احاديثو او په رڼا کي جواب راته وليکي؟

الجواب: د ځينو احاديثو څخه ((بسم الله وبركة الله)) ويل ثابت دي او په ځيني رواياتو کي يوازي ((بسم الله)) هم راغلی ده.

علامه نووي رحمه الله ليكلي دي چي تر ډوډۍ خوړلو مخکي ((بسم الله الرحمن الرحيم)) ويل افضل دي، البته د ((بسم الله وعلى بركة الله)) په اړوند کوم روايت په نظر نه دئ راغلی.

دلائل يې په لاندي ډول دي:

(۱) أخرج الحاكم بسنده عن عبد الله بن عباس رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم وأبا بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه أتوا بيت أبي أيوب رضي الله عنه فلما أكلوا وشبعوا، قال النبي صلى الله عليه وسلم خبز ولحم وتمر وبسر و رطب إذا أصبتم مثل هذا فضربتم بأيديكم فكلوا: بسم الله وبركة الله. قال: هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، (۴/ ۱۲۸/ ۷۰۸۴)، وافقه الذهبي وأيضاً رواه الطبراني في الأوسط، (۲۲۴۷)، وفي الصغير، (۱۸۵)، والبيهقي في شعب الإيمان (۴۶۰۶)، قال الهيثمي: فيه عبد الله بن كيسان المروزي، وقد وثقه ابن حبان وضعفه غيره، وبقية رجاله رجال الصحيح. (المجمع: ۱۸۲۶۱).

(۲) وأخرج الحاكم أيضاً بسنده عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا أكل أحدكم طعاماً فليقل: «بسم الله»، فإن نسي في أوله فليقل: بسم الله في أوله وآخره. وقال: هذا حدث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، وافقه الذهبي (رقم: ۷۰۸۷)، وأيضاً رواه ابن ماجه، (ص ۲۳۵، باب التسمية عند الطعام)، وأبو داود، (۳۷۶۷)، والترمذي، (۱۸۵۸)،وقال: حسن صحيح، وأحمد في مسنده، (۲۵۷۳۳)، قال الشيخ شعيب حديث حسن بشواهده.

(۳) وأخرج ابن السنى في عمل اليوم والليلة (۴۵۸) بسنده عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عبد الله بن عمرو رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه كان يقول في الطعام إذا قرب إليه، اللّهم بارک لنا فيما رزقتنا، وقنا عذاب النار، بسم الله. إسناده ضعيف لضعف محمد بن أبي زعيزعة.

وللمزيد راجع: (لسان الميزان، ۶۷۸۵، ۱۳۵، الجزاء السابع، ط: بيروت).

(۴) عن علي ابن أبي طالب رضي الله عنه قال: حق الطعام إذا وضع من بين يديک أن تقنع وتقول: بسم الله، اللّٰهم بارک لنا فيما رزقتنا. (شعب الايمان ۶۰۴۰، ومجمع الزوائد:۵/ ۲۲، وقال الهيثمی: ابن اعبد ليس بمعروف، وبقية رجاله ثقات).

همدا رنګه یوازې د الله تعالی د نوم اخیستلو په اړوند هم روایات راغلی دي.

په مستدرک حاکم کې یې وګورئ:

عن أبي سعيد الخدری رضي الله عنه أن يهودية أهدت شاة إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم.... فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذكروا اسم الله وكلوا. قال الحاكم: هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه، وافقه الذهبی. (رقم: ۷۰۹۰)، ورواه البيهقی فی الصغری، (۳۸۵۰)، وفی الكبری، (۱۹۳۶۱)، والبخاری من حديث عائشة رضی الله تعالی عنها.

وعن عمر بن أبي سلمة رضي الله عنه قال: قال لي رسول الله: «سم الله وكل بيمينک، وكل مما يليک». متفق عليه.

قال الإمام النووي رحمه الله فی باب التسمية عند الأكل والشرب من الأذكار (ص ۲۷۵، ط: بيروت): فصل: من أهم ما ينبغي أن يعرف صفة التسمية وقدر المجزئ منها، فاعلم أن الأفضل أن يقول: بسم الله الرحمن الرحيم، فإن قال: بسم الله، كفاه وحصلت السنة.

وفی الطحطاوی على الدر المختار: قوله وسنة الأكل البسملة فی أوله... وإذا قلت: بسم الله فارفع صوتک حتى تلقن من معک تتار خانية. (۴/ ۱۷۱، ط: كوئته).

(وكذا فی فتاوی الشامی: ۶/ ۳۴۰، سعيد، ومجمع الانهر فی شرح ملتقى الابحر:۴/ ۱۸۱، ط: بيروت، والاختيار لتعليل المختار: ۴/ ۱۸۶،ط: بيروت).

قال العلامة العيني فی عمدة القاری: وأصرح ما ورد فی صفة التسمية مارواه أبو داود والترمذی من طريق أم كلثوم عن عائشة مرفوعاً: إذا أكل أحدكم الطعام فليقل: بسم الله... قال

العلماء:.... وتحصل التسمية بقوله: بسم الله فإن أتبعها بالرحمن الرحيم كان حسناً. (عمدة القاري:۱۴/ ۳۸۶، كتاب الاطعمة، باب التسمية على الطعام). والله ﷻ اعلم.

په مالګه سره د ډوډئ شروع کولو حکم

سوال: ډوډئ په مالګه سره شروع کول او په مالګه سره پای ته رسول ثابت دي او که نه؟ په خلکو کي مشهوره ده چي ډوډئ په مالګه شروع کول په کار ده او په مالګه سره ختمول د دې څه حيثيت سته. داحاديثو او فقه په رڼا کي يې تفصيل راته وليکي؟

الجواب: فقهاء احنافو خوراک په مالګه شروع کول او په مالګه ختمول د خوراک له سنتو بللی دي، د فقهاء کرامو عبارات په لاندي ډول دي.

په فتاوی شامي کي راځي:

ومن السنة البداءة بالملح والختم به بل فيه شفاء من سبعين داء. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۴۰، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

من السنة أن يبدأ بالملح ويختم بالملح. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۳۷، الباب الحادى عشر فى الكراهية فى اللكل ومايتصل به).

وفى الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد: ومن السنة البداءة بالملح والختم به ولكن لم يصح عن النبي ﷺ شيء من هذا بل ذكر ابن الجوزي أنه حديث موضوع. (الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد: ۵/ ۳۱۷، ط: بيروت).

وللاستزاد انظر: (البحر الرائق: ۸/ ۱۸۴، كوئته، والمحيط البرهانى: ۷/ ۸۹، مكتبه رشيديه، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۴/ ۱۷۱، المكتبة العربية، كوئته، وخلاصة الفتاوى: ۴/ ۳۶۰، الفصل الخامس فى الاكل، المكتبة الرشيدية، والآداب الشرعية لابن مفلح، فصل فى آداب الاكل: ۳/ ۳۵۲، وغذاء الالباب شرح منظومة الآداب لمحمد بن احمد بن سالم السفارينى الحنبلى، السادس فى بعض آداب احضار الطعام: ۲/ ۱۱۹، ط: بيروت).

په بريقه محموديه كي راځي:

ومن السنة أن يبدأ بالملح وهو الموافق لما في فصول الأسروشني من قوله: والسنة أن يبدأ الأكل بالملح ويختم به وفي الشرعة: ويبدأ بالملح فإن فيه شفاءً من الأمراض وفي شرحه: كما روي عن رسول الله ﷺ « يا علي ابدأ طعامك بالملح فإن الملح شفاء من سبعين داءٍ منها الجنون والجذام والبرص ووجع البطن والضرس ». كذا في العوارف ... وفي رسالةٍ مسماةٍ بطب النبي منسوبةٍ إلى الحبيب النيسابوري قال النبي ﷺ: « إذا قرب أحدكم الطعام فليبدأ بالملح ». وقال عليه الصلاة والسلام لعلي كرم الله وجهه: افتح طعامك بالملح واختم به فإن من افتتح طعامه بالملح واختتم به عوفي من اثنين وسبعين نوعًا من أنواع البلاء منها الجذام والبرص »، انتهى هذا.

لكن حكم علي القاري بوضع حديث الملح في موضوعاته. واغتر بظاهره بعض العلماء ومنع لكن بعد تسليم صحة الوضع في البعض ينبغي أن لا يسلم في حق الجميع كيف والفقهاء لا يحكمون بمشروعية شيءٍ لم يقفوا على صحته وقد عد ابن حجرٍ أبا بكرٍ الرازي من حفاظ المحدثين وقال في شرحه: علي القاري وهو صاحب شرعة الإسلام وقيل: وهو الجصاص من كبار السادة الحنفية وإن لم يطلع يقينًا ولو سلم موضوعية الكل فلا يلزم انتفاء السنية كيف وقد قال في الشرعة أيضًا هنا ما كان عليه القرن المشهود لهم بالخير والصلاح والرشاد وهم الخلفاء الراشدون ومن عاصر سيد الخلائق ثم التابعون ثم من بعدهم وقال في شرحه عند قول المصنف ومن السنة ابتداء، مراده من السنة: سنة سيد المرسلين أو سنة أهل السنة والجماعة أو سنة السلف الصالحين أو سنة أهل الإسلام وغير ذلك ثم قال عن روضة

الناصحين: السنة في الشريعة عبارة عن طريقةٍ مسلوكةٍ أمرنا بإحيائها... (بريقة محمودية فی شرح طريقة محمدية: ۵/ ۴۸۳، الصنف السادس فی آفات البطن).

حكيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوی کي د يو سوال په جواب کي ليکي:

الجواب: فی إحياء العلوم: ويبدأ بالملح ويختم به....

له دې ټولو عباراتو څخه معلوميږي چي د دغه سرى دا خبره صحيح ده او د دې ثبوت هيڅ چيري په نظر نه دئ راغلی او په دې سره پر فقهاء کرامو او صوفيهؤ اعتراض هم نه سي کېدلای، ځکه چي ((لكل فن رجال)) او د هر فقيه او صوفي له پاره محدث کېدل څه ضروری نه دي، البته د فقيه په معنی د مجتهد له پاره د احکامو په احاديثو ځان خبرول ضروری دي او دا آدب له مجتهد مذهب څخه منقول هم نه دئ، نو ځکه پر هغوی څه شبه هم نه کيږي، همدا رنګه له دې څخه د مذهب کتابونه هم نه بې اعتباره کيږي ځکه چي هغه کتابونه د تدوين مذهب له پاره وضع سوی دي کوم چي د مجتهد څخه نقل سوي دي او دا امور په خپله د مجتهد څخه نه دي نقل سوي او دا ټوله خبر د پوښتل سوي روايت د نه صحت او په سوال کي د ذکر سوي قول د صحت په اعتبار د دغه روايت بعينه صريح او مرفوع منقول کېدو له امله دي او د دغه قول د صحيح فی نفسه کېدو له امله ده او باقي من وجه موقوفاً، صريحاً، مرفوعاً او استنباطاً په انضمام د ځيني قواعدو صحيحهؤ سره دغه روايت د اصل او مأخذ په اعتبار سره ثابت دي او د دغه سرى که مقصد د فقه او تصوف کتابو معتبر نه بلل وی، نو دا قول يې صحيح نه دئ لکه څنګه چي هغه روايت د حضرت علي رضي الله عنه څخه موقوفاً په احياء العلوم کي په دغو الفاظو سره نقل سوی دئ.

من ابتدأ غداءه بالملح اذهب الله عنه سبعين نوعاً من البلاء

او امام زبيدي د بيهقي څخه د دې تخريج کړی دئ او هيڅ کلام يې نه دئ پر کړي او په مقاصد حسنه کي مرفوعاً د حضرت انس رضي الله عنه په روايت کي په تخريج د ابن ماجه، ابو يعلی، طبراني او قصاعی کي دغه الفاظ راغلی دي ((سيد إدامكم الملح)) او د سيادت اصل تقاضا دا ده چي په اول او آخر دواړو کي وی او په ډېرو ځايو کي تکويناً او شرعاً د دې اعتبار سوی هم دئ، لکه څنګه چي

رسول الله ﷺ اول الانبياء نوراً او آخر الانبياء نبياً وظهوراً دئ او په خپله تر خوراک مخکي او وروسته د الله ﷻ ذکر راغلی دئ او د دې په اول او آخر کي د درود شريف ويل راغلی دي همدا رنګه نور ډېر احکام دي، نو داماخذ کېدلای سي په مالګه سره د شروع کېدو او په مالګه د ختميدلو مګر دا د عباداتو څخه نه دي، دې معنی ته داستحباب حکم نه سي ورکول کېدای مګر داختياری عاداتو څخه دي چي له شرعی قواعدو سره موافق دي، نو ځکه مستحب په معنی د محبوب او مرغوب فيه ورته ويلای سي او د دې څخه معلومه سوه چي که د مذکوره قائل د خبري څخه مقصد د دې بالکليه نفی وي يا يې د مذهب د کتابو د عدم اعتبار دعوی وی، نو دا خبرې صحيح نه ده.

۱ – په مالګه سره د ډوډۍ شروع کولو په اړوند احاديث په لاندي ډول دي:

(۱) قال الحارث بن محمد بن أبي أسامة في «مسنده» (۴۶۲) حدثنا عبد الرحيم بن واقد، ثنا حماد بن عمرو، عن السری بن خالد بن شداد، عن جعفر بن محمد، عن أبيه، عن جده، عن علي رضی الله عنه أنه قال: قال لي رسول الله ﷺ: «يا علی، إذا توضأت فقل: بسم الله، اللّٰهم إني أسألک تمام الوضوء، وتمام الصلاة، وتمام رضوانک، وتمام مغفرتک، فهذه زكاة الوضوء، وإذا أكلت فابدأ بالملح، واختم بالملح، فإن فی الملح شفاء من سبعين داء أولها: الجذام والجنون والبرص، ووجع الأضراس ووجع الحلق ووجع البصر... الخ.

قال البوصيري فی « الزوائد» (۴/ ۳۸۰/ ۴۰۳۹، باب وصية النبی صلی الله عليه وسلم لعلی بن ابی طالب،ط: مكتبة الرشد): هذا إسناد مسلسل بالضعفاء، السری، وحماد، وعبد الرحيم، ضعفاء وقد تقدم هذا الحديث فی كتاب الطهارة، فی باب التسمية عند الوضوء(۱/ ۴۲۴، ۸۰۵).

وللمزيد انظر: (المطالب العالية: ۲/ ۱۷۰/ ۲۴۶۰، واللآلی المصنوعة: ۲/ ۳۱۲، والزوائد للهيثمی: ۱/ ۵۲۶/ ۴۶۹).

(۲) حديث علي رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال له: يا على عليک بالملح فإنه شفاء من سبعين داء أقلها الجذام والبرص والجنون (ابن الجوزى) ولايصح فيه أحمد بن عامر وعنه ابنه عبد الله وآفته أحدهما فإنهما يرويان عن أهل البيت نسخة كلها باطلة. (تنزيه الشريعة المرفوعة: ۲/ ۲۴۳/ ۴۴، كتاب الاطعمة، ط: بيروت).

وللاستزادة انظر: (اللآلى المصنوعة فى الآحاديث الموضوعة: ۲/ ۱۷۹، كتاب الاطعمة، ط: بيروت، وتذكرة الموضوعات، ص ۱۴۱، باب آداب الطعام، وكشف الخفاء: ۲/ ۴۱۳، وكتاب الموضوعات لابن الجوزى: ۲/ ۲۸۹، باب فضل الملح، والفوائد المجموعة فى الاحاديث الموضوعة، للشوكانى، ص ۱۶۱، رقم ۲۲).

۳- د حضرت علي رضي الله عنه شخه موقوفاً روايت دئ كوم چي امام بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كي په خپل سند سره نقل كړى دئ مكر د دي سند هم ضعيف دئ وي وګورئ:

قال: أخبرنا أبو عبد الله الحافظ، ثنا أبو العباس محمد بن يعقوب، ثنا الحسن بن علي بن عفان، ثنا زيد بن الحباب، ثنا عيسى بن الأشعث، عن جويبرٍ، عن الضحاك، عن النزال بن سبرة، عن علي رضي الله عنه أنه قال: من ابتدأ غداءه بالملح، أذهب عنه سبعين نوعًا من البلاء، وذكر الحديث قد أخرجناه بطوله في مناقب أمير المؤمنين علي رضي الله عنه. (شعب الايمان:۵/ ۱۰۳/ ۵۵۵۳، ط: بيروت).

قال الإمام السيوطي في جامع الأحاديث: وروى بعضه ابن السنى، وأبو نعيم فى الطب، والبيهقي في شعب الإيمان، وعيسى بن الأشعث، قال فى المغنى: مجهول، وجويبر متروک).

قال ابن العراق: عند البيهقي في الشعب عن علي رضي الله عنه موقوفاً من ابتدأ غداءه بالملح أذهب الله عنه سبعين نوعاً من البلاء... (قلت)... وأثر على ضعيف في سنده جويبر متروك

وعنه عيسى بن الأشعث مجهول، والله تعالى أعلم. (تنزية الشريعة المرفوعة: ۲/ ۲۴۳/ ۴۴، كتاب الاطعمة، ط: بيروت).

وللاستزادة انظر: (اللآلى المصنوعة: ۲/ ۱۷۹، وتذكرة الموضوعات، ص ۱۴۱، وتنزيه الشريعة: ۲).

☆ ځینو محدیثنو د شاهد په ډول د حضرت سعد بن معاذ ﷺ حدیث وړاندي کړی دئ مګر شیخ ابن العراق رحمه الله دا رد کړی دئ. وي ګورئ.

قال الإمام السيوطى: قال أبو عبد الله بن مندة في كتاب أخبار أصبهان أنبأنا عبد الله بن إبراهيم المقبري حدثنا عمرو بن مسلم بن الزبير حدثنا إبراهيم بن حبان بن حنظلة بن سويد عن علقمة بن سعد بن معاذ حدثنا أبي عن أبيه عن جده مرفوعاً: استغنموا (وفي رواية: استفتحوا) طعامكم بالملح فو الذي نفسي بيده أنه ليرد ثلاثاً وسبعين نوعاً من البلاء أو قال من الداء. (اللآلى المصنوعة:۲/ ۱۷۹، ط: بيروت).

ونقل عنه الفتني في تذكرة الموضوعات، (۱۴۱)، وذكره ابن العراق الكنانى فى « تنزيه الشريعة »(۲/ ۲۴۳، كتاب الاطعمة، ط: بيروت) وقال: قلت: هو من طريقه إبراهيم بن حيان بن حكيم فلا يصح شاهداً.

قال ابن عدى فى «الكامل» (۱/ ۲۵۴/ ۸۴، ط: دار الفكر): أحاديثه (إبراهيم بن حيان بن حكيم) موضوعة منا كير. وقال ابن مندة الأصبهاني في «فتح الباب فى الكنى والألقاب» (۲۳۲) حدث عن : أبيه وشريک: بمنا كير.

قلت: فالحديث ضعيف جداً مرفوعاً وموقوفاً.

لنډه دا چي که څه هم فقهاء کرامو مالګه تر ډوډئ مخکي او وروسته سنت ليکلي ده مګر د دې له پاره هيڅ يو روايت په نظر نه دئ راغلی، لهذا سنت نه سي ورته ويل کېدلای، البته د ضعيف رواياتو

له امله په دې باندې عمل کول روا دي، په دې شرط چې څوک داسې مریض نه وي چې مالګه تاوان ورته کوي.

د مالګې ځینې ګټې:

په شمائل کبری کې راځي:

چې مالګه د معدې د هضم او د معدې د کار له پاره ډېره ګټه کوي تریو شی ژر هضمیږي. (شمائل کبری: ۱/ ۵۷).

په سنت نبوی او جدید سائنس کې راځي:

تر ډوډۍ خوړلو مخکې مالګه ځکه څټل کیږي چې په مالګه کې د ډوډۍ خوړلو د اشتیا زیاتونکې اجزاې سته او بیا چې کله موږ مالګه څټو نو فوراً (دستی) لعاب پیدا کوونکې اجزاء او د ډوډۍ هضمیه کوونکې رطوبات شروع کوي چې د دې له امله ډوډۍ خوړلو ته اشتیا پیدا کیږي په خوړو کې خوند زیاتیږي، لوړه منځ ته راځي او په دې سره د الله تعالی د نعمت قدر او عزت زیاتیږي.

د خوراک وروسته په ژبه، غاړه او سره غاړه کې د ډوډۍ غوړو وغیره خوراکې شیانو اثرات منبلې چې د انسان تاوان رسوي او مالګه هغه اثرات ختموي. (سنت نبوی اور جدید سائنس، از حکیم محمد طارق محمود چغتائی: ۱/ ۸۹، ط: ادارہ اسلامیات). والله ﷻ اعلم.

د ډوډۍ خوړلو وروسته دعاء

سوال: د ډوډۍ خوړلو وروسته چې کومه دعاء ویل کیږي: ((الحمد الله الذی أطعمنا وسقانا وجعلنا مسلمین)) په دې کې درې پوښتنې دي:

۱ – لومړی، دا چې په دغه دعاء کې ((من المسلمین)) دي او که ((مسلمین)) دي؟

۲ – دوهم: دا چې دغه روایت صحیح دئ او که ضعیف دئ؟

۳– دریم: دا چې د خوراک او څښاک د دعاء سره د اسلام څه تعلق دئ؟

الجواب: دغه دعاء د احادیثو په ډېرو کتابونو کې ذکر سوی دي. مثلاً:

(سنن الترمذی: ۲/ ۱۸۴، وسنن ابی داود: ص ۵۳۸، وسنن ابن ماجه، ص ۲۳۶، وعمل الیوم واللیلة للنسائی، ص ۱۰۴، وعمل الیوم واللیلة لابن السنی، ص ۱۲۵، وباب مایقول اذا اکل، ط: دائرة المعارف، ومسند أحمد: ۳۷۵/۱۷، و ۱۸/ ۴۲۰، بتحقیق الشیخ شعیب الارنؤوط، ط: مؤسسة الرسالة، وشعب الایمان للبیهقی: ۵/ ۱۲۲، فصل فی مایقول اذا فرغ من الطعام، ط: دار الکتب العلمیة، والاذکار للنووی، ص ۲۱۲، مایقول اذا فرغ من الطعام، ط:

مكتبة القدس، والزوائد للامام البوصيرى: ۵/ ۳۴۳/ ۴۹۲۵، باب مايقال بعد الطعام والشراب، واخلاق النبى لابى الشيخ الاصبهانى، رقم: ۶۴۳، والدعاء لمحمد بن فضيل الضبى، رقم: ۱۱۳، والدعاء للامام الطبرانى، رقم: ۸۹۸، والدعوات الكبير للامام البيقهى، رقم: ۴۵۴).

د احاديثو په مذكوره كتابو كى موږ په يوه كتاب كي هم ((من المسلمين)) نه دي ليدلي. په ټولو طرقو كي ((مسلمين)) ليكلي دي، البته په كنز العمال(۷/ ۱۰۴/ ۱۸۱۷۹) الباب الثالث فى شمائل تتعلق بالعادات والمعشية، ط: مؤسسة الرسالة.

كي يې د مسند احمد او ((الاحاديث المختاره)) للضياء المقدسي په حواله سره عن أبي سعيد الخدرى ﷺ ((من المسلمين)) ليكلي دئ.

مګر په مسند احمد كي دوه ځايه دغه روايت د حضرت ابو سعيد الخدرى ﷺ شخه ذكر دئ خو په دواړو ځايو كي ((مسلمين)) راغلى دئ ((من المسلمين)) يو ځاى هم نه سته او په «الأحاديث المختاره » للضياء المقدسى كي هم دا روايت نه سته، د حصن الحصين په چاپ سوي نسخو كي هم ((من)) ذكر دئ، البته يوه نسخه يې په لاس راغله چي په هغې كي ((من)) نه دئ ذكر سوي د دې نسخي په آخر كي ليكلي دي:

سوده الفقير السيد عثمان المعروف بحافظ القرآن غفر الله له ولو الديه ولمن نظر فيه وقرأ، آمين، سنة اثنا وثمانون ومأة وألف من هجرة من له الشرف.

۲ـ د حديث د سند په اړوند د سنن ابن ماجه په تعليقات كي شيخ بشار عواد رحمه الله وايي:

إسناده ضعيف لجهالة مولى أبي سعيد، وحجاج هو ابن أرطاة مدلس، وقد عنعنه. وفى الحديث اختلاف كثير. (۵/ ۲۴).

شيخ شعيب رحمه الله د مسند احمد په تعليقات كي ليكي:

إسناده ضعيف، علته الجهالة والاضطراب.

معلومه سوه چي حديث ضعيف دئ، خو په فضائلو کي عمل کول پرې روا دي، البته د كتاب الدعاء للطبراني په تعليقات کي يې ((اسناده حسن)) ليکلي دي راجع. (تعليقات كتاب الدعاء، ص: ۳۰۶، رقم: ۸۹۸، باب: القول عند الفراغ من الطعام والشراب).

۳- دريمه: خبره دا ده چي د ((وجعلنامن مسلمين)) د خوراک او څښاک سره څه تعلق دئ؟

د دې جواب دا دئ چي د دې درې حکمتونه په ذهن کي راځي:

الف-: خوراک او څښاک جسماني غذا ده او اسلام روحاني غذا ده او د ژوند سبب دئ.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا استجيبوا لله وللرسول إذا دعاكم لما يحييكم ﴾.

يعني دين د ژوند سبب دئ، په قرآن کي کافرانو ته مړه او مسلمانانو ته ژوندي ويل سوي دي، لهذا د جسماني غذا د شکر کولو وروسته د روحاني غذا د شکر ذکر دئ.

باء -: دوهم حکمت يې دا په ذهن کي راځي چي د مسلم معنى د تابعداره ده، نو د خوراک او څښاک د آدابو او احکامو تابعداري هم لوی نعمت دئ، قابل شکر دئ، مثلاً لاس، خوله پرېمنځل، بسم الله ويل، په يوه خاص هيئت سره کښېناستل، يو ځای خوړل لوښي پاکول وغيره.

جيم-: خوراک څښاک کوچني نعمت دئ او اسلام لوی نعمت دئ، نو په دې کي د کوچني نعمت څخه د لوی نعمت د شکر کولو خوا ته انتقال دئ چي د دې شکر کولو خوا ته ډېر وخت ذهن نه ځي، نو د خوراک او څښاک په ضمن کي د لوی نعمت شکر هم اداء سو. والله ﷻ اعلم.

د خوراک وروسته پر الحمد لله د اکتفاء کولو حکم

سوال: د ډوډۍ خوړلو وروسته يوازي پر الحمد لله د اکتفاء کولو څه حکم دئ؟ آيا په دې سره سنت اداء کيږي او که نه؟

الجواب: اذکار او ادعيه په دوه ډوله دي:

۱-د موقع او محل له تخصيص پرته مطلق وي او د شارع عليه السلام څخه د دې کوم مخصوص الفاظ هم ثابت نه وي، نو په داسي ځای کي هر ډول الفاظ اداء کول صحيح او روا دي، خو بيا هم د قرآن کريم او احاديثو اذکار او ادعيه اداء کول ښه کار دئ.

۲- په خاصو وختو او خاصوحالاتو کي د شارع عليه السلام د طرف څخه خاص الفاظ وارد سوي وي، مثلا د ډوډۍ خوړلو مخکي او د ډوډۍ خوړلو وروسته، بيت الخلاء ته ترننوتلو مخکي او

تر را وتلو وروسته وغیره په دغو ځایو کي د دې مخصوص الفاظو رعایت کول د شریعت منشاء او مقصد دئ، پر همدې بنیاد د ډوډئ خوړلو وروسته دي هم د مخصوصو الفاظو کوم چي په حدیث شریف راغلی دئ د هغو رعایت دي وسي.

مګر په ځینو روایاتو کي یوازي د ((الحمد لله)) ذکر راغلی دئ، نو ځکه په دې سره هم سنت اداء کیږي، همدا رنګه که چا ته هغه الفاظ یاد نه وي، نو یوازي په ((الحمد لله)) هم اکتفاء کیږي او د احادیثو ځینو شارحینو یوازي حمد سنت بللی دئ.

او په احادیثو کي تر ډوډئ خوړلو وروسته مختلفي دعاګاني راغلی دي، په هغو کي د تعین پرته چي کومه دعاء ووایي سنت اداء کیږي.

څو دعاګاني په لاندي ډول دي:

(۱) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: كان النبي ﷺ إذا أكل طعاماً قال: «الحمد لله الذي أطعمنا وسقانا وجعلنا مسلمين» (إسناده ضعيف أو حسن، مرتخريجه).

(۲) عن أبي أيوب رضي الله عنه أن النبي ﷺ كان إذا أكل أو شرب قال: « الحمد لله الذي أطعم وسقى وسوغه وجعل له مخرجا». (اسناده صحيح ابو داود، ۳۸۵۳، وصحيح ابن حبان، ۵۲۲۰، وكتاب الدعاء للطبرانى، ۸۹۷، والمعجم الكبير، ۳۹۷۵، وسنن النسائى الكبرى، ۶۸۶۷، وشعب الايمان للبيهقى، ۴۱۶۰، كتاب الدعوات للبيهقى).

(۳) عن ابن عباس رضي الله عنه قال: كنت في بيت ميمونة.... ثم أتي رسول الله ﷺ بلبن فشرب فقال: إذا اكل، أحدكم طعاماً فليقل: اللّٰهم بارک لنا فيه وأطعمنا خيراً منه، وإذا سقى لبناً فليقل: اللّٰهم بارک لنا فيه وزدنا منه. (إسناده حسن، ابوداود، ۳۷۳۲، والترمذى، ۳۴۵۵، ومسند احمد، ۱۹۷۸، ومصنف عبد الرزاق، ۸۶۷۶، وشعب الايمان، ۵۶۴۱).

(۴) عن سهل بن معاذ بن أنس عن أبيه أن رسول الله ﷺ قال: من أكل طعاماً ثم قال: الحمد لله الذي أطعمني هذا الطعام ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة. (إسناده حسن، ابو داود،

۴۰۲۵، ومسند ابی یعلی، ۱۴۹۸، وشعب الایمان، ۵۸۷۲، والآداب للبیهقی، ۵۲۲، وعمل الیوم واللیلة لابن السنی، وسنن ابن ماجه، ومستدرک للحاکم).

(۵) وعن الحارث بن الحارث الأزدي قال: سمعت رسول الله ﷺ عند فراغه من طعامه يقول: اللّٰهم لک الحمد أطعمت وأسقيت وأشبعت وأوريت فلک الحمد غير مكفور ولا مودع ولا مستغنى عنک ربنا. (إسناده ضعيف، لضعف عمر بن موسى بن وجيه، المعجم الكبير، ۳۳۷۲، وعمل الیوم واللیلة لابن السنی، ۴۸۶، واسناد ابن السنی حسن، وفی مسند احمد عن رجل من بنی سليم وله صحبة، وإسناده ضعيف أيضاً لضعف عبد الله بن عامر الأسلمی، ۱۸۰۷۱، وشعب الایمان، ۵۶۳۸).

(۶) عن ابن عباس رضی الله عنه ... قال رسول الله ﷺ: إذا أصبتم مثل هذا فضربتم بأيديكم، فقولوا: بسم الله، فإذا شبعتم: فقولوا: الحمد لله الذي هو أشبعنا وأروانا وأنعم علينا أفضل. (إسناده ضعيف لضعف عبد الله بن کيسان المروزی، شعب الایمان، ۴۲۸۴، وصحيح ابن حبان، ۵۲۱۶).

(۷) عن أبي أمامة الباهلي رضی الله عنه أن النبي ﷺ كان إذا رفع العشاء من بين يديه قال: الحمد لله كثيراً طيباً مباركاً فيه غير مكفي ولا مودع ولا مستغنى عنه ربنا. (إسناده صحيح، صحيح البخاری، رقم: ۵۱۴۳، وسنن البیهقی الكبرى، رقم: ۱۴۴۴۹، والمعجم الكبير، رقم: ۷۴۶۹).

وفي رواية عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ، يقول عند انقضاء الطعام: الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه غير مكفي ولامودع ولامستغنى عنه. (إسناده حسن، الدعاء للطبرانی، رقم: ۸۹۳، وصحيح ابن حبان، ۵۲۱۷، والمعجم الكبير، ۷۴۷۱، ومسند احمد، ۲۲۲۵۶).

له دې ځخه پرته نوري ډېرى دعاګاني په حديثو كي راغلى دي، مفتي ارشاد قاسمي رحمه الله په ((الدعاء المسنون)) كي مختلفي دعاګاني جمع كړى دي، هغه هم كتلاى سي.

امام نووي رحمه الله مطلق حمد سنت بللى دئ:

قوله صلى الله عليه و سلم: إن الله ليرضى عن العبد أن يأكل الأكلة فيحمده عليها ويشرب الشربة فيحمده عليها) الأكلة هنا بفتح الهمزة وهى المرة الواحدة من الأكل كالغداء والعشاء، وفيه استحباب حمدالله تعالى عقب الأكل والشرب وقد جاء فى البخارى صفة التحميد: الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه غير مكفى ولا مودع ولا مستغنى عنه ربنا وجاء غير ذلك ولواقتصر على «الحمد لله» حصل أصل السنة. (شرح صحيح مسلم للامام النووى: ٢/ ٣٥٢).

قال ابن بطال فى شرحه: أهل العلم يستحبون حمد الله عند تمام الأكل والأخذ بهذا الحديث وشبهه ، فقد روى عن النبى عليه السلام فى ذلك أنواع من الحمد والشكر كان يقول إذا فرغ، وقد روى عنه عليه السلام أنه قال : من سمى الله على أول طعامه وحمده إذا فرغ منه لم يسئل عن نعيمه .(شرح صحيح البخارى لابن بطال٩/ ٥٠٧، باب مايقول اذا فرغ من طعامه، ط: الرياض).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن عائشة أنه قدم إليها طعام فقالت: ائتدموه، فقالوا: وما إدامه قالت: تحمدون الله عليه إذا فرغتم. (مصنف ابن ابی شیبة: ١٢/ ٤٠٥).

په معجم ابن الأعرابی کي راځي:

عن ابن عباسٍ ﷺ، قال : قال رسول الله ﷺ: ما من مائدةٍ عليها أربع خصالٍ إلا أكملت ، إذا أكل قال : بسم الله ، وإذا فرغ قال : الحمد لله ، وكثرت عليه الأيدي ، وكان أصلها حلالا. (معجم الصحابة لابن الاعرابی، رقم: ٩٩٨، وفيه عمرو بن جميع متهم بالوضع).

په سنن ابن ماجه کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: أتي رسول الله ﷺ يومًا بطعامٍ سخنٍ ، فأكل ، فلما فرغ ، قال : الحمد لله ، ما دخل بطني طعام سخن منذ كذا ، وكذا. (ابن ماجه، رقم: ۴۱۴۰، قال البوصيري في الزوائد: إسناده حسن).

په عمل اليوم والليل كي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : إن الرجل ليضع طعامه ، فما يرفع حتى يغفر له، قالوا : يا رسول الله ، وما ذاك ؟ قال : يقول : بسم الله إذا وضع طعامه ، وإذا رفع قال : « الحمد لله كثيرا ». (إسناده ضعيف، عمل اليوم والليلة لابن السني، رقم: ۴۸۴).

په الفردوس بما ثور الخطاب كي راځي:

الحسن بن علي رضي الله عنه: إذا دخل الرجل بيته فقال: السلام عليكم ووضع طعامه فقال: بسم الله، فإذا فرغ قال: الحمد لله قال الشيطان ليس لي ها هنا رزق ولا مبيت. (رقم الحديث: ۱۱۵۴).

د فقهي عبارت په لاندي ډول دي:

وسنن الطعام البسملة في أوله، والحمدلة في آخره. (الاختيار لتعليل المختار: ۴/ ۱۸۶، ط: بيروت).

(وكذا في فتاوى الشامي: ۶/ ۳۴۰، سعيد، ومجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر: ۴/ ۱۸۱، ط: بيروت، والفتاوى الهندية: ۵/ ۳۳۷، وحاشية الطحطاوي على الدر المختار:۴/ ۱۷۱، ط: كوئته).

د مذكوره احاديثو، شروحاتو او فقهي عباراتو خلاصه دا ده چي د ډوډئ خوړلو وروسته مطلق حمد مسنون دئ او د الحمد لله ويلو څخه هم سنت اداء كيږي، البته افضل دا دئ چي د مذكوره دعاګانو څخه د مختلفو دعاګانو اهتمام وسي، كه چا ته ټولي دعاوي يادوي، نو ټولی ويل په كار دي. والله ﷻ اعلم.

د خوراک په منځ کي د دعاء حکم

سوال: آيا دا خبره صحيح ده، چي كوم څوک د ډوډئ خوړلو په منځ کي دغه دعاء ووايي: ((اللّٰهم لک الحمد ولک الشکر)) نو هغه ته په هر وار کي د يوې ورځي د روژې ثواب وركول كيږي؟

الجواب: د ډوډئ خوړلو په منځ کي د مطلق حمد ويلو او شكر اداء كولو فضيلت په احاديثو کي راغلی دئ، البته په خصوصيت سره په سوال کي ذكر سوي دعاء په كوم حديث کي صراحةً په نظر نه ده راغلې، خو په دې کي هم حمد او شكر ذكر دئ، لهذا د دې ويل روا دي مګر خاص د دې دعاء ويل سنت بلل او د مخصوص فضيلت عقيده يې لرل ناروا دي.

په حديث شريف کي راځي چي ډوډئ خوړونكى شكر ګذاره په ثواب کي د صبر كوونكى روژاتي په ډول دئ.

په ترمذي شريف کي وګورئ:

عن أبي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: الطاعم الشاكر بمنزلة الصائم الصابر. قال أبو عيسى: هذا حديث حسن غريب، (۲۴۸۶)، وكذا في سنن ابن ماجه، (۱۷۶۴)، وسنن الدارمي، (۲۰۲۴)، وصحيح ابن حبان، (۳۱۵)، وصحيح ابن خزيمة، (۱۸۹۸)، ومسند أحمد، (۷۸۰۶)، ومستدرک حاکم: (۴/ ۱۳۶/ ۷۱۹۴).

عن أنس ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله ليرضى عن العبدان يأكل الأكلة، فيحمده عليها، أويشرب الشربة، فيحمده عليها. (رواه مسلم: ۲۷۳۴).

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن سعد بن مسعود الثقفي قال: إنما سمي نوح عبداً شكوراً لأنه إذا أكل وشرب حمد الله. رواه الطبراني وتابعيه سعد بن سنان لم أعرفه، وبقية رجاله رجال الصحيح. (مجمع الزوائد: ۵/ ۲۹، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

تر خوراک مخکي د لاس پرېمنځلو حکم

سوال: تر ډوډۍ خوړلو مخکي د لاس پرېمنځلو او په خوله اوبه رغړولو حکم څه دئ او د لاس پرېمنځلو وروسته لاس پاک (دستمال) استعمال روا دئ او که نه؟

الجواب: تر ډوډۍ خوړلو مخکي د دواړو لاسونو تر اولو کوچنيو بندو پرېمنځل سنت دي مګر په خوله اوبه رغړول سنت نه دي، هو مکروه هم نه دي او تر خوراک کولو مخکي لاس په لاس پاک (دستمال) وچول په کار نه دي، بلکي لاس پاک دئ تر ډوډۍ خوړلو وروسته استعمال کړي.

په ترمذي شريف کي وګورئ:

عن سلمان ﷺ قال: قرأت في التوراة أن بركة الطعام الوضوء بعده، فذكرت ذلك للنبي ﷺ فأخبرته بما قرأت في التوراة، فقال: رسول الله بركة الطعام الوضوء قبله والوضوء بعده. (ترمذی شریف: ۱۸۴۶، وابو داود شریف، رقم: ۳۷۶۳، قال ابو داود: وهو ضعیف، وابن ابی شیبة، ۴۶۲، ومستدرک حاکم، ۶۵۴۶).

وأخرج الطبراني في «الأوسط» (۷۱۶۶) بسنده عن ابن عباس ﷺ قال: الوضوء قبل الطعام مما ينف الفقر وهو من سنن المرسلين.

قال الهيثمي: وفيه: نهشل بن سعيد وهو متروك. (مجمع الزوائد: ۵/ ۲۴، دار الفكر).

وفي شرح السنة للإمام البغوي: والمراد منه: غسل اليدين. قال قتادة: من غسل يديه فقد توضأ. (شرح السنة: ۱/ ۳۵۰، باب ترک الوضوء مما مست النار، ط: المکتب الاسلامی).

وفی المغنی للعراقی: وللطبراني في أوسط، من حديث ابن عباس ﷺ: الوضوء قبل الطعام وبعده ممايننفى الفقر، ولأبي داود والترمذي من حديث سلمان... وكلها ضعيفة. (المغنی عن حمل الاسفار، رقم: ۱۳۰۰، کتاب آداب الاکل).

وفي تذكرة الموضوعات للفتني: والكل ضعيف... موضوع عند الصغاني. (باب آداب الطعام، ص ۱۴۱).

عن عائشة : أن النبي ﷺ كان إذا أراد أن يأكل وهو جنب غسل يديه. قال شعيب : حديث صحيح صالح بن أبي الأخضر وإن كان ضعيفاً متابع في الروايات الواردة في تخريجها، وباقي رجال الإسناد ثقات رجال الشيخين. (مسند احمد، رقم: ۲۵۵۹۸، وسنن ابن ماجه، ۵۹۳، ومسند اسحاق بن راهويه، ۸۲۲).

وفي الزوائد للبوصيري: عن عائشة، أن النبي ﷺ كان إذا أراد أن يأكل غسل يديه، هذا إسناد ضعيف لضعف صالح بن أبي الأخضر. (۵/ ۲۹۳، رقم: ۴۸۳۵، وكذا في المطالب العالية، رقم: ۲۴۰۶).

د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها مذکوره روایت د نورو شواهدو له امله صحیح دئ، خو په ځینو کې د ((و هو جنب)) لفظ مذکور دئ او په ځینو کې نه ستّه.

په فتاوی شامي کې راځي:

وسنة الأكل...وغسل اليدين قبله لنفي الفقر ولا يمسح يده بالمنديل ليبقى أثر الغسل وبعده لنفي اللمم ويمسحها ليزول أثر الطعام وجاء أنه بركة الطعام...وهل غسل فمه للأكل سنة كغسل يده؟ الجواب: لا، لكن يكره للجنب قبله بخلاف الحائض. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۴۰، سعيد).

وفي الطحطاوي على الدر: وغسل الفم قبل الأكل ليس بسنة. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۴/ ۱۷۱، كوئته).

په فتاوی تاتار خانيه کې راځي:

وفي البرهانية: والسنة ان يغسل الأيدي قبل الطعام وبعده، وفي واقعات الناطفي:... وإذا غسل لا يمسح بالمنديل، لكن يترك ليجف، ليكون أثر الغسل باقياً وقت الأكل والأدب في الغسل بعد الطعام أن يبدأ بالشيوخ ويمسح يده بالمنديل، ليكون أثر الغسل زائلاً بالكلية. وفي

الیتیمة: وسئل والدي عن غسل الفم للأکل، هل هو سنة کغسل الید؟ فقال: لا. (الفتاوی التاتار خانیة: ۱۸/ ۱۳۵، الکراهة فی الاکل وما یتصل به).

وللمزید راجع: (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۳۷، والبحر الرائق: ۸/ ۲۰۹، بیروت).

په سنت نبوي او جدید سائنس کي راځي:

تر خوراک مخکښي لاس پرېمنځل د انساني ژوند د معمولاتو څخه دي، ده کله چیری او کله چیري لاس لګولی وي او پر لاسو جراثیم لګیدلی وی، نو ځکه شریعت دا حکم را کړی دئ چي لاسونه په اوبو سره پرېمنځي، بیا دوهم حکم دا دئ چي هغه په کالي وغیره سره مه وچوي ځکه چي پر دغه کالي لګېدلی جراثیم بیا پر لاسوونه لګیږي. والله ﷻ اعلم.

په لڅ سر د ډوډۍ خوړلو حکم

سوال: د ډوډۍ خوړلو په وخت کي لڅ سر سره ډوډۍ خوړل روا دي او که نه؟ که څوک په لڅ سر ډوډۍ خوری د هغه څه حکم دئ؟

الجواب: په لڅ سر ډوډۍ خوړل روا ده، د فقهي په کتابو کی په دې اړوند لابأس راځي یعني هیڅ حرج نه سته، هو کله لابأس د خلاف اولی له پاره هم استعمالیږي، نو ځکه دې ته خلاف اولی ویلای سي.

په فتاوی شامي کي وګورئ:

ولا بأس بالأکل متکئاً أو مکشوف الراس فی المختار. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۴۰، سعید).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا بأس بالأکل مکشوف الرأس وهو المختار کذا فی الخلاصة. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۳۷). (وکذا فی البحر الرائق: ۸/ ۱۹۴، ط: ماجدیه).

قال فی رد المحتار: فکلمة لابأس وإن کان الغالب استعماله فیما ترکه أولی. (فتاوی الشامی: ۱/ ۱۱۹، سعید). والله ﷻ اعلم.

د خوراک په وخت کی د سنت کښېناستلو طریقه

سوال: د ډوډئ د خوړلو په وخت کې د جائز کښېناستلو څو طریقې دي او کومې کومې دي، آیا د تشهد په ډول کښېناستل سنت دي او که نه؟ او د دې څه هیئت دئ؟

الجواب: حضرت مفتي محمد شفیع صاحب، په آداب النبي ﷺ کې لیکي:

د خوراک په وخت کی د رسول الله ﷺ د کښېناستلو کیفیت په څو ډوله رانقل سوی دئ:

۱- دواړه ځنګونه او دواړې پښې به یې مېښلولې کښېنتی به لکه لمونځ کوونکی چې کښېني مګر یو ځنګون به پر بل ځنګون او یوه پښه به پر بله پښه ؤ (دغه هیئت ته په عربي کې تورک وایي).

۲- دوهم دا چې چپه پښه وغوړول سي او راسته ځنګون ودرول سي.

۳- دریمه طریقه دا ده چې دواړه ځنګونه د لمانځه د کښېناستلو په ډول وغوړول سي.

۴- پر د ووتلو په ځینو احادیثو کې د خرما خوړلو په وخت کې دغه طریقه منقول ده، دې ته اقعاء وایي د دې دوه صورتونه دي:

۱- پر مقعد او تلو کښېني او ځنګنونه ودروي.

۲- یا پر ګوتو کښېني پښې ودروي پر ګوتو کښېناستل د ځینو کتابو څخه معلومیږي چې دا طریقه یوازې د خرما خوړلو په وخت کې ثابته ده.

حوالې یې په لاندې ډول وګورئ:

قال ابن حجر فی الفتح: فالمستحب في صفة الجلوس للاكل أن يكون جاثيا على ركبتيه وظهور قدميه أو ينصب الرجل اليمني ويجلس على اليسرى. (فتح الباری: ۹/ ۵۴۲، ط: دار المعرفة، بيروت). (وكذا فی عمدة القاری: ۱۴/ ۴۰۸، باب الاكل متكئاً، والفجر الساطع على الصحيح الجامع: ۷/ ۱۷۱، وغذاء الالباب: ۲/ ۷۸، وسبل الهدى والرشاد: ۷/ ۱۸۱، ط: بيروت، والمواهب اللدنية: ۲/ ۴۱۱، المكتب الاسلامی، وتحفة الاحوذی: ۵/ ۵۵۸).

په تحفة الاحوذی کې راځي:

قوله : أما أنا فلا آكل متكئًا، سبب هذا الحديث قصة الأعرابي المذكور في حديث عبد الله بن بسرٍ عند ابن ماجه والطبراني بسندٍ حسنٍ قال : أهديت للنبي صلى الله عليه وسلم شاةً فجثا

على ركبتيه يأكل ، فقال له: أعرابي ما هذه الجلسة ؟ فقال : إن الله جعلني عبدًا كريمًا ولم يجعلني جبارًا عنيدًا، قال ابن بطال : إنما فعل النبي صلى الله عليه وسلم تواضعًا لله . (تحفة الاحوذی: ۵/ ۴۵۳، وکذا فی الفتح الباری:۹/ ۵۴۱، ط: بیروت).

قال ابن القيم رحمه الله: ويذكر صلى الله عليه وسلم أنه كان يجلس للأكل متوركًا على ركبتيه ويضع بطن قدمه اليسرى على ظهر قدمه اليمنى تواضعًا لربه عز وجل وأدبًا بين يديه واحترامًا للطعام وللمؤاكل فهذه الهيئة أنفع هيئات الأكل وأفضلها لأن الأعضاء كلها تكون على وضعها الطبيعي الذي خلقها الله سبحانه عليه مع ما فيها من الهيئة الأدبية.(زاد المعاد:۴/ ۲۲۱، فی هدیه صلی الله علیه وسلم فی هیئ الجلوس للأكل، مؤسسة الرسالة، والطب النبی، ۱۷۲، دار الفكر).

په مسلم شريف كي راځي:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: رأيت النبي صلى الله عليه وسلم مقعياً يأكل تمراً. (رواه مسلم، رقم: ۲۰۴۴).

المقعي: الذي يلصق أليته بالأرض وينصب ساقيه. (كذا فی رياض الصالحين، باب كراهية الاكل متكئاً، وفی تعليقات آداب البيقهی:۲/ ۹۳، واخلاق النبی لابی الشیخ: ۲/ ۴۲۷، والاوسط لابن المنذر، رقم: ۱۴۴۳، والنهاية فی غريب الاثر: ۴/ ۸۹، ط: بيروت).

وقيل: الإقعاء هو أن يضع أليته على عقبيه. (كذا فی النهاية فی غريب الاثر: ۴/ ۸۹، والاسط لابن المنذر، ۱۴۴۳).

عن أنس رضي الله عنه قال: قدمنا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم تمراً، فجثا على ركبتيه، فأخذ قبضة، فقال: اذهب بهذا إلى فلانة وأخذ قبضة، فقال: اذهب بهذا إلى فلانة... ثم أخذ قبضة منه يأكل ويلقى النوى بشماله.... (الزوائد للبوصيری: ۵/ ۳۳۰/ ۴۸۹۵، ط: الرياض).

عن عبد الله بن بسر رضي الله عنه قال: أهديت للنبي صلى الله عليه وسلم شاة فجثا رسول الله صلى الله عليه وسلم على ركبتيه يأكل فقال أعرابي: ما هذه الجلسة فقال: إن الله جعلني عبداً كريماً ولم يجعلني جباراً عنيداً. (ابن ماجه، رقم: ۳۲۵۴).

په قوت القلوب کي راځي:

وربما جثا للأكل على ركبتيه وجلس على ظهر قدميه ونصب رجله اليمنى وهى جلسة العرب للأكل إلى اليوم. (قوت القلوب: ۲/ ۳۰۷).

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

إن المرأ ينبغى له ان يجلس على الطعام جلوساً متواضعاً ويجتنب هيئة المتكبرين... وذكر العلماء أن أدب الطعام أن يجلس الرجل جاثياً على ركبتيه وظهور قدميه، أو ينصب الرجل اليمنى ويجلس على اليسرى، ذكره العينى فى العمدة، والحافظ فى الفتح. (تكملة فتح الملهم: ۴/ ۴۸، باب استحباب تواضع الآكل، وصفة قعوده).

په مظاهر حق جديد کي راځي:

دا ډول دي کښېني خوراک دي وکړي چي:

۱- يا پر دواړو ځنګنو وي.

۲- يا د اقعاء په صورت کي وي، يعنی پر مقعد دي کښېني او ځنګونونه دي ودر وي.

۳- پر دواړو پښو دي کښېني يعني پر تلو.

۴- راسته ځنګون دي ودر وي او پر چپه ځنګون دي کښېني. (مظاهر حق جديد: جلد چهارم، ص ۸۴، ط: دار الاشاعت).

په حلال او حرام کي راځي:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په درو طريقو خوراک ثابت دئ پر دوو تلو، يوه پښه غوړول او بله درول خوراک کول، په تورک سره. (حلال وحرام، ص ۱۱۰).

په سنت نبوي او جديد سائنس کي راځي:

په احاديثو کي د ډوډئ خوړلو دري طريقې ښودل سوي دي:

۱- پر دوو تلو کښېناستل.
۲- پر يوه ځنګون کښېناستل.
۳- پر دواړو ځنګونو کښېناستل. (سنت نبوی اور جدید سائنس: ۱/ ۹۳).
په اسؤه رسول اکرام کي راځي:
رسول الله ﷺ په ښنګ وهلو سره ډوډئ نه خوړل، رسول الله ﷺ ويلی دي چي زه بنده يم او د بندګانو په ډول کښېنم او همدغسي خوراک کوم لکه بندګان چي يې کوي.
د رسول الله ﷺ ناسته په دا ډول ؤ لکه پر ځنګونو چي به اوس ولاړيدئ يعني پر دوو تلو کښېناستل. (زادالمعاد).
مصنف مواهب وايي، چي د ډوډئ له پاره دا ډول کښېناستل مستحب دي چي دواړه ځنګونه جګ ودروی او د دواړو پښو پر تلو کښېني يا داسي چي راسته پښه ودروي او پر چپه کښېني.
ابن القيم رحمة الله عليه ليکلي دي:
چي رسول الله ﷺ د تواضع او آدب په خاطر د راسته پښې تله د چپه پښې پر شا ايښودل. (اسوه رسول اکرم، ص ۱۱۵).

وللاستزادة انظر: (الطب النبوی، ص: ۱۷۲، وسبل الهدی والرشاد لمحمد بن يوسف الشامی: ۷/ ۱۸۰، ط: بيروت، والانوار فی شمائل النبی المختار للإمام البغوی: ۱/ ۳۳۴، وقوت القلوب للشيخ ابی طالب المکی: ۲/ ۳۰۷، وتخريج العراقی علی الاحياء: وشرح رياض الصالحين: ۲/ ۱۰۶۷، للشيخ محمد بن صالح العثيمين، وسلسلة الآداب الاسلامية لمحمد صالح المنجد: ۹/ ۲۵، وشمائل کبری: ۱/ ۴۲، ط: زمزم، ومدارج النبوة، وزاد المعاد: ۴/ ۲۲۰، فی هديه صلی الله عليه وسلم فی هيئة الجلوس للأکل).

په ښنګ لګولو يا چارزانو کښېناستو د ډوډئ خوړلو حکم

سوال: په ښنګ لګولو سره ډوډئ خوړل مکروه تنزيهي ده او که تحريمي او که روا ده او چارزانو کښېناستل په ښنګ لګولو کي داخل دي او که نه؟

الجواب: په ښنګ لګولو سره خوراک که د تکبر له امله ؤ مطلقاً ناروا دئ او که د عذر له امله ؤ د څه کراهت پرته روا دئ او که نه د تکبر له امله څخه ؤ او نه د عذر له امله بلکي يوازي د استراحت له پاره يې وکړي روا دئ خو خلاف اولی دئ ځکه چي دا طريقه د ډېري ډوډئ طرف ته مفضی دي د

ځینو روایاتو څخه معلومیږي چي رسول الله ﷺ یو ځل د څنګ لګولو په حالت کي ډوډۍ خوړلي ده.

روایات په لاندي ډول دي:

عن فضيل بن عياضٍ، عن عبد العزيز بن رفيعٍ، عن مجاهدٍ، قال: ما أكل رسول الله ﷺ متكئًا قط إلا مرةً، قال: اللّٰهم إني عبدك ورسولك. (رواه ابن ابی شیبة فی مصنفه مرسلاً: ۱۲/ ۴۰۷/ ۲۵۰۰۴، باب من كان يأكل متكئاً).

وأيضاً رواه هناد بن السرى فى «الزهد »(۸۰۱)، وأخرجه ابن حجر فى «المطالب العالية» (۲۴۶۵)، وفى «التلخيص الحبير» (۱۴۴۹)، والبوصيرى فى «الزوائد» (۵/۳۰۵/ ۴۸۵۰ و ۴۸۵۱).

وروى ابن شاهين في «ناسخ الحديث ومنسوخه» (۶۳۸) بسنده عن مجاهد قال: ما أكل رسول الله ﷺ متكئا الا مره ففزع فجلس ثم قال: اللّٰهم إني عبدك ونبيك، والتشديد في هذا على وجه الاختيار من رسول الله ﷺ لا على وجه التحريم. وآداب رسول الله ﷺ اولٰى ان تستعمل وما تركه رسول الله ﷺ فلا خير فيه ، وقد رخص في الأكل متكئاً جماعه منهم ابن عباس رضي الله عنه وابن سيرين وإبراهيم والزهري كذلك. (ناسخ الحديث ومنسوخه لابن شاهين، ص ۴۷۷).

وروى الحارث بن محمد بن أبي أسامة في «مسنده» (۵۲۲)، قال: حدثنا محمد بن عمر، ثنا هاشم بن عامر الأسلمي، عن عبد الله بن سعد، عن أبيه قال: كنت دليل رسول الله ﷺ من العرج إلى المدينة فرأيته يأكل متكئاً.

ونقل عنه ابن حجر فى المطالب العالية (۲۴۶۶)، والبوصيرى فى «الزوائد» (۵/ ۳۰۶/ ۴۸۵۴، باب الاكل متكئاً). وقال: هذا إسناد ضعيف، محمد بن عمر الواقدى كذاب.

☆ همدا رنګه د ځينو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه د ځنګ لګولو په حالت کي ډوډۍ خوړل ثابت دي.

په مصنف ابن ابی شيبه کي وګورئ:

قال ابن أبي شيبة: حدثنا وكيع، عن سفيان، عن يزيد بن أبي زياد قال: أخبرني من رأى ابن عباس رضي الله عنه يأكل متكئاً.

وحدثنا هشام ، عن حصينٍ قال : لما قدم خالد بن الوليد هاهنا ، إذا هو بمسلحةٍ لآل فارسٍ عليهم رجل يقال له : هزارمرد ، قال : فذكروا من عظم خلقه وشجاعته ، قال : فقتله خالد بن الوليد ، ثم دعا بغدائه فتغدى وهو متكئ على جيفته ، يعني جسده.

وحدثنا أبو خالدٍ الأحمر ، عن حجاجٍ ، عن عطاءٍ ، قال : إن كنا نأكل ونحن متكئون.

وحدثنا أبو أسامة ، عن أبي هلالٍ ، قال : رأيت ابن سيرين يأكل متكئًا.

وحدثنا يزيد بن هارون ، قال : أخبرنا حسام بن مصك ، عن ابن سيرين ، قال : دخلت على عبيدة فسألته عن الرجل يأكل متكئًا ؟ فأكل متكئًا. (مصنف ابن ابی شيبة:۱۲/ ۴۰۸- ۴۰۹، باب من كان بأكل متكئاً، المجلس العلمی).

وكذا في ناسخ الحديث ومنسوخه لابن شاهين (۴۷۸) وزاد فيه عن عبد الرزاق قال: أخبرنا معمر قال: سألت الزهری عن الأكل متكئاً قال: لابأس به. (وكذا فی مصنف عبد الرزاق، رقم: ۱۹۵۴۹).

د فقهي د کتابو څخه يې هم جواز معلوميږي:

په فتاوی سراجيه کي راځي:

لابأس بالأكل متكئاً إذا لم يكن عن تكبر. (الفتاوی السراجيه، ص ۳۲۷، ط: زمزم).

په فتاوی شامي کي راځي:

ولا بأس بالأكل متكئاً. (رد المحتار: ۶/ ۳۴۰، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

لا بأس بالأكل متكئاً إذا لم يكن بالتكبر وفي الظهيرية هو المختار كذا في جواهر الأخلاصي. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۳۷).

وللاستزادة انظر: (المحيط البرهاني: ۶/ الفصل الثاني عشر في الكراهية في الاكل، والموسوعة الفقهية الكويتية: ۴۵/ ۲۷۲، ط: وزارة الاوقاف، والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۳۶۵).

مګر په حديث شريف کي د ښنګ وهلو په حالت کي د خوراک څخه ممانعت معلوميږي. وګورئ:

عن علي بن الأقمر سمعت أبا جحيفة يقول: قال رسول الله ﷺ: لا آكل متكئاً. (رواه البخاري، رقم: ۵۳۹۸).

وعن ابي الدرداء رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لا تأكل متكئاً رواه الطبراني في الأوسط ورجاله ثقات. (مجمع الزوائد: ۵/ ۲۴، دار الفكر).

قال في فتح الباري: وكان سبب هذا الحديث قصة الأعرابي المذكور في حديث عبد الله بن بسر عند بن ماجة والطبراني بإسناد حسن قال: أهديت للنبي صلى الله عليه و سلم شاة فجثا على ركبتيه يأكل فقال له أعرابي: ما هذه الجلسة فقال: أن الله جعلني عبداً كريماً ولم يجعلني جباراً عنيداً، قال بن بطال: إنما فعل النبي صلى الله عليه و سلم ذلك تواضعا لله. (فتح الباري: ۹/ ۵۴۱، ط: دار المعرفة، بيروت).

د ښنګ لګولو په حالت کي د خوراک د کراهت علت دا بيان سوی دئ چي دا د متکبرينو طريقه ده، له دې څخه پرته دا د زيات خوراک باعث هم دئ.

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي ليکي:

واختلف السلف في حكم متكئاً فزعم ابن القاص أن ذلك من الخصائص النبوية وتعقبه البيهقي فقال: قد يكره لغيره أيضاً لأنه من فعل المتعظمين وأصله مأخوذ من ملوك العجم فإن كان بالمرء مانع لا يتمكن معه من الأكل إلا متكئاً لم يكن في ذلك كراهة ...وقد اخرج بن أبي شيبة عن بن عباس رضي الله عنه وخالد بن الوليد رضي الله عنه وعبيدة السلماني ومحمد بن سيرين وعطاء بن يسار والزهري جواز ذلك مطلقاً... واختلف في علة الكراهة، وأقوى ما ورد في ذلك ما أخرجه بن أبي شيبة من طريق إبراهيم النخعي قال:« كانوا يكرهون أن يأكلوا اتكاءة مخافة أن تعظم بطونهم ... الخ». (فتح الباری:۹/ ۵۴۱،، دار المعرفة، بيروت).

(وكذا فی عمدة القاری:۱۴/ ۴۰۷– ۴۰۸، دار الحديث، ملتان).

په شرح معاني الاثار کي راځي:

عن إسماعيل الأعور قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأكل متكئًا ، فنزل عليه جبريل عليه السلام فقال: انظروا إلى هذا العبد، كيف يأكل متكئًا قال: فجلس رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقد يجوز أن يكون هذا هو المعنى الذي قال: لا آكل متكئًا لأنه فعل الملوك الجبابرة ، وفعل الأعاجم، فكره ذلك ، ورغب في فعل العرب. (شرح معانی الآثار، رقم: ۶۸۶۴، باب الشرب قائماً).

همدا رنګه د څنګ لګولو په کيفيت کي هم اختلاف دئ.

په فتح الباری کي وګورئ:

واختلف في صفة الاتكاء فقيل: أن يتمكن فی الجلوس للأكل على أی صفة كان وقيل: أن يميل على أحد شقيه وقيل: أن يعتمد على يده اليسرى من الأرض. (فتح الباری:۹/ ۵۴۱، دار المعرفة، بيروت).

په مرقات کي راځي:

ونقل فی الشفاء عن المحققین أنهم فسروه بالتمکن للأکل والقعود فی الجلوس کالمتربع المعتمد علی وطاء تحته لأن هذه الهیئة تستدعي کثیرة الأکل وتقتضي الکبر. (مرقاة المفاتیح: ۸/ ۱۶۴، ط: امدادیه، ملتان).

یه النهایة فی غریب الحدیث والاثر کي راځي:

المتکئ في العربیة کل من استوی قاعداً علی وطاء متمکنا، والعامة لا تعرف المتکئ إلا من مال في قعوده معتمدًا علی أحد شقیه والتاء فیه بدل من الواو وأصله من الوکاء وهو ما یشد به الکیس وغیره کأنه أوکأ مقعدته وشدها بالقعود علی الوطاء الذي تحته . (النهایة فی غریب الحدیث والاثر: ۱/ ۱۹۳، المکتبة العلمیة).

یه جمع الوسائل کي راځي:

قال میرك : اعلم أن المحققین من العلماء قالوا : الاتکاء علی أربعة أنواعٍ : الأول: الاتکاء علی أحد الجنبین ، الثاني : وضع إحدی الیدین علی الأرض والاتکاء علیها ، والثالث : التربع علی وطاءٍ والاستواء علیه ، والرابع : استناد الظهر علی وسادةٍ. (جمع الوسائل فی شرح الشمائل: ۱/ ۱۸۵، اداره تالیفات).

یه بذل المجهود کي راځي:

قال الخطابي: یحسب أکثر العامة أن المتکيء هو المائل المعتمد علی أحد شقیه لایعرفون غیره، وکان بعضهم یتأول هذا الکلام علی مذهب الطب ودفع الضرر عن البدن... وقال الشیخ: ولیس معنی الحدیث ما ذهبوا إلیه وإنما المتکئ ههنا هو المعتمد علی الوطء الذي تحته، فکل من استوی قاعداً علی وطئ فهو متکئ. (بذل المجهود: ۱۱/ ۴۹۶، دار البشائر الاسلامیة).

یه تکمله فتح الملهم کي راځي:

أما الجلوس متربعاً بدون إسناد الظهر إلى ما خلفه أو الميلان على أحد الشقين فالظاهر أنه جائز بدون كراهة لعدم ما يدل على كراهته، أما ما ذكره الخطابي من إدخاله في الاتكاء فلم أره عند غيره. (تكملة فتح الملهم: ۴/ ۴۸).

وللمزيد راجع: (زاد المعاد: ۴/ ۲۰۲، مؤسسة الرسالة، وفيض الباری: ۴/ ۳۳۴، والدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۷۵۶). والله ﷻ اعلم.

په جلا لوښی کي په خوراک کولو کي د اجتماع حکم

سوال: که چیري ملګري یو ځای کښېني او په جلا جلا لوښی کي خوراک وکړي، نو د اجتماعي خوراک ثواب ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: د احادیثو په رڼا کي معلومیږي چي د اجتماعي له لفظ څخه مقصد د خلکو په یو ځای ناسته خوراک کول دي، له دې څخه خوراک په یوه لوښی کي نه لازمیږي، هو دا جلا خبره ده چي د صحابه کرامو عام رواج په یوه لوښی کي خوراک کول ؤ، خو د اجتماعیت له پاره یو لوښی ضروري نه دئ بلکي پر یوه دستر خوان پر یو ځای خوراک کول مقصد دي او دا د برکت باعث دئ لکه صحابه کرامو چي یو وار د لوږي شکایت وکاؤ، نو رسول الله ﷺ پر یوه ځای د ډوډئ خوړلو امر ورته وکاؤ.

په ابو داؤد شریف کي حدیث دئ وې ګورئ:

وعن وحشي بن حربٍ عن أبيه عن جده أن أصحاب رسول الله ﷺ قالوا: يا رسول الله! إنا نأكل ولا نشبع، قال: فلعلكم تفترقون قالوا: نعم، قال: فاجتمعوا على طعامكم واذكروا اسم الله عليه يبارك لكم فيه . (رواه ابو داود بسند حسن، رقم: ۳۷۶۶).

د حضرت وحشي بن حرب ﷺ څخه روایت دئ، چي خلکو وویل اې د الله ﷻ رسوله! موږ خوراک کاؤ نسونه مو نه ډکیږي؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: شاید چي تاسو جلا جلا خوراک کوي هغوی په جواب کي ورته وویل: هو. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: چي پر یوه ځای خوراک کوي او د الله ﷻ نوم اخلی چي په دې کي برکت دئ.

(ورواه ابن ماجه، رقم: ۳۲۸۶، والبیهقی فی الشعب، رقم: ۵۴۴۹، واحمد فی مسنده، رقم: ۱۶۰۷۸، والحاکم فی المستدرک، رقم: ۲۵۰۰).

وفی صحیح ابن حبان قال: تجتمعون علی طعامکم أو تتفرقون؟ قالوا: نتفرق،... الخ.

(رواه ابن حبان فی صحیحه، رقم: ۵۲۲۴، قال الشیخ شعیب: حسن بشواهده واسناده ضعیف).

عن سالم بن عبد الله بن عمر قال: سمعت أبي يقول: سمعت عمر بن الخطاب رضی الله عنه يقول: قال رسول الله ﷺ: كلوا جميعاً ولا تفرقوا، فإن البركة مع الجماعة. (رواه ابن ماجه، رقم: ۳۲۷۸) قال البوصیری: هذا اسناد ضعیف. (مصباح الزجاجة: ۴/ ۱۲).

حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه وايي:

چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر يو ځای خوراک کوي جلا جلا خوراک مه کوي ځکه چي برکت د جماعت سره وي.

حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله کوم چي علماء کرامو په خلفاء راشدينو کي شمېرلی دئ د هغه په اړه راځي چي هغه به د خپلو ملګرو سره پر يوه ځای ډوډۍ خوړل مګر هغه به په جلا لوښی کي خوراک کاؤ دا د هغه عام دستور ؤ يو ځل يوه سړی ورته وويل: اې امير المومنينه! آيا ته موږ ته حرام خواړه راکوي د هغه وروسته يې په ګډ لوښی کي خوراک شروع کړي.

په کتاب الاموال لابن زنجويه کي وګورئ:

الحضرمي الحمصي، عن أبيه قال: كنا نأكل مع عمر بن عبد العزيز فكان يأكل من صحفةٍ، ونأكل من أخرى، فقلت له مرةً: يا أمير المؤمنين، أنأكل من صحفتک؟ قال: نعم فلما أكلت قلت: يا أمير المؤمنين، والله لئن كان ما تأكل حلالًا، وما تطعمنا حرامًا، ما ينبغي لك أن تطعمنا حرامًا قال: فجذب صحفتنا إليه ودفع صحفته إلينا، ثم عاد بأكل معنا من صحفةٍ واحدةٍ. (کتاب الاموال لابن زنجویه، رقم: ۲۰۳۳). (وکذا فی مختصر تاریخ مدینة دمشق: ۲/ ۴۲۳).

له دې سره سره په جلا خوړلو کي د خوراک صحيح اندازه هم معلوميږي.

همدا رنګه د فقهاء کرامو د عباراتو څخه معلومیږي چي په یوه مجلس کي په کښیناستلو سره په جلا جلا لوښی کي خوراک او څښاک کول د اجتماعي خوراک په حکم کي دي او په عرف کي هم پر یوه ځای ډوډۍ خوړل ورته ویل کیږي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإن حلف لا يشرب مع فلانٍ شرابًا فشربا في مجلسٍ من شرابٍ واحدٍ حنث وإن كان الإناء الذي يشربان فيه مختلفًا، وكذا لو شرب الحالف من شرابٍ وشرب الآخر من شرابٍ غيره وقد ضمهما مجلس واحد، لأن المفهوم من الشرب مع فلانٍ في العرف هو أن يشربا في مجلسٍ واحدٍ اتحد الإناء والشراب أو اختلفا بعد أن ضمهما مجلس واحد يقال: شربنا مع فلانٍ، وشربنا مع الملك، وإن كان الملك يتفرد بالشرب من إناءٍ. (بدائع الصنائع: ۳/ ۶۶، سعيد). (وكذا فى الفتاوى الهندية: ۲/ ۹۳، والمبسوط للامام السرخسى: ۸/ ۳۳۱،ط: بيروت، والمبسوط للامام محمد: ۳/ ۳۱۶، والمحيط البرهانى: ۴/ ۵۲۷، مكتبه رشيديه).

په محیط البرهاني کي راځي:

وإذا حلف لا يأكل مع فلان طعاماً، فأكل هذا من إناء، وفلان من إناء آخر في ذلك المجلس لا يحنث، هكذا ذكر في شرح مختصر عاصم في باب كفارة اليمين في الشراب، وفي شرح الكافي للصدر الشهيد رحمه الله في باب اليمين في الشراب: أنهما إذا أكلا من مائدة واحدة حنث وإن اختلف قصعهما وطعامهما. (المحيط البرهانى:۶/ ۲۰۰،ط: المجلس العلمى).

په عام ډول هم خلک د چرګانو د غوښو خوراک په یوه لوښی کي نه خوښوي، لهذا په طبعي امورو کي د خلکو رعایت کول ډېر مناسب کار دئ که نه د اجتماعي خوراک د برکت څخه به عام خلک محروم او بې برخي سي.

پر یوه ځای د خوراک کولو طبي فائده:

د پتالوجي (patholoqy) یو پروفیسر انکشاف کړی دئ چي کله ډوډۍ پر یو ځای په ګډه خوړل کیږي، نو د ټولو ډوډۍ خوړونکو جراثیم په ډوډۍ کي سره ګډیږي چي د نورو ټولو مرضو

جراثیم ختموي او په دې سره هغه ډوډۍ بې ضرره ګرځي او په ډوډۍ کي ډېر وخت د شفاء جراثیم ګډېږي ټوله ډوډۍ شفاء کرځوي کوم چي د معدې د مرضو له پاره بې حده ګټور دي. (سنت نبوی اور جدید سائنس: ۱/ ۹۱). والله ﷻ اعلم.

پر میز او چوکۍ د ډوډۍ خوړلو حکم

سوال: پر چوکۍ او میز د ډوډۍ خوړلو حکم څه دئ مکروه تحریمي دئ که تنزیهي او که مباح؟ ښه مدلل جواب یې راته ولیکي؟

الجواب: په شریعت مطهره کي په دا ډول مسائلو کي توسع او پراخي راغلې ده، شدت او سختي پکښې نه سته، نو پر همدې بنیاد پر میز او چوکۍ ډوډۍ خوړل روا دي، خو د دې خبرې خیال دي وي چي پر چوکۍ به څنګ نه لګوي بلکي د ډوډۍ طرف ته چوغ په خاکساري دي ډوډۍ وخوري، خو بیا هم پر مځکه په ناسته سره خوراک کول د رسول الله ﷺ عام معمول ؤ، نو ځکه پر مځکه په ناسته ډوډۍ خوړل د ځان له پاره معمول جوړلول په کار دي.

په حدیث شریف کي وګورئ:

عن قتادة عن أنس رضي الله عنه قال: ما علمت النبي ﷺ أكل على سكرجة قط ولا خبزله مرقق قط ولا أكل على خوان قط قيل: لقتادة فعلام كانوا يأكلون قال: على السفر (السفرة ما يوضع عليها الطعام جلداً كان أو غيره) (صحيح البخاري، رقم: ۵۳۸۶، باب الخبز المرقق والاكل على الخوان والسفرة).

وعن سعيد بن جبير قال: سمعت ابن عباس رضي الله عنهما يقول: أهدت خالتي أم حفيد إلى رسول الله ﷺ سمناً وأقطاً وأضباً فأكل من السمن والأقط وترك الضب تقذراً وأكل على مائدة رسول الله ﷺ ... الخ. (رواه مسلم: ۲/ ۱۵۱، ط: فيصل).

وعن يزيد بن الأصم قال: دعانا عروس بالمدينة... أن رسول الله ﷺ بينما هو عند ميمونة وعنده الفضل بن عباس رضي الله عنهما وخالد بن الوليد رضي الله عنه وامرأة أخرى إذا قرب إليهم خوان عليه لحم... الخ. (رواه مسلم: ۲/ ۱۵۱، ط: فيصل).

قال الإمام النووي: وليس المراد بهذا الخوان ما نفاه فى الحديث المشهور في قوله: ما أكل رسول الله ﷺ على خوان قط بل شيء من نحو السفرة. (شرح الكامل: ۲/ ۱۵۱).

وعن حميد أنه سمع أنساً يقول: قام النبي ﷺ يبني بصفية فدعوت المسلمين إلى وليمة أمر بالأنطاع فبسطت فألقى عليها التمر والأقط والسمن. (رواه البخارى، رقم: ۵۳۸۷، باب الخبز المرقق والاكل على الخوان والسفرة).

د ذكر سوو احاديثو خلاصه دا ده چي دستر خوان پر مځکه خپرول ډوډۍ خوړل د رسول الله ﷺ معمول ؤ ځکه چي د ډېرو رواياتو راوي حضرت انس ﷺ دیٔ او هغه د رسول الله ﷺ خاص خادم ؤ تقريباً لس كاله د رسول الله ﷺ د خدمت سعادت ور په برخه سو، نو ځکه هغه د رسول الله ﷺ په کورنی حالاتو ښه خبر ؤ، هو په هيڅ روايت کي په نظر نه دي راغلی چي رسول الله ﷺ پر ميز د ډوډۍ خوړلو څخه منع وكړه، نو ځکه دا ډول خوراک هم روا دیٔ مگر د ځنګ لګولو په حالت کي دی د ډوډۍ خوړلو څخه ځان وساتی.

په زادالمعاد کي راځي:

صح عنه أنه قال: «لا آكل متكئاً»، وقل: «إنما أجلس كما يجلس العبد، وآكل كما يأكل العبد». (زاد المعاد: ۴/ ۲۲۰، ط: مؤسسة الرسالة).

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

إن المرأ ينبغى له أن يجلس على الطعام جلوساً متواضعاً ويجتنب هيئة المتكبرين. (تكملة فتح الملهم: ۴/ ۴۸، باب استحباب تواضع الآكل، وصفة قعوده).

اشكال: ځيني خلک پر ميز ډوډۍ خوړل مکروه بولی او په دليل کي دا لاندي روايت وړاندي کوي:

عن قتادة ، عن أنسٍ ﷺ، قال: ما علمت النبي ﷺ أكل على سكرجةٍ قط ، ولا خبز له مرقق قط ، ولا أكل على خوانٍ قيل: لقتادة فعلى ما كانوا يأكلون قال: على السفر. (صحيح البخارى، رقم: ۵۳۸۶، باب الخبز المرقق والاكل على الخوان والسفرة).

په دغه روایت کي د خوان څخه مېز مراد ګڼي.

الجواب: د خوان مختلفي معناوي دي: (۱) قال العيني في العمدة: وهو طبق كبير من نحاس تحته كرسي من نحاس ملزوق به، طوله قدر ذراع يرص فيه الزبادي ويوضع بين يدي كبير من المترفين ولا يحمله إلا اثنان فما فوقهما. (عمدة القاري: ۱۴/ ۳۹۵، ط: دار الحديث ملتان).

يعنی لوی مېز چي تر هغه لاندی د مسو چوکۍ وي، پر هغه باندي خوشبو لګول کيږي او لوی خلک هغه استعمالوي.

د نور تفصيل له باره دغه کتابونه وګورئ: (شمائل کبری: ۱/ ۳۹- ۴۱، بعنوان میز یا ٹیبل پر کھانا خلاف سنت ھی، ط: زمزم).

۲- شاه صاحب رحمه الله په فيض الباری کي د خوان معنی په مېز سره نه ده کړي وګورئ:

والخوان هو الصيني (کوچنک دستر خوان چي ځيني خلک ورته کشتي هم وايي) من خشب وليس بطاوله (مېز) ولا بمنضدة (سندلی).

په النهايه کي راځي: خوان هو ما يوضع عليه الطعام عند الأكل. (النهاية: ۲/ ۱۸۳).

د لغاتو په کتابو کي يې هم د خوان ترجمه په مطلق دستر خوان سره کړې ده. په القاموس الوحيد کي وګورئ: (۱/ ۴۸۷).

ډېر خلک وايي چي پر دسترخوان څه وخت ډوډۍ پرته وي، نو هغه مائده ده، ډوډۍ چي تر څونه کښېښودل سي نو هغه ته خوان وايي.

په فقه اللغه کي راځي: ولا يقال مائدة إلا إذا كان عليها طعام وإلا فهي خوان. (فقه اللغة: ۶۲، وكذا في لسان العرب).

نو معلومه سوه چي د خوان معنی يوازي مېز نه دئ ځکه که چيري د خوان معنی مېز محقق وايي، نو د ابن ماجه په روايت کي راځي چي د حضرت انس رضی الله عنه په کور کی هم خوان ؤ چي له دې څخه معلوميږي چي د هغه په آند پر خوان يا مېز ډوډۍ خوړل روا ؤ او د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په زمانه کي خوان موجود نه ؤ منع نه ؤ، هو د تکليف ډک مېز د اميرانو شی دئ د هغه څخه ځان ساتل په کار دي.

وګورئ:

عن قتادة، قال: كنا نأتي أنس بن مالكٍ رضي الله عنه، (قال إسحاق: وخبازه قائم، وقال الدارمي: وخوانه موضوع)، فقال: يومًا كلوا، فما أعلم رسول الله ﷺ، رأى رغيفًا مرققًا، بعينه، حتى لحق بالله... الخ. (رواه ابن ماجه، واسناده صحيح، رقم: ۳۳۳۹).

که چیري په مذکوره روایت کي د خوان څخه مراد مېز وي، بیا هم په دغه روایت کی د خوان د استعمال څخه نفي معلومیږي چي رسول الله ﷺ د تکلیف عادت نه ؤ او په دې کي تکلیف دئ ځکه یې استعمال کړی نه دئ د دي باوجود د دې د استعمال څخه منع کول ثابت نه دي.

او بیا د حضرت انس رضي الله عنه په مذکوره روایت کي نور شیان هم ذکر دي چي د هغو د کراهت هیڅ څوک قائل نه دي.

۲- اشکال: ځینی اکابرو کرامو د کفارو سره د تشبه له امله پر مېز او چوکۍ باندې ډوډۍ خوړل منع کړي دي، د دې جواب څه دئ، وګورئ: (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۸/ ۳۸۲، طبع جدید، وفتاوی محمودیه: ۱۸/ ۷۹، جامعه فاروقیه، وامداد الفتاوی:۴/ ۲۶۶، واحسن الفتاوی: ۸/ ۱۲۱، وغیره).

الجواب: جکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله وايي:

چي کوم شی عام سي نو په هغه کی دتشبه شبه نه پاتیږي چي د ریا او تکبر نیت پکښي نه وي، همدا رنګه چي د حضرت انس رضي الله عنه په کور کي هم موجودؤ، نو تشبه باکفار پاته نه سو.

په امداد الفتاوی کي وګورئ، د بائیسکل تر سواري لاندي لیکلي دي:

په دې سواري کي په ښکاره سره د تشبه شبه هم کېدلای سي، خو د تأمل په وخت کي د دې عام کېدل دا شبه لېري کوي اوس یوازې دا عارض په دې کي محتمل پاته سو چي له دې څخه تکبر پیدا کیږي، نو د دې تقضاء دا ده چي په کوم چا کی تکبر نه وي د هغه له پاره هیڅ پروا نه لري، البته ځیني مباحات د صلحاء او ثقاتو له حال سره نامناسب وي، لهذا ځان ساتل ښه خبره ده که یوازي د مصلحت درجه ؤ ضرورت نه ؤ که ضرورت ؤ، نو په دې صورت کي خلاف اولی هم نه دئ. (امداد الفتاوی: ۴/ ۲۶۷).

فقیه الامت حضرت مفتي محمود حسن ګنګوهي رحمه الله وايي:

پر مېز خوراک دا طریقه د سنت څخه خلاف ده په کوم ځای کي چي دا د کفارو او فساقو شعار وي، هلته بالکل ممنوع ده او په کوم ځای کي چي شعار نه وي بلکي عام وي چي د صالحینو هم

همدغه طریقه وی، نو په هغه ځای کې دومره تشدد نسته بلکې څه خفت پکښې دئ، خو خلاف سنت بیا هم دئ. (فتاوی محمودیه: ۱۸/ ۷۹، جامعه فاروقیه).

اوس دغه طریقه د صالحینو هم ده.

حضرت تهانوی رحمه الله د تشبه د تعریف او د رفع تشبه د پیژندلو په اړوند وایي:

د دې معیار دا دئ چې چیرته د یو چا کومه خبره وضع کړې وي او دا معلومه وي چې دا کار په کافرانو کې دئ او د کافرانو د خصوصیت طرفته ذهن تلی، نو دا تشبه ده که نه، نو نه دئ(احسن العزیز، ص ۲۱۳).

پیژندل یې دا دي چې د هغو شیانو د لیدو څخه د عامو خلکو په ذهنو کې دا نه وي چې دا کار خو فلانیو خلکو کړی دئ مګر تر څو چې دغه خصوصیت وي تر هغو دې منع کړل سي او که خصوصیت پاته نه سي، نو ممانعت یې هم نه پاتیږي. (حیاة المسلمین، ص ۲۲۴).

په فقه حنفي کې اصول وضوابط کې راځي:

د کافرانو سره خو تشبه په مذهبي امورو کې حرامه ده او په قومي شعائرو کې مکروه تحریمې ده، په نورو ایجاداتو او انتظاماتو کې روا ده، هغه په حقیقت کې تشبه نه ده. (فقه حنفی کی اصول وضوابط، ص ۱۵۲).

معلومه سوه چې پر چوکۍ او مېز خوراک کول مطلقاً ممنوع او مکروه نه دي بلکې چې د کفارو اوفساقو سره تشبه وي یا په هغه کې د ریاء او تکبر نیت وي، نو منع او مکروه دي مګر که چیري د دوارو وجو څخه خالي وي، نو بیا یې په جواز او مباح کېدو کې خبره نه سته او په موجوده زمانه کې د دې رواج عام دئ چې په دې کښې د هیڅ یوې ډلې یا قوم تخصیص نه سته، نو پر همدې بنیاد باندې د دې د استعمال اجازه سته، هو پر ځمکه په ناسته ډوډۍ خوړل د اهمیشنې سنت دئ د دې د غوره کول د محبت دلیل دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د خوراک وروسته د ګوتو د څټلو حکم

سوال: د خوراکه وروسته د ګوتو څټل څنګه دي، که سنت وي، نو دلیل یې څه دئ او د څټلو صحیح ترتیب څه دئ؟

الجواب: د ډوډۍ خوړلو وروسته ګوتي څټل سنت دي او په حدیث شریف سره ثابتي دي.

په بخاری شریف کې وګورئ:

عن ابن عباس ﷺ أن النبي ﷺ قال: إذا أكل أحدكم فلا يمسح يده حتى يلعقها ، أو يلعقها. (رواه البخاري، رقم: ۵۴۵۶، باب لعق الاصابع قبل ان يمسح بالمنديل).

د دغه روايت څخه په ښکاره ډول معلوميږي چي د ډوډئ خوړلو وروسته ګوتي څټل سنت دی او په ځيني رواياتو کي د دې وجه دا بيان سوې ده چي انسان ته نه معلوميږي چي د ډوډئ په کومه برخه کي بر کت دئ کېدلای سي چي په همدې برخه کي يې بر کت وي کومه چي د ده پر ګوتو لګېدلي نه، لهذا د دې په څټلو سره بر کت راځي.

دابن حبان په روايت کي راځي:

عن جابر ﷺ، أنه سمع النبي ﷺ يقول: «إذا طعم أحدكم، فسقطت لقمته من يده، فليمط ما رابه منها، وليطعمها، ولا يدعها للشيطان، ولا يمسح يده بالمنديل حتى يلعق يده، فإن الرجل لا يدري في أي طعامه يبارك له وإن الشيطان يرصد الناس أو الإنسان على كل شيء حتى عند مطعمه أو طعامه، ولا يرفع الصحفة حتى يلعقهاأو يلعقها، فإن في آخر الطعام البركة». (رواه ابن حبان فى صحيحه، رقم: ۵۲۵۳، قال الشيخ شعيب: حديث صحيح).

د حضرت جابر ﷺ روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چي په تاسو کي کله له يو چا څخه لقمه ولوېږي نو پاک دي کړي او ودې خوري، د شيطان له پاره دي نه پرېږدي او د فراغت څخه وروسته دي ګوتي وڅټي، هغه ته څه معلومه ده چي د ډوډئ په کومه برخه کي بر کت دئ او له تاسو څخه هر يوه ته شيطان راځي حتى چي د خوراک په وخت کي هم ورته راځي او لوښی تر هغو مه اخلي چي پاک کړي مو نه وي او يا مو په بل چا پاک کړي نه وي ځکه چي د ډوډئ په آخري برخه کي بر کت وئ.

وفي حديث ابن ماجة قال: لا يمسح أحدكم يده حتى يلعقها، فإنه لا يدري في أى طعامه البركة. (رقم: ۳۲۷۰) قال محمد فؤاد عبد الباقي: قوله فإنه لايدري في أى طعامه البركة أى لا يدري أن البركة فيما على الأصابع أو في غيره فينبغي أن لا تضيع.

د ګوتو د څټلو صحيح ترتيب:

د ګوتو د څټلو صحيح ترتيب کوم چې په احاديثو کې راغلی دئ هغه دا دئ چې تر ټولو لومړی منځ غټه ګوته وڅټي د هغه وروسته دي د شهادت ګوته وڅټي او بيا دي بټه ګوته وڅټي.

د نبي کريم ﷺ مبارک عادت داؤ چې په درو ګوتو به يې خوراک کاوي، نو څکه په رواياتو کې د درو ترتيب په همدې ډول راځي، که څلورمه يا پنځه هم استعمال کړي، نو د بټې ګوتې وروسته دې هغه وڅټي.

وګورئ: علامه عيني رحمه الله وايي:

أنه ينبغي في لعق الأصابع الابتداء بالوسطى ثم السبابة ثم الإبهام كما جاء في حديث كعب بن عجرة رضي الله عنه رواه الطبراني في الأوسط قال: رأيت رسول الله ﷺ يأكل بأصابعه الثلاث قبل أن يمسحها بالإبهام والتي تليها والوسطى ثم رأيته يلعق أصابعه الثلاث فيلعق الوسطى ثم التي تليها ثم الإبهام، وكان السبب في ذلك أن الوسطى أكثر الثلاثة تلويثاً بالطعام لأنها أعظم الأصابع وأطولها فينزل في الطعام منه أكثر مما ينزل من السبابة، وينزل من السبابة في الطعام أكثر من الإبهام لطول السبابة على الإبهام ويحتمل أن يكون البدء بالوسطى لكونها أول ما ينزل في الطعام لطولها. (عمدة القاری: ۱۴/ ۴۵۳، باب لعق الاصابع، ط: دار الحديث، ملتان).

روى الطبراني فی الأوسط (۱۶۴۹) بسنده عن محمد بن كعب بن عجرة عن أبيه قال: رأيت رسول الله ﷺ يأكل بأصابعه ثلاث بالإبهام والتي تليها والوسطى ثم رأيته يلعق أصابعه الثلاث قبل أن يمسحها ويلعق الوسطى ثم التي تليها ثم الإبهام.

د حضرت کعب بن عجره رضي الله عنه څخه روايت دئ چې هغه وويل: ما رسول الله ﷺ وليدئ چې په درو ګوتو بټه ګوته، د شهادت ګوته او د منځ په ګوته يې ډوډئ خوړل، او بيا مې وليدئ چې هغه درې يې څټلي په دا ډول چې اول يې د منځ ګوته بيا د شهادت او بيا بټه ګوته.

قال الـهيثمي فی «الـمجمع» (۵/ ۲۸، دار الفکر): رواه الطبراني في الأوسط وفيه الحسين بن إبراهيم الأذني ومحمد بن كعب بن عجرة ولـم أعرفهما وبقية رجاله ثقات.

په بحر الرائق کې راځي:

ومن السنة لحس القصعة وأن يلعق أصابعه قبل أن يمسحها بالـمنديل وتركه من أثر العجم والجبابرة. (البحر الرائق:۸/ ۲۰۹).

(وکذا فی رد المحتار:۶/ ۳۴۰، سعید، والفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۳۷، والمحیط البرهانی: ۵/ ۲۰۴، والنتف فی الفتاوی، ص ۲۴۳).

په اسوهٔ رسول اکرام کې راځي:

په ځينې رواياتو کې راځي چې لومړی يې د منځ ګوته څټله د هغه وروسته يې د شهادت ګوته او د هغه وروسته يې بټه ګوته. (خصائص نبوی). (اسوه رسول اکرم، ص ۱۱۶).

د ګوتو څټلو طبي ګټه:

په سنت نبوي او جديد سائنس کې راځي:

چې د ګوتو څټل هم د دې خبرې مخبري کوي چې هغه هضميه راوستونکی رطوبات د ګوتو سره مبتلي يو څه خوله ډوډۍ سره دننه ځي او نور په ګوتو پسې مبنتی پاتيږي، د ګوتو په څټلو سره په خوله کی دننه ځي که چيرې ګوتې وڅټل سي، نو پر سترګو، دماغ او معده يې ډېر ژور اثر پريوځي.

يو ډاکټر راته وويل چې ما تحقيق کړی دئ چې د ډوډۍ وروسته ګوتې څټل واقعتاً د زړه، معدې او دماغ د مرضو له پاره ډېر ګټور او د علاج په ډول دي، تجربه يې شرط ده.(سنت نبوی اور جدید سائنس:۱/ ۱۱۲). والله ﷻ اعلم.

د خوراک وروسته د لوښی د پاکولو حکم

سوال: د ډوډۍ خوړلو وروسته د لوښی صفاء کول يوازې په دوو ګوتو سره سنت دي او که مطلق د لوښی صفائې مقصد ده. ځينې خلک وايي چې يوازې دوې ګوتې استعمال په کار دي؟

الجواب: د احادیثو او د فقه د کتابو څخه معلومیږي چې یوازي د لوښی صفاء کول سنت دي په دې کي که کوم خاص ترتیب یا د ګوتو د استعمالولو کوم خاص شمېر په احادیثو کي راغلی وی، زموږ په نظر نه دئ راغلی.

یوازي د صفائې روایت وګورئ:

(۱) عن أنسٍ رضی اللہ عنہ أن رسول الله ﷺ كان إذا أكل طعامًا لعق أصابعه الثلاث. قال: وقال: إذا سقطت لقمة أحدكم فليمط عنها الأذى وليأكلها ولا يدعها للشيطان وأمرنا أن نسلت القصعة قال: فإنكم لا تدرون فى أى طعامكم البركة. (رواه مسلم، رقم: ۲۰۳۴، والترمذی، رقم: ۱۸۰۳، وابو داود، رقم: ۳۸۴۷، واحمد، رقم: ۱۴۰۸۹).

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به کله ډوډئ خوړل، نو درې ګوتي به یې څټلي، حضرت انس رضی اللہ عنہ وایي، چې رسول الله ﷺ وویل: چې په تاسو کي کله د یو چا څخه لقمه ولوېږي، نو هغه دي پورته کړي او صفاء دي کړي ودې خوري د شیطان له پاره دي نه پرېږدي او موږ ته یې د لوښی د صفاء کولو امر وکاؤ ویې فرمایل: چې تاسو ته نه معلومیږي چې د ډوډئ په کومه برخه کي برکت دئ.

(۲) عن أبي اليمان المعلى بن راشد قال: حدثتني جدتي أم عاصم وكانت أم ولد لسنان بن سلمة قالت: دخل علينا نبيشة الخير ونحن نأكل في قصعة فحدثنا أن رسول الله ﷺ قال: من أكل في قصعة ثم لحسها استغفرت له القصعة. (إسناده ضعيف، سنن الترمذی، رقم: ۱۸۰۴، وسنن ابن ماجة، رقم: ۳۲۷۱، وسنن الدارمی، رقم: ۲۰۷۰، باب فی لعق الصحفة، ومسند احمد، رقم: ۲۰۷۲۴، قال شعيب: إسناده ضعيف لجهالة حال أم عاصم، وشعب الايمان، رقم: ۵۴۷۳).

حضرت نبیشه رضی اللہ عنہ روایت بیانه وي، چې رسول الله ﷺ وویل: څوک چې په لوښی کي خوراک وکړي او هغه صفاء کړي، نو لوښی هغه ته د مغفرت دعاء کوي.

(۳) عن نبيشة قال: قال رسول الله ﷺ: من أكل في قصعة ثم لحسها استغفرت له القصعة: أعتقك الله من النار كما أعتقتني من الشيطان. (رواه رزين، مشكاة المصابيح، رقم: ۴۲۴۲).

حضرت نبيشة رضي الله عنه وايي: چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په لوښی کي خوراک وکړي بيا هغه صفاء کړي، نو لوښی ورته وايي، چي الله تعالى دي تا د جهنم د اور څخه ازاد کړي لکه څنګه چي تا زه د شيطان څخه ازاد کړم.

په مجمع الزوائد کي راځي:

(۴) وعن العرباض بن سارية قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من لعق الصحفة ولعق أصابعه أشبعه الله في الدنيا والآخرة. رواه الطبراني عن شيخه إبراهيم بن محمد بن عرق وضعفه الذهبي. (مجمع الزوائد: ۵/ ۲۷، دار الفكر، رقم: ۷۹۳۸).

حضرت عرباض بن ساريه رضي الله عنه وايي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم چا چي لوښی صفاء کړي او ګوتي يې وڅټلي الله جل جلاله به هغه په دنيا او آخرت کي موړ کړي.

په عمدة القاری کي راځي:

ما المراد باستغفار القصعة؟ يحتمل أن الله تعالى يخلق فيها تمييزاً أو نطقاً تطلب به المغفرة وقد ورد في بعض الآثار أنها تقول: آجرك الله كما آجرتني من الشيطان، ولا مانع من الحقيقة ويحتمل أن يكون ذلك مجازاً كنى به. (عمدة القاری: ۱۴/ ۴۵۴، وذكره السيوطی فی الجامع الصغير و رمزله بالحسن).

يعنی پر حقيقت باندی محمول دئ چي لوښی وايي، الله جل جلاله دي تا د شيطان څخه وساتی لکه تا چي زه وساتلم يا مجاز دي يعنی د لوښی صفاء کول د مغفرت سبب ګرځي.

په فتاوی شامي کي راځي:

قال عليه الصلاة والسلام: من أكل من قصعة ثم لحسها تقول له القصعة أعتقك الله من النار كما أعتقني من الشيطان وفي رواية أحمد: استغفرت له القصعة، ومن السنة...ولعق القصعة. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۴۰، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

وفى الخلاصة: ومن السنة لعق القصعة. (البحر الرائق: ۸/، ط: کوئته). (وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۳۳۷، والمحيط البرهاني: ۵/ ۲۰۴، ط: دار احياء التراث العربى، والنتف فى الفتاوى، ص: ۲۴۳، ط: بيروت).

د لوښی د پاکولو طبي ګټه:

په سنت نبوي او جديد سائنسَ کي راځي:

طريقه يې همدغه ده چي لوښی په ګوتو سره صفاء سي، نوي سائنس وايي، چي د ډوډۍ د لوښی په بيخ کي وټامنز (Vitamins) او په خاص ډول د ډوډۍ په بيخ کي موجود وټامنز بي کمپلکس (Vitamins – B- Complex) او داسي غذايي اجزاء وي کوم چي په ټوله ډوډۍ کي لږ او په دغه بيخ کي يې زيات وي په غذاؤ کي موجود معدني نمکيات (Mineral salls) خو يوازي په بيخ کي موجود وي. والله ﷻ اعلم.

تر دستر خوان پورته کولو د مخه د ولاړېدلو حکم

سوال: تر دستر خوان پورته کولو د مخه د ډوډۍ خوړونکو ولاړېدل مکروه دي او که روا؟ د احاديثو او فقه د کتابو په رڼا کي جواب راته راکړئ؟

الجواب: د دستر خوان تر پورته کولو د مخه د ډوډۍ خوړونکو په اړوند په ځيني ضعيف روايتو کي ممانعت راغلی دئ مګر د احنافو په کتابو کي دغه جزئيه په لاس نه ده راغلي، البته د شوافعو وغيره په کتابو کي د دې ممانعت په صريح ډول ذکر سوی دئ، نو له همدې کبله د دستر خوان تر پورته کولو د مخه ولاړېدل د خلاف اولی د قبيل څخه دي، البته که مېلمه يا کوربه د کوم عذر يا کوم ضرورت له امله تر دستر خوان پورته کولو د مخه ولاړ سي، نو د دې اجازه سته.

په ابن ماجه کي روايت وګورئ:

عن عائشة ﷺ، أن رسول الله ﷺ نهى أن يقام عن الطعام ، حتى يرفع . (رواه ابن ماجه رقم: ۳۲۹۴).

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وايي، چي نبي كريم ﷺ پر دستر خوان د ولاړېدلو څخه منع كړې ده، تر څو چي دستر خوان نه وي پورته سوې.

قال البوصيري:

قال البوصيرى فى مصباح الزجاج: هذا إسناد ضعيف لضعف منير بن الزبير وتدليس الوليد بن مسلم ومكحول لكن رأيت في مسند الشاميين للطبراني تصريح الوليد بن مسلم ومكحول بالتحديث فزالت تهمة تدليسهما فلم يبق في ضعف رجال الإسناد إلا منير بن الزبير والله أعلم. (مصباح الزجاجة:۲/ ۷۸).

په يو بل روايت كي يې وګورئ:

قال الإمام الطبراني في مسند الشاميين (رقم: ۳۵۰۴): حدثنا الحسين بن إسحاق ، ثنا علي بن بحرٍ ، ثنا الوليد بن مسلمٍ ، ثنا أبو ذر منير بن الزبير المشجعي الأردني أنه سمع مكحولا عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: لا يقام عن الطعام حتى يرفع.

قال فى التقريب: منير الشامى، أبو ذر الأردني، ضعيف. (ترجمة: ۶۹۲۰).

وكذا رواه البيهقى فى شعب الإيمان (رقم: ۵۶۵۰).

دوهم روايت وګورئ:

عن عروة بن الزبير ، عن ابن عمر ﷺ، قال : قال رسول الله ﷺ: إذا وضعت المائدة ، فلا يقوم رجل ، حتى ترفع المائدة ، ولا يرفع يده ، وإن شبع ، حتى يفرغ القوم ، وليعذر ، فإن الرجل يخجل جليسه ، فيقبض يده ، وعسى أن يكون له في الطعام حاجة. (سنن ابن ماجه، رقم: ۳۲۹۵).

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي دستر خوان خپور كړل سي، نو هيڅ څوک دي نه ولاړېږي تر څو چي دستر خوان نه وي پورته سوي او د خوراک څخه دي لاس نه بندوي كه څه هم موړ سي تر څو چي خلک فارغيږي ځكه چي د ده په ولاړېدلو سره د ده ملګري شرميږي او هغه هم خپل لاس د ډوډۍ څخه بندوي حال دا چي د هغه به د نوري ډوډۍ خوړلو خواهش وي.

قال البوصيرى: هذا إسناد ضعيف فيه عبد الأعلى بن أعين أخو حمران وقد ضعفه العقيلى وابن حبان والدار قطنى. (مصباح الزجاجة:۲/ ۷۸).

قال فى التقريب (ترجمة: ۳۷۲۹): عبد الأعلى بن أعين الكوفي، مولى بنى شيبان ضعيف.

قوله: وليعذر: فى النهاية: الإعذار المبالغة فى الأمر، أى ليبالغ فى الأكل.

وكذا رواه البيهقى فى الشعب، (رقم: ۵۴۷۷).

په فقه مالكي كي رائحي:

قال ابن عبد البر فى «الكافى فى فقه أهل المدينة المالكى (۲/ ۱۱۳۹) : ولا يقام عن الطعام حتى يرفع.

وكذا فى الفقه الحنبلى. انظر: (الاقناع فى فقه الامام احمد بن حنبل:۳/ ۲۳۷، ط: بيروت، والشرح الكبير:۱۱/ ۱۲۶، دار الكتاب العربى).

په فقه شافعي كي رائحي:

قال فى حاشية الجمل: ولا يقوم حتى يرفع المائدة إلا أن يكون الأكل بالنوبة. (حاشية الجمل:۸/ ۵۳۷، دار الفكر).

قال فى شرح البهجة الوردية: ولا يقوم حتى ترفع المائدة إلا أن يكون الأكل بالنوبة. (۱۵/ ۲۲۵). (وكذا فى احياء علوم الدين:۲/ ۶). والله تعالى اعلم.

د خوږو خوړو د مخه اِو وروسته حکم

سوال: د صحابه کرامو یا د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د ډوډئ پر وخت خواږه د مخه خوړل کېدل او که وروسته؟ روا خو دواړه طرفونه دي مګر ډېر ښه کوم یو دئ، دا هم راته معلومه ده چي اکثر وخت د نبي کریم ﷺ پر دستر خوان دوه رقمه خواږه نه پیدا کېدل، همدا رنګه اکثر وخت به هيڅ هم نه ؤ مګر په ځینی وختو کی د یو صحابي په کور کی د مېلمستیا پر وخت یا د ازواج مطهرات د ولیمې پر وخت مختلف ډول خواږه په احادیثو کي راغلی دي، په دې کي ترتیب څه دئ؟ مهرباني وکړي راته بیان کړئ؟

الجواب: د ځیني ازواج مطهرات د ولیمې د کیفیت څخه معلومیږي چي رسول الله ﷺ او راغوښتلو سوو صحابه کرامو خواږه خواږه وروسته خوړلي دي، همدا رنګه ځینی علماء کرامو هم دې ته ترجیح ورکړې ده چي خواږه خواږه دي وروسته وخوړل سي، پر دې سربېره د طبي ګټو په اعتبار سره هم د خوږو خوړو وروسته خوړل د صحت له پاره ډېر مفید دي، پر همدې بنیاد باندی خواږه خواږه وروسته خوړل ښه دي مګر د دې دا مطلب نه دئ چي خواږه د مخه خوړل مکروه دي بلکي بالکل روا دي، هو که خواږه وروسته وي، نو ښه ده.

حوالې وګورئ:

عن عبد العزيز بن صهيبٍ قال: سمعت أنس بن مالكٍ رضي الله عنه يقول: ما أولـم رسول الله ﷺ على امرأةٍ من نسائه أكثر أو أفضل مـما أولـم على زينب. فقال: ثابت البناني: بما أولـم قال أطعمهم خبزًا ولـحمًا حتى تركوه. (رواه مسلم: ١/ ٤٦١، ط: فيصل).

وعن أنس رضي الله عنه قال: ما أولـم النبي ﷺ على شيء من نسائه ما أولـم على زينب أولـم بشاة. (رواه البخاري، رقم ٥١٦٨).

بوب الإمام البخاري في صحيحه، فقال: باب الهدية للعروس، وقال إبراهيم عن أبي عثمان واسمه الجعد عن أنس بن مالكٍ رضي الله عنه قال: مر بنا في مسجد بني رفاعة فسمعته يقول: كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا مر بجنبات أم سليمٍ دخل عليها فسلم عليها ثم قال: كان

النبي ﷺ عروسًا بزينب فقالت لي أم سليمٍ: لو أهدينا لرسول الله ﷺ هديةً فقلت لها: افعلي فعمدت إلى تمرٍ وسمنٍ وأقطٍ فاتخذت حيسةً في برمةٍ فأرسلت بها معي إليه فانطلقت بها إليه فقال لي ضعها ثم أمرني، فقال: ادع لي رجالًا سماهم وادع لي من لقيت قال: ففعلت ... الخ. (رواه البخاري تعليقاً: ۲/ ۷۷۵، ط: فيصل).

د مذكوره روايت څخه معلوميږي چي د حضرت زينب بنت جحش ﷺ په وليمه كي اختلاف دئ په ځيني رواياتو كي راځي چي رسول الله ﷺ بزه ذبح كړه غوښه او ډوډئ يې وركړه او په ځيني رواياتو كي راځي چي ام سليم ﷺ كومه چي د نبي كريم ﷺ حقيقي يا رضاعي خاله وه هغې حيس (د مختلفو شيانو څخه جوړه سوي حلوا) ورواستول. رسول الله ﷺ هغه حلوا په صحابه كرامو وخوړل.

مگر د حديثو شارحين وايي، چي په دواړه كي هيڅ تعارض نه ستته امكان لري چي لومړى يې غوښه او ډوډئ وركړي وي بيا چي كله حلوا راغله حلوا يې هم وركړي وي، همدا رنگه د راغوښتلو په وخت كي يې حضرت انس ﷺ ته دا نه دي ويلي چي د دباندي څخه يوازي هغه خلك را وغواړه چي په ډوډئ كي نه ؤ شريك. نو هغه خلك هم راغلو كومو چي ډوډئ خوړلې ؤ.

دوهم تطبيق يې دا وركړى دئ چي امكان لري حلوا هم په هغه وخت كي راوړل سوي وي چي خلك د غوښو او د ډوډئ په خوړلو بوخت ؤ لهذا پر يوه ځاى يې خوړلي دي.

په فتح الباري كي يې وگورئ:

والأولى أن يقال لا وهم في ذلك فلعل الذين دعوا إلى الخبز واللحم فأكلوا حتى شبعوا وذهبوا ولم يرجعوا ولما بقي النفر الذين كانوا يتحدثون جاء أنس ﷺ بالحيسة فأمر بأن يدعو ناسا آخرين ومن لقي فدخلوا فأكلوا أيضا حتى شبعوا، واستمر أولئك النفر يتحدثون وهو جمع لا بأس به، واولى منه أن يقال أن حضور الحيسة صادف حضور الخبز واللحم فأكلوا كلهم من كل ذلك. (فتح الباري:۹/ ۲۲۷).

حافظ ابن حجر رحمه الله دوهم تأویل اولی بللی دئ مګرامام قرطبي رحمه الله او امام غزالي رحمه الله لومړی تاویل اولی بللی دئ.

وګورئ امام غزالي رحمه الله وایي:

ترتيب الأطعمة بتقديم الفاكهة أولا إن كانت فذلك أوفق في الطب فإنها أسرع استحالة فينبغي أن تقع في أسفل المعدة وفي القرآن تنبيه على تقديم الفاكهة في قوله تعالى ﴿ وفاكهة مما يتخيرون ﴾ ثم قال ﴿ ولحم طير مما يشتهون ﴾ ثم أفضل ما يقدم بعد الفاكهة اللحم والثريد فقد قال صلى الله عليه وسلم: فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الطعام، فإن جمع إليه حلاوة بعده (أى بعدالخبز واللحم) فقد جمع الطيبات . (احياء العلوم الدين:۲/ ۲۳۸، کتاب آداب الاکل).

علامه سید مرتضی زبیدي رحمه الله د دې عبارت په تشریح کي وایي:

فالذي تخلص هنا من معانى الطيبات تقديم الفاكهة أولاً ثم اللحم وخيره السمين وخير اللحم السمين ما كان نضيجاً قد أجيد طبخه بتوابل ثم الماء البارد وحده أو مخلوطاً بعسل أوسكر أو نقع فيه الزبيب ثم الحلاوة ثم غسل اليد بالماء، فكل ذلک داخل فی حد الطيبات. (اتحاف السادة: ۵/ ۲۵۵).

د امام غزالي رحمه الله د عبارت څخه د ډوډئ ترتیب دا ډول معلومیږي چي که چیري پر دستر خوان میوه وغیره وي، نو هغه دي د مخه کړي، بیا دي غوښه ډوډئ وغیره وخوري او خواږه خواره دي بالکل په آخر کي وخوري، په دې ترتیب سره يې ګواکي ټول طیبات سره جمع کړل.

قال الإمام القرطبی: قلت: أولى من التوهيم أن يقال: القصة واحدة، ليس فيها وهم فإنه يمكن أن يقال: اجتمع في تلك الوليمة الأمران، فأكل قوم الخبز واللحم حتى شبعوا وانصرفوا، ثم إنه لما جاء الحيس استدعى الناس وجرى ما ذكر، وهذا كله والمتحدثون في بيته جلوس لم يبرحوا إلى أن خرج النبي ﷺ ودار على بيوت أزواجه على ما تقدم، وليس في

تقدير هذا بعد ، ولا تناقض . وإذا أمكن هذا حملناه عليه ، وكان أولى من تطريق الوهم للثقات والأثبات ، من غير ضرورة تدعو إليه ، ولا أمر بينٍ يدل عليه، والله أعلم . (المفهم لماشكل من تلخيص كتاب مسلم:۱۳/ ۱۷).

دامام قرطبي رحمه الله د تطبيق څخه معلوميږي چې په وليمه کې دوې خبرې جمع سوې:

۱ – غوښه او ډوډۍ يې ورکړه او ډېر خلک سره ولاړل.

۲ – بيا چې کله حلوا راغله، نو خلک يې د دوهم ځل له پاره را وغوښتل او حلوا يې وروسته وخوړله د ځينې نورو رواياتو څخه معلوميږي چې مېوه يې وروسته خوړلې ده.

په ترمذي شريف کې راځي:

عن عبيد الله بن عكراش عن أبيه عكراش بن ذؤيب قال : بعثني بنو مرة بن عبيد بصدقات أموالهم إلى رسول الله ﷺ فقدمت عليه المدينة فوجدته جالساً بين المهاجرين والأنصار قال : ثم أخذ بيدي فانطلق بي إلى بيت أم سلمة فقال : هل من طعام ؟ فأتينا بجفنة كثيرة الثريد والوذر وأقبلنا نأكل منها فخبطت بيدي من نواحيها وأكل رسول الله ﷺ من بين يديه فقبض بيده اليسرى على يدي اليمنى ثم قال : يا عكراش كل من موضع واحد فإنه طعام واحد ثم أتينا بطبق فيه ألوان الرطب أو من ألوان الرطب عبيد الله شك، قال : فجعلت آكل من بين يدي وجالت يد رسول الله صلى الله عليه و سلم في الطبق وقال: يا عكراش كل من حيث شئت فإنه غير لون واحد ... الخ. (رواه الترمذى، رقم: ۱۸۴۸، وقال: هذا حديث غريب لانعرفه الامن حديث العلاء بن الفضل وقد تفرد العلاء بهذا الحديث ولانعرف لعكراش عن النبى ﷺ الاهذا الحديث، وابن ماجة، رقم: ۳۲۷۴).

د ځينو رواياتو څخه معلوميږي چې د سختې لوږې په وخت کې يې لومړی مېوه وخوړه او بيا يې غوښه وغيره وخواړه.

په صحیح ابن حبان، شعب الایمان وغیره کي یو اوږد روایت دئ چي رسول الله ﷺ حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه (په بیهقي وغیره کي د ابو الهیثم بن التیهان ذکر دي) د حضرت ابو ایوب انصاري رضی الله عنه کور ته ولاړل هغوی لومړی خورماوي ورته وړاندی کړي وروسته بزه ذبح سوه غوښه او ډوډئ یې وروسته وخوړل.

په صحیح ابن حبان کي وګورئ:

عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه قال: خرج أبو بكر رضي الله عنه بالهاجرة إلى المسجد، فسمع بذلك عمر رضي الله عنه فقال: يا أبا بكر رضي الله عنه ما أخرجك هذه الساعة؟ قال: ما أخرجني إلا ما أجد من حاقّ الجوع، قال: وأنا والله ما أخرجني غيره، فبينما هما كذلك ، إذ خرج النبي صلى الله عليه وسلم.... فانطلقوا حتى أتوا باب أبي أيوب الأنصاري ... إلى قوله قال: فانطلق، فقطع عذقاً من النخل فيه من كل التمر والرطب والبسر، فقال النبي صلى الله عليه وسلم: ما أردت إلى هذا،ألا جنيت لنا من تمره؟ فقال: يا نبي الله، أحببت أن تأكل من تمره ورطبه وبسره، ولأذبحن لك مع هذا.... فأخذ عناقاً أو جدياً، فذبحه، وقال لامرأته: اخبزي واعجني لنا وأنت أعلم بالخبز، فأخذ الجدي، فطبخه وشوى نصفه، فلما أدرك الطعام، وضع بين يدي النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه،فأخذ من الجدي، فجعله في رغيف....الخ. (رواه ابن حبان فی صحیحه، رقم: ۵۲۱۶). (وكذا رواه البيهقی فی الشعب، رقم: ۴۲۸۴).

د دغه روایت څخه معلومیږي چي د مېلمستیا شروع په مېوه وغیره خوړو شیانو وسوه وروسته یې غوښه او ډوډئ وخوړل، همدا رنګه د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها د روایت څخه نبیذ کوم چي خواره وي د ډوډئ وروسته یې څښل ثابت دي.

په ابو داؤد شریف کي وګورئ:

عن عائشة رضى الله عنها أنها كانت تنبذ للنبی ﷺ غدوةً فإذا كان من العشی فتعشی شرب على عشائه وإن فضل شیء صببته أو فرغته ثم تنبذ له بالليل فإذا أصبح تغدى فشرب على

غدائه قالت: نغسل السقاء غدوةً وعشيةً فقال لها: أبی مرتين فی يومٍ قالت: نعم. (رواه ابو داود، رقم: ۳۷۱۴، اسناده حسن).

وكذا رواه أحمد فی مسنده، رقم:۲۴۹۳۰، وقال شعيب: حدث صحيح وهذا إسناد ضعيف لجهالة حال عمرة عمة مقاتل بن حيان فقد انفرد بالرواية عنها مقاتل.

لنهه دا چي مېوه وغيره په شروع کي خوړل ښه دي او د خوړو خوړو وروسته خوړل ښه دي، خو بيا هم دواړه ډوله بالکل روا دي. والله ﷻ اعلم.

په کاچوغه او يا په پنځو ګوتو سره د خوراک کولو حکم

سوال: په عام ډول وريجي او کتغ سره ګډ وي او په پنځو ګوتو يې خوري او په دې صورت کي ډوډۍ په درو ګوتو نه خوړل کيږي، نو آيا په کاچوغه سره يې خوړل ښه دي او که نه؟ آيا په کاچوغه او پنځو ګوتو خوراک کول سره برابر دي او که نه؟

الجواب: د ډوډۍ خوړلو درې درجي دي:

۱ــ په درو ګوتو خوړل او دا سنت دي د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو همېشني عمل دئ.

۲ــ په پنځو ګوتو سره خوراک کول د ضرورت پرته خلاف اولی دي، هو، د ضرورت په وخت کی مثلاً چي ډوډۍ نرمه وي، نو بيا روا دي.

په کاچوغه سره خوراک کول دا هم مباح او روا دی بلکي په ځينو وختو کي تر پنځو ګوتو ډوبولو په کاچوغه خوراک کول ښه دي.

په مسلم شريف کي راځي:

عن كعب رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ كان يأكل بثلاث أصابع فإذا فرغ لعقها. (رواه مسلم، رقم: ۲۰۳۲). (وكذا رواه ابو داود، رقم: ۳۸۵۰، والدارمی، رقم: ۲۰۷۶، واحمد فی مسنده، رقم: ۲۷۱۶۹، والبزار، رقم: ۳۸۲۰، وابن ابی شيبة فی مصنفه، رقم: ۲۴۹۵۵، والطبرانی فی الکبير، رقم: ۱۵۵۴۴).

قال ابن حجر فى الفتح: فيحتمل أن يكون أطلق على الأصابع اليد، ويحتمل وهو الأولى أن يكون المراد باليد الكف كلها فيشمل الحكم من أكل بكفه كلها أو بأصابعه فقط أو ببعضها، وقال بن العربي في شرح الترمذي: يدل على الأكل بالكف كلها أنه صلى الله عليه و سلم كان يتعرق العظم وينهش اللحم، ولا يمكن ذلك عادة الا بالكف كلها، وقال شيخنا فيه نظر، لأنه يمكن بالثلاث، سلمنا لكن هو ممسك بكفه كلها لا أكل بها، سلمنا لكن محل الضرورة لا يدل على عموم الأحوال، ويؤخذ من حديث كعب بن مالك رضي الله عنه أن السنة: الأكل بثلاث أصابع وأن كان الأكل بأكثر منها جائزاً... فإن اضطر إلى ذلك لخفة الطعام وعدم تلفيفه بالثلاث فيدعمه بالرابعة أو الخامسة، وقد أخرج سعيد بن منصور من مرسل بن شهاب أن النبي صلى الله عليه و سلم كان إذا أكل أكل بخمس، فيجمع بينه وبين حديث كعب باختلاف الحال. (فتح الباری: ۹/ ۵۷۸، باب لعق الاصابع).

په عمدة القاري كي راځي:

وقال ابن العربي: فإن شاء أحد أن يأكل بالخمس فليأكل فقد كان النبي ﷺ يتعرق العظم وينهش اللحم ولا يمكن أن يكون ذلك في العادة إلا بالخمس كلها... والأمر فيه أن السنة أن يأكل بالأصابع الثلاث وإن أكل بالخمس فلا يمنع، ولكنه يكون تاركاً للسنة إلا عند الضرورة فافهم. (عمدة القارى: ۱۴/ ۴۵۴، دار الحديث، ملتان). (وكذا قال المناوى فى فيض القدير، رقم: ۶۹۴۲).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (شمائل كبرى: ۱/ ۳۵).

په پنځو ګوتو سره د خوړا كولو په اړوند د امام زهري رحمه الله مرسل روايت دئ وګورئ:

قال ابن أبي شيبة: حدثنا معن بن عيسى ، عن محمد بن عبد الله بن أخي الزهري ، قال : أخبرتني أختي ؛ أنها رأت الزهري يأكل بخمسٍ ، فسألته عن ذلك ؟ فقال : كان النبي ﷺ يأكل بالخمس. (مصنف ابن ابی شیبة: ۲۴۹۵۳).

مگر د محدثينو په آند مراسل زهری د ((ليس بشيء)) په درجه کي دئ، لهذا دېر قبول نه دئ.

په المدخل کي راځي:

وينبغي أن يأكل بثلاثة أصابع من يده اليمين وهى المسبحة والإبهام والوسطى إلا أن يكون ثريداً وما أشبهه فيأكل بالخمسة منها كذلک نقل عن السلف الماضين رضى الله عنهم أجمعين. (المدخل لابن الحاج المالكی: ۱/ ۲۳۰، دار الفکر).

په سلسلة الآداب الاسلاميه کي راځي:

لو كان الإنسان يستطيع أن يأكل بثلاث أصابع والطعام يؤكل بثلاث أصابع، لأن من الطعام ما يؤكل بثلاث أصابع ومنه ما لا يؤكل بثلاث أصابع، فمثلاً: ما كان متماسكاً كالثريد، وكالتمر المخلوط بالسمن والزبد (حيس) هذا يمكن أن يأكل بالثلاث أصابع، لا داعي أن يأكل بالخمس أبداً، فلو قيل لك: تأكله بثلاث أصابع أو تأكل بالملعقة أيهما هو السنة؟ بثلاث أصابع أفضل، لكن بين الخمس وبين الملعقة قد تكون الملعقة أقرب إلى السنة من الخمس، ثم إن الذين يستخدمون الخمس ليسوا سواء، فبعضهم يستخدمها استخداماً جيداً، وبعضهم يستخدمها استخداماً في غاية الرداءة. (سلسلة الآداب الاسلامية:۹/ ۷۳، لمحمد صالح المنجد).

په غذا الالباب کي راځي:

فائدة : لا بأس بالأكل بالملعقة كما في الإقناع وغيره . وذكر الجلال السيوطي في الأوائل أن أول من اتخذ الملعقة سيدنا إبراهيم الخليل عليه وعلى نبينا أفضل الصلاة وأتم التسليم .
(غذاءالالباب: ۲/ ۷۴، للشيخ السفارينی الحنبلی، ط: بيروت).

په الاقناع كي راځي: ولابأس بالأكل بالملعقة. (الاقناع: ۳/ ۲۳۳، ط: بيروت).

په الموسوعه الفقهيه كی راځي:

السنة الأكل بثلاثة أصابع ، قال عياض : والأكل بأكثر منها من الشره وسوء الأدب ، ولأنه غير مضطر لذلك لجمعه اللقمة وإمساكها من جهاتها الثلاث : وإن اضطر إلى الأكل بأكثر من ثلاثة أصابع ، لخفة الطعام وعدم تلفيقه بالثلاث يدعمه بالرابعة أو الخامسة هذا إن أكل بيده ، ولا بأس باستعمال الملعقة ونحوها كما يأتي . (الموسوعة: ۶/ ۱۲۱، وزارة الاوقاف).

حضرت مولانا يوسف لدهيانوی وايي:

پنځو ګوتو خوراک کول روا دي. (آپ کی مسائل اوران کا حل: ۸/ ۳۸۳، طبع جدید).

بل ځای ليکي:

په لاس سره خوراک کول سنت دي په کاچوغه سره خوراک کول روا دي. (آپ کی مسائل اوران کا حل: ۸/ ۳۸۶، طبع جدید).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

په کاچوغو او نښاخ سره د څه ضرورت پرته خوراک کول په خاص ډول د نښاخ استعمالول د سنت طريقې څخه خلاف دي او يو ډول کراهت پکښي دئ.

رسول الله ﷺ به په لاسونو سره ډوډئ خوړل. كما ورد فی الترمذي ابن ماجه وغيرهما عن أبی هريرة رضی الله عنه يدل على هذا.

هو د کوم ضرورت له امله يې په خوراک کولو کي څه حرج نه سته. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۳۴۰).

والله تعالیٰ اعلم.

د ډوډۍ خوړلو وختونه

سوال: په ورځ کې څو واره او په کوم وخت کې ډوډۍ خوړل په کار ده، يو سړی د خپل طاقت مطابق د سنت نبوي د اتباع کول کوښښ کوي هغه دا معلومات کول غواړي چې په شپه او ورځ کې څو واره ډوډۍ خوړل ثابت يا مستحب ده؟

الجواب: د ډوډۍ خوړلو د وخت په اړه په احاديثو کې دوه لفظ راځي:

۱ – غدا، يعنی د سهار ډوډۍ.

۲ – عشاء، يعنی د ماښام ډوډۍ چې له دې څخه معلوميږي چې په شپه او ورځ کې يوازې دوه وخته سهار او ماښام د نبي کريم ﷺ څخه ډوډۍ خوړل ثابت دي، هغه چې به هم پيدا سو که نه ډېر وخت به پيدا کېدل نه.

په صحيح ابن حبان کې وګورئ:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه إن رسول الله ﷺ لم يجمع له غداء ولا عشاء من خبز ولحم إلا على ضفف. قال شعيب الأرنؤوط: وإسناده صحيح على شرط الشيخين. (رقم: ۶۳۵۹).

په مسند ابی عوانه کې راځي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: أخذ رسول الله ﷺ بيدي ذات يوم فذهب بي إلى منزله فلما انتهينا قال: (ائتونا غداء أو عشاء) قال: فأخرج إليه فلق من خبز فقال: هل من أدم قالوا: لا إلا شيء من خل قال: ادنه فإن الخل نعم الأدم هو قال جابر: فما زلت أحب الخل منذ سمعته من رسول الله ﷺ. (۸۳۶۴).

ورواه أحمد (رقم: ۱۵۲۹۳) قال شعيب الأرنؤوط: حديث صحيح وهذا إسناد قوي على شرط مسلم رجاله ثقات رجال الشيخين غير طلحة بن نافع فمن رجال مسلم وهو صدوق لا بأس به.

په ابن ماجه کې راځي:

عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال: ما كنا نقيل ولا نتغدى إلا بعد الجمعة. (رواه البخاري، رقم: ۸۳۹، ومسلم، رقم: ۸۵۹).

په ترمذي شريف كي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يبيت الليالي المتابعة طاوياً وأهله لا يجدون عشاء وكان أكثرهم خبزهم خبز الشعير. (رواه الترمذي، رقم: ۲۳۶۰، وقال: هذا حديث حسن صحيح).

په مسند ابى يعلى كي راځي:

عن عائشة قالت : ما شبع آل محمدٍ غداءً ولا عشاءً من خبز الشعير ثلاثة أيامٍ متتابعاتٍ حتى لحق بالله. قال حسين سليم أسد: إسناده صحيح. (مسند ابى يعلى، رقم: ۴۵۴۰).

وفي رواية عنها أنها قالت: ما شبع آل محمد يومين من غداء أو عشاء حتى مضى لسبيله. (تهذيب الآثار، رقم: ۴۵۴).

عن عائشة رضي الله عنها قال: ربما دعا رسول الله صلى الله عليه وسلم بغداءه فلا يجده، فيفرض عليه صوم ذلك اليوم. (مصنف ابن ابى شيبة: ۶/ ۱۶۴/ ۹۱۹۸، المجلس العلمى).

عن منصور بن زاذان ، عن الحسن ، قال : كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يؤاسي الناس بنفسه، حتى جعل يرقع إزاره بالأدم ، وما جمع بين عشاءٍ وغداءٍ ثلاثة أيامٍ ولاءً حتى قبضه الله. (مصنف ابن ابى شيبة: ۱۹/ ۱۲۹/ ۳۵۵۶۹).

عن عائشة رضي الله عنها: أنها كانت تنبذ لرسول الله صلى الله عليه وسلم غدوةً فإذا كان من العشى فتعشى شرب على عشائه فإن فضل شىء صببته أو فرغته ثم تنبذ له بالليل فإذا أصبح تغدى فشرب على غدائه قالت: نغسل السقاء غدوةً وعشيةً فقال لها أبى : مرتين فى يومٍ؟ قالت : نعم. (السنن الكبرى للبيهقى: ۸/ ۳۰۰، دار المعرفة).

عن عائشة قالت رضي الله عنها كنا ننبذ لرسول الله صلى الله عليه وسلم في سقاءٍ يوكى أعلاه وله عزلاء ننبذه غدوةً فيشربه عشاءً وننبذه عشاءً فيشربه غدوةً. (رواه مسلم: ۲/ ۱۶۸، باب اباحة النبيذ).

یعنی کوم نبیذ چې به سهار جوړېدل هغه یې ماښام د ډوډۍ وروسته څښل او کوم چې به ماښام جوړېدل هغه یې د سهار د ډوډۍ وروسته استعمالول.

په مذکوره ټولو روایاتو کې د غدا او عشاء الفاظ راغلي دي او په لغات الحدیث کې راځي:

((غداء)) د سهار ډوډۍ او ((عشاء)) د ماښام ډوډۍ. (لغات الحدیث: ۳/ ۱۱۳، ۱۲).

په تفسیر جلالین کې راځي:

قوله تعالى: ﴿ولهم رزقهم فيها بكرة وعشيا﴾ أي على قدرهما في الدنيا. (تفسیر جلالین، سورة مریم، الآية: ۶۲).

په معارف القرآن کې راځي:

د سهار او ماښام د تخصیص وجه د انساني فطرت او عادت پر بناء ده چې هغه سهار او ماښام د ډوډۍ خوړلو عادت وي. حضرت انس رضي الله عنه دغه روایت تلاوت کړ او وې ویل چې له دې څخه معلومېږي چې د مسلمانانو ډوډۍ په ورځ کې دوه واره وي، سهار او ماښام. (معارف القرآن: ۶/ ۴۶).

مګر کله نا کله به پر رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو څو څو ورځې د لوږې په حالت کې تېرېدلې. والله تعالى اعلم.

د ډوډۍ په چاړه پرېکولو حکم

سوال: آیا ډوډۍ یا غوښه په چاړه سره پرېکول روا دي او که نه؟ د احادیثو په رڼا کې جواب را کړئ؟

الجواب: ډوډۍ په چاړه پرېکول ښه کار نه دی ځکه چې ډوډۍ په لاس سره ښه په آسانۍ سره پرېکېږي، هو، غوښه په چاړه سره پرېکول صحیح دي ځکه چې په لاس سره یې په پرېکولو کې د بد ښکار کېدو پرته د ضائع کېدلو خطره هم سته او په عام ډوډیو کې دا خطره نه وي، هو که چیرې ډېر لویه ډوډۍ وي، نو د هغې په پرېکولو کې څه حرج نه سته چې هر چا ته په خپله اندازه ورسېږي.

یاده دې وي چې د ډوډۍ په چاړه پرېکولو روایات ضعیف دي او پر خلاف اولی باندې محمول دي:

ضعیف روایات وګورئ:

روى الطبراني فى «الكبير» (٦٢٤) بسنده عن أم سلمة أن النبي ﷺ قال: لا تقطعوا الخبز بالسكين كما تقطعه الأعاجم وإذا أراد أحدكم أن يأكل اللحم قلا يقطعه بالسكين ولكن ليأخذه بيده فلينهشه بفيه فإنه أهنأ وأمرأ.

د ځيني صحيح رواياتو څخه معلوميږي چي رسول الله ﷺ غوښه په چاړه پرېکړي ده خوړلي ده او په ځينی رواياتو کي راځي چي رسول الله ﷺ په چاړه پرې پرې کړه او د مېلمانه مخته يې کښېښوده.

والبيهقي في شعب الإيمان(٦٠٠٧)، قال الهيثمي: فيه عباد بن كثير الثقفى وهو ضعيف. (مجمع الزوائد: ٥/ ٣٧، دار الفكر).

عن أبى هريرة ﷺ قال: نهى رسول الله ﷺ أن يقطع الخبز بالسكين وقال: أكرموه فإن الله عزوجل قد أكرمه. قال الدار قطني تفرد به نوح وهو متروك. (الآلى المصنوعة:٢/ ١٨١).

وكذلك قال مسلم بن الحجاج وابو حاتم الرازى: هو متروك (الموضوعات لابن الجوزى:٢/ ٢٩٢).

په درمختار کي راځي:

وجاء لا تقطعوا الخبز بالسكين وأكرموه فإن الله أكرمه، وقال فى الشامية: قوله (وجاه إلخ) قال مشايخنا الشيخ إسماعيل الجراحي في الأحاديث المشتهرة « لا تقطعوا الخبز...» قال الصغاني موضوع، وفي المجتبى: لا يكره قطع الخبز واللحم بالسكين، والله تعالى أعلم. (الدر المختار مع رد المحتار: ۶/ ۳۸۴، سعيد).

وفى الفتاوى الهندية: قال علاء الترجماني يكره قطع الخبر بالسكين وقال أبوالفضل الكرماني وأبو حامد لا يكره كذا فى القنية. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٤١، فى الكراهية فى الاكل).

وللاستزادة انظر: (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۶/ ۱۲۳، ط: وزارة الاوقاف والمحلى لابن حزم:۵/ ۴۹۵، والآداب الشرعية لابن مفلح: ۳/ ۳۵۷، وسلسلة الآداب الاسلامية:۹/ ۶۲). والله ﷻ اعلم.

د چرګ د وريجو سره د يو ځای خوړلو حکم

سوال: ډېر خلک وريجي او چرګان خوښه وي، يو سړی پوښتنه وکړه چي آيا د رسول الله ﷺ شخه د وريجو او چرګانو جلا جلا خوړل يا يو ځای خوړل ثابت دي او که نه؟

الجواب: د رسول الله ﷺ شخه د چرګ خوړل ثابت دي، البته د وريجو د خوړلو په اړه زموږ په نظر کوم روايت راغلی نه دئ، هو په ځيني ضعيفو رواياتو کي يې وريجي په سيد الطعام کي داخلی کړي دي.

په بخاری شريف کي وګورئ:

عن زهدمٍ قال: كنا عند أبي موسى الأشعري، وكان بيننا وبين هذا الحى من جرمٍ إخاء فأتي بطعامٍ فيه لحم دجاجٍ وفي القوم رجل جالس أحمر فلم يدن من طعامه قال: ادن فقد رأيت رسول الله ﷺ يأكل منه .... (رواه البخاری، رقم: ۵۵۱۸).

(وأيضاً رواه مسلم، رقم: ۱۶۴۹، وابن حبان فی صحيحه، رقم: ۵۲۵۵، والترمذی، رقم: ۱۸۲۷، وغيرهم من المحدثين).

وعن علي رضي الله عنه مرفوعاً سيد طعام أهل الدنيا اللحم والأرز. (جمع الوسائل فی شرح الشمائل: ۱/ ۲۱۰، ط: اداره تاليفات اشرفيه).

قال السخاوي: عن علي رضي الله عنه رفعه بلفظ: سيد طعام أهل الدنيا اللحم ثم الأرز أخرجه أبو نعيم فی الطب النبوی، وعن صهيب بلفظ سيد الطعام فی الدنيا والآخرة اللحم ثم الأرز وسيد الشراب فی الدنيا والآخرة: لماء. أخرجه الديلمی من الحاكم ثم من طريق هشيم عن عبد الحميد بن صيفی بن صهيب عن أبيه عن جده به مرفوعاً. (المقاصد الحسنة، ص ۳۹۳).

وللمزيد انظر: (كشف الخفاء:۱/ ۱۵۴، ۴۶۱، وتنزيه الشريعة: ۲/ ۳۰۴).

قال أبو نعيم فی «الطب النبوی» (۲/ ۷۳۵/ ۸۴۹) حدثنا عبد الله بن محمد بن عثمان حدثنا عبد الله بن محمد بن عامر الطائی حدثنی أبی حدثنی علی بن موسی عن أبیه موسی عن جعفر بن محمد عن أبیه محمد عن أبیه علی عن أبیه الحسین عن أبیه علی رضوان الله تعالی علیهم قال: قال رسول الله ﷺ: سید طعام الدنیا اللحم ثم الأرز.

قال المناوی في «فیض القدیر» (رقم: ۴۷۵۷)... أبو نعیم فی الطب النبوی من حدیث عبد الله أحمد بن عامر الطائی... وعبد الله هذا ضعیف جداً قال الذهبی فی کتاب الضعفاء والمتروکین: عبد الله بن أحمد بن عامر عن أبیه عن أهل البیت له نسخة باطلة، ولهذا أورده ابن الجوزی فی الموضوعات.

لنډه دا چې دا دوړيجو والا روايت ډېر ضعيف دئ.

قال ابن القیم فی «الطب النبوی» (۲۱۹): أرز: فیه حدیثان باطلان موضوعان علی رسول الله ﷺ أحدهما: أنه لوکان رجلاً، لکان حلیماً، الثانی: کل شيء أخرجته الأرض ففیه داء وشفاء إلا الأ رز فإنه شفاء لا داء فیه، ذکرناهما تنبیهاً وتحذیراً من نسبتهما إلیه صلی الله علیه وسلم. والله ﷻ اعلم.

د اومو غوښو خوړلو حکم

سوال: اومه غوښه خوړل روا دي او که نه؟ يعني چې حيوان په شرعي طريقه سره ذبح کړي او يو څوک د هغه اومه غوښه خوري نو څه حکم يې دئ؟

الجواب: شريعت مطهره د انسان د صحت او جوړتيا په نظر کې نيولو سره د ضرر رسونکو شيانو د خوړلو اجازه نه ده ورکړې، نو که چيرې يو شی پاک وي او حلال هم وي مګر د ضرر رسولو انديښنه يې وي، نو د هغه شی خوړل مکروه دی، نو پر همدې بنياد باندې که چيرې اومه غوښه د انسان جسم ته نقصان رسوي، نو د هغې خوړل روا نه دی، هو که د نقصان رسولو انديښنه نه وي، نو بيا اومه غوښه خوړل روا ده.

په الموسوعه کې راځي:

ما يحرم أكله لأسبابٍ مختلفةٍ: يظهر من الاستقراء وتتبع تعليلات فقهاء المذاهب فيما يحكمون بحرمة أكله أنه يحرم أكل الشيء مهما كان نوعه لأحد أسباب خمسةٍ:-

السبب الأول: الضرر اللاحق بالبدن أو العقل: ولهذا أمثلة كثيرة: منها: الأشياء السامة...

ومنها: الأشياء الضارة وإن لم تكن سامةً، وقد ذكر منها في كتب الفقه: الطين، والتراب، والحجر، والفحم، على سبيل التمثيل، وإنما تحرم على من تضره . ولا شك أن هذا النوع يشمل ما كان من الحيوان أو النبات أو الجماد، ويعرف الضار من غير الضار من أقوال الأطباء والمجربين .

ولا فرق في الضرر الحاصل بالسميات أو سواها بين أن يكون مرضًا جسمانيا أيا كان نوعه ، أو آفةً تصيب العقل كالجنون والخبل . (الموسوعة الفقهية:۵/ ۱۲۵، ط: وزارة الاوقاف).

په فتاوی هنديه کې راځي:

أكل الطين مكروه ، هكذا ذكر في فتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى وذكر شمس الأئمة الحلواني في شرح صومه: إذا كان يخاف على نفسه أنه لو أكله أورثه ذلك علةً أو آفةً لا يباح له التناول ، وكذلك هذا في كل شيءٍ سوى الطين ، وإن كان يتناول منه قليلًا أو كان يفعل ذلك أحيانا لا بأس به ، كذا في المحيط.... وكراهية أكله لا للحرمة بل لتهييج الداء. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۴۱). (وكذا فى المحيط البرهانى:۵/ ۲۰۶، الفصل الثانى عشر فى الكراهية فى الاكل، ط: دار احياء التراث العربى، ونصاب الاحتساب، ص ۱۴۸، الباب العاشر، فى الاحتساب فى الاكل والشرب والتداوى، ونفع المفتى والسائل، ص ۳۷۹، ما يتعلق بالاكل والشرب، ط: دار ابن حزم).

په نفع المفتى والسائل کې راځي:

الاستفسار: أي ماء طهور يجوز الوضوء به، ولا يجوز شربه؟

الاستبشار: هو ماء مات فيه ضفدع بحري، وتفرق أجزاؤه فيه، فإنه لا يجوز شربه لضرره، وإن جاز الوضوء لطهارته. كذا في الغاز الأشباه والنظائر. (نفع المفتي والسائل، ص ۳۸۰، ط: دار ابن حزم).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

فقهاء کرامو د خاورو خوړلو څخه منع کړي ده ځکه چي هغه د صحت له پاره تاوان دئ او صحت د الله تعالی یو امانت دئ او د هغه ساتنه د هر انسان اسلامي او انساني فریضه ده مګر که چیري د هغې دومره اندازه وخوړل سي چي د انسان صحت ته تاوان نه رسوي، نو ګناه نه لري. (کتاب الفتاوی: ۶/ ۱۸۲). والله تعالی اعلم.

د هګۍ خوړلو حکم

سوال: که چیري په کوم حدیث کي د هګۍ خوړلو ذکر وي نو حواله یې راته ولیکي؟

الجواب: په صحیح حدیث کي د هګۍ ذکر راځي، البته د هګۍ د خوړلو په اړه کوم حدیث په نظر راغلی نه دئ.

د صحیحینو په روایت کي یې وګورئ:

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من اغتسل يوم الجمعة غسل الجنابة . ثم راح في الساعة الأولى فكأنما قرب بدنةً ، ومن راح في الساعة الثانية، فكأنما قرب بقرةً ، ومن راح في الساعة الثالثة، فكأنما قرب كبشًا أقرن ، ومن راح في الساعة الرابعة، فكأنما قرب دجاجةً، ومن راح في الساعة الخامسة، فكأنما قرب بيضةً، فإذا خرج الإمام حضرت الملائكة يستمعون الذكر. (متفق عليه).

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لعن السارق، يسرق البيضة، فتقطع يده، ويسرق الحبل فتقطع يده. (متفق عليه).

که څه هم د هګۍ خوړلو احادیث موږ ته صراحةً په نظر راغلی نه دئ مګر د لاندي دلائلو له امله د هغې خوړل ثابتیږي:

۱- د هګۍ پر خوړلو اجماع ده او د امت تعامل دئ په داسي شيانو کي د حديث چندان ضرورت نه سته، مثلاً د کاميبني د شيدو په استعمالولو کي يا په تراويح کي د قرآن کريم پر ختم د امت تعامل دئ که څه هم په دې کي کوم صريح حديث په نظر راغلی نه دئ.

۲- رسول الله ﷺ چرګ خوړلی دئ او هګۍ د چرګي جز دئ او دا د حرام او مکروه اعضاؤ څخه هم نه ده.

۳- په لوړ حديث کي د مخه شيان ټول د ماکولاتو د جملې څخه دي مثلاً اوښ، غوائې، پسه، چرګ وغيره، نو يقيناً هګۍ هم ماکول دي.

۴- د دوهم حديث شريف څخه معلوميږي چي که د خوراک يو معمولي شی غلا کړي د لاس پرېکولو مستحق ګرځي. والله ﷻ اعلم.

په خوراک کي د هګۍ د پوستوکو حکم

سوال: د پخولو په وخت کي د هګۍ پوستکي په لوښی کي ولوېدئ، پوستکي يې دستي ورڅخه لېري کړي او هګۍ يې وخوړل، آيا د داسي هګۍ خوړل صحيح دي؟ ياده دي وي چي پوستکي بالکل پاک صاف ؤ؟

الجواب: په دې صورت کی د هګۍ خوړل صحيح دي ځکه چي د هګۍ پوستکي پاک دئ، هو که چيري پر هغه کوم ښکاره نجاست ؤ، نو په لړو اوبو کي چي ولوېږي اوبه ناپاکه کيږي.

په فتاوى شامي کي وګورئ:

البيضة الرطبة أو السخلة إذا وقعت من الدجاجة أو الشاة في الماء لا تفسده. (فتاوى الشامي: ۱/ ۲۱۲، فصل فی البئر، سعيد).

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

بيضة سقطت من الدجاجة في مرقة أو ماء لا يفسد ذلک الماء. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۲، فصل فيما يقع فی البئر).

په نفع المفتی والسائل کي راځي:

الاستفسار: البيضة إذا وقعت من الدجاجة وهي رطبة فوقعت فى المرقة، هل تنجس؟

الاستبشار: لا تنجس،... الخ. (نفع المفتى والسائل، ص:۹۴). (وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۴/ ۲۲). والله ﷻ اعلم.

د کیلې خوړلو طریقه

سوال: د کیلې خوړلو څه طریقه ده، ځینی خلک وایي چې د خوراک په وخت کي دي دري برخي کړي بيا دي وخوریځ؟آیا دا طریقه ثابته ده؟

الجواب: کیله دي په راسته لاس سره ونیسي او په چپه لاس دي پوستکي ورڅخه جلا کړي، بسم الله دي ووایي او په راسته لاس دي وخوري او د الله ﷻ شکر دئ اداء کړی او په خوراک کی دي اسراف نه کوي، که چیري یو دوست موجود وي هغه ته دي هم ورکړي.

په حدیث شریف کي وګوریځ:

عن عمر بن أبى سلمة ﵁ قال: قال لى رسول الله ﷺ : سم الله وكل بيمينك، وكل مما يليك. متفق عليه.

وعن سلمة بن الأكوع ﵁ أن رجلاً أكل عند رسول الله ﷺ، بشماله، فقال: كل بيمينك، قال: لا أستطيع! قال: لا استطعت، ما منعه إلا الكبر، قال: فما رفعها إلى فيه. (رواه مسلم، رقم: ۲۰۲۱).

قال الإمام النووى فى باب التسمية عند الأكل والشرب من الأذكار (ص ۲۷۵، ط: بيروت):

فصل: من أهم ما ينبغي أن يعرف صفة التسمية وقدر المجزئ منها، فاعلم أن الأفضل أن يقول: بسم الله الرحمن الرحيم، فإن قال: بسم الله، كفاه وحصلت السنة.

وفى الطحطاوى على الدر المختار: قوله وسنة الأكل البسملة فى أوله ... وإذا قلت: بسم الله فارفع صوتک حتى تلقن من معک تتار خانية. (۴/ ۱۷۱، ط: کوئته). (وكذا فى فتاوى

الشامی:۶/ ۳۴۰، سعید، ومجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر:۴/ ۱۸۱، ط: بیروت، والاختیار لتعلیل المختار:۴/ ۱۸۶، ط: بیروت).

قال العلامة العيني رحمه الله في عمدة القاري: وأصرح ما ورد في صفة التسمية ما رواه أبو داود والترمذي من طريق أم كلثوم عن عائشة رضي الله عنها مرفوعاً: إذا أكل أحدكم الطعام فليقل: بسم الله ... قال العلماء:... وتحصل التسمية بقوله: بسم الله فإن اتبعها بالرحمان الرحيم كان حسناً. (عمدة القاری: ۱۴/ ۳۸۶، کتاب الاطعمة، باب التسمية على الطعام).

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن سعد بن مسعود الثقفي قال: إنما سمي نوح عبداً شكوراً لأنه إذا أكل وشرب حمد الله. رواه الطبراني وتابعيه سعد بن سنان لم أعرفه،وبقية رجاله رجال الصحيح. (مجمع الزوائد:۵/ ۲۹، دار الفکر).والله ﷻ اعلم.

پر دسترخوان د تللو حکم

سوال: پر دستر خوان تګ کول یا تر هغه پښه اړول که ډوډۍ موجود وي او که نه وي څه حکم لري؟

الجواب: د فقه په کتابو کي کومه صریح جزئیه په لاس راغلی نه ده، البته د ځیني احادیثو څخه معلومیږي چي مکروه تنزیهي دئ ځکه چي په حدیث کي راځي چي پر دستر خوان ګوله ولوېږي، نو پورته دي کړي او ودي خوري او په تګ کولو سره دستر خوان خرابیږي او ګوله نه خوړل کیږي او د ځیني احادیثو څخه خلاف آدب کار معلومیږي.

په حدیث شریف کي راځي:

چي برکت د ډوډۍ په منځ کي نازلیږي او د برکت د نزول پر ځای تګ کول بې ادبي ده.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن جابرٍ رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: إذا وقعت لقمة أحدكم فليأخذها فليمط ما كان بها من أذًى وليأكلها ولا يدعها للشيطان...الخ. (رواه مسلم، رقم: ۲۰۳۳).

په یو بل حدیث شریف کي راځي:

عن ابن عباس ﷺ أن النبي ﷺ قال: البركة تنزل وسط الطعام فكلوا من حافتيه ولا تأكلوا من وسطه. رواه الترمذي قال: هذا حديث حسن صحيح. (رقم: ۱۸۰۵). والله ﷻ اعلم.

د سوځلي ډوډئ او خراب کتغ د خوړلو حکم

سوال: د سوځلي ډوډئ یا سوځلو غوښو د خوړلو څه حکم دئ؟ همدا رنګه د خراب سوي کتغ د خوړلو اجازه سته او که نه؟

الجواب: ډوډئ که چیري ډېر سوځلي وي، نو د صحت له پاره د نقصان له امله د هغه خوړل مکروه دي مګر که لږ سوځلي وي او صفائې کړي وې خوري، نو څه پروا نه لري، همدا رنګه کتغ که چیري ډېر خراب سوي وي او بد بوې یې کړي وي، نو د هغه خوړل هم مکروه دي بلکي د تغیر پیدا کېدو څخه ناپاکه ګرځي او خوراک یې ناروا دئ، هو که لږ خراب سوي وي او بد بویې هم نه لري، نو د ضرورت په وخت کي یې د خوړلو اجازه سته.

په فتاوی قاضیخان کي راځي:

وإن ناول الطعام الفاسد أو الخبز المحترق فذلك جائز عندهم لأنه مأذون بذلك عادة. (فتاوى قاضيخان على هامش الفتاوى الهندية:۳/ ۴۰۶). (وكذا فى الجوهرة:۳/ ۲۸۹، والفتاوى الهندية: ۵/ ۳۴۴، ورد المحتار:۵/ ، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

أكل الطين مكروه ، هكذا ذكر في فتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى وذكر شمس الأئمة الحلواني في شرح صومه: إذا كان يخاف على نفسه أنه لو أكله أورثه ذلك علةً أو آفةً لا يباح له التناول ، وكذلك هذا في كل شيءٍ سوى الطين ، وإن كان يتناول منه قليلًا أو كان يفعل ذلك أحياناً لا بأس به ، كذا في المحيط ... وكراهية أكله لا للحرمة بل لتهييج الداء. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۴۱). (وكذا فى المحيط البرهانى:۵/ ۲۰۶، الفصل الثانى عشر فى الكراهية فى الاكل،ط: دار

احياء التراث العربى، ونصاب الاحتساب، ص ۱۴۸، الباب العاشر، فى الاحتساب فى الاكل والشرب والتداوى، ونفع المفتى والسائل،ص: ۳۷۹، ما يتعلق بالاكل والشرب، ط: دار ابن حزم).

په مسلم شريف كي روايت راځي:

عن أبى ثعلبة الخشنى رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: إذا رميت بسهمك فغاب عنك فأدركته فكله ما لم ينتن . (رواه مسلم، رقم: ۱۹۳۱).

وفي رواية له عنه عن النبي ﷺ قال: كله بعد ثلاثٍ إلا أن ينتن فدعه .(رواه مسلم، رقم: ۱۹۳۱).

واللحم إذا أنتن يحرم أكله والطعام إذا تغير واشتد تنجس. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۳۹).

په حاشية الطحطاوى كي راځي:

تنبيه: قال في النهاية: الاستحالة إلى فساد لا توجب نجاسة فإن سائر الأطعمة تفسد بطول المكث ولا تنجس، لكن يحرم الأكل في هذه الحالة للإيذاء لا للنجاسة كاللحم إذا أنتن يحرم أكله ولا يصير نجساً. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص: ۲۶، ط: بولاق). (وكذافى البحر الرائق: ۱/ ۱۱۹، والموسوعة: ۳۵/ ۲۰۹).

وفى الأشباه والنظائر: المرقة إذا أنتنت لا تتنجس والطعام إذا تغير واشتد تغيره تنجس وحرم. (الاشباه والنظائر: كتاب الطهارة).

په نفع المفتى والسائل كي راځي:

الاستفسار: المرقة إذا تغيرت وأنتنت، هل يجوز أكلها؟

الاتبشار: إن تغيرت تغيراً فاحشاً يحرم أكلها، فى القنية (صج): أى صلاة الجلابي: الطعام إذا تغير واشتد تغيره تنجس، وفى كتاب الاشربة: ان بالتغير لا يحرم، قال (مت): أى

مجد الأئمة الترجماني: فيحمل ما ذكره الجلابي على نهاية التغير، وما ذكره في الأشربة على نفس التغير. (نفع المفتى والسائل، ص: ۳۷۵، ما يتعلق بالاكل والشرب).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

که يو شی خراب سي او په هغه کي بد بويې پيدا سوي که چيري د هغه څخه نقصان پيښيدئ، نو خوراک يې حرام دئ ځکه چي د انسان صحت دا هم د الله تعالی يو نعمت دئ او د هغه ساتنه شرعاً فرض ده، نو ځکه فقهاء کرامو د خرابو غوښو خوړل حرام بللی دي.

په موجوده زمانه کي د نن سبا د ډرملتون د معلوماتو په رڼا کي فيصله کېدلای سي چي کوم کوم شيان د خرابېدو وروسته د انسان د صحت له پاره نقصان رسوي داسي ټول شيان حرام بلل کيږي. (کتاب الفتاوی: ۶/ ۱۸۱).

لنډه دا چي ځيني فقهاء کرامو وايي، چي کتغ وغيره د خرابېدو وروسته نه ناپاک کيږي، هو د هغه خوراک حرام دئ مګر ځيني فقهاء کرامو د ناپاکی قول غوره کړی دئ.

په قنيه کي يې دا تطبيق ورکړی دئ چي که چيري کتغ ډېر خراب سي او بد بويه سي، نو ناپاکه ګرځي مګر که ډېر زيات خراب نه وي، نو بيا ناپاکه نه ګرځي که څه هم خوړل يې په دواړو صورتو کي ناروا دئ، هو که لږ څه خراب سوي ؤ، نو د هغه خوړل روا دي، هو بيا هم خلاف اولی کار دئ.

په مرقات کي راځي:

قوله مالم ينتن... قال علماؤنا وهذا على طريق الاستحباب وإلا فالنتن (الخفيف) لا أثر له في الحرمة قال ابن الملك وقد روى أنه عليه السلام أكل متغير الريح، وقال النووي: النهي عن أكل المنتن محمول على التنزيه لا على التحريم وكذا سائر الأطعمة المنتنة إلا أن يخاف فيها ضرر. (المرقاة: ۸/ ۱۱۱، ط: امداديه، ملتان). (وكذا في تكملة فتح الملهم: ۳/ ۴۹۷). والله ﷻ اعلم.

د چینجي والا مېوى د خوړلو حکم

سوال: كه په مېوه كي چينجي پيدا سي، نو د هغه خوړل روا دي او كه نه؟

الجواب: كه په مېوه كي چينجي وي او معلوميدئ، نو د هغه خوړل ناروا دي، چينجي دي ورځخه لېري كړي بيا دي وخوري، هو كه چيري په هغو كى تر اوسه روح او حركت پيدا سوي نه وه، نو د مېوى سره تبعاً خوړل كېدلاى سي او مولانا عبد الحي لكهنوى رحمه الله د مطالب المؤمنين ځخه نقل كړي دي چي كه د هغه را ايستل او ځان ورځخه ساتل مشكل وي، نو بيا يې هم خوړلاى سي.

په فتاوى شامي كي وګورئ:

ولا بأس بدود الزنبور قبل أن ينفخ فيه الروح لأن ما لا روح له لا يسمى ميتة، خانية وغيرها، قال الطحطاوى: ويؤخذ منه أن أكل الجبن أو الخل أو الثمار كالنبق (بيرى) بدوده لا يجوز إن نفخ فيه الروح. (فتاوى الشامى:۶/ ۳۰۶، سعيد). (وكذا فى مجمع الانهر:۴/ ۱۶۱، بيروت).

په الفقه على المذاهب الاربعه كي راځي:

الحنفية: قالوا : يباح أكل الدود الذي لا ينفخ فيه الروح سواء كان مستقلاً أو مع غيره وأما الدود الذي تنفخ فيه الروح فإن أكله لا يجوز سواء كان حياً أو ميتاً مستقلاً أو مع غيره ومثله السوس. (الفقه على المذاهب الاربعة:۲/ ۶، كتاب الحضر والاباحة، مكتبة الثقافة).

په نفع المفتى والسائل كي راځي:

الاستفسار: هل يحل أكل الدودة التي تكون فى التفاح وغيره معه؟

الاستبشار: نعم، لتعسر الاحتراز منه، وأما إذا أفردت وأكلت فحكمها حكم الذباب، كذا في مطالب المؤمنين. (نفع المفتى والسائل، ص: ۱۴۷).

په فتاوى شامي كي راځي:

وفي التاترخانية: دود لحم وقع في مرقة لا يتنجس ولا تؤكل المرقة إن تفسخ الدود فيها، أي لأنه ميتة وإن كان طاهراً، قلت: وبه يعلم حكم الدود في الفواكه والثمار. (رد المحتار: ۱/ ۳۴۹، سعيد).

پر دې سربېره د مېوې د چینجو حرمت منصوص هم نه دئ.
په امداد الاحکام کې وګورئ:

قلت: ولا يخفى أن دود الطعام والثمار ليس من حشرات الأرض المنصوص حرمتهما فى المذهب وإنما أخذ الطحطاوي تحريمه من مفهوم عبارة قاضي خان وغيره فليس من المنصوص تحريمه فى المذهب وقد ذهب الشافعية إلى أكل دود الفاكهة معها فكذا دود الطعام إذا تعسر تميزه. (امداد الاحكام: ۴/ ۳۰۸).

نور علماء کرامو فرمایي: چې د روح پوکولو وروسته د چینجو خوړل ناروا دي او علامه لکنهوي رحمه الله د مطالب المؤمنين په حواله سره د ځان ساتلو د مشکل کېدو له امله د هغې خوړل روا بللی دي مګر مطالب المؤمينين يو ضعيف کتاب دئ، د دې په خلاف علامه شامي رحمه الله وغيره عدم جواز نقل کړی دئ همدا راجح دي.
علامه شامي رحمه الله وايي:

وفي التاترخانية: دود لحم وقع في مرقة لا يتنجس ولا تؤكل المرقة إن تفسخ الدود فيها، أي لأنه ميتة وإن كان طاهراً، قلت: وبه يعلم حكم الدود في الفواكه والثمار. (رد المحتار: ۱/ ۳۴۹، سعيد).

وفيه أيضاً: ولا بأس بدود الزنبور قبل أن ينفخ فيه الروح لأن ما لا روح له لا يسمى ميتة، خانية وغيرها، قال ط: ويؤخذ منه أن أكل الجبن أو الخل أو الثمار كالنبق بدوده لا يجوز إن نفخ فيه الروح. (فتاوى الشامى: ۶/ ۳۰۶، سعيد). (وكذا فى البحر الرائق: ۸/ ۲۰۹، بيروت، والفتاوى الهندية: ۵/ ۳۳۹، و ۲۹۰).

په احسن الفتاوی کې یې لیکلي دي:

چې چینجي راوایستل سي د مېوي خوړل حلال دي، د نفع المفتی والسائل جواب صحیح نه دئ. (۸/ ۵۳۰).

نو معلومه سوه چې تر څو پورې د مېوي په چینجو کې روح نه وي پیدا سوي، نو د علت تعسر له امله یې د خوړلو اجازه سته.

د علامه لکهنوي رحمه الله د عبارت محمل همدغه دئ.

پر مطالب المؤمنین باندې تبصره وګورئ:

علامه لکنهوي رحمه الله د الجامع الصغیر په مقدمه کې فرمایي:

ومن الکتب الغیر المعتبرة:.... وکذا مطالب المؤمنین، نسبه ابن عابدین في « تنقیح الفتاوی الحامدیة» إلی الشیخ بدر الدین بن تاج بن عبد الرحیم اللاهوری. (النافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر: ۲۹، ادارة القرآن).

وفي تنقیح الفتاوی الحامدیة: وفي کتاب مطالب المؤمنین من کتب أئمتنا الحنفیة للشیخ بدر الدین بن تاج بن عبد الرحیم اللاهوری من فصل في إحراق وقتل الحیوانات.... (تنقیح الفتاوی الحامدیة: ۲/ ۳۶۲، دار الاشاعة العربیة).

شاه کشمیري رحمه الله په العرف الشذی کې وایي:

... وقال مصنف الفتاوی الهندیة: إن صوم الدهر وصوم الوصال واحد هذا غلط... وباب الحظر والإباحة من تلك الفتاوی مملوءة من الروایات الضعیفة فإن مأخذه کتاب مطا. مطالب المؤمنین للمولوی بدر الدین اللاهوری وهو رجل غیر معتمد علیه. (العرف الشذی:۲/ ۱۲۰، بیروت).

وقال في «فیض الباری»... ومصنف مطالب المؤمنین لیس من الکبار لیثق به. (فیض الباری:۱/ ۳۱۱، مکتبة العزیزیة).

وللمزيد راجع: (قواعد الفقه، ص: ۵۷۴، دار الكتاب، ديوبند، وقواعد واسس فى السنة والبدعة: ۱/ ۹۱، والقول المبين فى اخطاء المصلين، ص: ۲۴۰، وموسوعة البحوث والمقالات العلمية،ص: ۳۹).

والله ﷻ اعلم.

د کونی کبر (چنګابښ) په تیلو کي د پخ سوي ماهۍ د خوړلو حکم

سوال: یو مشهور هوټل (ocean basket) دئ چي خلک د ماهۍ وغیره د خوړلو له پاره ورځي، هلته اخطبوط، چنګابښ وغیره هم خوړل کیږي ډېر وخت داسي کیږي چي د چنګابښ په پاته سو تېلو کي ماهۍ پخیږي او حنفي المذاهب ته ورکول کیږي، نو دغه سړی دا ماهۍ خوړلای سي او که نه؟ حال دا چي د احنافو په مذهب کي چنګابښ خوړل ناروا دي؟

الجواب: د حنفي المذهب سړي له پاره د چنګابښ په پاته تېلو کي د پاخه سوي ماهۍ خوړل روا دي ځکه چي د احنافو په مذهب کي ټول سمندري حیوانان په کومو کي چي بهېدونکی وینه نه وي پاک دي، په اوبو یا بل نرم شی کي چي ولوېږي، نو هغه شی نه ناپاکه کیږي، نو ځکه تېل هم نه ناپاکه کیږي بلکي پاک دي، پر همدې بنیاد په دغو تېلو کي د پاخه سوي ماهۍ خوړل روا دي.

په حدیث شریف کي وګورئ:

عن سلمان ﷺ قال: قال النبى ﷺ: يا سلمان كل طعامٍ وشرابٍ وقعت فيه دابة ليس لهادم فماتت فهو الحلال أكله وشربه ووضوؤه»،...قال أبو أحمد : الأحاديث التى يرويها سعيد الزبيدى عامتها ليست بمحفوظةٍ.(رواه البيهقى فى الكبرى:۱/ ۲۵۳، وضعفه).

وزواه الدار قطنى(۱/ ۳۷): وضعفه. قال الشيخ ابن الهمام: والحديث مع هذا لاينزل عن الحسن. (فتح القدير:۱/ ۸۳، دار الفكر).

وللمزيد من البحث راجع: (البدر المنير:۱/ ۴۵۵، الحديث الرابع، والتلخيص الحبير:۱/ ۱۶۳/ ۱۳، ونصب الراية: ۱/ ۱۱۵).

په بدائع الصنائع کي راځي:

والسرطان ونحو ذلك ، فإن مات في الماء لا ينجسه في ظاهر الرواية وذكر الكرخي عن أصحابنا أن كل ما لايفسد الماء يفسد غير الماء وهكذا روى هشام عنهم وهذا أشبه بالفقه. (بدائع الصنائع: ١/ ٧٩، سعيد).

په البحر الرائق كي راځي:

وموت ما لا دم فيه كالبق والذباب والزنبور والعقرب والسمك والضفدع والسرطان أي موت حيوانٍ ليس له دم سائل في الماء القليل لا ينجسه ....وموت ما يعيش في الماء لا يفسده كالسمك والضفدع والسرطان . (البحر الرائق: ١/ ٨٨، ط: الماجدية).

د هدايې مصنف رحمه الله وايي:

وفي غير الماء قيل: غير السمک يفسده...وقيل: لايفسده لعدم الدم وهو الأصح. (الهداية: ١/ ٣٧).

وفي مجمع الأنهر: واختلف في إفساد غير الماء كالمائعات والصحيح أنه لا يفسد وكذا الإلقاء فى الماء بعد الموت. (مجمع الانهر: ١/ ٥٠، ط: بيروت).

وللاستزادة انظر: (المبسوط للامام السرخسى: ١/ ٥٧، والفتاوى الهندية: ١/ ٢٤، ورد المحتار: ١/ ١٨٥، سعيد، والجوهرة النيرة: ١/ ١٦، والعناية على الهداية: ١/ ٨٣، دار الفكر، وتبيين الحقائق: ١/ ٢٣، والموسوعة: ٣٦/ ٢٥، والجامع الصغير، ص ٧٧، ط: عالم الكتب). والله تعالى اعلم.

د همسايه د وني د مېوي خوړلو حکم

سوال: که د يو چا په سراى کي د مېوي درخته وي او د هغې څه ښاخونه د بل چا په کور کي را ځوړند ؤ، نو هغه بل سړى ته د دې ښاخو مېوه پرېکول او خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مېوي پرېکول او خوړل په عرف اړه لري که چيرى عرفاً اجازه وي، نو پرېکول او خوړل يې روا دي، که نه، نو صريح اجازه اخيستل ضروري ده د اجازې پرته د مېوي پرېکول او خوړل يې روا نه دي.

په فتاوی قاضي خان کي وګورئ:

وعن محمد بن سلمة شجرة مثمره في أرض رجل وأغصانها خارجة إلى الطريق فتناثر من ثمرها فی الطريق قال: قد وسع في هذا من العلماء السلف من لا يشک في زهدهم وعلمهم فلا نخالفهم. (فتاوی قاضیخان علی هامش الفتاوی الهندية:۳/ ۴۰۳).

وفی الفتاوی البزازية: الثمار لو على الأشجار لا يأخذه بحال إلا بإذن إلا إذا كثرت وعلم أنه لايطيق (لا يشق) عليه له الأكل لا الحمل وكذا إن ساقطة من الشجر فی المصر إلا أن يعلم رضا مالكها نصاً أو دلالة. (الفتاوی البزازية علی هامش الفتاوی الهندية:۶/ ۳۶۶).

وفی الهندية: أما إذا كانت على الأشجار فالأفضل أن لا يأخذه في موضع ما إلا بإذن المالك إلا بالإذن يكون موضعًا كثير الثمار يعلم أنه لا يشق عليهم أكل ذلك فيسعه الأكل ولا يسعه الحمل. (الفتاوی الهندية:۵/ ۳۴۰). (وكذا فی الخلاصة:۴/ ۳۶۴، والبحر الرائق:۸/ ۱۸۴، والمحيط البرهانی:۵/ ۲۰۵، ودار احياء التراث العربی).

مګر په موجوده زمانه کي چونکه د دې د خوړلو عامه اجازه نه وي، بلکي مېوې خرڅېږي، نو ځکه يې د ښکاره اجازې پرته خوړل په کار نه دي.

علامه عيني رحمه الله وايي:

وقال جمهور العلماء وفقهاء الأمصار منهم الأئمة أبو حنيفة رحمه الله ومالك رحمه الله والشافعي رحمه الله وأصحابهم: لا يجوز لأحد أن يأكل من بستان أحد ولا يشرب من لبن غنمه إلا بإذن صاحبه اللّهم إلا إذا كان مضطراً، فحينئذ يجوز له ذلك قدر دفع الحاجة. (عمدة القاری:۹/ ۱۷۴، دار الحديث، ملتان).والله تعالیٰ اعلم.

د سويا سوس (هغه خوراک چي په ښتېلو خوړل کيږي) د خوړلو حکم

سوال: په لاندی ډول جوړ سوي حوراک حلال دئ او که نه؟ ياده دي وي چي دا په دغه قسم خوراکونو وغيره کي استعماليږي.

د سویا سوس مکونات (inqredients)

(۱) غنم، (۲) مالګه، (۳) اوبه، (۴) او د هغه پوستکي د جوړولو طریقه:

۱- د سویا پوستکي لومړی په اوبو کي اچول کیږي بیا په تیزه ګرمي کي ښودل کیږي.

۲- غنم په تیزه ګرمي کي سوځول کیږي او بیا میده کیږي.

۳- مالګه په اوبو کي ویلي کیږي.

۴- بیا هغه په ګرمي کي ایښودل سوي د هغه پوستکي د مالګي سره یو ځای کوي او تر درو ورځو پوری پرېښودل کیږي تر څو چي د سویا سوس بنیاد ورڅخه جوړ سي او دې ته په انګرېزي ژبه کي (شویو کو جي) (shoyu koji) ویل کیږي.

۵- بیا دغه بنیاد د مالګینو اوبو سره یو ځای کوي دغه ګډ والی ته (مورومی (moromi) ویل کیږي.

۶- بیا دغه مورومی (moromi) تر یو څو میاشتو پوري پرېښول کیږي تر څو چي هغه په خپله جوش وخوري چي د هغه د وجي یو نرم جسم وجود ته راسي. نو په دې وخت کي چي کله مورومی (moromi) خپله جوش وخوري او په شرابو بدل سي او بیا د دې نرم جسم لرونکی شی حصه جوړه سي بیا دغه د نورو کاروائی وروسته په سویا سوس کي درې فیصده موجود وي.

۷- د جوش څخه وروسته پر دغه شی زور راوړل کیږي او تر ټوکر چڼل کیږي تر څو چي دغه نرم جسم لرونکی شی جلا سي او خالص بهېدونکی سویا سوس پاته سي.

۸- بیا دغه بهېدونکی سویا سوس پر (۱۲۰) ډګری اور باندي جوش ورکول کیږي تر څو چي د هغه څخه جراثیم ختم سي او بیا هغه په بوتل کي ساتي.

اوس پوښتنه دا ده چي آیا داسي خوراک حلال دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په آخر کی چي کوم سویا سوس جوړیږي په هغه کي درې فیصده شراب دي مګر دغه د سویا د پوستکو او د غوړو د ګډولو څخه منځته راغلی دي، نو ځکه د امام صاحب رحمه الله د قول پر مطابق د دې د خوړلو اجازه سته ځکه چي د امام صاحب رحمه الله په آند د اشربه اربعه څخه پرته جوړ سوي شراب استعمالول روا دي، که چیري نشه لرونکی نه ؤ او متاخیرین علماؤ د عموم بلوی له امله پر دغه قول فتوی ورکړې ده.

مولانا فتح محمد رحمه الله په عطر هدایه کي لیکلبي دي:

چي دغه دليل چي اکثره دواوي د شرابو ځنخه جوړيږي ځکه چي شراب هغه دي چي د خوشحالي له پاره اينبودل سوي وي، نه هغه چي د زهرو په شان مهلک وي زما په تحقيق کي چي کوم شيان په انګريزي دواؤ کي استعماليږي او هغه په خپله اصطلاح کي هغه ته شراب وايي هغه هيڅ کله شراب نه دي ځکه چي ما ته يې دا بيان کړی دئ چي هغه د نورو اشربه ؤ په څېر د چښلو شی نه دئ که چيري استعمال سي، نو د زهرو په څېر مهلک دي، نو دغسي شی د خمر يعنی د شرابو په حکم کي نه دئ.

پاته سو دا خبره چي د دغه يو څو قطري چي په اوبو کي واچول سي هغه نشه پيدا کوي نو تر ترکيب د مخه د حرمت موجب نه دئ، نو په دې شان شيري چي په ادنی ترکيب سره د هغه ځنخه شراب جوړيږي دا حرام او نجس نه دي. (عطر هدايه، ص: ۹۶، ط: مکتبه عصريه).

په ظاهره دا خبره په ذهن کي نه راځي ځکه چي په عامو حالاتو کي چي په دواؤ کي اچول کيږي هغه ته ((ايتها ئيل الکحل)) ويل کيږي او د دې دوهم نوم ايشهنل دئ او په عامو حالاتو کي چي کله الکحل يادېږي، نو دغه ورځنخه مراديږي او په دواؤ کي د دې استعمال کيږي او دا هغه شی دئ چي په شرابو کي نشه پيدا کوي.

دايتهنل (ethanol) تعريف په لغت کي په لاندي الفاظو سره کيږي:

A COLORLESS VOLATILE FLAMMABLE LIQUID C۲ H۵ OH THAT IS THE INTOXICATING AGENT IN FERMENTED AND DISTILLED LAQUOURS (ASBEER WINE WHISKY) CALLED ALSO ETHYL ALCOHOL.

(Websters Hiqh Schooi Dictionary)

خلاصه دا ده چي ايتهنل يو بې رنګه بهېدونکی شی دئ چي په هغه کي د سوځېدلو صلاحيت سته او ډېر ژر بخارات جوړ سي او په شرابو کي نشه پيدا کوي.

په انکاټا انسائيکلو پيډيا کي راغلی دي:

ETHYL ALCOHOL OR ETHANOL C۲ H۵ OH IS CLEAR COLORLESS LIQUID, WITH A BURNING TASTE AND CHARACTERISTIC AGREEABLE ODOUR. (Microsoft Encarata ۲۰۰۸)

په دغه تعریف کي يو زيات شی دا دئ چي لکه ځنګه چي په ایتهنل کي د سوځیدلو صلاحیت ستـه همدا رنګه د هغه په خوند کي هم سوځېدل دي.

کوم ایتهنل چي د چښلو له پاره تیاریږي هغه یا د وریجو یا خمیر یا وربشو (yeast) سره ګډیږي ترڅو چي جوش پیدا کړي (fermentation) بیا د هغه څخه ایتهنل پیدا کیږي. البته د هغه مقدار ډېر کم جوړیږي په هغه کي دایتهنل مقدار د (۷) څخه تر (۱۲) فیصده جوړیږي.

په کمرشل ایتهنل کي (۹۵) ایتهنل وي د هغه د جوړولو طریقه دا ده چي ذکر سوي شی په يو خاصه طریقه يخ او ګرم کړل کیږي (distillation) تر څو چي نور شیان ورڅخه جلا سي چي د هغه له امله (۹۵) فیصده ایتهنل او (۵) فیصده اوبه وي د هغه وروسته اوبه هم ورڅخه جلا کړل کیږي تر څو چي (۱۰۰) فیصده ایتهنل پاته سي.

د تحقیق څخه معلومه سوه چي (۱۰۰) فیصده ایتهنل نه چښل کیږي په دې کي د انسان د هلاکت خطره ده او د دې خبري هم خطره ده چي کولمې کار پرېږدي.

همدا رنګه که (۱۰۰) فیصده نه وي په څومره اندازه چي په شرابو کي وي په هغه اندازه نقصان رسونکی دي.

ځیني سائنس پوهانو لیکلي دي چي الکحول لږ استعمال فائده مند دي او د صحت له پاره هم مفید دي حتی چي د زړه د مرض (coronary heart disease)حفاظت هم کوی، البته په زیاته کچه استعمالولو سره ډېر مرضونه پیدا کیږي چي د هغه څخه د زړه او ځګر تاوان پیدا کیږي همدا رنګه د مرګ خطر هم ورسره ستـه.

د دغه پورتني تحقیق څخه معلومه سوه چي خالص (۱۰۰) فیصده ایتهنل د جسم له پاره مضر دي او هغه چښلای هم نه سي، البته په شرابو او داسي نورو سره چي نشه راځي هغه بعینه د دغه ایتهنل اثر دئ بیله يو ځای کولو د يو بل شی لکه ځنګه چي د هغه د تعریف څخه معلومیږي د نشی د پیدا کولو له پاره د يو بل شی د يو ځای کولو ضرورت نه ستـه، نو ځکه هغه پر شیرو باندی قیاس صحي نه دئ ځکه په دې کي تر ترکیب د مخه د نشي صلاحیت ستـه. هو په دواؤ او مشروباتو کي الکحل استعمالیږي هغه په ډېره کمه کچه دي، نو د همدې امله هغه نشه لرونکی نه دي او د امام صاحب رحمه الله په آند د هغه د استعمال اجازه هم ستـه، متاخرینو علماؤ پر دې فتوی ور کړې ده.

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

وأما غير الأشربة الأربعة، فليست نجسة عند الإمام أبي حنيفة رحمه الله:

وبهذا يتبين حكم الكحول المسكرة (Al cohols) التي عمت بها البلوى اليوم، فإنها تستعمل في كثير من الأدوية والعطور والمر كبات الأخرى، فإنها إن اتخذت من العنب أو التمر فلا سبيل إلى حلتها أو طهارتها، وإن اتخذت من غيرهما فالأمر فيها سهل على مذهب أبي حنيفة، ولا يحرم استعمالها للتداوى أو لأغراض مباحة أخرى ما لم تبلغ حد الإسكار، لأنها إنما تستعمل مركبة مع المواد الأخرى، ولا يحكم بنجاستها أخذاً بقول أبي حنيفة رحمه الله.

وإن معظم الكحول التي تستعمل اليوم فى الأدوية والعطور وغيرها لاتتخذ من العنب أو التمر، إنما تتخذ من الحبوب أو القشور أو البترول وغيره، كما ذكرنا في باب بيع الخمر من كتاب البيوع، وحينئذٍ هناک فسحة فى الأخذ بقول أبي حنيفة عند عموم البلوى. والله أعلم.

(تکملة فتح الملهم:۳/ ۶۰۸،ط: دار العلوم کراتشی).

په احسن الفتاوی کي راځي:

اسپرټ که د انګورو او یا خورما او یا کشمش څخه حاصل کړل سوي وي، نو په اتفاق سره نجس او که له دې څخه پرته د یو بل شی څخه جوړ سوي وه، نو هغه د شیخینو په آند پاک او د امام محمد رحمه الله په آند نجس دي د تحقیق څخه معلومه سوه چي نن سبا اسپرټ د الکحل له پاره د انګور او خورما هغه نه استعمالیږي، نوځکه د شیخینو په آند پاک دي فقهاء حضراتو که څه هم د فساد زمانې له امله د امام محمد رحمه الله پر قول فتوی ورکړې ده، خو نن سبا د ضرورت تداوي له امله د عموم بلوی د رعایت له امله د شیخینو پر قول د طهارت فتوی ورکول کیږي هسي هم د وصول فتوی د لحاظه د شیخینو قول ته ترجیح ورکول کیږي. الا العارضٍ. (احسن الفتاوی:۲/ ۹۵).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (نظام الفتاوی:۱/ ۳۵۳، بهشتی زیور:۹/ ۷۷۶، دار الاشاعت). والله تعالی اعلم.

د حرام غذا خوړونکي چرګي د خوړلو حکم

سوال: که د چرګانو په خوراکه کي غوښه یا د خنزیر اجزاء واچول سي، نو دا د چرګ پر حلت باندی کوم اثر کوي او که نه؟ یعنی د داسي چرګانو خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: که چیري د چرګانو په غذا کي حرامه غوښه یا د خنزیر اجزاء موجود وی، نو که چیري دهغو له امله غوښي متاثره کیږي مثلا بد بوي وغیره کېدل، نو د داسي چرګانو غوښه خوړل ناروا ده او که غوښه خراب سوي نه ؤ بلکي پاکه صافه ؤ، نو د هغې په خوړلو کي هیڅ خبره نه سته مګر یو مسلمان ته دا روا نه ده چي په قصد سره په چرګانو د خنزیر غوښه وخوري.

په فتاوی بزازیه کي وګورئ:

وفی النوادر: جدي غذي بلبن الخنزير لا بأس بأكله فعلى هذا لا بأس بأكل الدجاج لأن لحمه لا يتغير وما غذي به صار مستهلكاً لا يبقى له أثر وما روي عنه صلى الله عليه وسلم أنه قال: يحبس الدجاج ثلاثة للتنزيه وإنما يشترط ذلک في الجلالة التي لا تأكل إلا الجيف وما يخلط ويأكل غيره أيضاً على وجه لا يظهر أثره في لحمه لا بأس به. (الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۶/ ۳۰۲).

په در مختار کي راځي:

ولو أكلت النجاسة وغيرها بحيث لم ينتن لحمها حلت كما حل أكل جدي غذي بلبن خنزير لأن لحمه لايتغير وما غذي به يصير مستهلكاً لايبقى له أثر. (الدر المختار: ۶/ ۳۴۱، سعيد).

وفی رد المحتار: قوله لأن لحمه لا يتغير إلخ، كذا في الذخيرة وهو موافق لما مر من أن المعتبر النتن لكن ذكر الخانية أن الحسن قال: لا بأس بأكله وأن ابن المبارك قال: معناه إذا اعتلف أياماً بعد ذلك كالجلالة وفي شرح الوهبانية عن القنية راقماً أنه يحل إذا ذبح بعد أيام وإلا لا. (رد المحتار: ۶/ ۳۴۱، سعيد).

په تبیین الحقائق کي راځي:

لا بأس بأكل الدجاج ؛ لأنه يخلط ، ولا يتغير لحمه وروي أنه عليه الصلاة والسلام كان يأكل الدجاج، وما روي أن الدجاج يحبس ثلاثة أيامٍ ثم يذبح فذاك على سبيل التنزه لا أنه شرط. (تبين الحقائق:۶/ ۱۰، ط: دار الكتب الاسلامى).

وفي موسوعة الفقهية: قال ولا يكره أكل الدجاجة المخلاة وإن كانت تتناول النجاسة ، لأنها لا يغلب عليها أكلها ، بل تخلطها بالحب، وقيل : إنما لا تكره ، لأنها لا تنتن كما تنتن الإبل ، والحكم متعلق بالنتن، ولهذا قالوا في الجدي إذا ارتضع بلبن خنزيرةٍ حتى كبر : إنه لا يكره أكله ، لأن لحمه لا يتغير ولا ينتن، وهذا يدل على أن العبرة للنتن لا لتناول النجاسة. والأفضل أن تحبس الدجاجة المخلاة حتى يذهب ما في بطنها من النجاسة ، وذلك على سبيل التنزه. (الموسوعة الفقهية:۵/ ۱۴۹).

وللمزيد راجع: (البحر الرائق:۸/ ۲۰۸، دار المعرفة، والجوهرة النيرة: كتاب الصيد والذبائح، وبدائع الصنائع:۵/ ۴۰، وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص: ۲۲، ط: بولاق). والله ﷻ اعلم.

د چینجانو خوړلو حکم

سوال: زموږ په جنوبي افریقا کي د حلال کمیټي سنها (SANHA) د تحقیق په شعبه کي ځيني شیان زموږ مخته راغلل د هغو شرعي حکم معلومول غواړو، چي د هغو په رڼا کي د هغو څخه پر جوړ سوو شیانو حکم لګول کېدلای سي؟

۱- د چینجانو د خوړلو شرعي حکم څه دئ؟ مثلاً یو چینجي چي نوم یې ګونګا دئ یا یو بل چینجي دغه ګونګا چینجي د پتسبرګ څخه بیا تر بوتسوانه پوري ډېر پیدا کیږي دا چینجي اکثر په درخته کی اوسېږي او د درختی پاڼي خوري د همدې ځای خلک هغه هر ډول پخوي خوري یې او پرته د پخیدو څخه یې هم خوري، فقهاء کرامو چینجیان په خبائثو کي شمېرلي دي مګر د عدم حلت دلائل یې څه دئ؟

الجواب: د حشرات الارض خوړل ناروا دي.

قال الله تعالٰی: ﴿ ويحرم عليهم الخبائث﴾

وفي أحكام القرآن للجصاص: ويحرم عليهم الخبائث، حدثنا محمد بن بكر ثنا أبو داود... عن عيسى بن نميلة عن أبيه قال: كنت عند ابن عمر رضي الله عنه فسئل عن أكل القنفذ فتلا: ﴿قل لا أجد في ما أوحي إلي محرماً على طاعم يطعمه﴾ الآية، فقال شيخ عنده سمعت أبا هريرة رضي الله عنه يقول: ذكر عند النبي صلى الله عليه وسلم فقال: خبيثة من الخبائث، فقال ابن عمر رضي الله عنه: إن كان قال رسول الله صلى الله عليه وسلم هذا فهو كما قال، فسماه النبي صلى الله عليه وسلم خبيثة من الخبائث فشمله حكم التحريم بقوله تعالٰی: ويحرم عليهم الخبائث، والقنفذ من حشرات الأرض فكل ما كان من حشراتها فهو محرم قياساً على القنفذ. (احكام القرآن:۳/ ۲۰).

قال في البدائع: وأما الذي يعيش في البر فأنواع ثلاثة: ما ليس له دم أصلًا، وما ليس له دم سائل، وما له دم سائل ...ونحوها لا يحل أكله إلا الجراد خاصةً؛ لأنها من الخبائث لاستبعاد الطباع السليمة إياها وقد قال الله تبارك وتعالى: ﴿ويحرم عليهم الخبائث﴾....

وكذلك (أي لايحل أكله) ما ليس له دم سائل مثل الحية والزوغ وسام أبرص وجميع الحشرات وهو ام الأرض.... (بدائع الصنائع:۵/ ۳۶، سعيد).والله ﷻ اعلم.

د شیلک (SHELLAC) د خوړلو حکم

سوال: د چینجو شخه د لاس ته راغلي رطوباتو شه حکم دئ؟ یو ډېر استعمالېدونکی رطوبت شیلک (SHELLAC) دي، زموږ د تحقیق سره سم دا رطوبت یوازي د چینجي نه دي بلکي پر کومه درخته چي دغه چینجي وي د هغې درختي هم ځیني اجزاء ورسره ګډ وي؟ آیا خالص د چینجي په رطوبت او چي د هغه دا جزاؤ سره بل شي ګډ وي شه فرق سته او که نه؟

د شیلک (SHELLAC)په اړه ضروری وضاحت شیلک (lac) یو د اجزاؤ جوړ سوی شی دئ.

کوم چي دلاک په نامه د یو چینجي ناوړي دي، دغه چینجي خپلي ناوړي په درختو کي جوړ وي او ښه ټینګ صورت غوره کوي دغه چي کله د درختي څخه را جلا کیږي نو ډېر وخت دلاک مړه سوي چینجي او د هغه هګۍ هم له همدې موادو سره مېنتي وي، بیا د هغو موادو پر اور د ویلي کولو وروسته هغه مواد صفاء کیږي او نوي (۹۰) سلنه د دې یقین وي چي په دغو صفاء سو موادو کي د مذکوره چینجانو اجزاوي پاته سوي نه دي، البته د دې احتمال سته چي د ویلي کولو له امله د دې مړو چینجو د جسم ماده هم په دغو موادو کي شامله سوی وي؟ آیا په مذکوره طریقه سره د لاس ته راغلو موادو خوراک حلال دئ؟

☆ د دې چینجي په ماده یې مونث کي یو ډول اوبه وي هغو ته (lace dye) لیس ډائی ویل کیږي دغه لیس ډائی هم په خوراکي شیانو کي د رنګ په ډول استعمالیږي مګر له دغه رطوبت څخه د رنګ جوړولو یوه خاصه طریقه ده، دغه رنګ په مختلفو خوراکي شیانو کي استعمالیږي مثلاً:

الف – پر دواؤ وغیره، ګولۍ، کیسپول، وغیره باندی دغه رنګ اچوي چي خلاص نه سي.

باء – پر شیریني وغیره باندي یوازي د زینت له پاره اچول کیږي.

جیم – پر مېوه، سیب وغیره باندي د ښه ښکار کېدو له پاره دغه رنګ استعمالیږي وغیره وغیره.

اوس د دغه رنګ د استعمالولو او د هغه څخه د لاس ته راغلی شیانو د استعمالولو څه حکم دئ؟

یادونه: د یو اندازي سره سم د شیلک کلني خرڅ تقریباً پنځوس زره ټنه دئ په دومره کثرت سره په دواؤ او غذاؤ کي استعمالیږي.

آیا د چینجو څخه لاس ته راغلي شیانو حلال دي او که حرام؟

په نن زمانه کي چینجي میده کوی او د لاس ته راغلی رطوبات څخه یې رنګ را ایستل کیږي د دې رنګ د استعمالولو اجازه سته او که نه؟

☆ د چینجو څخه لاس ته راغلي رنګ کوم چي په خوراکي شیانو کي استعمالیږي کوم ته چي کوچنیل کارمن ویل کیږي د دې استعمال ډېر دئ، د دې د جوړولو ترتیب په لاندي ډول دئ:

چینجان په جوش اوبو یا ډېره ګرمي کي ږدي بیا یې په یو خاصه توګه وچه وي تر څو چي د جسم (۳۰) سلنه برخه یې پاته سي دا ځکه کوي چي هغه خراب نه سي په همدې ډول د یوې کېلو رنګ لاس ته راتلو له پاره یو لک او پنځه پنځوس (۱۵۵۰۰۰) زره چینجان استعمالیږي دا خبره دي

هم په نظر کي وي چي په مختلفو طريقو سره رنګ تياريږي، اوس د دې رنګ د تيارولو وروسته د دې رنګ د استعمالولو شرعاً څه حکم دئ؟

الجواب: د شيلک (SHELLAC) د مذکوره طريقې څخه حاصل سوي موادو په دواؤ او نورو خوراکي توکو کي استعمالول حلال او روا دي، همدا رنګه د نورو رطوباتو استعمالول هم د لاندي څو وجوهاتو پر بناء روا دي:

لومړی وجه: د حشرات الارض او د هغو د رطوباتو د حرمت اصلي علت نفرت دئ يعنی بد والي محسوس کېدل او د طبعيت سليمه د هغه څخه نفرت کول او په دومره ډېره اندازه ماده کي د دومره لږ چينجانو ويلي کول او له دې مادې سره ګډول عرفاً خبيث نه بلل کيږي او د چينجو خو د حرمت دليل د هغوی د خبث له امله دي، نو چي کله د حرمت دليل باقي نه سو پاته، نو د حرمت قول هم شرعاً پاته نه سو مګر که چيري يو بل علت موجود سي لکه نجاست يا ضرر يا نشه وغيره نو دا بيا يوه جلا مسئله ده خو دلته نه سته.

په حديث شريف کي وګورئ:

عن سلمان رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ:« يا سلمان كل طعامٍ وشرابٍ وقعت فيه دابة ليس لها دم فماتت فهو الحلال أكله وشربه ووضوؤه »،... قال أبو أحمد : الأحاديث التي يرويها سعيد الزبيدى عامتها ليست بمحفوظةٍ. (رواه البيهقى فى الكبرى: ۱/ ۲۵۳، وضعفه).

ورواه الدار قطنى(۱/ ۳۷) وضعفه. قال الشيخ ابن الهمام فى فتح القدير(۱/۸۳، ط: دار الفكر): والحديث مع هذا لاينزل عن الحسن.

وللمزيد من البحث راجع: (البدر المنير: ۱/ ۴۵۵، الحديث الرابع، والتلخيص الحبير: ۱/ ۱۶۳/ ۱۳، ونصب الراية: ۱/ ۱۱۵).

د مذکوره رواياتو څخه معلومه سوه چي په کوم خوراک يا اوبو کي حيوان (چينجي، مچ، غوماشي وغيره په کومو کي چي بهېدونکی وينه نه وی) ولوېږي او مړ سي، نو د هغه ډوډئ او اوبو خوړل او چښل حلال دي اوس نو دا ښکاره خبره ده چي د مړه سوي حيوان څه ناڅه اجزاء به يقيناً په خوراکي توکو او اوبو کي ګډ سوي وي مګر د لږوالی له امله مستقذر نه دي.

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کي ليکي:

وما لم يذبح ذبحاً شرعياً أو مات فهو حرام ولا يحل إلا ميتتان: السمك والجراد. وفي معناهما ما يستحيل من الأطعمة كدود التفاح والخل والجبن فإن الاحتراز منهما غير ممكن فأما إذا أفردت وأكلت فحكمها حكم الذباب والخنفساء والعقرب وكل ما ليس له نفس سائلة لا سبب في تحريمها إلا الاستقذار ولو لم يكن لكان لا يكره فإن وجد شخص لا يستقذره لم يلتفت إلى خصوص طبعه فإنه التحق بالخبائث لعموم الاستقذار فيكره أكله كما لو جمع المخاط وشربه كره ذلك وليست الكراهة لنجاستها فإن الصحيح أنها لا تنجس بالموت إذ أمر رسول الله صلى الله عليه و سلم بأن يمقل الذباب في الطعام إذا وقع فيه...وربما يكون حاراً ويكون ذلك سبب موته ولو تهرت نملة أو ذبابة في قدر لم يجب إراقتها إذ المستقذر هو جرمه إذا بقي له جرم ولم ينجس حتى يحرم بالنجاسة وهذا يدل على أن تحريمه للإستقذار . (احياء علوم الدين:٢/ ٩٣، اصناف الحلال، ط: مصطفى البانى الحلبى).

د امام غزالي رحمه الله د عبارت څخه په ښکاره ډول معلومه سوه چي د حشرات الارض د حرمت علت يوازي استقذار دي.

حکيم الامت حضرت تهانوي رحمه الله ليکي:

پوهيدل په کار دي چي په شريعت مطهره کي د استعمال د منع کېدو څلور وجې دي:

١– په نجاست لکه بولې، گندگي وغيره کي.

٢– ضرر رسول لکه په سم الفار (يو ډول زهر دي).

٣– استخباث يعنی د طبعيت سليمه د هغه څخه نفرت کول لکه په چينجانو وغيره کي.

۴– نشه کول. (بهشتی زيور، نواں حصه، ص ٩٨، ط: دار الاشاعت).

يو بل ځای ليکي:

کله چي خبيث او غير خبيث سره گډ سي، نو که چيري خبث باقي پاته وي د حرمت که نه وي، نو د حلت حکم پرې لګول کيږي لکه په ديگ کي چي مچ ولوېږي که چيري مچ د ښوروا سره گډ نه

سي، نو د هغه مچ خوړل ناروا دي او که هغه ورسره ګډ سي، نو په يوه ديګ کي د مچ ګډيدل عرفاً باعث خبث نه دي، نو ځکه هغه ښوروا حلاله ده، حال دا چي د مچ اجزاء په هغه کي يقيناً موجود دي. (بهشتی زیور، نوان حصه، ص ۱۰۸، ط: دار الاشاعت).

په فتاوی هنديه کي راځي:

العرق إذا تقاطر فی العجين فالقليل منه لايمنع الأكل. (الفتاوی الهندية:۵/ ۳۳۹).

په البحر الرائق کي راځي:

وسئل (علی بن أحمد) عن عرق الآدمي ونخامته ودمعه إذا وقع في المرقة أو في الماء هل يأكل المرقة ويشرب الماء قال: نعم، ما لم يغلب ويصير مستقذرًا طبعًا. (البحر الرائق:۸/ ۳۳۹، والفتاوی الهندية:۵/ ۳۳۹).

د مذکوره عباراتو څخه معلوميږي چي د مستقذره شيانو لږ اندازه که په ډېره ښوروا يا اوبو وغيره کي ګډه سي، نو په عام ډول مستقذر نه پاتيږي بلکي مغلوب کيږي، له دې امله د هغه ښوروا وغيره خوړل او چښل روا دي.

په بهشتي زېور کي راځي:

مسئله: د چينجو د رطوباتو څخه ځيني پيدا سوي شيان له کومو چي استقذار يعني نفرت نه وی حلال دي لکه وريښم .... وغيره للنص على حلة العسل. (بهشتی زیور، نوان حصه، ص ۱۰۴، ط: دار الاشاعت).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د حشرات الارض د حرمت اصلي علت خبث دي او دا په لږ اندازه پيدا کيږي، که ډوډۍ او اوبه ډېر وي، نو دا علت نه پکښي موجوديږي لهذا که په لوی ديګ کي مچ ولوېږي، نو د هغه استعمال روا دئ. (احسن الفتاوی:۸/ ۱۲۹).

د مذکوره عباراتو په رڼا کي دا خبره د رڼا ورځي په څېر معلوميږي چي مستقذر شی له بل شی سره ګډ سي ويلي سي او جسم يې پاته نه سي او د هغه خرابتيا هم نه محسوسيږي، نو په دې صورت کي د هغه د حلال بللو حکم پرې کيږي، که داسي نه وي، نو بيا د حلت حکم نه پرې کيږي.

دوهمه وجه: دا ده چي له دې مادې څخه د چينجو لېري کول ډېر مشکل کار دئ له همدې امله د عموم بلوی په خاطر په شيلک دلړلي دوا او يا غذا داستعمالولو حکم ورکول کيږي:
په نفع المفتی والسائل کي وګورئ:
الاستفسار: هل يحل أكل الدودة التي تكون فی التفاح وغيره معه؟
الاستبشار: نعم، لتعسر الاحتراز منه، وأما إذا أفردت وأكلت فحكمها حكم الذباب، كذا في مطالب المؤمنين. (نفع المفتی والسائل،ص: ۳۷۹).
خو دراجح قول سره سم دروح پوکلو وروسته د چينجو خوړل ناروا دي. کما مر تفصيله.
په فتاوی هنديه کي راځي:
سن آدمي طحن في وقر حنطةٍ لا يؤكل ، ولا يؤكله البهائم بخلاف ما يقشر من جلدة كفه قدر جناح الذباب أو نحوه واختلط بالطعام للضرورة. (الفتاوی الهندية:۵/ ۳۳۹).
وفی البحر: واستدل مشايخنا أيضًا على أصل المسألة بما عن سلمان ﷺ قال: يا سلمان كل طعامٍ وشرابٍ وقعت فيه دابة ليس لها دم فماتت فيه فهو حلال أكله وشربه ووضوءه. (البحر الرائق:۱/ ۱۶۱، بيروت).
په فيض القدير کي راځي:
وجوز الشافعية أكل دود نحو الفاكهة معها حياً وميتاً إن عسر تمييزه ولا يجب غسل الفم منه ، وظاهر هذا الحديث أن السوس يطلق عليه اسم الدود وعكسه. (فيض القدير:۵/ ۲۴۵).
دريمه وجه: دعسلو پر مچيو باندي په قياسو کولو سره هم د شيلک داستعمال روايښت په کار دئ يعنی دعسلو استعمال په نص کي راغلی دئ او عموماً دګنی څخه دراويستلو په وخت کي د عسلو د مچيو څه ناڅه ريزش هم ورسره ګډوي کوم چي دعسلو سره استعماليږي او دهغه جلا کول مشکل کار وي.
په احکام القرآن کي وګورئ:

قوله تعالىٰ: ﴿ ويخرج من بطونها شراب مختلف ألوانه فيه شفاء للناس ﴾ فيه بيان طهارة العسل ومعلوم أنه لا يخلو من النحل الميت وفراخه فيه وحكم الله تعالىٰ مع ذلك بطهارته فأخبر عما فيه من الشفاء للناس. (احكام القران، للامام الجصاص:۳/ ۲۷۳).

ځلورمه وجه: د حشرات الارض حرمت په صريح نص او مستقل دليل كي نه ده راغلى لكه د خبث او استقذار په علت حرام ورته ويل سوى دئ. (روح المعانى:۵/ ۷۶، وفتاوى الشامى:۶/ ۳۰۵، سعيد. والمبسوط: ۱۱/ ۲۵۴، واحكام القرآن للجصاص:۳/ ۲۰).

د امام مالک رحمه الله وغيره په آند باندي حلال دي، لهذا په مجتهد فيه مسئله كي د ضرورت پر وخت اجازه وركول كېدلاى سي. وګورئ:

په مدونه كي راځي:

ولقد سئل مالك عن شيء يكون في المغرب يقال له الحلزون يكون في الصحارى يتعلق بالشجر أيؤكل؟ قال: أراه مثل الجراد ما أخذ منه حياً فسلق أو شوي فلا أدرى بأكله بأسا، وما وجد منه ميتاً فلا يؤكل. (المدونة:۱/ ۵۴۲، ط: دار الكتب العلمية، بيروت).

قال في مواهب الجليل: قال مالک: حشرات الأرض مكروهة. (مواهب الجليل:۴/ ۳۴۹).

قال فى الذخيرة: ولا بأس بأكل خشاش الأرض وهو مما إذا ذكيت ذكاة الجراد وتؤكل الضفادع... (الذخيرة:۴/ ۱۰۳،ط: بيروت).

وفى النتف فى الفتاوى: وأما حشرات الأرض فإنها محرمة في قول أبي حنيفة وأصحابه ومحللة في قول أبي عبد الله وسائر الناس إلا أنها مكروهة مثل الحية والضب ... الخ. (النتف فى الفتاوى، ص: ۱۵۰، بيروت).

قال فى المجموع: مذهب العلماء فى حشرات الأرض... مذهبنا أنها حرام وبه قال جمهور العلماء منهم... أبو حنيفة وأحمد وداود وقال مالک: حلال. (المجموع:۹/ ۱۶).

وفی المغنی لابن قدامة: المستخبثات الحشرات ، كالديدان ، والجعلان ، وبنات وردان والخنافس ، والفأر ، والأوزاغ ، والحرباء ....وبهذا قال أبو حنيفة ، والشافعي ورخص مالك ، وابن أبي ليلى ، والأوزاعي ، في هذا كله ، إلا الأوزاغ ، فإن ابن عبد البر قال : هو مجمع على تحريمه وقال مالك : الحية حلال إذا ذكيت واحتجوا بعموم الآية المبيحة . (المغنى:۱۱/ ۶۴).

وللاستزادة انظر: (حاشية الدسوقی:۱/ ۸۲، بيروت، والتاج والاكليل:۱/ ۱۲۲، والفواكه الدواني:۱/ ۴۰۲، دار الفكر).

پنځمه وجه: که چیري په دې کي حقیقت بدلیږي، نو بیا یې داخلي استعمال بالکل روا دئ او دانقلاب حقیقت تفصیل د جلاټین تر مسئله لاندي وګورئ. والله ﷻ اعلم.

آراء المتخصصين والمفتين فی تحقيق جلاټين

د جلاټین شرعي حکم د ماهرینو طبیبانو د تحقیقاتو په رڼا کي

سوال: د جلاټین په کمپنۍ کي جلاټین د مختلفو څرمنو څخه جوړیږي په کوم کي چي تقریباً (۹۰/ ۹۵) سلنه د هغو حیواناتو څرمني وي کوم چي په شرعي طریقه سره نه وي ذبح سوي او د هغوی ټول اجزاء غیر ماکول دي، د هغو حیواناتو څرمنی په مختلفو ځایونو کي په مختلفو ماشینانو سره پاکیږي د هغو وربښتان لېري کیږي او د چوني په اوبو کي ایښودل کیږي تر څو چي هغه پوست بنه سم صفاء سي بیا هغه د اوسپنو په لویو لویو ټانکیو کي اچول کیږي او ایشول کیږي بیا هغه وچیږي او د تارو په ډول او بیا د بوري په ډول جوړیږي، اوس پوښتنه دا ده چي آیا د دا ډول جلاټین په غذاوو کي استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: د مذکوره مسئلې تعلق د ذات او ماهیت پر تبدیل باندي دئ که چیري د پوستو او هډوکو تر ډېرو ځایو د تېرېدلو په وخت کي تبدیل ماهیت ثابت سي، نو د هغه خوړل او په غذاؤ کي استعمالول روا دي که نه نو روا نه دي ځکه چي شریعت کوم شیان حرام بللی دي که چیري د هغو

حقیقت او ماهیت بدل سي، نو مخکني حکم یې باقي نه پاتیږي د یو شی هغه خصوصي او بنیادي اوصاف چې د هغو له امله هغه شي پیژندل کیږي هغه د هغه شی حقیقت او ماهیت دئ.

او د جلاټین د ماهیت د تبدیلي په اړه موجوده طبیبانو په منځ کي اختلاف دئ ډېرو د تحقیقاتو په ذریعه ثابته کړې ده چي په جلاټین کي د هغو حیوانانو د پوستو او هډوکو حقیقت او ماهیت نه پاتیږي د کومو د اعضاؤ څخه چي جلاټین جوړیږي بلکي هغه په یو نوی شی سره بدلیږي، نو ځکه ددې د استعمال اجازه سته مګر د ځیني طبیبانو تحقیق بیا دا دئ چي په جلاټین کي انقلاب عین نه راځي، نو د دې اختلاف په نظر کي نیولو سره د دا ډول جلاټین د استعمال څخه ځان ساتل اولی او ښه کار دئ.

د انقلاب عین او ماهیت د بدلیدلو حقیقت:

د انقلاب حقیقت د فقهاء کرامو په آند دا دئ چي د یو شی اول مفهوم او مصداق یا خو بالکل ختم سي او په بل مفهوم او حقیقت سره بدل سي یا د هغه د مفهوم او حقیقت ځیني اجزاء او خاص اثار ختم سي.

وګورئ: محقق ابن الهمام رحمه الله په فتح القدیر کي فرمایي:

لأن الشرع رتب وصف النجاسة على تلك الحقيقة ، وتنتفي الحقيقة بانتفاء بعض أجزاء مفهومها فكيف بالكل ؟ فإن الملح غير العظم واللحم ، فإذا صار ملحًا ترتب حكم الملح. ونظيره في الشرع: النطفة نجسة وتصير علقةً وهي نجسة، وتصير مضغةً فتطهر ، والعصير طاهر فيصير خمرًا فينجس، فيصير خلا فيطهر، فعرفنا أن استحالة العين تستتبع زوال الوصف المرتب عليها. وعلى قول محمدٍ فرعوا الحكم بطهارة صابونٍ صنع من زيتٍ نجسٍ. (فتح القدير: ١/ ٢٠٠، دار الفكر).

قال ابن رشد: أنه قد علم من ضرورة الشرع أن الأحكام المختلفة إنما هي للذوات المختلفة، وأن الخمر غير ذات الخل، والخل بإجماع حلال، فإذا انتقلت ذات الخمر إلى ذات الخل، وجب أن يكون حلالاً كيفما انتقل. (بداية المجتهد: ١/ ٣٤٩، كتاب الاطعمة).

په البحر الرائق کي راځي:

والسابع انقلاب العين ، فإن كان في الخمر فلا خلاف في الطهارة ، وإن كان في غيره كالخنزير والميتة تقع في المملحة فتصير ملحًا يؤكل، والسرقين والعذرة تحترق فتصير رمادًا تطهر عند محمدٍ خلافًا لأبي يوسف وضم إلى محمدٍ أبا حنيفة في المحيط وكثير من المشايخ اختاروا قول محمدٍ وفي الخلاصة وعليه الفتوى، وفي فتح القدير: أنه المختار ؛ لأن الشرع رتب وصف النجاسة... وفي المجتبى جعل الدهن النجس في صابونٍ يفتى بطهارته ؛ لأنه تغير والتغيير يطهر عند محمدٍ ويفتى به للبلوى. (البحر الرائق:۱/ ۲۲، کوئټه).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

المطهر الثامن، انقلاب العين: فالخمر إذا صار خلاً يطهر، لأنه شيء آخر. والخنزير والحمار وقع فى المملحة صار ملحاً يطهر، كما فى الهداية، هذا عندهما، وعند أبي يوسف: لا يطهر، كذا قال العيني عن الذخيرة، وفى رسائل الأركان: أما انقلاب العين فتطهر الخمر اتفاقاً بالتخليل، وفي غيرها خلاف، والفتوى على قول محمد انتهى، مختصراً، وفي خزانة الروايات عن التاتار خانية عن الظهيرية: العذرات إذا دفنت في موضع حتى صارت تراباً، قيل: تطهر. انتهى. (نفع المفتي والسائل، ص: ۱۴۳، ط: دار ابن حزم).

وفي إعانة الطالبين قال: المسك دم استحال طيباً، والعلقة والمضغة أصلهما، وهو المني، دم مستحيل، واللبن أصله دم. قلت: فدم الغزال الذي يخرج منه الطيب تغير إلى غير ما طبع الدم، فطبع الدم السيولة والرقة، كما تغير المسک إلى غير وصف الدم، فالدم لو نه أحمر و رائحته غير رائحة المسک، وكذلک الطعم مختلف، ومثل هذا يقال فى العلقة والمضغة، وفى اللبن، ا هـ.

وکذلک قال أهل التفسیر: قال ابن کثیر في قوله تعالٰی: ﴿ فانظر إلى طعامک وشرابک لم يتسنه﴾ (البقرة: ۲۵۹)، قال: فوجده طعامه لم يتغير منه شيء: لا العصير استحال، ولا التين حمض ولا انتن. اه.

وکذلک قال أهل الحديث، فقد قال ابن حجر فی فتح الباری: تقريره أن اللبن خالط الفرث والدم، ثم استحال فخرج خالطاً طاهراً، اه. قلت: يشير إلى قول الله تعالٰی: ﴿نسقيكم مما في بطونه من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين﴾ (النحل:۶۶).

يبين أن طبع اللبن غير طبع الفرث، وغير طبع الدم سواء من حيث الرقة والسيولة أو من حيث الرائحة والطعم وغيرهما. ومن هنا عرفنا أن التعريف المختار للاستحالة اصطلاحاً هو: تغير الشيء من طبعه ووصفه إلى طبع آخر و وصف آخر. (ماخوذ من مجلة المجمع الفقهی الاسلامی، ص ۱۸۹ - ۱۹۰، الاستحالة واحکامها فی الفقهی الاسلامی).

مفتی محمد تقی صاحب وایي:

الخمائر والجلاتين المتخذة من الخنزير: إن كان العنصر المستخلص من الخنزير نستحيل ما هيته بعملة كيمياوية، بحيث تنقلب حقيقته تماماً، زالت حرمته ونجاسته، وإن لم تنقلب حقيقته بقي على حرمته ونجاسته، لأن انقلاب الحقيقة مؤثر في زوال الطهارة والحرمة عند الحنفية. (بحوث فی قضايا فقهية معاصرة:۱/ ۳۴۱، مکتبة دار العلوم کراتشی).

للمزيد من البحث راجع: (بدائع الصنائع:۱/ ۸۵، سعيد، ومجلة المجمع الفقهی الاسلامی، ص ۱۸۹ - ۱۹۰، الاستحالة واحکامها فی الفقهی الاسلامی، والموسوعة الفقهية:۱۰/ ۲۷۸، والفقه الاسلامی وادلته:۱/ ۱۰۰، دار الفکر، وجدید فقهی تحقیقات، از اسلامک فقه اکیدمی اند یا مرتبه: حضرت مولانا قاضی مجاهد الاسلامی قاسمی، ط: کتب خانه نعیمیه، دیوبند).

دانقلاب حقیقت په اړه د مفتي کفایت الله رحمه الله تحریر وګورئ:

د انقلاب حقیقت څخه مراد دا دئ چې هغه شی فی نفسه خپل حقیقت پرېږدي په یو بل حقیقت سره تبدیل سي لکه شراب چې کله سرکه سي یا وینه چې کله مشک سي یا نطفه د غوښې ټوټه سي وغیره وغیره چې به دغو صورتو کي شرابو فی نفسه خپل حقیقت خمریه او وینو خپل حقیقت د مویه او نطفې خپل حقیقت منویه پرې ایښي دئ او په نورو حقیقتو سره بدلیږي د حقیقت د بدلیدلو حکم هغه وخت ورکول کېدلای سي چې د اول حقیقت خاص خاص اثار په هغه کي پاته نه سي لکه په مذکوره مثالو کي چی له سرکي جوړېدلو وروسته د شرابو خاص اثار بالکل ختمیږي.

د ځینو اثارو ختمیدل یا په وجه د لږوالي د آثارو نه محسوس کېدل موجب انقلاب نه دي لکه ځنګه چي فقهاء کرامو په دې سره تصریح کړې ده چي که چیري په وړ وباندی یو څه شراب ګډ سي اور سره ګډ لامده سي او ډوډئ ورڅخه پخه سي، نو هغه ډوډئ ناپاکه ده یا په لږو اوبو کي توله یا دوې تولې شراب یا بولی ولوېږي، نو هغه اوبه ناپاکه دي حال دا چي په ډوډئ یا اوبو کی د دې لږ شرابو هیڅ یو اثر نه محسوسیږي مګر شرابو په دغو صورتو کي فی نفسه خپل حقیقت نه دي پرې ایښي، نو ځکه یې د ناپاکي حکم باقي دئ او محسوس نه کېدل یې د اجزاؤ د قلت له امله دي ځکه چي د شرابو اجزاء کم ؤ او د وړو زیات ؤ، نو ځکه هغه په ډوډئ کي نه معلومیږي، نو دا اختلاط دئ انقلاب نه دئ.

همدا رنګه د حقیقت منقلبه د ځینی غیر مختصه کیفیاتو باقي پاته کېدل مانع انقلاب نه دي لکه د شراب د سرکه جوړېدلو رووسته هم د هغو رقت پاته وي یا په صابون کي یو څه اندازه د نجسو غوړو غوړوالی پاته وي ځکه چي رقت (نرم والی) د شرابو د حقیقت سره او غوړوالی د غوړو د حقیقت سره نه دي مختص، نو د انقلاب عین له امله د احکامو د حکم د بدلولو په وخت کي د ډېر احتیاط او فکر څخه کار اخیستل په کار دي، ځکه چي ډېر وخت په انقلاب او اختلاط کي اشتباه راځي او انقلاب اختلاط یا اختلاط انقلاب بلل کیږي. والله الموفق. (کفایت المفتی: ۲/ ۳۳، ط: دار الاشاعت کراتشی).

حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه وایي:

د تبدیل ماهیت بیان: د تبدیل ماهیت څخه احکام هم بدلیږي مثلاً د انګورو اوبه پاکي دي مګر چي کله هغه شراب سي، نو نجسي دي او شراب چي کله یو بل شی جوړ سي یعنی سرکه ورځخه جوړه سي، نو بیا پاکه سوه، د تبدیل ماهیت معنی دا ده چی د یو شی څخه بل داسي شی جوړ سي

چي د هغه حکم د اول شی څخه بالکل خلاف وی، مثلاً ناپاک شی د داسې شی طرف ته بدل سو چې هغه شی پاک وي، نو هغه ناپاکه شی پاک بلل کیږي لکه امبار ناپاکه دي مګر چې کله خاوری سي، نو خاوره یو پاک شی دئ، نو هغه هم پاک بلل کیږي یا لکه هګۍ چې پاکه ده مګر چې کله وینه سي، نو وینه یو ناپاک شی ده، نو هګۍ هم ناپاکه بلل کیږي، خو چې کله د هغې ويني څخه مضغه غوښه جوړه سي، نو غوښه پاک سي او دا هم پاک بلل کیږي او که یې انقلاب د داسې شی طرف ته وسي چې د هغه حکم هم همدغه ډول ؤ لکه د دې چې تر انقلاب د مخه ؤ، نو هغه حکم یې پاتیږي که پاک ؤ، نو پاک بلل کیږي او که ناپاکه ؤ، نو ناپاک بلل کیږي، مثلاً لکه یو پاک هډوکي چې وسوځلو سي او هېره سي انقلاب خو یې دلته وسو مګر حکم یې هغه د مخکي حکم دئ ځکه چې هېره هم پاکه ده او که نطفه وینه سي، نو انقلاب خو یې وسو مګر د ناپاک وناپاک شی ته انقلاب وسو او حکم یې پر خپل حال پاته سو، هو چې کله مضغه غوښه سي، نو پاکه سوه ځکه چې مضغه غوښه پاکه ده او که انقلاب ناتمام وو یعني دوهم شی د اول شی څخه بدل نه ؤ خالي یو بد ډولون پکښې راغلی وو، نو احکام نه بدلیږي، لکه مثلاً د ناپاکه غنمو ډوډئ د غوړو د صورت پر ځای د ډوډئ صورت یې پیدا کړي مګر دا بل شی جوړېدل نه بلل کیږي. (بهشتی زیور، نواں حصه، ص ۷۸۲، ط: دار الاشاعت).

مګر علامه شامی رحمه الله د حقیقت له بدلون څخه د شیانو طهارت له عموم بلوی سره خاص کړی دئ یعنی په کوم شی کي چې عامه ابتلاء راسي هلته خو د پاکي حکم لګول کیږي مګر په کوم شی کي چې عامه ابتلاء نه وي، نو هلته د پاکي حکم نه لګول کیږي. وګورئ:

قد ذكر هذه المسألة العلامة قاسم في فتاواه، وذكر الأدلة على ذلك بما لا مزيد عليه، وحقق ودقق كما هو دأبه رحمه الله تعالىٰ، فليراجع.

ثم هذه المسألة قد فرعوها على قول محمد بالطهارة بانقلاب العين الذي عليه الفتوى واختاره أكثر المشايخ خلافاً لأبي يوسف كما في شرح المنية والفتح وغيرهما. وعبارة المجتبى: جعل الدهن النجس في صابون يفتوى بطهارته لأنه تغير والتغير يطهر عند محمد،

ویفتی به للبلوی،.... وعلیه یتفرع ما لو وقع إنسان أو کلب في قدر الصابون فصار صابوناً یکون طاهراً لتبدل الحقیقة.

ثم اعلم أن العلة عند محمد هي التغیر وانقلاب الحقیقة وأنه یفتی به للبلوی کما علم مما مر، ومقتضاه عدم اختصاص ذلك الحکم بالصابون، فیدخل فیه کل ما کان فیه تغیر وانقلاب حقیقة وکان فیه بلوی عامة.....(رد المحتار:۱/ ۳۱۶، باب الانجاس، سعید).

وقال فی موضع آخر: وظاهره أن العلة الضرورة، وصریح الدرر وغیرها أن العلة هي انقلاب العین، لکن قدمنا عن المجتبی أن العلة هذه وأن الفتوی علی هذا القول للبلویٰ، فمفاده أن عموم البلویٰ علة اختیار القول بالطهارة المعللة بانقلاب العین فتدبر. (رد المحتار:۱/ ۳۲۶، باب الانجاس، سعید).

د جلاټین په استعمال کي د عموم بلوی وضاحت:

په موجوده زنامه کی د جلاټین استعمال ډېر زیات دئ او ډېر بې حده عام دئ، هر یوه ته د دې د حرمت او حلت د مسئلې د معلومولو ضرورت سته د دې استعمال څنګه عام دئ، د دې په اړه (انسائیکلو پیډیا آف) برطانیکا وایي د جلاټین استعمال د جیلي غوښو سوپ او ټافیانو او داسې نورو خوړو خوراکونو مثلاً آئس کریم او څک لرونکی شیانو له پاره کیږي.

د دې متعلق د نورو ماهرینو بیانونه دا دي:

د جنوبي افریقا یو مسلم تنظیم دئ، هغه د دې متعلق لیکلي دي چي په مختلفو خوړو شیانو او د شیدو څخه جوړ سوی شیانو کي د دې ډېر استعمال کیږي، نور ماهرین وایي، چی د سر او مخ په مختلفو کریمو کي د جلاټین استعمالیږي او په دواؤ کي تر شپږ سوه زیاتي داسي دواوي دي چي په هغو کی د جلاټین استعمالیږي، د دې څخه پرته د فلم او عکس اخیستلو په کاغذ کي هم د دغه استعمالیږي، د انټر نیټ په معلومات سره ویل سوی دي چي د جلاټین ډېر زیات خصوصیات دي لکه جیلي جوړول یو شی سختول او د فلم په جوړولو کي د هغه په شکل کي معاون کېدل او د شیانو د سختولو له پاره په لاندي غذاؤ کي هغه استعمالیږي:

د خوړو او د شیدو څخه جوړ و سو شیانو کی د هغه استعمال
د دواګ په جوړولو کي د هغه استعمال.
په عکس اخیستل کي د هغه استعمال.
بې حسابه تکنیکي استعمالات.

په طبابت کي د جلاټین استعمال په عامو حالاتو کي د کیپسول په جوړولو کي کیږي له دې څخه سخت او نرم دواړه قسم کیپسول جوړیږي د دې څخه پرته په سرکه وغیره کي هم استعمالیږي او په تورو چایو کي هم استعمالیږي همدا ډول په مصنوعي جوس کی هم استعمالیږي. (ډاکټر اصغر علی جامعه همدرد ني دهلی کی پیش کرده تحقیق).

یو بل وضاحت دا دئ چي د ماهرینو مطابق هغه سخت کیپسول په عامو حالاتو کي د خنزیر د غوښو او هډوکو څخه جوړیږي ځکه چي د خنزیر د غوښي څخه جوړ سوي جلاټین په کیپسول کي پاکوالی او ځلا را ولي دا خو د جلاټین د استعمال عمومیت سو شاید چي د دې د استعمال څخه به هیڅوک خلاص نه سي پر هر چا به د دې نوبت راغلي وي او یا به راسي. (جدید نقهی تحقیقات، ص، از ۱۸۲ تا ۱۸۳).

د ماهرو ډاکټرانو د تحقیق خلاصه وګورئ

۱- ډاکټر محمد اسلم پرویز:

د کولاجن تعلق د پروټین له خاندان څخه دي او د پروټین د قسمو څخه کوم زموږ په مځکو کي موجود دي او پیدا کېدلای سي او د ځینو حیواناتو په جسم کي موجود د ټول پروټین دریمه برخه کولاجن وي، د حیواناتو په جسم کي زیات مقدار د دغو پروټین وي او دا په اوبو کي نه سم ځي بلکي دغسي پر خپل حالت باقي وي او هضم کیږي هم نه، د نورو پروټینو په شان دغه هم له ایمنوا یسیډس څخه جوړیږي له هغه څخه دوه قسمه دي چي ګلائسین او ایلینین د هغوی چي ثومره مقدار په کولاجن کي موجود دئ په یو بل پروټین کي په هغه کچه موجود نه دئ، په کولاجن کي د پرولین نامي ایمنسیو ایسیډس مقدار هم زیات دئ، په کولاجن کي یو ایمنیسو ایسیډس دئ چي د هغه نوم هائډرو کسی پرولین دئ خالي په کولاجن کي موجود دي او هائډرو کسي پرولین له امله څخه په هغه کي سختي راځي په کولاجن کي چي کوم ایمنیوا یسیډس موجود دئ په هغه کي غذائیت ډېر کم دئ کولاجن چي سره حل کړل سي د هغه څخه جلاټین جوړیږي دغه حل کولو ته

هائيډرو لائسس وايي، يعنى د تحليل هغه خاص عمل چي په هغه كي د اوبو استعمال كيږي ځكه چي د لائس مطلب دئ ماتول او هائيډرو مطلب دئ اوبه يعنى د اوبو په كومک سره د يو شى حل كول د جلاټين ظاهري جوړ شكل او رنګ خوند او بوي هر شى يې د كولاجن ځخه مختلف وي ځكه چي له كيميائي عمل ځخه وروسته او د تحليل ځخه وروسته يو نوي شى وجود ته راځي او جلاټين يو جلا قسم كميائي ماده ده كوم چي د كولاجن ځخه مختلف دي يو سائنسي حقيقت دئ چي د جلاټين ماده او جلاټين بالكل جلا شى دئ په كولاجن كي يو موجوده خاصه ماده هم په جلاټين كي نه سته.

۲- ډاكټر عمر افضل:

د هغه د تحقيق خلاصه دا ده چي د تحليل ځخه وروسته هغه يو بهيدونكى ماده پاته كيږي كوم چي د يخوالى په صورت كي سختيدلاى سي په تيار سوى جلاټين كي خو نه د يو حيوان ځرمنى او نه د هغې اثر پاته كيږي.

۳- ډاكټر اصغر علي:

د جلاټين د جوړولو دري طريقې دي:

الف- وچ هډوكي يا ځرمن د صافولو وروسته په (5٪ Hcl) يو قسم تيزابو كي لس يا پنځلس ورځي ايښودل كيږي، نو هغه يو شكل وركوي بيا هغه شكل ځلور پنځه ساعته (10٪Lime) په لس فيصده چونه كي ايښودل كيږي بيا يې له چوني ځخه باسي او په ګرمو اوبو كى يې ايږدي بيا يې را كاږي او وچوي يې د هغه لوند والى وچوي بيا د هغه وروسته د هغه ځخه جلاټين جوړوي.

باء- د ګيلګي ځرمن چي پريولي او په (10٪Lime) لس فيصده چونه كي يې شپږ ځخه تر دوولس ساعته كښېږدي بيا دي له هغه ځخه را وايستل سي او په ګرمو اوبو كي يې واچوي بيا د هغې لوړي طريقې مطابق جلاټين ورځخه جوړيږي.

جيم- د خنزير ځرمن چي ښه پاكه كړل سي بيا يې په (5٪Hcl-1) تيزابو كي لس ځخه تر دېرش ساعته پرېښودل سي بيا په هغه لوړه طريقه سره جلاټين ورځخه جوړيږي. (ملخص از جديد فقهى تحقيقات، از ص ۷۱ تا ۹۵).

موږ د يو بل طبيب تحقيق هم پيدا كړي كوم چي د حقيقت د تبديل قائل نه دئ.

۴- جناب ډاكټر محمد انصار حسين:

چي څرمنو د سائنسي مهارت له شعبي سره اړه لري، د هغه تحقيق خلاصه په لاندي ډول ده:

۱- د څرمن درې اسټره دي په اول استر يا پوست کي وريښتان وي او دغه پوست د ټولي څرمني يو فيصد دي.

۲- دوهم، د څرمن پنډوالی دئ چي په دغه پوست يا استر کي يو خاص شی وي هغه کولاجن دي او دا د څرمن (۹۸) فيصده دي.

۳- پوست يا استر د غوښو دئ په دې کي رګونه او پلي وي دغه برخه هم د څرمني يو فيصده ده.

(۲) کولاجن خپله جلاټين دي، (۳) د جلاټين په جوړولو کي د تيزابو استعمال د چوني په اوبو کي اچول او د هغه جوشول او ګرمول دا ټول د دې له پاره کول کيږي چي په مجموعه څرمن کي چي کوم د کولاجن سره نور شيان دي لکه ويښي يا وازګه وغيره تر څو چي هغه لرې سي او پاک سي او خالص کولاجن پاته سي دغه خالص کولاجن ته د جلاټين نوم ورکول کيږي.

(۴) د جلاټين جوړولو عمل يو کيميائي عمل دئ مګر د دغه عمل اثر له کولاجن سره متصل پر شيانو باندي وي او هغه زائل او لرې کړل کيږي خپله پر نفس کولاجن باندی د دې کيميائي تبديلي اثر نه لوېږي.

د ډاکټرانو پر تحقيقاتو د عصر د علماؤ نظرونه:

۱- مولانا خالد سيف الله صاحب په ظاهره دغه صورت د قلب ماهيت محسوسيږي او پر تخليل خمر باندي د دغو د قياسولو اجازه سته ځکه چي خالي په اوصافو کي نه بلکي په شکل او صورت کي يې هم بدلون راغلی دئ.

۲- مولانا محمد عبيد الله اسعدی صاحب فرمايي:

څرمن يا هډوکي که د خنزير وي، نو خالي په کوټلو او ميدولو يې استعمال درست نه دئ، هو که ديو بل حيوان وي يا رنګ سوي څرمن وي، نو بيا يې استعمال درست دئ، که چيري په جلاټين کي د څرمن يو شکل پاته وي، نو له د باغت څخه وروسته جائز کېدلای سي او که جلاټين په داسي طريقه جوړ کړل سي چي هډوکي وچي کړل سي يا يې له څرمن څخه تر د باغت وروسته جوړ کړل سي بيا هغه ويلي کړل سي او په يو بل شکل واوړي، نو دا قلب ماهيت سو همدا ډول په ويلولو او په بل شکل په اړولو کي د دباغت او د هډوکو د وچولو قيد هم نه سته.

۳- مولانا اختر امام عادل صاحب فرمايي:

د جلاټین معامله هم د سوال نامي پر مطابق قلب ماهیت معلومیږي.

۴- مفتي جمیل احمد نذیري فرمایي:

د جلاټین د جوړولو کي چي کومي طریقې ماهرینو لیکلي دي په هغو کي د یوې څخه هم قلب ماهیت نه معلومیږي سره د دې چي انقلاب نه دي راغلي بیا هم د جلاټین ځیني صورتونه روا دي.

الف- له خنزیر څخه پرته د نورو حیواناتو د وچو هډوکو څخه جوړ جلاټین روا دي، که ذبحه سوی وي او که مردار وي.

باء- د ذبح کړل سوي حیوان د لندو هډو او څرمني جلاټین روا دي.

جیم- د هغو حیواناتو چي غوښي یې خوړل کیږي چي د هغو له کلمو څخه جلاټین جوړ کړل سي د هغو استعمال کېدلای سي.

۵- مولانا ارشاد الحق اعظمی فرمایي:

که چیري جلاټین د نجس شي څخه جوړ کړل سي، نو په دې کي دوه قسمه دي:

الف- دا اصل یوه غاز لرونکی ماده ده کوم چی د زندګي علامت او د نجاست محل دئ او په یو مخصوص عمل سره یې دغه سره محفوظه کړي ده، نو چي دې ته وکتل سي که چیري جلاټین له نجسو شیانو جوړ سوي ؤ، نو روا نه دئ.

باء- د جلاټین چي کله په اوبو او په خاوره ګډ سي د هغه څخه کیچړ جوړ سي پر دې باندي علماؤ د پاکي حکم لګولي دئ، نو ځکه دا د پاکي له احتمال څخه خالي نه دي بیا ابتلاء عام هم ده، نو ځکه د استعمال اجازه کول ورکېدلای سي.

۶- مولانا محمد مصطفی عبد القدوس فرمایي:

په دې صورت کي ذکر سوي صورت تر قلب ماهیت لاندي راځي ځکه چي تر ویلیدلو وروسته د څرمن او هډوکو حقیقت ختمیږي، نو ځکه د قلب ماهیت د اسبابو څخه احراق هم دي یعني سوځېدل.

۷- مولانا ابو العاصی وحیدي، فرمایي:

یقیناً د جلاټین چي کوم عمل دئ هغه تر قلب ماهیت لاندی راځي.

۸- مولانا محمد ارشاد قاسمي فرمایي:

چې د جلاټین جوړولو درې طریقې په سوال کې ذکر سوی دي دا په فقهي اصول او جزئیات او په تعریف انقلاب کی د موجود والی له امله په انقلاب ماهیت کې داخل دي او ضرورت عامه او عموم بلوی په اعتبار د نوم او شکل او بوي او د حالت او کیفیت د بلیدو له امله روا دي.

۹- مولانا محمد مصطفی قاسمي:

په سوال نامه کې یې د جلاټین عکس اخیستي دئ که چیري په واقع کي همداسي وي نو بیله شکه تر قلب ماهیت لاندي راځي او د دې بیع او خوراک روا دئ.

۱۰- مولانا محمد برهان الدین سنبهلي:

د دې فن ځیني ماهرینو په دغه لیکونکي د ځیني پابریکو لیدنه وکړه، نو په دغه طریقه سره د هغه حقیقت بدلیږي مګر د هغه ځای د ځیني علماؤ رایه دا ده چې حقیقت نه بدلیږي.

۱۱- مولانا زبیر احمد قاسمي:

د جلاټین چې کوم وضاحت ثابت سوی دئ او کوم عکس چې یې اخیستل سوی دئ هغه تر قلب ماهیت او تحول عین لاندي منل کیږي.

۱۲- ډاکټر مولانا سلطان احمد اصلاحي:

د ډاکټر اصغر علي صاحب، د موادو په رڼا کې دا د استحالي یا د قلب ماهیت انتهائي ترقي یافته صورت دئ.

۱۳- مولانا اعجاز احمد قاسمي:

د جلاټین چې کوم صورت په سوال نامه کي بیان سوی دئ له هغه څخه معلومیږي د مردار شی څرمن یا هډوکي په دباغت او په پخولو او ویلیدلو سره او په یو بل کیمیاوي عمل سره د هغه حقیقت بدلیږي.

۱۴- مولانا خور شید احمد اعظمي:

د جلاټین په اړه چې کوم صورت بیان سوی دئ له دې څخه خو په ظاهره دا معلومیږي چې د دغه شی حقیقت بدلیږي.

له دغو حضراتو څخه پرته د نورو ځیني علماؤ په آند په جلاټین کی تبدیل ماهیت نه راځي.

د تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهي تحقیقات).

۱۵- **د مفتي تقي صاحب** د تفصيلي فتوی خلاصه دا ده د هغه په آند د هډوکي د جلاټين استعمال په قياس سره درست دي، البته د څرمني په جلاټين کي تبديل د ماهيت راځي که نه راځي په دي کي تردد دئ. (از فتوی مفتی تقی صاحب، ۱۴، شوال سنه ۱۴۱۷ هـ).

۱۶- **د مفتي اشرف صاحب** مفتي جامعه محموديه تحقيق دا دئ، چي په دې کي د ماهيت تبديلی راځي چنانچه د هغه يوه تفصيلي فتوی په لاندي ډول ده:

د ماهرينو په قول د کولاجن څخه د جلاټين په جوړلو کي کيميائي او طبعي تبديلي په وجود کي راځي او جلاټين يو نوي مرکب جوړيږي کوم چي له خپل اصل يعني کولاجن څخه بالکل جلا وي.

د دواء ديوې کمپنۍ بې ټپس د ((الشفاء لطبي)) را پور مطابق پوست او جلاټين د خپلو طبعې او کيميايې خصوصياتو او په ظاهري شکل کي ېيخي يو ډول نه دي جلاټين او کولاجن دواړه بېل بېل دي.

د غذائي مواد د تيارونکو د ماهرينو پر مطابق له کولاجن څخه د جلاټين جوړولو په عمل کي پوره تبديلي ماهيت راځي، نو ځکه د احقر ترجيح دغه طرفته ده چي جلاټين حلال او پاک دي ځکه چي له تبديل ماهيت سره سره عموم بلوی هم ده.

د اسلامي فقهي اکيډمي فيصله:

د اسلامي فقهي څلوارلسم مجلس ۲۰۰۴/ ۲۲/ جون، د هندوستان په علمي او تاريخ ښار د حيدر آباد په مشهوره ديني درسګاه دار العلوم سبيل السلام کي جوړ سو دغه مجلس ته تقريباً دوه سوه علماء راغلی وه او نور د دواؤ ماهرين هم راغلی وه چي په هغه کي د کشمير څخه نيولي تر کير رالی پوري او د مشرقي هندوستان څخه نيولی تر وسطی هندوستان پوري د هري علاقي علماء او خلک موجود وه د هندوستان څخه ماسو د کويت، سعودي عرب، ايران، او نيپال څخه هم ښو جيدو علماؤ شرکت کړي ؤ، نو په دغه ځای کي چي کوم قرار دادونه سره وسوه هغه دا دي:

۱- جلاټين يو نوم لرونکی يا مشهوره (orqanic) مرکب دي کوم چي يو قسم پروټين دي دا د حيوانانو په څرمنو او هډوکي کي موجود يو قسم پروټن چي کولاجن (collaqen) دي د هغه څخه په يو څو کيميائي بدلونونو سره جوړيږي کوم چي په کيميائي او طبعي ډول سره له کولاجن

څخه بالکل مختلف وي او دا اوس دیو نوي پروتېن شکل ورکوي او په خپل شکل رنګ او بوي کي له کولاجن څخه جلا دي.

۲- شریعت چي کوم شیان حرام کړي دي که چیري د هغه شی حقیقت او ماهیت بدل کړل سي، نو د هغه شی هغه پخواني حکم نه پاته کیږي، دیو شی هغه بنیادي او خصوص اوصاف چي په هغه سره هغه شی پېژندل کیږي دا بس د دغه شی حقیقت او ماهیت دئ.

د اکیډمي پر برابر د فن د ماهرینو په ذریعه چي کوم تحقیق مخته راغلی دئ د هغه پر مطابق په جلاټین کي د هغو حیواناتو د څرمنو او هډوکو حقیقت نه پاته کیږي د کولو کولاجن څخه چي جلاټین جوړیږي بلکي هغه له یو نوي حقیقت سره یو نوي شی منځ ته راځي، نو ځکه د هغه د استعمال اجازه سته.

۳- د فقهاؤ اختلاف او د غذائي شیانو اهمیت چي مخته کښېښودل سي، نو سمینار د مسلمانانو کاریګرو څخه درخواست کوي چي هغوی د حلال حیواناتو د اجزاؤ څخه جلاټین تیار کړي تر څو چي د هغه په حلال او پاکوالی کي څه شبه پاته نه سي. (ماخوذ از جدید فقهی تحقیقات، ص ۳۷- ۳۸).

د جلاټین د استعمال یوه بله طریقه:

حضرت مفتي صاحب د جلاټین په کمپنۍ کي د جلاټین د تیارولو او د کیمیاوي عملیاتو مشاهده وکړه هغه ته د تبدیل ماهیت شبه پیدا سوه، نو ځکه د نه جواز فتوی ورکړه، د هغه وروسته د جنوبي افریقا ځیني علماؤ دوباره پر دغه مسئله غوره وکړي او هغه ته یې هم د غور او فکر کولو دعوت ورکړي، نو بیرته یې د جلاټین په اړه تحقیق وکړي د هغه مختصر وضاحت په لاندي ډول دئ:

اکثره حیواناتو د کافرانو او مشرکانو په لاس ذبحه کیږي او د اهل کتاب ذبحه که څه هم هغوی د الله ﷻ نوم نه اخلي بیا هم د ځیني مشائخو په آند حلال دي، نو د هغه په حلالوالی کي شبه پیدا سوه، بیا د فقهاؤ د ځیني عباراتو څخه د جلاټین تبدیل ماهیت معلومیږي ځیني حضراتو په جلاټین کي د ماهیت پر تبدیل ربا اچولی ده او د فقهاؤ له نورو عباراتو څخه معلومیږي چي په جلاټین کی حقیقت نه بدلیږي، نو اوس په تبدیل ماهیت کي شبه راغله، نو که دغه دواړي شبهې سره یو ځای کړل سي، نو د فقهاؤ په اصطلاح کي دې ته شبهة الشبه وایي او قاعده دا ده چي د شبه اعتبار سته او د شبة الشبه اعتبار نه سته.

مثلاً فقهاؤ ليکلي دي چې که دراهم راس المال معجل او زعفران مسلم فيه مؤجل ؤ. نو دا روا دي حال دا چې د دواړو د مؤزون کېدو له امله د ربا شبه پيدا سوه مګر په جواب کي يې فرمايي. چي ربا خالي په يوه علت يعني د قدر مؤجل له امله په هغه کي شبه راغله او د دواړو د وزن په معيار کي ډېر فرق سته او د دې فرق له امله هغه شبه په شبهة الشبه بدله سوه او شبه معتبره ده او شبهة الشبه معتبره نه ده.

په هدايه کي يې وګورئ: (هدايه: باب الربا،۳/ ۷۹). قال: فتنزل الشبهة فيه إلى شبهة الشبهة وهى غير معتبرة.

اوله مقدمه (د اهل کتاب ذبحه د ځيني مشائخو په آند بيله دې چي هغه د الله ﷻ نوم واخلي هم حلال دي که څه هم زموږ په آند دغه قول مفتي به نه دئ مګر په جلاتين کی د ابتلائي عام له امله دغه قول کار کوي).

دلائل يې وګورئ:

علامه ابن عبدالبر رحمه الله په الاستذکار کي د اجماع دعوه کړي ده:

وقد أجمعوا في ذبيحة الكتابي أنها تؤكل وإن لم يسم الله عليها إذا لم يسم عليها غير الله. (الاستذكار:۱۵/ ۲۱۷).

که څه هم دعوى على الاطلاق روا نه ده. كما مر في الذبائح.

قال ابن رشد الأندلسى فى «بداية المجتهد »(۱/ ۳۳۰، الباب الخامس فيمن يجوز تذكيته ومن لايجوز): إذا لم يعلم أن أهل الكتاب سموا الله تعالى على الذبيحة: فقال الجمهور: تؤكل، وهو مروى عن علي رضي الله عنه ولست أذكر في هذا الوقت خلافاً.... الخ.

په دې عبارت کي هم د جمهورو طرفته د نسبت کولو تسامح راغلي ده.

تر دې زيات علامه امام نووي رحمه الله هم (المجموع شرح المهذب:۹/ ۷۸، دار الفكر) په خپل کتاب په الجموع شرح المهذب کي د جمهورو طرفته نسبت کړی دئ مګر په دې کي هم تسامح راغلی ده.

مفتي رشيد احمد صاحب هم د جمهورو طرفته نسبت کړی دئ:

په احسن الفتاوی کي يې وګورئ، که چيري اهل کتابي د الله ﷻ نوم ونه وايواو د غير الله نوم يې وانه خيستي، نو د دې په حلت کي اختلاف دئ د جمهورو په آند حلال دي. (احسن الفتاوی:۷ ۴۱۶).

په البحر الرائق کي راځي:

قال في العناية: الكتابي إذا أتى بالذبيحة مذبوحةً أكلنا، فلو ذبح بالحضور فلا بد من الشرط وهو أن لا يذكر غير اسم الله...وإن ذبح بين يديک فإن سمى الله تعالٰى لابأس بأكلها وكذا إذا لـم يسمع منه شيء. (البحر الرائق:۸/ ۱۶۸، ۱۶۹، کوئټه).

د قرآن کريم څخه هم د اهل کتاب ښوديځ او د ذبحي حلت معلوميږي:

﴿وطعام الذين أوتوا الكتاب حل لكم﴾ قال: أي مجاهد ذبيحتهم وهكذا قال إبراهيم وقال ابن عباس قال : انما أحلت ذبائح اليهود والنصارى من أجل أنهم آمنوا بالتوراة والانجيل. كذا فى الدر المنثور.

دا خبره په يادلري چي ﴿ولا تأكلوا مما لـم يذكر اسم الله عليه وإنه لفسق﴾ دغه آيت کريمه د سورة الانعام آيت دئ کوم چي مکي دئ او د مخه دئ هغه بل آيت:

﴿وطعام الذين أوتوا الكتاب حل لكم﴾ د سورة مائدې آيت دئ کوم چي مدني دئ او هغه مؤخر او غير منسوخ دئ.

عن أبي هريرة ﷺ والحسن والشعبى لـم ينسخ من المائدة شيء. (درمنثور) وعن ابن عباس ﷺ قال : نسخ من هذه السورة آيتان: آية القلائد وقوله: فإن جاؤوك فاحكم بينهم أو أعرض عنهم. (درمنثور).

خلاصه به دا راووزي (وطعام الذين اوتوا الكتاب حل لكم) غير منسوخ دي او په دي کي تسميه شرط نه ده او تر دې د مخه د مسلمانانو د ښکار ذکر راغلی دئ او په هغه کي د تسميې ذکر موجود دئ:

﴿فكلوا مما أمسكن عليكم واذكروا اسم الله عليه...﴾

له دې آیت څخه معلومیږي چي تسمیه د مسلمانانو له پاره شرط ده د اهل کتاب له پاره شرط نه ده، نبي کریم ﷺ ته یوې یهودي ښځي په زهرو لړلي بزي غوښي راوړی او نبي کریم ﷺ هغه وخوړي او دا یې ونه ویل چي تا پر دغه بسم الله ویلي وه او که نه؟:

أن يهودية أتت النبي ﷺ بشاة مسمومة فأكل منها فجئى بها فقيل: ألا تقتلها قال: لا.

(رواه البخاری: ۱/ ۳۵۶).

له دې لوړو تفصیلونو څخه معلومه سوه چي د اهل کتاب د ذبائحو د حلت له پاره تسمیه شرط نه ده مګر بلي خوا ته اکثره احناف او حنابله فرمایي، چي د اهل کتاب له پاره هم تسمیه شرط ده:

قال العلامة بدر الدين العينى فى «البناية» (۱۰/ ۴۳۸،ط: رشيديه): فلو ترک الکتابي التسمية عمداً أو ذبح وسمى باسم المسيح لم تحل ذبيحته بإجماع الفقهاء وأكثر أهل العلم.

همدا رنګه قاضي ثناء الله پانی پتي رحمه الله په تفسیر المظهري کي او حضرت حکیم الامت رحمه الله په امداد الفتاوی کي مفتی محمد شفیع صاحب په جواهر الفقه کي علامه شامي رحمه الله په رد المحتار کي او ابن الملک رحمه الله په منیة الصیادین کي او ابن قدامه رحمه الله په المغني کي، همدا رنګه مصنف د هدایه، مصنف د لباب، مصنف الاختیار وغیره اکثره فقهاؤ د کتابي له پاره تسمیه مشروط بللی ده.

حواله جات په کتاب الذبائح کی مخکي تېر سوه په عنوان د ذبائح اهل کتاب حکم او د کتابي د ذبح په وخت د تسمیې حکم هلته یې کتلای سي.

اوس دغه شبه پیدا سوه چي د کتابي بېله تسمیه ذبحه حلاله ده او که حرامه؟ پر دې بناء له مشتبه شی څخه ځان ساتل په کار دي.

دوهمه مقدمه (د عین شی په بدلون کي شبه) د هغه دلائل وګورئ:

د فقهاؤ د یو څو عباراتو څخه معلومیږي چي په جلاټین کي د ماهیت تبدیلی نه راغلي چي د هغه ذکر په دغه مفصله فتوی کي راغلي دئ کومه چي یو څو کاله د مخه د جمعیت علماء اسلام په فرمان سره لیکل سوې وه مګر د ځیني عباراتو څخه د حقیقت تبدیلي معلومیږي چنانچه په نفع المفتي والسائل کي مولانا عبد الحي رحمه الله لکهنوی لیکلي دي:

الاستفسار: اختلط الماء والتراب أحدهما نجس، فصارطيناً، هل يحكم بنجاسه أم بطهارته؟

الاستبشار: فيه أقوال: والفتوى على الاختلاف في البناية للعيني: قيل: العبرة فيه للماء، وقيل للتراب، وقيل للغالب، وقيل: أيهما كان طاهراً، فالطين طاهر، وبه قال الأكثر، وقيل: وإن كانا نجسين، فالطين طاهر، لأنه صار شيئاً آخر كالكلب والخنزير إذا صارا ملحاً في المملحة، انتهٰى.

وفي خزانة الرويات عن التهذيب: إذا اختلطا وأحدهما نجس، بعضهم اعتبر التراب، والصحيح أنها نجس. انتهٰى. وهذا في فتاوى قاضيخان وفي الدر المختار: العبرة للطاهر من ماء وتراب، به يفتى. انتهى، وفي البحر الرائق: في البزازية الفتوى على أن العبرة للطاهر أيهما كان، فهو مخالف لتصحيح قاضيخان، انتهٰى. (نفع المفتى والسائل، ص: ۱۰۲،ط: دار حزم).

وفي البزازية قال: الماء والتراب إذا كان أحدهما طاهراً والآخر نجساً اختلطا وجعلا طيناً اختار الفقيه أبو الليث أن العبرة للنجس ترجيحاً للحرمة وقال محمد ابن سلام: العبرة للطاهر لأنه صار شيئاً آخرو هو قول محمد وقد ذكر أن الفتوىٰ عليه. (الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ۴/ ۲۳، الثامن فيما يصيب الثوب).

له دغو عبارتونو څخه معلومه سوه چي که له خاورو سره اوبه ګډي سي نو د هغه څخه ختې جوړېږي، نو دې ته ځيني فقهاؤ تبديل ماهيت ويلي دي او دا داسي دي ((کا لکلب إذا صار ملحاً)) او دا خبره ښکاره ده چي په جلاتين کي د څرمني تبديلي د ختې تر تبديل ډېره زياته ده او نور دا چي د مختلفو نورو شيانو او اجناسو په ګډولو سره هم په حقيقت کي بدلون راځي. کله چي ناپاکه قلعي ويلي کړل، نو د ځينو علماؤ په اند پاکيږي. وګورئ: (نفع المفتى والسائل،ص ۱۴۶، المطهر الثالث عشر، ط: دار ابن حزم).

دغه پاکي تقريباً د حقيقت د بدلون له امله څخه راځي که نه، نو دا خو څرګنده نه ده چې په پخولو سره پاکه سي، نو ځکه په جلاټين کي د شبة الشبهه له امله د هغه د خوړلو اجازه سته همدا رنګه د ويليدو سره که نور کيميائي مواد هم ور واچول سي، نو دا به د حقيقت په بدلون کي ډېر کومک کونکي وي، هو که د خره غوښي ويلي يا وچي کړل سي، نو په دې کي ماسوا له پخولو بل عمل نه دي سوي مګر په جلاټين دغه عمل نه دئ سوي بلکي جلاټين د صابون سره مشابه دي يعني په بهيدونکی شی کي مواد وغيره اچول کيږي بيا هغه کلک کيږي يا په شرابو کي سرکه اچول کيږي يو څه ساعت وروسته هغه سرکه ګرځي مطلب دا دئ چې په جلاټين کي د اور د عمل سره سره هغه نور مواد هم کار کوي پر دې بناء په دې کي د حقيقت بدلون راځي. والله ﷻ واعلم.

د هډوکو د جلاټين حکم

سوال: کوم جلاټين چې د مردارو حيواناتو د هډکو څخه جوړيږي د هغه د خوړلو څه حکم دئ، خوراک يې روا دئ او که نه؟

الجواب: قطع نظر له دې چې د هغه حقيقت بدليږي او که نه، د ماکو اللحم حيواناتو د هډوکو څخه جوړ سوي جلاټين پاک او حلال دي ځکه د فقهاؤ په آند هډوکي ((مالا تحله الحياة)) داسي دي چې په هغو کي حياة نه وي يعني په کوم شی کي چې حياة نه وي په هغه کي موت هم اثر نه کوي، نو ځکه دې ته ميته نه سو ويلای، چنانچه فقهاؤ د مړي چرګي هګی او د مړي غوا شيدې حلالي بللی دي.

په فتاوی هنديه کي راغلی دي:

البيضة إذا خرجت من دجاجة ميتة أكلت، وكذا اللبن الخارج من ضرع الشاة الميتة كذا فی السراجية. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۳۹).

وقال الإمام الطحاوي فی «مختصر اختلاف العلماء» (۳/ ۳۴۲): قال أبو حنيفة: لبن الميتة وإنفحتها طاهر ان لايلحقهما حكم الموت وقال أبو يوسف ومحمد والثوری: يكره اللبن لأنه وعاء نجس وكذلک الإنفحة إذا كانت مائعة فإن كانت جامدة فلا بأس وقالوا:

جميعاً فى البيضة إذا كانت من دجاجة ميتة فلا بأس بها وقال مالک: لا يحل اللبن فى ضروع الميتة وقال الثورى: اللبن لايموت ويكره لأجل أن وعائه ميتة... الخ.

په کبيري کي راغلي دي:

البيضة إذا وقعت من الدجاجة فى الماء أو فى المرقة لا تفسده... وكذا الإنفحة وهي ما يكون في معدة الرضيع من أجزاء اللبن طاهرة عند أبي حنيفة لا تفسد الماء ولا غيره، وإذا خرجت من شاة ميتة سواء كانت جامدة أو مائعة. (شرح منية المصلى، ص: ۱۵۰، ط: سهيل اکيدمی).

وفي مجمع الأنهر: وإنفحة الميتة ولبنها طاهر قال ابن الملک: إنفحة الميتة... كرش الجدي أو الحمل الصغير لم يأكل بعد، يقال لها بالفارسية «پنيرمايه» يعنى إنفحة الميتة جامدة كانت أو مائعة طاهرة عند الإمام وكذا لبنها. (مجمع الانهر:۱/ ۶۴).

وللمزيد راجع: (المبسوط للامام السرخسى:۲۴/ ۵۲، دار الفكر، والموسوعة الفقهية:۳۹/ ۳۸۸، وفقه السنة، ص ۲۴، والفتاوى السراجية،ص، والفتاوى البزازية على هامش الهندية:۶/ ۳۶۵).

زيات تفصيل په را روانه مسئله کي وګورئ او که چيري د حقيقت د بدلون مسئله منل سوي وي، لکه څنګه چي مخکي په تفصيل سره تېره سوه، نو بيا د تبديل ماهيت پر بناء هم روا دي. والله ﷻ اعلم.

أنفس البيان فى حكم الأجبان

د پنير د خوړلو حکم

سوال: د ميتي يا د غير شرعي ذبحه سوي حيوان له خيدک شيدو څخه چي کوم پنير تياريږي د هغه څه حکم دئ؟ يعني د هغه خوراک روا دئ او که نه؟ د مهرباني د مخي يو مدلل جواب را کړي؟

الجواب: که ماکول اللحم حيوان په ښه توګه حلال کړل سو، نو د هغه له خيدک شيدو څخه پنير جوړول حلال او هغه پنير پاک دي، البته د مردار په اړه علماؤ اختلاف دئ د امام ابو حنيفه رحمه الله

په آند مطلقاً روا دي او د صاحبينو رحمهما الله د جامد او مائع تر منځ فرق کړی دئ چې مائع نجس دي او جامد تر مينځلو وروسته پاکيږي.

او د احنافو اکثره مشائخو د امام ابو حنيفه رحمه الله قول مختاره کړی دئ، علامه شامي رحمه الله، علامه طحطاوي رحمه الله، امام ابو بکر جصاص رحمه الله خو صراحةً د امام ابو حنيفه رحمه الله قول ته ترجيح ورکړې ده، د دې ځخه پرته د نورو حضراتو د عمل ځخه معلوميږي چې د امام ابو حنيفه رحمه الله عمل غوره دئ مثلاً مصنف د هدايې په التجنيس والمزيد کې او مصنف د فتاوى ولولو الجيه کې او مصنف د خلاصة الفتاوى هم فقط د امام ابو حنيفه رحمه الله قول ذکر کړی دئ او د صاحبينو د قول ځخه تعرض نه دئ کړې آيا دا هم د ترجيح علامه ده او زموږ په علماؤ کې حضرت تهانوى رحمه الله، حضرت مفتى نظام الدين رحمه الله، حضرت مفتي محمود حسن گنگوهي رحمه الله، حضرت تقى صاحب او داسې نورو هم د حلال والى فتوى ورکړې ده او يا يې پر حلال فتوى باندې دستخط کړی دئ.

د عربو علماؤ ځخه مثلاً عبد الله بن عبد العزيز بن باز، شيخ يوسف برقانى، شيخ عبد الرزاق حلبى، شيخ ابو بکر الجزائري، شيخ احمد محمد عسال، شيخ عبد الحميد طهماز او داسې نور وهم د حلت قول اختيار کړی دئ.

زيات تر دې په احاديثو کې صراحةً ذکر سوي دي چې نبي کريم ﷺ داسې پنير وخوړي چې هه د کافرانو په کمپنۍ کې جوړ سوي وه او دا يې ونه ويل، چې د ذبحه سوي حيوان دي اؤ که نه دي او نه يې دا وويل چې له مائع ځخه جوړ سوي دي او که د جامد ځخه بلکې مطلق د خوړلو ذکر راغلى دي، حوالې په لاندې ډول دي:

الجبن من مصادر لبن الحيوان الماكول، لقوله تعالىٰ: ﴿نسقيكم مما في بطونه من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين﴾. (النحل: ۶۶).

قال الإمام أبو بكر الجصاص في كتابه «أحكام القرآن»: قال أبو حنيفة: لبن الميتة وأنفحتها طاهران، لا يلحقهما النجاسة، وقال أبو يوسف ومحمد والثوري: يكره اللبن لأنه

في وعاء نجس وكذلك الإنفحة إذا كانت مائعة، فإن كانت جامدة فلا بأس، وقال وعبد الله بن الحسن والشافعي: لا يحل اللبن في ضروع الميتة.

قال أبو بكر: اللبن لا يجوز أن يلحقه حكم الموت لأنه لا حياة فيه ويدل عليه أنه يؤخذ منها وهي حية فيؤكل، فلو كان مما يلحقه حكم الموت لم يحل إلا بذكاة الأصل كسائر أعضاء الشاة وأيضاً قوله تعالٰى:

﴿ نسقيكم مما في بطونه من بين فرثٍ ودمٍ لبناً خالصاً سائغاً للشاربين ﴾ (النحل:۶۶).

عام في سائر الألبان، فاقتضى ذلك شيئين: أحدهما: أن اللبن لا يموت، ولا يحرمه موت الشاة.

والثاني: أنه لا ينجس بموت الشاة ولا يكون بمنزلة لبن جعل في وعاء ميت. (احكام القرآن: ۱/ ۱۲۰، ۱۱۹، باب منفحة الميت ولبنها، ط: سهيل اكيدمی).

د پنیر حلت د احادیثو په رڼا کي:

(۱) روى ابن حبان في صحيحه (۵۲۴۱) بسنده فقال: أخبرنا الحسن بن سفيان قال: حدثنا يحيى بن موسى البلخى (ثقة) قال: حدثنا إبراهيم بن عيينة (صدوق، صالح) قال: حدثنا عمرو بن منصور (ثقة) عن الشعبى (ثقة) عن ابن عمر رضي الله عنه قال: أتي النبي صلى الله عليه وسلم بجبنة من تبوك فدعا بسكين فسمى وقطع.

قال الشيخ شعيب الأرنؤوط: إسناده حسن.

وأيضاً رواه أبو داود (۳۸۲۱)، والبيهقي في الكبرى(۲۰۱۷۶)، وفي الصغرى (۳۹۹۷).

(۲) أخرج الإمام أحمد بن حنبل في مسند (۴/ ۴۸۲/ ۲۷۵۵) بسنده، فقال: حدثنا أسود حدثنا شريك (سيء الحفظ) عن جابر (ضعيف) عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: أتي النبي

صلى الله عليه وسلم بجبنة في غزاة فقال: أين صنعت هذه فقالوا: بفارس ونحن نرى أنه يجعل فيها ميتة فقال: اطعنوا فيها بالسكين واذكروا اسم الله وكلوا. ذكره شريک مرة أخرى فزاد فيه فجعلوا يضربونها بالعصي.

قال الشيخ شعيب الأرنؤوط: حسن لغيره، وهذا إسناد ضعيف، شريک سيئ الحفظ، وجابر- وهو ابن يزيد الجعفى - ضعيف. وأخرجه الطبراني (١١٨٠٧)، وابن عدى (٢/ ٥٤٣)، والبيهقى (١٠/ ٦) من طرق عن شريک بن عبد الله، بهذا الإسناد، وقرن الطبرانى بشريک قيس بن الربيع (صدوق تغير لما كبر).

أخرجه الهيثمي فى زوائد مسند أبي يعلى (٢/ ١٧١٩) بهذا الإسناد. والبوصيرى فى الزوائد(رقم: ٣٦٣٥/ ٣) وقال: مدار هذه الأسانيد على جابر الجعفي وهو ضعيف.

وقال الهيثمي: رواه أحمد والبزار والطبراني وقال: في غزوة الطائف وفيه جابر وقد ضعفه الجمهور وقد وثق وبقية رجال أحمد رجال الصحيح. (مجمع الزوائد:٥/ ٤٣، باب ماجاء فى الجبن، دار الفكر)

(٣) أخرج الطبرانى فى الأوسط (١٥٧٤) قال: حدثنا أحمد قال: حدثنا محمد قال: حدثنا المعافى بن عمران عن هشام بن سعد عن زيد بن أسلم عن عطاء بن يسار عن ميمونة زوج النبي ﷺ قال: سئل النبي ﷺ عن الجبن قال: «اقطع بالسكين واذكر اسم الله وكل». لم يرو هذا الحديث عن زيد الا هشام ولاعن هشام الا المعافى.

وأخرج أيضاً البيهقي في شعب الإيمان (٥٩٥٤)، وأبو نعيم فى الحلية (٨/ ٢٩١)، وابن الأثير في أسد الغابة (٣/ ٤١٦).

قال الهيثمي: فيه أحمد بن الفرج الحجازي، ضعفه محمد بن عوف وابن عدی، ووثقه ابن أبي حاتم، وبقية رجاله ثقات. (مجمع الزوائد:٥/ ٤٣، دار الفكر).

د صحابه ؤ كرامو ﷺ د آثارو څخه هم حلت معلوميږي: د ابن ابی شيبه رحمه الله په مصنف كي يې وګورئ:

حدثنا هشيم، قال: أخبرنا أبو حمزة، قال: سمعت ابن عباسٍ رضي الله عنه وسئل عن الجبن؟ قال: ضع السكين فيه، واذكر اسم الله، وكل.

حدثنا هشيم، عن أبي حيان الأزدي، قال، سألت ابن عمر رضي الله عنه عن الجبن؟ فقال: ما يأتينا من العراق شيء هو أعجب إلينا منه.

حدثنا أبو الأحوص، عن أبي إسحاق، عن قرظة، قال: عمر رضي الله عنه: كلوا الجبن فإنه لبأ (أول اللبن فی النتاج) ولبن.

حدثنا أبو الأحوص، عن أبي إسحاق، عن تملك، قالت: سألت أم سلمة؟ فقالت: ضعي فيه سكينك، واذكري اسم الله جل وعز، وكلي.

حدثنا سلام، عن سعيد بن مسروقٍ، عن منذرٍ، عن ابن الحنفية، قالوا: كلوا الجبن عرضًا. (قال فی النهاية: «كل الجبن عرضا» ای اشتره ممن وجدته ولاتسأل عمن عمله من مسلم أو غيره).

حدثنا يحيى بن سعيدٍ، عن ابن عجلان، عن ربيعة، عن خالته، قالت: جاءنا جبن من العراق، فأرسلت إلى عائشة رضی الله تعالى عنها، فقالت: كلي وأطعميني.

حدثنا جرير، عن مغيرة، عن أم موسى، عن علي رضي الله عنه، قال: إذا لم تدروا من صنعه، فاذكروا اسم الله عليه، وكلوه.

حدثنا أبو معاوية ، عن الأعمش ، عن شقيق ، عن عمرو بن شرحبيل ، قال : ذكرنا الجبن عند عمر رضي الله عنه، فقلنا له : إنه يصنع فيه أنافح الميتة ، فقال : سموا عليه وكلوه. (وكذا رواه عبد الرزاق فى مصنفه:٤/ ٥٣٧، قال أحمد: هذا أصح حديث فى هذا الباب).

حدثنا وكيع ، عن سفيان ، عن جحشٍ ، عن معاوية بن قرة ، عن الحسن بن علي رضي الله عنه؛ أنه سئل عن الجبن ؟ فقال : لا بأس به ، ضع السكين ، واذكر اسم الله عليه وكل. (قال الهيثمى:٥/ ٥٦: رواه الطبرانى، ورجاله رجال الصحيح).

حدثنا وكيع ، عن أبي جعفرٍ الرازي ، عن الربيع ، عن أبي العالية ، عن سويد ، غلامٍ كان لسلمان رضي الله عنه وأثنى عليه خيرًا ، قال : لما افتتحنا المدائن خرج الناس في طلب العدو ، قال : قال سلمان رضي الله عنه: وقد أصبنا سلةً ، فقال : افتحوها فإن كان طعامًا أكلناه ، وإن كان مالاً دفعناه إلى هؤلاء ، قال : ففتحناها فإذا أرغفة حوارى ، وإذا جبنة وسكين ، قال : وكان أول ما رأت العرب الحوارى ، فجعل سلمان رضي الله عنه يصف لهم كيف يعمل ، ثم أخذ السكين وجعل يقطع، وقال : بسم الله كلوا. (مصنف ابن ابى شيبة:١٢/ ٣٧٥- ٣٧٧،ط: المجلس العلمى، ومصنف عبد الرزاق:٤/ ٥٣٨- ٥٤٠، المكتب الاسلامى، بيروت، والسنن الكبرى للبيهقى:١٠/ ٦، بيروت).

په سنن اكبرى كي راځي:

عن أنس بن مالكٍ رضي الله عنه قال : كنا نأكل الجبن على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وبعد ذلك لا نسأل عنه. (السنن الكبرى للبيهقى:١٠/ ٧).

☆ أصح الحديث فى هذا الباب حديث عمر بن الخطاب رضي الله عنه:

قال ابن أبي شيبة: حدثنا أبو معاوية ، عن الأعمش ، عن شقيق ، عن عمرو بن شرحبيل ، قال: ذكرنا الجبن عند عمر رضي الله عنه، فقلنا له : إنه يصنع فيه أنافح الميتة ، فقال : سموا عليه وكلوه. (رواه ابن ابی شیبة فی مصنفه:۸/ ۱۰۰/ ۲۴۹۰۸، وعبد الرزاق فی مصنفه:۴/ ۵۳۷).

قال القاري: قال أحمد: أصح حديث في جبن المجوس هذا الحديث. (المرقاة:۲/ ۸۰، امدادية، ملتان).

قال ابن رجب الحنبلي في جامع العلوم والحكم: قال الإمام أحمد: أصح حديث فيه هذا الحديث يعني جبن المجوس. (ص: ۲۸۴، دار المعرفة، بيروت).

(وكذا فی المغنی لابن قدمة:۱۱/ ۸۹).

مګر د ځيني آثارو څخه ممانعت معلوميږي، په مصنف عبد الرزاق کي راغلی دي:

عبد الرزاق عن إسرائيل عن مجزأة بن زاهر عن عطاء البصري (وهو ابن عجلان، منكر الحديث)، قال: كنت عند بن عمر رضي الله عنه...قلت: فالجبن، قال: يؤتى به من العراق فنأكله ونطعمه غلماننا قلت: فإنهم يجعلون فيه الميتة قال: فإن علمت أن فيه ميتة فلا تأكله. (مصنف عبد الرزاق:۴/ ۵۴۱/ ۸۷۹۲).

قلت: إسناده ضعيف.

عبد الرزاق عن معمر عن رجل (مجهول) أنه سأل سعيد بن المسيب عن الجبن فقال: إن علمت أن فيه ميتة فلا تأكله وإلا فسم وكل. (مصنف عبد الرزاق:۴/ ۵۴۱/ ۸۷۹۴).

قلت: إسناده ضعيف.

(۲)أخبرناه أبو بكرِ الأردستانی أنبأنا أبو نصرِ العراقی حدثنا سفيان الجوهری حدثنا علی بن الحسن الهلالی حدثنا عبد الله بن الوليد (قال ابن معين: لا اعرفه، ولم اكتب عنه شيئاً) حدثنا

سفيان حدثني إبراهيم العقيلي حدثني عمي ثور بن قدامة قال : جاءنا كتاب عمر بن الخطاب رضي الله عنه أن لا تأكلوا من الجبن إلا ما صنع أهل الكتاب. (رواه البيهقي في الكبرى: ۱۰/ ۶/ ۲۰۱۸۳).

(۳) حدثنا عبيدة بن حميدٍ ، عن منصورٍ ، عن عبيد بن أبي الجعد ، عن قيس بن السكن ، قال : قال عبد الله : لا تأكلوا من الجبن إلا ما صنع المسلمون وأهل الكتاب. (رواه ابن ابی شيبة فی المصنف:۱۲/ ۳۷۷/ ۲۴۹۰۰).

وأيضاً رواه البيهقي في الكبرى (۱۰/ ۶)، والطبراني في الكبير (۸۹۸۰)، وقال الهيثمي: رجاله ثقات. (مجمع الزوائد:۵/ ۴۳، دار الفكر).

پورتني د حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ روايت كه څه هم د سند په اعتبار قوي دئ مگر موقوف دي او له مرفوع رواياتو مطلقاً حلت معلوميږي، نو ځكه مرفوعاتو ته ترجيح وركول سوي ده.

د رواياتو تر منځ تطبيق وكوري:

۱- حلت له مرفوع رواياتو څخه ثابت دئ او نبي كريم ﷺ په خپل هم خوړلی دي.

۲- علامه ابن تيميه رحمه الله د دواړو روايتونو تر منځ لاندينی تطبيق وركړی دئ.

د كراهيت روايات له اهل حجاز څخه مروي دي چي د هغو له مجوسيانو سره هيڅ تعلق نه سته د دې پر خلاف د حلت روايات د اهل عراق څخه مروي دي كوم چي د مجوسيانو په علاقه كي اوسيدئ او هغه د هغو په مصنوعاتو ډېر خبرؤ.

۳- د ممانعت روايات اكثره ضعيف وي او د حلت روايات د سند په اعتبار صحيح دي.

۴- د حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ د سند په اعتبار صحيح دي، نو دا پر احتياط او تقوی باندي محمول دي.

۵- له كومو صحابه ؤ كرامو ﷺ څخه چي ممانعت مروي دئ هغه د دغه د ميتي پر بنياد دي يعني هغه د دې د ميتي قائلين دي، د دې پر خلاف د آثارو څخه ثابت دي او د اكثره حضراتو مسلك دئ چي په شيدو كي ژوند نه وي او مرگ هم پكښي حلول نه كوي.

وقد روي عن عمر بن الخطاب ﷺ أنه قال: اللبن لايموت. (الاوسط لابن المنذر:٢/ ٢٨٩).

عن ربيع بن أنس عن أبي العالية قال: سألوه عن الأنافح، فقال إن اللبن لا يموت. (مصنف عبد الرزاق:٤/ ٥٣٩).

لكه څنګه چې د دغه آيت كريمه په تفسير كي مفسرينو فرمايلي دي: ﴿من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا ...﴾ د دې ممانعت پر بناء د ممانعت روايات زموږ له بحث څخه خارج دي.

قال الإمام ابن تيمية: والأظهر أن جبنهم (المجوس) حلال، وأن إنفحة الميتة ولبنها طاهر، وذلك لأن الصحابة لما فتحوا بلاد العراق أكلوا جبن المجوس، وكان هذا ظاهرًا شائعًا بينهم، وما ينقل عن بعضهم كراهة ذلك ففيه نظر، فإنه من نقل بعض الحجازيين وفيه نظر، وأهل العراق كانوا أعلم بهذا فإن المجوس كانوا ببلادهم ولم يكونوا بأرض الحجاز، ويدل على ذلك أن سلمان الفارسي ﷺ كان هو نائب عمر بن الخطاب ﷺ على المدائن وكان يدعو الفرس إلى الإسلام، وقد ثبت عنه أنه سئل عن شيءٍ من السمن والجبن والفراء؟ فقال: الحلال ما أحل الله في كتابه، والحرام ما حرم الله في كتابه، وما سكت عنه فهو مما عفى عنه. (رواه الترمذی:١/ ٣٠٣).

وقد رواه أبو داود مرفوعًا إلى النبي ﷺ. ومعلوم أنه لم يكن السؤال عن جبن المسلمين وأهل الكتاب، فإن هذا أمر بين، وإنما كان السؤال عن جبن المجوس، فدل ذلك على أن سلمان كان يفتي بحلها وإذا كان روي ذلك عن النبي ﷺ انقطع النزاع بقول النبي ﷺ. (مجموع الفتاوى:٢١/ ١٠٣، ١٠٤، فصل فی لبن الميته وانفحتها).

وينظر: (مجموع الفتاوى لابن تيمية:٢١/ ١٠٢، ودقائق التفسير لابن تيمية:٢/ ١٢).

قال الإمام أبو بكر الجصاص: فأباح النبي ﷺ في هذا الحديث (حديث ميمونة زوج النبى صلى الله عليه وسلم) أكل الجميع منه، ولم يفصل بين ما صنع منه بأنفحة ميتة أو غيرها وقد روى عن على وعمرو سلمان وعائشة وابن عمر وطلحة بن عبيد الله وأم سلمة والحسن بن على رضي الله عنه إباحة أكل الجبن الذي فيه أنفحة الميتة. (احكام القرآن:١/ ١٢٠).

دفقه د كتابونو څخه دلائل وګورئ:

قال الإمام السرخسي في المبسوط: ولا بأس بالجبن ، وإن كان من صنعة المجوس لما روي أن غلامًا لسلمان رضي الله عنه أتاه يوم القادسية فيها جبن ، وخبز ، وسكين ، فجعل يقطع من ذلك الجبن لأصحابه ، فيأكلونه ... إلى قوله: ولأن الجبن بمنزلة اللبن ، ولا بأس بما يجلبه المجوس من اللبن إنما لا يحل ما يشترط فيه الذكاة إذا كان المباشر له مجوسيا ، أو مشركًا ، والذكاة ليست بشرطٍ لتناول اللبن ، والجبن ، فهو نظير سائر الأطعمة ، والأشربة بخلاف الذبائح ؛ وهذا لأن الذكاة إنما تشترط فيما فيه الحياة ، ولا حياة في اللبن ، وقد بينا ذلك في النكاح... ألا ترى أن في الأصل ، اللبن إنما يخرج من موضع النجاسة قال الله تعالىٰ ﴿ من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين ﴾، (النحل:٦٦) وعلى هذا إنفحة الميتة عند أبي حنيفة رحمه الله طاهرة مائعةً كانت ، أو جامدةً بمنزلة اللبن . (المبسوط:٢٤/ ٥١، ط: دار الفكر، بيروت).

په مجمع الانهر كي راغلي دي:

وإنفحة الميتة ولبنها طاهر) قال ابن ملكٍ: إنفحة الميتة ... بالفارسية " پنيرمايه " يعني : إنفحة الميتة جامدةً كانت أو مائعةً طاهرة عند الإمام ، وكذا لبنها أما الإنفحة الجامدة فإن الحياة لم تحل فيها وأما المائعة واللبن فلأن نجاسة محلها لم يكن مؤثرةً فيهما قبل

الموت ؛ ولهذا كان اللبن الخارج بين فرثٍ ودمٍ طاهرًا فلا تكون مؤثرةً بعد الموت. (مجمع الانہر: ١/ ٩٦، دار الكتب العلمية).

پہ الموسوعة الفقهية کي رائحي:

اختلف الفقهاء في الحكم بنجاسة إنفحة الميتة من الحيوان المأكول اللحم ، حيث إنها قد تستعمل في صناعة الجبن ، وذلك على ثلاثة أقوالٍ:

أحدها : لجمهور الفقهاء من المالكية والشافعية والحنابلة في ظاهر المذهب ، وهو أنها نجسة ....

والثاني : لأبي يوسف ومحمدٍ صاحبي أبي حنيفة ، وهو أنها إن كانت مائعةً فهي نجسة لنجاسة وعائها ، وإن كانت صلبةً يغسل ظاهرها وتؤكل.

والثالث : لأبي حنيفة وأحمد في روايةٍ عنه رجحها ابن تيمية وهو أنها طاهرة ، لأن الصحابة رضي الله عنهم لما دخلوا المدائن أكلوا الجبن ، وهو يعمل بالإنفحة التي تؤخذ من صغار المعز ، وذبائحهم ميتة.(الموسوعة الفقهية: ٣٩/ ٣٨٨).

وقال الطحطاوي: ولبن وإنفحة... وقال أبو حنيفة: ليستا بمتنجستين، لأن الموت لايحلهما،... وهو ظاهر المذهب. (وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح،ص: ١٦٩،ط: قديمى).

قال ابن عابدين الشامي: وكذا الإنفحة هو المختار، وعندهما يتنجس وهو الاحتياط. (رد المحتار على الدر المختار: ١/ ٣٤٩، قبيل كتاب الصلاة، سعيد).

وللمزيد من البحث راجع: (غنية المتملى فى شرح منية المصلى، ط: ١٥٠، فصل فى الانجاس،ط: سهيل اكيدمى، والفتاوى الهندية: ١/ ٢٤، والجوهرة النيرة: ١/ ، والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية: ٤/ ٢٢، و ٦/ ٣٦٥، وفتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ١/ ١٢و ٢١، وخلاصة الفتاوى: ١/ ٤٤، والفتاوى الولو الجية: ١/ ٣٨، والفتاوى التاتار خانية: ١/ ٢٢٣، وكتاب التجنيس والمزيد: ١/ ٢٣٥،

واحكام القرآن للامام الجصاص:١/ ١٢٩، وبدائع الصنائع:١/ ٦٣ و ٤٣/ ٥، وتبيين الحقائق:١/ ٢٦، والبحر الرائق:١/ ١١٢، والمحيط البرهانى:١/ ١٤٣، ونفع المفتى والسائل،ص: ٣٧٩، و ١١٤، والتفسير لابن كثير:١/ ٢١٩، والبحر المحيط للزركشى:٤/ ٣٥٦).

د علامه شامي رحمه الله د عباراتو څخه شبه او د هغه جواب:

ځيني حضراتو د علامه شامي رحمه الله له دغه عبارت څخه شبه پيدا سوه هغه وګورئ:

قال في الدر المختار: وكذا كل ما لاتحله الحياة حتى الإنفحة واللبن على الراجح. وفي رد المحتار: قوله: على الراجح، أي الذي هو قول الإمام، ولم أر من صرح بترجيحه، ولعله أخذه من تقديم صاحب الملتقى له وتأخيره قولهما كما هو عادته فيما يرجحه وعبارته مع الشرح: وإنفحة الميتة ولو مائعة ولبنها طاهر كالمذكاة خلافاً لهما لتنجسهما بنجاسة المحل، قلنا: نجاسته لا تؤثر في حال الحياة إذا اللبن الخارج من بين فرث ودم طاهر، فكذا بعد الموت.

ثم اعلم أن الضمير في قول الملتقى ولبنها عائد على الميتة، والمراد به اللبن الذي في ضرعها، وليس عائداً على الإنفحة كما فهم المحشي حيث فسرها بالجلدة، وعزا إلى الملتقى طهارتها لأن قول الشارح ولو مائعة صريح بأن المراد بالإنفحة اللبن الذي في الجلدة، وقوله لتنجسها الخ، صريح في أن جلدتها نجسة، وبه صرح في الحلية حيث قال بعد التعليل المار: وقد عرف من هذا أن نفس الوعاء نجس بالاتفاق، ولدفع هذا الوهم غير العبارة في مواهب الرحمن فقال: وكذا لبن الميتة وإنفحتها ونجساها وهو الأظهر إلا أن تكون جامدة فتطهر بالغسل، وأفاد ترجيح قولهما وأنه لا خلاف في اللبن، على خلاف ما في الملتقى والشرح فافهم. (الدر المختار مع رد المحتار:١/ ٢٠٦، سعيد).

د مواهب الرحمن د عبارت د راوړلو څخه د علامه شامي رحمه الله مقصد د صاحبینو قول ته ترجیح ورکول نه دي بلکي دا وېل مقصد دي چي د معدې د پوست د نجاست په اړه د چا اختلاف نه سته او د ملتقی شارح چي د معدې د پوست د طهارت نسبت د ماتن طرفته کړی په دې کی تسامح راغلي ده، همدا رنګه د ملتقی شارح ته دا وهم پیدا سو چي د هغه ازاله د مواهب الرحمن د عبارت په طرز کي په معمول تغیر سره کیږي، د ذکر سوي توجیه تائید د علامه شامي رحمه الله د دوهم عبارت څخه کیږي کوم چي یې له فتاوی تاتار خانیه څخه نقل کړی دئ په دې کي یې خپله ترجیح ښکاره کړې ده او د امام ابو حنیفه رحمه الله قول یې غوره کړی دئ او د صاحبینو قول یې پر احتیاط حمل کړی دئ.

وګورئ هغه فرمایي:

وكذا الإنفحة وهو المختار، وعندهما يتنجس، وهو الاحتياط. (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/ ۳۴۹، سعيد).

او دا خبره هم باید په یاد ولرل سي چي علامه شامي رحمه الله د امام ابو حنیفه رحمه الله قول ته صحیح او مختار وېل د هغه عبارت څخه وروسته دي چي په کوم کي د صاحبینو د قول د ترجیح شبه سته دغه عبارت پر (۲۰۶) صفحه کي ذکر سوي دئ او د امام ابو حنیفه رحمه الله قول په (۳۴۹) صفحه کي دئ تر کتاب الصلاة یو څه مخکی ذکر سوی دئ.

د ځیني اکابر و علماؤ عبارات وګورئ:

په بهشتي زېور کي راځي:

پنیر پاک او حلال دي هغه که د اعرابي او ښ وي او که د یو بل حیوان وي د هغو ماهیت دا دئ چي په کوم چني شیر خوار بچي باندي شیدې وچیښي او ژر یې حلال کړي بیا د هغه د نس څخه هغه شیدې را وباسي کومي چی یو څه منجمدي سوي وي په هغو کي دغه اثر پیدا کیږي چي بهیدونکی شی منجمد کوي او منجمد شی ویلی کوي او د دې څخه پر ته نور خواص هم پکښې پیدا کیږي او د همدې څخه پنیر هم جوړیږي د دې حلت خلاف قیاس دئ ځکه په معده کي چي کوم شیان دي هغه د ګوبر او خوشیو په حکم کي دي مګر د پنیر حلت خلاف القیاس او په نص سره ثابت دي او متفق علیه دي، نو په همدې امله دې ته هم حلال او پاک وېل سوي دي. د حیوان شخوند پر دغه نه قیاسیږي. (بهشتی زیور، نوان حصه، ص ۱۱۰، دار الاشاعت).

د شیدو د پاکوالی علت په اشرف الاحکام کي وګورئ. (ص ۱۸۶، مرده جانور کادودھ حلال هی).

په فتاوی خلیلیه کې راځي:

د میتې په شیدو کې بنده ته دغه شبه پیدا سوې وه چې میته په خپلو ټولو اجزاؤ سره نجسه ده، نو د هغې شیدې به څنګه نه وي نجسې کوم چې هغه ورته ظرف ده، نو ما دغه شبه د حضرت ګنګوهي رحمه الله په خدمت کې وړاندې کړه، نو حضرت د غور او فکر کولو وروسته دغه جواب ولیکئ چې چونکه دغه ظرف عصباني دي، نو له همدې امله دا ناپاک نه دي. (فتاوی مظاهر العلوم، ص ۷۶، کتاب الطهارة، مکتبة الشیخ).

په یو بل ځای کې لیکل سوي دي چې ممکن دي چې د اعرابي اوښ پنیر په دې وجه پاک بلل سوي دي چې پنیر پاک دي، نو د هغو د پاکوالی سره د اوښ د پنیرو پاک والی مستلزم سو او د پنیرو پاکوالی قطعي او مجمع علیه دئ، نو ځکه د خلاف قیاس له امله یې دې ته پاک ویلي دي. (فتاوی مظاهر العلوم، ص ۸۳).

د نظام الفتاوی په منتخباتو کې راځي:

د کبیري د عبارت له نقلولو وروسته فرمایي: د دغه عبارت څخه معلومه سوه چې کوم د غوا د بچي د نس یا د یو بل حیوان د بچي د نس څخه را ووستل سي د کومو چې غوښې خوړل حلال دي هغه باید د دغه حیوان د نس څخه د شرعي ذبحې کولو وروسته را وایستل سي، نو که په همدې طریقه را وویستل سي هغه بالاتفاق حلال او پاک دي او د هغه خوړل او استعمالول روا دي او کوم چې د ماکول اللحم د نس څخه را وویستل سي او هغه حیوان په شرعي طریقه نه ؤ ذبحه سوي، نو د صاحبینو په آند حلال خو دئ مګر د معدې د خارجي ناپاکه رطوبت د امیزش له امله ناپاکه دئ او که چیري وچ او منجمد وي، نو هغه په پرېوللو سره هم پاکېدلای سي او تر پاکوالی وروسته استعمال هم کېدلای سي او که نرم او بهېدونکی وي، نو بیا د دې په پاکولو کې هیڅ شکل مفید نه دئ او استعمال یې روا نه دئ او د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند د دې استعمال په هر صورت کې روا دئ، ځکه چې د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند هغه رطوبت ناپاکه نه دي او د دې اختلاف ثمره دا راوزي چې از روي فتاوی د دې استعمال روا دئ او از روي تقوی احتیاط افضل دئ. منتخبات نظام الفتاوی: ۱/ ۳۳، اسلامک فقه اکیډمی، انډیا).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (عصر حاضر کی پیچیده مسائل مین مختلف فتاوی نقل کی گی هین: از ص ۴۲۱ – تا ص: ۴۲۵).

همدا رنگه د جامعه الازهر صالح العود ((صناعة الأ جبان الحديثة وحكم أكلها)) په نامه یوه رساله لیکلي ده په دې رساله کې د قرآن کریم او احادیثو د دلائلو سره سره د عصر د مشهورو علماؤ فتواوي او اقوال هم رانقل کړي دي د هغه مفتیانو چې حلال یې بولی د هغوی نومونه په لاندې ډول دي:

(۱) فتوی اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء، اللشيخ الرئيس عبد العزيز بن عبد الله بن باز۔ (المملكة العربية السعودية). عامه فتوی او پر هغه د ډېرو علماؤ د ستخطونه هم موجود دي:

۲- د مفتي جمهوريه مصر العربية محمد سيد طنطاوي فتوی د عموم بلوی له امله څخه یې جواز ته ترجیح ورکړې ده.

د نورو مفتیان نومونه په لاندې ډول دي:

(۳) فتوى مفتي عمان سعيد عبد الحفيظ حجاوي، المفتي العام بالوكالة، المملكة الاردنية الهاشمية.

(۴) فتوی مفتي صلاح الدين قايا، مفتي استانبول، تركيا.

(۵) فتوی دار الافتاء، دار العلوم كراچي.

(۶) فتوی دار الافتاء دار العلوم ديوبند.

(۷) شيخ يوسف برقاني.

(۸) شيخ عبد الرزاق حلبي، مفتى الاحناف بادارة جامع بنى امية دمشق.

(۹) شيخ ابو بكر جابر الجزائري، المدرس بالمسجد النبوي الشريف.

(۱۰) شيخ احمد محمد العسال.

(۱۱) شيخ عبد الحميد طهماز، فقيه حنفي ومدرس التربية الاسلامية (از ص: ۵۳ تا ص: ۷۸، ط: دار الكتب العلمية بيروت). والله ﷻ اعلم.

د دې رسالې په آخر کې یې خلاصه لیکلې ده د هغې خلاصې په آخر کې یې د څلور مذهبو په رڼا کې یوه نقشه جوړه کړې ده، هغه په لاندې ډول ده وې ګورئ:

نوع الجبن	محتواه	حكمه شرعا
حيواني مأكول اللحم ومذبوح شرعاً	إنفحة حيوان مأكول ومذبوح	حلال بالإتفاق
حيواني مأكول غير مذبوح	إنفحة ميتة	على الخلاف: حلال عن أبي حنيفة وأحمد فى إحدي الروايتين (هذا هو التراجع عند الأحناف والحنابلة) حرام عند مالك والشافعي وعند أحمد في الرواية الاخري
نباتي	مستحلبات نباتية	حلال بالإتفاق
مجهول الحال	مجهول	مباح (اي حلال) بالإتفاق
حيوان محرم الأكل (كالخنزير)	إنفحة حنزير	حرام بالإتفاق

د داخا او حشيش د استعمال حكم

داخاد د بنګو په شان يو ډول بوټي دئ او حشيش په دغه بوټي کي يو ډول داني دي هغو ته ويل کيږي او دغه بوټي په جنوبي افريقا کي کرل کيږي.

سوال: آيا د دې بوټي چي په اردو کي داخاد ورته ويل کيږي او حشيش چي د دغه بوټي داني دي آيا د دې دواړو استعمالول څه حكم دئ؟

الجواب: د دې دواړو د استعمالول حكم سره برابر نه دي بلکي دواړه يو څه فرق سره لري داخا چي ډېراو معتد به استعمال کړل سي او په هغو کي د نشي راتګ هم غالب او ممکن وي، نو حرام دئ که څه هم هغه نشه د لنډ وخت له پاره وي او که لږ استعمال کړي، نو ګورو چي د مستي او لهو او لعب له پاره دئ او که د دوا له پاره وي که د لهو او لعب له پاره وي. نو دا هم ناروا دئ، خو د دوا له پاره په دې شرط روا دئ چي لږ استعمال کړي او ښه مسلمان ډاکټر مشوره ورکړي او بله دا چي د دې هيڅ يو بدل نه وي او په حشيش کي د علماؤ اتفاق دئ چي په هيڅ مقدار سره د هغه استعمال روا نه دئ حال دا چي د جديدو تحقيقاتو وينا ده چي حشيش د هيڅ شی له پاره مفيد نه دئ:

دلائل په لاندي ډول دي:

القنب الهندى: دا د يو بوټي نوم دئ چي د هغو له ګلانو او پاڼو څخه مختلف قسم مخدرات جوړيږي، البته په دې ټولو کي نشه سره برابره نه وي بلکي په هغو کي د نشې د کثرت او ضعف په اعتبار ډېر تفاوت موجود وي له هغو څخه دوه معروف او مشهور دي:

۱ - داخا کوم چي داسي بوټي دئ چي له بنګي سره مشابه دئ او دا بوټي په جنوبي افريقا کي کرل کيږي او د ډاکټرانو وينا ده چي د دې معمولي استعمال د ډېرو مرضو له پاره ګټور دي او نوري هم ډېري فائدې لري.

۲ - دوهم قسم، حشيش دئ دغه د دغه بوټي يو قسم داني دي چي کله هغه وچي کړل سي او جوړي کړل سي، نو د سائنس د تحقيقاتو وينا دا ده چي په دې کي تر داخا او بنګو اته چنده زياته نشه موجوده ده.

په المخدرات د مار للمجتمعات کي راځي:

المخدرة فی اللغه: الخدر هو ستر يعد للجارية في ناحية البيت والخدر هو تورم العين أو ثقل فيها من قذى والخدرة هي الظلمة الشديدة. المخدر اصطلاحاً: هو كل ما غطى العقل والحواس ولم يصحبه نشوة وسرور أما إن غيب العقل وصحب ذلك نشوة وسرور فهو المسكر. (المخدرات دمار للمجتمعات لعبيد العصيمي، ص: ١٠).

په الدر المختار كي راځي:

(ويحرم أكل البنج والحشيبة) هي ورق القنب (والأفيون) لأنه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة (لكن دون حرمة الخمر). وفي رد المحتار: قوله ويحرم أكل البنج وفي وفي القهستاني هو أحد نوعي شجر القنب حرام لأنه يزيل العقل وعليه الفتوى بخلاف نوع آخر منه فإنه مباح كالأفيون لأنه وإن اختل العقل به لا يزول وعليه يحمل ما في الهداية وغيرها من إباحة البنج كما في شرح اللباب. أقول هذا غير ظاهر لأن ما يخل العقل لا يجوز أيضا بلا شبهة فكيف يقال: إنه مباح بل الصواب أن مراد صاحب الهداية وغيره إباحة قليلة للتداوي ونحوه ومن صرح بحرمته أراد به القدر المسكر منه يدل عليه ما في غاية البيان عن شرح شيخ الإسلام: أكل قليل السقمونيا والبنج مباح للتداوي وما زاد على ذلك إذا كان يقتل أو يذهب العقل حرام فهذا صريح فيما قلنا.. أول طلاق البحر من غاب عقله بالبنج والأفيون يقع طلاقه إذا استعمله للهو وإدخال الآفات قصداً لكونه معصية. وإن كان للتداوي فلا لعدمها كذا في فتح القدير وهو صريح في حرمة البنج والأفيون لا للدواء وفي البزازية والتعليل ينادي بحرمته لا للدواء اهـ كلام البحر: وجعل في النهر هذا التفصيل هو الحق. والحاصل أن استعمال الكثير المسكر منه حرام مطلقاً كما يدل عليه كلام الغاية. وأما القليل فإن كان للهو حرم وإن سكر منه يقع طلاقه لأن مبدأ استعماله كان محظوراً وإن كان للتداوي وحصل منه إسكار فلا.

قوله وهي ورق القنب، قال ابن البيطار ومن القنب الهندي نوع يسمى بالحشيشة يسكر جداً إذا تناول منه يسيراً قدر درهم حتى أن من أكثر منه أخرجه إلى حد الرعونة وقد استعمله قوم فاختلت عقولهم وربما قتلت . (الدر المختار مع رد المحتار، كتاب الاشربة:۶/ ۴۵۷- ۴۵۸، سعيد).

په يوبل ځای کي ليکل سوي دي:

وممن جزم بحرمة الحشيشة شارح الوهبانية في الحظر ، ونظمه فقال:

وأفتوا بتحريم الحشيش وحرقه ☆ وتطليق محتش لزجرٍ وقرروا

لبائعه التأديب والفسق أثبتوا ☆ وزندقةً للمستحل وحرروا

علامه شامي رحمه الله د دي عبارت لاندي فرمايي:

قوله وممن جزم الخ قد علمت إجماع العلماء على ذلک. (رد المحتار، كتاب الاشربة:۶/ ۴۶۱، سعيد).

وللمزيد راجع: (شرح منظومة ابن وهبان، فصل من كتاب الكراهية:۲/ ۱۷۶، ورد المحتار، مطلب فی البنج والافيون والحشيشية:۴/ ۴۲، سعيد، وفتح القدير، كتاب الطلاق:۳/ ۳۴۶- ۳۴۷، ورد المحتار، كتاب الطلاق:۳/ ۴۳۹، سعيد، والبحر الرائق، كتاب الطلاق:۳/ ۲۴۸).

په واضح البرهان على تحريم الخمر والحشيش في القرآن کي راځي:

نص كثير من الأطباء والعلماء بأحوال النبات على أن الحشيش مسكر منهم أبو عبد الله محمد بن أحمد المالقی العشاب المعروف بابن البيطار وكمال الدين بن الواصل بل حكى الزركشی إجماعهم على ذلک وكذلک الفقهاء صرحوا بأن الحشيش مسكر وممن عده سكر من غير الشافعيه... ونقل الشيخ عبد الغنی النابلسی الحنفی ذلک عن كتاب تنوير الأبصار وجامع البحار من كتب الحنفية وعللو ذلک بأن السكر معناه تغطية العقل ومنه قوله

تعالى: لقالوا إنما سكرت أبصارنا أي غطيت وهذا المعنى موجود فى الحشيش. (واضح البرهان على تحريم الخمر والحشيش فى القرآن لابى الفضل عبد الله بن محمد، ص: ۷۲- ۷۳).

وقال فى مقام آخر: اتفق العلماء من المذاهب الأربعة على تحريمها (أى الحشيش) إنما اختلفوا هل هى مكسرة او مخدرة؟ فالذين قالوا بالأول استدلو بحديث كل مسكر حرام. والذين قالو بالثانى استدلو بحديث. نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر ومفتر. رواه أحمد وأبو داود من حديث أم سلمة رضى الله تعالى عنها بإسناد حسن. قال العلماء: المفتر كل ما يورث الفتور والخدر فى الأطراف وقال الزركشى: هذا الحديث أول دليل على تحريم الحشيشة بخصوصها فإنها إنلم تكن مسكرة كانت مفترة مخدرة.

والخلاصه: أن الأدلة على تحريم الحشيش خمسة:

الأول: حديث كل مسكر حرام. على القول بأنها مسكرة وهو مذهب الحنفية والشافعية والحنابلة أو حديث نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر ومفتر على القول بأنها مخدرة وهو الصحيح عند المالكيه.

الثاني: الإجماع حكاه القرافى وابن تيميه وشمس الحق.

الثالث: أنها تصد عن ذكر الله وعن الصلاة فتكون فى معنى الخمر من هذه الجهة ومعنى صدها أن متناولها لايجوز له أن يصلى حتى يذهب أثرها من عقله ومن صلى قبل ذهاب أثرها فصلاته لا تصح.

الرابع: أنها من الخبائث وهي محرمة بقوله تعالى ويحرم عليهم الخبائث.

الخامس: ما فيها من الضرر الحسي والمعنوي والقاعدة الشرعية أن ما فيه مضرة فهو حرام لحديث لا ضرر ولا ضرار وهو حديث صحيح. (واضح البرهان على تحريم الخمر والحشيش من القرآن،ص ۷۸- ۸۱).

په کفايت المفتي کي راغلي دي:

د حرامو شيانو د دواء په توګه استعمالول هغه وخت روا دي چي کله يو مسلمان او زيرک ډاکټر دا ورته ووايي، چي اوس يو بل شی ګټه نه ورته کوي.

د ډېر تفصيل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (امدادالاحکام:۴/ ۳۱۸، وفتاوی حقانيه:۵/ ۲۰۱، وکفايت المفتی:۹/ ۲۵۶، وفتاوی محموديه:۱۸/ ۳۸۱، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

دوهم فصل

دښناک د احکامو بیان

د اوبو د څښلو وروسته دعاء

سوال: که چیری په یو حدیث شریف کی خالی داوبو د چښلو دعاء راغلی وي نو ذکریې کړئ؟

جواب: دځيني ضعيف او مرسل رواياتو څخه لاندیني دعاء ثابته سوې ده:

الحمد لله الذي سقانا عذباً فراتاً برحمته ولم يجعله ملحاً أجاجاً بذنوبنا.

أخرجه الطبراني فى الدعاء (۷۹۹) عن أبي جعفر مرسلاً.

وأبو جعفر وهو الباقر محمد بن علي بن الحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنه تابعي ثقة.

قلت: إسناده ضعيف، والحديث مرسل. فيه جابر الجعفي وهو ضعيف.

وكذا رواه البيهقي في شعب الإيمان (۴۱۶۲)، وابن أبي الدنيا في «الشكر» (۶۹)، وأبو نعيم في «الحلية» (۸/ ۱۳۷) وقال: غريب من حديث الفضيل وجابر وهو يزيد الجعفي الكوفي وأبو جعفر هو محمد بن علي بن الحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنه كذا رواه مرسلاً. وأخرجه العرقي في «تخريج الإحياء» (۱۳۱۱) وقال: أخرجه الطبراني فى الدعاء مرسلاً من رواية أبي جعفر محمد بن علي بن الحسين.

ورواه ابن عبد الهادي في «أحاديث منتقاه» (۱/ ۳۳۸) عن ابن جريج، عن ابن خيثم مرفوعاً. ورجاله ثقات، لكنه مرسل أيضاً، وابن جريج مدلس وقد عنعنه.

وذكره الإمام السيوطي في «الجامع الصغير» (۶۷۲۸) وعزاه لأبي نعيم في الحلية ورمز له بالضعيف.

خلاصه دا ده چي د اوبو د چېنبلو وروسته پورتني دعاء په ضعيف او مرسل حديث سره ثابته ده او د تلقي بالقبول له امله ضعيف حديث هم د عمل قابل او د حجت لائق دئ همدا رنګه په فضائلو کي پر ضعيف باندي عمل کول د فقهاؤ په آند مشهور دئ.

په قواعد فی علوم الحدیث کي وګورئ:

قد يحكم للحديث بالصحة إذا تلقاه الناس بالقبول، وإن لم يكن له إسناد صحيح قال ابن عبد البر في «الاستذكار» لما حكى عن الترمذي أن البخاري صحح حديث البحر (هو الطهور ماءه) وأهل الحديث لا يصححون مثل إسناده، لكن الحديث عندي صحيح لأن العلماء تلقوه بالقبول. قلت: والقبول يكون تارة بالقول، وتارة بالعمل عليه. (قواعد فی علوم الحدیث، ص ۶۰).

قال فی الدر المختار: فيعمل به في فضائل الأعمال، قال محشيه ابن عابدين: لأجل تحصيل الفضيلة المترتبة على الأعمال. قال ابن حجر في شرح الأربعين: لأنه إن كان صحيحاً في نفس الأمر فقد أعطى حقه من العمل، وإلا لم يترتب على العمل به مفسدة تحليل ولاتحريم ولاضياع حق للغير. (قواعد فی علوم الحدیث، ص ۹۲). والله ﷻ اعلم.

د اوبو د چېنبلو يو څو آداب:

سوال: د اوبو د چېنبلو سنت طريقه څه ده؟ په درو ساوو سر چېنبل او په پټ سر سره اوبه چېنبل او په لوښي کي ساه نه کښل آيا دغه خبري سنت دي او که نه؟ همدا رنګه د اوبو د چېنبلو آداب څه دي؟

الجواب: علماؤ د احاديثو په رڼا کي د اوبو د چېنبلو يو څو آداب بيان کړي دي يو څو په لاندي ډول دي:

۱- تر اوبو چېنبلو تر مخه بسم الله ويل.

۲- په درو ساوو سره چېنبل.

۳- په ناسته سره چېنبل.

۴- هر ځل په شروع کي بسم الله او په آخر کي الحمد لله ويل.

۵- تر اوبو چښلو د مخه لوښی ته کتل.

۶- په لوښی کي ساه نه کښل.

۷- په راسته لاس سره چښل.

۸- د گلاس یا پیالې د مات ځای څخه نه چیښل.

۹- اوبه زبیښل او د حیوانانو په څېر چیښل مکروه کار دئ.

۱۰- د چیښلو وروسته دغه دعاء ویل:

الحمد لله الذي سقانا عذباً فراتاً برحمته ولم يجعله ملحاً أجاجاً بذنوبنا.

د سر د پټولو په اړه خو مي صراحةً تر نظر نه دئ تېر سوي که يې پر هوډي خوړلو قياس کړو. نو فقهاؤ ليکلي دي چي د مکشوف الرآس خوراک روا دئ، نو په دې اعتبار د هغه څښناک هم درست دئ مکروه او يا خلاف اولی نه دئ.

په حدیث شریف کي وګورئ:

عن ثمامة بن عبد الله قال: كان أنس رضي الله عنه يتنفس في الإناء مرتين ، أو ثلاثًا وزعم أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يتنفس ثلاثًا. (رواه البخاری:۲/ ۸۴۱).

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په درو ساوو سره اوبه چیښلی.

عن عبد الله بن أبي قتادة ، عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا شرب أحدكم فلا يتنفس في الإناء. (رواه البخاری:۲/ ۸۴۱، باب النهی عن التنفس فی الاناء).

حضرت ابو قتاده رضي الله عنه وايي، چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چي که له تاسو څخه یو څوک اوبه چیښي نو په لوښی کي دي ساه نه کاږئ.

قال العلامة العيني: أن البخاري جعل الإناء في الترجمة الأولى ظرفاً للتنفس، والنهي عنه لاستقذاره، وقال في هذه الترجمة: الشرب بنفسين، فجعل التنفس للشرب أن لا يقتصر على نفس واحد بل يفصل بين الشربين بنفسين أو ثلاثة خارج الإناء، فبهذا ينتفي التعارض. (عمدة القاری:۱۴/ ۶۲۶، دار الحدیث، ملتان).

عن ابن شهابٍ: أن رسول الله ﷺ كان إذا شرب تنفس ثلاثة أنفاسٍ ونهى عن العب نفسًا واحدًا ويقول: «ذلك شرب الشيطان» هذا مرسل. (اخرجه البيهقى فى شعب الايمان، رقم الحديث: ۵۶۱۰).

أخرج الإمام البيهقي فى «الآداب» (۴۴۴)، بسنده، عن أنس بن مالك ﷺ: أن النبي ﷺ كان إذا شرب تنفس ثلاثاً، ويقول: «هو أهنأ وأمرأ وأبرأ».

حضرت انس ﷺ وايي، چي نبي ﷺ به په درو ساوو سره اوبه چيښلی او دا به يې ويل چي په داسي طريقه سره اوبه چيښل ډېر ښه او ژر اوبونکی دي.

وروينا... عن ابن أبى الحسين أن النبي ﷺ قال: إذا شرب أحدكم فليمص مصاً ولايعب عباً، فإن الكباد من العب». (الآداب للامام البيهقى:رقم: ۴۴۴).

نبي كريم ﷺ فرمايلی دي، چي كله تاسو اوبه چيښئ، نو په زبيښلو سره يې وچيښئ د حيوانانو په څېر يې په غوړپ غوړپ سره مه چيښئ له دې څخه د ځيګر مرض پيدا كيږي.

وعن ابن مسعود ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ إذا شرب في الإناء تنفس ثلاثة أنفاس، يحمد الله عز وجل في كل نفس، ويشكره في آخرهن. (عمل اليوم والليلة رقم: ۴۷۰، واسناده ضعيف، فيه: معلى بن عرفان منكر الحديث).

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ وايي، چي نبي ﷺ به كله اوبه چيښلې نو په درې واره به يې چيښلې او په هر ځل به يې الحمد لله او په آخر كي به يې دالله ﷻ شكر اداء كوي.

عن نوفل بن معاوية الدؤلي ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يشرب بثلاثة أنفاس، يسمي الله عز وجل في أوله، ويحمده في آخره. (عمل اليوم والليلة، رقم: ۴۷۱).

حضرت نوفل بن معاويه ﷺ فرمايي، چي نبي كريم ﷺ به په درې ساوو اوبه چيښلې په شروع كي به يې بسم الله او په آخر كي به يې الحمد لله ويل.

په فتاوى شامى كي راځي:

...إن السنة في شرب الـمـاء الـمص . (فتاوى الشامى:۳/ ۷۶۶، كتاب الايمان، سعيد).

په زاد المعاد کي راځي:

وأما السنة... والثانى عشر: شرب الـمـاء بثلاثة أنفاس في موضع يكون صلاحاً. (النتف فى الفتاوى، ص: ۱۵۸، كتاب الاطعمة، ط: بيروت).

په زاد المعاد کي راځي:

وكان من هديه الشرب قاعدًا، هذا كان هديه الـمعتاد ...وفي صحيح مسلمٍ من حديث أنس بن مالكٍ ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يتنفس في الشراب ثلاثًا، ويقول: إنه أروى وأمرأ وأبرأ، الشراب في لسان الشارع وحملة الشرع: هو الـمـاء، ومعنى تنفسه في الشراب: إبانته القدح عن فيه، وتنفسه خارجه، ثم يعود إلى الشراب، كمـا جاء مصرحًا به في الـحديث الآخر: «إذا شرب أحدكم فلا يتنفس في القدح، ولكن ليبن الإناء عن فيه . (اخرجه ابن ماجه: ۳۴۲۷، من حديث ابى هريرة مرفوعاً)... وللتسمية في أول الطعام والشراب، وحـمد الله في آخره تأثير عجيب في نفعه واستمراءه، ودفع مضرته. (زاد المعاد:۴/ ۲۲۹، ۲۳۲، فصل فى هديه فى الشرب وآدابه،ط: مؤسسة الرسالة).

په غذاء الالباب شرح منظومة الاداب کي راځي:

وروى ابن عدي عن أنسٍ ﷺ أنه رأى رسول الله ﷺ شرب جرعةً ، ثم قطع ، ثم سمى، ثم جرع ، ثم قطع ، ثم سمى الثالثة ، ثم جرع ، ثم مضى فيه حتى فرغ منه ، فلمـا شرب حمد الله تعالى عليه . وروى ابن عدي أيضًا عن ابن عمر ﷺ قال: ما رأيت رسول الله ﷺ شرب شرابًا قط إلا تنفس فيه ثلاثًا كلها يقول : بسم الله ، والـحمد لله . ..إذا علمت ذلك فينبغي لك الاقتداء بمعدن التقوى وينبوع الـهدى ، ولا تشرب كشرب البعير ، بل تنفس خارج الإناء ثلاث مراتٍ ، هذا هو الـمستحب الـمسنون، وصفة ذلك كمـا قال الإمام الـمحقق أن

تقول: بسم الله وتشرب ، ثم تبين الإناء عن فيك وتقول : الحمد لله وتتنفس خارجه كما مر ، ثم تفعل الثانية والثالثة كذلك . (غذاء الالباب شرح منظومة الآداب: ۲/ ۱۰۸، ط: بيروت).

د پورتني روايت څخه معلوميږي چي نبي کريم ﷺ به په درو ساوو اوبه چيښلې او په هر وار کي به يې په شروع کي بسم الله او په آخر کي الحمد لله ويل.

ولا تشربن من ثلمة الإناء أي الوعاء والثلمة الكسر ....فيكره للشارب أن يقصد الثلمة فيشرب منها ؛ لأنها محل اجتماع الوسخ لعدم التمكن من غسلها تاما ...ولأنه ربما لا يتمكن من حسن الشرب منها وربما انجرح بحدها، ولأنه يقال : الرديء من كل شيء لا خير فيه . وأخرج أبو داود وابن حبان في صحيحه عن أبي سعيد الخدري ﷺ قال: نهى رسول الله ﷺ عن الشرب من ثلمة القدح وأن ينفخ في الشراب. (غذاء الالباب شرح منظومة الآداب: ۲/ ۱۰۶).

د نور تفصيل له پاره دا کتابونه وګورئ: (غذاء الالباب شرح منظومة الآداب: ۲/ ۱۰۵– ۱۱۰، ط: دار الكتب العلمية، بيروت، وزاد المعاد: ۴/ ۲۲۹– ۲۳۲، كان هديه فی الشرب وآدابه، ط: مؤسسة الرسالة، وشمائل کبری، جلد اول، ص ۱۲۹– ۱۳۰، ط: زمزم پبلشرز، واسوئه رسول اکرم، ص ۱۳۳، ط: دار الاشاعت، کراچي، وسنت نبوی اور جدید سائنس، جلد اول، ص ۱۲۹– ۱۳۳، ط: اداره اسلامیات). والله ﷻ اعلم.

په بوتل او د نورو مشروباتو په ډبه کي د اوبو چيښلو حکم

سوال: په بوتل کي اوبه چيښل روا دي او که مکروه دي؟ همدا رنګه د نورو مشروباتو ډبې دي په هغو کي اوبه چيښل روا دي او که نه؟ آيا دغه شرب دمن فم السقاء په ممانعت کي داخل دي او که نه؟

الجواب: په احاديثو کي نبي کريم ﷺ د مشکيزي د خولې د چيښلو منع فرمايلې ده، د احاديثو شراحو د دې حکمت دا بيان کړی دئ څکه د دننه حال معلوم نه دئ. نو څکه د تاوان بېره ده، نو څکه د کومو ډبو حال چي دننه معلوم نه دئ. نو د هغو څخه چيښل مکروه دي مګر هغه بوتلان چي د هغو د دننه حالت له دباندي څخه معلوميږي، نو په هغو کي دغه وجه نسته په هغه کی چيښل روا دي مګر د لوېدو بېره يې سته له هغه څخه ځان ساتل په کار دي.

په بخاري شريف کي وګورئ:

عن أبي هريرة رضي الله عنه نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الشرب من فم القربة ، أو السقاء.

وعن ابن عباسٍ رضي الله عنهما ، قال: نهى النبي صلى الله عليه وسلم، عن الشرب من في السقاء.

وعن أبي سعيدٍ الخدري رضي الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم ينهى عن اختناث الأسقية.

قال عبد الله قال معمر ، أو غيره هو الشرب من أفواهها. (بخارى شريف:۲/ ۸۴۱، ط: فيصل).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

ولا يشرب بنفس واحد، ولا من فم السقاء والقربة لأنه لا يخلو عن أن يدخل حلقه ما يضره كذا فى الغيائية. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۴۱).

مګر دځيني رواياتو څخه جواز معلوميږي، وګورئ علامه عيني رحمه الله داسي وايي:

قلت: روى أحاديث تدل على جواز الشرب من فم السقاء، منها: ما رواه الترمذي من حديث عبد الرحمن بن أبي عمرة عن جدته كبشة قالت: دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم فشرب من في قربة معلقة، وقال حديث حسن صحيح. (رقم:۱۸۹۲).

ومنها: حديث أنس بن مالك رضي الله عنه رواه الترمذي في الشمائل: أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل وقربة معلقة فشرب من فم القربة.

ومنها: حديث عبد الله بن أنيس عن أبيه قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم قام إلى قربة معلقة فخنقها ثم شرب من فمها، رواه الترمذي وأبو داود، وقد صح عن جماعة من الصحابة والتابعين فعل ذلك، فروى ابن أبي شيبة في المصنف عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه كان لا يرى بأساً بالشرب من في الإداوة، وعن سعيد بن جبير قال: رأيت ابن عمر رضي الله عنهما يشرب من في الإداوة،

وعن نافع، أن ابن عمر رضي الله عنه كان يشرب من في السقاء، وعن عباد بن منصور قال: رأيت سالم بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه يشرب من في الإداوة. (عمدة القارى:۱۴/ ۶۲۴، ط: ملتان).

داحاديثو تر منځ تطبيق:

فإن قلت: كيف يجمع بين هذه الأحاديث التي تدل على الجواز وبين حديثي الباب اللذين يدلان على المنع؟ قلت: قال شيخنا: لو فرق بين ما يكون لعذر كأن تكون القربة معلقة ولم يجد المحتاج إلى الشرب إناء متيسراً ولم يتمكن من التناول بكفه فلا كراهة حينئذ، وعلى هذا تحمل هذه الأحاديث المذكورة، وبين ما يكون لغير عذر فيحمل عليه أحاديث النهي. قيل: لم يرد حديث من الأحاديث التي تدل على الجواز إلا بفعله صلى الله عليه وسلم وأحاديث النهي كلها من قوله فهي أرجح . والله أعلم... وقال النووى: اتفقوا على أن النهى هنا للتنزيه لا للتحريم، قيل: في دعواه الاتفاق نظر.... (عمدة القارى:۱۴/ ۶۲۴، باب الشرب من فم السقاء، دار الحديث، ملتان).

داحاديثو تر منځ دتطبيق خلاصه په لاندي ډول ده:

۱ – د ممانعت احاديث قولي دي او هغه راجح دي.

۲ – د جواز احاديث پر عذر بناءدي يعنى كه يو عذرؤ نو د هغه له پاره اجازه ده.

۳ – امام نووي رحمه الله وايي دي:

چي د علماؤ اتفاق دئ چی نهی تنزيهي ده تحريمي نه ده يعنى ممانعت د خلاف اولى له قبيل شخه دئ مگر د علماؤ د اتفاق دعوه علامه عيني رحمه الله د نظر محل بللی ده.

د ممانعت حكمتونه وگوری:

ووجه الحكمة في النهي ما قاله قوم من أنه لا يؤمن من دخول شيء من الهوام مع الماء في جوف السقاء فيدخل فم الشارب ولا يدري فعلى هذا لو ملأ السقاء وهو يشاهد الماء الذي يدخل فيه، ثم ربطه ربطاً محكماً ثم لما أراد أن يشرب حله فشرب منه لا يتناوله النهي،

وقيل: ما أخرجه الحاكم من حديث عائشة رضي الله عنها، بسند قوي بلفظ: نهى أن يشرب من في السقاء، لأن ذلك ينتنه، وهذا عام، وقيل: إن الذي يشرب الماء من فم السقاء قد يغلبه الماء فينصب منه أكثر من حاجته فلا يأمن أن يشرق به أو تبتل ثيابه. وقيل: ينزل بقوة فيقطع العروق الضعيفة التي بإزاء القلب، فربما كان سبباً للهلاك. (عمدة القارى:۱۴/ ۶۲۵).

په تكمله فتح الملهم كي راځي:

وقيل: سبب النهى أنه يقذره على غيره. وقيل: إنه ينتنه. والكل ممكن ولا تزاحم فى الأسباب. وأما كون النهى للتنزيه فلما ثبت عن كبشة بنت ثابت قالت:... الخ. (تكملة فتح الملهم:۴/ ۹، ط: دار العلوم كراچی).

د ممانعت د مختلفو حكمتو خلاصه په لاندي ډول ده:

۱- د لوښي څخه د يو حيوان نس ته د تلو ويره سته.

۲- په بوتل كي چي محفوظ اوبه وي د هغو څخه بوي محسوس كېدلای سي.

۳- د بل ملګري له پاره هم د تكليف باعث ګرځي.

۴- كه تر حاجت زيات را ووځي دا هم د تكليف باعث ګرځي.

۵- او كه په قوت سره را ووځي، نو د نقصان ويره ده.

د اوبو په ليدلو سره د چيښلو طبي فائده:

په سنت نبوي او جديد سائنس كي راځي:

په اوبو كي داسی چينجان وي چي هغه دننه نس ته ځي، نو هغه معدې او ځيګر ته نقصان رسوي ځيني چينجان داسي وي چي كه چيري هغوی اوبه ونه كتل سي او چيښل سي، نو بيا د اوبو په ذريعه دننه ځي، نو اوس كه په اوبو كي د لړم كوچني زوی وي او دننه ولاړ سي، نو څه حال به يې وي.

د ملتان په نشتر روغتون كي د يو ځوان عمليات وسو د هغه د معدې څخه يو ډول چنجي راووتئ، نو ډاكټرانو دا فيصله وكړه چي دا د اوبو په ذريعه دننه تللی دئ او هغه مريض هم ځيني مړ سو. د نبي كريم ﷺ هر يو سنت د كاميابۍ دليل دئ. (سنت نبوی اور جديد سائنس: ۱/ ۱۳۰). والله تعالیٰ اعلم.

د ډوډۍ خوړلو په منځ کي یا وروسته د اوبو چیښلو حکم

سوال: د نبي کریم ﷺ څخه د ډوډۍ په منځ کي یا وروسته د اوبو چیښل ثابت دي او که نه؟

جواب: ډاکټرانو ویلي دي چي د ډوډۍ د خوړلو یو ساعت وروسته باید اوبه وچیښل سي دا د سنت خلاف کار نه دئ ځکه چي نبي ﷺ د ډوډۍ خوړلو وروسته فوراً اوبه نه چیښلې بلکې د سیرت پوهانو د ډوډۍ د خوړلو وروسته فوراً اوبه چیښل په مکروهاتو کي شامل کړي دي مګر لږ چیښل د دې خلاف نه دي.

علامه ابن القیم په زاد المعاد کي داسي فرمایي:

ولـم یكن من هدیه أن یشرب علی طعامه فیفسده، ولا سیما إن كان الـماء حارا أو باردًا، فإنه رديء جدا ...ویكره شرب الـماء عقیب الریاضة، والتعب، وعقیب الـجماع، وعقیب الطعام وقبله، وعقیب الفاكهة، وإن كان الشرب عقیب بعضها أسهل من بعضٍ...فهذا كله منافٍ لـحفظ الصحة، ولا اعتبار بالعوائد، فإنها طبائع ثوانٍ ... وأما هدیه فی الشراب، فمن أكمل هدی یـحفظ به الصحة. (زاد المعاد:۴/ ۲۲۴،ط: مؤسسة الرسالة).

په شمائل کبری کي راځي:

نبي کریم ﷺ د ډوډۍ وروسته فوراً اوبه نه چیښلې د ډوډۍ وروسته ژر اوبه چیښل د معدې د هضم له پاره ضرر دئ، نو ځکه باید یو څه ساعت وروسته وچیښل سي. (شمائل کبری:۱/ ۱۲۸،ط: زمزم پبلشرز).

په اسؤه رسول اکرم کي راځي:

د ډوډۍ وروسته اوبه چیښل د نبي کریم ﷺ سنت نه دي خصوصا که اوبه ګرمی یا ډېري یخ وي ځکه چي دغه دواړه صورتونه ډېر نقصاني دي نبي کریم ﷺ د ورزش او ډوډۍ او مېوه خوړلو او جماع او غسل کولو وروسته اوبه چیښل ښه نه ګڼل. (اسوه رسول اکرم، ص ۱۳۳، ط: دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

په ولاړه د اوبو چیښلو حکم

سوال: ځیني فقهاؤ په ولاړه اوبه چیښل روا او ځیني مکروه تنزیهی بللی دي ملا علي قاري رحمه الله خلاف اولی بللې دي، همدا ډول په مسلم شریف په ولاړه پر اوبو چیښلو د قی کولو حکم سوی دئ له دې څخه معلومیږی چی مکروه تحریمې دي؟

الجواب: په ولاړه داوبو چیښلو په اړه مختلف احادیث را وارد سوی دي د ځیني روایاتو څخه ممانعت معلومیږی او د ځیني څخه جواز معلومیږی د دواړو په منځ کي علماؤ لاندني تطبیقات ورکړي دي:

۱– د ممانعت احادیث پر کراهیت تنزیهې محمول دي د جواز د بیان له پاره نبي ﷺ دغه عمل وکړي دغه توجیه ډیره غوره ده.

۲– او دا هم ممکن دي چی په ولاړه اوبه چیښل د جاهلیت د زمانې عادت دئ، نو ځکه په ابتداء کي له دې څخه سخت ممانعت راغلي او د بیرته قی کولو حکم وسو، نو کله چي خلک په ناسته په اوبو چیښلو عادت سوه او په ولاړه د اوبو چیښلو به کله ضرورت پیښ سو او کله به د اساني له امله داسي کېدل، نو بیرته تخفیف راغلي او کراهیت تنزیهې پاته سو.

۳– د جواز احادیث زیات قوی دي، نو ځکه جواز راجح دئ.

۴– د ممانعت احادیث منسوخ دي د جواز د احادیثو او د صحابهؤ د عمل له امله.

۵– د جواز احادیث منسوخ دي مګر دغه قول زیات صحیح نه دئ ځکه چي وروسته صحابهؤ پر دې عمل کړی دئ.

۶– د نهی احادیث پر طبې ضرر محمول دي او د جواز احادیث پر اباحت شرعیه محمول دئ.

۷– ځیني علماؤ د نهی پر احادیث خبري کړي دي مګر حافظ ابن حجر رحمه الله رد کړی دئ.

۸– که په یو ځای کي د ناستي موقع وي کراهیت سته که نه، نو بیله کراهیته په ولاړه اوبه چیښل روا دي.

د ممانعت احادیث وګورئ:

عن قتادة عن أنس رضي الله عنه أن النبي ﷺ زجر عن الشرب قائماً.

عن قتادة عن أنس رضي الله عنه عن النبي ﷺ أنه نـهى أن يشرب الرجل قائمـا.

عن أبي غطفان المرى أنه سمع أبا هريرة رضي الله عنه يقول: قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايشر بن أحد منكم قائماً فمن نسي فليستقئ . (رواه الثلاثة مسلم:۲/ ۱۷۳، باب فی شرب قائماً،ط: فيصل).

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لو يعلم الذي يشرب وهو قائم ما في بطنه لاستقاءه. أخرجه أحمد فى مسنده (۷۸۰۸) وابن حبان في صحيحه (۵۳۲۴). وقال شعيب الأرنؤوط: حديث صحيح.

د جواز احاديث وګورئ:

عن عبد الملك بن ميسرة ، عن النزال قال: أتى علي رضي الله عنه، على باب الرحمة فشرب قائمًا فقال إن ناسًا يكره أحدهم أن يشرب وهو قائم وإني رأيت النبي صلى الله عليه وسلم فعل كما رأيتموني فعلت.

عن الشعبي عن ابن عباس رضي الله عنه قال: شرب النبي صلى الله عليه وسلم قائما من زمزم. (رواهما البخاری:۲/ ۸۴۰، باب الشرب قائماً، ط: فيصل).

وعن ابن عمر رضي الله عنه قال: كنا نأكل على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نمشي ونشرب ونحن قيام. رواه الترمذی (۱۸۸۰) وقال: هذا حديث صحيح. وأخرجه ابن ماجه وابن حبان في صحيحه.

وعن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده رضي الله عنه قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يشرب قائماً وقاعداً. رواه الترمذي (۱۸۸۳) وقال: هذا حديث حسن صحيح.

وحديث سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه رواه الترمذي فى الشمائل عنه: أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يشرب قائماً، وإسناده حسن، وحديث عائشة أخرجه النسائي من حديث مسروق عنها، قالت: رأيت النبي صلى الله عليه وسلم يشرب قائماً وقاعداً... الحديث.

وحديث أنس ﷺ رواه أحمد في مسنده: أن النبي ﷺ دخل وقربة معلقة فشرب من فم القربة وهو قائم.... الخ. (عمدة القاري:۱۴/ ۶۱۵، باب الشرب قائماً،ط: دار الحديث).

قال العلامة اليعني: ثم كيفية الجمع بينهما على أقوال: أحدها: أن النهي محمول على التنزيه لا على التحريم، وهو الذي صار إليه الأئمة الجامعون بين الحديث والفقه...الرابع: تضعيف أحاديث النهي عن الشرب قائماً قاله جماعة من المالكية ...وفيه نظر الخامس: أن أحاديث النهي منسوخة... السادس: ما قاله ابن حزم أن أحاديث النهي ناسخة لأحاديث الشرب قائماً، وقال النووي: الصواب أن النهي محمول على كراهة التنزيه، وأما شربه قائماً فبيانه للجواز فلا إشكال ولا تعارض، قال: وهذا الذي ذكرناه يتعين المصير إليه، قال: وأما من زعم نسخاً أو غيره فقد غلط غلطاً فاحشاً، وكيف يصار إلى النسخ مع إمكان الجمع لو ثبت التاريخ؟ وأنى له بذلك...قلت: جزم النووي هنا بالكراهة، وخالف ذلك في الروضة تبعاً للرافعي، فقال: إن الشرب قائماً ليس بمكروه. (عمدة القاري:۱۴/ ۶۱۶،ط: ملتان).

په عالمګيرى كي راځي:

ولا بأس بالشرب قائماً. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۴۱).

په فتاوى الشامي كي راځي:

ولعل النهي لأمر طبي أيضاً كما مر فى الشرب... ولا بأس بالشرب قائماً. (فتاوى الشامي:۱/ ۱۳۰، سعيد).

په مراقي الفلاح كى راځي:

وأجمع العلماء على كراهته تنزيهاً لأمر طبي لا ديني، وفي حاشية الطحطاوى: قوله وأجمع العلماء... الخ. لا تسلم حكاية الإجماع فإنه لما تعارضت الأحاديث الدالة على النهي، والأحاديث الدالة على الفعل اختلف العلماء في المخلص من التعارض، فمن قائل إن النهي

ناسخ للفعل، ومن قائل بالعكس، ومن قائل إن النهي ليس للتحريم، بل للتنزيه لأنه لأمر طبي لا ديني، وفعله لبيان الجواز ذكره ابن أمير حاج. (حاشية الطحطاوى مع مراقى الفلاح،ص ۷۸، آداب الوضوء، قديمى).

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

والمسلک الخامس: أن يجمع بين الأحاديث بأن النهي للتنزيه فلا يعارض أحاديث الجواز، وهو الذي اختاره أكثر الفقهاء من المذاهب الأربعة.

والمسلک السادس: أن يحمل النهي على الضرر الطبي، وأحاديث الجواز على الإباحة الشرعية، وإليه جنح الطحاوي... وإذا ثبتت أحاديث النهي فالمسلک الخامس أولى،:..

والذي يظهر لهذا العبد الضعيف عفا الله عنه: أن الكراهة في المواقع التي يتيسر فيها محل للجلوس، فأما إذا لم يتيسر، أو كان في الجلوس تكلف شديد، فلا كراهة أيضاً ويحتمل أن تكون أحاديث الشرب قائماً متعلقة بمثل هذه المواقع.... (تكملة فتح الملهم:۴/ ۱۱- ۱۲).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم:۵/ ۲۸۵، ومكمل اكمال الاكمال:۷/ ۱۳۷، وتكملة فتح الملهم:۴/ ۱۰ – ۱۲، شرح مسلم للامام النووى:۲/ ۱۷۳، ط: فيصل، وزاد المعاد:۴/ ۲۲۹،ط: مؤسسة الرسالة، وفتاوى الشامى:۱/ ۱۲۹- ۱۳۰، سعيد).

په ناسته د اوبه څیښلو طبې فائده:

که چیري اوبه په ناسته وڅیښل سي، نو د جسم د حاجت مطابق هغه په جسم کي سره ځي او که ډېر اوبه په یو ځل بدن ته ورسي، نو د دې په وجه په بدن کي یو خطرناک مرض پیدا کیږي چي هغه ته استسقاء وایي او د مریض ټول بدن سره شوړیږي او که اوبه په ولاړه وڅیښل سي، نو د هغه له امله د مریض په معده او ځګر کي مرضونه منتشر کیږي چي د هغه په علاج کي معالجین عاجزه راځي همدا رنګه د پښو د پمن کېدو خطر سته. (سنت نبوی اور جدید سائنس،ط: ۱۳۱). والله ﷻ اعلم.

په مشروبات او ماکولاتو کي د پوکلو حکم

سوال: په حدیث شریف کي په اوبو کي د پوکلو ممانعت راغلي هغه کوم حدیث دئ؟ او چای په هغه کي شاملي دي او که نه؟

جواب: د پوکلو د ممانعت روایات په لاندي ډول دي:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن النفخ فى الشرب... الخ. رواه الترمذي ١٨٨٧) وقال: هذا حديث حسن صحيح. وابن حبان فى صحيحه ٥٣٢٧) قال شعيب: إسناده صحيح.

وعن ابن عباس رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن النفخ فى الطعام والشراب. رواه أحمد في مسنده (٢٨١٧) قال شعيب الأرنؤوط: إسناده صحيح على شرط البخاري.

وعن عبد الله بن أبي قتادة، عن أبيه، أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن النفخ فى الإناء. رواه ابن أبي شيبة في مصنفه (١٢/ ٢٩٩) وابن ماجه عن ابن عباس رضي الله عنه (ص ٢٤٥).

وعن مولاة لثوبان، قالت: أتيت ثوبان بشراب فنفخت فيه، فأبى أن يشرب. (مصنف ابن ابى شيبة:١٢/ ٢٩٨).

دغه روايات د مشروباتو او ماكولاتو ټولو اقسامو ته شامل دي، البته نهى پر ادب باندي محمول دي، د امام ابو يوسف رحمه الله په آند هغه پوكل ممنوع دي چي په هغه كي آواز وي.

په چايو كي پوكل د هغو د يخوالي له پاره وي او په كومو چايو كي چي دي يې په خپله چنبي كه په هغه كي پوكي، نو په دې كي دبل د كراهيت هيڅ خبره نه سته، نو ځكه دا روا دي او كه د پوكلو وروسته نورو ته نفرت پيدا كيږي، نو بيا پوكل مكروه دي مګر غوره دا دي چي په خپلو چايو كي هم پو نه كړي ځكه چي د دې له امله د خولې يو څه جراثيم داخليږي چي د هغه چيښلو سره ضرر را منځ ته كوي.

په اوجز المسالك كي راځي:

ومحل هذا إذا أكل وشرب مع غيره أما لو أكل وحده أو مع أهله أو من يعلم أنه لايتقذر شيئاً مما يتناوله فلا بأس، قال الحافظ: والأولى تعميم المنع. (اوجز المسالک:۱۶/ ۳۲۳،ط: دار القلم دمشق).

په التمهيد کي رائحي:

إنما نهى عن التنفس في الإناء لأدب المجالسة لأن المتنفس في الإناء قل ما يخلو أن يكون مع نفسه ريق ولعاب ومن سوء الأدب أن يشرب ثم يناول جليسه لعابه ألا ترى أنه لو عمد إلى الإناء فشرب منه ثم تفل فيه وناوله جليسه إن ذلك مما تقذره النفوس وتكرهه وليس من أفعال ذوي العقول فكذلك من تنفس في الإناء لأنه ربما كان مع تنفسه أكثر من التفل من لعابه، والله أعلم. (التمهيد لابن عبد البر:۱/ ۳۹۸،ط: مؤسسة القرطبة).

په المنتقى شرح المؤطا کي رائحي:

نهى صلى الله عليه وسلم عن النفخ في الشراب حملًا لأمته على مكارم الأخلاق؛ لأن النافخ في آنية الماء يجوز أن يقع من ريقه فيها شيء مع النفخ فيتقذره الناظر ويفسده عليه. (المنتقى:۴/ ۳۲۸).

قال المناوى في فيض القدير: ومحل ذلک إذا أكل مع غيره فإن أكل وحده أو مع من لايتقذر منه شيئاً كزوجته وولده وخادمه وتلميذه فلا بأس. (فيض القدير:۶/ ۴۲۰، بيروت).

(وكذا فی شرح ابن بطال:۶/ ۷۹، ط: مكتبة الرشد، وعمدة القارى:۱۴/ ۶۲۶، دار الحديث ملتان).

په المحيط البرهانی کي رائحي:

ولا ينفخ فی الطعام والشراب، لأن ذلک يسوء الأدب. (المحيط البرهانی:۶/ ۸۹، الفصل الثانی عشر فی الكراهية فی الاكل).

په فتاوى الشامي کي رائحي:

وعن الثاني أنه لا يكره النفخ فى الطعام إلا بما له صوت نحو أف وهو محمل النهى. (فتاوى الشامى:۶/ ۳۴۰، سعيد).

په الموسوعه الفقهيه كي راځي:

ويرى أبو يوسف من الحنفية: أنه لا يكره النفخ فى الطعام إلا ما له صوت مثل أف وهو تفسير النهى. (الموسوعة الفقهية الكويتية:۴۱/ ۲۴). (وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۳۳۷). والله ﷻ اعلم.

د ګرمو اوبو يا ډوډئ د استعمالول حكم

سوال: د ډېرى ګرمي ډوډئ يا اوبو څه حكم دئ؟ كه چيري مكروه وي، نو د ګرمو چايو څه حكم دئ؟

الجواب: د ځيني احاديث او د فقهي د كتابو څخه د ګرم خوراک ممعانعت معلوميږى مګر د دې مطلب دا دئ چې ډېري ګرمي وي چي لاس يا خوله وسوځي مګر كه لږ ګرم وي بيا پروا نه لري خصوصاً هغه شيان چي د هغوخوند په ګرموالي كي وي، مثلاً چاي او داسي نور، نو كه داسي شيان لږ ګرم وي بېله كراهيته روا دي.

د لاندي رواياتو څخه د ډېر ګرم خوراک ممانعت معلوميږي:

وعن خولة بنت قيس وكانت تحت حمزة بن عبد المطلب قالت: دخل علي رسول الله ﷺ فجعلت له خزيرة فقدمتها إليه،فوضع يده فيها فوجد حرها فقبضها فقال: يا خولة لا نصبر على حر ولا على برد، يا خولة إن الله أعطاني الكوثر، وهو نهر في الجنة، وما خلق أحب إلي ممن يرده من قومك يا خولة رب متخوض في مال الله ومال رسوله فيما اشتهت نفسه له النار يوم القيامة. رواه الطبرانى فى الكبير (۵۸۸) وفي رواية عنها... قالت: فقربت له عصيدة في تور فلما وضع يده فيها احترقت فقال: حس ثم قال: إن ابن آدم إن أصابه خير قال: حس وإن أصابه برد قال: حس. (رقم: ۵۸۹).

قال الهيثمي: رواه كله الطبراني بإسنادين ورجال أحدهما رجال الصحيح. (مجمع الزوائد:۵/ ۲۰، دار الفكر).

وعن أبي هريرة ﵁ أن النبي ﷺ أتى بصحفة تفور فأسرع يده فيها ثم رفع يده فقال: إن الله عز وجل لم يطعمنا ناراً. رواه الطبراني في الصغير والأوسط (۷۰۱۲) وفيه عبد الله بن يزيد البكري ضعفه أبو حاتم،وبقية رجاله ثقات. (مجمع الزوائد:۵/ ۲۰،ط: دار الفكر).

عن ابي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: ابردوا بالطعام فإن الطعام الحار غير ذي بركة. (رواه الطبرانى فى الاوسط، رقم: ۶۲۰۹).

وإسناده ضعيف لضعف عبد الله بن يزيد البكرى. وأخرجه الحاكم فى المستدرك. (۴/ ۱۱۸) عن جابر ﵁.

وللمزيد راجع: (كشف الخفاء:۲/ ۳۶۸، وتخرج الاحياء للعراقى:۱/ ۶۴۵،ط: الرياض).

په فيض القدير كي راځي:

قوله: أبردوا بالطعام... فيكره استعمال الحار لخلوه عن البركة ومخالفته للسنة بل إذا غلب على ظنه ضرره حرم. (فيض القدير،رقم: ۵۰).

د لږ ګرمو د جواز روايات وګورئ:

عن أبي هريرة ﵁، قال: أتي رسول الله ﷺ يومًا بطعامٍ سخنٍ، فأكل، فلما فرغ ، قال: الحمد لله ما دخل بطني طعام سخن منذ كذا ، وكذا.(رواه ابن ماجه، ص: ۳۰۶).

وفى الزوائد: إسناده حسن وسويد مختلف فيه.

د ابن ماجه د روايت څخه معلوميږي نبي كريم ﷺ ګرم خوراک خوړلی دئ او هغه يې نعمت بللی دئ. په يو بل روايت كي چي څو صحابهٔ كرامو ګرم خوراک كړی دئ. وګورئ:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: بينا أنا وأبو طلحة الأنصاري رضي الله عنه وأبي بن كعب رضي الله عنه أتينا بطعام سخن فأكلناه... الخ. (شرح معانی الآثار: ۱/ ۶۹).

په فتاوی شامي کي راځي:

ومن السنة أن لا يأكل من وسط القصعة... ولا يأكل الطعام حاراً ولا يشمه. (فتاوی الشامی: ۶/ ۳۴۰، سعید). (وکذا فی الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۳۷، والمحیط البرهانی: ۶/ ۸۹، الفصل الثانی عشر فی الکراهیة فی الاکل).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

گرم خوراک چی برداشت کېدلای نه سي د هغه څخه منع راغلي ده او کوم چي برداشت کېدلای سي د هغه څخه منع نه ده راغلې، که نو ډوډئ کتغ او چای توله گرم خوړل کیږي او په يخولو کي خوند د منځه ځي او په خاصیت کي يې فرق راځي همدغه حال د چایو دئ د گرم والي وروسته شربت گرځي د احادیثو د شرحو څخه همدغه مستفاد دي. (فتاوی محمودیه: ۱۸/ ۹۰، جامعه فاروقیه).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که لږ گرم وي نو مکروه نه دي مگر که ډېر گرم وي نو بیا مکروه دي کوم شیان چي داسي وي چي په يخېدلو سره د هغو فائده یا خوند د منځه ځي، نو بیا مکروه نه دي لکه چای او داسي نور. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۴۶۸، ط: دیوبند).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايي:

په حدیث کی ((ابردوا بالطعام)) له دې څخه معلومیږي چي په ډېره گرمه ډوډئ کي برکت نه وي، نو ځکه خلاف اولی کار دئ مگر روا دئ لکه چای او داسی نور چي د هغو څخه مطلب گرمي حاصلول وي هغه د دې څخه مستثنی دي بلکه په حقیقت کي د دغه حدیث په مفهوم پکښي داخل نه دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند، جلد دوم، ص: ۸۰۷).

په شمائل کبری کي راځي:

حضرت صهيب رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد رانقلوي چي نبي صلی الله علیه وسلم د گرم خوراک د خوړلو منع وکړه تر څو چي هغه ښه مناسب سي او د خوړو لائق سي. (کنز العمال: ۱۹/ ۱۸۸).

حضرت جویریه رضی الله عنها فرمايي، چي نبي كريم ﷺ به گرم خوراک نه خوښوي يعنی داسي خوراک چي د هغه څخه تاوښ (تاو) پورته كيږي. (جمع الفوائد. مجمع: ۵/ ۲۲).

داسي گرم خوراک چي د هغه څخه تاوښ (تاو) پورته كيږي او د خولې او لاسو د سوځېد وېره وي دا ممنوع دي او بل دا چي په داسي ډوډۍ کي خوند هم نه وي ځکه د خولې د سوځلو له امله انسان هغه ژر تېرول غواړي.

حضرت اسماءبنت ابی بکر رضی الله عنها فرمايي، چي نبي كريم ﷺ وفرمايل: خوراک يخ كړي په دې كي بركت زيات وي.

حضرت اسماء رضی الله عنها ته چي به يو چا گرم ثريد راوړي هغي به د سر د پټولو حكم كوي تر داسي اندازي چي تاوښ (تاو) به يې ختم سو او دا به يې ويل: چي ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلې دي سوړ خوراک ډېر بركت لري.

فائده: له دې څخه معلومه سوه چي گرم خوراک بايد ونه خوړل سي كه گرم وي، نو هغه سوړ سي د گرم څخه مراد هغه گرم دئ چي خولې يا لاس ته تكليف رسوي له همدي امله نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ په ما اور نه دئ خوړلي، نو له دې څخه د هغه ډېر گرم مفهوم واضح معلوميږي، البته چای له دغه ممانعت څخه مستثنی دي ځكه چي د هغو گرم چيښل گټوري دي.

د ابن ماجه شريف د روايت څخه معلومه سوه چي كه معتدلي گرمي وي هغه پروا نه لري كوم خوراكونه چي د گرم والی په حالت كي خوند لري، نو هغه كه معتدل گرم وي پروا نه لري د سنت خلاف كار نه دئ. (شمائل کبری: ۱/ ۴۴- ۴۵). والله ﷻ اعلم.

د مردار خوړونکي حيوان د شيدو حكم

سوال: ځيني بزگران حيوانانو ته داسي وابنه وراچوي چي په هغو شراب گډ وي بيا د هغو شيدې خرڅوي، نو آيا دغه شيدې اخيستل او چيښل روا دي او كه نه؟ يعني شيدې پاكي دي او كه نه؟

جواب: بزگران چي دغه سي كار كوي دا مكروه دي مگر د دې له امله په شيدو كي څه خرابي نه راځي د تبديل ماهيت له امله شيدې حلالي او پاكي دي د دې اخيستل او استعمالول روا دي.

حرام او ناپاک شيان حيوانانو ته وركول منع دي.

علامه لكهنوي رحمه الله فرمايي:

الاستفسار: هل يـجوز أن يسقى الفرس خـمراً؟

الاستبشار: لايـجوز، في مطالب الـمؤمنين: ولا يسقى الصبي والدابة والذمى خـمراً والإثم على من سقاهم، كذا فى جوامع الفقه، انتهى... ثم إن كان لا بد من سقى الـخمر فرساً يشربه بل يضع الـخمر بين يديه ليشربه، كمـا أن لاينبغي أن يؤكل الـميتة الكلب إلا بأن يضع الـميتة بين يدى الكلب، فيأكله بنفسه كمـا فى مطالب الـمؤمنين. (فتاوى اللكنوى،ص: ۴۷۱- ۴۷۲، دار ابن حزم).

مګر دځيني فقهاؤ دعباراتو څخه معلوميږي چي ناپاکي اوبه په حيواناتو څښلای سي.
وګورئ په بحر الرائق کي راځي:

وفي خزانة الفتاوى: لا بأس بأن يسقى الـمـاء النجس للبقر والإبل والغنم. (البحر الرائق:۱/ ۱۲۵، ط: كوئته).

که چيري دبزګرانو ضرورت ؤ، نو ددوهم قول څخه اجازه معلوميږي.
شيدې دماهيت دبدلون له امله بېله کراهيته حلالې دي. وګوري:

الاستفسار: الدودة الـمتولدة من العذرة، هل هى نجسة؟

الاستبشار: لا، فى خزانة الروايات: الدودة إذا تولدت من النجاسة، قال السرخسي: إنـها ليست بنجسة، من الـخلاصة انتهى. فإن قلت: كيف تكون طاهرة وأصلها أعنى العذرة نجسة، قلت: لا يلزم من كون ما خلق منه نجساً كون ما خلق نجساً... (فتاوى اللكنوى،ص: ۱۰۳، ط: دار ابن حزم).

قال ابن حجر رحمه الله في فتح الباري: تقريره أن اللبن خالط الفرث والدم، ثم استحال فخرج خالصاً طاهراً، ا ه. قلت: يشير إلى قول الله تعالى: ﴿نسقيكم مـمـا في بطونه من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين﴾. (النحل: ۶۶).

يبين أن طبع اللبن غير طبع الفرث، وغير طبع الدم سواء من حيث الرقة والسيولة أو من حيث الرائحة والطعم وغيرهما. ومن هنا عرفنا أن التعريف المختار للاستحالة اصطلاحاً هو: تغير الشيء من طبعه ووصفه إلى طبع آخر و وصف آخر. (ماخوذ من مجلة المجمع الفقهى الاسلامى، ص: ۱۸۹ - ۱۹۰، الاستحالة واحكامها فى الفقهى الاسلامى).

په فتاوي محموديه کي راځي:

کوم حيوان ته چي حرامه خوراک ورکول سي د هغه د شيدو حکم:

جواب: بېله د مالک اجازې د هغه د درختو پاڼي وغيره اخيستل او خرڅول حرام دي مگر د حيوان شيدې په دې سره نه حراميږي. (فتاوی محموديه: ۱۸/ ۲۸۵، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د پردی ښځي د پسخوردې د خوړلو حکم

سوال: آيا نارينه د پردی ښځي پسخورده خوړلای سي؟ همدا رنګه ښځه د پردې نارينه پسخورده خوړلای سي او که نه؟ او که د تبرک په نيت وي او د فتنې بېره هم نه وي؟ نو آيا روا ده او که نه؟ او که روا وي، نو په شريعت کي د دې يو مثال سته او که نه؟

الجواب: د فقهاؤ د عباراتو څخه معلوميږي چي که د خوند بېره وه، نو بيا د پردې پسخورده مکروه ده.

په درمختار کي راځي:

نعم يكره سؤرها للرجل كعكسه للاستلذاذ واستعمال ريق الغير، وهو لا يجوز. وفى رد المحتار: أى فيالشرب لا فى الطهارة، بحر، قال الرملى: ويجب تقيده بغير الزوجة والمحارم. (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/ ۲۲۲، سعيد).

په فتاوي عالمگيري کي راځي:

وكراهة سؤر المرأة للأجنبي كسؤره لها ليس لعدم طهارته بل للاستلذاذ كذا في النهر الفائق. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۳).

په بحر الرائق کي راځي:

صرح في المجتبى من باب الحظر والإباحة: أنه يكره سور المرأة للرجل وسوره لها. (البحر الرائق: ١/ ١٢٦، كوئته).

په حاشيه الطحطاوي کې راځي:

ويكره أن يشرب غيره إن وجد منه لذة إلا الزوجين. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص: ٢٩، قديمى).

د فقهاؤ پر عباراتو د غور کولو وروسته دا نتيجه راوزي چې د خوند د حاصلولو او د فتنې د بېرې د اجنبي پسخورده مکروه ده مګر که دغه غلت نه ؤ بلکې د تبرک له پاره ؤ، نو بيا اجازه سته. مثلاً يو ښځه د خپل شيخ پاته خوراک د برکت له پاره استعمالوي، نو د دې اجازه سته. په احاديثو کې څو مثالونه راغلي دي هغه په لاندې ډول دي:

١- امام بخاري رحمه الله په باب الصعيد الطيب وضوء المسلم کې لاندې اوږد حديث را نقل کړی دئ په دغه حديث کې راغلي دي چې د يو ښځې له توښه دان (ژي) څخه ټولو صحابه ؤ اوبه وچيښلې او تر هغه يې ډېرې اوبه ورکړې او هغه يې رخصت کړه. وګورئ:

عن عمران رضي الله عنه قال: كنا في سفر مع النبي صلى الله عليه وسلم ... فقال: اذهبا فابتغيا الماء فانطلقا فتلقيا امرأةً بين مزادتين، أو سطيحتين من ماءٍ على بعيرٍ لها...قال: فاستنزلوها عن بعيرها ودعا النبي صلى الله عليه وسلم بإناءٍ ففرغ فيه من أفواه المزادتين...ونودي في الناس اسقوا واستقوا فسقى من شاء واستقى من شاء، وكان آخر ذاك أن أعطى الذي أصابته الجنابة إناءً من ماءٍ ....(رواه البخاري: ١/ ٤٩، باب الصعيد الطيب وضوء المسلم).

٢- د خندق د غزا پر وخت حضرت جابر رضي الله عنه ډوډئ تياره کړې وه، نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه ؤ ته يې دعوت ورکړې، نو کله چې ټوله د ډوډئ څخه فارغه سول، پاته ډوډئ نبي کريم صلى الله عليه وسلم د حضرت جابر رضي الله عنه زوجې ته ورکړه او دا يې ورته ووېل:

«كلي هذا واهدى فإن الناس أصابتهم مجاعة». (رواه البخاري: ٢/ ٥٨٨، باب غزوة الخندق وهى الاحزاب).

٣- د هجرت په وخت کي نبي کريم ﷺ دام معبد د بزې څخه شيدې را ولوشلي او تر ټولو د مخه يې په هغي وڅيښلي بيا يې خپلو ملګروته ورکړي په آخر کي يې په خپله وڅيښلي.

په مستدرک حاکم کي راځي:

...فدعا بإناء يربض الرهط فحلب فيه ثجا حتى علاه البهاء ثم سقاها حتى رويت و سقى أصحابه حتى رووا و شرب آخرهم صلى الله عليه وسلم....(مستدرک حاکم:٣/ ٩/ ٤٢٧٤، والمعجم الكبير للطبراني، رقم: ٣٦٠٥، ومعرفة الصحابة لابي نعيم:٢/ ٨٧١).

د چايو په ګلاس کي د کاچوغي د ښورولو طريقه

سوال: د خلکوعادت دي چي په ګلاس کي بوره واچوي، نو په کاچوغه يې لړي، نو که يو چا مخ دمغرب طرف ته کړي وي، نو کاچوغه دجنوب طرفته چلول غوره دي او که د شمال طرفته؟

الجواب: په دې مسئله کي مي صريح جزئيه تر نظر نه ده تېر سوي مګر د اسلامي خط پر ليکلو يې قياس ؤ بايد د جنوب طرفته وچلول سي لکه څرنګه چي خط ليکونکي د راسته لاس څخه شروع کوي او تر چپه طرفه يې رسوي او مغرب ته متوجه سړي يې د جنوب طرفته رسوي بيا بېرته د راسته طرف څخه شروع کوي، په کاچوغه کي همدغه مناسب دي مګر روا د دواړو طرفو څخه دي سائنس پوهان د ځمکي د حرکت هم په دې ډول قائل دي او چي طواف کوي، نو هم په دې طريقه يې کوي کوم چي د نبوي تعليماتو خلاصه ده.

د ګيس لرونکي مشروباتو د چيښلو حکم

سوال: کاربن ډائی آکسائيډ دا يو ګيس دئ کوم چي په کوکا کولا مشروباتو کي مستعمل سوی دئ، دا په لاندي طريقو سره حاصليږي:

١- د کيمکل په ذريعه.

٢- د شراب جوړولو په ذريعه.

په عامو حالاتو کي د کيمکل په ذريعه دغه ګيس حاصليږي مګر نن سبا د دې د کموالی په وجه ديو بلې طريقې د جوړولو اراده ده.

د دې طريقې د پوهې له پاره د جمعيت المفتين ځيني علماؤ او د حلال ادارو ځيني نمائندګانو د دې د معاينې له پاره ولاړل کومه طريقه چې د هغوی په ذهن کې راغله د هغې ضروري مختصر د وضاحت په لاندې ډول دئ:

۱ – غوړي داوبو سره ګډيږي.

۲ – جامد ذرات را ايستل کيږي.

۳– په يو لوی شی کې هغه ايشول کيږي او يو ډول بوټی (hopps) هم ورګډيږي چې د هغه درې کاره دي:

۱ – په هغه کې تريخ والی پيدا کوي.

۲ – په هغه کې ښه بوي پيدا کوي.

۳ – مضر ذرات ختموي.

۴ – بيا هغه سړوي.

۵– په دې کې قدرتي بوره موجوده وي د سائنس په اصطلاح کې دا د کاربن هائيډ روجن او آکسيجن مجموعه ده او يا په دې کې دغه شيان هم موجود وي، نو ځکه دې ته کاربن هائيډريټ هم وايي په دې خمير (yeast) هم ګډ وي بيا د تخمير په ماشين کې هغه ته جوش ورکول کيږي دغه عمل تقريباً تر (۱۲) ورځو پورې روان وي (yeast) په تدريجي ډول پر دې کار کوي او په (۱۲) ورځو کې د دغه شی پر دوو شيانو کې منتقل کيږي.

۱ – الکحول.

۲ – کاربن ډائی آکسائيډ.

الکحول مائع په يو جامد شکل کې په لوښی کې پاته کيږي او کاربن ډائی آکسائيډ هغه په هوا کې پورته کيږي ځکه چې هغه د ګيس په شکل کې وي، نو ځکه هغه د نورو ذرائعو په واسطه محفوظ کيږي دغه ګيس نه د الکحول څخه حاصليږي او نه (yeast) د خمير د بخار (steam) څخه بلکې په دې کې چې کومه بوره موجوده ده دا د هغې پيداوار دئ.

پاملرنه:

۱ – د کمپنۍ اراده ده چې دغسې کاربن ډائی آکسائيډ ګيس (۵۰٪) فيصده استعمال کړي.

۲- د صفائي وروسته ۰۰۰۰۰۲؛۰ فيصد (د لس ميلونه شخه دوې حصې) په هغه كې د شرابو اثر پاته كيږي.

۳- نن سبا چي كوم گيس استعماليږي هغه كيمكل گيس دئ.

۴- دغه شراب دغوړو او وربشو شخه جوړيږي.

اوس د خبري مطلب دا دئ چي آيا د دې گيس د استعمالولو اجازت سته اوكه نه؟ په كومو مشروباتو مثلاً كوكا كولا كي د دې گيسو استعمال سته، نو آيا د دغه مشروباتو استعمال روا دئ او كه نه؟

الجواب: د گيس مشروبات كوم گيس چي د شرابو شخه جوړيږي، د هغه نظير د فقهاؤ په كلام كي سته هغه دا دي چي د نجاست دود او بخار د اصح قول پر مطابق پاک دي، نو كوم گيس چي د شرابو شخه جوړ سوي دي هغه هم پاک دي، نو ځكه د هغه استعمال روا دئ.

په فتاوي عالمگيري كي راځي:

إذا مرت الريح بالعذرات وأصابت الثوب المبلول يتنجس إن وجدت رائحة النجاسة ما يصيب الثوب من بخارات النجاسات لا يتنجس بها وهو الصحيح هكذا في الظهيرية، دخان النجاسة إذا أصاب الثوب أو البدن الصحيح إنه لا ينجسه هكذا في السراج الوهاج، وفي الفتاوى: إذا أحرقت العذرة في بيتٍ فعلا دخانه وبخاره إلى الطابق وانعقد ثم ذاب أو عرق الطابق فأصاب ماؤه ثوبًا لا يفسد استحسانًا ما لم يظهر أثر النجاسة. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۴۷).

كله چي هوا پر مرداري باندي تېره سي او پر لمده جامه ولگيږي، نو كه د نجاست بد بوي محسوسېده، نو جامه ناپاكه ده؟ او كه جامې ته د نجاست بخار ورسېدئ، نو په دې سره جامه نه مرداريږي او دا صحي روايت دئ او كه د نجاست دود بدن يا جامې ته ورسېږي، نو بدن او جامه نه په مرداريږي صحي قول همدغه دئ، لكه شنگه چي په السراج الوهاج كي راغلي دي او په فتاوى كي راغلي دي چي كه چيري مردارې وسوځول سي او د هغې دود پريو خښته يا هنداره ولگيږي او هغه بيا لمده سي، نو بيا پريو جامه باندي ولگيږي، نو جامه نه په مرداريږي تر شو چي د نجاست اثر نه وي ښكاره سوې او دا استحسان دئ.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

(وبخار نجس) في الفتح مرت الريح بالعذرات وأصاب الثوب إن وجدت رائحتها تنجس لكن نقل في الحلية أن الصحيح أنه لا ينجس وما يصيب الثوب من بخارات النجاسة قيل: ينجسه وقيل: لا وهو الصحيح وفي الحلية: استنجى بالماء وخرج منه ريح لا ينجس عند عامة المشايخ وهو الأصح وكذا إذا كان سراويله مبتلاً. (فتاوى الشامى: ۱/ ۳۲۵، سعيد).

په پورتنيو عباراتو كي علامه شامي رحمه الله هغه قول ته ترجيح وركړې ده، كه چيري پر مردارۍ هوا تيره سي او پر جامه ولګيږي او د جامې څخه بد بويې محسوسه هم سي بيا هم جامه نه په مرداريږي همدا رنګه چي پرتوګ لوند وي او د انسان څخه هوا خارجه سي، هو جامه يې نه په مرداريږي.

په حاشيه طحطاوي على الدر المختار كي راځي:

(قوله وبخار نجس) القول بعفوه هو الصحيح... ولو استنجى بالماء ولم يمسحه حتى فسا اختلف المشايخ فيه وعامتهم على أنه لاينجس... وفيه: دخان النجاسة إذا أصاب الثوب أو البدن فيه اختلاف والصحيح أنه لا ينجسه. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۱/ ۱۶۱، كوئته).

شراب د سركي جوړولو له پاره د ايښودلو حكم:

د شرابو څخه ګيس يا سركه جوړول د احنافو په آند روا ده او په دې نيت سره شراب ايښول هم روا دي، زيات تر دې په كار خانو كي كار كوونكي او د كار خانو مالكان هم مسلمانان نه دي كوم چي د شرابو د احكامو پابند نه وي.

په عالمګيري كي وګورئ:

ولو أمسك الخمر في بيته للتخليل جاز ولا يأثم. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۷۳).

په هدايه كي راځي:

كما إذا ورثهما ثم إن كان خمراً يخللها وإن كان خنزيراً يسيبه. (الهداية: ۳/ ۵۹).

په البحرالرائق كي راځي:

وخل الخمر سواء خللت أو تخللت يعني خل الخمر فلا فرق في ذلك بين أن يتخلل بنفسه أو يخلل بإلقاء شيءٍ فيه كالملح أو الخل أو النقل من الظل إلى الشمس أو بإيقاد النار بالقرب منها. (البحر الرائق:٨/ ٢١٩، كوئته).

په دې پورتنيو عبارتو کې راغلي دي چې شراب د سرکې د جوړولو په نيت اېښول روا دي بيا که هغه په خپله شراب جوړ سي او که د سرکې په مختلفو طريقو سره جوړ سي، مثلاً په مالګه کې اچول له سايې څخه ګرمې ته منتقل کول او داسې نور دا ټول روا دي.

پر دې بناء د شرابو څخه پورته سوي بخار سره جامه نه مرداريږي، ځکه د شوافعو په آند د دې اجازه را ايستل ګران کار دئ، نو ځکه احتياط په ځان ساتلو کې دئ مګر موږ مسلمانانو ته دغه مشوره ورکوو چې د کوکا کولا پر ځای نور مشروبات وچيښي چې د کومو اجزاوې معلومې دي ځکه چې د کوکا کولا ځيني اجزاوې معلومې هم نه دي، نو ځکه له داسې مشتبه شی څخه ځان ساتل په کار دي.

ځيني مفتيانو لاندېنې تحقيق کړی دئ:

کاربن ډائی آکسائيډ ګيس نه په خپله نجس دئ او نه بل شی په نجس کيږي ځکه چې دا نه په خپله شراب دي او نه د شرابو دود او بخار دئ، همدا رنګه د الکحول سره د هغه يو ځای پوالې تر ډېره کمه وخته پورې وي کوم چې د کالعدم په درجه کې دئ بيا په شروع کې چې کوم د الکحول اثر دئ هغه هم ډېر کم دئ يعني د زوو حصو څخه دوې حصې او هغه هم د دوهم وار صفائې وروسته د لس کروړ څخه دوې حصې پاته کيږي شرعاً د دې هيڅ اعتبار نه سته.

او په سرکه کې يو فيصد څخه تر درې فيصده او په ډبل روټې کې د زرو څخه پنځه فيصده او په کوکا کولا کې د لسو لکو څخه يوه حصه د الکحول اثر موجود وي، سرکه د شرابو څخه وجود ته راځي مګر په هغه کې د شرابو اثرات او خاصيات نه وي، نو ځکه هغه پاکه او حلاله دي.

د حيوان څخه چې کومې شيدې او عسل حاصليږي پر هغه فکر وکړه چې هغه د کوم ځای څخه حاصليږي.

په قرآن کريم کې الله ﷻ د هغه ذکر کړی دئ:

﴿ بطونه من بين فرثٍ ودمٍ لبنًا خالصًا سائغًا للشاربين ﴾. (سورة النحل: ٦٦).

﴿ يخرج من بطونها شراب مختلف ألوانه فيه شفاء للناس ﴾. (سورة النحل: ٦٩).

دغه دواړه شيان حلال او پاک دي، فقهاؤ ريح کومه چي ناقض د اوداسه ده نجس نه دي بللي که چيري دغه ريح د لندې جامې سره ولګيږي، نو جامه نه په مرداريږي حتى چي د نجاست څخه پورته سوې بخارات هم يو شى نه نجس کوي همدا صحي قول دئ. (عنايه، كفايه، در مختار: ١/ ٢٣٨، سعيد).

په بهشتي زيور کي راځي:

که د ناپاکه اوبو تاو پر بدن ولګيږي، نو بدن ته ناپاک هغه وخت ويلای سو چي يو قطره پر بدن موښتي وي که نه، نو خالي په تاو لګېدو سره د نجاست فتوي نه ورکول کيږي لکه څنګه چي د نجاست د بد بويې په رسېدو سره څه حکم نه صادريږي، پر دې بناء که چيري جامې يا بدن ته د نجاست د دود يا تاو بد بويې ورسيږي، نو د نجاست حکم نه پر لګول کيږي. (بهشتى زيور، طبى جوهر، حصه نهم، ص: ٧٨٣).

نو ځکه د شراب جوړولو د عمل په دوران کي چي کوم کاربن ډائى آکسائيډ حاصليږي هغه نجس نه دي او که چيري هغه د پاک او حلالو مشروباتو سره ګډ سي، نو هغه پر خپل حال پاک پاته کيږي.

او دا خبره دې هم په ياد سي چي دغه بحث چي د کومو کاربن ډائى آکسائيډ په اړه کيږي هغه د شرابو د هغې کار خانې څخه حاصليږي په کوم ځای کي چي شراب د اوربشو څخه جوړيږي د فقهاء احنافو په آند دا مشهوره خبره ده چي د اوربشو څخه جوړ سوي شراب نجس نه دي د عموم بلوى او کثيرا استعمال له امله پرته د انګورو او خورما څخه جوړ سوي شرابو څخه ځکه د هغو د نه نجاست فتوى د حضرت تهانوي رحمه الله د زمانې څخه مشهوره او معروفه ده.

لکه څنګه چي حضرت تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوي کي فرمايې:

شراب که چيري د انګور، کشمش او خرما حاصل سوي نه وي، په دې کي اجازت سته اختلافاً او که داسي نه وي، نو بيا اجازه اتفاقاً نه سته. (امداد الفتاوى: ١/ ١٣٧، وبهشتى زيور، طبى جوهر، حصه نهم، ص: ١٠٢).

فى الهداية: وقال في الجامع الصغير: وما سوى ذلك من الأشربة فلا بأس به قالوا: هذ الجواب على هذا العموم والبيان لا يوجد في غيره وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله... وعن محمد رحمه الله أنه حرام

ويحد شاربه ...وكان أبو يوسف رحمه الله يقول: ما كان من الأشربة يبقى بعد ما يبلغ عشرة أيام ولا يفسد فإني أكرهه ثم رجع إلى قول أبي حنيفة رحمه الله . (الهداية:۴/ ۴۹۵، كتاب الاشربة،ط: شركة علمية، ملتان).

د سرکي او د زیتون د تېلو جوړولو طريقه او د هغو حکم

سوال: یوه کار خانه ده چي د بیلسمک (balsamic) په نامه سرکه جوړ وي او دغه سرکه د انگورو د شرابو څخه جوړیږي، همدا رنگه دغه کار خانه د زیتون تېل هم جوړ وي د دواړو د جوړولو طريقه په لاندي ډول ده:

د سرکي د جوړولو طريقه:

د لرگی په یو لوی لوښی کي په یو خاصه طريقه سره تیار وي دغه طريقه د سرکي جوړولو پخوانۍ طريقه ده بیا هغه لوښی استعمال په یو لوی لوښی کي ایږدي بیا د هغه سره هغه سره شراب کوم چي د انگورو څخه جوړ سوي دي او د انگورو هغه شیره چي خرابیدو ته نژدې وي ورسره گډ وي او د سرکي د جوړولو په غرض یې تقريباً لس هفتې ایږدي، نو دغه ټول شیان په سرکه سره بدلیږي، نو دغه سرکه د لرگی په لوښو کي ایښول کیږي تر څو د زړېدو په موخه ښه بوې پیدا کړي د هغه وروسته په بوتلانو کي خرڅیږي.

د زیتون د تیلو جوړولو طريقه:

د زیتون بوټي په ماشین کي اچول کیږي زیات شیان ورڅخه پاکیږي بیا هغه بوټي په پاکو اوبو سره پرېولل کیږي بیا په یو خاص ډول ماشین باندي نښتیځل کیږي بیا په یو داسي ماشین کي اچول کیږي چي د هغه په ذریعه تېل د بوټو څخه جلا کیږي بیا د پمپ په ذریعه منتقلیږي او په یو داسي ماشین کي اچول کیږي او پاک کیږي د دې ټولو مراحلو د تېرېدو وروسته په ټانکیو کي اچول کیږي تر څو چي خوند پیدا کړي بیا په بوتلانو کي خرڅیږي.

اوس سوال دا دئ چي په دغه طريقه سره جوړ سوي سرکه او زیتون د څلورو مذاهبو په رڼا کي حلال دي او که نه؟ یعني د دې داخلي استعمال روا دئ او که نه؟ او دې کار خانې ته د حلال سند ورکېدلای سي او که نه؟

جواب: د جمهورو علماؤ په آند که چيري شراب په حپله سرکه سي، نو د دې استعمال روا دئ او که په شرابو کي يو شی واچول سي او سرکه ورڅخه جوړه سي، نو د دې په اړه د فقهاؤ اختلاف دئ داحنافو او مالکيه په آند حلال دي او د شافعيه او حنابله په آند د هغو استعمال روا نه دئ مګر د شافعيه څخه ابن حجر رحمه الله د جواز قائل دئ او د امام احمد بن حنبل رحمه الله هم يو روايت د جواز سته.

په هدايه کي راځي:

وإذا تخللت الخمر حلت سواء صارت خلاً بنفسها أو بشيء يطرح فيها ولا يكره تخليلها وقال الشافعي رحمه الله: يكره التخليل ولا يحل الخل الحاصل به إن كان التخليل بإلقاء شيء فيه قولاً واحداً. (الهداية:۴/ ۴۹۹).

په البحر الرائق کي راځي:

وخل الخمر سواء خللت أو تخللت يعني خل الخمر فلا فرق في ذلك بين أن يتخلل بنفسه أو يخلل بإلقاء شيءٍ فيه كالملح أو الخل أو النقل من الظل إلى الشمس أو بإيقاد النار بالقرب منها. (البحر الرائق:۸/ ۲۱۹، کوئته). (وكذا فى الفتاوى الشامي:۶/ ۴۵۱، سعيد، والفتاوى الهندية:۵/ ۴۱۰).

په فتاوي محموديه کي راځي:

که چيري د شرابو څخه سرکه جوړه سي او حقيقت يې بدل سي، نو د هغه خوړل درست دي:

الخمر إذا خلله بعلاج الملح أو بغيره، يحل عندنا أكله. عالمگيري. (فتاوى محموديه:۱۸/ ۱۷۹، جامعه فاروقيه).

په فتاوي دار العلوم ديوبند کي راځي:

اصل وجه خو دا ده چي الله جل جلاله د خپل رسول صلى الله عليه وسلم په ذريعه قولاً وفعلاً حلال بللې دي:

روى مسلم فى صحيحه عن جابر رضي الله عنه مرفوعاً نعم الإدام الخل وفى سنن ابن ماجه عن أم سعيد اللّهم بارک فى الخل ولم يفتقربيت فيه الخل. (زاد المعاد فى ذكر الادوية والاغذية:۱۵۱).

پاتـه سو عقلي حكمت هغه هم ښكاره دئ چي پر سركه باندي مختلف قسم انقلابونه راځي، نو په سركه كي انقلاب ماهيت پيدا كيږي ټول اثرونه او خواص يې بد ليږي، نو په دې سره شرعي حكم هم بد ليږي، مثلاً كه د هوا ځخه اوبه جوړي سي، نو په هغو اوبو سره اودس روا دئ او تنده په وركېدلاى سي او همدا رنګه چي نجاست وسوځل سي او خاوره وګرځي نو پاكيږي.

د مالكيه ؤ د مذهب دلائل:

په بدايه المجتهد كي راځي:

واختلفوا إذا قصد تخليلها على ثلاثة أقوال: التحريم، والكراهية، والإباحة. وسبب اختلافهم معارضة القياس للأثر واختلافهم في مفهوم الأثر، وذلك أن أبا داود خرج من حديث أنس بن مالك ﷺ أن أبا طلحة سأل النبي ﷺ عن أيتام ورثوا خمراً، فقال: أهرقها، قال: أفلا أجعلها خلاً ؟ قال: فمن فهم من المنع سد ذريعة حمل ذلك على الكراهية، ومن فهم النهي لغير علة قال بالتحريم، ويخرج على هذا أن لا تحريم أيضاً على مذهب من يرى أن النهي لا يعود بفساد المنهي، والقياس المعارض لحمل الخل على التحريم أنه قد علم من ضرورة الشرع أن الأحكام المختلفة إنما هي للذوات المختلفة، وأن الخمر غير ذات الخل، والخل بإجماع حلال، فإذا انتقلت ذات الخمر إلى ذات الخل وجب أن يكون حلالاً كيفما انتقل. (بداية المجتهد: ١/ ٣٤٨، كتاب الاطعمة والاشربة،ط: دار نشر الكتب الاسلامية).

د شافعيه ؤ د مذهب دلائل:

علامه نووي رحمه الله فرمايي:

وأما إذا خللت بوضع شيء فيها فمذهبنا أنها لا تطهر وبه قال أحمد... (المجموع شرح المهذب: ٢/ ٥٧٨،ط: دار الفكر).

د حنابله ؤ د مذهب دلائل:

په الموسوعه الفقهيه كي راځي:

ذهب الحنفية والمالكية ، وهو رواية عن أحمد إلى أن نجس العين يطهر بالاستحالة .... وكذلك الخمر إذا صارت خلا سواء بنفسها أو بفعل إنسانٍ أو غيره ، لانقلاب العين ، ولأن الشرع رتب وصف النجاسة على تلك الحقيقة ، فينتفي بانتقائها، فإذا صار العظم واللحم ملحًا أخذا حكم الملح ؛ لأن الملح غير العظم واللحم. ونظائر ذلك في الشرع كثيرة. (الموسوعة الفقهية: ١٠/ ٢٧٨، وزارة الاوقاف).

دالمجمع الفقهي الاسلامي په مجله کي رائحي:

إذا خللت الخمرة بطرح شيء فيها، أو قصد تخليلها، فاختلف فيها الفقهاء.... القول الثاني: يحل تخليل الخمرة بطرح شيء فيها وتطهر به. وبه قال الحنفية، قول المالک نقله أشهب عنه، وقول لأحمد، وهو المفهوم من مذهب البخارى وابن حجر والقرطبي وبه قال أبو الدرداء والثوري والأوزاعي والليث بن سعد... واستدل أصحاب القول الثاني ــ هم الحنفية ــ على قولهم بجواز تخليل الخمرة وأنها تحل وتطهربه، بما يلى:

(١) قوله تعالى: ﴿ ويحل لهم الطيبات ﴾ (الاعراف:١٥٧) والخل من الطيبات.

(٢) أن النبي ﷺ قال: «أيما إهاب دبغ فقد طهر كالخمر يخلل فيحل». (رواه البيهقى فى الكبرى عن ام سلمة).

(٣) أن أبا الدرداء رضي الله عنه كان يأكل المرى الذي يجعل فيه الخمر، ويقول: ذبحته الشمس والملح. (قال ابن حجر رحمه الله: المري: يعمل فى الشام يؤخذ الخمر فيجعل فيه الملح والسمک ويوضع فى الشمس فيتغير عن طعم الخمر).

(۴) بالقياس، فقالوا: ثم مار وبناه أقرب إلى الصحة، لأنه شبه دبغ الجلد بالتخليل، والدبغ يكون بصنع العباد لا بطبعه، فعرفنا أن المراد التخليل الذي يكون بصنع العباد، والمعنى فيه أن هذا صلاح لجوهر فاسد، فيكون من الحكمة والشرع أن لاينهى عما هو حكمة....

ومن هنا أقول: بأننا رأينا ستة من أكابر الفقهاء فيهم البخارى وابن حجر وابن الجوزي والطحاوي والقرطبي وابن رشد، إضافة إلى جميع الفقهاء الحنفية، وقول لمالك وقول في مذهب أحمد، وغيرهم ممن قدمنا في عرض الأقوال كل هولاء يرون أن التحليل أولى من التحريم في هذه المسألة.

قلت: هذا هو الذي أرجحه، وهو أن الخمرة إذا قصد تخليلها أو خللت بطرح شيء فيها أنها تطهر، بعد ذهاب الخمرية وانتقالها إلى حالة التخليل، وصارت خلاً... ومن هنا فإنه يسع أصحاب معامل الخمور أو من يعمل الخمرة لنفسه أن يحولوا معاملهم وخمورهم إلى ما فيه فائدة وحلال دون أن يريقوا هذه الخمور التي عندهم. والله تعالى أعلم. (ملخص من مجمع الفقهى الاسلامى:ص ۱۹۳- ۲۰۷، سنة ۱۴۲۴ هـ/ سنة ۲۰۰۳ء).

د شرابو څخه سرکه جوړول د احنافو په آند روا ده او په دې نيت سره شراب ايښول هم روا دي او چې د مسلمان په ملکيت کې شراب راسي، نو هغه واجب الاراقه نه دي همدا رنګه په کار خانو کې کاريګر او مالکان ټوله مسلمانان نه دي کوم چې د شرابو د احکامو پابند نه دي مګر هو د مسلمان له پاره شراب رانيول روا نه دي.

په عالمګيري کې راځي:

ولو أمسک الخمر في بيته للتخليل جاز ولا يأثم. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۷۳).

په هدايه کې راځي:

كما إذا ورثهما ثم إن كان خمراً يخللها وإن كان خنزيراً يسيبه. (الهداية:۳/ ۵۹).

په البحر الرائق کې راځي:

وخل الخمر سواء خللت أو تخللت يعني خل الخمر فلا فرق في ذلك بين أن يتخلل بنفسه أو يخلل بإلقاء شيءٍ فيه كالملح أو الخل أو النقل من الظل إلى الشمس أو بإيقاد النار بالقرب منها. (البحر الرائق:٨/ ٢١٩، كوئته).

په المبسوط كي راځي:

فأما بيع الخمر من المسلم ، فباطل ، والثمن غير مستحق له بل هو ، واجب الرد على من أخذ منه. (المبسوط للامام السرخسي:٢٤/ ٤٩، دار الفكر، وبدائع الصنائع:٥/ ١٢٨،سعيد).

په فتاوي عالمګيري كي راځي:

والثالث: أنه يحرم تمليكها وتملكها بالبيع والهبة وغيرهما مما للعباد فيه صنع. (الفتاوى الهندية:٥/ ٤١٠).

په هدايه كي راځي:

وانتقال الملك إلى الآمر أمر حكمي فلا يمتنع بسبب الإسلام كما إذا ورثهما ثم إن كان خمراً يخللها وإن كان خنزيراً يسيبه. (الهداية:٣/ ٥٩). والله ﷻ اعلم.

د زيتون د تيلو حکم:

د زيتون د تيلو د جوړولو چي کومه طريقه ذکر سوه د هغه پر مطابق د زيتون د تيلو استعمال روا دئ ځکه چي په دغه طريقه کي د شريعت خلاف کار نه سته او نه په دې کي يو حرام او ناپاک شی استعماليږي.

د چلم د څکولو حکم

سوال: آيا په چلم کي تمباکو څکول شرعاً روا دي او که نه؟ او که روا وي، نو سره د کراهيته او که بيله کراهيته؟

الجواب: داوس څخه تقريباً (٤٠٠) کاله مخکي په لومړی ځله کفارو چلم ايجاد کړه مګر اوس عامه سوه په پخوا زمانه کي دا د ځيني مرضونو علاج بلل کېدئ مګر زموږ په زمانه کي خلک د فيشن له پاره څکوي، نو د دې حکم دا دئ چي که چيري دغه نشه لرونکی وي لکه د دې ځيني ډولونه، نو د

دې استعمال ناروا دئ او که څوک د دې عادي وي، نو پر هغه لازمه ده چې مسجد یا محفل ته تر تلو د مخکې خوله پاکه پرېولي تر څو چې ملائکو او انسانانو ته تکلیف ونه رسېږي.

په حدیث شریف کې راځي حضرت جابر ﷺ روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: هر څوک چې له دې بد بويه درختي څخه خوراک وکړي، نو هغه دې زموږ مسجد ته نژدې نه راځي ځکه چې ملائکو ته د هغه شی څخه تکلیف رسېږي له کوم شی څخه چې انسان ته تکلیف رسېږي.

عن جابرٍ ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من أكل من هذه الشجرة المنتنة فلا يقربن مسجدنا، فإن الملائكة تأذى مما يتأذى منه الإنس. (رواه مسلم: ١/ ٢٠٩).

په فتاوي شامي کې راځي:

قال الإمام العيني في شرحه على صحيح البخاري، قلت: علة النهي أذى الملائكة وأذى المسلمين، ولا يختص بمسجده عليه الصلاة والسلام، بل الكل سواء لرواية مساجدنا بالجمع، خلافاً لمن شذ، ويلحق بما نص عليه في الحديث كل ما له رائحة كريهة مأكولاً أو غيره. (فتاوى الشامي: ١/ ٦٦١، احكام المساجد، سعيد).

او د چلم څکولو عادت مکروه دئ ځکه چې په دې کې لاندني تاوانونه سته:

(١) د سږې او د بدن د نورو اعضاؤ له پاره ضرر رسوي.

(٢) د انسان په حواسو کې کمزوري راځي.

(٣) په خوله کې یې بد بويې پیدا کیږي.

(٤) د اهل دوزخ سره مشابهت راځي ځکه چې په دې کې د پزې او خولې څخه دود وځي.

(٥) د چلم عادي سړي دغه بد نه ګڼي په دې سره د بد کاري نفرت په زړه کې ختمیږي.

(٦) د چلم عادي د هري ګندګي هم عادي کیږي بیا د هغه په ژوند کې صفائي نه وي، حال دا چې صفائي اسلامي شعار دي.

(٧) عموماً په دې کې مبتلا خلک د فرائضو خیال نه کوي کم تر کم په دنیوي واجباتو کې خامخا سستي کوي.

(٨) په دې کي د مال ضائع راځي. (ماخوذ از امداد الفتاوی: ۴/ ٩٧، ٩٨، وفتاوی محمودیه: ١٨ / ٣١٢، ٣٨٩، ٣٩٢، جامعه فاروقيه).

په فتاوي رحيميه کي راځي:

په کومه چلم کي چي ناپاکه شيان څکول کيږي هغه بالاتفاق حرامه دي په دې کي د هيڅ چا اختلاف نه سته.

د چلم څکولو نور نقصانونه:

د ورجينيه دپوهنتون د يو ښوونکی بيان دئ چي هر هغه خطره چي د سګريټ په څکولو کي سته هغه د چلم په څکولوکي هم سته، د برطانيه د حفظت صحت بيان دئ چي د چلم په ذريعه څکول سوي تمباکو تر سګريټ څو درجي تاواني دي.

☆ د چلم د څکولو يو څو تاوانونه په لاندي ډول دي:

په دې کي داسي زهرجني مادې وي چي د هغو شخه د خولې سرطان پيدا کيږي او همدا رنګه د سږي سرطان هم ورڅخه پيدا کيږي او د زړه د مرضونو زياته بيره ده.

☆ وري په کمزوري کيږي.

☆ په مردانه قوت کي کمزوري راولي.

☆ يو پايپ څو خلک استعمالوي د دې له امله د ټی بي (T.B. herpes) او داسي نورو مرضونو دخپريدلو بيره ده.

☆ د چلم څخه چي کوم دود راوزي په هغه کي ډيري زهرجني مادې موجودي دي مثلاً:

Lesenic lead cobalt

☆ د زيات استعمال په صورت کي دغه مرض هم (**Chronic obstructive pulomanary**) پيدا کېدلای سي.

د زيات تحقيق څخه وروسته معلومه سوه چي نن سبا داسي فليور (**flavour**) چي په هغه کي تمباکو وي او ورپکښې جوړيږي که چيري په هغه کي تمباکو نه وي او دا خبره رښتيا وي او هغه مستعمل شيان حلال وي او په هغه کي نقصان هم نه وي، نو د داسي فليور استعمال خلاف اولی کار دئ.

د فقهاؤ د عباراتو څخه يو څو عبارات وګورئ:

وفي فتاوى أبي الليث ذكر شمس الأئمة إذا كان يخاف على نفسه من أكل الطين بأن كان يورث علةً لا يباح له أكل الطين وكذا أكل شيءٍ أكله يورث ذلك. (البحر الرائق:٨/ ٢١٠،ط: كوئته).

وفى الدر المختار: التتن الذى حدث وكان حدوثه بدمشق فى سنة خمسة عشر بعد الألف...

وفي رد المحتار: قوله والتتن، أقول: قد اضطربت آراء العلماء فيه فبعضهم قال بكراهته، وبعضهم قال بحرمته، وبعضهم بإباحته، وأفردوه بالتأليف وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي:

ويمنع من بيع الدخان وشربه ☆ وشاربه في الصوم لا شك يفطر

قلت: وألف في حله أيضاً سيدنا العارف عبد الغنى النابلسى رسالة سماها الصلح بين الأخوان في إباحة شرب الدخان... الخ. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٤٥٩، سعيد).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (الموسوعة الفقهية الكويتية:١٠/ ١٠١، ١٠٧، وزارة الاوقاف، الكويت، وحكم الدين فى عادة التدخين، للشيخ طارق الطوارى، الاستاذ بكلية الشريعه، جامعة الكويت، ورساله تمباكو اور اسلام، از مولانا حفظ الرحمن اعظمى ندوى، ط: بيت العلم ترست). والله ﷻ اعلم.

د الكحول شرعي حكم

سوال: د الكحول څه حکم دئ؟ د هغه استعمالول او همدا رنګه د هغه رانيول او خرڅول آيا روا دي او که نه؟ نن سبا په دې کي ابتلائي عامه ده، نو له همدي امله تفصيلي جواب راکړئ؟

الجواب: کوم الکحول چي د انګورو يا د خرما د شرابو څخه جوړ سوي وي هغه بالاتفاق ناپاکه دي، د هغو استعمال او د هغو رانيول او خرڅول ناروا دي.

او هغه الکحول کوم چي له دغو شيانو څخه پرته د يو بل شی څخه جوړ سوي وي لکه اوربشي يا عسلو او داسي نورو څخه، نو په دې کي د فقهاؤ اختلاف دئ د شيخينو په آند ددې دومره مقدار چي نشه نه په راځي چي هغه د يو ښه مقصد له پاره استعمال کړل سي حلال دي که چيري د لهو او لعب له پاره نه وو او د امام محمد رحمه الله په آند د لږ مقدار هم ناروا دي په عامو حالاتو کي فتوی د امام محمد رحمه الله پر قول ده مګر په اسپرټ کي د عموم بلوی له امله د شيخينو د قول مطابق اجازه سته.

همدا رنګه په هغو صورتو کي چي په کومو کي د الکحول او اسپرټ د استعمال اجازه سته په هغو صورتو کي د هغو بيع او شراء اجازه هم سته.

وګورئ د هدايې مصنف رحمه الله فرمايي:

فی الهداية: وقال في الجامع الصغير: وما سوى ذلك من الأشربة فلا بأس به قالوا: هذ الجواب على هذا العموم والبيان لا يوجد في غيره وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله ولا يحد شاربه عنده وإن أسكر منه... وعن محمد رحمه الله أنه حرام...وكان أبو يوسف رحمه الله يقول:... ثم رجع إلى قول أبي حنيفة وقولهه الأول مثل قول محمد رحمه الله... قال: ونبيذ العسل والتين ونبيذ الحنطة والذرة والشعير حلال وإن لم يطبخ وهذا عند أبي حنيفة وأبي يوسف إذا كان من غير لهو وطرب. (الهداية:۴/ ۴۹۶، كتاب الاشربة،ط: شركة علمية، ملتان).

په تکمله فتح الملهم کي راځي:

وبيع الأشربة المحرمة أو المسكرة منعقد عندهم مع الكراهة. والظاهر أن هذه الكراهة إنما تثبت إذا تعاطاه الرجل لغرض غير مشروع، وأما إذا تعاطاه لغرض مشروع، كالدواء، والضماد وغيره فيما يجوز استعماله فيه، فالظاهر أن لاكراهة أيضاً. وإنما نبهت على هذا لأن «الكحول» المسكرة (Alcohols) اليوم صارت تستعمل في معظم الأدوية ولأغراض كيمياوية أخرى، ولا تستغني عنها كثير من الصناعات الحديثة، وقد عمت بها البلوى، واشتدت إليها الحاجة، والحكم فيها على قول أبي حنيفة سهل، لأنها إن لم تكن مصنوعة من النيء من ماء العنب، فلا يحرم بيعها عنده، والذي ظهر لي أن معظم هذه الكحول لا تصنع من العنب، بل تصنع من غيرها، وراجعت له دائرة المعارف البريطانية المطبوعة: ١٩٥٠م (١/ ٥۴۴) فوجدت فيها جدولاً للمواد التي تصنع منها هذه الكحول، فذكر في جملتها

العسل، والدبس، والحب، والشعير، والجودار، وعصير أناناس (التفاح الصوبرى)، والسلفات، والكبريتات، ولم يذكر فيه العنب والتمر.

فألحاصل أن هذه «الكحول» لو لم تكن مصنوعة من العنب والتمر، فبيعها للأغراض الكيمياوية جائز باتفاق بين أبي حنيفة وصاحبيه، وإن كانت مصنوعة من التمر أو من المطبوخ من عصير العنب، فكذلك عند أبي حنيفة، خلافاً لصاحبيه، ولو كانت مصنوعة من العنب النيء فبيعها حرام عندهم جميعاً، والظاهر أن معظم «الكحول» لاتصنع من عنب ولاتمر، فينبغى أن يجوز بيعها لأغراض مشروعة في قول علماء الحنفية جميعاً. (تكملة فتح الملهم:١/ ٥٥١، حكم الكحول المسكرة).

علامه محمد بن بخيت المطيعي مفتي الديار مصريه (١٢٧١ - ١٣٥٤ هـ) فرمايي:

وما كان مستحضراً من الثمار والحبوب والأخشاب فهو طاهر، وهذا الصنف هو الرائج والغالب استعماله في المتجر على ما بلغنا ممن بحثوا عنه.

بقي ما لو أضافوا السبيرتو على الأدوية، وعلى الروائح العطرية كالكونيا، لإصلاحها فهل يعفى عنه؟ فنقول: أما السبيرتو المأخوذ من الأشياء الطاهرة كالحبوب والأخشاب، فالأدوية والروائح العطرية المخلوطة به طاهرة. (الفتاوى للامام العلامة محمد بن بخيت المطيعى مفتى الديار المصرية، ص ١٩، ط: دار الصديق للعلوم).

په امدادالفتاوي کي راځي:

اسپرټ که چيري د انګورو، کشمشو او خرما څخه نه وو حاصل سوي، نو په دې کي اجازه سته اختلافاً او که داسي نه وي، نو بيا اتفاقاً اجازه نه سته. (امداد الفتاوی: ١/ ١٣٧، و٤/ ٤٠٩).

حضرت مفتي نظام الدين صاحب وايي:

الکحول په اصل کي د شرابو جوهر ته وايي او په دواؤ کي په عامو حالاتو کي اسپرټ استعماليږي او دا ضروري نه ده چي هغه به خامخا د شرابو د هغو څلورو ډولونو څخه وي کوم چي

نجس العین دي بلکه د ګوړي او داسي نورو شیانو څخه هم جوړېږي، نو له همدې امله تر څو چې په صحیحه توګه سره معلومه سوي نه وي تر هغه وخته پوري هغو د نجس نه سو ویلای او د هغه استعمال او د هغو دواؤ استعمال په کومو کي چي د اسپرټ استعمال سوي وې هغو ته هم حرام نه سو ویلای. (منتخبات نظام الفتاوی،ص: ۳۶۱).

د نظام الفتاوي د عبارت خلاصه دا ده چي که چیري د اشربه اربعه محرمه څخه پرته د بل شی څخه جوړ سوي وې، نو په هغه کي اجازه سته.

په کتاب الفتاوي کي راځي:

کوم الکحول چي د انګور څخه پرته د یو بل شی څخه حاصل سي، نو د هغو استعمال د نشې په توګه حرام دي او د دوا په توګه د هغو استعمال په درجه اولی سره روا دئ. (کتاب الفتاوی: ۶/ ۲۰۷).

په انعام الباري کي راځي:

د الکحول په اړه فتوی دا ده چي هغه نجس نه دي او د هغو رانیول او خرڅول روا دي، نو ځکه د هغو استعمال هم ممکن دئ لکه څنګه چي په دوا او داسي نورو شیانو کي استعمالیږي او په عطرو کي هم اچول کیږي، نو په دې خاطر د دې رانیول او خرڅول روا دي. (انعام الباری: ۶/ ۲۱۲).

د زیات تفصیل له پاره دغه کتابونه وګورئ: (جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۹۶، ۹۸، وکتاب الفتاوی: ۶/ / ۲۰۶، ۲۰۷، وتکملة فتح الملهم: ۳/ ۵۹۹- ۶۰۸، باب تحریم الخمر، واسلام اور جدید معاشی مسائل: ۴/ ۱۱). والله ﷻ اعلم.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

قال اللہ تعالٰی

﴿هل أتاك حديث ضيف إبراهيم المكرمين (٢٤) إذ دخلوا عليه فقالوا سلامًا قال سلام قوم منكرون (٢٥) فراغ إلى أهله فجاء بعجلٍ سمينٍ (٢٦) فقربه إليهم قال ألا تأكلون﴾ (سورة الذاريات).

عن ابن عمر رضي الله عنه قال: تعلم عمر بن الخطاب رضي الله عنه البقرة فی اثنتی عشرة سنة، فلما ختمها نحر جزورا. (شعب الإيمان).

باب دوہم

احکام الضیافۃ

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لما قدم المدينة نحر جزورا او بقرة. (بخاری شریف).

دوهم باب

د مېلمستيا د آدابو او احكامو بيان

د قرآن كريم د ختم په وخت كي د راغوښتلو حكم

سوال: د قرآن كريم د ختم په وخت كي د راغوښتلو څه حكم دئ؟ او د اجتماعي دعاء څه حكم دئ؟

الجواب: د قرآن كريم د ختم پر وخت راغوښتل او اجتماعي دعاء كول دواړه په حديث سره ثابت دي.

اميرالمؤمنين حضرت عمر ﷺ چي كله سورت بقره ختم كړه، نو اوښ يې حلال كړي او مېلمستيا يې وكړه.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

(١) أخرج الإمام البيهقي في شعب الإيمان (١٨٠٥) بسنده عن ابن عمر رضي الله عنه قال: تعلم عمر بن الخطاب رضي الله عنه البقرة في اثنتى عشرة سنة، فلما ختمها نحر جزوراً.

٢- علامه ابن طولون په ((فص الخواتم فى ما قيل فى الولائم)) كي د قرآن د حفظ پر وخت د دعوت كولو او د خلكو د جمع كولو په اړه يو فصل قائم كړى دئ او په هغه كي يې څو روايتونه را نقل كړي دي.

په فص الخواتم كي وګورئ:

« الاحتفال بحذاق الصبيان»: وروى الدوري في جزئه عن أبي بكر الهذلي قال: سألت الحسن يعني البصري وعكرمة عن الصبي نبتت أسنانه فينثر عليه الجوز، فقالا: حلال.

وعن يونس بن عبيد قال: طرق أبن لعبد الله بن الحسن فقال عبد الله: إن فلاناً قد حذق والمعلم يطلب، قال: فماذا يريد؟ أعطه درهماً. قال سبحان الله! قال: فأعطه درهمين. قال:

إنه لا يرضٰى! فقال الحسن ﷺ: كانوا إذا حذق الغلام قبل اليوم نحروا جزوراً، واتخذوا طعاماً. (فص الخواتم فيما قيل فى الولائم،ص: ٩).

حذاق/ حذاقة هي الإطعام عند ختم القرآن. ويقال لليوم الذى يختم فيه القرآن هذا يوم حذاقة. وكذا إذا تعلم الآداب، وكذا إذا نبتت أسنان الصغير، ونحو ذلك.

د قرآن كريم د ختم دعوت ته حذاق وايي، او ځيني وايي، چي كله كوچني خبري شروع كړي، نو دغه دعوت ته حذاق يا حذاقه وايي.

په شرح معاني الاثاركي رائحي:

عن عبد الله بن يسارٍ: أنه كان لابن مسعودٍ ﷺ صبيان في الكتاب فأراد أن ينتهبوا عليهم فاشترى لهم جوزًا بدرهمين وكره أن ينتهبوا مع الصبيان. فقد يجوز أن يكون ذلك على الخوف منه عليهم من النهبة ، لا لغير ذلك. (شرح معانى الآثار للامام الطحاوى، رقم: ٤١١٢).

عن خالد بن سعيد: أن غلاماً من الكتاب حذق فأمر أبو مسعود ﷺ فاشترى لصبيانه بدرهم جوزاً وكره النهب. (السنن الكبرى للامام البيهقى، رقم: ١٥٠٧٢، باب ماجاء فى النثار فى الفرح).

د طحاوي شريف او بيهقي سنن كبري د دواړو د روايت خلاصه دا ده چي حضرت ابو مسعود ﷺ سره د عقبه بن عامر بدري ﷺ په مدرسه كي ځيني كوچنيانو قرآن ياد كړي وو، نو حضرت ابو مسعود ﷺ د هغوى له پاره يو څه جوز رانيول او تقسيم يې كړل، نو له دې څخه معلومه سوه چي د قرآن كريم د ختم په وخت كي يو څه دعوت كول روا دي.

د ډوډۍ د دعوت مختلف ډولونه:

قال الكرماني: قالوا: والضيافة ثمانية أنواع: ــ الوليمة للعرس والخرس للولادة والعذار للختان والو كيرة للبناء والنقيعة لقدوم المسافر من النقع وهو الغبار والوضيمة للمصيبة

والعقيقة لتسمية الولد يوم السابع والمأدبة للطعام المتخذ للضيافة بلا سبب وكلها مستحبة إلا الو ليمة فإنها تجب عند قوم. (حاشية البخاري باختصار: ٢/ ٧٧٦).

د ډوډئ ورکولو ډېر ډولونه دي، وګورئ په مجله المآثر کي راځي:

زموږ علماؤ، فقهاؤ او شراح د دعوت او مېلمستيا پر موضوع د خبرو په وخت کي په اهتمام سره دغه خبره ذکر کړه چي د پخوا زمانې څخه د دعوتو سلسله را روانه ده حتی چي په عربي کي د هر دعوت او مناسبت له پاره جلا عنوان دئ که څه هم په تعداد کي يو څه اختلاف دي.

د احنافو د فقهاؤ څخه امام طحاوي رحمه الله او امام شامي رحمه الله او داسي نورو يوولس دعوتونه را نقل کړي دي او د دې تر څنګ قاضي عياض رحمه الله او امام نووي رحمه الله د اتو ذکر کړی دئ او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايلي دي چي له هغو څخه ځيني ډولونه پاته سوي دي.

د دعوت يو څو ډولونه يې په دغه جمله کي جمع کړي دي:

أنعموا امخاً (ښه انسان ته ډوډئ ورکړي د هغه سره احسان وکړئ).

إعذار (د سنتي دعوت) هغه ته عذيره وايي، د کوچنيانو د سنتي دعوت په اعلاءالسنن کي حضرت مولانا ظفر احمد رحمه الله مستحب بللی دئ.

او په مصنف بن ابی شيبه کي روايت دئ:

عن نافعٍ قال: كان ابن عمر يطعم على ختان الصبيان. (رقم: ١٧٤٥١).

او کومو حضراتو چي منع کړې ده د هغوی قول حافظ ابن حجر رحمه الله د کوچنيانو د سنتي پر دعوت حمل کړی دئ.

حاصل دا دئ چي د کوچنيانو د سنتي دعوت په خپل ځان کي مستحب او د سلف الصالحينو څخه ثابت دئ مګر د هغه پابندي کول ښه کار نه دئ. (اعلاء السنن: ١٧/١١، ومجله المآثر، ص: ٥٠- ٥٥).

ن: نقيعه: د سفر څخه د راتلو په وخت کي دعوت دغه لفظ د ((نقع)) څخه مشتق دئ چي د غبار معنی ورکوي.

ع: عقيقه: د کوچني د پيدائښت د اومي د ورځي دعوت.

ع: عتيرة: د رجب د اولو ورځو ذبحيه او دعوت، کوم چي تر اسلام د مخه د غير الله له پاره ذبحه کېدل او په اسلام کي د الله ﷻ پر نامه ذبحه کېدل او بيا وروسته منسوخ سو.

م: مائده/ مأدبة: د دوستانو او ملګرو له پاره خاص دعوت چي د هغه يو خاص سبب نه وي او يا دا چي داسي دعوت وي چي دعوت نور اسباب پکښي نه وي.

و: وليمه: د نکاح وروسته چي کوم دعوت دئ هغه ته وليمه ويل کيږي دغه دعوت سنت دئ.

و: وکيره، د نوي ځای د جوړولو دعوت.

و: وضيمه: د همسايه ګانو او داسي نورو د طرفه د يو مصيبت په وخت کي دعوت ته ويل کيږي.

م: الملاک: د نکاح د تړلو په وخت کي دعوت.

خ: الخرس: د کوچني د پيدا کېدو دعوت.

د دعوت د ډولونو مختصر وضاحت:

☆ د نقيعه د تعين په اړه دوه قوله دي: يصنعها القادم من السفر أو تصنع له.

يعني هغه دوډئ سړي يې د سفر څخه د راتلو په وخت کي تياره کړي او يا يې خلک د ده له پاره تياره کړي.

ځيني خلک وايي، چي کومه دوډئ چي تياره کړي هغې ته نقيعه وايي او کومه دوډئ چي خلک ده ته تياره کړي هغې ته تحفه وايي.

د سفر څخه د راتلو پر متعلق د دعوت د بخاري شريف روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د يوه سفر څخه د راتلو په وخت کي غوائې يا اوښ حلال کړي.

په بخاري شريف کي يې وګورئ:

باب الطعام عند القدوم. وكان ابن عمر رضي الله عنه يفطر لمن يغشاه، قال: حدثني محمد، أخبرنا وكيع، عن شعبة عن محارب بن دثارٍ عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ لما قدم المدينة نحر جزورًا، أو بقرةً. (بخاری شریف: ۱/ ۴۳۴، رقم: ۳۰۸۹).

☆ عتيره اوس منسوخه ده. وګورئ د صحيحينو په روايت کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لا فرع، ولا عتيرة ... والعتيرة في رجب.

(بخاري:٢/ ٨٢٢، باب العتيرة. مسلم:٢/ ١٥٩، باب الفرع والعتيرة).

☆ په مآدبة کي علماؤ دغه تفصيل بيان کړی دئ:

نقري: إن كانت لقوم مخصوصين. وجفلى: إن كانت عامة.

طرفه بن عبد د خپل قوم په تعريف کي فرمايي:

نحن في المشتاة ندعو الجفلى ☆ لا ترى الآدب فينا ينتقر

يعني كله چي زموږ د قوم يو څوک دعوت کوي د ژمي په موسم کي، نو ټولو ته دعوت ورکوي دعوت کونکی هيڅکله هم خاص دعوت نه کوي.

مأدبة: خپل ملګري بلله يو سبب ميلمانه کول دا مستحب دي او په ډېرو رواياتو او واقعاتو کي د دې ثبوت سته، دمثال په توګه (مشت نمونه از خروار) يو څو روايتونه وګوري:

(١) په بخاري شريف کي د حضرت جابر رضي الله عنه روايت دئ:

جاءت ملائكة إلى النبي صلى الله عليه وسلم وهو نائم، فقال بعضهم: إنه نائم، وقال بعضهم: إن العين نائمة والقلب يقظان، فقالوا: إن لصاحبكم هذا مثلاً فاضربوا له مثلاً... فقالوا: مثله كمثل رجلٍ بنى دارًا وجعل فيها مأدبةً وبعث داعيًا، فمن أجاب الداعي دخل الدار وأكل من المأدبة، ومن لم يجب الداعي لم يدخل الدار ولم يأكل من المأدبة. (رواه البخاري:٢/ ١٠٨١، الاقتداء بسنن رسول الله صلى الله عليه وسلم).

په دې حديث کي د خلکو د عام دعوت ته د را غوښتلو ذکر دئ چي د هغه څه ښکاره سبب نه وي.

(٢) د مسلم شريف روايت دئ:

قال (عبد الله بن رباحٍ): وفدت وفود إلى معاوية رضي الله عنه، وذلك في رمضان، فكان يصنع بعضنا لبعضِ الطعام، فكان أبو هريرة رضي الله عنه مما يكثر أن يدعونا إلى رحله. فقلت: ألا أصنع طعامًا

فأدعوهم إلى رحلي، فأمرت بطعامٍ يصنع، ثم لقيت أبا هريرة من العشى فقلت: الدعوة عندي الليلة، فقال: سبقتني؟ قلت: نعم. فدعوتهم، فقال أبو هريرة رضي الله عنه: ألا أعلمكم بحديثٍ من حديثكم يا معشر الأنصار، ثم ذكر فتح مكة. (رواه مسلم:٢/ ١٠٢، باب فتح مكة).

له دې حديث شريف څخه معلومه سوه چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه به ډېر زيات د خپلو ملګرو دعوت کوي او يوه ورځ عبدالله بن رباح رضي الله عنه د خپلو ملګرو دعوت وکړي او ابو هريره رضي الله عنه هم په دغه دعوت کې شرکت وکړي او هغوی ته يې د مکې د فتحې قصه وکړه.

(٣) د صحيحينو په روايت کې راغلي دي چې حضرت ابو شعيب رضي الله عنه نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه سره نورو ملګرو ته مېلمستيا وکړه:

عن أبي مسعودٍ الأنصاري رضي الله عنه قال كان من الأنصار رجل يقال له: أبو شعيبٍ، وكان له غلام لحام فقال: اصنع لي طعامًا أدعو رسول الله صلی الله علیه وسلم خامس خمسةٍ، فدعا رسول الله صلی الله علیه وسلم خامس خمسةٍ فتبعهم رجل... الحديث. (رواه البخاري:٢/ ٨١٧، الرجل يتكلف الطعام لإخوانه، ومسلم:٢/ ١٧٦، ما يفعل الضيف إذا تبعه غير من دعاه صاحب الطعام).

(۴) د مسلم شريف روايت دئ چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم يو همسايه نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته مېلمستيا وکړه، خو نبي کريم صلی الله علیه وسلم دا شرط ولګوئ چې زما سره به حضرت عائشه رضي الله عنها ته هم دعوت ورکوئ هغه د دوه واره انکار وروسته حضرت عائشې رضي الله عنها ته هم دعوت ورکړئ. هغه حديث دا دئ:

عن أنسٍ رضي الله عنه أن جارًا لرسول الله صلی الله علیه وسلم فارسيا كان طيب المرق، فصنع لرسول الله صلی الله علیه وسلم ثم جاء يدعوه، فقال: وهذه؟ لعائشة، فقال: لا، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا، فعاد يدعوه ...قال: نعم، في الثالثة. (رواه مسلم:٢/ ١٧٦).

(۵) په ډېرو رواياتو کې دغه مضمون ډېر راغلی دئ چې کله تاسو ته ستاسي ورور دعوت درکړي، نو هغه قبول کړئ ځکه چې دا ديو فائدې څخه خالي نه دئ، همدا رنګه دا وارد سوي دي چې که څه هم روژ دار وي، نو دعوت دي قبول کړي، له دې حديث څخه د دلالت النص په توګه دومره ضرور معلوميږي چې په هغه زمانه کې ملګرو ته دعوت ورکولو رواج ؤ.

همدا رنګه صحابهؤ کرامو ته دعوت ورکول او هغه قبلول په ډېرو ځایو کي ذکر سوي دي:

(۶) عن أبي وائلٍ ، قال : ما شهد عبد الله مجمعًا ، ولا مأدبةً فيقوم حتى يحمد الله ويصلي على النبي ﷺ. (مصنف ابن أبي شيبة:١٥/ ٣٨٠/ ٣٠٤٢٩، من كان يصلي على النبي ﷺ ويحمد الله قبل أن يقوم من مجلسه).

امام بخاري رحمه الله په الادب المفرد کي د مآدبة متعلق باب قائم کړی دئ.

☆ د اهل میت له پاره ډوډئ ورلېږل د همسایه ګانو او خپلوانو له پاره مستحب ده.

په ترمذي شریف کي راځي:

عن عبد الله بن جعفر رضي الله عنه قال: لما جاء نعي جعفر رضي الله عنه قال النبي ﷺ: إصنعوا لأهل جعفر طعاماً، فإنه قد جاءهم ما يشغلهم. (رواه الترمذى:١/ ١٩٥، ماجاء فى الطعام يصنع لأهل الميت).

په ابن ماجه کي راځي:

قال: لما أصيب جعفر رضي الله عنه، رجع رسول الله ﷺ إلى أهله، فقال: إن آل جعفرٍ قد شغلوا بشأن ميتهم ، فاصنعوا لهم طعامًا. قال عبد الله (أحد الرواة): فما زالت سنة حتى كان حديثا فترك. (سنن ابن ماجه:١١٥، فى الطعام يبعث إلى أهب الميت).

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في الفتح: ويستحب لجيران أهل الميت والأقرباء الأباعد تهيئة طعام لهم، يشبعهم يومهم وليلتهم لقوله صلى الله عليه وسلم: «اصنعوا لآل جعفر طعاماً...حسنه الترمذي وصححه الحاكم. (رد المحتار:٢/ ٢٤٠، سعيد).

همدا رنګه د مړي کوروالا د خپل اهل او عیال او د هغو خلکو له پاره چي جنازې ته حاضر سوي دي د هغو له پاره ډوډئ پخولای سي په دې شرط چي د ډوډئ عام دعوت نه وي او داسي درمیانه ډوډئ به وي او په دې کي به دیو ورځي تخصیص نه وي، د دې له پاره مدلل او مفصل فتوی په دار العلوم زکریا په مخکني جلدونه کي وګورئ.

☆ د ((ملاک)) یو بل نوم ځیني خلکو ((شندخیة)) ذکر کړی دئ.

د نکاح په وخت کي چي د انجلۍ د کورنی له خوا ډوډئ کیږي هغه روا ده، مګر هغه باید عادت جوړ نه سي، همدا رنګه هغو خلکو ته ډوډئ تیاره سي کوم چي د واده د شرکت له پاره راغلي دي، نو دا هیڅ پروا نه لري.

د تفصیل له پاره فتاوی دار العلوم زکریا وګورئ: (جلددریم).

د پورتنیو ډولونو څخه پرته دلاندي ډولونو هم ذکر راغلي دي:

(۱) قري: ما يصنع للضيف:

(۲) السلفة واللهنة: دا هغه مختصره ډوډئ ده چي د غرمی تر ډوډئ د مخه وخوړل سي او تر اصل ډوډئ مخکي کومه لږ ډوډئ تیاره سي هغې ته وایي.

د ډوډئ دغه ډولونه ځیني علماؤ په اشعارو کي جمع کړي دي. وګورئ: (ردالمحتار: ۶/ ۱۶، نقلا عن حاشية الطحطاوی على الدر المختار: ۴/ ۱۰).

همدا رنګه د ((فص الخواتم فيما قيل في الولائم)) په آخر کي د مختلفو علماؤ (۸) منظومي ذکر کړي دي کومي چي د ډوډئ پر دغو ډولونو مشتملي دي، د هغو ټولو څخه اوله په لاندي ډول دي:

إن الولائم عشرة مع واحدٍ ☆ من عدها قد عز في أقرانه

فالخرس إن نفست، كذاك عقيقة ☆ للطفل، والأعذار عند ختانه

و لحفظ قرآنٍ وآدابٍ لقد ☆ فال الحذاق، لحذقه وبيانه

ثم الملاك لعقده، و وليمة ☆ في عرسه، فاحرص على إعلانه

و كذاك مأدبة بلا سببٍ يرى ☆ و وكيرة لبنائه لمكانه

و نقيعة لقدومه، و وضيمة ☆ من أقرباء الميت أو جيرانه

و لأول الشهر الأصم عتيرة ☆ جاءت هديت كذا لرفعة شانه

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (شرح النووي على مسلم: ۱/ ۴۵۸، باب صداق المرأة، وفتح الباري: ۹/ ۲۴۱- ۲۴۲، وعمدة القاري: ۱۴/ ۱۱۱، ورد المحتار: ۶/ ۱۶، والموسوعة الفقهية الكويتية،

مادة: دعوة، وفقه اللغة للثعالبي،ص: ٢٨٧، الباب الرابع والعشرون،ط: بيروت، والتعريفات الفقهية،ص: ٢٤٠،ط: بيروت، ورد المحتار:۶/ ١۶، سعيد، والتمهيد لابن عبد البر:١٠/ ١٨٢، ومجلة المآثر للشيخ المحدث حبيب الرحمن الاعظمى،ص: ۴٨- ٥١). والله ﷻ اعلم.

د قرآن کريم د ختم په وخت کي د اجتماعي دعاء ثبوت:

حضرت انس ﷺ چي به کله قرآن کريم ختم کړي، نو د خپل کور والا به يې سره را جمع کړل او اجتماعي دعاء به يې کول.

په المعجم الكبير کي راځي:

عن ثابت، أن أنس بن مالك ﷺ كان إذا ختم القرآن جمع أهله وولده فدعا لهم. (المعجيم الكبير للطبرانى، رقم: ۶٧۴).

قال الهيثمي: رواه الطبراني ورجاله ثقات. (مجمع الزوائد، باب الدعاء عند ختم القرآن).

عن إبراهيم التيمي، قال: قال عبد الله بن مسعود ﷺ: من ختم القرآن فله دعوة مستجابة، قال: فكان عبد الله إذا ختم القرآن جمع أهله ثم دعا وأمنوا على دعائه. (اخرجه القاسم بن سلام فى فضائل القرآن، رقم: ٨٧، باب فضل ختم القرآن).

وعن أبي قلابة، قال: قال رسول الله ﷺ: من شهد خاتمة القرآن كان كمن شهد الغنائم حين تقسم، ومن شهد فاتحة القرآن كان كمن شهد فتحاً في سبيل الله، قال: وقال المرى، عن قتادة: كان بالمدينة رجل يقرأ القرآن من أوله إلى آخره على أصحاب له، فكان ابن عباس ﷺ يضع عليه الرقباء، فإذا كان عند الختم جاء ابن عباس ﷺ فشهده. (اخرجه ايضاً القاسم بن سلام فى فضائل القرآن،رقم: ٨۶).

وعن مجاهد قال: كانوا يجتمعون عند ختم القرآن ويقول: الرحمة تنزل. (قيام رمضان لمحمد بن نصر المروزى،ص: ٨٩).

عن الحكم عن مجاهد قال: بعث إلي قال: إنما دعوناک إنا أردنا أن نختم القرآن وأنه بلغنا أن الدعاء يستجاب عند ختم القرآن قال: فدعوا بدعوات. (رواه الدار قطنی، رقم: ۳۴۸۲، قال حسين سليم اسد: اسناده صحيح، والبيهقی فی شعب الايمان، رقم: ۱۹۰۹).

وعن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: له عند ختم القرآن دعوة مستجابة وشجرة فی الجنة. (اخرجه البيهقی فی شعب الايمان، رقم: ۱۹۲۰).

په کنز العمال کي يو روايت ذکر سوی دئ:

ومن «مسند أنس بن مالک رضي الله عنه» عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: كان النبي ﷺ إذا ختم جمع أهله ودعا»، ابن النجار. (کنز العمال: ۲/ ۳۴۹/ ۴۲۱۹).

په عالمګيري کي راځي:

ويستحب له أن يجمع أهله وولده عند الختم ويدعو لهم، كذا فی الينابيع. (الفتاوی الهندية: ۵/ ۳۱۷).

امام قرطبي رحمه الله فرمايي: قلت: ويستحب له إذا ختم القرآن أن يجمع أهله. (الجامع لاحكام القرآن: ۱/ ۲۵، مقدمة). والله تعالی اعلم.

پر نوی ځای د خوشحالي د دعوت حکم

سوال: که يو څوک د نوی ځای د خوشحالي په مناسبت دعوت کول غواړي، نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د نوی ځای د خوشحالي په مناسبت د دعوت کولو ثبوت له ځيني رواياتو معلوميږي او دا بايد سنت ونه بلل سي:

أخرج الطبراني فی الأوسط (۳۹۴۸) بسنده عن مجاهد عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: الوليمة حق وسنة فمن دعيَ فلم يجب فقد عصى الله ورسوله والخرس والإعذار والتوكير أنت فيه بالخيار قال: قلت: إني والله لا أدري ما الخرس والإعذار والتوكير ؟ قال: الخرس: الولادة،

والإعذار: الختان، والتوكير: الرجل يبني الدار وينزل في القوم فيجعل الطعام فيدعوهم فهم بالخيار إن شاؤوا جاؤوا وإن شاؤوا قعدوا، لم يرو هذا الحديث عن إسماعيل بن أمية إلا يحيى بن عثمان التيمي تفرد به الصلت بن مسعود.

قال الهيثمي: يحيى بن عثمان التيمي وثقه أبو حاتم الرازي وابن حبان وضعفه البخاري وغيره وبقية رجاله رجال الصحيح. (مجمع الزوائد: ۴/ ۵۲، دار الفكر).

قال الإمام الطحاوي: وكانت الوليمة صنفًا من الأطعمة ؛ لأن في الأطعمة أصنافًا سواها نحن ذاكروها في هذا الباب إن شاء الله . وهو ما سمعت أحمد بن أبي عمران يقول: كانت العرب تسمي الطعام الذي يطعمه الرجل إذا ولد له مولود: طعام الخرس، وتسمي طعام الختان طعام الإعذار، يقولون: قد أعذر على ولده، وإذا بنى الرجل دارًا أو اشتراها فأطعم قيل: طعام الوكيرة، أي من الوكر، وإذا قدم من سفرٍ فأطعم قيل: طعام النقيعة ...(مشكل الآثار: ۷/ ۳۷/ ۲۵۵۸).

علامه سخاوی په المقاصد الحسنه کي تريو حديث لاندي فرمايي:

حديث: «من سر فليولم » هو كلام صحيح، والولائم مشروعة عند التزوج ووكيرة الدار والقدوم من سفر وجملة مما نظم ونثر. (المقاصد الحسنة، رقم: ۱۱۳۱).

قال الكرماني: قالوا: والضيافة ثمانية أنواع:ــ الوليمة للعرس والخرس للولادة والعذار للختان والو كيرة للبناء.... (حاشية البخارى باختصار: ۲/ ۷۷۶).

علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله په اعلاء السنن کي د المغني څخه نقل کوي:

فحكم الدعوة للختان وسائر الدعوات غير الوليمة أنها مستحبة، لما فيها من إطعام الطعام والإجابة إليها مستحبة غير واجبة، وهذا قول مالك رحمه الله والشافعى رحمه الله وأبي حنيفة

رحمة الله عليه وأصحابه... قلت: وكل ذلک موافق لمذهبنا معشر الحنفية، وما كان خلافاً نبهت عليه كما ترى، والله أعلم. (اعلاء السنن: ۱۱/ ۱۷، تفصيل احكام الوليمة واقسامها، ادارة القرآن).

يعني د نکاح له دعوت څخه پرته نور د ټولو دعوتو حکم دا دئ چي مستحب دي او د هغو قبلول هم مستحب دي دغه د امام مالک رحمة الله عليه، شافعي رحمة الله عليه او ابو حنيفه رحمة الله عليه او د هغو د ملګرو قول دئ دا ټول زموږ د احنافو د مذهب موافق دي په کوم ځای کي چي کومه خبره د مذهب خلاف وه، هلته ما خبرداري ورکړی دئ.

د شافعي علماؤ څخه شيخ الاسلام زکريا الانصاري هغه په المطالب (۳/۲۲۴،ط: بيروت) کي او شيخ الاسلام محمد الخطيب الشربيني مغني المحتاج (۳/ ۲۴۵،ط: دار الفکر) کي د دعوت د ډولونه د ذکر کولو وروسته فرمايي، ((والکل مستحب)).

همدا رنګه د مسجد د افتتاح يا د نوي ځای يا د يو بل خوشحالي په وخت کي نيکانو ته دعوت ورکول او په هغو سره تبرک حاصلول په احاديثو سره ثابت دي.

وګورئ: په بخاري شريف کي راځي:

عن ابن شهابٍ قال: أخبرني محمود بن الربيع أنه عقل رسول الله صلى الله عليه وسلم وعقل مجةً مجها في وجهه من بئرٍ كانت في دارهم، فزعم محمود أنه سمع عتبان بن مالكٍ الأنصاري رضي الله عنه، وكان ممن شهد بدرًا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: كنت أصلي لقومي بني سالمٍ، وكان يحول بيني وبينهم وادٍ إذا جاءت الأمطار فيشق علي اجتيازه قبل مسجدهم فجئت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت له: إني أنكرت بصري...فوددت أنك تأتي فتصلي من بيتي مكانًا أتخذه مصلى، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سأفعل فغدا علي رسول الله صلى الله عليه وسلم، وأبو بكرٍ رضي الله عنه، بعد ما اشتد النهار... فصلى ركعتين ثم سلم فسلمنا حين سلم فحبسته على خزيرٍ يصنع له فسمع أهل الدار رسول الله صلى الله عليه وسلم في بيتي فثاب رجال منهم حتى كثر الرجال في البيت ... الخ. (رواه البخاری: ۱/ ۱۵۸، باب صلاة النوافل، ط: فيصل).

قال العلامة العيني: ذكر ما يسفاد منه وهو خمسة وخمسون فائدة... العشرون: التبرك بآثار الصالحين... الثلاثون: صنع الطعام للكبير عند اتيانه لهم وإن لم يعلم بذلك. (عمدة القاري:٥/ ٥٥٨، ط: ملتان). والله ﷻ اعلم.

د درس نظامي څخه د فراغت په وخت کي د دعوت حکم

سوال: په اکثره مدرسو کي د دوره حديث طالبان د کال په آخر کي دعوت کوي او دغه په رضاء او رغبت سره وي او هيڅوک دغه د شريعت برخه نه بولی، نوآيا په شرعه کي د دې اجازه سته او که نه؟

جواب: د خوشحالي په وخت کي دعوت کول په احاديثو سره ثابت دي او د درس نظامي څخه د فراغت وخت هم د خوشحالي ځای دئ، نو له همدې امله په سوال کي د شرائطو سره د دې اجازه سته او دغه دعوت قبلول مستحب دي، مګر هو د ريا، شهرت او اسراف څخه ځان ساتل په کار دي، همدا رنګه پر نه کونکو بايد بد ونه ويل سي او دې ته د رسم او رواج درجه ورکول ضروري نه ده.

په احاديثو کي يو څو مثالونه وګورئ:

أخرج مسلم (١٤٢٩) بسنده عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كان يقول عن النبي ﷺ: إذا دعا أحدكم أخاه فليجب عرساً كان أو غير نحوه.

والأمر بالإجابة محمول على الاستحباب. (اعلاء السنن:١١/ ١٧).

اميرالمؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه چي کله سورت بقره ختمه کړه، نو د هغه په خوشحالي کي يې اوبښ حلال کړي.

په حديث شريف کي يې وګورئ:

(١) أخرج الإمام البيهقي في شعب الإيمان (١٨٠٥) بسنده عن ابن عمر رضي الله عنه قال: تعلم عمر بن الخطاب رضي الله عنه البقرة في اثنتى عشرة سنة، فلما ختمها نحر جزوراً.

(٢) علامه ابن طولون په ((فص الخواتم فى ما قيل فى الولائم)) کي د قرآن کريم د حفظ د خوشحالي په وخت کي د دعوت کولو او د خلکو د را جمع کولو په متعلق يو فصل قائم کړی دئ او په هغه کي يې يو څو روايات را نقل کړي دي، د کومو چي ذکر مخکي تېر سو:

عن عبد الله بن رباحٍ قال: وفدت وفود إلى معاوية رضي الله عنه، وذلك في رمضان، فكان يصنع بعضنا لبعضٍ الطعام، فكان أبو هريرة رضي الله عنه مما يكثر أن يدعونا إلى رحله. فقلت: ألا أصنع طعامًا فأدعوهم إلى رحلي، فأمرت بطعامٍ يصنع، ثم لقيت أبا هريرة رضي الله عنه من العشي فقلت: الدعوة عندي الليلة، فقال: سبقتني؟ قلت: نعم. فدعوتهم، فقال أبو هريرة رضي الله عنه: ألا أعلمكم بحديثٍ من حديثكم يا معشر الأنصار، ثم ذكر فتح مكة. (رواه مسلم: ۲/ ۱۰۲، باب فتح مكة).

وعن أبي العالية، أن أبا موسى نحر جزوراً فأطعم أصحابه، ثم قاموا يصلون بغير طهور...
(مصنف ابن ابی شیبة: ۱/ ۴۶/ ۵۱۶).

له دې شخه پرته د احاديثو په ذخيره کي د ډوډۍ دعوت نور هم ډېر روايات موجود دي چي له هغو شخه معلوميږي چي صحابه ؤ نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته دعوت ورکړی دئ او هغه هم دعوت قبول کړی دئ همدا رنګه صحابه ؤ په خپل منځ کي ډېر دعوتونه کول په ماقبل کي د دعوت په ډولونو کي تر ((مآدبه)) لاندي يو شه روايات تېر سول هغه هم کتلای سي او په تکرار سره طوالت سبب ګرځي.

☆ شيخ محمد عابد سندهی انصاري فتح الباري په يوه جلد کي او صحاح سته يې په يوه جلد کي وليکي، نو د خوشحالي په اظهار کي يې علماؤ ته دعوت وکړئ. (الامام الفقيه المحدث الشيخ محمد عابد الانصار، ۱۳۵، ۲۲۵، بقلم الشيخ سائد بکداش).

☆ شيخ الاسلام ابن حجر رحمه الله چي کله فتح الباري مکمله کړه، نو لويو علماؤ ته يې دعوت وکړئ:

وقد أولم عند ختمه وليمة حضرها وجوه المسلمين، أنفق فيها (۵۰۰) دينار. (مقدمة بلوغ المرام، ص: ۶).

وفي «السلوك لمعرفة دول الملوك» للمقريزي (۳/ ۴۲۸): وفي يوم السبت ثامنه: جمع الحافظ قاضي القضاة شهاب الدين شيخ الإسلام أبو الفضل أحمد بن حجر رحمه الله، أعيان الدولة، وفيهم المقام الناصري محمد ولد السلطان وغيره من الأمراء، وكاتب السر، وناظر

الجيش، والوزير، والقضاة وشيوخ العلم في عامة طلبة العلم وغيرهم، فاجتمعوا بأعلا الخمس الوجوه من أرض التاج خارج القاهرة، وكان الوقت شتاء والأرض مخضرة بأنواع الزراعات، والخيول على مرابط ربيعها، وقدم لهم من أنواع الحلاوات وألوان الأطعمة الفاخرة ما يجل وصفه ويكثر مقداره، وقد أكمل تصنيف كتاب فتح الباري بشرح صحيح البخار في عشرين مجلدة، ثم قرىء من آخره مجلس خفيف، وقام بعده ختمه الشعراء... الخ.

په اعلاءالسنن كي حضرت مولانا ظفر احمد رحمه الله فرمايي، چي وليمه د مشهور قول پر مطابق سنت ده او د ځيني په آند واجب ده او له دې شخه پرته نوري ټول دعوتونه مستحب دي او د هغو قبلول هم مستحب دي، همدغه د امام مالک رحمه الله، شافعي رحمه الله او ابو حنيفه رحمه الله او د هغو د ملګرو قول دئ.

د حج د سفر شخه د راتلو د دعوت كولو حكم

سوال: كله چي حاجيان د حج شخه راسي؟ نو د هغه په راتلو سره خلک دعوت كوي، نو شرعًا د دې اجازه سته او كه نه؟

الجواب: په حديث كي راغلي دي چي نبي كريم ﷺ ديو جهاد د سفر شخه راغلي او اوښ او يا غوائې يې حلال كړي له دې روايت شخه معلومه سوه چي كله د حج شخه راسي، نو په دې وخت كي خپلو دوستانو او اقرباؤ ته دعوت وركول روا دي مګر د فخر او ريا شخه ځان ساتل په كار دي او همدا رنګه دغه كار رواج او رسم بلل بنه كار نه دئ.

په بخاري شريف كي وګورئ:

باب الطعام عند القدوم. وكان ابن عمر رضي الله عنه يفطر لمن يغشاه، قال: حدثني محمد ، أخبرنا وكيع، عن شعبة عن محارب بن دثارٍ عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما أن رسول الله ﷺ لما قدم المدينة نحر جزورًا ، أو بقرةً. (بخاری شريف: ۱/ ۴۳۴، رقم: ۳۰۸۹).

قال الكرماني: قالوا: والضيافة ثمانية أنواع: ـ الوليمة للعرس والخرس للولادة والعذار للختان والو كيرة للبناء والنقيعة لقدوم المسافر من النقع وهو الغبار والوضيمة للمصيبة

والعقيقة لتسمية الولد يوم السابع والمأدبة للطعام المتخذ للضيافة بلا سبب وكلها مستحبة إلا الوليمة فإنها تجب عند قوم. (حاشية البخاري باختصار: ۲/ ۷۷۶).

د نقيعة د تعين په اړه دوه قوله دي: ((يصنعها القادم من السفر أو تصنع له)) يعني كومه ډوډۍ چې مسافر تياره کړي او يا يې خلک ده ته تياره کړي او ځيني خلک وايې، چې كومه ډوډۍ چې مسافر تياره کړي هغې ته نقيعه وايې، او كومه ډوډۍ چې خلک تياره کړي هغې ته تحفه وايې. (فتح الباری: ۹/ ۲۴۱).

په فتاوي فريديه کې راځي:

كله چې ډوډۍ د فخر ريا او شهرت څخه خالي وي، نو په دې ذبحه کې هيڅ پروا نه سته بلکې دا سنت ده:

لأن النبي ﷺ ذبح حين قدم وكانت الصحابة يطعمون على زائرهم عند القدوم. (فتاوی فريديه: ۴/ ۲۷۰).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۰/ ۴۵۸، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

بېله سته په دعوت کې د شريکېدو حکم

سوال: که يو سړی بېله غوښتلو په دعوت کې شريک سي د دې څه حکم دئ؟

الجواب: بېله غوښتلو په دعوت کې شريکېدل ناروا دي، مګر که د نورو خلکو په منځ کې تکليف نه ؤ، نو بيا اجازه سته، همدا رنګه که د ډوډۍ تر خوړلو د مخه د کور د خاوند څخه اجازه وغواړي، نو بيا هم اجازه سته لکه څنګه چې يو صحابي د نبي کريم ﷺ سره په دعوت کې شريک سو، نو نبي کريم ﷺ د ميزبان څخه د هغه له پاره اجازه وغوښتل.

قال النبي ﷺ: يا أبا شعيب إن رجلاً تبعنا فإن شئت أذنت له وإن شئت تركته قال: لا بل أذنت له. (متفق عليه).

د ممانعت روايات وګورئ:

عن نافعٍ قال: قال عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ: من دعى فلم يجب فقد عصى الله ورسوله ومن دخل على غير دعوةٍ دخل سارقًا وخرج مغيرًا. (رواه ابو داود، رقم:٣٧٤٣، باب ماجاء فی اجابة الدعوة).

قال أبو داود أبان بن طارقٍ مجهول.

قال الإمام ابن الجوزی فی الضعفاء (١/ ١٧/ ١٠): أبان بن طارق: قال أبو زرعة: مجهول. وقال ابن عدي: له حديث واحد منكر لايعرف إلا به، وهو: «من دخل بغير دعوة...الخ». قال المحشي: والحديث ضعيف، والبلية فيه من درست بن زياد. (انظر: العراقی فی المغنی:٢/ ١٠ تذكرة الموضوعات للفتنی ٦٧، والفوائد المجموعة للشوكانی، ٨٦).

قال العراقي في تخريج الإحياء (١٣٢٧) حديث: من مشى إلى الطعام لم يدع إليه مشى فاسقاً وأكل حراماً. أخرجه البيهقی من حديث عائشة رضی الله تعالٰی عنها نحوه وضعفه. وللمزيد راجع: (الفوائد المجموعة للشوكانی، ص ٨٦، رقم: ٧٦، وتذكرة الموضوعات للعلامة الفتنی، ص: ٦٧).

خلاصه دا ده چي دواړه روايتونه ضعيف دي:

د حديث په شرح کي ملاعلي قاري رحمه الله فرمايي:

(دخل سارقا) لأنه دخل بغير إذنه فأثم كما يأثم السارق في دخول بيت غيره (خرج مغيراً) أی ناهباً غاصباً يعنی وإن أكل من تلك الضيافة فهو كالذی يغير أی يأخذ مال أحد غصباً والحاصل أنه صلى الله عليه وسلم علم أمته مكارم الأخلاق البهية ونهاهم عن شمائل الدنية فإن عدم إجابة الدعوة من غير حصول المعذرة يدل على تكبر النفس والرعونة وعدم الألفة والمودة والدخول من غير دعوة يشير إلى حرص النفس ودناءة الهمة وحصول المذلة

والمهانة فالخلق الحسن هو الاعتدال بين الخلقين المذسومين. (مرقاة المفاتيح:٦/ ٢٥٥، باب الوليمة).

علامه عيني رحمة الله عليه فرمايي:

قال القاضي عياض رحمة الله عليه: فيه تحريم طعام الطفيليين. وقال أصحاب الشافعي: لا يجوز التطفل إلا إذا كان بينه وبين صاحب الدار انبساط...الخ. (عمدة القاری:٨/ ٣٤٥، كتاب البيوع).

همدا رنګه ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي:

وأن من تطفل في الدعوة كان لصاحب الدعوة الاختيار في حرمانه فإن دخل بغير إذنه كان له إخراجه وأن من قصد التطفيل لـم يمنع ابتداء لأن الرجل تبع النبي ﷺ فلم يرده لاحتمال أن تطيب نفس صاحب الدعوة بالاذن له وينبغي أن يكون هذا الحديث أصلاً في جواز التطفيل لكن يقيد بمن أحتاج إليه ....

قال الكرماني: واستدل به على منع استتباع المدعو غيره إلا إذا علم من الداعی الرضا بذالک. وأن الطفيلی يأكل حراماً...لا يجوز التطفل إلا إذا كان بينه وبين صاحب الدار انبساط. (فتح الباری:٩/ ٥٦٠- ٥٦١، كتاب الاطعمه باب الرجل يتكفل الطعام لاخوانه).والله ﷻ اعلم.

د ډوډۍ د ټولو ډولونه پر دسترخوان د ایښولو حکم

سوال: مېلمونو ته عموماً د ډوډۍ ورکولو دوې طريقې دي: (١) دا ده چي د ډوډۍ ټول ډولونه په يوه وخت کي پر د ستر خوان باندي کښېږدي. (٢) دا ده چي د يوه ډول وروسته بل شی راوړل سي، نو د دوو طريقو څخه کومه يوه غوره ده د فقهي د کتابو په رڼا کي يې جواب راکړئ؟

الجواب: غوره او مناسب کار دا دئ چي ټوله ډولونه په يوه وخت پر د ستر خوان کښېښودل سي تر څو چي مېلمنو ته کوم خوښ وي هغه وخوري او د نور زيات انتظار ضرورت پيدا نه سي، مګر دا چي داسي خوراک وي چي هغه وروسته خوړل کيږي لکه آئيس کريم، فالوده او داسي نور... نو هغه دي وروسته راوړل سي.

په تنقيح الفتاوی الحامديه کي علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

قال العلامة الزمخشري في ربيع الأبرار من باب الطعام وألوانه ما نصه: كانت سنة السلف أن يقدموا جملة الألوان دفعةً ليأكل ما يشتهيه . فثبت بهذا أن تقديم الألوان جملةً من سنة السلف كما هو عادة العرب وما يفعله الأروام من تقديم الألوان واحدًا بعد واحدٍ مستدلين بما روي أنه عليه الصلاة والسلام كان لا يجمع بين لونين، فيجاب عنه بأنه ما كان يجمع بين لونين في لقمةٍ واحدةٍ بدليل ما ذكره أيضًا في ربيع الأبرار من الباب المزبور عن عائشة رضي الله تعالى عنها ما كان يجتمع لونان في لقمةٍ في فم رسول الله ﷺ إن كان لحمًا لم يكن خبزًا وإن كان خبزًا لم يكن لحمًا. (تنقيح الفتاوى الحامدية: ۲/ ۳۵۹،ط: كوئته). (وكذا فى الدر المباحة فى الحظر الاباحة للشيخ خليل بن عبد القادر الشيبانى النحلاوى، ص: ۳۴، دار ابن حزم).

په قوت القلوب كي شيخ ابو طالب مكي رحمه الله فرمايي:

وقد كان من سنة المتقدمين أن يقدموا جملة الألوان في مكان واحد مما يشتهي ، وليكون ماتقدم معلومًا لهم وقال لهم إذ لم يكن عنده إلا لون واحد : ليس يحضر إلا هذا ليستوفوا منه ولايتطلعوا إلى غيره كان صوابًا ، حدثني بعض شيوخنا عن شيخ له قال : قدم إلى بعض أهل الشام لونًا من طبيخ فقلت له عندنا بالعراق يقدم هذا اللون آخر الآلوان فقال لي : هكذا هو عندنا بالشام ، قال : فاستحييت إذ لم يكن عنده غير ذلك اللون ، وقال لي آخر : كنا في جماعة عند رجل فجعل يقدم إلينا ألوان الرؤوس منها طبيخًا وقديدًا فجعلنا نقصر في الأكل نتوقع بعده الألوان وجملاً أو جدياً ، قال : فجاءنا بالطست ولم يقدم غيرها ،...قال : فبتنا تلك الليلة جياعاً. (قوت القلوب: ۲/ ۳۰۸، بيروت). (وكذا فى احياء علوم الدين: ۲/ ۲۳۹).

په البحر الرائق كي راځي:

ولا بأس بأكل الفالوذج والأطعمة النفيسة وعن النبي ﷺ أنه أكل الرطب مع البطيخ وأكل عمر رضي الله عنه البطيخ مع السكر. (البحر الرائق: ۸/ ۲۱۰، بیروت).

په فتاوی تاتارخانیه راځي:

ولا بأس بأكل الفالو ذج والأطعمة الشهية لما روي عن الحسن رضي الله عنه أنه كان على مائدته ومعه مالك بن دينار فأتي بفالوذج. (الفتاوی التاتار خانية:۱۸/ ۱۴۴، دیوبند، وکذا فی الفتاوی الهندية نقلاً عن الفتاوی الظهيرية:۵/ ۳۴۱، باب فی الکراهية فی الاکل).

په فتاوي فریدیه کي راځي:

پر د ستر خوان د ډوډۍ ټولي انواعي ایښول غوره کار دئ، د سلف او عربو همدا معمول ؤ او د یوه وروسته بل راوړل د رومیانو رواج ؤ.

د ((أكل طعامكم الأبرار)) دعاء حکم

سوال: د خوراک وروسته دغه دعاء ((أكل طعامكم الأبرار وصلت عليكم الملائكة، وأفطر عند كم الصائمون)) د یو چا سره د افطار په وخت کي ویل کیږي او که په هر وخت کي ویل کیږي؟ ځیني حضرات فرمایي، چي دا خاص په افطار پوري خاص ده.

الجواب: د ځیني روایاتو څخه معلومیږي چي نبي ﷺ دغه دعاء د افطار په وخت کي ویلي وه.

او په یو بل روایت کي بېله افطار څخه ویل هم ثابت دي، ملا علي قاري رحمه الله وفرمایل: چي بېله افطاره همدغه دعاء په عامو دعوتو کي روا ده مګر څنګه چي په عامو روایاتو کي د افطار ذکر راغلی دئ، نو ځکه دغه دعاء باید دافطار په وخت کي وویل سي.

هغه روایات وګورئ په کومو کي چي دافطار ذکر راغلی دئ:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أفطر عند أهل بيت قال: أفطر عندكم الصائمون وأكل طعامكم الأبرار وتنزلت عليكم الملائكة. (رواه ابو يعلى فى مسنده، قال حسين اسلم: رجاله رجال الصحيح، رقم: ٤٣٢٠).

عن عبد الله بن الزبير رضي الله عنه قال: أفطر رسول الله صلى الله عليه وسلم عند سعد بن معاذ رضي الله عنه فقال: أفطر عندكم الصائمون وأكل طعامكم الأبرار وصلت عليكم الملائكة. (رواه ابن ماجه، رقم: ١٧٤٧، فى الزوائد فى اسناده مصعب بن ثابت عن عبد الله بن الزبير ضعيف، قال الالبانى: صحيح دون قوله افطر رسول الله صلى الله عليه وسلم). (والبيهقى فى الصغرى، رقم: ١٣٩٦، وفى الكبرى، رقم: ٨٣٩٣، والطبرانى فى الأوسط، رقم: ٣٠١، وفى الدعاء، رقم: ٩٢٢، والدارمى، رقم: ١٧٧٢، وابن حبان فى صحيحه، رقم: ٥٢٩٦، قال الشيخ شعيب: صحيح بشواهده وهذا سند ضعيف، وأحمد فى مسنده، رقم: ١٢١٧٧، والبزار فى مسنده، رقم: ١٧٥، وعبد بن حميد، رقم: ١٢٣٤، وابن أبي شيبة في مصنفه، رقم: ٩٨٣٨، والنسائى فى الكبرى، رقم: ٦٨٧٤).

هغه روايات چي په كومو كي چي دافطار ذكر راغلى نه دئ:

عن أنس رضي الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أكلوا عند أهل بيت قال: أفطر عندكم الصائمون وأكل طعامكم الأبرار وصلت عليكم الملائكة. (رواه أبو يعلى فى مسنده، رقم: ٤٣١٩، قال حسين أمسلم أسد في تعليقاته: رجاله رجال الصحيح).

عن أنس رضي الله عنه أو غيره : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم استأذن على سعد بن عبادة رضي الله عنه فقال: السلام عليكم ورحمة الله، فقال: سعد وعليك السلام ورحمة الله ولم يسمع النبي صلى الله عليه وسلم حتى سلم ثلاثاً ورد عليه سعد ثلاثاً ولم يسمعه فرجع النبي صلى الله عليه وسلم واتبعه سعد فقال: يا رسول الله بأبي أنت وأمي ما سلمت تسليمة الا هي بأذني ولقد رددت عليك ولم أسمعك أحببت ان استكثر من سلامك ومن البركة ثم أدخله البيت فقرب له زبيباً فأكل نبي الله صلى الله عليه و سلم فلما

فرغ قال أكل طعامكم الأبرار وصلت عليكم الملائكة وافطر عندكم الصائمون. (رواه احمد فی مسنده، رقم: ۱۲۳۰۶، قال الشيخ شعيب: اسناده صحيح على شرط الشيخين). (وأيضاً رواه أبو دواد، رقم: ۳۸۵۶، وعبد الرزاق فی مصنفه، رقم: ۷۹۰۷، والبيهقی فی الشعب، رقم: ۵۶۴۸).

ملا علي قاري رحمه الله فرمايې، چې دغه دعاء عامه ده په افطار پورې خاص نه ده او د افطار قيد اتفاقي دئ احترازي نه دئ او بيا د دواړو په منځ کې جمع کول ممکن دي چې دواړه پر جلا جلا واقعه حمل کړل سي. وګورئ:

وأما قوله وأفطر عندكم الصائمون، فدعاء لأن مجرد الإخبار به لا يفيد فائدة تامة مع أن الظاهر أنه ماكان وقت الإفطار ولا ينافيه تقييده في رواية بقوله إذا أفطر عند قوم دعا لهم بل فيه تأييد له فتأمل، غايته أنه قيد واقعي لا احترازي... ويمكن الجمع بتعدد القضية. (المرقاة: ۸/ ۲۰۷، ط: ملتان)

په الاذكار کې راځي:

قال النووي فی الأذكار: فهما قضيتان جرتا لسعد بن عبادة وسعد بن معاذ رضى الله تعالى عنهما. (الاذكار، ص: ۲۸۳، باب دعاء المدعو والضيف لاهل الطعام اذا فرغ من اكله).

د امام نووي رحمه الله د عبارت څخه معلوميږي چې دواړي قضيې جلا دي، نو څکه پر دواړو ځايو عمل کېدلای سي. او امام نووي رحمه الله په ((الاذكار)) کې مستقل باب قائم کړی دئ هلته يې وګورئ: په صفحه ۲۳۴، ((باب ما يقول إذا أفطر عند قوم))، او دوهم ځای کې بيا وايي: صفحه ۲۸۲: ((باب دعاء المدعو والضيف لأهل الطعام إذا فرغ من أكله)).

او اکثره محدثينو چې کوم باب قائم کړی دئ هغه د افطار په اړ دئ، يو څو مثالونه په لاندي ډول دي:

قال فی ابن ماجه: باب فی ثواب من فطر صائماً. په دې باب کې يې د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه هغه روايت را نقل کړی دئ په کوم کې چې د افطار لفظ راغلی دئ. (ابن ماجه، ص ۱۳۵).

وقال فی سنن الدارمی: باب دعاء الصائم لـمن يفطر عنده. دلته يې هم د افطار روايت را نقل کړی دئ. (سنن الدارمی: ٢/ ۴٠).

وقال فی السنن الکبری للبيهقی: باب ما يدعو به الصائم لـمن أفطر عنده.دلته يې هم د افطار روايت را نقل کړی دئ. (السنن الکبری للبيهقی: ۴/ ٢۴٠).

وقال فی عمل اليوم والليلة لابن السنی: باب ما يقول إذا أفطر عند قوم.

وفی مصنف ابن أبی شيبة: ما قالوا فی الصائم إذا أفطر، ما يقول. (رقم: ٩٨٣٨).

وفی مصنف عبد الرزاق: باب من فطر صائماً. د حضرت بن عباده ﷺ روايت يې رانقل کړی دئ چې په هغه کې د افطار ذکر نه سته.(۴/ ٣١١/ ٧٩٠٧).

وفی السنن الکبری للنسائی: الدعاء لـمن أفطر عنده. (۴/ ٢٠٢). وغيره.

د دې پر خلاف ځينې محدثينو مطلق باب قائم کړی دئ.

همدا ډول امام داؤد رحمه الله فرمايې: باب ماجاء فی الدعاء لرب الطعام إذا أکل عنده. (رقم: ٣٨٥۶)، دلته يې د حضرت سعد بن عباده ﷺ روايت را نقل کړی دئ.

په صحيح ابن حبان کې فرمايې: ذکر إباحة دعاء الضيف للمضيف بغيرما وصفنا عند فراغه من الطعام. مګر تر دغه باب لاندې يې د سعد بن عباده ﷺ د افطار روايت را نقل کړی دئ.

امام بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې فرمايې: الدعاء لرب الطعام.

خلاصه دا ده چې اکثره حضراتو دواړه جلا بللی دي او په دواړو ځايو کې د دې دعاء د ويلو اجازه ورکړې ده، نو ځکه د افطار او د هر دعوت وروسته په هر ځای کې ويل روا دي، البته په عامو دعوتو کې دغه دعاء هم په احاديثو سره ثابته ده:

اللّٰهم بارک لـهـم فيما رزقتهم واغفرلـهم وارحمهم. رواه مسلم. (رقم: ٢٠۴٢).والله ﷻ اعلم.

د دې دعاء ((اللّٰهم أطعم من أطعمني)) حکم:

سوال: د دعاء د الفاظو ((اللّٰهم أطعم من أطعمنا واسق من سقانا)) د دې مطلب دا دئ اې الله ﷻ چا چې په ما خوراک او څښاک وکړئ ته په هغه خوراک او څښاک وکړئ په عامو وختو کې خلک په دعاګانو کې د ماضي صيغه استعمال وي يعني چا چې په ما خوراک وکړي ته په هغه خوراک وکړئ مګر د مسلم شريف د روايت څخه په ښکاره سره معلومه سوه، چې دغه الفاظ د مستقبل له پاره دي، نو به مطلب داسي چې اې الله ﷻ! چا چې په ما خوراک وکړئ ته په هغه خوراک وکړئ.

د مسلم شريف روايت وګورئ:

عن المقداد قال: أقبلت أنا وصاحبان لى وقد ذهبت أسماعنا وأبصارنا من الجهد فجعلنا نعرض أنفسنا على أصحاب رسول الله ﷺ فليس أحد منهم يقبلنا فأتينا النبى ﷺ فانطلق بنا إلى أهله فإذا ثلاثة أعنز فقال النبى ﷺ: احتلبوا هذا اللبن بيننا قال: فكنا نحتلب فيشرب كل إنسانٍ منا نصيبه ونرفع للنبى ﷺ قال: فيجىء من الليل فيسلم تسليمًا لا يوقظ نائمًا ويسمع قال: ثم يأتى المسجد فيصلى ثم يأتى شرابه فأتانى الشيطان ذات ليلةٍ وقد شربت نصيبى فقال: محمد يأتى الأنصار فيتحفونه ويصيب عندهم ما به حاجة إلى هذه الجرعة فأتيتها فشربتها فلما أن وغلت فى بطنى وعلمت أنه ليس إليها سبيل قال: ندمنى الشيطان...قال: فجاء النبى ﷺ فسلم كما كان يسلم ثم أتى المسجد فصلى ثم أتى شرابه فكشف عنه فلم يجد فيه شيئًا فرفع رأسه إلى السماء فقلت الآن يدعو على فأهلك، فقال: اللّٰهم أطعم من أطعمنى وأسق من أسقانى... الخ. (رواه مسلم:٢/ ١٨٤و باب اكرام الضيف وفضل ايثاره،ط: فيصل). بينواتر جروا.

الجواب: د حديث شريف د الفاظو څخه معلوميږئ چې دغه الفاظ د مستقبل له پاره استعماليږي ځکه چې په حديث شريف کې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ کله کور ته راغلی، نو په لوښی کې

یې شیدې ونه موندلی، نو ویې فرمایل: کوم څوک چې په ما خوراک وکړي ته په هغه خوراک وکړئ او څوک چې په ما چښاک وکړي الله جَلَّ جَلَالُهُ دې په هغه چښاک وکړئ.

داحادیثو شراحو همدغه د مستقبل توجیه ذکر کړې ده.

وګورئ امام نووي رحمه الله د مسلم شرح کې فرمايي:

فيه دعاء للمحسن والخادم ولمن سيفعل خيراً. (الشرح الكامل على الصحيح مسلم:٢/ ١٨٤).

په اکمال المعلم کې راځي:

والدعاء بأن يطعم الله من يطعمه ويسقى من سقاه. (اكمال المعلم:١/ ٥٤٤، دار الوفاء).

المفهم لماأشکل من تلخيص کتاب مسلم کې ابو العباس قرطبي رحمه الله فرمايي:

و ((سقاني)) بمعنى يسقيني، و((من أطعمني)) بمعنى : يطعمني . ولما فهم المقداد منه الدعاء، وطلب أن يفعل اللة ذلك معه في الحال ؛ عرف : أن الله يجيبه ، ولا يرد دعوته، لا سيما عند شدة الحاجة، والفاقة، فقام لينظر له شيئًا تكون به إجابة دعوته. (المفهم:٥/ ٣٣٣).

البته د حدیث په الفاظو کې د ماضي صیغه استعمال سوې ده ((و العبرة لعموم الألفاظ))، نو ځکه د معنی اخیستل هم روا ده او امام نووی رحمه الله دغه روایت په الاذکار کې تر ((باب دعاء الإنسان لمن سقاه ماءأو لبناً)) لاندې ذکر کړې دي.

همدا رنګه په ((الفتوحات الربانيه على الاذكار النووية)) کې يې د حدیث د الفاظو تشریح د ماضي مطابق کړې ده. ویې ګورئ:

قوله أطعم، أى أرزق، من أطعمني أى تسبب لإطعامي.... من سقاني وفيه الدعاء لمن صنع معروفاً مع الإنسان. (الفتوحات الربانية:٥/ ٢٥٤، ط: احياء التراث العربى). والله تعالیٰ اعلم.

د هندو د لېږل سوي ډوډۍ حکم

سوال: که یو هندو د مسلمان کور ته ډوډۍ ولېږي، نو آیا داسي ډوډۍ روا ده او که نه؟ که جواب په نفي کي وي، نو په دې باید څه وکړل سي د سوال منشأ دا ده چي هندوان د غوائې د بولو احترام کوي او ځيني دغه د غوائې بولې په خوراک کي هم اچوي؟

الجواب: (الف) که یو شناخته ستا کره ډوډۍ ولېږل، نو هغه باید قبوله کړل سي.

(باء) د قبلولو وروسته چي کله معلومه سي چي په دې کي د غوائې بولې دي، نو بیا د دې خوړل روا نه دي مګر په مطلق ګمان سره خوړل روا دي کله چي صحابه ؤ کرامو د پنیرو په اړه دغه اشکال ښکاره کړي چي شاید دا د مردار حیوان څخه جوړ سوي وي، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل:

فقال: اطعنوا فيها بالسكين واذكروا اسم الله وكلوا.

یعني د شاید اعتبار يې ونه کړي بیا دي یا هغه ډوډۍ په خپله وخورئ او یا دي بل چا ته ورکړي دواړه روا دي.

(ج) که د یو کافر د طرفه غوښې راسي، نو د هغو خوړل روا نه دي مګر دا چي د یو معلوم دوکان څخه يې رانیولي وي، نو بیا د هغو خوړل روا دي.

په عامو احوالو کي هندوته د مسلمان احوال معلوم وي، نو ځکه د تعلقات پر بناء چي کوم څه ورلېږي هغه حلال لېږي.

روى البيهقي في سننه الكبرى (۹/ ۲۸۵)، بسنده عن علي رضي الله عنه قال: لا بأس بطعام المجوس إنما نهى عن ذبائحهم.

په البحر الرائق کي راځي:

ولا بأس بطعام المجوس كلها إلا الذبيحة. (البحر الرائق:۸/ ۲۳۲، بیروت).

په عالمګیري کي راځي:

ولا بأس بطعام المجوس كله إلا الذبيحة فإن ذبيحتهم حرام... ولا بأس بالذهاب إلى ضيافة أهل الذمة هكذا ذكر محمد... ويكره الأكل والشرب في أواني المشركين قبل الغسل ومع هذا لو أكل أو شرب فيها قبل الغسل جاز، ولا يكون آكلًا ولا شاربًا حرامًا وهذا إذا لم

يعلم بنجاسة الأواني، فأما إذا علم فأنه لا يجوز أن يشرب ويأكل منها قبل الغسل (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٤٧).

علامه امام سرخسي رحمه الله فرمايي:

ولا بأس بطعام المجوس، وأهل الشرك ما خلا الذبائح، فإن النبي صلى الله عليه وسلم كان لا يأكل ذبائح المشركين، وكان يأكل ما سوى ذلك من طعامهم. (المبسوط:٢٤/ ٥٠، ط: بيروت).

په حديث شريف کي راغلي دي چي يوې يهودۍ ښځي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته غوښي په هديه کي ورکړي، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم قبولي کړې.

په فتاوی محموديه کي راځي:

د هندو سره مستئ، دال او داسي نور تر هغه وخته پوري خوړل روا دي تر څو چي د ناپاکي علم نه وي حاصل سوي.

د عاشورا په ورځ د مېلمستيا حکم

سوال: د عاشورا په ورځ پر خپل اهل او عيال پراخي کول او عام دعوت کول روا دئ او که نه؟

الجواب: د عاشورا په ورځ پر اهل او عيال باندي وسعت کول په حديث سره ثابت دي همدا رنګه عام دعوت هم په وسعت کي شامل دئ په دې سره هم هغه په حديث کي بيان سوي فضيلت حاصلېږي.

د دې مسئلې په اړه تفصيل د فتاوی دار العلوم زکريا په دوهم جلد کي وګورئ. والله تعالى اعلم.

د عاشورا په ورځ په نورو شيانو کي د وسعت حکم

سوال: د عاشورا د ورځي په وسعت کي د خوراک څخه پرته جامې او داسي نور داخل دي او که نه؟

الجواب: فقهاؤ د دې خبري تصريح فرمايلې ده، چي د عاشورا د ورځي په وسعت کي د خوراک څخه پرته جامې او داسي نور هم داخل دي.

وګورئ: علامه شامي رحمه الله فرمايي:

وقد رأيت لبعض العلماء كلاماً حسناً محصله: أنه لا يقتصر فيه على التوسعة بنوع واحد بل يعمها في المآكل والملابس وغير ذلك وأنه أحق من سائر المواسم بما يعمل فيها من التوسعات الغير المشروعة فيها كالأعياد ونحوها. (فتاوى الشامي:٦/ ٤٣٠، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د عاشورا ډوډۍ په شپه کي د ورکولو حکم

سوال: په عامو حالاتو کي د عاشورا په ورځ د خلکو روژه وي، نو خلک په شپه کي ډوډۍ ورکوي، نو آيا دِ عاشورا په ورځ د ماښام څخه وروسته ډوډۍ ورکېدلای سي، نو آيا د دې برکات به حاصل سي او که نه؟

الجواب: د حديث شريف الفاظ دا دي ((من وسع على عياله يوم عاشوراء وسع الله عليه سائر السنة.))، څنګه چي په ورځ کي د خلکو روژه وي او په خوراک او چيښاک کي شپه د ورځي تابع وي روژه مات د ورځي ډوډي بلل کيږي کوم چي د ماښام څخه وروسته ده، نو ځکه د تېري ورځي تابع سوه، که يو څوک داسي ووايي، ((والله أكلت العشاء يوم الخميس)) او هغه د پنج شنبې په ورځ د ماښام څخه وروسته ډوډۍ خوړلي وي، نو په عرف کي نه حانث کيږي، نو له همدې امله د ماښام د لمانځه وروسته ډوډۍ هم د ورځي په مستحباتو کي داخله ده.

همدا رنګه په ورځ کي دو وخت ډوډۍ وي غدا او عشاء غدا د سهار ډوډۍ ته ويل کيږي او عشاء د ماښام ډوډۍ ته ويل کيږي که څه هم د مغرب څخه وروسته خوړل کيږي.

په بخاري شريف کي راځي:

وإن أبا بكرٍ تعشى عند النبي ﷺ ثم لبث حيث صليت العشاء ثم رجع فلبث حتى تعشى النبي صلى الله ﷺ. (رواه البخاري:١/ ٨٥).

په پورتني حديث کي راغلي دي چي د ماښام ډوډۍ کوم چي تر مازديګر وروسته خوړل کيږي هغه حضرت ابو بکر صديق ﷺ د ماخستن څخه وروسته وخوړل، له دې څخه معلومه سوه چي که د ورځي ډوډۍ په شپه کي وخوړل سي، نو هغه هم د ورځي ډوډۍ بلل کيږي، نو ځکه د ماښام څخه وروسته د ډوډۍ په خوړلو کي هم هغه فضيلت موجود دئ.

سوال او د هغه جواب:

ځیني حضرات فرمایي، چي د حدیث شریف، ((من وسع علی عیاله یوم عاشوراء وسع الله علیه سائر سنته)) مطلب دا دئ هر څوک چي پر خپل عیال پراخي کوي د عاشورا په ورځ، نو الله ﷻ پر هغه ټول کال پراخي کوي د دې حدیث تقاضا دا ده چي د عاشورا ورځ د خوراک او چیښاک ورځ ده او حال دا چي د یو صحیح روایت په رڼا کي د عاشورا ورځ د روژې ورځ ده، نو اوس د دغو دواړو روایتونو په منځ کي د تطبیق څه شکل کېدلای سي؟

الجواب: (۱) اول جواب دا دئ چي د دې په ځیني روایاتو کي د نفقې د وسعت ذکر راغلی دئ کوم چي یې خپل اهل او عیال ته د نقدي یا د جنس په شکل ورکولای سي:

من وسع علی عیاله فی النفقة یوم عاشوراء... الخ. (مشکاة المصابیح، باب فضل الصدقة:۱/ ۱۷۰، ط: قدیمی کتب خانه).

په دې کي د نفقې لفظ ذکر سوی دئ او تر ټولو ښه هدیه ده یعني چي هغه د نقد او یا جنس په شکل ورکول سي، نو هغه په یو ځای نه ځای کي په کار ورځي.

(۲) دوهم جواب دا دئ چي په یوم عاشورا ورځ کي د یوم دوې معناوي دي: (۱) د لمر د راختلو څخه نیولي بیا تر لمر لوېدو پوري. (۲) پوره (۲۴) ساعته ورځ او د شریعت د نظره جمعه د پنج شنبې د ماښام څخه نیولي بیا د جمعې تر لمر لوېدو پوري، نو ځکه که هر څوک د جمعې په شپه یا د جمعې په ورځ مړ سي، نو د هغه له پاره د جمعې فضیلت حاصلیږي، د دوشنبې د ورځي همدغه حال دئ، نو که یو څوک پر خپل اهل او عیال باندي د لسمي په شپه ډوډئ وخوري، نو هغه هم د دې حدیث مصداق دئ او د هغه سره هم د وسعت وعده ده.

د دې معنی تائید د عبدالملک بن حبیب په لاندي اشعارو کي کړی دئ:

لا تنس لا ینسک الرحمن عاشوراء ☆ واذکره لا زلت فی الأخیار مذکوراً
قال الرسول صلاة الله تشمله ☆ قولاً علیه وجدنا الحق والنوراً
من بات في لیل عاشوراء ذا سعة ☆ یکن بعیشه فی الحول مجوراً
فارغب فدیتک فیما فیه رغبنا ☆ خیر الوری کلهم حیاً ومقبوراً

ترجمه: تاسو عاشورا مه هیره وي. نو الله ﷻ به تاسو نه هېره وي.
الله ﷻ یادوه ته به همیشه په متقیانو کي مشهوره يې.
رسول کوم چي د الله ﷻ رحمت دئ هغه داسي قول بیان کړي دي چي په هغه موږ حق او نور وموندي.
کوم څوک چي د عاشورا د ورځي پراخي کوي.
د هغه ژوند به ټول کال ښه او ښائسته وي.
زه دي تر تا قربان سم ته پر هغه شي رغبت وکړه د کوم شي ترغیب چي نبي ﷺ ورکړی دئ.
کوم څوک چي په ټولو خلکو کي ترمړه او ژوندي غوره دئ.
په دغو ذکر سوي اشعارو کي د فراخي ذکر په شپه کي راغلی دئ او شاعر د مالکیه څخه دئ.
(۳) دریم جواب دا دئ که چیري د فراخي څخه خوراک او چیښاک مراد وي او د ورځي څخه ورځ مراد سي، نو کوم کسان چي نابالغ دي او یا يې روژه نه ده، نو پر هغوی باندي په فراخي کولو کي د روژې سره هیڅ تعلق نه سته.
(۴) جواب دا دئ، چي د فراخي څخه مراد د فراخي اسباب برابرول دي که څه هم خوراک او چیښاک په شپه کي وي.
(۵) جواب دا دئ لکه څنګه چي مخکي تېر سو چي شپه د ماقبل ورځي تابع ده.
غرض دا دئ چي شریعت رحمت دئ، نو د دې جوابونو په رڼا کي که یو څوک نقدي یا جنس ورکړي یا د عاشورا په شپه ډوډئ ورکړي او یا يې په ورځ کي نابالغ او یا داسي نورو ته ورکړي، نو د حدیث مصداق دئ ټولو ته شاملیږي.
د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (الیواقیت الغالیه، ص: ۲۰۷، افادات الشیخ محمد یونس شیخ الحدیث، بجامعه سهانپور). والله ﷻ اعلم.

د عاشورا د شریني خوړلو حکم

سوال: د محرم په میاشت کي د حضرت حسین ؓ په نامه په هندوستان کي جلوس را وزي په دې کي په عامه توګه شیعګان وي مګر نن سبا زموږ خلک هم ګډون پکښي کوي او دغه خلک د ځانو سره د خوراک شیان هم اخلي، نو دغه شیان مسکین او امیر دواړو ته ورکوي او د هغو په قول

دوی وایي، چي د شیان مور خالي د حضرت حسین ﷺ په نامه په ایصال ثواب خیراتو. نو آیا د دې شیانو خوراک روا دئ او که نه؟

الجواب: که چیري دغه شیان د حضرت حسین ﷺ په نامه وي، نو د دې خوراک روا نه دئ او که خالي د ایصال ثواب له پاره، نو ایصال ثواب په خپله یو مستحب کار دئ او ایصال ثواب هر څوک په هر وخت کي بېله تعین د ورځي او میاشتي کولای سي بلکي ښه کار دئ (مګر هو د عاشورا ورځ خاصول دلیل نه لري) د اهل سنت والجماعت په آند مرحومینو ته فائده رسېږي او فقیرانو ته په ورکولو کي ډېر ثواب دئ مګر مالداریې هم خوړلای سي هو ثواب یې کم دئ.

البته په عباداتو کي د خپله طرفه وخت معلومول بدعت دئ، نن سبا اکثره خلک په دې مبتلاء دي، نو ځکه په دغو ورځو ته د شیرینیو په تقسیم سره تخصیص ورکول له دې شخه ځان ساتل په کار دي.

د دې شخه پرته د ډېرو شیګانو عقیدې کفر ته رسېدلي دي، نو د هغوی د طرفه د ایصال ثواب هیڅ اعتبار نه سته او د هغوی د شیانو شخه ځان ساتل په کار دي، همدا رنګه په دې جلوس کي شرکت کول ناروا دئ.

د ایصال ثواب په اړه د بخاري شریف روایت وګورئ:

عن ابن عباسٍ ﷺ أن سعد بن عبادة ﷺ، توفیت أمه وهو غائب عنها، فقال: یا رسول الله! إن أمي توفیت وأنا غائب عنها أینفعها شيء إن تصدقت به عنها قال: نعم، قال: فإني أشهدك أن حائطي المخراف صدقة علیها. (بخاری:۱/ ۳۸۶).

قال السیوطي في شرح الصدور في باب ما ینفع المیت في قبره: عن ابن عمر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: إذا تصدق أحدکم بصدقة تطوعاً فلیجعلها عن أبویه فیکون لهما أجرها ولا ینتقص من أجره شيء. (شرح الصدور، ص: ۳۰۰، بیروت).

قال في البحر: والأصل فیه أن الإنسان له أن یجعل ثواب عمله لغیره صلاةً أو صومًا أو صدقةً أو قراءة قرآنٍ أو ذکرًا أو طوافًا أو حجا أو عمرةً أو غیر ذلك عند أصحابنا للکتاب

والسنة. (البحر الرائق:۳/ ۱۰۵، باب الحج عن الغير، وكذا فی فتاوی الشامی:۲/ ۲۴۳، سعيد، والهداية:۱/ ۲۹۲).

په عباداتو کي د خپله ځانه دورځو او کيفياتو تعين کول په خاص ثواب سره بدعت دئ:

عن أبی هريرة رضي الله عنه عن النبی صلى الله عليه وسلم قال: لا تختصوا ليلة الجمعة بقيامٍ من بين الليالی ولا تخصوا يوم الجمعة بصيامٍ من بين الليالي ولاتختصوا يوم الجمعة بصيام من بين الأيام إلا أن يكون فی صومٍ يصومه أحدكم. (رواه مسلم:۱/ ۳۶۱/ ۱۱۴۴).

په الاعتصام کي امام شاطبي رحمه الله فرمايي:

ومنها التزام العبادات المعينة في أوقات معينة لم يوجد لها ذلک التعيين فی الشريعة. (الاعتصام:۱/ ۲۹، دار الکتب العلمية).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا جلد دوهم).

د ايصال ثواب ډوډۍ د اغنياؤ د خوړلو حکم

د ايصال ثواب ډوډۍ فقرانو ته په ورکولو کي ډېر ثواب دئ، خو مالداريې هم خوړلای سي، البته ثواب يې کم دئ:

وګورئ طحطاوی علی الدر المختار کي راځي:

الصدقة علی الغنی هبة والهبة للفقير صدقة. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۳۳۶).

په فتاوی رشيديه کي راځي:

سوال: د خپلو بزرګانو د ارواحو د ايصال ثواب له پاره که يو شی خپلو دوستانو ته ورکول سي، د ايصال ثواب له پاره آيا اداء کولای سي او که نه؟

جواب: د غني لپاره داسي صدقه نفل مکروه تنزيهي ده مګر ثواب ور رسېږي خو تر فقير کم ده.

او د فتاوی رشيديه په باقياتو کي راځي:

صدقه که د مړي د ايصال ثواب له پاره وي او که د بزرګانو، مشائخو او انبياؤ د ارواحو د ايصال ثواب له پاره وي او که نور هر ډول صدقه وي د دې ټولو حکم يو دئ چي مالدار ته ورکول مکروه تنزيهي دي حرام نه دي.

قال في الهداية: ولا تدفع إلى غني الخ.

ترجمه په هدايه کي يې ويلي دي چي صدقې دي مالدار ته نه ورکول وي د هغه څخه زکوة او صدقه واجبه ده.

قال في فتح القدير: وكذا يجوز النفل للغني.

نو هغه که مالداره وي، نو هغه ته د ثواب ډوډۍ حرامه نه ده که څه هم مکروه تنزيهې ده.

خلاصه دا سوه چي د غني له پاره د ايصال ثواب ډوډۍ خوړل روا ده مګر په ثواب کي يو څه کمي راځي، نو له همدې امله ورته مکروه تنزيهې ويل سوي دي، ځکه چي مطلوب مړي ته ثواب رسول دي او په دې کي ثواب کم دئ، نو ځکه دا خلاف اولی سو.

په احسن الفتاوی کي راځي:

شيعه ګان زنديق دي، نو ځکه د هغوی سره هر ډول تعلق ناروا دئ او د هغوی د کور شی خوړل د غيرت ايماني خلاف کار دئ، البته د شديد ضرورت په وخت کي يې اجازه سته.

په فتاوی محموديه کي راځي:

د هغو روافضو څخه پوره احتياط کول په کار دئ او هغوی سنيانو ته په نجس شي ورکولو کي ثواب بولي.

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: په ځيني ځايو کي داسي رواج وي چي د محرم په لسمه خوږه او داسي نور شيان تقسيم وي، نو آيا دا روا دي او که نه؟

جواب: دا يو شرعي شی نه دئ او په قرآن او حديث سره ثابت نه دئ او دا يو شرعی شی بلل غلط کار دئ.

د حرام مزدوري والا د دعوت قبلولو حکم

سوال: يو سړی حرامه مزدوري کوي، نو د هغه دعوت قبلول او د هغه هديه قبلول روا ده او که نه؟

جواب: په دې صورت کي که د دې سړي مزدورۍ اکثره حلاله وي، نو د هغه دعوت او هديه قبلول روا ده، همدا رنګه که اکثره حرام وي مګر هغه دعوت د حلال مال څخه کوي او د هغه پر قول اعتماد هم وي، نو بيا د هغه دعوت او هديه قبلول روا ده.

په فتاوى هنديه كي راځي:

الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات: أهدى إلى رجلٍ شيئًا أو أضافه إن كان غالب ماله من الحلال فلا بأس إلا أن يعلم بأنه حرام ، فإن كان الغالب هو الحرام ينبغي أن لا يقبل الهدية ، ولا يأكل الطعام إلا أن يخبره بأنه حلال ...لأن أموال الناس لا تخلو عن قليلٍ حرامٍ فالمعتبر الغالب . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٤٢).

په المحيط البرهانى كي راځي:

وفي عيون المسائل: رجل أهدى إلى إنسان أو أضافه إن كان غالب ماله من حرام لا ينبغي أن يقبل ويأكل من طعامه ما لم يخبر أن ذلك المال حلال استقرضه أو ورثه، وإن كان غالب ماله من حلال فلا بأس بأن يقبل ما لم يتبين له أن ذلك من الحرام؛ وهذا لأن أموال الناس لا تخلو عن قليل حرام وتخلو عن كثيره، فيعتبر الغالب ويبنى الحكم عليه. (المحيط البرهانى:٦/ ١١٠، الفصل السابع عشر فى الهدايا والضيافات).

(وكذا فى الموسوعة الفقهية الكويتية:١٥/ ٧٨. والاشباه والنظائر:١/ ٣٤٣، والمبسوط:١٠/ ١٩٧).

په جواهر الفتاوى كي راځي:

د كوم چا چي مزدورۍ حلال او حرام دواړه وي، نو په دې كي تفصيل دا دئ چي كه چيري حلال او حرام سره جلا وي، نو په خپله جامه خوراك او نورو ضرورتو كي حلال مال استعمالوي، نو د هغه پر خبره اعتماد هم وي، نو د هغه ډوډئ خوړل روا دي او كه د حلال مال ځنځه هديه وكړئ، نو د هغې اخيستل هم روا دي او كه سره ګډ وي، نو بيا اكثر ته كتل كيږي.

په اجتماع كي د مېلمستيا د ډوډئ د خرڅولو حكم

سوال: موږ په تبليغي اجتماع كي خپله ډوډئ په ارزانه قېمت وركوو او په ځيني حالاتو كي ځيني نور حضرات د خپله طرفه ډوډئ تياره وي او هغه يې مفت وركوي تر څو چي خلكو ته مېلمستيا وكړئ، نو آيا د دې ډوډئ خرڅول او دا پيسې په نورو شيانو كي لګول روا دي او كه نه؟ كله

خو داسي هم کیږي چې ډوډۍ اخیسونکي ته په ځیني وختو کي ډوډۍ نه پاتیږي، نو په دې صورت کي څه کول په کار دي؟

الجواب: په تبلیغي اجتماع کي د ډوډۍ خرڅول روا دي که څه هم د خارج څخه ډوډۍ راځي ځکه اکثره داسي وي چې د دباندي څخه کچه خوراکه راځي، نو د هغې د تیارولو له پاره مصرف د اجتماع منتظمین کوي، نو د هغو مصرفو قېمت اخیستل روا دي.

او کله داسي هم وي چې ډېر شیان د خوراک راځي، نو د هغو سره نور شیان هم گډ وي او بیا یې پخوي، نو د هغو شیانو قېمت اخیستل هم روا دي.

نو کوم قېمت چې حاصل سي د هغه اختیار د اجتماع د منتظمینو په لاس کي دئ پر نورو اخراجاتو یې مصرفولای سي.

مگر هو، که ډوډۍ ختمه سوه او ځیني هغو کسانو ته نه ورسېده چې پیسې یې ورکړي دي، نو له هغوی څخه دي معافي وغواړي او دا دي ورته ووایې، چې بل وخت پر وخت حاضر سي او که هغوی معافي ونه کړي، نو هغوی ته دې خپلې پیسې بېرته ورکړې.

د فقهې په کتابو کي راغلي دي چې که یو کرایه دار بل ته په زیاتو پیسو ورکړي، نو دا په هغه وخت کي روا دي چې د کرایې جنس بدل وي او یا یې په هغه کي یو څه خرچه کړي وي، نو په دې صورت کي زیاته کرایه اخیستلای سي.

علامه شامي رحمه الله فرمایي:

قوله لو أصلح فيها شيئاً، بأن جصصها أو فعل فيها مسناة وكذا كل عمل قائم لأن الزيادة بمقابلة ما زاد من عنده حملاً لأمره على الصلاح كما فى المبسوط. (رد المحتار:۶/ ۲۹، سعيد).

وفى الهندية: ولو زاد فى الدار زيادة كما لو وتد فيها وتداً أو حفر فيها بئراً أو طيناً أو أصلح أبو ابها أو شيئاً من حوائطها طابت له الزيادة. (الفتاوى الهندية:۴/ ۴۲۵).

له دې عباراتو څخه معلومیږي چې که د بل په شی کي یو څه بدلون راولي، نو د هغه په عوض کي کرایه زیاتولای سي، همدا رنگه که د خوراک په شیانو کي یو څه زیادت راسي، نو د هغه قېمت اخیستلای سي.

بیا دغه قیمت هم یو ډول چنده ده او د اجتماع په امورو کي د معاونت په خاطر اخیستل کیږي، نو له همدې امله هم د دې اجازه سته. والله ﷻ اعلم.

د بانک د ملازم د دعوت قبلولو حکم

سوال: یو سړی په بانک کي ملازم دئ، نو د دې دعوت قبلول روا دئ او که نه؟

الجواب: د بانک د ملازم دعوت چي د هغه حساب کتاب ټول د سود سره وي قبلول روا نه دئ او د هغه تنخواه هم حلاله نه ده، نو د دې دعوت او هدیه قبلول روا نه ده مګر که دا معلومه وه چي دعوت او هدیه په حلالو پیسو سره دئ، نو بیا روا دئ.

مګر که د هغه کار خالي ملازمت نه وي بلکي چوکیدارې او داسي نور کار کوي، نو په دې صورت کي د هغه دعوت قبلول روا دي.

همدا رنګه نن سبا په بانک کي د سود څخه پرته نور د بېلانو پیسې هم راځي یعني حلال کار هم کیږي، نو بانک خالص د سود ځای بلل مشکل کار دئ.

خلاصه دا ده چي د بانک د ملازم دعوت نه قبلول ښه کار دئ مګر بالکل حرام او ناروا هم نه دي.

په حدیث شریف کي راځي:

عن جابرٍ رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال: هم سواء. (رواه مسلم: ٢/ ٢٧، كتاب المساقات والمزارعة، باب الربا).

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ پر رشوت خوړونکی او ورکونکی او لیکونکی او شاهدې ورکونکی پر ټولو لعنت ویلي دئ او ټوله په ګناه کي سره برابر دي.

په عالمګیری کي راځي:

آكل الربا وكاسب الحرام أهدى إليه أو أضافه وغالب ماله حرام لا يقبل، ولا يأكل ما لم يخبره أن ذلك المال أصله حلال ورثه أو استقرضه، وإن كان غالب ماله حلالًا لا بأس بقبول هديته والأكل منها، كذا في الملتقط. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٤٣).

په اسلام او جدید معاشي مسائل کي راځي:

د بانک د تنخواه یا د حرام مزدورۍ د دعوت یا تحفه قبلولو اصل قاعده دا ده چې که چیرې اکثره پیسې حرامې وي، نو بیا له دې مال څخه هر شی اخیستل حرام دي هغه که پیسې وي او که بل شی وي او په بانک کې اکثره پیسې حرامې نه وي، ځکه اصل په هغه کې سرمایه ده د بانک د مالکینو او داسې نورو، نو ځکه اکثریت مال حرام نه دئ، نو که یو څوک روا کار وکړي او هغه پیسې اخلي، نو دا روا دي.

په جواهر الفتاوی کې راځي:

د کوم چا چې د آمدني ذریعه حرامه وي مثلا د بانک ملازمت او د سینماګانو، د غزلو او عکسونو اخیستلو او داسې نورو پیسې، نو د هغه سره خوراک څښاک او د هغه هدیه قبلول ناروا ده مګر دا چې اخیستونکی خپله مستحق د زکات وي، نو بیا اجازه سته او د کوم چا چې پیسې حلالې او حرامې دواړه وي، نو په هغه کې تفصیل دا دئ چې که چیرې هغه سره جلا وي او خپل مصرفونه د حلال مال څخه کوي او د هغه پر خبره اعتماد هم وي، نو د هغه سره خوراک او څښاک کول روا دي او حلال مال یې ووېل مطلب دا دئ چې تحفه قبلول هم روا دي او که سره ګډ وي، نو د اکثره ته کتل کیږي.

په امداد الفتاوی کې راځي:

د سود د ګډېدو په حرمت کې اثر سته، نو که نصف یا زیات تر نصف سود وي، نو ټول حرام دي او که تر نصف کم وي، نو حلال دي.

د ښځو په محفل کې د شرکت کولو حکم

سوال: ما ته د ښځو په محفل کې د شرکت کولو عوت راکړل سو دې ته (بې بي شاور) ویل کیږي دا یو خاص دعوت دئ چې دا د کورنۍ د یو حاملې ښځې له پاره جوړیږي او په دې کې هغه خپلوانې او همځولې شرکت کوي او په دې کې د دې د کوبچې له پاره تحفې راوړي او هلته یې ښکاره کوي چې د هغه څخه دا هم معلومه سي چې چا څه شی راوړي دئ او کله کله د تفریح او د زړه د خوشحالولو له پاره یو بازي هم کوي او د دې څخه وروسته ټول یو ځای ډوډۍ خوري او په خپل منځ کې خبرې کوي؟

یاده دې وي چې د ټولو په مخ کې د تحفو د خلاصولو غرض دا نه دئ چې د خلکو تحقیر وکړئ بلکې دا یو ډول خوش طبعي کوي داسې محفلونه که څه هم مغربي تهذیب دئ او د مسلمانانو شعار نه

دئ مګر په مسلمانه معاشره کي دومره عام سوي دي بلکي د معاشري يوه برخه جوړه سوې ده چي د هغه څخه ځان ساتل مشکل کار دئ؟

نو اوس سوال دا دئ چي په دغه محفل کي د شرکت کولو شرعي حکم څه شی دئ او حال دا چي دغه دعوت نامه د نژدې دوست له طرفه راغلي وي او د هغه په رد کولو کي د هغه د خفګان بېره وي کوم چي تر منځ د قطع تعلق سبب کېدلای سي؟

الجواب: په داسي محفلو او رسمو کي لاندني مفاسد او خرابۍ موجودي دي:

(۱) د کافرانو د طريقې سره مشابهت دئ.

(۲) د هديه راوړل ضروري بلل که يو څوک خالی لاس راسي هغه عيب بلل کيږي.

(۳) که دغه تحفې سره برابري نه وي، نو زړه يې خفه کيږي او که يو چا زيات شی ور وړي او هغه ته لږ شی ورکول سي، نو دا هم د خفګان لامل دئ.

(۴) مسلماني ښځي بايد خپل صلاحيتونه په ښه کار کي ولګوي او بايد له دې فضولياتو څخه ځان وساتی.

(۵) په خندا او مذاق کي د حد څخه تجاوز راځي او دا نامناسب کار دئ او کله کله خو غيبت هم کيږي.

(۶) د حاملې حمل ښکاره کول څه د ښکاره کولو شی نه دئ چي د هغه له پاره محفل جوړېږي.

(۷) کله کله د داسي فعل ترغيب ورکول کيږي چي هغه په اسراف کي داخليږي مثلا دا ورته وايي، چي ټول کيک وخوره او حال دا چي د هغه خوړل مشکل کار دئ او په حديث شريف کي د ډوډئ د لږ خوړلو امر سوی دئ.

(۸) که په ديندارو کورنيو کي دا رواجونه عام سي، نو نور خلک د حد څخه تجاوز کوي.

(۹) په دې کي د وخت ضائع کېدل دي.

(۱۰) په دې کي تکبر، فخر او داسي نور کارونه راځي.

(۱۱) د برقي آلاتو (X RAY مشين) په ذريعه د کوچني نارينه او ښځه معلوموي دا بالکل روا نه دي چي بيا د هغه موافق تحفي راوړل سي له دې څخه بايد په مکمله توګه پرهېز وکړل سي.

خلاصه دا ده چې له داسې محفلو څخه باید ځان وساتل سي او که د قطع تعلق بېره وه د شرکت څخه وروسته دې حوصله ورماته کړي او په محفل کې دې د دین خبره وچلوي او د دعوت او تبلیغ په ذریعه دې د اصلاح کوشش وکړي. والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن جابر رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ أنه قال: لكل داء دواء فإذا أصيب دواء الداء برأ بإذن الله عزوجل. (رواه مسلم).

دریم باب

احکام التداوی

عن أسامة بن شريكٍ قال أتيت النبى ﷺ وأصحابه كأنما على رءوسهم الطير فسلمت ثم قعدت فجاء الأعراب من ها هنا وها هنا فقالوا يا رسول الله أنتداوى فقال « تداووا فإن الله عز وجل لم يضع داءً إلا وضع له دواءً غير داءٍ واحدٍ الهرم. (رواه ابو داود).

د علاج او معالجې شرعي احکام

د علاج کولو شرعي حکم

سوال: که یو څوک مریض وي، نو له دې مرض څخه شرعي کول لازمي ده او که نه؟ یعنې که هغه سړي علاج ونه کړي او په دې حالت کې مړ سي، نو هغه ګنهکار دئ او که نه؟

الجواب: علاج یو ظاهري سبب دئ او سنت عمل دئ، نو څکه سبب یقیني نه دئ، نو له دې امله لازم او ضروري نه دئ، نو په دې وجه که یو مریض علاج ونه کړي او په دغه حالت کې مړ سي، نو هغه ګنهکار نه دئ.

مګر نن سبا ځیني معالجې تقریباً یقیني سوي دي چې له هغو څخه د مریض د شفاء یقین او یا غالب ګمان سته، نو له همدې امله که یو مسلمان یو ماهره ډاکټر ورته وښیي، نو د هغه په علاج کولو کې یقیني شفاء وي بیا علاج کول ضروري دي په دې شرط چې د هغه مصرف ولري که نه، نو ضروري نه ده.

د کومه علاجه څخه چې شفاء د یقین په درجه کې وي، نو د هغه د ضروري کولو مثال د فقهاؤ په کلام کې وګورئ:

په فتاوى النوازل کې راځي:

ولو مرض ولـم يعالج حتى مات لـم يأثم بخلاف الجائع إذا لـم يأكل حتى مات بالجوع يأثم به. (فتاوى النوازل،ص: ٢٠٠، كتاب الكراهية،ط: آرام باغ كراچي).

نو معلومه سوه چې خوراک د انسان د ژوند د ساتلو یقیني سبب دئ چې د هغه پر پرېښولو ګناه ګار کیږي، نو همدا رنګه که علاج څخه شفاء یقیني او یا غالبه وه، نو په ترک سره یې ګناه ګار کیږي، هو په عامو حالاتو کې علاج سنت دئ.

په فتاوى عالمګیري کې راځي:

مرض أو رمد فلم يعالج حتى مات لا يأثم كذا في الـملتقط، والرجل إذا استطلق بطنه أو رمدت عيناه فلم يعالج حتى أضعفه ذلك وأضناه ومات منه لا إثم عليه فرق بين هذا وبينما إذا جاع ولـم يأكل مع القدرة حتى مات حيث يأثم والفرق أن الأكل مقدار قوته مشبع بيقينٍ فكان

ترکه إهلاكًا ولا كذلك المعالجة والتداوي كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٥، الباب الثامن عشر فی التداوی).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

امتنع عن الأكل حتى مات جوعاً أثم وإن عن التداوي حتى تلف مرضاً لا لأن عدم الهلاک بالأكل مقطوع والشفاء بالمعالجة مظنون. (الفتاوی البزازية على هامش الفتاوی الهندية:٦/ ٣٦٧، نوع فی التداوی).

وفی الهندية: ولو جاع ولم يأكل مع قدرته حتى مات يأثم. (الفتاوى:٥/ ٣٣٨، الباب الحادی عشر فی الکراهية).

په محیط برهاني کي راځي:

وفي النوازل: الرجل إذا ظهر به داء، فقال له الطبيب: قد غلبك الدم فأخرجه، فلم يخرجه حتى مات لا يكون مأخوذاً؛ لأنه لا يعلم يقيناً أن الشفاء فيه، وفيه أيضاً: استطلق بطنه، أو رمدت عينه، فلم يعالج حتى أضعفه ومات بسببه لا إثم عليه؛ فرق بين هذا وبينما إذا جاع ولم يأكل مع القدرة على الأكل حتى مات فإنه يأثم، والفرق: أن الأكل قدر قوته فيه شفاء يتعين، فإذا تركه صار مهلكاً نفسه، ولا كذلك المعالجة. (المحيط البرهانی: الفصل التاسع عشر فی التداوی من کتاب الاستحسان:٦/ ١١٧). (وکذا فی الفتاوی الهندية:٥/ ٣٥٤، الباب الثامن عشر فی التداوی).

په ځینو صورتو کي علاج دوجوب په درجه کي وي.

په فقه المشکلات کي وګورئ:

فإذا حصل الظن الغالب أن الشفاء يحصل بالتداوي وفي تركه يكون خوف الموت يكون التداوي واجباً وتركه معصية... أصيب أحد بمرض عضال لا دواء له حسب تقديرات الأطباء ولكنه ليس مهلكاً على الفور ثم أصابه مرض أخر والمرض الجديد خطير ومهلك عند

الأطباء ولكن الظن الغالب أن الشفاء يحصل به حيث أن الطب الجديد قد أدرك علاجه، فإن قام الطبيب بمعالجته تبقى حياته ولو تركه وشأنه يموت بناء على الظن الغالب نفي هذه الحال القول إن العلاج مباح محض وليس في تركه معصية استناداً إلى قول الفقهاء وعباراتهم العامة ليس صحيحاً بل الحق أن استعمال الدواء لحفظ النفس يكون واجباً وتركه معصية في هذه الحال. (فقه المشكلات، بحوث فقهية مختارة، ص ١٨٢- ١٨٤، ط: ادارة القرآن).

دعلاج او معالجې په اړه نور څو احاديث وګورئ:

عن جابرٍ رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: لكل داءٍ دواء فإذا أصيب دواء الداء برأ بإذن الله عز وجل. (رواه مسلم، رقم ٢٢٠٤، باب لكل داء دواء واستحباب التداوى).

أن عاصم بن عمر بن قتادة حدثه أن جابر بن عبد الله عاد المقنع ثم قال: لا أبرح حتى تحتجم فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن فيه شفاءً. (رواه مسلم، رقم ٢٢٠٥، باب لكل داء دواء واستحباب التداوى).

عن أسامة بن شريكٍ رضي الله عنه قال أتيت النبي صلى الله عليه وسلم، وأصحابه كأنما على رؤوسهم الطير فسلمت ثم قعدت فجاء الأعراب من ها هنا وها هنا فقالوا: يا رسول الله أنتداوى فقال: تداووا فإن الله عز وجل لم يضع داءً إلا وضع له دواءً غير داءٍ واحدٍ الهرم... (رواه ابو داود، واسناده صحيح، رقم: ٣٨٥٥، باب فى الرجل يتداوى، وابن ماجه، رقم: ٣٤٣٦، والترمذى، رقم: ٢٠٣٨، قال: هذا حديث حسن صحيح، وغيره من المحدثين).

قال الإمام النووى: وفي هذا الحديث (أى: حديث جابر رضي الله عنه: لكل داء دوا...الخ) إشارة إلى استحباب الدواء ، وهو مذهب أصحابنا ، وجمهور السلف ، وعامة الخلف .... وفيه رد على من انكر التداوى من غلاة الصوفية وقال: كل شيء بقضاء وقدر، فلا حاجة إلى التداوي،

وحجة العلماء هذه الأحاديث، ويعتقدون أن الله هو الفاعل، وأن التداوى أيضاً من قدر الله، وهذا كالأمر بالدعاء، وكالأمر بقتال الكفار وبالتحصن ومجانبة الإلقاء باليد إلى التهلكة، مع أن الأجل لايتغير، والمقادير لاتتأخر ولا تتقدم عن أو قاتها، ولا بد من وقوع المقدرات. (تكملة فتح الملهم:۴/ ۳۳۴).

قال الملا على القارى رحمه الله بعد نقل كلام النووى ما نصه: وحاصله أن رعاية الأسباب بالتداوى لا ينافي التوكل كما لا ينافيه دفع الجوع بالأكل وقمع العطش بالشرب ومن ثم قال المحاسبى: يتداوى المتوكل اقتداء بسيد المتوكلين. (المرقاة:۸/ ۳۴۰،ط: امداديه، ملتان).

د ملا قاري رحمه الله د عبارت خلاصه دا ده چي د علاج او معالجې د اسبابو رعايت كول د توكل منافي نه دي او محاسبې څومره ښه ويلي دي چي متوكل سړی دي د سيد المتوكلين په اقتداء كي علاج وكړئ.

په عجوه خورما سره د زهرو د علاج كولو حكم

سوال: په احاديثو كي يې عجوه خورما د زهرو علاج بللى دئ د زهرو د خوړلو وروسته په عجوه سره علاج كېدلای سي او يا دا چي كه يو څوک عجوه خوري، نو پر هغه زهر اثر نه كوي؟

الجواب: د عاجز بنده خيال دا دئ چي خورما پر قوي اجزاؤ مشتمله ده او په هغې كي هر ډول ويټامن موجود دي او په عجوه كي تر ټولو قوي اجزاوي موجودي دي او پر هغې باندي په دوام كولو سره همېشه قوت راځي او سهار په تش نس په خوړلو سره دوچنده قوت راځي دا ځكه چي نس خالى وي او د دې څخه پرته د نبي كريم ﷺ په فرمان سره په دې كي زيادت راځي، نو په هوا كي چي كوم اثرات او جراثيم گرځي، نو د خورما په خوړلو سره هغه اثر نه كوي، همدا رنگه سحر او جادو پر كمزوري سړي اثر كوي پر قوي سړي يې نه سي كولای، البته پر نبي كريم ﷺ يې يو ځل اثر وكړئ هغه له دې امله څخه ؤ چي كله د سحر د تاثير معلومات وسي او د هغه څخه د ځان ساتلو تدابير ونيول سي، همدا رنگه د نبي كريم ﷺ بشريت واضح سي چي دی معبود نه دئ په هر صورت خو د دې حديث مطلب دا نه دئ چي خورما خوره، نو ركه د زهرو پيچكارئ ولگوي هم اثر نه كوي.

دعجوه خورما د فضيلت په اړه يو څو روايات وگورئ:

عن عامر بن سعد بن أبی وقاصٍ عن أبيه أن رسول الله ﷺ قال: من أكل سبع تمراتٍ مما بين لابتيها حين يصبح لم يضره سم حتى يمسي. وفي رواية عنه يقول: سمعت رسول الله ﷺ يقول: من تصبح بسبع تمرات عجوة لم يضره ذلک اليوم سم ولا سحر. (رواهما مسلم، رقم: ٢٠٤٧، والبخاری: ٢/ ٨١٩، باب العجوة).

وعن عائشة رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ قال: إن في عجوة العالية شفاء أو أنها ترياق أول البكرة. (رواه مسلم، رقم: ٢٠٤٨).

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: العجوة من الجنة وفيها شفاء من السم. (رواه الترمذی، رقم: ٢٠٦٦، وقال: هذا حديث حسن).

حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد را نقل کړی دئ، هر چا چي سهار اوه داني عجوه خورماوي وخوري، نو هغه ته په دغه ورځ کي زهر او جادو هيڅ تاوان نه رسوي.

او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه، حضرت جابر رضي الله عنه او ابو سعيد خدری رضي الله عنه څخه روايت سوی دئ چي دا د جنت مېوه ده او د زهرو له پاره هم شفاء ده.

د حديث شريف په شرح کي علامه عيني رحمه الله فرمايي:

وقال الخطابي: كونها عوذة من السحر والسم إنما هو من طريق التبرك لدعوة سلفت من النبي ﷺ فيها، لا لأن من طبع التمر ذلك. وقال النووي: تخصيص من عجوة المدينة وعدد السبع من الأمور التي علمها الشارع ولا نعلم نحن حكمتها فيجب الإيمان بها وهو كأعداد الصلوات ونصب الزكاة، وقال المظهر: يجوز أن يكون في ذلك النوع منه هذه الخاصية ... وعن شهر بن حوشب عن أبي سعيد رضي الله عنه وأبي هريرة رضي الله عنه رفعاه: العجوة من الجنة وفيها شفاء من السم... وقال الطيبي: في قوله صلى الله عليه وسلم: من عجوة المدينة تخصيص

المدينة أما لـما فيها من البركة التي حصلت فيها بدعائه أو لأن تـمرها أوفق لـمزاجه من أجل قعوده بـها. (عمدة القاری:۱۴/ ۴۴۶، باب العجوة، ط: دار الحديث، ملتان).

په تكمله فتح الملهم كي راځي:

وقد وجهه بعضهم بأن السم والسحر إنما يضران لبرو دتـهما، فإذا داوم الرجل على التصبح بالعجوة تـحكمت فيه الحرارة، فتقاوم برودة السم، وأطال في ذلک عياض، كما في شرح الأبي، وقال ابن القيم: والتمر في الأصل من أكثر الثمار تغذية لـما فيه من الجوهر الـحار الرطب، وأكله على الريق يقتل الديدان لـما فيه من القوة الترياقية، فإذا أديم أكله على الريق جفف مادة الدود وأضعفه وقتله. (تكملة فتح الملهم:۴/ ۵۲، باب فضل تمر المدينة).

وللمزيد راجع: (فتح الباری:۱۰/ ۲۳۸- ۲۴۰، باب الدواء بالعجوة للسحر، والمرقاة:۸/ ۱۷۴،ط: امداديه، ملتان، والطب النبوی، ص: ۲۸۹). والله ﷻ اعلم.

د مريض شخه د تنفس د آلاتو د لېري کولو حکم

سوال: کله کله چې يو شوک مرګ ته نژدې سي، نو د هغه د زړه د حرکت له پاره مصنوعي آلات ايښول کيږي، نو که دغه آلات لېري سي، نو د زړه حرکت يې بند سي د مړي په ډول سي، نو آيا د دغو آلاتو لېري کول روا دي او که نه؟ او آيا دغه د قتل په حکم کي دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مريض شخه د مصنوعي آلاتو د لېري کولو او نه لېري کولو تفصيل دلاندي تحقيق په رڼا کي وګورئ:

(۱) د ډاکټرانو په آند چي کله د زړه حرکت مکمل ختم سي او دماغ (cerebrum) او جذع المخ (brain stem) خپل افعال پريږدي، نو دې ته دماغي موت (brain death) يا مرګ وېل کيږي.

په ټولو رئيسي اعضاؤ کي د دماغ لوی اهميت دئ دماغ د عصبي نظام د کنټرولولو سره سره تنفس او حرکت قلب هم د ده تابع دي.

د عصبي نظام څلور برخي دي:

(الف) المخ: (cerebrum) د عصبي نظام يو لويه برخه ده پر هغه مشتمله ده له دې ځاى څخه سوچ يادابنت احساس او د جسم د مختلفو اعضاؤ حركات او نور داسي كارونه تر سره كيږي چي انسان په خپل اختيار سره هغه انجامولاى سي.

(باء) المخيخ: (cerebellum) دماغي نظام لس فيصده برخه پر دې مشتمله ده د هغه كار دا دئ چي د جسم توازن پر خپل حال برقرار ساتي.

(جيم) جذع المخ: (brain stem) دا دماغ د حرام مغز سره موښلوي د دې كار تنفس اخيستل او حركت قلب او دويني د فساد كنټرول وي.

(دال) حرام مغز: (spinal cord) دانساني جسم د احساس او حركت پيغام دماغ ته رسوي.

نو هر كله چي د مخ يا مخيخ موت واقع سي، نو د انسان په غير عادي توګه ژوندى پاته كېدل ممكن دي مګر كه د جذع المخ مرګ واقع سي، نو دې ته حقيقي مرګ ويل كيږي چي د هغه د ښكاره علامو څخه يو څو په لاندي ډول دي:

(١) د ستركو د پوستو كو بې حس او بې حركته كېدل او د ديد ختمېدل.

(٢) د نفس په مكمله توګه بندېدل.

(٣) د زړه د حركت په مكمله توګه بندېدل او د دې څخه پرته په طبي آلاتو سره د مرګ تعين او تيقن كېدل او داسي نور....

مګر د فقهاؤ په آند د بدن څخه د روح جلا كېدلو ته مرګ ويل كيږي يعني چي د جسم په اعضاؤ كي ژوند پاته نه سي.

په حديث شريف كي چي په كوم ځاى كي د كافر او مؤمن د مرګ احوال ذكر سوي دي په هغه ځاى كي دې طرف ته اشاره سوې ده، مثلا د مؤمن روح په اساني سره وزي او د كافر روح په سختي سره وزي له دې څخه معلوميږي چي د جسم څخه د روح جلا كېدلو ته مرګ وايي، نو د همدې صورت په اعتبار كولو سره د فقهاؤ په آند د مريض درې حالتونه دي:

(١) چي په دې آلاتو سره مريض خپل طبعي حالت ته راسي، نو په دې صورت كي دي آلات ورڅخه جلا كړي ځكه چي مريض د خطر څخه محفوظ سو.

(٢) كه د آلاتو سره سره حركت او ساه دواړه بند سي، نو اوس په مكمله توګه د مريض مرګ واقع سو، نو ځكه ډاكتر ته دي د آلاتو د پورته كولو امر وكړل سي.

(۳) که د دماغي مرگ علامې ښکاره سي مثلاً لکه بې هوښه، بې حرکته او بې حيسه کېدل او داسي نور مګر د آلاتو په ذريعه يې زړه ته حرکت ورکړئ دغه درېم صورت د نظر خای دئ.

نو که د شرعي نظره ورته وکتل سي، نو په کوم سړی کي چي لاندي علامې موجود سي، نو هغه مړ دئ.

(الف) چي د زړه حرکت او ساه په مکمله توګه بند سي او ماهر ډاکتر دا ووايي، چي د ده راګرځېدل ممکن نه دي.

(باء) د دماغ ټول وظائف کار پرېږدې او ماهر ډاکتران فيصله وکړئ چي د ده دماغي مرګ واقع سو.

نو په دې صورت کي د تنفس آلات لېري کول روا دي، نو پر دې سړی د مړي احکام جاري کېږي.

(۲) دوهمه وجه: که چيري ماهر ډاکتر مشوره ورکړي چي په خپله ژوندی نه سي پاته کېدلای، خالي د آلاتو په ذريعه حرکت کوي، نو په همدې صورت کي آلاتو لېري کول روا دي او دا د قتل په حکم کي هم نه دئ ځکه چي دا هم د علاج او معالجې په حکم کي داخل دي او علاج او معالجه فرض يا واجب نه ده، خو دا په هغه وخت کي ده چي د هغه څخه د شفاء يقين او يا غالب ګمان نه وي. که نه، نو واجب او په پرېښودلو سره ګناه ګار کېږي لکه څنګه چي تېر سو او د سوال صورت کي خو علاج بالکل نه سته بلکي مرګ يقيني دئ.

په محيط برهاني کي راځي:

وفي النوازل: الرجل إذا ظهر به داء، فقال له الطبيب: قد غلبك الدم فأخرجه، فلم يخرجه حتى مات لا يكون مأخوذاً؛ لأنه لا يعلم يقيناً أن الشفاء فيه، وفيه أيضاً: استطلق بطنه، أو رمدت عينه، فلم يعالج حتى أضعفه ومات بسببه لا إثم عليه؛ فرق بين هذا وبينما إذا جاع ولم يأكل مع القدرة على الأكل حتى مات فإنه يأثم، والفرق: أن الأكل قدر قوته فيه شفاء يتعين، فإذا تركه صار مهلكاً نفسه، ولا كذلك المعالجة. (المحيط البرهاني: الفصل التاسع عشر فی التداوی من كتاب الاستحسان: ۶/ ۱۱۷). (وكذا فی الفتاوی الهندية: ۵/ ۳۵۴، الباب الثامن عشر فی التداوی).

وللاستزادة انظر: (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية:٣/ ٤٠٣، والفتاوى السراجية، ص: ٣٣٢).

الكيسانيات في الجراحات المخوفة والقروح العظيمة والحصاة الواقعة في المثانة ونحوها إن قيل قد ينجو وقد يموت أو ينجو ولا يموت يعالج وإن قيل لا ينجو أصلًا لا يداوى بل يترك كذا في الظهيرية. (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٦٠).

په فقه المشكلات كي رائحي:

أما الصورة الأخيرة وهى التى يبقى فيها التنفس بأجهزة النعاش الصناعية فالظاهر أنه تكلف محض وحياة اصطناعية، فلسنا مكلفين بإبقائها شرعاً، فيجوز نزع مثل تلك الأجهزة والآلات. (فقه المشكلات، ص ١٨٥، مرتبه: قاضى مجاهد الاسلام قاسمى، صاحب).

(٣) دريمه وجه: د قريب مرګ سره د شريعت معامله دا ده چي پر هغه بايد ياسين شريف ويل سي تر څو چي يې مرګ آسانه سي او د دې تكليفونو څخه ژر خلاص سي، معلومه سوه چي د قريب موت د مرګ د آساني صورتونه پيدا كول مطلوب دي او آلات پورته كول همدا رنګه دي.

وګورئ: ابن كثير رحمه الله فرمايي:

قال بعض العلماء: من خصائص هذه السورة: أنها لا تقرأ عند أمر عسير إلا يسره الله، وكأن قراءتها عند الميت لتنزل الرحمة والبركة، وليسهل عليه خروج الروح. والله أعلم. قال الإمام أحمد، رحمه الله: حدثنا أبو المغيرة، حدثنا صفوان قال: كان المشيخة يقولون: إذا قرئت يعني يس عند الميت خفف عنه بها. (تفسير ابن كثير:٣/ ٦١٩).

په تفسير الدر المنثور كي رائحي:

وأخرج ابن مردويه والديلمي عن أبي الدرداء رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ما من ميت يقرأ عنده يس إلا هون الله عليه. وأخرج أبو الشيخ في فضائل القرآن والديلمي من حديث أبي ذر رضي الله عنه، مثله. وأخرج ابن سعد وأحمد في مسنده عن صفوان بن عمرو قال: كانت المشيخة

يقولون :...وأخرج البيهقي في شعب الإيمان عن أبي قلابة قال: من قرأ يس غفر له، ومن قرأها عند طعام خاف قلته كفاه، ومن قرأها عند ميت هون عليه، ومن قرأها عند امرأة عسر عليها ولدها يسر عليها ومن قرأها فكأنما قرأ القرآن إحدى عشرة مرة، ولكل شيء قلب وقلب القرآن يس. (الدر المنثور:٧/ ٣٨،، ٣٩).

په معارف القرآن کي حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايلي دي:

د ابو ذر ﷺ څخه روايت دئ چي پر کوم مړي چي ياسين وويل سي، نو د هغه د مرګ په وخت کي د آساني معامله کيږي. (رواه الديلمى وابن حبان مظهرى).

په فتاوى شامي کي راځي:

هو استحسان بعض المتأخرين (أى قراءة سورة الرعد) لقول جابر ﷺ أنها تهون عليه خروج روحه. (فتاوى الشامي:٢/ ١٩١، سعيد).

په التلخيص الحبير کي راځي:

في فتح العزيز شرح الوجيز... استحب بعض التابعين قراءة سورة الرعد... والمبهم المذكور هو أبو الشعثاء جابر بن زيد صاحب ابن عباس ﷺ، أخرجه أبو بكر المروزى في كتاب الجنائز له وزاد فإن ذلک تخفيف عن الميت. (التلخيص الحبير:٥/ ١١٣).

(۴) څلورمه وجه: د مصنوعي آلاتو لګول خپله يو احسان دئ او د هغه لېري کول ترک د احسان دي او د قاعده ده چي ((ترک الإحسان لايكون إساءة)) يعني احسان پرېښودل څه بد کار نه دئ.

په قواعد الفقه کي راځي:

ترک الإحسان لا يكون إساءة: فمن مر بامرأة وصبي فى المفازة وهو يقدر على نقله إلى العمران فلم يفعل لم يكن ضامناً شيئاً من بدله. (قواعد الفقه، ص: ٧٠).

د مجمع الفقهي الاسلامي فيصله:

المجمع الفقهي الاسلامي پر دغه موضوع فکر وکړئ چي آیا د طبي آلاتو په ذریعه د ژوند یقین کېدلای سي او په ډېر سخت حالت کي د دغو د لېري کولو څه حکم دئ؟ په اجلاس کي د سعودي عرب د وزارت صحت او د ماهره ډاکترانو د طرفه پر شفائي او تحریري بیانو او آرائو غور وکړل سو او په دغه اجلاس کي د عمان او اردن (فیصله لمبر ۵ مورخه ۳/ ۷/ ۱۹۸۶) فیصله هم تر نظر تېره سوه.

د موضوع پر ټولو اطرافو د فکر کولو وروسته المجمع الفقهي لاندي فیصلې وکړئ:

د کوم مریض د ژوند د جاري ساتلو له پاره چي کوم آلات لګېدلي وي، نو که د هغه د دماغ کار مکمل ختم سي او درې ماهره او تکړه ډاکتران پر دې خبره سره متفق سي چي اوس دغه کار خپل ځای ته بېرته نه سي راګرځېدلای، نو د دې مریض د جسم څخه د دې آلاتو لېري کول روا دي که څه هم په هغه کي د دې آلاتو له امله یو څه حرکت ؤ او د تنفس نظام یې قائم ؤ خو د مریض مرګ شرعا د هغه وخته څخه بلل کیږي چي کله د دغو آلاتو د لېري کولو وروسته زړه او تنفس خپل کار بند کړي.

(عصر حاضر کی پیچیدہ مسائل کا شرعی حل، مرتب قاضی مجاهد الاسلام قاسمی صاحب،ص ۱۸۵، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

القاء الأضواء علي زرع الأعضاء

د اعضاؤ د پیوند کاري شرعي حکم

سوال: علماءاو مفتیان کرام په دې کي څه وايي، که د یو چا د سترګو دید ختم سي او یا یې ګردي (پښتورګي) ختمي سي او یا یې د یو بل اندام ضرورت وي، نو د یو بل انسان دا هغه لګولای سي او که نه؟

جواب: په دې مسئله کي د علماؤ اختلاف دئ ځیني حضرات وروسته د یو څو شرائطو د دې د جواز قائل دي او ځیني نور بیا منع کوي د هریوه دلائل په لاندي ډول دي:

د عدم جواز والا دلائل:

د مانعینو اول دلیل او د هغه جواب:

الله ﷻ انسان معزز او مکرم پیدا کړی دئ، نو د هغه د اعضاؤ په قطع کولو کي د هغه اهانت راځي، نو ځکه په حرمت او اعزاز کي د ژوندي او مړه سره یو ډول معامله ده، نو ځکه که مړ وي که ژوندي وي د یوه د عضوی استعمالول روا نه دي.

په قرآن كريم كي آيت شريف دئ:

﴿ولقد كرمنا بني آدم وحملناهم في البر والبحر﴾. (سورة بنى اسرائيل، الآية: ٧٠).

په حديث شريف كي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ لعن الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة. (صحيح مسلم: ٢/ ٢٠٤، ط: فيصل).

تر دغه حديث شريف لاندي امام نووي رحمه الله ليكلي دي:

وقد فصله أصحابنا فقالوا: إن وصلت شعرها بشعر آدمي فهو حرام بلا خلاف ، سواء كان شعر رجل أو امرأة ، وسواء شعر المحرم والزوج وغيرهما بلا خلاف لعموم الأحاديث ، ولأنه يحرم الانتفاع بشعر الآدمي وسائر أجزائه لكرامته ، بل يدفن شعره وظفره وسائر أجزائه. (الشرح الكامل للامام النووى: ٢/ ٢٠٤).

په يو بل حديث شريف كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ قال: كسر عظم الميت ككسره حياً. (رواه ابو داود، رقم: ٣٣٠٧، وابن ماجه، رقم: ١٦١٦، وغيرهما).

همدا رنګه فقهاء د انساني اعضاؤ د اعزاز او اكرام په وجه د هغو څخه د انتفاع او تجارت منع كړې ده.

د هدايې مصنف رحمه الله فرمايي:

لا يجوز بيع شعر الإنسان ولا الانتفاع به لأن الآدمي مكرم لا مبتذل ولا يجوز أن يكون شيء من أجزائه مهاناً مبتذلاً. (الهداية: ٣/ ٣٩).

په شرح السير الكبير كي راځي:

والآدمي محترم بعد موته على ما كان عليه في حياته فكما لايجوز التداوي بشيء من الآدمي الحي إكرامًا له فكذلك لا يجوز التداوي بعظم الميت. قال صلى الله عليه وسلم: كسر عظم الميت ككسر عظم الحي. (شرح السير الكبير: ١/ ٩٠).

وللاستزادة انظر: (بدائع الصنائع: ٥/ ٣٣١، سعيد، والعناية مع الهداية: ١/ ٨٢، ط: رشيديه، والفتاوى الهندية: ٥/ ٣٥٤).

د جواز حضراتو د پورتنيو دلائلو لاندي جوابونه ورکړل:

په جديد فقهي مباحث کي حضرت مولانا خالد سيف الله صاحب تفصيلي بحث کړی دئ ديو څه زيادتـه سره يې وګورئ:

داعضاؤ د پيوند کاري په مسئله کي دوې خبري قابل غور دي (١) په دغه ترقي يافته دور کي د انساني اعضاؤ پيوند کاري د هغه په اهانت کي داخل دي او که نه؟

(٢) دانساني روح د حفاظت له پاره د ده اهانت کېدلای سي او که نه؟

څنګه چي د اولي خبري په اړه سوال دئ چي شريعت مطهره انسان مکرم او مشرف ګرځولی دئ، نو له همدې امله يې د هغه اهانت روا بللي نه دئ مګر کتاب او سنت د تکريم او اهانت په سلسله کي هيڅ حدود نه دي مکرر کړي او د اهل علم په نظر کي دا پټ نه دي يعني چي په نصوصو کي د کومو امورو ذکر نه وي سوي او قطعي فيصله يې نه وي کړي، نو د انساني عرف او عادت څخه د هغه وضاحت کيږي لکه څنګه چي ډاکټر وهبه زحيلی رحمه الله د مختلفو فقهاؤ پر نظرو د بحث کولو په وخت کي داسي ليکلي دي:

قال الفقهاء أيضاً كل ماورد به الشرع مطلقاً ولا ضابط له فيه ولا فى اللغة يرجع فيه إلى العرف كالحرز فى السرقة.

بيا په دې کي هيڅ شک نه سته چي د عرف او عادت ځيني صورتونه د زمانې او علاقې په بدلون سره بدلېږي.

امام ابو اسحاق شاطبی رحمه الله فرمايي:

والمتبدلة منها ما يكون متبدلا في العادة من حسن إلى قبح، وبالعكس، مثل كشف الرأس، فإنه يختلف بحسب البقاع في الواقع، فهو لذوي المروءات قبيح في البلاد المشرقية، وغير قبيح في البلاد المغربية، فالحكم الشرعي يختلف باختلاف ذلك، فيكون عند أهل المشرق قادحاً في العدالة، وعند أهل المغرب غير قادح. (الموافقات:٢/ ٤٨٩، ط: دار ابن عفان).

فقهاؤ د انسان د اجزاء ځخه نفع اخيستل ځکه منع کړې ده او دا له دې امله هم وو چې په هغه زمانه کې د انساني اعضاؤ ځخه نفع اخيستل د هغه توهين بلل کېدئ او په هغه زمانه کې داسي طريقې رواج هم نه وې او زموږ په زمانه کې دغه عمل د انسان توهين نه بلل کيږي، نو که يو ځوک خپل يو اندام بل چا ته ورکړئ، نو نه هغه ديو اهانت احساس کوي او نه خلک دا اهانت په سترګه ورته ګورئ بلکې د هغه په قدر او عزت کې نور زياتوالی راځي او دا د انسان نوازې يو دليل بلل کيږي.

بيا په موجوده زمانه کې د انسان د اجزاؤ ځخه د نفع اخيستلو داسې طريقې ايجاد سوي دي کومې چې د اهانت مستلزمې نه دي او نه په عرف کې هغه اهانت بلل کيږي په دغه سلسله کې د فقهې د نظائرو په مخکې اېښولو سره دا معلوميږي چې د انساني روح د تحفظ له پاره د قابل احترام شيانو اهانت هم کېدلای سي.

علامه سمر قند رحمه الله پر يو خاص مسئله د بحث کولو په وخت کې چې په کومو استدلال کړی دئ هغه دا دئ چې د يوه انسان د بقاء له پاره د يو بل تکريم نظر انداز کېدلای سي.

لکه ځنګه چې فرمايي:

ولو أن حاملاً ماتت وفي بطنها ولد يضطرب فإن كان غالب الظن أنه ولد حي وهو في مدة يعيش غالباً فإنه يشق بطنها لأن فيه إحياء الآدمي بترك تعظيم الآدمي وترك التعظيم أهون من مباشرة سبب الموت. (تحفة الفقهاء:٣/ ٣٤٥).

محقق ابن همام رحمه الله فرمايي:

إبطال حرمة الميت لصيانة حرمة الحي يجوز. (فتح القدير:٢/ ١٤٢، دار الفكر).

يعني د مړي د حرمت ابطال د ژوندي د حفاظت له پاره روا دئ.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (البحر الرائق: ۲/ ۲۰۳، بیروت، والفتاوی الهندیة: ۱/ ۱۵۷، و ۵/ ۳۶۰، وبدائع الصنائع: ۵/ ۱۳۰، سعید، وتحفة الملوک، ص: ۲۳۹، بیروت، ومجمع الانهر: ۱/ ۲۷۶، بیروت، والموسوعة الفقهية الکویتية: ۱۶/ ۱۲۰، والکویت).

که چیري ښځه مړه سي او د آثارو څخه معلومېده چي کوچني يې په نس کي ژوندی دئ، نو فقهاؤ د ښځي د اپریشن اجازه ورکړې ده او دلیل يې دا ويلي دئ چي دلته د مړي تعظيم د يو نفس د بقاء له پاره پرېښودل کيږي.

علامه ابن نجیم رحمة الله علیه فرمايي:

لأن ذلک تسبب في إحياء نفس محترمة بترک تعظیم المیت فالإحیاء أولی. (البحر الرائق: ۸/ ۲۰۵، کوئته).

علامه ابو بکر کاساني رحمة الله علیه همداسي فرمايي:

لأنا ابتلینا ببلیتین فنختار أهو نهما وشق بطن المیتة أهون من إهلاک الولد الحی. (بدائع الصنائع: ۵/ ۱۳۰، سعید).

يعني که يوه طرفته د مړي تعظيم وي خو بل طرفته د ژوندي روح په خطر کي دئ، نو بايد د ژوندي د روح د ساتلو خيال وساتل سي که څه هم د مړي د يو جزاء اتلاف راځي.

په الموسوعه کي يې دا د جمهورو علماؤ طرفته منسوب کړې ده:

ذهب جمهور الفقهاء إلی أن الحامل إذا ماتت وفي بطنها جنین حي يشق بطنها ويخرج ولدها، لأنه استبقاء حي بإتلاف جزء من میت. (الموسوعة: ۱۶/ ۱۲۰، ط: وزارة الاوقاف).

همدا رنګه فقهاؤ د دې مسئلې په اړه يو بله مسئله کي هم بحث کړی دئ چي مجبوراً يو انسان ته د خپل روح د ساتلو له پاره ويلای سي او که نه؟

او حسن علي شاذلی په خپل کتاب ((حکم نقل اعضاء الإنسانی فی الفقه الإسلامی)) کي دغه مسئله په عنوان د ((حکم الانتفاع بمیتةالإنسان)) (از ص ۵۰ تر ۵۴) په ډېر لوی تفصیل سره

راصحه کړې ده او د څلورو مذاهبو په رڼا کې يې احکام بيان کړي دي. د تفصيل له پاره داصل کتاب مراجعه غوره کار دئ، البته يو څه خلاصه په لاندې ډول ده:

...وإن وجد معصوماً ميتاً لم يبح أكله في قول أصحابنا (أى الحنابلة) وقال الشافعي رحمه الله عليه وبعض الحنفية يباح، وهو أولى، لأن حرمة الحي اعظم...

الترجيح: والذي أرجحه هو جواز الانتفاع بأجزاء الآدمي الميت عند الضرورة سواء كان معصوماً أو غير معصوم، إحياء للنفس الآدمية ومداً الأسباب البقاء لها،... وبخاصة أن النفس الميتة إن لم ينتفع بها تحللت وصارت تراباً.... فإنقاذ نفس حية بشيء من نفس ميتة حفاظ على النفس، وإحياء لها، هو هدف مشروع، ومصلحة مقررة شرعاً ومعتد بها فضلاً عن أن رعاية مصلحة الحي في امتداد حياته، أولى من رعاية مصلحة الميت في عدم المساس بجسمه، إذ جسمه إلى تحلل وإلى فناء. (حكم نقل اعضاء الانسانى فى الفقه الاسلامى، ص: ۵۲و ۵۴).

د بغداد مفتي علامه الوسي فرمايي:

واستدل بعموم الآية على جواز أكل المضطر ميتة الخنزير والآدمي، خلافاً لمن منع ذلک. (روح المعانی:۲/ ۴۲).

علامه سيد احمد طحطاوي رحمه الله عليه فرمايي:

قوله لحم الإنسان، لأن لحم الإنسان حرام لحق الشرع وحق العبد والصيد حرام لحق الشرع لا غير فكان أخف زيلعى، قال فى النهر والكلام فيما هو الأولى حتى لو تناول من لحم الإنسان جاز أبو السعود. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۵۲۸).

(وكذا فى فتح المعين لابى السعود۱/ ۵۳۴، والنهر الفائق السراج الدين ابن نجيم:۲/ ۱۴۲).

د پورتنیو عباراتو څخه معلومیږي چي ځیني فقهاؤ اجازه ورکړې ده دا له دې امله چي د ژوندي حرمت تر مړي زیات دئ.

مګر ځیني حضراتو د هغه چا له پاره چي د لوږي څخه مرګ ته رسېدلي وي د انسانانو د غوښو د پرېکولو او خوړلو څخه منع کړې ده او علامه شامي رحمه الله د دې علت د بني آدم کرامت ذکر کړي او که په ښه نظر سره ورته وکتل سي، نو همدغو فقهاؤ د کوچني د ژوند له پاره د ښځي د نس د پرېکولو او د بل په تېرولو سره هم د نس د پریکولو او د زیاته ګوتو د پرېکولو اجازه ورکړې ده په دې کي په ځیني کي هیڅ ضرورت هم نه سته بلکي د تزیین له قبیل څخه دي همدا رنګه د انسان د غوښو پرېکول او هغه ټوټه ټوټه کول د انساني کرامت خلاف کار دئ مګر د یو مړه انسان یو اندام د اپریشن په ذریعه په احترام او احتیاط سره پرې کول او بل ځای یې استعمالول دا کار د کرامت خلاف بلل محل نظر دئ.

په درمختار کي راځي:

يقدم الميتة على الصيد والصيد على مال الغير ولحم الإنسان ، قيل: والخنزير ؛ ولو الميت نبيا لم يحل بحالٍ. وفي رد المحتار: قوله ولحم الإنسان أى لكرامته، ولأن الصيد يحل في غير الحرم أو في غير حالة الإحرام، والآدمي لايحل بحال. (الدر المختار مع رد المحتار:٢/ ٥٦٢، ٥٦٣، سعيد).

وينظر: (التحرير المختار على رد المحتار:٢/ ١٦٥، سعيد، وتبيين الحقائق:٢/ ٦٨، ط: امداديه، ملتان، والفتاوى الهندية:٥/ ٣٦٠، والدر المختار مع رد المحتار:٢/ ٢٣٨، سعيد، وبدائع الصنائع:٥/ ١٣٠، سعيد).

د حدیث شریف ((لعن الله الواصلة)) .....د دې جواب:

مولانا خالد سیف الله صاحب فرمایې، چي په دې یې د انسان د داسي اعضاء څخه منع کړې ده چي هغه ته ضرورت نه وي بلکي خالی د انسان د آرائش او ښایست د جذباتو آرامي ورڅخه مقصد وي.

همدا رنګه هغه حديث: ((كسر عظم الميت ككسر عظم الحى)) پر عامو حالاتو محمول دئ چي كله انساني ضرورت په هغه پوري متعلق نه وي، نو ځكه حقيقت دا دئ د انسان د اجزاء څخه د نفع اخيستلو پرحرمت يو صريح او غير محتمل نص موجود نه سته.

همدا رنګه دكتور رفاعي عبيد فرمايي:

أما حديث رسول الله ﷺ: «كسر عظمة الميت ككسره حياً» فمعناه أن للميت حرمة وكرامة كحرمة الحي، فلا يتعدى شخص آخر على جسم هذا بكسر عظمه لغير مصلحة، وكذلك بغير إذن من الميت أو ورثته لو الولى فهذا فيه ابتذال ومهانة للميت لغير مصلحة راجحة. وجاء في سبب هذا الحديث أن الحفار الذى كان يحفر القبر أراد كسر عظم إنسان دون أن تكون هناك مصلحة. (البيان فى التبرع بعضومن الاعضاء، للشيخ صفوت جودة احمد،ط: مكتبة القاهرة، ص: ٣٩).

(۲) د مانعينونور دلائل او د هغه جواب:

انسان د خپلو اعضاؤ مالک نه دئ:

قال النبي ﷺ.... ومن قتل نفسه بشيء عذب به في نار جهنم ... ويؤخذ منه ان جناية الإنسان على نفسه كجنايته على غيره في الإثم لأن نفسه ليست ملكاً له مطلقاً بل هي لله تعالى فلا يتصرف فيها الا بما اذن له فيه. (فتح الباري: ١١/ ٥٣٩، ط: لاهور).

عن جابرٍ رضي الله عنه أن الطفيل بن عمرٍو الدوسى رضي الله عنه أتى النبى ﷺ...هاجر النبى ﷺ إلى المدينة هاجر إليه الطفيل بن عمرٍو رضي الله عنه وهاجر معه رجل من قومه فاجتووا المدينة فمرض فجزع فأخذ مشاقص له فقطع بها براجمه فشخبت يداه حتى مات فرآه الطفيل بن عمرٍو رضي الله عنه فى منامه فرآه وهيئته حسنة ورآه مغطيًا يديه فقال له: ما صنع بك ربك فقال: غفر لى

بهجرتی إلی نبیه ﷺ فقال: ما لی أراك مغطیًا یدیك قال: قیل لی: لن نصلح منك ما أفسدت. (رواه مسلم، رقم: ۱۱۶).

د فتح الباري د عبارت څخه داسي استدلال کوي لکه څنګه چي د ژوندي انسان پرېکول ناروا دي همداسي د مړي پرېکول هم ناروا دي، همدا رنګه د انسان په اعضاؤ سره تداوي هم ناروا ده.

جواب: د دې جواب دا ورکولای سو چي په انساني جسم کي تصرف هغه وخت ناروا دئ چي هغه د زیب او زینت له پاره وي او په هغه کي د هلاکت نفس قوی امکان وي.

خو د فقهاؤ د عباراتو څخه معلومیږي چي د ضرورت په وخت کي د انسان په جسم کي تصرف کېدلای سي.

(۱) د کوچني د ژوند په امکان سره د مور نس ورپرې کول د دې بیان مخکي تېر سو.

(۲) که یو سړی د یو چا قیمتې مال تېر کړي، نو د ده د نس په څیرلو کي دوه قوله دي ابن همام رحمه الله څیریدو ته ترجیح ورکوي:

ولو بلع مال غیره ومات هل یشق قولان والأولی نعم، فتح. قوله والأولی نعم، لأنه وإن کان حرمة الآدمي أعلی من صیانة المال لکنه أزال احترامه بتعدیه کما في الفتح. (الدر المختار مع رد المحتار: ۲/ ۲۳۸، سعید، وفتح القدیر: ۲/ ۱۴۲، دار الفکر).

(۳) فقهاء فرمایي، که د یو چا یو ګوته زیاته وه، نو هغه ورڅخه پرې کولای سي په دې شرط چي د هلاکت خطر نه وي.

په عالمګیري کي وګورئ:

إذا أراد الرجل أن یقطع إصبعًا زائدةً أو شیئًا آخر قال نصیر رحمه الله تعالی: إن کان الغالب علی من قطع مثل ذلك الهلاك فإنه لا یفعل وإن کان الغالب هو النجاة فهو في سعةٍ من ذلك. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۶۰).

په ښکاره له دې جزئې څخه خالی د زینت له پاره جواز معلومیږي، نو د ضرورت او یا د ضرورت شدیده په وخت کي په درجه اولی سره باید روا سي. بیا خپله د فتح الباری د عبارت ((فلا یتصرف

فیها إلا بما أذن له فیه)) څخه معلومیږي چي هغه تصرف ممنوع دئ چي په هغه کي فائده نه وي او په هغه کي د هلاکت خطر وي.

د دې څخه پرته د مانعینو څخه اکثره د ویني د ورکولو قائل دي بلکه اوس پر دې اتفاق سوی دئ که د انسان د جزء څخه نفع مطلق توهین وبلل سي، نو باید دا هم ناروا وبلل سي ځکه چي په جزء انسانیت کي دواړه سره یو دي که څه هم ځیني حضراتو فرق بیان کړی دئ چي ویني د شیدو په ډول دي مگر دا محل د نظر دي چي وینه ناپاکه او شیدې حلالی دي.

دزیات تفصیل له پاره وگورئ: (جدید فقهی مباحث: ۲۰۶، ۲۰۷).

او دا خبره چي انسان د خپل جسم مالک نه دئ، نو ځکه پوره تصرف نه سي کولای د دې سره متعلق ځیني حضراتو لاندي جوابونه ویلي دي:

ولا یقال: إن جسد الإنسان لیس ملکاً له، وإنما هو ملک الله تعالٰی، ومادام الأمر کذلک فلا یصح للإنسان أن یتصرف فیما لایملکه بالبیع ولا بالتبرع. فالکون کله ملک الله تعالٰی ولیس جسد الإنسان وحده، ومع ذلک فقد أباح الله سبحانه، للناس أن یتصرفوا فیما یملکه عزوجل بالطریقة التي ترضیه، ولا شک أن فضیلة الإیثار ودفع الأذی عن الغیر علی رأس الفضائل التي یحبها الله عزوجل، ویکا فئ أصحابها بما یستحقونه من ثواب جزیل. (البیان فی التبرع بعضو من الاعضاء، ص ۳۸، ط: مکتبة القاهرة).

ویستمر المؤیدون فیقولون: إن الذی لایملکه الإنسان ولایملک التصرف فیه هو حیاته وروحه ولیس جسده... لذلک فإنه یحرم علیه الانتحار ولایجوز له إلقاء نفسه فی التهلکة إلا لضرورة قصوی وهدف اسمی مثل الجهاد فی سبیل الله والدفاع عن النفس. (نقل الاعضاء الآدمیة بین التحلیل والتحریم، ص: ۸).

إن قضیة التبرع مبنیة علی إسقاط العبد حقه فی العضو والحق أعم من الملک فإذا انتفت ملکیة الإنسان لبدنه وأعضائه لانتفی حقه فیها والتبرع بالعضو لیس من قبیل التملیک حتی

يشترط الملكية بل من قبيل التنازل عن الحق وهو لايستلزم الملكية. (رد شبه المجيزين لنقل الاعضاء من الناحيتين الدينية والطبية، ص: ٣٥).

په حديث شريف كي راځي:

عن شيبان قال سمعت الحسن يقول: إن رجلاً ممن كان قبلكم خرجت به قرحة فلما آذته انتزع سهمًا من كنانته فنكأها فلم يرقإ الدم حتى مات قال ربكم قد حرمت عليه الجنة ثم مد يده إلى المسجد فقال: إى والله لقد حدثنى بهذا الحديث جندب عن رسول الله ﷺ فى هذا المسجد. (رواه مسلم، رقم: ١١٣).

قال الإمام النووى رحمه الله: هذا محمول على أنه نكأها استعجالاً للموت أو لغير مصلحة فإنه لوكان على طريق المداواة التي يغلب على الظن نفعها لم يكن حراماً. (الشرح الكامل على صحيح مسلم: ١/ ٧٢).

د مانعينو دريم دليل او د هغه جواب:

د فقهاؤ د عباراتو څخه معلوميږي چي د مضطر له پاره دا روا ده چي د يو ژوندي انسان عضو پريکړي او وې خوري، همدا رنګه د مکره همدغه حکم دئ.

په بدائع الصنائع کي راځي:

أما النوع الذي لا يباح ولا يرخص بالإكراه أصلًا فهو قتل المسلم بغير حق سواء كان الإكراه ناقصًا أو تاما ؛ لأن قتل المسلم بغير حق لا يحتمل الإباحة بحالٍ...وكذا قطع عضوٍ من أعضائه... ولو أذن له المكره عليه... لايباح له أن يفعل لأن هذا مما لايباح به لإباحة ولو فعل فهو آثم. (بدائع الصنائع: ٧/ ١٧٧، سعيد).

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

لأن حرمة الأعضاء كحرمة النفس ألا ترى أن المضطر كما لا يباح له قتل الإنسان ليأكل من لحمه لا يباح له قطع عضو من أعضاءه. (المبسوط:۲۴/ ۸۸، دار الفكر).

په عالمګیري کي راځي:

مضطر لم يجد ميتةً وخاف الهلاك فقال له رجل اقطع يدي وكلها أو قال اقطع مني قطعةً وكلها لا يسعه أن يفعل ذلك ، ولا يصح أمره به كما لا يسع للمضطر أن يقطع قطعةً من نفسه فيأكل ، كذا في فتاوى قاضي خان .(الفتاوى الهندية:۵/ ۳۳۸).

له دې عباراتو څخه دغه خبره ښکاره کیږي چي د مضطر له پاره د بل د عضو اخیستل روا ده.

جواب: مولانا خالد سيف الله صاحب د دې په جواب کي فرمايي، مګر دې ته به ګورئ چي د پیوند کاري په طریقه کي هلاکت یا ضرر شدید نه وي او د یو چا د غوښي په پرېکولو کي د هلاکت یا ضرر خطر نه وي، همدا رنګه د خپلو اعضاؤ څخه خپله نفع اخیستل روا ده مګر فقهاؤ د مضطر له پاره د خپل جسم څخه د غوښي د خوړلو څخه منع کړې ده لکه څنګه چي د هنديه د عبارت څخه معلومیږي.

ابن قدامه رحمه الله د دې په علت کي پر دغو الفاظو رڼا اچولې ده:

ولنا أن أكله من نفسه ربما قتله فيكون قاتلاً نفسه ولايتيقن حصول البقاء بأكله.

(المغنى:۱۱/ ۷۹، دار الفكر). مستفاد از (جديد فقهى تحقيقات:۵/ ۲۱۰).

محيط مصنف رحمه الله هم د دې علت په لاندي الفاظو سره واضح کړی دئ:

وفي فتاوى أبي الليث: رجل مضطر لا يجد ميتة خاف الهلاك، فقال له رجل: اقطع يدي وكلها، أو اقطع مني قطعة وكلها لا يسعه ذلك؛ لأنه ربما يؤدي إلى إتلافه. (المحيط البرهانى:۶/ ۱۲۷، رشيديه).

(۴) د مانعینو څلورم دلیل او د هغه جواب:

د انسان اعضاء مال نه دئ چي د هغه هبه او وصیت روا او درست سي.

بدائع الصنائع مصنف رحمه الله فرمايي:

ومنها أن يكون مالاً متقوماً فلا يجوز هبة ماليس بمال أصلاً كالحر... (بدائع الصنائع:٦/ ١١٩، سعيد).

د هغه جواب دا دئ چي د انسان د اعضاؤ مال نه کېدل دا مطلق نه دي بلکه په ځینو ځایو کي فقهاؤ هغه مال تسلیم کړی دئ.

په هدایه کي وګوري:

ولأبي حنيفة رحمه الله عليه أن الأطراف يسلك بها مسلك الأموال فيجرى فيها البذل بخلاف الأنفس. (الهداية:٣/ ١٥٨).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو قال اقطع يدي فقطع لا شيء عليه بالإجماع ؛ لأن الأطراف يسلك بها مسلك الأموال، وعصمة الأموال تثبت حقا له ، فكانت محتملةً للسقوط بالإباحة والإذن ، كما لو قال له : أتلف مالي فأتلفه. (بدائع الصنائع:٧/ ٢٣٦، سعيد).

مولانا خالد سیف الله صاحب فرمایي:

شریعت په ځیني ځایو کي د نسان اعضاء مال متقوم بللی دئ او دا په هغه وخت کي دئ کله چي د یو انسان عضو یا انسان هلاک کړل سي دې ته په اصطلاح کي دیت وایي او پر دې خبره هم اتفاق دئ چي د ازاد انسان پوره وجود نه خرڅیږي او د انساني جسم په مختلفو اجزاؤ کي یو وربښتان او شیدې د دې دوو څخه پخوا زمانه کي نفع اخیستل کېده او وربښتان به اکثره د زینت له پاره کېدل، نو فقهاؤ له دې څخه هم منع وکړه او علامه شامي رحمه الله عليه د نوکانو خرڅول هم منع کړي دي.

وكذا بيع ما انفصل عن الآدمی كشعر وظفر لأنه جزء الآدمی ولذا وجب دفنه.

مګر د شیدو په رانیولو او خرڅولو کي د فقهاؤ اختلاف دئ.

د احنافو مذهب:

لم يجز بيع لبن المرأة لأنه جزء الآدمی وهو بجميع أجزاءه مكرم عن الابتذال بالبيع. (البحر الرائق:٦/ ٨٧، کوئټه).

د شافعیه مذهب:

بيع لبن الآدميات جائز عندنا لا كراهة فيه. (المجموع:۹/ ۲۵۴، دار لفكر).

مالكيه مذهب:

فروع:... ويجوز بيع لبن الآدميات لأنه طاهر منتفع به، وأجازه أيضاً الشافعي رحمه الله وابن حنبل رحمه الله ومنعه أبو حنيفة رحمه الله. (مواهب الجليل بشرح مختصر الخليل:۶/ ۶۶).

حنابله مذهب:

فأما بيع لبن الآدميات ، فقال أحمد : أكرهه واختلف أصحابنا في جوازه فظاهر كلام الخرقي جوازه لقوله : «وكل ما فيه المنفعة» وهذا قول ابن حامد ، ومذهب الشافعي وذهب جماعة من أصحابنا إلى تحريم بيعه ، وهو مذهب أبي حنيفة رحمه الله ومالك رحمه الله ...والأول أصح ؛ لأنه لبن طاهر منتفع به ، فجاز بيعه ، كلبن الشاه ، ولأنه يجوز أخذ العوض عنه في إجارة الظئر فأشبه المنافع...وسائر أجزاء الآدمي يجوز بيعها ، فإنه يجوز بيع العبد ، والأمة... وحرم بيع العضو المقطوع ؛ لأنه لا نفع فيه . (المغنى:۴/ ۳۲۹).

له دې ټولو عباراتو څخه معلومیږي چې د فقهاؤ په آند د انسان عضو تر یو حده پوري مال بلل کیږي که څه هم چې دا د احنافو په آند مال نه دئ، خو دلته مسئله د اضطرار او ضرورت شدیده دئ، ((الضرورات تبيح المحظورات)) نو ځکه د ضرورت شدیده په وخت کې یو څو شرائط وروسته خپل عضو ورکول روا دي.

يقول فضيلة الشيخ منصور الرفاعي عبيد: يجوز أن يتبرع إنسان حي بجزء من جسده لايترتب على اقتطاعه ضرر به متى كان ذلك فى صالح الشخص المنقول إليه وبيده، خاصة إذا ما أشار بذلک طبيب، وبحيث لا يؤثر العضو الذى يتبرع به المسلم إلى عجزه أو تشويهه لما جاء فى فقه الزيدية والشافعية أنهما يجيزان أن يقطع الإنسان الحي جزءاً من نفسا

ليأكله عند الضرورة بشرط ألا يجد مباحاً ولا محرماً آخر يأكله ويدفع به مخمصته، وأن يكون الضرر الناشيء من قطع جزئه أقل من اضرر الناشئ من تركه الأكل. (البيان فی التبرع بعضو من الاعضاء، ص: ۳۹).

ويقول صفوت جودة أحمد: حكم التبرع بعضو من الأعضاء:

... ويرى جمهور الفقهاء أن التبرع بعضو أن بجزء من إنسان حي لإنسان آخر مثله جائز بشروط من أهمها: أن يصرح الطبيب أو الأطباء الثقاة بأن نقل هذا العضو من شخص إلى آخر لا يترتب عليه ضرر بليغ بالشخص المتبرع، وإنما يترتب عليه حياة الشخص المتبرع له، أو إنقاذه من مرض عضال.

وهذا هو الرأى الراجح، لأن التبرع قلما يصدر عن الإنسان إلا في أشد حالات الضرورة وقلما يكون إلا لشخص عزيز على هذا الإنسان المتبرع، ولأن المتبرع ما فعل ذلک إلا بقصد تقديم منفعة عظيمة لغيره مبتغياً بها وجه الله تعالىٰ. (البيان فی التبرع بعضو من الاعضاء، ص: ۳۸).

داعضاؤ درانيول او خرڅول په اړه مولانا خالد سيف الله صاحب فرمايي:

داحنافو په آند دمجبورۍ په وخت کي اعضاء رانيول روا دي لکه څنګه چي د ضرورت په وخت کي رشوت او سودي قرض اخيستل روا دي خو د شوافعو او حنابلو په آند د هر ډول اعضاؤ رانيول او خرڅول روا دي په دې سلسله کي دابن قدامه رحمه الله دغه عبارت او د دغه عموم د کتنې قابل دي:

وسائر أجزاء الآدمی يجوز بيعها فإنه بيع العبد والأمة.

د دې څخه پرته ابن قدامه رحمه الله دانسان څخه پرې سوي اندام رانيول او خرڅول حرام بللي دي دا له دې امله نه دي چي د انساني اندام څخه نفع اخيستل ناروا دي بلکي په دې معنى دي چي اوس له دې څخه نفع ممکن نه ده:

وحرم بيع العضو المقطوع لأنه لا نفع فيه. (جديد فقهی تحقيقات: ۵/ ۲۱۴).

خلاصه دا سوه چې د ضرورت په وخت کې د انسان د اندام هبه روا ده، البته وصیت کول د نظر محل دئ ځکه چې په وصیت کې في الحال اضطرار موجود نه دئ بلکې موهوم دئ مګر دا چې مضطر معلوم وي، نو په دې کې ضرورت متحقق کېدلای سي.

د مانعینو پنځم دلیل او د هغه جواب:

د ځیني اعضاء شخه مثلاً د سترګو دید ختمېدل په دې سره د اضطرار حالت نه راځي د دې باید اجازه ور نه کول سي:

فالضرورة: بلوغه حدا إن لـم يتناول الـممنوع هلك أو قارب، وهذا يبيح تناول الـحرام .

والـحاجة: كالـجائع الذي لو لـم يـجد ما يأكله لـم يـهلك غير أنه يكون في جهدٍ ومشقةٍ وهذا لا يبيح الـحرام ، ويبيح الفطر في الصوم .

والـمنفعة: كالذي يشتهي خبز البر ، ولـحم الغنم والطعام الدسم.

والزينة: كالـمشتهي بحلوى والسكر.

والـمفضول: التوسع بأكل الـحرام والشبهة. (غمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر:١/ ٢٥٢، ادارة القرآن).

جواب: کله کله حاجت ته د ضرورت درجه ور کول کیږي ځکه چې د سترګو په دید کې د بدن د مهم عضو راګرځول دي.

لکه ښنګه چې شیخ احمد رحمه الله زرقا فرمایي:

الـحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة كانت أو خاصة، والظاهر أن ما يـجوز للحاجة إنما يـجوز فيما ورد فيه نص يـجوزه أو تعامل أو لـم يرد فيه شيء منهما ولكن لـم يرد فيه نص يمنعه بخصوصه وكان له نظير في الشرع يمكن إلـحاقه به وجعل ما ورد في نظيره وارداً فيه...أو كان لـم يرد فيه نص يـجوزه أو تعامل ولـم يرد فيه نص يمنعه ولـم يكن له نظير جائز في الشرع يمكن إلـحاقه به ولكن كان فيه نفع ومصلحة. (شرح القواعد الفقهية،ص: ٢٠٩).

د مانعينو شپږم دليل او د هغه جواب:

((الضرر لايزال بمثله)) قاعده دا ده چي يو ضرر د هغه په مثل ضرر نه سي زائلولاى:

الضرر لايزال بالضرر، فإذا كان المريض المطلوب نقل العضو له يعافى من الضرر قطعاً فإن المتبرع بذلک العضو سيصاب بالضرر حتماً... لأنه إذا كان سيتبرع بإحدى كليتيه مثلاً وعلى افتراض عدم حدوث أية مضاعفات له بعد العملية الجراحية فإنه سيفقد نصف الطاقة الإجمالية لكليتيه وهذا بالتأكيد ضرر قادح ومؤكد. (نقل الاعضاء الآدمية بين التحليل والتحريم، ص: ٦).

د هغه جواب دا کېدلاى سي چي دغه دواړه ضررونه يو شان نه دي بلکي يو اشد دئ د فقهاؤ قاعده ده چي ((الضرر الاشد يزال بالضرر الأخف)) يعني سپک ضرر په اشد ضرر سره لېري کېدلاى سي.

لکه څنګه چي شيخ احمد زرقا رحمه الله فرمايي:

الضرر لا يزال بمثله ولا بما هو فوقه بالأولى بل بما هو دونه هذه المادة تصلح أن تكون قيداً للمادة الضرر يزال. (شرح القواعد الفقهية،ص: ١٩٥، دار القلم).

بيا مجوزينو خپله د جواز له پاره دا شرط لګولى دئ چي د عضو ورکونکى له پاره دا ضروري ده د عضو ورکولو وروسته يا اوس د يو مشکل سره مخ نه سي که نه، نو ناروا دي.

ألا يتعرض المبترع لضرر يؤديه كلياً أو جزئياً فى الحال أو المآل.

مګر دغه وينا چي کومي اعضاوي چي دوى دي مثلاً لکه ګردي (پښتورګى) د يوه په ورکولو سره ضرور نقصان راځي دا خبره د نظر محل ده.

د مانعينو اووم دليل او د هغه جواب:

سد الذرائع، يعني تر څو چي په راتلونکى کي لوى ضرر او د انساني اعضاؤ تجارت عام نه سي نو له همدې امله يې منع کړې ده.

وإذا كان الحكم الشرعي في أمر ما بالإباحة ولكنه عند التطبيق سيؤ دى إلى ضرر يفوت الفائدة المعتبرة من ورائه. امتنع ذلک الحکم كراهة أو تحريماً وفى هذا فإن امتهان كرامة الإنسان ونشوء سوق لتجارة أعضاء الآدمية بكل مايستتبعه من تداعيات بمثل خطراً شديداً و ضرراً بليغاً بالمجتمع المسلم قاطبة يوجب تعطيل أية إباحة لنقل الأعضاء على فرض صحتها. (نقل الاعضاء الآدمية بين التحليل والتحريم: ١/ ٦).

جواب: د دې جواب دا دئ چې مجوزينو هم د تجارت اجازه نه ده ورکړې بلکې د ضرورت د وخت شرط يې لګولی دئ او دا يې محض احسان بللی دئ.

أن يكون النقل تبرعاً ودون أى مقابل مادى حتى بعيداً عن البيع والشراء وحتى لايتحول جسد الإنسان الذى كرمه الله تعالى إلى قطع غيار تباع فى الأسواق.

هو که يو څوک احسان کونکی نه ؤ، نو بيا يې رانيول روا دي او خرڅول په هيڅ حال کې روا نه دي او دغه دپيوند کاري مسئله د مسلمان سره خاص نه ده بلکې کافران هم دې ته محتاجه کيږي هغوی له مور څخه فتوی نه پوښتې او هغوی په دغه طريقه سره علاج استعمالوي، نو ځکه مسلمان ته داجازه نه ورکولو په صورت کې همدغه خطرات لاحق کېدلای سي.

د مجوزينو دلائل وګوري:

دليل (١): قال الله تعالىٰ ﴿ ومن أحياها فكأنما أحيا الناس جميعًا ﴾ (سورة المائدة: ٣٢).

المراد من إحياء النفس تخليصها عن المهلكات... (تفسير الرازى: ٥/ ٢١٩، دار الفكر).

قال العلامة الآلوسي: ومن أحياها أى تسبب لبقاء نفس واحده موصوفة بعدم ما ذكر من القتل والفساد... أو استنقاذها من سائر أسباب الهلكة بوجه من الوجوه. (روح المعانى: ٦/ ١١٨، دار التراث).

(٢) دليل: قال الله تعالىٰ: ﴿ وما جعل عليكم في الدين من حرجٍ ﴾ (سورة الحج: ٧٨).

أى في جميع أموره... من حرج أى ضيق بتكليف ما يشتد القيام به عليكم. (روح المعانى:١٧/ ٤٢٧، مؤسسة الرسالة).

(٣) دليل: عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء. (رواه البخاري:٢/ ٨٤٧، ط: فيصل).

عن عبد الله قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله عزوجل لـم ينزل داء إلا أنزل له شفاء علمه من علمه وجهله من جهله. (مسند احمد:٧/ ٢٧١، مؤسسة الرسالة).

(٤)دليل: دغه علاج هم د تداوي بالمحرم له قبيل څخه دئ چي د هغه علماؤ وروسته د يو څو شرائطو اجازه ورکړې ده:

قال فى الدر المختار: وجوزه في النهاية بمحرمٍ إذا أخبره طبيب مسلم أن فيه شفاءً ولـم يجد مباحًا يقوم مقامه (قوله وجوزوه فى النهاية) ونصه وفى التهذيب: يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوى إذا أخبره طبيب مسلم أن شفائه فيه ولـم يجد من المباح ما يقوم مقامه. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٣٨٩، سعيد، و ٥/ ٢٢٨، مطلب فى التداوى بالمحرم، والفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٥).

(٥) دليل: د پيوند كاري علاج د مضطر له قبيل څخه دئ او د دې په اړه تفصيل مخكي تېر سوى دئ.

(٦) دليل: ((الضرورات تبيح المحظورات))، د دې قاعدې تر حکم لاندي بايد روا وبلل سي.

خلاصه دا ده چي نن سبا د داسي علاج شديد ضرورت سته كه نه نو انسان په سخت مصيبت کي مبتلاء کېدلای سي او يا د هغه مرګ واقع کېدلای سي، نو ځکه بايد همداسي علاج روا وبلل سي او بل دا چي په راتلونکی کي مختلف مرضونه ورڅخه پيدا کېدلای سي او بل دا چي د غذاؤ د ګډوډي له امله د انسان جسم کمزوري سوی دئ او دغه علاج د معاشري يو عام ضرورت جوړ سوی دئ، نو له همدې امله بايد د دې عصر علماء دې پر غور پکښې وکړئ.

د اعضاؤ پیوند کاري د اکابرو د فتوی په رڼا کي:

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د یو مړه انسان ځګر، سترګي او زړه یو بل انسان ته وراچول روا نه دي او دغه وصیت هم روا نه دئ. (فتاوی محمودیه: ۱۸/ ۳۳۶، فاروقیه).

همداسي په فتاوی رحیمیه (۵/ ۴۸۵، دیوبند) او په آپ کی مسائل اور ان کی حل (۴/ ۳۵۱) کي یې هم ناروا بللی دي.

په فتاوی حقانیه کي یې لیکلي دي: چي متاخرینو علماؤ د اضطرار په حالت کي اجازه ورکړې ده.

په نئی مسائل او علماء هند کی فیصلی، کي لیکل سوي دي:

۴- که یو مریض په داسي حالت کي راوړل سي چي د هغه یو اندام بالکل ختم سوی دئ او که د یو بل اندام ورپسي پیوند نه سي هغه مړ کیږي او د انسان د اندام څخه پرته یو بل متبادل دغه کمي نه سي پوره کولای او ماهر ډاکتران دا فیصله وکړه چي د انسان د اندام څخه پرته د ده د ځان د ساتلو له پاره بل څه نه سته او د دې په پیوند ولو سره د ډاکترانو دا یقین دئ چي د ده ژوند ژغورل کیږي او بل اندام هم موجود دئ، نو په دې صورت کي دغه عضو په هغه پوري پیوندولای سي تر څو د هغه ژوند وژغورل سي، نو داسي کول مباح دي.

۵- که چیري یو روغ سړی د ماهرو ډاکترانو د رائې په رڼا کي داسي نتیجې ته رسیږي چي که چیري د هغه د ګردو (پښتورګی) څخه یوه وکاږي او د هغه پر صحت څه اثر نه پرېوزي او هغه خپل قریب مریض په داسي حال کي ویني چي که د هغه خرابه ګرده (پښتورګي) که نه وایستل سي، نو په داسي حال کي د هغه مرګ یقیني دئ او د هغه څه بدل هم موجود نه ده، نو په دې صورت کي د هغه له پاره روا ده چي خپله یوه ګرده (پښتورګی) بېله قیمته دغه مریض ته ورکړي او د هغه ژوند وژغوري. (نئی مسائل اور علمائی هند کی فیصلی، ص: ۱۴۳- ۱۴۴، ایفا پبلیکیشنز وکذا فی اهم فقهی فیصلی، ص: ۱۳، ط: کراچي).

د عصر حاضر په فقهي مسائل کي راځي:

مګر د نن عصر د ترقي یافته اپریشینونو په دور کي د مصالحو په وړاندي د پیوند کاري فائدې تقریباً د یقیني کېدو له امله د موجوده زمانې فقهاؤ روا بللی دي.

د المجمع الفقهي الاسلامي فیصلې:

پر دغه موضوع تر بحث او مباحثې وروسته د اجلاس خيال دئ د جواز د قائلينو استدلالات راجح دئ، نو ځکه اجلاس په لاندي ډول فيصلې کوي:

اول: د يو ژوندي انسان د جسم څخه يو اندام اخيستل او هغه يو بل انسان ته وراچول کوم چي هغه ضرورت ورته لري د خپل ژوند د ساتلو له پاره او د يو بل اندام د عمل د بېرته راوړلو له پاره روا دئ کوم چي د اندام ورکونکی د کرامت انساني منافي نه دئ او بل دا چي د اندام ورکونکی سره لوی تعاون او مصلحت دئ او دا يو مشروع او قابل تعريف عمل دئ په دې شرط چي لاندي شرائط موجود وي:

(۱) د عضو په اخيستلو سره به هغه ته عام نقصان نه ورپېښېږي ځکه چي د شريعت اصول دي چي د يو نقصان د لېري کولو له پاره تر هغه لوی نقصان پورته کول روا نه دي ځکه چي په داسي صورت کي خپل ځان په هلاکت داچولو سره برابر دي کوم چي شرعاً ناروا دي.

(۲) عضو ورکوونکی به په خپله رضاء سره بېله يو تېنګاره دغه عضوه ورکړي وي.

(۳) د ضرورتمند له پاره به بېله دې څخه بل علاج نه وي يعني دغه پيوند کاري به يې علاج وي بل علاج به يې نه وي.

(۴) دعضو اخيستلو او پيوندولو په عمل کي به کاميابي او غالبه يقيني وي.

دوهم: لاندي صورتونه په درجه اولی روا بلل کيږي:

(۱) چي د يو مړي عضو د يو بل ضرورتمند له پاره حاصل سي په دې شرط چي کوم چا عضوه اخيستل کيږي هغه به مکلف وي او په ژوند کي به يې اجازه ورکړې وي.

(۲) چي د مأکول اللحم او ذبح سوي حيوان يا په وخت د ضرورت د يو بل حيوان عضو د خنزير څخه پرته د پيوند کاري له پاره د يو ضرورتمند انسان له پاره واخيستل سي.

(۳) د انسان د جسم څخه يو عضوه اخيستل تر څو د ده د خپل ځان علاج په وکړي مثلاً د څرمن يا هډوکي دي يو ټوټه واخلی د ضرورت په وخت کي يې پر يو بل ځای لګوئ.

(۴) معدني شيان يا نوري مصنوعي ټوټي د يو مريض د علاج له پاره د انسان په جسم کي ولګوي مثلاً معدني شيان يا نوري مصنوعي او د زړه د والو له پاره استعماليږي.

دا څلور حالتونه له دغو شرائطو سره د اکيډمي په رائه روا دي.

بعض من أجاز نقل الأعضاء:

قرار هيئة كبار العلماء فى المملكة العربية السعودية.

فتوى لجنة الإفتاء فى المملكة الأردنية الهاشمية.

فتوى لجنة الإفتاء الجزائرية.

فتوى لفضيلة مفتى جمهورية مصر العربية.

وغيرهم من الفتاوى والآراء الفقهية لبعض الفقهاء المعاصرين. (المأخوذ من رد شبه المجيزين لنقل الاعضاء من الناحيتين الدينية والطبية، للشيخ محمود محمد عوض سلامة).

د اعضاؤ د پيوند کاري د تفصيلي بحث خلاصه:

☆ د اعضاء د پيوند کاري په اړه د مفتي حضراتو دوې رائي دي د ضرورت په وخت کي هغه اقوال اخيستلای سو کوم چي د جواز قائل دي مګر د هغو تفصيلاتو او شرائطو رعايت ضروري دئ کوم چي مجوزينو ذکر کړی دئ.

☆ د انساني اعضاؤ د پيوند کاري له پاره چي کومه طبي طريقه رواج سوې ده په دې کي د انسان توهين نه راځي.

☆ د ضرورت په وخت کي اعضاء خرڅېدلای سي.

☆ د انساني اعضاء خرڅول حرام دي.

☆ د انساني اعضاؤ وصيت ناروا دئ او په شرع کي د دې وصيت اعتبار نه سته.

☆ د پيوند کاري مقصد به د مريض ژوند ژغورل وي او يا به د يو جسماني منفعت د راګرځولو له پاره وي لکه د سترګو ديد راګرځول.

د زيات تفصيل لپاره لاندي کتابونه او رسائل کتلای سي: (جديد فقهى مسائل، جلد۵، وجديد فقهى مباحث، جلد ۱، وحكم نقل اعضاء الانسان فى الفقه الاسلامى، للشيخ حسن على الشاذلى، واعضاء انسانى كى پيوند كارى، وانسانى اعضاء كا احترام اور طب جديد، واحسن الفتاوى، جلد ۸، توقيع الاعيان على حرمة ترقيع الانسان، والاستنساخ البشرى بين الاباحة والتحريم فى ضوء الشريعة مع بيان موقف الهيئات الدولة المعاصرة، ورابطه عالم اسلامى كا مجله سنة ۲۰۰۹ء، مطابق سنة ۱۴۳۰هـ ورد شبه المجيزين

لنقل الاعضاء من الناحيتين الدينية والطبية، للشيخ محمود محمد عوض سلامة، وتعريف اهل الاسلام بأن نقل العضو حرام، للشيخ الغماری، والبيان فی التبرع بعضو من الاعضاء، للشيخ صفوت جودة احمد، وجديد فقهی تحقيقات، جلد۵، ونظام الفتاوی، جلد ۱، وعصر حاضر کی فقهی مسائل، از مولانا بدر الحسن قاسمی، و نئی مسائل اور علمائی هند کی فیصلی، ومجله فقه اسلامی، مرتب قاضی مجاهد الاسلام صاحب قاسمی: ۱/ ۱۶۹- ۲۴۸، اعضاء کی پیوند کاری). والله ﷻ اعلم.

د زړه د پیوند کاري حکم

سوال: آیا د زړه پیوند کاري (heart transplant) روا ده او که نه؟ همدا ډول که اختلاف وي، نو د دواړو دلائل هم وړاندي کړي او مفتي رضاءالحق صاحب چي کوم قول ته ترجیح ورکوي هغه هم ذکر کړي؟

الجواب: موږ باید په دې پوه سو چي د اعضاء انساني د پیوند کاري له پاره د علماء کرامو دوه مختلف قولونه دي ځیني حضرات د دې د عدم جواز قایل دي او ځیني حضرات د دې د جواز قائل دي، زموږ په زمانه کي د علماؤ یو لوی جماعت د مختلفو دلائلو په رڼا کي د دې جواز ته ترجیح ورکړې ده، د دواړو فریقینو دلائل مخکي تېر سوي دي هلته یې وګورئ.

خو د یوه انسان زړه راکښل یو بل انسان ته ورلګول د هغه شخص د قتل سره مترادف دئ، نو ځکه د زړه د پیوند کاري اجازه نه سته د زړه او دماغ څخه پرته د داسي اعضاؤ پیوند کاري چي پر هغه ژوند موقوفه نه وي په هغه کي د اختلاف اجازه سته، مثلاً سترګه او یوه ګرده (پښتورګی) او داسي نور... د دې په متعلق د مجوزینو پر قول عمل کېدلای سي.

او که د مرګه څخه وروسته ژر او یا د ډاکترانو د وینا مطابق د دماغي مرګ د واقع کېدو وروسته را وایستل سي چي په هغه کي د قتل شبه نه وي بیا نو د مجوزینو د قول مطابق د زړه د پیوند کاري اجازه سته لکه څنګه چي زموږ په زمانه کي رواج ده.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (مجله فقه اسلامی، مرتب قاضي مجاهد الاسلام صاحب قاسمی: ۱/ ۱۶۹ ۲۴۸-، اعضاء کی پیوند کاری). والله ﷻ اعلم.

د ګردې (پښتورګو) د منتقل کولو حکم

سوال: د يو سړي دواړې ګردې (پښتورګي) خرابي سوي دي، نو آيا دغه سړی د اعضاؤ پيوند کاري کولای سي او که نه؟ يعني د يو بل چا ګرده (پښتورګي) لګولای سي او که نه؟

الجواب: د اعضاؤ د پيوند کاري په اړه د علماؤ اختلاف دئ خو د مجوزينو د قول مطابق د هغوی د بيان سوې شرائط او قيوداتو باندي په عمل کولو سره د هغه د بدلولو اجازه سته د دلائلو له پاره زموږ تفصيلي فتوی وګورئ.

همداسي د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (مجله فقه اسلامی، مرتب قاضي مجاهد الاسلام صاحب قاسمی: ۱/ ۱۶۹ ۲۴۸ –، اعضاء کی پیوند کاری). والله ﷻ اعلم.

د سترګي د غمي د نقلولو حکم

سوال: زه يوه ښځه يم زما د سترګو ديد تقريباً ختم سوی دئ او د ډاکترانو وينا ده چي که علاج ونه سي، نو ديد بالکل ختميږي د ډاکترانو وينا ده چي ما ته په کار ده چي د سترګو د ديد د راګرځولو له پاره کورينل ګراف (corneal qraft) وکړم.

د دې علاج مختصر تعارف:

دا يو انتقالي عمليات دي د يوه سړی سترګه بل انسان ته ورلوېږي.

دغه سترګه د يو داسي انسان څخه اخيستل کيږي چي هغه په ژوند کي وصيت کړي وي چي زما سترګه دي په بل شخص په سترکه کي استعمال سي، نو د موصي سترګه دي د مرګ څخه وروسته په يو محفوظ ځای ايښول کيږي او د هغه نګراني کيږي.

مريض تر وراچولو د مخه بايد هغه ښه وکتل سي چي هغه د مريض له پاره مفيد ده او که نه؟ او د مريض سترګي ته خو به يو څه مرض نه منتقليږي.

نو له تاسو څخه دا هيله ده چي په شرعي حکم مو خبر کړي چي د داسي علاج اجازه سته او که نه؟

الجواب: د ځيني علماؤ او مفتيانو په آند د دې اجازه سته، نو تاسو د هغوی پر فتوی عمل کولای سي او د دواړو فريقينو دلائل مخکي په تفصيل سره تېر سوي دي هلته يې وګورئ، هو داسي وصيت کول روا نه دئ. والله ﷻ اعلم.

د هډوكي د مغز د منتقلولو حكم

سوال: مفتيان او علماء حضرات څه فرمايې په لاندي مسئله كي:

په هډوكي كي چي كوم مغز دئ (bone marrow transplant) د هغه منتقل كول روا دي او كه نه؟

الجواب: د انساني اعضاء څخه انتفاع او د هغه پيوند كاري په اړه د علماؤ مختلفې رائې دي، هو د شديد ضرورت په وخت كي د مجوزينو پر قول عمل كېدلاى سي. والله ﷻ اعلم.

د حيوان د اندام د پيوند كاري حكم

سوال: يو معذور او مريض سړى ته د حيوان اندام پيوند كاري كولاى سي او كه نه؟

الجواب: كه د يو انسان يو اندام كار پرېږدي او د هغه د كار د راګرځولو له پاره د يو متبادل ضرورت سته، نو د دې ضرورت د پوره كولو له پاره د غير حيوان اجزاء استعمالول روا دي همدا رنګه د داسي حيوان اعضاء چي د هغه غوښي خوړل كيږي پر شرعي طريقه ذبحه سوي وي، نو بيا دا روا دي.

همدا رنګه كه د هلاكت بېره وه او يا د يو اندام د ضائع كېدو بېره وه او د دغه اندام بدل يوازي په داسي حيوان كي موجود ؤ چي د هغه خوراك حرام دئ او يا حلال دئ، خو په شرعي توګه ذبحه سوى نه دئ، نو د داسي حيوانانو اندام هم په وخت د ضرورت كي استعمالولاى سي او كه د هلاكت بېره نه وه.

نو د خنزير د اجزاؤ استعمالول روا نه دئ، هو د ضرورت په وخت كي د هغه استعمال هم روا دئ.

قال في الفتاوى الهندية: وقال محمد رحمه الله تعالى: ولا بأس بالتداوي بالعظم إذا كان عظم شاةٍ أو بقرةٍ أو بعيرٍ أو فرسٍ أو غيره من الدواب إلا عظم الخنزير والآدمي فإنه يكره التداوي بهما فقد جوز التداوي بعظم ما سوى الخنزير والآدمي من الحيوانات مطلقًا من غير فصلٍ بينما إذا كان الحيوان ذكيا أو ميتًا وبينما إذا كان العظم رطبًا أو يابسًا وما ذكر من الجواب يجري على إطلاقه إذا كان الحيوان ذكيا لأن عظمه طاهر... وأما إذا كان الحيوان

ميتًا فإنما يجوز الانتفاع بعظمه إذا كان يابسًا ولا يجوز الانتفاع إذا كان رطبًا. (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٤).(وكذا فى المحيط البرهانى:٦/ ١١٧، الفصل التاسع عشر فى التداوى).

په درمختار کي راځي:

وما طهر به أى بد باغ طهر بذكاة على المذهب. (الدر المختار:١/ ٢٠٥، سعيد).

په فتاوى الشامي کي راځي:

والحاصل أن ذكاة الحيوان مطهرة لجلده ولحمه إن كان الحيوان مأكولاً وإلا فإن كان نجس العين فلا تطهر شيئاً منه وإلا فإن كان جلده لا يحتمل الدباغة فكذلك لأن جلده حينئذ يكون بمنزلة اللحم وإلا فيطهر جلده فقط . (فتاوى الشامى:١/ ٢٠٥، سعيد).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايي:

د انساني اندام د تبادلې درې صورتونه دي، يو صورت دا چي پخوا زمانې شخصه را روان دئ د هغه د عضو بدل په جمادات يا نباتات کي تلاش کړل سي او د فنې مهارت په واسطه د هغه شخصه کار واخيستل سي لکه مصنوعې غاښ او مصنوعې آله سماعت او داسي نور...

دوهم صورت دا دئ چي د حيواناتو په اعضاء سره دغه کار پوره کړل سي دا هم د پخوا زمانې شخصه را روان دئ دغه دواړې طريقې په ديني، دنيوي او اجتماعې په هر حيثيت سره بې خطره او بې ضرره دئ.

د ځمکي ټول مخلوقات، معدنيات او نباتات انسان د خپلي فائدې له پاره استعمالوي، نو د دې فائدې له پاره هغه پرې کولای او هم سوځولای سي او د کيميايې تحليل په طريقو سره يې استعمالولای سي. (جواهر الفقه، جلد هفتم، ص: ٥٢- ٥٣).

په احسن الفتاوى کي راځي:

د حيوان ستر که انسان ته وراچول روا ده. (احسن الفتاوى:٨/ ٢٣٦).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهى مباحث، جلد اول، وئى مسائل اور علمائى هند كى فيصلى، ص: ١٤٣، وعصر حاضر كى پيچيده مسائل كا شرعى حل، ص: ١٥٨). والله ﷻ اعلم.

د دندان سازي له پاره د حیوان د هډوکو د استعمال حکم

سوال: کله چې انسان سپین بږیري سي، نو د هغه وري کمزوري سي او هډوکي يې هم کمزوري کيږي، نو هغه له امله د يو مرض او يا نورو وجوهو څخه نه هغه حقيقي غاښ برداشت کولای سي او نه مصنوعي غاښ برداشت کولای سي، نو د دې هډوکو د مضبوطولو له پاره ډاکترانو يو طريقه اختياره کړې ده هغه دا ده چې د حيوان د هډوکو او يا د هغه د مغز څخه مساله تياره وي د هغه په ذريعه وري مضبوطه کيږي، نو آيا د دې له پاره د حيوان هډوکي استعمالولای سي او که نه؟

الجواب: د حيوان د هډوکو څخه فائده اخيستل روا ده، که هغه په شرعي طريقه ذبحه سوي وي او که نه، ځکه چې په هډوکو کي حيات نه وي، نو په هغه کي مرګ هم حلول نه کوي.

وګورئ: په هدايه کي راځي:

ولا بأس ببيع عظام الميتة وعصبها... والانتفاع بذلک کله لأنها طاهرة لايحلها الموت لعدم الحياة. (الهداية:٣/ ٥٥).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما عظم الميتة وعصبها وشعرها... فيجوز بيعها والانتفاع بها عندنا. (بدائع الصنائع:٥/ ١٤٢، سعيد).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايې:

چې د حيوان د اعضاء څخه کار واخيستل سي دا هم د پخوا زمانې څخه را روان ؤ، دغه دواړې طريقې په ديني، دنيوي او اجتماعي په هر حيثيت بې خطري او بې ضرره ده د ټولو مخلوقات، معدنيات او نباتات انسان په خپله فائده کي استعمالولای سي او د دې فائدې له پاره هغه شيان پرې، قطع او سوځولای سي او په کيميائې تحليل سره يې هم استعمالولای سي.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهي مباحث جلد اول، وئی مسائل اورعلمائی هند کی فیصلی، ص ١٤٣، وعصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حل، ص: ١٥٨). والله ﷻ اعلم

د دندان سازي له پاره د انسان د هډوکو د استعمال حکم

سوال: نن سبا په ورويو کي مصنوعي غاښ لګول کيږي چي هغه هر ځل نه کښل کيږي او د هغو له پاره د انساني هډوکو ځخه مساله تيار وي، نو آيا د دې غاښو له پاره د انسان د هډوکو استعمال روا دئ او که نه؟

الجواب: د انسان د هډوکو استعمال د دواء په شکل په دې کي د علماؤ اختلاف دئ مجوزينو هم د مجبورۍ په وخت کي اجازه ورکړې ده او په دې صورت کي هيڅ مجبوري نه سته، همدا رنګه د حيوانانو په هډوکو سره هم کار کېدلای سي، نو ځکه د انسان د هډوکو استعمال روا نه دئ. والله ﷻ اعلم.

د اسقاط حمل يو ځو صور تونه سره د احکامو

سوال: آيا په اسلام کي اسقاط حمل روا دئ او که نه؟

الجواب: د اسقاط حمل ځو صورتونه دي د هغو احکام هم جلا جلا دي تفصيل په لاندي ډول دئ:

اول صورت: فقهاؤ پر دې صرحت کړې ده چي په حمل کي د ژوند پيدا کېدو وروسته په اتفاق سره روا نه دئ او په حمل کي د غه د ژوند مرحله (١٢٠) ورځي ورسته راځي، نو پر دې بناء څلور مياشتې وروسته بيا اسقاط حمل روا نه دئ، البته که د ښځي حالت بالکل خراب سي او بېله اسقاط حمله د هغې ژوندې پاته کېدل ممکن نه ؤ، نو په دې صورت کي د اسقاط حمل اجازه سته.

دوهم صورت: د اعضاؤ د تخليق او تر ژوند د مخه هم د صحيح قول پر مطابق اسقاط حمل روا نه دئ، البته په دې صورت کي هم که د ښځي ژوند ته خطرؤ بيا پروا نه لري.

دريم صورت: چي کله حمل د صورت او شکل والا سي، نو بيا بېله شرعي عذره د هغه اسقاط روا نه دئ، که يې د اعضاؤ تخليق سوي وي او که نه وي سوي، البته که يو شرعي عذر وي او يا د طبي آلاتو په ذريعه دا معلومه سي چي له دې حمل ځخه پيدا کېدونکی کوچني د سخت مرض سره مخا مخ کيږي او يا د مور د مرګ خطرؤ او د مور د دماغي توازن د متأثره کېدو خطره وه، نو د داسي عذرو له امله تر تخليق د مخکي اسقاط حمل روا دئ.

وګورئ: علامه شامي رحمه الله فرمايي:

قل بعضهم أنه اتفق العلماء على أن نفخ الروح لا يكون إلا بعد أربعة أشهر أي عقبها كما صرح به جماعة وعن ابن عباس رضي الله عنه أنه بعد أربعة أشهر وعشرة أيام وبه أخذ أحمد ولا ينافي ذلك ظهور الخلق قبل ذلك لأن نفخ الروح إنما يكون بعد الخلق وتمام الكلام في ذلك مبسوط في شرح الحديث الرابع من الأربعين النووية فراجعه . (فتاوی الشامی:۱/ ۳۰۲، مطلب فی احوال السقط واحکامه، سعید).

وفيه أيضاً: وفي الذخيرة: لو أرادت إلقاء الماء بعد وصوله إلى الرحم قالوا: إن مضت مدة ينفخ فيه الروح لا يباح لها وقبله اختلف المشايخ فيه والنفخ مقدر بمائة وعشرين يوماً بالحديث. (فتاوی الشامی:۶/ ۳۷۴، سعید).

وفی الدر المختار: ويكره أن تسقي لإسقاط حملها وجاز لعذر حيث لايتصور. وفی رد المحتار: قوله ويكره، أي مطلقاً قبل التصور وبعده على ما اختاره في الخانية كما قدمناه قبيل الاستبراء وقال إلا أنها لا تأثم إثم القتل، قوله وجاز لعذر، كالمرضعة إذا ظهر بها الحبل وانقطع لبنها وليس لأبي الإي ما يستأجر به الظئر ويخاف هلاك الولد قالوا: يباح لها أن تعالج في استنزل الدم ما دام الحمل مضغة أو علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين وجاز لأنه ليس بآدمي وفيه صيانة الآدمي الخانية، قوله حيث لا يتصور، قيد لقوله وجاز لعذر والتصور كما في القنية أن يظهر له شعر أو أصبع أو رجل أو نحو ذلك. (فتاوی الشامی:۶/ ۴۲۹، سعید، وکذا فی حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۴/ ۲۱۳).

پہ حاشیہ طحطاوی کي راځي:

وإن أرادته قبلها (أی قبل نفخ الروح) اختلف المشايخ فيه منهم من قال: لا بأس به لأنه إذا كان قبلها فإلقاء ما في رحمها وعزل الماء سواء والعزل مباح فكذا هذا وكان الفقيه علي بن

موسى يكرهه فإن مآل الماء بعد ما وقع فى الرحم الحياة ولايحتاج إلى صنع أحد وإذا كان مآله الحياة كان له حكم الحياة كما في بيض صيد الحرم. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۴/ ۲۱۲، كتاب الحظر والاباحة).

په عالمګيري کي راځي:

وفي اليتيمة سألت علي بن أحمد عن إسقاط الولد قبل أن يصور فقال: أما في الحرة فلا يجوز قولًا واحدًا... امرأة مرضعة ظهر بها حبل وانقطع لبنها وتخاف على ولدها الهلاك وليس لأبي هذا الولد سعة حتى يستأجر الظئر يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام نطفةً أو مضغةً أو علقةً لم يخلق له عضو. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۵۶).

په فتاوی سراجیه کي راځي:

امرأة عالجت في إسقاط ولدها لم تأثم ما لم يستبن شيء من خلقه. (الفتاوى السراجية، ص: ۲۹۸).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (شرح منظومة ابن وهبان:۲/ ۱۷۰،ط: الوقف المدنى، ديوبند، وجديد فقهى مباحث، مرتب مولانا قاضى مجاهد الاسلام قاسمى، جلد اول، ص: ۳۶۹ ۳۷۲-، ادارة القرآن، واسلامى فقه:۲/ ۲۲۹- ۲۳۱). والله ﷻ اعلم.

د ناقص الخلقت کوچني د اسقاط حکم

سوال: که ډاکتر دا ووايي، چي د ښځي په نس کي کوچني ناقص الخلقت او يا د ژوند قابل نه دئ، نو آيا دا پريشن په ذريعه هغه را خارجولای سي او که نه؟

الجواب: د ناقص الخلقت کوچني د اسقاط حمل څو صورتونه دي د هغه د جواز او عدم جواز صورتونه په فقه اکيډمي کي وګورئ:

د مکې مکرمې د اسلامک فقه فيصله:

په اجلاس کي پر دې موضوع د ماهرو ډاکترانو او پوهانو پر افکارو او آراوو تر مباحثې وروسته د اکثرو د نظرونو څخه لاندي فيصله وسوه:

که چیري حمل د (۱۲۰) ورځو وي، نو د هغه اسقاط روا نه دئ که څه هم د طبي تشخیص څخه دا معلومېده چي دغه کوچني ناقص الخلقت دئ، البته که د ماهرو ډاکټرانو د کمیټې څخه دا ثابته سي چي د حمل پاته کېدل د مور د ژوند له پاره خطر دئ، نو په دې صورت کي د لوی نقصان د لېري کولو له پاره اسقاط حمل کولای سي که ناقص الخلقت وي او که نه وي.

او که کوچني د (۱۲۰) ورځو نه ؤ او د ماهرو ډاکټرانو کمیټې ووایي، او همدا ډول د تجرباتي وسائلو په ذریعه دا خبره ښکارکېدل چي کوچني په یو خطر ناکه توګه ناقص الخلقت دئ کوم چي د علاج قابل نه دئ، نو که هغه پر خپل وخت پیدا سوي وای، نو د هغه ژوند یو بوج او د کور والاؤ له پاره یو سر درد دئ، نو په دې صورت کي د مور او پلار په غوښتنه اسقاط حمل روا دئ او اجلاس په دې اړه د والدین او ډاکټرانو څخه د الله ﷻ څخه د بېري غوښتنه کوي. (عصر حاضر کی پیچیدہ مسائل کا شرعی حل، ص: ۲۴۵).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (حلال وحرام، ص ۳۱۰، وجدید فقہی مباحث: ۱/ ۳۰۶ – ۳۱۱، و۳۷۰، وکذا فی مجلہ فقہ اسلامی، مرتب قاضی مجاهد الاسلام صاحب قاسمی: ۱/ ۳۷۰ ۳۷۳–، اعضاء کی پیوند کاری). والله ﷻ اعلم.

د مور د ضرر له امله د اسقاط حمل حکم

سوال: یو ښځه د یو مرض له امله څلور میاشتې د مخه اسقاط حمل کوي، نو آیا د مجبورۍ له امله دا روا دئ او که نه؟ که چیري ونه یې کړي، نو مور ته سخت خطر دئ.

الجواب: د اعضاء د تخلیق وروسته او تر ژوند د مخه هم اسقاط حمل روا نه دئ، البته که د مور د مرګ خطر ؤ، نو په دې صورت کي د اسقاط حمل اجازه سته لکه څنګه چي فقهاؤ په دې سره صراحت کړی دئ چي که چیري یو کوچني د مور په نس کي مړ سي او د هغه د را ایستلو لار نه وي او نه د را ایستلو په صورت کي د مور د مرګ خطر ؤ، نو په دې صورت کي د مور د ژوند د ژغورلو له پاره د کوچني پرې کول روا دي.

وفي النوادر: امرأة حامل اعترض الولد في بطنها ولا يمكن إلا بقطعه أرباعًا ولو لم يفعل ذلك يخاف على أمه من الموت فإن كان الولد ميتًا في البطن فلا بأس به وإن كان حيا لا يجوز لأن إحياء نفس بقتل نفسٍ أخرى لم يرد في الشرع . (البحر الرائق: ۸/ ۲۳۳).

(وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۳۶۰، والمحيط البرهانى:۶/، والفصل الثالث والعشرون، وتحفة الملوك، ص: ۲۳۹، بيروت، ومجله فقه اسلامى، مرتب قاضى مجاهد الاسلام صاحب قاسمى:۱/ ۳۷۰- ۳۷۲، اعضاء كى پيوند كارى). والله ﷻ اعلم.

د غبرګوليانو څخه د يوه پر مرګ د اسقاط حمل حکم

سوال: که د پنځو مياشتو حاملې ښځې ته ډاکتر ووايي، چې ستا په نس کې دوه کوچنيان دي چې د هغو څخه يو مړ دئ، نو که اسقاط ونه کړل سي، نو هغه بل هم مری او يا د ولادت په وخت کې د مور ژوند په خطر کې دئ په دې کې د شريعت څه حکم دئ؟

الجواب: فقهاؤ دا صراحت کړې ده چې په حمل کې د ژوند د لوېدو وروسته په اتفاق سره اسقاط روا نه دئ.

او په حمل کې د روح مرحله (۱۲۰) ورځې وروسته راځي، نو پر دې بناء د علماؤ په اتفاق سره څلور مياشتې وروسته اسقاط روا نه دئ، البته که د ښځې حالت بالکل خراب سي او ماهره ډاکتران ووايي، چې بېله اسقاط څخه د ژوند ژغورل ممکن نه دي، نو په دې صورت کې د داسې اصولو په وړاندې د ښځې د ژوند د ژغورلو له پاره بايد اسقاط وکړل سي.

((يختار أهون البليتين)) او ((لوكان أحدهما أعظم ضرراً من الآخر فإن الأشد يزال بأخف))

دا ځکه چې د ښځې ژوند ته لوی ضرر دئ او اسقاط حمل کوچني ته ضرر دئ ځکه چې د ښځې وجود په مشاهده کې دئ او د کوچني وجود په مشاهده کې نه دئ او د ښځې وجود متيقن دئ او د کوچني وجود متيقن نه دئ، نو ځکه د يو مشاهد او متيقن وجود له پاره يو غير مشاهد او غير متيقن وجود ضائع کېدلای سي. (جديد فقهى مباحث:۱/ ۳۷۰). والله ﷻ اعلم.

د کوچني په سر کې د اوبو له امله د اسقاط حمل حکم

سوال: د يوې ښځې په نس کې کوچني دئ او پر هغه شپږ مياشتې تېرې سوې دي او ډاکتر ووايي، چې د دې کوچني په سر کې اوبه دي، نو کوچني بايد اسقاط حمل وکړل سي او مور ته هيڅ تکليف نه سته، نو شرعاً د اسقاط اجازه سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د روح ښخه وروسته د اسقاط په اجماع سره حرام دئ او مور ته اوس تکليف هم نه سته، نو خالي د ډاکټر په وينا سره اسقاط حمل روا نه دئ.

په فتاوی شامي کي وګورئ:

وفي الذخيرة: لو أرادت إلقاء الماء بعد وصوله إلى الرحم قالوا: إن مضت مدة ينفخ فيه الروح لا يباح لها وقبله اختلف المشايخ فيه والنفخ مقدر بمائة وعشرين يوماً بالحديث. (فتاوى الشامى:۶/ ۳۷۴، سعيد).

په جديد فقهي مباحث کي راځي:

د اسقاط حمل پر مسئله د غور کولو له پاره موږ ته پر دوو مرحلو غور کول په کار دي يوه مرحله دا ده چي په حمل کي روح پيدا سوي وي د حديث په مطابق (۱۲۰) ورځي وروسته روح پيدا کيږي غالباً د علم جنين قائلين هم د دې تائيد کوي د روح د پيدا کېدو وروسته اسقاط حمل بالاجماع حرام دئ.

احمد عليش مالکي فرمايي:

والتسبب في إسقاطه بعد نفخ الروح فيه محرم إجماعاً وهو من قتل النفس. (فتح العلى المالک:۱/ ۳۹۹).

په فتاوی شيخ الاسلام کي حافظ ابن تيميه رحمه الله فرمايي:

إسقاط الحمل حرام بإجماع المسلمين وهو من الوأد الذي قال تعالى فيه: ﴿وإذا الموؤدة سئلت بأى ذنب قتلت﴾. (۴/ ۳۱۷). والله تعالى اعلم.

د کوچني پر معذورت د اسقاط حمل حکم

سوال: د يوې ښځي په نس کي د شپږو مياشتو کوچني دئ او ډاکټرانو ورته ويلي دي چي هغه معذور دئ د ناستي، ولاړي او تلو قابل نه دئ او نور هم مختلف عوارض ورته لاحق دي او د هغه و مور ته هم د مرګ خطر دئ نو په دې حالت کي اسقاط حمل ورا دئ او که نه؟

الجواب: که چيري د ډاکټرانو پر دې اتفاق ؤ چي کوچني معذوره دئ او د مور د مرګ خطر هم ؤ، نو په دې صورت کي بايد اجازه ورکړل سي.

مگر د روح تر پیدا کېدو وروسته اکثره حضرات د اسقاط فتوی نه ورکوي.

په جدید فقهي مباحث کي راځي:

فقهاؤ دا صراحت کړې ده چي په حمل کي د روح د پیدا کېدو وروسته په اتفاق سره روا نه ده.

او په حمل کي د روح مرحله (۱۲۰) ورځي وروسته راځي، نو پر دې بناء که حمل د څلورو میاشتو ؤ، نو په اتفاق سره روا نه ده او که د ښځي صحت ډېر خراب سي او یو ماهر ډاکټر دا ووايي، چي بېله اسقاطه د دې ژوند پاته کېدل ممکن نه دي، نو دلته باید د داسي اصولو پر بناء اجازه ورکړل سي.

((یختار أهون البلیتین)) او ((لوکان أحدهما أعظم ضرراً من الآخر فإن الأشد یزال بأخف)) د دغه ډول منلو سوو اصولو له مخي به د ښځي د ژوند ژغورلو له امله د اسقاط اجازه ورکول کیږي. (جدید فقهی مباحث: ۱/ ۳۷۰).

د مکې مکرمې د اسلامک فقه فیصله:

په اجلاس کي پر دې موضوع د ماهرو ډاکټرانو او پوهانو پر افکارو او آراوو تر مباحثې وروسته د اکثرو د نظرونو څخه لاندي فیصله وسوه:

که چیري حمل (۱۲۰) ورځو وي، نو د هغه اسقاط روا نه دئ که څه هم د طبې تشخیص څخه دا معلومېده چي دغه کوچني ناقص الخلقت دئ، البته که د ماهرو ډاکټرانو د کمیټې څخه دا ثابته سي چي د حمل پاته کېدل د مور د ژوند له پاره خطر دئ، نو په دې صورت کي د لوی نقصان د لېري کولو له پاره اسقاط حمل کولای سي که ناقص الخلقت وي او که نه وي.

او که کوچني د (۱۲۰) ورځو نه ؤ او د ماهرو ډاکټرانو کمیټې ووايي او همدا ډول د تجرباتي وسائلو په ذریعه دا خبره ښکاره کېدل چي کوچني په یو خطرناکه توګه ناقص الخلقت دئ کوم چي د علاج قابل نه دئ، نو که هغه پر خپل وخت پیدا سوي وای، نو د هغه ژوند یو بوج او د کور والاؤ له پاره یو سر درد دئ، نو په دې صورت کي د مور او پلار په غوښتنه اسقاط حمل روا دئ او اجلاس په دې اړه د والدین او ډاکټرانو څخه د الله ﷻ څخه د ېېري غوښتنه کوي. (عصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حل، ص: ۲۴۵).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مباحث: ۱/ ۳۰۶ - ۳۱۱، وکتاب الفتاوی: ۶/ ۲۲۳ - ۲۲۴، ط: زمزم). والله ﷻ اعلم.

د حمل بالزنا د اسقاط حکم

سوال: یوې ناواده سوې ښځي په غلطۍ سره زنا وکړه او د هغه څخه حامله سوه، اوس پر هغه پنځه میاشتې تېري سوي دي، نو اوس د عار (پیغور) له امله اسقاط حمل کوي، نو آیا د دې اجازه سته او که نه؟

الجواب: د فقهاؤ په آند تر څلورو میاشتو د مخکي اسقاط مختلف فیه دئ مګر په فقه اکیډمي په اجلاس کي د صحیح قول پر مطابق هغه ته هم ناروا وویل سو او تر څلورو میاشتو وروسته خو بالاجماع حرام دئ په دې کي ولد الزنا او غیر ولد الزنا فرق نه سته.

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي الذخيرة: لو أرادت إلقاء الماء بعد وصوله إلى الرحم قالوا: إن مضت مدة ينفخ فيه الروح لا يباح لها وقبله اختلف المشايخ فيه والنفخ مقدر بمائة وعشرين يوماً بالحديث.

(فتاوى الشامي:۶/ ۳۷۴، سعيد).

په جدید فقهي مباحث کي راځي:

که چیري حمل بالزنا د رضاء په درجه کي ؤ او یا بالجبر وي او پر دغه حمل څلور میاشتې تېري سي، نو په دغو حالتو کي د اسقاط حمل اجازه نه سته. (جدید فقهی مباحث: ۱/ ۳۷۳، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د زنا بالجبر له امله د اسقاط حکم

سوال: آیا د زنا بالجبر له امله اسقاط حمل روا دئ او که نه؟

الجواب: که زنا بالجبر سوې وي، نو که د کوچني اعضاوي نه وي جوړ سوي او روح پکښې نه وي، نو په دې صورت کي د اسقاط اجازه سته او که اعضاوي جوړ سوي وي او روح هم پکښې وي، نو په دې صورت کي اجازه نه سته.

په جدید فقهي مباحث کي راځي:

په دې سلسله کي خو دومره خبره ښکاره سوه که حمل که څه هم د زنا څخه وي هغه محترم شی دئ د هغه خپله هیڅ ګناه نه سته، نو له همدې امله مصنف هدایې فرمایلي دي چي د حمل بالزنا هم اسقاط روا نه دئ:

وهذا الحمل محترم لأنه لا جناية منه ولهذا لم يجز إسقاطه. (الهداية:۲/ ۳۱۲، كتاب النكاح، فصل في بيان المحرمات، والبحر الرائق:۳/ ۱۱۴، دار المعرفة، بيروت، وتبيين الحقائق:۲/ ۱۱۳).

مګر په نن عصر کي د زنا کثرت دئ نو له همدې امله که د اسقاط اجازه ورنه کړل سي، نو ډېري بي واده ښځي به له دې دولت څخه بې برخي سي، نو له همدې امله د هدايه محشي مولانا عبد الحي صاحب د هدايه په حاشيه کي ليکلي دي:

وأما في زماننا يجوز وإن استبان الخلق وعليه الفتوى. (حاشية الهداية:۲/ ۳۱۲).

د هدايې او د هغې د حاشيه په عبارت کي زما رآيه دا ده چي که چيري د زنا بالجبر له امله حمل راغلي او پر هغه څلور مياشتي تېري سوي نه وي او هغه ښځه بې واده وه، نو په دې صورت کي بايد د اسقاط اجازه ورکړل سي تر څو چي د يو غيري ارادې فعل له امله د واده څخه محرومه نه سي او که حمل بالرضاء له امله وُ او يا پر هغه څلور مياشتي تېري سوي وي، نو بيا د اسقاط حمل اجازه نه سته. (جديد فقهى مباحث: ۱/ ۳۷۳، ط: ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د سترګو عمليات د ليزر په ذريعه د کولو حکم

سوال: د يو سړي د سترګو ديد ډېر کمزوری دئ، نو هغه د ديد د راګرځول له پاره د ليزر په ذريعه عمليات کول غواړي آيا دا روا دي او که نه؟

جواب: د سترګو کمزوري د سترګو عيب دئ او د عيب د ليري کولو له پاره عمليات روا دي، نو ځکه د ليزر په ذريعه عمليات کول روا دي.

په عالمګيري کي راځي:

إذا أراد الرجل أن يقطع إصبعًا زائدةً أو شيئًا آخر قال نصير رحمه الله تعالى إن كان الغالب على من قطع مثل ذلك الهلاك فإنه لا يفعل وإن كان الغالب هو النجاة فهو في سعةٍ من ذلك. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۶۰). والله ﷻ اعلم.

د ښځي د شيدو د استعمالولو حکم

سوال: د علاج له پاره د ښځي شيدې په سترګو کي استعمالول روا دئ او که نه؟

جواب: د ښځي د شيدو د استعمالولو په اړه د علماؤ اختلاف دئ ځيني منع کوي او ځيني د ضرورت پر وخت اجازه ورکوي مګر نن سبا د سترګو د علاج له پاره ډول ډول حلالي دوا وي سته باید هغه استعمال کړي او زموږ په زمانه کي ډاکتران د ښځه په شيدو کي شفاء هم نه مني، نو ځکه باید له دغه عمل څخه ځان وساتل سي.

قال فی الدر المختار: ولبن امرأة ولو في وعاء ولو أمة على الأظهر لأنه جزء آدمی والرق مختص بالحي ولا حياة فی اللبن فلا يحله الرق. في رد المحتار: قوله على الاظهر... وأشار إلى أنه لا يضمن متلفه لكونه ليس بمال، وإلى أنه لايحل التداوی به فی العين الرمداء وفيه قولان، قيل: بالمنع وقيل: بالجواز إذا علم فيه شفاء كما فی الفتح هنا،.... (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۷۱، سعيد).

وفي فتح القدير: ولا بيع لبن امرأة فی قدح ... والا نتفاع به يحرم حتى منع بعضهم صبه فی العين الرمداء وبعضهم أجازه إذا عرف أنه دواء عند البرء. (فتح القدير:۶/ ۴۲۳).

وللاستزادة انظر: (البحر الرائق:۶/ ۸۰، كوئته، والفتاوى الهندية:۵/ ۳۵۵، ونفع المفتى والسائل).

والله ﷻ اعلم.

د چنجيانو اجزاوي د دواء په توګه د استعمال حکم

سوال: د ځمکي د حشراتو څخه يو ډول چنجي دئ هغه ته ګهونګا (سنيل، **snail**) ويل کيږي د دې چنجي اجزاوي د دواء په توګه استعمالول روا دي او که نه؟

الجواب: د حشرات الارض خوراک روا نه دئ، البته د دواء په شکل د هغو خارجي استعمال درست دئ، نو له همدې امله د داسي (**cream**) يا دواء (**ointment**) کريمو چي په هغو کي د دې چنجيانو د اجزاؤ استعمال سوي وي د خارجي استعمال له پاره روا دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذي يعيش في البر فأنواع ثلاثة : ما ليس له دم أصلًا ، وما ليس له دم سائل ، وما له دم سائل مثل الجراد والزنبور والذباب والعنكبوت ...ونحوها لا يحل أكله إلا الجراد خاصةً ؛

لأنها من الخبائث لاستبعاد الطباع السليمة إياها وقد قال الله تبارك وتعالىٰ: ﴿ ويحرم عليهم الخبائث ﴾...وكذلك ما ليس له دم سائل مثل الحية والوزغ وسام أبرص وجميع الحشرات وهوام الأرض من الفأر والقراد والقنافذ والضب واليربوع وابن عرسٍ ونحوها ، ولا خلاف في حرمة هذه الأشياء إلا في الضب فإنه حلال عند الشافعي. (بدائع الصنائع:۵/ ۳۶، سعيد). (وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۲۸۹، والطحطاوى على الدر المختار:۴/ ۱۵۵).

وفي رد المحتار: لم يذكروا حكم دودة القرمز... قلت: وفيه أنها من أعز الأموال اليوم، ويصدق عليها تعريف المال المتقوم ويحتاج إليها الناس كثيراً فى الصباغ وغيره، فينبغى جواز بيعها... مع أن هذه الدودة إن لم يكن لها نفس سائلة تكون ميتتها طاهرة كالذباب والبعوض وإن لم يجز أكلها. (رد المحتار:۵/ ۵۱، سعيد).

قال فى الدر المختار: فلو تفتت فيه نحو ضفدع جاز الوضوء به لا شربه لحرمة لحمه. (الدر المختار:۱/ ۱۸۵، سعيد).

د درمختار د عبارت څخه معلومه سوه چي خارجي استعمال روا دئ هو داخلي استعمال روا نه دئ.

په فتاوي رحيميه كي راځي:

په مچ او ميږي كي بهېدونكى وينه نه سته، نو ځكه پاک دئ مګر خوراک يې روا نه دئ خارجي استعمال روا دئ داخلي استعمال يې روا نه دئ. (فتاوى رحيميه:۶/ ۲۵).

په بهشتي زېور كي راځي:

چنجيان او نور ټول دوچي هغه حشرات چي په هغو كي وينه بهېدونكى نه سته هغه پاک دي لكه اكثره د ځمكي حشرات، نو د هغو خارجاً استعمال روا دئ، خو داخلاً د هغو استعمال درسته نه دئ پرته د ملخ څخه. (بهشتى زيور، نوان حصه، ص: ۷۷۸).

د علاج او معالجې په شرعي احكام كي راغلي دي:

که له داسي حشراتو څخه دواء جوړه سي او یا هغه په تیلو کي استعمال سي، نو د هغه دواء او تیلو استعمال خارجاً روا دئ او د دې تیلو د لګولو په حالت لمونځ کول هم روا دئ. البته داخلي استعمال یې روا نه دئ. (علاج ومعالجه کی شرعی احکام،ص: ۹۵، از مفتی انعام الحق صاحب قاسمی).

د داخلي او خارجي استعمال وضاحت:

موږ باید په دې پوه سو چي د هغو شیانو د استعمال طریقې دوې دي او د دواړو شرعي حکم جلا جلا دئ یو داخلي او یو خارجي استعمال دئ داخلي خالي حلق او یا نس ته رسولو ته ویل کیږي یعني استعمال داخلي د خوراک او چښاک نوم دئ د دې څخه پرته چي څومره طریقې دي هغه خارجي دي حتي چي په پزه کې، دواء اچول او کشول یا سوړ وهل او همدا رنګه یو لمده دواء بویې کول او په پزه کي دواې څاڅکي کول او ژوول او په خوله اوبه رغړول دا ټوله خارجي استعمال دئ په دې شرط چي حلق ته ونه رسېږي له شموم یعني د یو لمدي دواء د بویولو څخه پرته په دا نورو کي خطره ده ځکه چي دواء حلق ته رسېږي بلکي غالبه ده چي وبه رسېږي، نو ځکه عبرة للاکثر دغه د استعمال داخل په حکم کي دي، نو احتیاط ضرور په کار دئ چي د کومو شیانو استعمال داخلي روا نه دئ هغه دي په دغو طریقو سره نه استعمالوي که نه، نو که یو څه لږیې حلق ته ورسېدل، نو د حرام شي د خوړلو ګناه په غاړه سوه، لکه یو څوک چي مردار وخوري او که یو څوک احتیاط کولای سي، نو د فتوي ورکولو اجازه سته. (بهشتی زیور، نواں حصه، ص: ۷۷۲، دار الاشاعت). والله ﷻ واعلم.

د خنزیر د پوست څخه د جوړي سوي پټي حکم

سوال: موږ ته په کار وبار کي د خنزیر د پوست جوړ سوي یو ډول پټي راځي چي په هغه کي دواء وي او ډېره ژر زخم جوړ وي او د دې څخه پرته نور معالجات هم سته مګر هغه اثر نه کوي او ډېر ګران هم وي، نو آیا د دې پټي استعمال روا دئ او که نه؟

الجواب: په عامو حالاتو کي په حرامو او نجسو شیانو سره علاج روا نه دئ، نو ځکه د خنزیر د پوست څخه د جوړ سوي پټي استعمال ناروا دئ مګر که یو ماهر مسلمان ډاکټر دا مشخصه کړي چي له دې څخه پرته نور دواء علاج نه سي کولای او دا ووایي، چي بله حلاله دواء د دې مریضې له پاره کفایت نه کوي، نو بیا د مجبوري له امله د دې استعمال روا دئ:

په ردمختار کي راځي:

اختلف فی التداوی بالمحرم وظاهر المذهب المنع کما في رضاع البحر ولکن نقل المصنف ثمة وهنا عن الحاوي، وقیل: یرخص إذا علم فیه الشفاء ولم یعلم دواء آخر کما رخص فی الخمر للعطشان وعلیه الفتوی، قال الشامي: ففی النهایة عن الذخیرة یجوز إن علم فیه الشفاء ولم یعلم دواء آخر. (الدر المختار مع رد المحتار: ۱/ ۲۱۰، سعید).

په عالمګیري کي راځي:

قال أبو حنیفة رحمه الله تعالی: ولا ینتفع من الخنزیر بجلده ولا غیره إلا الشعر للأساکفة وقال أبو یوسف رحمه الله تعالی: یکره الانتفاع أیضًا بالشعر وقول أبي حنیفة رحمه الله تعالی أظهر کذا في المحیط، وإذا کان برجلٍ جراحة یکره المعالجة بعظم الخنزیر والإنسان لأنه یحرم الانتفاع به کذا في الکبری. (الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۵۴).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

که خنزیر یا سپي یا وینه لرونکی حیوان په تېلو کي پوخ سي، نو دا ناپاکه کیږي او استعمال يې روا نه دئ دغه احکام په عامو حالاتو کي دي د مجبوری حالت مستثني دئ په هغه وخت کي شریعت دناروا شیانو هم اجازه ورکوي:

په الاشباه النظائر کي راځي: الضرورات تبیح المخطورات. (الاشباه والنظائر: ۱/ ۱۱۸).

په حلال او حرام کي راځي:

د نورو ناپاکه شیانو په مقابل کي فقهاؤ د خنزیر د اجزاؤ په استعمال کي د احتیاط لاره اختیار کړې ده ځکه چي خنزیر نجس العین دئ. په بزازیه کي دي:

ویکره معالجة الجراحة بإنسان أو خنزیر لأنهما محرم الانتفاع.

زما خیال دئ چي د خنزیر د اجزاء ممانعت هغه وخت دئ چي کله یو بله ذریعه وي ځکه چي خنزیر د خپل نجاست له امله مطلق ناقابل انتفاع دئ مګر امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي، چي د څرمن یا دبل شي د سلائي له پاره د خنزیر وربښتان استعمال روا دئ او فقهاء د امام ابو حنیفه رحمه الله دغه رایه د

دلیل او مصالح شرعي په لحاظ ښکاره بولي، نو باید د انسان د نفس د حفاظت له پاره په طریقه اولی جازه ورکول سي. (حلال وحرام، ص: ۱۷۷). والله ﷻ اعلم.

د خنزیر څخه د جوړ سوي دواء حکم

سوال: یوې ښځي پنځه عملیاته کړي دي او هغه ډوډۍ نه سي خوړلای او په خوراک کي ډېر تکلیف ورته رسېږي، اوس د یو خاص دواء ضرورت سته کومه چي د خنزیر څخه جوړه سوې ده، نو په ټول ژوند کي به دغه دواء خوري، نو آیا دغسي دواء خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: په عامو حالاتو کي خو په حرامو شیانو سره علاج کول روا نه دي، نو ځکه د داسي دواء خوړلو اجازه نه سته مګر که یو ماهر او مسلمان ډاکټر دا مشوره ورکړي چي د دې دواء څخه پرته دې مریضي شفاء ممکن نه ده او یو بله حلاله دواء موجوده نه وي، نو بیا د مجبوری په ډول د دې اجازه سته.

علامه شامي رحمه الله فرمایي:

وقال: في النهاية ونصه وفی التهذيب: يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوی إذا أخبره طبيب مسلم أن شفائه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفاؤك به فيه وجهان...وما قيل: إن الاستشفاء بالحرام حرام غير مجری على إطلاقه وأن الاستشفاء بالحرام إنما لا يجوز إذا لم يعلم أن فيه شفاء أما إذا علم وليس له دواء غيره يجوز. (فتاوی الشامی:۵/ ۲۲۸، سعید). والله ﷻ اعلم.

د انسان بولي د دواء په شکل د استعمالولو حکم

سوال: محترم مفتي صاحب د انسان د بولو څخه د دواء جوړولو خبر مطلوب دي او دا هم په یاد ولره چي په ډېرو دواؤ کي د انسان او حیوان بولي استعمالیږي.

۱- (H. C. G.) د حاملې ښځي د (۱۲) هفتو په مدت کي د هغې د بولو څخه هغه ماده کومه چي په وینه کي شامله وي هغه د ماشین په ذریعه جلا کوي دغه دواء موږ د چین او جرمني څخه را غواړو.

۲- (H. M. G) كله چي ښځه نا اميدي ته ورسېږي د هغې د بولو څخه هغه د هارمون اجزاوي جلا كيږي دغه دواړه قسم دواوي د نارينه او ښځي د دواړو له پاره استعماليږي او ښځه چي بې اولاده وي د هغه له پاره هم دغه دواء ده.

۳- (F. S. H.) كله چي ښځه نا اميدي ته ورسېږي، نو د هغې د بولو څخه د هارمون اجزاء راباسي؟

الجواب: د انسان بولي نجسي دي د هغو استعمال په عامو حالاتو كي روا نه دئ ځكه چي نن سبا هر ډول دوا وي موجودي دي چي په هغو سره كار كېدلاى سي، نو ځكه له داسي ناپاكه شيانو څخه بايد پرهېز وكړل سي مګر هو كه يو ماهر مسلمان ډاكټر دا ووايي، چي د دې مريضي له پاره د دې څخه پرته په بل شي كي علاج نه سته، نو په دغه د مجبورۍ په حالت كي د ماكول اللحم د بولو څخه كار اخيستلاي سي.

په ابو داؤد شريف كي روايت دئ:

عن أبى الدرداء رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله أنزل الداء والدواء وجعل لكل داءٍ دواءً فتداووا، ولا تداووا بحرامٍ. (رواه ابو داود: ۲/ ۱۸۵، باب الادوية المكروهة).

په قاموس الفقه كي راځي:

د انسان بولي ناپاكه دي دا متفق عليه مسئله ده او پر دې خبره هم اتفاق دئ چي د كومو حيواناتو غوښي چي نه خوړل كيږي د هغو بولي هم ناپاكه دي د احنافو په آند ځكه دغه دواړه د نجاست غليظه په انواع كي دي. (قاموس الفقه: ۲/ ۳۳۷).

په نظام الفتاوي كي راځي:

د دغه حاصل خو خالي دا را ووتي چي بولي كه څه هم هغه بوي داره او ضرر رسونكي اجزاوي ورڅخه جلا كړل سي، نو پاته اجزاوي يې هم نجس العين او هم نجاست غليظه دي، نو ځكه پاته سوي اجزاوي هم نجاست غليظه او هم نجس العين دي په دې كي د تقليب ماهيت هيڅ صورت نه دئ راغلي. (نظام الفتاوى: ۱/ ۳۹۱).

مفتي تقي عثماني د العرنينو تر حديث شريف لاندي فرمايي:

د امام ابو يوسف رحمه الله مسلک دا دئ چي كه يو ماهر ډاكټر دا فيصله وكړي چي بېله تداوي بالمحرم له دې مريضي څخه بله لاره نه سته، نو په دې صورت كي تداوي بالمحرم روا ده د احنافو د

مفتي به قول پر مطابق د دې حديث توجيه دا ده چې نبي کريم ﷺ ته د وحي په ذريعه دا معلومه سوې وه چې د دوی شفاء د اوښانو په بولو کي منحصره ده، نو ځکه نبي کريم ﷺ د اوښانو د بولو د استعمالولو حکم ورکړي. (درس ترمذی: ۱/ ۲۹۲).

نو ځکه د سخت ضرورت په وخت کي د ماکول اللحم حيوان پر بولو اکتفاء کول په کار ده. والله ﷻ اعلم.

د انسان د بولې د دواء په شکل د چښلو حکم

سوال: په نژدې زمانه کي ميډيکل سائنس دا خبره ښکاره کړه چې د انسان له پاره د خپلو بولو چښل ډېره ګټه رسوي او په دې کي د ډېرو مرضونو له پاره شفاء ده حتی چې د زړه او سرطان له پاره لا هم شفاء ده، نو ځکه د لاندينو مسائلو په اړه د شريعت څه حکم دئ؟

۱-آيا د مسلمانانو له پاره د خپلو مرضونو د لېري کولو له پاره د خپلو بولو چښل روا دي او که نه؟

۲- د شديد ضرورت په وخت کي د يو مهلک مرض د لېري کولو له پاره د بولو د چښلو اجازه سته او که نه؟

۳- لکه څنګه چې وينه يو بل ته نقل کېدلای سي آيا په بولو کي داسي کېدلای سي او که نه؟

۴- د ويني په ډول بولي هم محفوظ ساتل او بانک ور ته جوړول روا دي او که نه؟

۵-آيا خپلي بولي بل ته د دواء په شکل ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: (۱) بولي نجس العين دي په عامو حالاتو کي د هغو استعمالول او چښل په هيڅ ډول روا نه دي.

۲- د شديد ضرورت په وخت کي چې د ماکول اللحم په بولو سره ضرورت رفع کيږي، نو د انسان د بولو استعمال روا نه دئ او د سائنس پوهانو دغه خبره چې بولي په هر حال کي مفيدي دي دا غلطه خبره ده، ځيني ډاکټران بغير تان خو مشت زني او لواطت هم صحي بولي نو آيا د هغوي خبره به منو هيڅکله يې نه منو.

۳- بولي د ويني په څير نقل کول روا نه دي.

۴- بېله ضرورته د بولو محفوظ ساتل روا نه دي.

۵- د ضرورت په وخت کي دي د ماکول اللحم حيوان د بولو څخه کار واخلي.

په فتاوي شامي کي راځي:

وقال: فی النهایة ونصه وفی التهذیب: یجوز للعلیل شرب البول والدم والمیتة للتداوی إذا أخبره طبیب مسلم أن شفائه فیه ولم یجد من المباح ما یقوم مقامه وإن قال الطبیب یتعجل شفاؤك به فیه وجهان...وما قیل: إن الاستشفاء بالحرام حرام غیر مجری علی إطلاقه وأن الاستشفاء بالحرام إنما لا یجوز إذا لم یعلم أن فیه شفاء أما إذا علم ولیس له دواء غیره یجوز. (فتاوی الشامی:۵/ ۲۲۸، سعید). والله ﷻ اعلم.

په نشه سره د معالجې حکم

سوال: د علم جذبات د پوهانو او نفسیاتي ماهرینو او د ماغي امراضو د معالجې د طرفه دا سوال سوي دئ چې په تنویم ورکولو سره یعني د نشې په حالت کې معالجه بالتنویم (hypnosis) روا ده او که نه؟ په دې کې ډاکټر داسي طریقه اختیار وي چې مریض داسي نشه کړي چې نه بیده وي او نه ویښ وي، نو په دې حالت کې دي د هغه په ښه هوسا توګه معالجه کولای سي او دې ته تنویم ویل کیږي دا یو بل قسم حالت دئ چې دوي یې پر مریض را ولي.

الجواب: کوم خلک چې دغه د تنویم عمل کوي هغوي ته د دې حقیقت نه معلومیږي په ښکاره دا سحر او د شیطانانو څخه پکښې مدد اخیستل کیږي، نو ځکه له دې څخه ځان ساتل په کار دي او د دې له پاره روا معالجې ډېري زیاتي دي د هغو څخه دي کار واخلي.

د تنویم حقیقت:

په المورد کې راځي:

حالة شبیهة بالنوم. النوم المغنطیسی. المعالجة بالتنویم.

د تنویم مقصد انسان آرام حالت ته وړل دي د دې حقیقت معلوم نه دئ، البته په دې سره د علاج کولو په وخت کې انسان خپل ځان په قابو کې کولای سي، په دې کې د سګرټو ډېري جذبې او همېشه مرض او دماغي امراض او توازن سالم ساتلو همدا رنګه بې خوابي او بد دلي او داسي نورو علاج کېدای سي.

په تنویم سره د علاج کولو طریقه:

په تنويم سره د علاج كولو طريقه:

په عامه توګه يو سړي چې هغه ته منوم ويل کيږي هغه يو څه الفاظ ووايي کله د موسيقۍ په ذريعه او کله په سترګه کي سترګه ور واچوي په مخصوصو اشارو سره او کله لاس په يو خاص انداز سره ورته اړ وي بيا سړي په دې سره آرامه کيږي بلکي چي انسان په خپله هم ساه واخلي او د مختلفو اعمالو په ذريعه يې حاصلولاي سي. (ملخص از انکاتها سنه ۲۰۰۹ء).

په التشريع الجنائي الاسلامي کي عبد القادر عوده ليکلي دي:

التنويم المغناطيسي: هو حالة من حالات النوم الصناعي يقع فيها شخص بتأثير يصبح النائم تحت تأثير المنوم يفعل كل ما يأمره بفعله سواء وقت النوم أو بعد اليقظة، وينفذ النائم عادة هذه الأوامر بشكل آلي فلا يشعر بما فعل تلبية للأمر الصادر إليه إذا أتى الفعل أثناء النوم، ولا يستطيع مقاومة إيحاء الآمر إذا أتى الفعل بعد اليقظة. ولم يعرف بعد بصفة قاطعة الكيفية التي يسيطر بها المنوم على النائم وإن كان البعض الأطباء يرى أن النائم يستطيع أن يقاوم الإيحاء الإجرامي.

وإذا طبقنا قواعد الشريعة على هذه الحالة وجب أن نلحقها بحالة النوم الطبيعي، ومن ثم يكون النائم مكرهاً ويرتفع عنه العقاب للإكراه إذا ارتكب جريمة من الجرائم التي يرفع فيها الإكراه العقاب. والواقع أنه يصعب إلحاق التنويم المغناطيسي بالجنون؛ لأن النوم الصناعي الذي يقع فيه النائم لا يسلبه الإدراك وإنما يسلبه فقط الاختيار....الخ. (التشريع الجنائى الاسلامى: ۲/ ۱۴۸، رقم: ۴۲۳،ط: دار الكتب العلمية).

په الموسوعه الجنائيه کي راځي:

التنويم المغناطيسى: حالة تتم عن طريق تأثير شخص قوي على شخص أضعف منه يكون في حالة وسط بين النوم واليقظة، يتم فيها طرد كل الأفكار من ذهن الشخص الآخر وإحلال الأفكار المطلوبة محلها ويكون له تأثيراً قوياً ، وهو منتشر في هذا الزمان. (الموسوعة الجنائية

الاسلامية المقارنة بالانظمة المعمول بها في المملكة العربية السعودية، لسعود بن عبد العالي، عضو هيئة التحقيق،ص: ۴۵۵).

په فتاوی اللجنة الدائمة کې راځي:

التنويم المغناطيسي ضرب من ضروب الكهانة باستخدام جني حتى يسلطه المنوم على المنوم فيتكلم بلسانه ويكسبه قوة على بعض الأعمال بالسيطرة عليه إن صدق مع المنوم، وكان طوعاً له مقابل ما يتقرب به المنوم إليه ويجعل ذلك الجني المنوم طوع إرادة المنوم بما يطلبه من الأعمال أو الأخبار بمساعدة الجني له إن صدق ذلك الجني مع المنوم، وعلى ذلك يكون استغلال التنويم المغناطيسي واتخاذه طريقاً أو وسيلة للدلالة على مكان سرقة أو ضالة أو علاج مريض أو القيام بأي عمل آخر بواسطة المنوم غير جائز. (فتاوى اللجنة الدائمة،ص: ۳۴۸، جمع وترتيب: احمد بن عبد الرزاق الدويش). والله ﷻ اعلم.

د الکحول لرونکو سینټو او دواګانو استعمال حکم

سوال: که په یو سینټو کې الکحول وي، نو د هغو استعمال روا دئ او که نه؟ او که یو چا تر لمانځه د مخه استعمال کړه، نو لمونځ اداء سو او که نه؟ او همدا رنګه د هغو دواؤ استعمال روا دئ او که نه؟

الجواب: زموږ په زمانه کې چې کوم عطور وغیره استعمالیږي په دې کې چې کوم الکحول استعمالیږي هغه د انګور او خورما څخه پرته د نورو شیانو څخه جوړ سوي وي او د شیخینو د قول پر مطابق هغه ناپاکه او حرام نه دي، نو له همدې امله د هغه اجازه سته او لمونځ هم نه په فاسدیږي مګر د دغو شیانو د استعمال څخه باید ځان وساتل سي، همدا رنګه د الکحول والا دواؤ استعمال هم روا دئ.

په تکملة فتح الملهم کې راځي:

وبهذا يتبين حكم الكحول المسكرة (Al cohols) التي عمت بها البلوى اليوم، فإنها تستعمل في كثير من الأدوية والعطور والمركبات الأخرى، فإنها إن اتخذت من العنب أو

التمر فلا سبيل إلى حلتها أو طهارتها، وإن اتخذت من غيرهما فالأمر فيها سهل على مذهب أبي حنيفة، ولا يحرم استعمالها للتداوى أو لأغراض مباحة أخرى ما لم تبلغ حد الإسكار، لأنها إنما تستعمل مركبة مع المواد الأخرى، ولا يحكم بنجاستها أخذاً بقول أبي حنيفة رحمة الله عليه.

وإن معظم الكحول التي تستعمل اليوم فى الأدوية والعطور وغيرها لاتتخذ من العنب أو التمر، إنما تتخذ من الحبوب أو القشور أو البترول وغيره، كما ذكرنا في باب بيع الخمر من كتاب البيوع، وحينئذٍ هناک فسحة فى الأخذ بقول أبي حنيفة عند عموم البلوى. والله أعلم. (تكملة فتح الملهم:۳/ ۶۰۸،ط: دار العلوم كراتشى).

علامه محمد بن بخيت المطيعي مفتي الديار المصريه رحمة الله عليه فرمايي:

وما كان مستحضراً من الثمار والحبوب والأخشاب فهو طاهر، وهذا الصنف هو الرائج والغالب استعماله فى المتجر على ما بلغنا ممن بحثوا عنه.

بقي ما لو أضافوا السبيرتو على الأدوية، وعلى الروائح العطرية كالكونيا، لإصلاحها فهل يعفى عنه؟ فنقول: أما السبيرتو المأخوذ من الأشياء الطاهرة كالحبوب والأخشاب، فالأدوية والروائح العطرية المخلوطة به طاهرة. (الفتاوى للامام العلامة محمد بن بخيت المطيعى مفتى الديار المصرية، ص ۱۹،ط: دار الصديق للعلوم).

په كتاب الفتاوي كي راځي:

په كومو سينتهو كي چي الكحول استعمال سوي نه وي د هغه په لګولو كي هيڅ پروا نه سته او په كوم كي چي استعمال سوي وي په هغه كي تفصيل دا دئ چي كه چيري دغه الكحول د انګورو او خورما څخه حاصل سوي وي، نو د شراب په حكم كي د كېدو له امله ناپاكه دي، د هغه استعمال روا نه دئ او كه دي دوؤ څخه پرته د بل شي څخه حاصل سوي وي، نو د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په آند هغه ناپاكه نه دي د هغه استعمال روا دئ. (كتاب الفتاوى:۶/ ۸۱).

په احسن الفتاوي کي راځي:

په تحقيق سره معلومه سوې ده چي نن سبا په دواء کي د انګورو او خورما د الکحول نه استعماليږي، نو څخه د شيخانو د قول پر مطابق پاک دي، نن سبا د ضرورت تداوي او د عموم بلوي له امله د شيخينو پر قول د طهارت فتوي ورکول کيږي همداسي هم د اصولي فتوي له نظره د شيخينو قول ته ترجيح ورکول کيږي الا العارض. (احسن الفتاوی: ۴/ ۹۵).

حضرت مفتي نظام الدين صاحب فرمايي:

دا خو فتوي ده او تقوي جلا خبره ده. (منتخبات نظام الفتاوی، ص: ۳۶۱).

حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي:

که چيري دغه الکحول د انګورو او کشمشو او لمدي او وچي خورما څخه نه ؤ حاصل کړي، نو په دې کي اجازه سره سره د اختلافه او که نه اجازه نه سته سره د اتفاقه. (بهشتی زیور، نوان حصه، ۱۰، وامداد الفتاوی: ۴/ ۲۰۹). والله تعالی اعلم.

د درياب د حيواناتو د وازګي د استعمالولو حکم

سوال: يو مريض ته يو ډاکټر د درياب د حيوان د وازګي د خوړلو امر کړي دئ، نو د هغه استعمال روا دئ او که نه؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي د ماهي څخه پرته ټوله د درياب حيوانان حرام دي، په عامو حالاتو د هغو خوراک ناروا دئ مګر هو که يو مسلمان ماهر ديندار ډاکټر دا ثابته کړه چي د دې مريضي علاج په دې کي دئ د دې څخه پرته په حلالو شيانو کي نه سته، نو بيا د دې اجازه سته.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوى إذا أخبره طبيب مسلم أن فيه شفائه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه. (فتاوى الشامى:۵/ ۲۲۸، سعيد). (وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۳۵۵).

وقد روى عبد الرزاق فى مصنفه (۹/ ۲۵۶/ ۱۷۱۲۴، باب الرخصة فى الضرورة) عن ابن جريج قال: سمعت عطاء يسأله إنسان نعت له أن يشترط على كبده (أى: يستخرج دماً من

جسده فوق موضع الكبد بمشرط أو غيره) فيشرب ذلک الدم من وجع كان به، فرخص له فيه. قلت: أى ابن جريج له: حرمه الله تعالى: ضرورة، قلت له: إنه لو يعلم أن فى ذلک شفاء ولكن لا يعلم.

په فتاوي محموديه كي راځي:

كه يو مسلمان ديندار ماهر ډاكټر دا ثابته كړي چي بې د خنزير د غوښي د خوړلو د دغه مريض شفاء ممكن نه ده او د دې قائم مقام حلال شي هم نه سته، نو د دې استعمالول روا دئ. (فتاوى محموديه: ۱۸/ ۳۶۱). والله ﷻ اعلم.

د طبي تجربې له پاره د انساني جسم د تشريح حكم

سوال: د دې مسئلې په اړه علماء كرام څخه فرمايې، د طبي تجربې له پاره د انساني جسم پرېكول او قطع كول روا دي او كه نه؟

الجواب: په دې مسئله كي د علماؤ اختلاف دئ ځيني علماء فرمايې، چي د انسان د عزت او تكريم د لحاظ په كولو سره د دې اجازه نه سته.

په حديث شريف كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ قال: كسر عظم الميت ككسره حياً. (رواه ابو داؤد، رقم: ۳۲۰۷، وابن ماجه، رقم: ۱۶۱۶، وغيرهما).

قال الطيبي : إشارة إلى أنه لا يهان ميتًا كما لا يهان الحى وقال ابن الملك : وإلى أن الميت يتألم، قال ابن حجرٍ : ومن لازمه أنه يستلذ بما يستلذ به الحي. قال فى الدرجات: وينا في جزء بحديث ابن منيع عن جابر رضي الله عنه قال: خرجنا مع رسول الله ﷺ حتى إذا جئنا القبر إذا هو لم يفرغ، فجلس النبي ﷺ على شفير القبر، وجلسنا معه، فأخرج الحفار عظماً ساقاً أو عضداً، فذهب ليكسرها، فقال النبي ﷺ «لا تكسرها، فإن كسرک إياه ميتاً ككسرک

إياه حياً، ولكن دسه جبانب القبر» فاستفدنا منه سبب الحدث، انتهى. (بذل المجهود:۱۰/ ۴۹۷،ط: دار البشائر الاسلامية). وينظر: (شرح الطيبى:۳/ ۳۸۷، ومرقاة المفاتيح:۴/ ۱۹۵).

په فتاوي محموديه کي راځي:

شريعت د مړو احترام هم داسي بللي دئ لکه د ژوندو احترام، نو خالي د طبي تجربې له پاره د هغو څېړل روا نه دي. (فتاوى محموديه:۱۸/ ۳۴۰).

د زيات تفصيل له پاره و ګورئ: (فتاوى محموديه:۱۸/ ۳۴۰- ۳۴۵، جامعه فاروقيه، وبهشتي زيور، نوان حصه،ص ۱۰۳،ط: دار الاشاعت).

مګر ځيني حضراتو د دې اجازه ورکړې ده:

په نظام الفتاوي کي پر صفحه (۴۵۶- ۴۵۸) تفصيلي فتوي چي د هغې خلاصه په لاندي ډول ده:

په ميډيکل کالج کي د تعليمي ضرورت له پاره پر مړي باندي جراحي عمل کول شرعاً روا دي، ځکه چي د اسلام قاعده دا ده له دوو ضررو څخه که يو تر هغه بل لوی ؤ، نو سخت ضرر د اخف ضرر په واسطه لېري کېدلای سي چي د هغه يو مثال د ښځي نس چي مړه سي د کوچني له پاره څېرل دي.

په ميډيکل پوهنتون (طب پوهنځي) کي پر يو څو مړو باندي د جراحي عمل د څو ژوندي انسانانو د حفاظت سبب ګرځېدلي دئ، نو دغه د نورو د حفاظت له پاره بلا اختلاف روا دئ او دا خبره چي د يوه کوچني د ژوند د ژغورلو له پاره پر يوه مړي باندي عمل جراحي روا دئ او زرګونو انسانانو د ژوند د حفاظت له پاره پر يو څو لاشونو باندي عمل جراحي روا نه دي، نو ځکه د الاشباه د تصريح پر بناء اسلام له نظره په دې کي هيڅ شبه نه سته چي په ميډيکل کالج کي پر لاشونو عمل جراحي کړل کيږي هغه شرعاً په حد جواز کي داخل دي.

پر دې تفصيلي فتوى د دار العلوم ديوبند پخواني مفتي حضرت سيد مهدى حسن رحمه الله فرمايي:

علم جراحي د مسلمانانو له پاره لازمي او ضروري دي او دلته دغه قاعده هم ده، ((الضرر يزال)) او ((الضرورات تبيح المحظورات))، نو د ضرورت او مجبورۍ له امله دغه د جراحي عمل روا دئ، لکه څنګه چي مجيب لبيب د دې توضيح کړې ده.

د دار العلوم صدر مفتي حضرت نظام الدين ليکلي دي: ((الجواب صحيح والمجيب نجيح))
دغه عبارت خو بېخي مضبوط دليل دئ او آيت کريمه دئ: ﴿ ولكم في القصاص حياة يا أولي الألباب ﴾او دآيت قتال اشاره هم دې طرفته ده. (منتخاب نظام الفتاوي، ص ۴۵۷ – ۴۵۸).

دا خبره دې په ياد وي چي په احسن الفتاوى (۸ / ۳۴۱) کي يې د نظام الفتاوى پر تفصيلې فتاوى رد کړى دئ.

فليراجع ثم.

فتوىٰ هيئة كبار العلماء:

صدر قرار من مجلس هيئة كبار العلماء في حكم التشريح... وظهر أن الموضوع ينقسم إلى ثلاثة أقسام:

الأول: التشريح لغرض التحقق من دعوى جنائية.

الثاني: التشريح لغرض التحقق من أمراض وبائية لتتخذ على ضوئه الاحتياطات الكفيلة بالوقاية منها

الثالث: التشريح للغرض العلمى تعلماً وتعليماً.

وبعد تداول الرأى والمناقشة ودراسة الحبث المقدم من اللجنة المشار إليه أعلاه قرر المجلس ما يلي:

... وأما بالنسبة للقسم الثالث وهو التشريح للغرض التعليمي: فنظراً إلى أن الشريعة الإسلامية قد جاءت بتحصيل المصالح وتكثيرها، وبدرء المفاسد وتقليلها وبارتكاب أدنى الضررين لتفويت أشدهما، وأنه إذا تعارضت المصالح أخذ بأرجحها وحيث إن تشريح غير الإنسان من الحيوانات لا يغني عن تشريح الإنسان، وحيث إن في التشريح مصالح كثيرة

ظهرت في التقدم العلمي في مجالات الطب المختلفة، فإن المجلس يرى جواز تشريح جثة الآدمي في الجملة إلا أنه نظرا إلى عناية الشريعة الإسلامية بكرامة المسلم ميتاً كعنايتها بكرامته حياً، وذلك لما روى أحمد وأبو داود وابن ماجه عن عائشة رضي الله عنها أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: « كسر عظم الميت ككسره حياً ». ونظراً إلى أن التشريح فيه امتهان لكرامته، وحيث إن الضرورة إلى ذلك منتفية بتيسير الحصول على جثث أموات غير معصومة، فإن المجلس يرى الاكتفاء بتشريح مثل هذه الجثث وعدم التعرض لجثث أموات معصومين والحال ما ذكر. (فتاوى اللجنة الدائمة:٥/ ٢٧١).

د اسلامک فقه اکیډمي فیصله:

المجمع الفقهي دا محسوسه کړي ده چې د انسان د وجود مسئله يو داسې ضرورت دئ چې هغه د انساني لاش پر بې حرمتي فوقیت لری، لکه څنګه چې المجمع الفقهي دا ثابتوي چې د لاندينو مقاصدله پاره د لاش جراحي عمل کېدلای سي:

جیم – د طب د تعليم او تدريس له پاره لکه څنګه چې په میډیکل کالج کي رواج دي، په دغه جراحي عمل کي چې په يو لاش باندي کوي، نو د لاندي شرائطو رعايت ساتل ضروری دي:

الف – که چيري دغه لاش د يو معلوم سړي وي، نو تر مرګ د مخه يا د ده خپله يا د وارثانو اجازه ضروري ده د معصوم الدم لاش جراحي عمل بايد بېله ضرورت څخه ونه کړل سي.

باء – دغه جراحي عمل دي په قدر د ضرورت وکړي، تر څو چې له انساني جسم سره بازي رانه سي.

جیم – که چيري دغه لاش يا جسم د ښځي وي، نو بايد ښځي ډاکټري په سره جراحي عمل تر سره کړي.

په ټولو حالاتو کي د دغه لاش تدفين ضروری دئ او واجب دئ. (عصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حل، ص: ۱۸۳).

مولانا بدر الحسن القاسمی صاحب له تفصيلي بحث څخه وروسته فرمايي:

که په دغو ټولو مسائلو کي غور او فکر وکړل سي، نو قدر مشترک دا خبره را وزي چې د عموم مصالحو په خاطر انفرادي نقصان ترک کېدلای سي، همدغه مثالونه یې پیش نظر کړی دي، موجوده زمانې فقهاء او د افتاء ورکونکو ترجیح دا ده چي په جراحي عمل کي چي کومي ګټې موجود دي، نو هغه له پاره د لاش قطع او پرېکولو ته ترجیح ورکولای سو، خاص په هغه وخت کې چي په دې سره د انساني لاش بې حرمتي مقصد نه وي، نو په دې کي هم ډېر احتیاط ضروري دئ چي په دې کي باید د هغو لاشونو استعمال وسي، چي لاوارث او غیر معصوم وي او د مسلمان لاش ته دي بېله یو لویه مجبوری څخه لاس نه وروړي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (نظام الفتاوی، ص: ۴۵۶ – ۴۵۸، وعصر حاضر کی فقهی مسائل، ص: ۷۶ – ۸۳، ط: حیدرآباد، وعصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حل، ص: ۱۸۳ – ۱۸۴، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

بېله سختې ضرورته څخه د عملیاتو حکم

سوال: آیا بېله ضرورت سختې د کوچني رایستل په اپریشن سره روا دي او که نه؟ چي کله په عامه طریقه سره ولادت ممکن وي؟

الجواب: په شریعت کي د انسان جسم محترم دئ که مړ وي او که ژوند وي، نو ځکه بېله عذره او ضرورت د دې قطع او څیرل روا نه دي، فقهاؤ په مخصوصو اعذارو کي د شق البطن اجازه ورکړې ده، په عامو حالاتو کي د دې اجازه نه سته، مګر هو که د ډاکټرانو د وینا مطابق د تاخیر ولادت له امله مور ته یو ضرر رسېدئ، نو بیا روا دي مګر کله کله ښځي د خالي د دردو د بېري له امله اپریش ته آماده کیږي داسي باید ونه سي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

في فتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى في امرأةٍ حاملٍ ماتت وعلم أن ما في بطنها حي فإنه يشق بطنها من الشق الأيسر وكذلك إذا كان أكبر رأيهم أنه حي يشق بطنها كذا في المحيط ... لابأس بقطع اليد من الآكلة وشق البطن لما فيه كذا في الملتقط. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۶۰).

(وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار:۲/ ۲۳۸، سعيد، والبحر الرائق:۸/ ۲۳۳، ط: بيروت، وبدائع الصنائع:۵/ ۱۳۰، سعيد).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

دانسان جسم په اسلام کي يو د احترام شی دئ او هغه بېله يو مقصد پرېکول او قطع کول ګناه ده او که خپله دانسان د حفاظت له پاره وي او د علاج له پاره د دې ضرورت پيدا سي، نو اجازه ده. والله ﷻ واعلم.

د سرطان د دواء خوړلو حکم

سوال: که چيري يوه ښځه د سرطان په مرض کي داسي دواء وخوري چي په هغه سره وربښتان توېږي، نو داسي دواء خوړل روا دي او که نه؟

الجواب: فقهاؤ د علاج او معالجې له پاره د ښځي د سر د خرولو اجازه ورکړي ده، نو پر دې بناء که د سرطان په دواء سره وربښتان توېږي، نو بيا هم د دواء په خوړلو کي هيڅ پروا نه سته.

وګورئ: په البحر الرائق کي راځي:

وإذا حلقت المرأة شعر رأسها فإن كان لوجع أصابها فلا بأس به. (البحر الرائق:۸/ ۲۰۵، کوئته). (وكذا فى الفتاوى الهندية:۵/ ۳۵۸، وخلاصة الفتاوى:۴/ ۳۷۷). والله ﷻ اعلم.

غير مسلم ته د مانع حمل پېچکاري لګولو حکم

سوال: آيا مسلمان ډاکټر کافري ښځي ته د مانع حمل پېچکاري ورکولای سي او که نه؟

الجواب: کافري ښځي ته د حمل مانع پېچکاري ورلګول هيڅ پروا نه لري.

په فتاوي محموديه کي راځي:

سوال: زيد يو ډاکټر دئ او هغه ته کافران د حمل مانع دواء له پاره راځي، نو زيد هغوی ته داسي دواء ورکولای سي او که نه؟

جواب: هو روا ده.... وهو ظاهر لايخفى. وفقط والله اعلم. (فتاوی محموديه:۱۸/ ۳۱۹،ط: جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د ويني ورکولو حکم

سوال: په دغه ملک يعني په افريقا کي يو تنظيم دئ چي د (national blool serui ce South african) په نامه سره مسمی دئ.

کوم چي د علاج په خاطر د صحیح المزاج خلکو څخه د وینې غوښتنه کوي بیا دغه وینه په بوتلانو کي ساتی او د ضرورت په وخت کي د مریضانو په رګو کي داخلوي او دا ډېر کامیابه علاج دئ او نن سبا دې ته ډېر ضرورت ستته، نو ځکه دغه تنظیم خواست کړی دئ چي د دې په اړه شریعت څه فیصله کوي یعني شرعاً دغه وینه اخیستل روا ده او که نه؟

الجواب: د ضرورت او حاجت په وخت کي درست او روا ده له دې څخه لازماً دغه نتیجه را وزي چي د ضرورت په وخت کي وینه ورکول هم روا دي مګر چونکه په روغتون کي د وینې ضرورت هر وخت وي، نو له همدې امله د وینې عطیه ورکول روا ده.

په فتاوی شامي کي راځي:

قال فی النهایة ونصه وفی التهذیب: یجوز للعلیل شرب البول والدم والمیتة للتداوی إذا أخبره طبیب مسلم أن شفائه فیه ولم یجد من المباح ما یقوم مقامه وإن قال الطبیب: یتعجل شفاؤک به فیه وجهان. (رد المحتار:۶/ ۲۲۸ سعید). (وکذا فی والفتاوی الهندیة:۵/ ۳۵۵).

په کفایت المفتي کي راځي:

د یو انسان وینه بل انسان ته وراچول مباح ده په هغه وخت کي چي یو مسلمان ماهر ډاکټر دا ووایي، چي شفاء یې ورسره ممکنه ده، ((لم یبح الإرضاع بعد مدته لأنه جزء آدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام)) (الدر المختار)

د در مختار د عبارت څخه معلومه سوه چي د انسان د اجزاؤ څخه بېله ضرورته نفع اخیستل حرام کار دئ یعني که ضرورت ؤ، نو بیا مباح کېدلای سي، ((وهذا لأن الحرمة ساقطة عند الاستشفاء کحل الخمر والمیتة لعطشان والجائع، رد المحتار)). (کفایت المفتی:۹/ ۱۵۴، دار الاشاعت).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د سخت ضرورت په وخت کي د ژوند د ژغورلو له پاره د وینې د نقلولو عمل روا دئ مګر د وینې خرڅول او رانیول روا نه دي او که وینه نه وه او سخته مجبوري وه، نو بیا یې د رانیولو اجازه سته، خو خرڅونکی ګناه ګار دئ. (احسن الفتاوی:۸/ ۲۷۳).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جواهر الفقه: ۷/ ۴۴– ۵۰، معارف القرآن: ۱/ ۴۲۰، وفتاوى رحيميه: ۶/ ۲۶۲، وآپ كى مسائل اور ان كا حل: ۹/ ۱۷۵).

په جديد فقهي مسائل كي راځي:

نن سبا خو هر ځاى د وينې بانكونه ولاړ دي، چې هلته په مستقله توګه وينه خرڅول او رانيول كيږي علماؤ د ضرورت په وخت كي د وينې د وركولو اجازه وركړې ده مګر د خرڅولو اجازه يې نه ده وركړې.

د وينې بانك په نن زمانه كي يو ضرورت دئ صورت حال دا دئ چې د هر سړي وينه د هر چا له پاره نه برابريږي او انسان كله كله په داسي مرض مبتلاء سي چې د هلاكېدو بېره ورسره وي او د هغه وينې ته ضرورت پيدا كيږي او د هر سړي وينه د هر چا له پاره نه برابريږي بلكي د وينې ګروپ به يې سره برابر وي د دې شخه پرته يو جسم د بل جسم وينه نه قبلوي، خو دغه د وينې بانك د پخوا شخه دئ مختلف قسم وينې جلا جلا ايږدي چې د هغه شخه په آساني سره د مريض سره مناسبه وينه اخيستلاى سي او دا مشكل دئ چې مريضي په تكليف وي او بيا له ده سره وينه برابريږي، نو ځكه دغه د وينې بانك يو طبي ضرورت جوړ سو ((الضرورت تبيح المحظورات))، نو د دې قاعدې تر ماتحت دې ته هم بايد اجازه وركول سي. (جديد فقهى مسائل: ۱/ ۳۳۵، ط: نعيميه، ديوبند). والله ﷻ اعلم.

د ماده منويه د محفوظ كولو حكم

سوال: يو سړى د سرطان په مرض اخته دئ د هغه له پاره دغه (Radiation) علاج ښودل سوى دئ، نو د ډاكټرانو وينا ده چې د دغه علاج له امله د ده پر ماده منويه اثر لوېږي او دى بې اولاده كيږي پر دې بناء د ډاكټر مشوره ده چې تر علاج د مخه صحيح ماده منويه په مني بانك (sperm bank) كي محفوظ سي، تر څو چې په آئنده كي په كار ورسي، نو آيا دغه سي عمل روا دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي د ضرورت په خاطر د ناريه ماده منويه ساتل او بيا د ښځي په رحم كي اچول په دې شرط چې د بل چا ماده ورسره ګډه نه سي كه څه هم د فطرت خلاف كار دئ، مګر د ضرورت له امله ځيني علماؤ د دې اجازه وركړې ده.

د هغو علماؤ د تحريراتو خلاصه په لاندي ډول ده:

د تمهيد په ډول عرض دئ چې د اولاد كېدو جذبه يو داسي جذبه ده چې هغه غير فطري جذبه ده كوم چې غير معمولې ده بالخصوص د ښځو په معامله كي كومه ښځي چې د اولاد شخه محرومه وى

هغه په مختلفو دماغي مرضونو اخته کيږي کله کله دغه شی د زوجينو تر منځ د سخت اختلاف باعث ګرځي چې د هغه له امله کله نا کله پر عصمت او عفت هم لويه اثر پريوزي. نو ځکه دا خبره د ځينو ښځو له پاره د حاجت درجه لري او په دې صورت کي د سرطان له امله په معتاده طريقه سره حاصلول ممکن نه دي، نو بايد په دې وجه په همدې طريقه د اولاد حاصلولو اجازه ورکول سي. مګر ځيني حضراتو ناروا بللي ده د هغوی دلائلو او جوابات په لاندي ډول دي، وګورئ:

کومو فقهاؤ چې دا ناروا بللی ده د هغو مخکي درې خبري دي:

۱- نارينه به د مشت زني په طريقه منی را خارجوي او دا روا نه دي.

۲- د نارينه يا ښځي يا کم تر کم د ښځي بې ستری راځي بېله شديد ضرورت د ډاکټرانو مخکي هم بې ستری روا نه ده.

۳- دا طريقه د فطرت خلاف کار دئ او د شريعت عام مزاج دا دئ، چې هغه خلاف فطرت کارو څخه منع کوي.

د هغو سوالونو جوابونه لاندي وګورئ:

۱- ماده منويه د مشت زني او يا عزل په طريقه را ايستل کيږي او دا ممنوع دي.

په عامو حالاتو کي فقهاؤ له مشت زني څخه منع کړې ده او په کوم ځای کي چې د ضرورت عفت وي په هغه ځای کي روا دي.

شيخ طاهر بن عبد الرشيد البخاری رحمه الله ليکلي دي:

إذا عالج ذكره حتى أمنى... ولا يحل هذا الفعل خارج رمضان إن قصد قضاء الشهوة وإن قصد تسكين شهوة أرجو أن لايكون عليه وبال. (خلاصة الفتاوی:۱/ ۲۶۰، الفصل الثالث فيما يفسد الصوم، المكتبة الرشيدية).

د مشت زنی د ممانعت اصل حکمت:

په دې کي د ماده حيات ضائع کول دي مګر که دغه عمل د مصنوعي توليد د عمل له پاره وکول سي، نو په دې کي د ژوند جوهر کارګر او ميوه داره جوړل دي، نو ځکه دغه صورت د مشت زني په ممنوعه صورتو کي داخل نه دئ.

۲- د سختي مجبوری څخه پرته په دې کي بې پردګي ده.

د دې جواب دا دئ چې فقهاؤ په داسې صورتونو کې د بې سترى اجازه ورکړې ده چې هلته داسې خاص ضرورت هم نه سته کله ولادت شخه محرومي چې هغه ځيني وختونه د ځينو مرضونو سبب جوړېږي.

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

قد روي عن أبي يوسف رحمه الله تعالى أنه إذا كان به هزال فاحش وقيل له أن الحقنة تزيل ما بك من الهزال فلا بأس بأن يبدي ذلك الموضع للمحتقن وهذا صحيح فإن الهزال الفاحش نوع مرض يكون آخره الدق والسل. (المبسوط للامام السرخسى:١٠/ ١٥٦، كتاب الاستحسان، النظر الى العورة).

ضرورت خو څه کله کله د سنت او مباح کار له پاره هم شريعت د بې سترى اجازه ورکړې ده لکه مثلاً د نارينه سنتي سنت ده او د ښځې هغه مباح ده بيا هم شريعت د ضرورت په دائره کې شمارل کړې ده او د بې سترى اجازه يې ورکړې ده.

علامه علاؤ الدين سمرقندى رحمه الله فرمايي:

ولايباح النظر والمس إلى مابين السرة والركبة إلا في حالة الضرورة بأن كانت المرأة ختانة تختن النساء. (تحفة الفقهاء:٣/ ٣٣٤، كتاب الاستحسان).

همدا رنګه ډېر پنډ والى نه حاجت دئ او نه ضرورت، نو هلته فقهاؤ د حقنې لګولو اجازه ورکړې ده.

وګورئ: خلاصه الفتاوى کې راځي:

لابأس بالحقنة لأجل السمن هكذا روي عن أبي يوسف. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٣٦٣، كتاب الكراهية، الفصل الخامس فى الاكل،ط: المكتبة الرشيدية).

دغه طريقه د بې اولاده له پاره يو علاج دئ او په دې کې شک نه سته چې فقهاؤ انساني مسائل پر درو خانو تقسم کړي دي:

١- حاجت.

٢- ضرورت.

۳- تحسین او ممنوع ته یې په هغه وخت کي اجازه ورکړې ده چي ضرورت او حاجت د هغه د اجازې تقاضاء کوي مګر له فقهي جزئیاتو څخه معلومیږي چي د علاج او معالجې په باب کي فقهاؤ د ډېر وسعت څخه کار اخیستي دئ، نو ځکه د اولاد څخه محرومه خاوند او ښځه د هغه د حصول فطری جذبه او طبعې دعوه کوي چي د هغه له پاره خاوند د نارینه او ښځه د ښځینه ډاکټر په مخ کي ستر ښکاره کولای سي.

۴- دا خلاف فطرت طریقه ده: د دې جواب دا دئ چي د فطري ضرورت او تقاضاء د پوره کولو له پاره داسي غیر فطري صورت اختیارول چي د هغه پر ممانعت نص نه وي وارد سوي روا دئ مثلاً د کوچني د ولادت اصل لاره د ښځي شرمګاه ده مګر که ضرورت وي، نو دا پریشن اجازه سته، نو ځکه دلته هم د مجبورۍ په درجه کي باید دغه غیر فطری عمل ته اجازه ورکول سي.

د ثبوت نسب حکم:

د ثبوت نسب له پاره خالي د خاوند نطفه ضروري ده چي هغه په حامله سي او دا ضروري نه ده چي هغه په جسماني توګه د هغې سره مباشرت وکړي، نو له همدې امله بېله وطی هم په استقرار حمل سره د خاوند او ښځي تر منځ نسب ثابتیږي چي د هغه مثال په لاندي ډول دئ:

رجل وطي جارية في ما دون الفرج فأنزل فأخذت الجارية ماءه في شيءٍ فاستدخلته في فرجها فعلقت عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى، أن الولد ولده وتصير الجارية أم ولدٍ له ، كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية:۴/ ۱۱۴، الباب الرابع عشر فی دعوی النسب).

د دې خلاصه دا سوه چي د نارینه ماده منویه د مذکوره ضرورت پر بناء محفوظ ساتل روا دي، په دې شرط چي د بل له مادې سره اختلاط را نه سي او دغه آساني نن سبا په بانکو کي سته د هر یوه له پاره جلا ځای وي، نو یو د بل سره نه ګډیږي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (عصر حاضر کی پیچیده مسائل:۲/ ۵۴۷- ۵۴۸، وجدید مسائل کا شرعی حل،ص: ۲۰۹- ۲۱۴، وعصر حاضر کی فقهی مسائل،ص: ۵۹- ۶۴، از مولانا بدر الحسن قاسمی، ط: حیدرآباد، وعصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حال، ص: ۱۶۲- ۱۶۵،ط: ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د نارینه له پاره د ښځو د علاج کولو حکم

سوال: مسلمانه ښځه په نارینه ډاکټر سره علاج کولای سي او که نه؟ همدا رنګه مسلمانه ډاکټره د نارینۀ علاج کولای سي او که نه؟

الجواب: د نارینه او ښځي مسائل جلا جلا دي او په هر ځای کي ډاکټر او ډاکټره په آساني سره پیدا کېدلای سي، نو ځکه په خپلو مخصوصو علاجونو کي دي، نارینه نارینه او ښځه ښځي ته رجوع وکړي ځکه چي نظر الجنس الی الجس أخف دئ همدا رنګه د ولادت متعلق معالجاتو کي دي ښځه په ښځه ډاکټره معالجه وکړي بېله ضرورته نارینه ته ورتګ روا نه دئ مګر هو د ضرورت په وخت کي یو د بل علاج کولای سي.

وګورئ: په عالمګیري کي راځي:

امرأة أصابتها قرحة في موضعٍ لا يحل للرجل أن ينظر إليه لا يحل أن ينظر إليها لكن تعلم امرأةٌ تداويها ؛ فإن لم يجدوا امرأةً تداويها ، ولا امرأةً تتعلم ذلك إذا علمت وخيف عليها البلاء أو الوجع أو الهلاك ، فإنه يستر منها كل شيءٍ إلا موضع تلك القرحة ، ثم يداويها الرجل ويغض بصره ما استطاع إلا عن ذلك الموضع ، ولا فرق في هذا بين ذوات المحارم وغيرهن ؛ لأن النظر إلى العورة لا يحل بسبب المحرمية ، كذا في فتاوى قاضي خان . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٣٠). (وكذا فى فتاوى الشامى:٦/ ٣٧١، سعيد، والاختيار:٤/ ١٥٤، والموسوعة الفقهية الكويتية:٧/ ٧٧).

په البحر الرائق کي راځي:

والطبيب إنما يجوز له ذلك إذا لم يوجد امرأة طبيبة فلو وجدت فلا يجوز له أن ينظر لأن نظر الجنس إلى الجنس أخف وينبغي للطبيب أن يعلم امرأةً إن أمكن وإن لم يمكن ستر كل عضوٍ منها سوى موضع الوجع ثم ينظر ويغض ببصره عن غير ذلك الموضع إن استطاع لأن ما ثبت للضرورة يتقدر بقدرها. (البحر الرائق:٨/ ٢١٨،ط: بيروت). (وكذا فى المبسوط للامام السرخسى:١٠/ ٢٦٩، والمبسوط للامام محمد:٣/ ٦٧، ط: ادارة القرآن، وبدائع الصنائع:٥/ ١٢٤، سعيد،

والدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۳۷۰- ۳۷۱، سعید، واللباب فی شرح الکتاب:۱/ ۴۱۱، دار الکتاب العربی).

په آپ کي مسائل اور آن کا حل کي ليکل سوي دي:

د مريضي پايوازي خوښه خبره ده مګر له نامحرمو خلکو سره بې حجابه ګرځېدل تر دې لوی وبال دئ، نو د ښځو پايوازي بايد ښځي وکړي او د نارينه خدمت بايد ښځه ونه کړي.

په يو بل ځای کي ليکل سوي دي:

چي د نارينه د مرهم پټي او پانسمان او پايوازي له پاره بايد نارينه مقرر سي د نامحرمو ښځو ځخه دغه خدمت روا نه دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۸/ ۶۶).

په يو بل ځای کي ليکل سوي دي:

☆ د ډاکټر له پاره د ښځي علاج د ضرورت په وخت کي روا دئ.

☆ که يوه ډاکټره معالجه پيدا سي نو په هغې علاج کول ضروری دي.

☆ که يو ښځه ډاکټره پيدا نه سي، نو نارينه ډاکټر دي د شرمګاه د علاج له پاره يو ښځي ته ووايي، او په خپله دي نه کوي او که يو ښځي ته ويل هم ممکن نه ؤ او د مريضي ښځي د هلاکت يا د سخت تکليف ېره وه، نو لازمه ده چي د تکليف د ځای ځخه پرته ټول بدن پټ کړي او معالج ته وويل سي چي له نور بدن ځخه چي څومره ممکن وي غضي بصر وکړي، (نظر دي کښته کړي).

☆ د ولادت مريضي خاص د ښځو کار دئ که چيري معامله د ښځو تر طاقت تېره وه، مثلا د آپريشن ضرورت يې ؤ او يو ښځينه ډاکټره هم نه وه چي آپريشن ور وکړي، نو د پورتينو شرائط په چوکاټ کي نارينه عمليات ور کولای سي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۸/ ۴).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (عصر حاضر کی پیچیدہ مسائل کا شرعی حل،ص: ۱۵۱- ۱۵۲).والله ﷻ اعلم.

ډاکټر ته د مريض د عيب د ښکاره کولو حکم

سوال: يو د ايډز مريض پر ډاکټر ټينګار وکړي چي ته زما د مرض په اړه چا ته مه وايه، نو اوس ډاکټر د دغه مرض په اړه چا ته ويلای سي او که نه؟ او همدا رنګه په کوم ځای کي ويل په کار دي او په کوم ځای کي يې ويل روا نه دي؟

الجواب: په شریعت کي د راز داري خورا لوی اهمیت دئ او د هغه ترغیب راغلی دئ او د دې پر خلاف د راز د ښکاره کولو مذمت راغلی دئ ډاکټر د خپل مریض راز داره وي، نو د هغه شرعي اخلاقي او فني ذمه داري ده چي د خپل زیر علاج مریض راز ښکاره نه کړي چي په هغه سره یا مریض ته نقصان رسیږي او یا په کور او کلي کي د بدنامي ذریعه وي.

په حدیث شریف کي راځي:

عن عقبة بن عامر رضي الله عنه قال: إني سمعت رسول الله ﷺ يقول: من رأى عورة فسترها كان كمن أحيا موءودة. (رواه ابو داود، رقم: ۴۸۰۳، واحمد والبیهقی فی سننه الکبری:۸/ ۳۳۱).

مګر که په مریض کي یو داسي هلاکونکی مرض ؤ چي د هغه په پټ ساتلو کي د یو فتنې خطره وي او یا اجتماعي مفاد په خطر کي لویږئ، نو په دې وخت کي د راز ښکاره کول د اخلاقي طب خلاف کار نه دئ بلکي بعینیه د مصلحت تقاضاء ورته ویل کیږي.

په در مختار کي راځي: تباح غيبة مجهول ومتظاهر بقبيح ولمصاهرة. (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۴۰۸، ۴۰۹، سعید).

همدا رنګه که په هلک کي یو داسي عیب وي که چیري هغه د انجلۍ کورنۍ ته معلوم سي، نو هغوی به پر نکاح راضي نه سي او هغوی له دغه ډاکټر څخه تحقیق وکړي نو پر هغه لازمه ده چي د دغه عیب تفصیل ورته ووایي، هو له خپله ځانه ویل ضروري نه دي.

همدا رنګه نارینه او ښځه تر نکاح د مخه دواړه ډاکټر ته د معاینې له پاره ولاړل، نو پر ډاکټر لازمه ده چي کوم تحقیق وي هغه صحي ورته بیان کړي او کوم عیب چي وي د هغه ښه تفصیل ورته بیان کړي: ((ويجب على المشاور أن لايخفي حاله بل يذكر المساوى التي فيه بنية النصيحة)).

(ریاض الصالحین، ص: ۵۸۱، باب مایباح من الغیبة).

همدا رنګه که یو سړي په یو مهلک او متعدي یعني اخیستونکی مرض اخته ؤ مثلاً ایډز وغیره، نو اوس که هغه مریض ټول هغه تدابیر اختیار کړي مثلاً د خپلي ښځي څخه جلا والی، نو بیا د راز د ښکاره کولو ضرورت نه سته او که د ډاکټر دا یقین وي چي د هغه مریض د ټولو تدابیرو پابند نه دئ، نو د هغه کورنۍ ته دي د مصلحت په خاطر خبر ورکړي.

همدا رنګه كه له دغه مرض څخه كورنۍ يا نورو متعلقينو ته د ضرر رسېدو بېره وه، نو پر ډاكټر لازمه ده چې كورنۍ يې په دغه مرض خبره كړي او دمريض پر خبره دي عمل نه كوي:

يتحمل الضرر الخاص لدفع ضرر العام مثلاً الحائط المتوهن إذا كان في الطريق فإنه يجب نقضه على مالكه دفعاً للضرر العام. (شرح القواعد الفقهية،:۱۹۷).

قال الإمام الصنعاني في سبل السلام شرح بلوغ المرام:

واعلم أنه قد استثنى العلماء من الغيبة أموراً ستة....

الذى ليـــــس بغيبة في ستة ☆ متظلم ومعرف ومحذر

ولمـــظهر فسقاً ومستفت ومن ☆ طلب الإعانة فى إزالة منكر

(سبل السلام شرح بلوغ المرام:۴/ ۳۷۰، باب الترهيب من مساوى الاخلاق،ط: دار الكتاب العربى).

ديو چاعيب بيانول په شپږو ځايو كي غيبت نه دئ د ظلم دفرياد كونكى او د تعارف كونكى لكه اعمش او د بېرونكى او ساتونكى له پاره او د فسق او فجور ښكاره كونكى له پاره او د سوال كونكى له پاره كوم څوک چې د شريعت خلاف كار له پاره ماتونكى وي او مدد او كومک طلب كړي دا په (۳) لمبر مسئله كي داخل دي.

په نئى مسائل اور علمائى هند كى فيصلى كي رائحي:

۴- د ايډز د مريض دا اخلاقي ذمه داري ده چي هغه خپله كورنۍ او يا خپل انډيوالان په دې مرض خبر كړي او خپله دي هم داحتياطي تدابيرو لحاظ وكړي.

۵- دايډز مريض كه چيري پر ډاكټر ددې خبري ټينګار وكړي چي څوک خبر نه كړي او د ډاكټر په رايه كي د هغه كورنۍ او انډيوالانو ته ضرر رسېږي نو د ډاكټر ذمه داري ده چي محكمه صحت (د صحت رياست او يا وزات) او د دغه متعلقينو ته خبر وركړي.(نئى مسائل اور علمائى هند كى فيصلى،ص: ۱۴۵).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهى مسائل:۵/ ۴۰- ۵۴، نئى مسائل اور علمائى هند كى فيصلى،ص: ۱۴۵- ۱۴۶). والله ﷻ اعلم.

د تعدیه مرضونو او ایډز متعدي کېدل

سوال: ((الاعدویٰ ولا طیرة)) که دغه حدیث ښخه معلومه سوه چي مرضونه له یوه ښخه بل ته نه نقل کیږي نو بیا ایډز ښنګه متعدي سو؟

الجواب: د دې مختلف جوابونه دي:

۱- ((لاعدوی فی کل مرض))، یعني په هر مرض کي تعدي نه سته هو ځیني مرضونه متعدي کیږي نبي کریم ﷺ وفرمایل: ((فر من المجذوم فرارک من الاسد)) چي د خاربښي ښخه داسي وتښتئ لکه د زمري ښخه.

۲- حضرت شیخ ابو الفتاح ابو غده رحمه الله وفرمایل، چي دلته نفی د نهی په معنا ده لکه ((فلا رفث ولا فسوق ولا جدال فی الحج)) یعني تاسو فحش خبري فسق او جنګ په حج کي مه کوي، نو معنا یې دا سوه چي متعدي مرضونه مه متعدي کوي که مو قصداً دا کار وکړي، نو د ګناه بېره ورسره سته.

قال الشیخ عبد الفتاح: معنی هذا الحدیث الشریف عندي: (لا عدوی) أی لایعد بعضکم بعضاً، أی لیمتنع صاحب المرض المعدی عن مخالطة الأصحاء، خشیة أن یعدیهم بتقدیر الله تعالٰی، ولفظه (لا) هنا للنهی کقوله تعالٰی: ﴿فمن فرض فیهن الحج فلا رفث ولا فسوق ولا جدال في الحج﴾ أی فلا یرفث ولا یفسق ولا یجادل في أثناء قیامه بالحج. (تعلیقات الموضوعات الصغیر،ص:۴۷،ط: مکتبة المطبوعات الاسلامیة).

۳- ځیني مرضونه متعدي خو وي خو د یقین په درجه کي نه وي، نو ځکه د هغوی تعدي یقیني مه بولی لکه تبی بی دا ډېر ځله متعدي نه وي زما خپله تبی بی وه او په مدرسه کي به مي د ملګرو سره یو ځای ډوډئ خوړله په یوه غاب کي مګر یوه ته هم مرض متعدي نه سو او پر هغه ځای مي وویل ((فمن أعدی الاول)) اول ته چا مرض ورنقل کړي.

۴- كه چيري يو مرض په يقيني او يا ظني توګه متعدي وي لكه ايډز او كه لاعدوى ټولو مرضونو ته شامله سي، نو بيا يې معنا دا ده چي په مرض كي تعدي له خپله ځانه نه ده پيدا سوي بلكي دغه تاثير الله جَلَّ جَلَالُهُ پكښي ايښي ده.

۵- مرض د توكل په درجه كي نه منتقليږي او په درجه د اسبابو كي د هغه شخصه ځان ساتل په كار دي لكه مثلاً ابو بكر صديق رضي الله عنه خپل ټوله مال صدقه كړي او نبي كريم صلى الله عليه وسلم قبول كړي او حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه خپل ټول مال صدقه كړي او بني كريم صلى الله عليه وسلم قبول نه كړي ځكه چي ابو بكر صديق رضي الله عنه د توكل پر اعلى درجه كاميابه ؤ همدا رنګه د حضرت جابر رضي الله عنه په لاندني حديث شريف كي اشاره ده:

أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أخذ بيد مجذوم فأدخله معه في القصعة ثم قال: كل بسم الله ثقة بالله وتوكلاً عليه. (رواه الترمذي،رقم: ۱۸۱۷، باب ماجاء فى الاكل مع المجذوم).

۶- يو جواب دا هم وركول سوى دئ، چي د جاهليت د عقيدې پر مطابق مرضونه په هوا كېدل او منتقل كېدل به خو زموږ په زمانه او شريعت كي داسي نه دي بلكي دجرايثو او اسبابو په ذريعه كېدلاى سي چي منتقل سي، نو ((لاعدوى)) چي راغلى نو د هغې عقيدې نفي يې وكړه.

۷- شاه ولي الله رحمه الله د دې دا توجه بيان كړې ده چي كه د يو چا مرض اتفاقاً بل چا ته ورپوري سي، نو هغه د هغه شخصه د تاوان او ديت مطالبه نه سي كولاى. (حجة الله البالغه: ۲/ ۳۴۳،ط: قديمى).

له متعدى امراض څخه د احتياطي تدابيرو مثالونه:

د مظنون التعدى مرضونو څخه د حفاظتي تدابيرو مثالونه وګورئ:

۱- د بخارى شريف او مسلم شريف په روايت كي راغلى دي چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل، چي مريض اوښ دي و روغو اوښانو ته نه راوړل كيږي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يوردن ممرض على مصح. (رواه البخاري، رقم: ۵۷۷۰، ومسلم، رقم: ۲۲۲۱).

په يو بل حديث كي راغلى دي چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد وفرمايه، چي له خارش څخه داسي تښتي لكه د زمري څخه چي تښتي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ...وفر من المجذوم كما تفر من الأسد.

(اخرجه البخاری تعليقاً، باب الجذام).

د مسلم شریف په روایت کي راغلی دي چي حضرت شرید رضي الله عنه فرمايي، چي په قبيله بن ثقیف کي یو سړی خارشي هم ؤ، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه ته پيغام ور واستوئ چي ما ستا سره بیعت وکړي، نو لهذا ته بېرته وګرځه:

عن عمرو بن الشريد عن أبيه قال: كان في وفد ثقيف رجل مجذوم فأرسل إليه النبي صلى الله عليه وسلم إنا قد بايعناك فارجع. (رواه مسلم، رقم: ۲۲۳۱).

۲- په حدیث شریف کي راغلی دي چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمایل، چي له تاسو څخه یو څوک اوبه چښي او په هغو کي مچ ولوېږي، نو هغه پکښي غوټه کړي بیا دې را وکاږي ځکه چي د دغه په یوه وزر کي مرض او په بل کي شفاء ده:

عن أبو هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا وقع الذباب في شراب أحدكم فليغمسه ثم لينزعه فإن في إحدى جناحيه داءً والأخرى شفاءً. (رواه البخاری، رقم: ۳۳۲۰).

او په صحيح دابن خزيمه په روایت کي دغه زیادت موجود دئ:

وأنه يتقي بجناحه الذي فيه الداء فليغمسه كله ثم لينزعه. (صحيح ابن خزيمه، رقم: ۱۰۵).

يعني هغه خپل هغه وزر د مخه کوي چي په کوم کي مرض وي، نو ځکه هغه پوره په اوبو غوټه کړي.

۳- په حديث کي راغلی دي چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمایل، چي کله ستاسو په لوښی کي سپي وڅښي، نو په دې کي موجودي اوبه توي کړي او هغه پاک پرېولي:

عن أبى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا ولغ الكلب في إناء أحدكم فليرقه ثم ليغسله سبع مرارٍ. (رواه مسلم، رقم: ۲۷۹).

د شيخ الاسلام حضرت مولانا حسن احمد مدنی په کتاب تقرير ترمذی کي راغلی دي:

امام صاحب رحمه الله اوه واره پرېولل مستحب بولي او درې واره يې فرض بولي او د هغه پر خباثت د لاتدخل الملائکه والا روايت دلالت کوي او د ځينې بزرګانو څخه را نقل سوي دي چې په هېره سره د سپي پسخورده چنبل د انسان د زړه نور ختموي د نن سبا سائنس دا خبره ثابته کړې ده چې د سپي په لاړو کې زهر جن جراثيم موجود دي، نو تر څو چې اوه واره په اوبو او يو ځل په خاوره نه وي پرېولل سوي، نو اثر يې نه ختميږي بلکې هغه د انسان د صحت له پاره مضر دي او د لېونی سپي زهر خو ښکاره دي، خو په درې واره سره طهارت حاصليږي او اووه واره د شفاء د حاصلولو له پاره دي.

شيخ احمد شاکر رحمه الله زيات وضاحت کوي او فرمايي:

قد ظهر من البحوث الطبية الحديثة: أن وجه غسل الإناء سبعاً من ولوغ الكلب هو: أن في أمعاء الكلاب دودة شريطية صغيرة جداً طولها ۴ مليمترات. فإذا راث الكلب خرجت بويضاتها بكثرة في الرؤث، فيلصق كثير منها بالشعر الذي بالقرب من دبره، وعادة الكلب أن ينظف مخرجه بلسانه فيتلوث لسانه وفمه بها، وتنتشر في بقية شعره بواسطة لسانه أو غيره، فإذا ولغ الكلب في إناء أو قبله إنسان - كما يفعله الإفرنج ومقلدوهم - علقت بعض هذه البويضات بتلك الأشياء وسهل وصولها إلى فمه في أثناء أكله أو شربه، فتصل إلى معدته وتخرج منها الأجنة فتثقب جدار المعدة والأمعاء، وتصل إلى أوعية الدم فتحدث أمراضا كثيرة في المخ والقلب والرئة إلى غير ذلك، ولما كان تمييز الكلب المصاب بهذه الدودة عسيراً جداً، لأنه يحتاج إلى زمن طويل وبحث دقيق بالآلة التي لا يعرف استعمالها إلا قليل من الناس، كان اعتبار الشارع إياه موبوءاً والغسل من ولوغه سبع مرات إنقاء للإناء بحيث لا يعلق فيه شيء مما ذكرناه، هو عين الحكمة والصواب. (تعليق احكام الاحكام شرح عمدة الاحكام، ص ۳۰، ۳۱). (وكذا فی احکام اسلام عقل کی نظر میں، ص ۴۷).

۴ - فقهاؤ د حرمت، له اسبابو څخه یو دا سبب هم بیان کړی دئ چي هغه شی به د انسان د جسم له پاره ضرر مند نه وي که نه، نو د هغه خوراک روا نه دئ یعني د شریعت مطهره د طرف دا د جسم انساني له پاره د حفاظت احتیاطي تدبیر دئ.

په الموسوعه کي راځي:

ما يحرم أكله لأسباب مختلفة: يظهر من الاستقراء وتتبع تعليلات فقهاء المذاهب فيما يحكمون بحرمة أكله أنه يحرم أكل الشيء مهما كان نوعه لأحد أسباب خمسة:

السبب الأول : الضرر اللاحق بالبدن أو العقل: ولهذا أمثلة كثيرة: منها الأشياء السامة سواء أكانت حيوانيةً...أم كانت نباتيةً ... أم جمادیةً ... ومنها: الأشياء الضارة وإن لم تكن سامةً ، وقد ذكر منها في كتب الفقه : الطين ، والتراب ، والحجر ، والفحم، على سبيل التمثيل ، وإنما تحرم على من تضره . ولا شك أن هذا النوع يشمل ما كان من الحيوان أو النبات أو الجماد، ويعرف الضار من غير الضار من أقوال الأطباء والمجربين.

ولا فرق في الضرر الحاصل بالسميات أو سواها بين أن يكون مرضًا جسمانيا أيا كان نوعه ، أو آفةً تصيب العقل كالجنون والخبل. (الموسوعة الفقهية:٥/ ١٢٥، ط: وزارة الاوقاف).

همدا رنګه فقهاؤ فرمایلي دي، چي خاورې خوړل مکروه دي ځکه چي د هغو له امله جسم ته د یو مرض او یا خطر د رسېدلو ویره ده دا هم د یو احتیاطي تدبیر له قبیل څخه دئ.

په فتاوی هندیه کي راځي:

أكل الطين مكروه ، هكذا ذكر في فتاوى أبي الليث رحمه الله تعالى وذكر شمس الأئمة الحلواني في شرح صومه: إذا كان يخاف على نفسه أنه لو أكله أورثه ذلك علةً أو آفةً لا يباح له التناول ، وكذلك هذا في كل شيء سوى الطين ... وكراهية أكله لا للحرمة بل لتهييج الداء.

(الفتاوى الهندية:٥/ ٣٤٠).

(وكذا فى المحيط البرهانى:۵/ ۲۰۶، الفصل الثانى عشر فى الكراهية فى الاكل، ط: دار احياء التراث العربى، ونصاب الاحتساب،ص ۱۴۸، الباب العاشر فى الاحتساب فى الاكل والشرب والتداوى، ونفع المفتى والسائل،ص: ۳۷۹، ما يتعلق بالاكل والشرب، ط: دار ابن حزم). والله تعالیٰ اعلم.

کوچنیانو ته د مختلفو مرضونو د ستنو د ورلګولو حکم

سوال: نن سبا د مختلفو مرضونو څخه د خلاصون له پاره کوچنیانو ته ستني ورلګوي ځيني علماء د دې مخالف دي چې دا ضرر ناکه دي، نو آيا د شريعت د نظره د دې څه حکم دئ؟

الجواب: که چيري په تجربه سره دا خبره ثابته سوې وه چې د دغسي ستني فائدې تر ضرر ډېر ده، نو بيا يې په لګولو کي هيڅ پروانه سته هو که ضرر پکښي کي ؤ نو بيا دي نه لګوي.

حضرت مفتي کفايت الله رحمه الله فرمايي:

که ستن لګول په تجربه سره مفيده ثابته سوې وه، نو بيا روا ده. (کفايت المفتى:۹/ ۱۴۹، دار الاشاعت). والله تعالیٰ اعلم.

پر حيواناتو باندي د ميډيکل تجرباتو حکم

سوال: پر حيواناتو ميډيکل تجربات روا دي او که نه؟

الجواب: د مځکي ټول مخلوقات معدنيات، نباتات او حيوانات دا ټول له الله جل جلاله د انسان د فائدې له پاره پيدا کړي دي، نو پر دې بناء د انسان له پاره د هغوی پرېکول او کوټل بلکي د هغو سوځل او په کيمائي طريقه سره د هغو تحليل او استعمالول روا دی او د هغو څخه فائده حاصلول روا او درست ده، همدا رنګه پر حيواناتو باندي ميډيکل تجربات هم روا دي ځکه چې دا هم د فائدې يو ډول دئ:

قال الله تعالىٰ: ﴿هو الذي خلق لكم ما في الأرض جميعًا﴾ (البقرة:۲۹).

الله جل جلاله د حيواناتو فائدې په قرآن کريم کي د احسان او امتنان پر مقام ذکر کړي دي:

قال الله تعالىٰ: ﴿والله جعل لكم من بيوتكم سكنًا وجعل لكم من جلود الأنعام بيوتًا تستخفونها يوم ظعنكم ويوم إقامتكم ومن أصوافها وأوبارها وأشعارها أثاثًا ومتاعًا إلى حينٍ﴾ (النحل: ۸۰).

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

د ډېرو دواؤ د تجربې او اثراتو د معلومولو له پاره ډېر ځله حیوان استعمالیږي اول د هغوی په جسم کي داسي جراثیم داخلیږي چي دغه مرض پیدا کړي بیا دغه دوا پر هغوی ازمائي او تجربه کوي یې کوم چي د هغوی له پاره مفید ثابت کېدلای سي دغه صورتونه روا دي په دې کي هیڅ شک نه سته چي اسلام حیواناتو ته د اذیت ورکولو او هغوی د خپل تفریح شی جوړلو اجازه نه ده ورکړي مګر په بل طرف کي دغه دا تصویر هم ښکاره کړی دئ چي ټول مخلوقات د انسان د فائدې له پاره دي، نو ځکه د هغوی سپرلی او د هغوی غوښي او د هغو د څرمن څخه د کالو او د یو انسان د یو اندام د پیوند کاري له پاره د هغه د اندام اجازه ورکړل سوې ده، په دې صورتو کي بې مقصده اذیت رسونه نه ده بلکي د انسان د یو واقعي لازمي ضرورت له پاره د هغه څخه کار اخیستل کیږي، نو ځکه په دې کي هیڅ پروا نه سته. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۳۳۷).

په احسن الفتاوی کي راځي:

الله تعالی حیوانات د انسان د نفع له پاره پیدا کړی دي، نو ځکه د هغوی څخه د نفعي اخیستلو په وخت کي که هغوی ته یو څه تکلیف وي هم پروا نه لري ځکه چي د غوښو د سموالی په خاطر د حیوان خصي کول په اتفاق سره روا دي، نبي کریم ﷺ د خصي پسه اختري وکړي، د خصي کولو تکلیف تر ستني لګولو هم ډېر زیات دئ. (احسن الفتاوی: ۸/ ۲۲۳).

هو که هغه ته اذیت او تکلیف رسېدئ، نو بیا دي هغه ته داسي دواء ورکړي چي په هغه سره د هغه تکلیف کم سي او هغه په راحت سي. والله ﷻ اعلم.

د مسلمان له پاره د خنزیر د علاج کولو حکم

سوال: آیا مسلمان ډاکټر د خنزیر علاج کولای سي او که نه؟

الجواب: د مسلمان له پاره په کار ده چي بل غیر مسلم ډاکټر ته یې حواله کړي په خپله دي د هغه علاج نه ورکوي او که یو بل غیر مسلم ډاکټر پیدا نه سي، نو بیا دي پر دغه حدیث شریف باندي د عمل په نیت ورکړي، ((فی کل کبدٍ رطبةً اجر)) په هر روح لرونکی شی کي اجر او ثواب سته ځکه چي په اوبو ورکولو سره د تندي لېري کولو دي او په علاج کولو کي تکلیف لېري کول دي په ظاهره په دواړو کي څه فرق نه سته او د کافر او د ذمي د خنزیر قتل کول روا نه دي، نو ځکه هغه خنزیر واجب القتل هم نه دئ:

په بخاری شریف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ قال : بينا رجل يمشي فاشتد عليه العطش فنزل بئرًا فشرب منها ثم خرج فإذا هو بكلبٍ يلهث يأكل الثرى من العطش فقال: لقد بلغ هذا مثل الذي بلغ بي فنزل بئراً فملأ خفه ثم أمسكه بفيه ثم رقي فسقى الكلب فشكر الله له فغفر له قالوا: يا رسول الله وإن لنا في البهائم أجرًا قال: في كل كبدٍ رطبةٍ أجر. (صحيح البخارى: ١/ ٣١٨، رقم: ٢٣٦٣، باب فضل سقى الماء).

په عمدة القاري كي رائحي:

وقال الداودي: هذا عام في جميع الحيوانات وقال أبو عبد الملك هذا الحديث كان في بني إسرائيل وأما الإسلام فقد أمر بقتل الكلاب فيه وأما قوله في كل كبد فمخصوص ببعض البهائم مما لا ضرر فيه لأن المأمور بقتله كالخنزير لا يجوز أن يقوى ليزداد ضرره وكذا قال النووي رحمه الله إن عمومه مخصوص بالحيوان المحترم وهو ما لم يؤمر بقتله فيحصل الثواب بسقيه ويلتحق به إطعامه وغير ذلك من وجوه الإحسان إليه قلت: القلب الذي فيه الشفقة والرحمة يجنح إلى قول الداودي وفي القلب من قول أبي عبد الملك حزازة ويتوجه الرد على كلامه من وجوه الأول: قوله كان في بني إسرائيل لا دليل عليه فما المانع أن أحداً من هذه الأمة قد فعل هذا وكوشف للنبي ﷺ بذلك وأخبره بذلك حثاً لأمته على فعل ذلك وصدور هذا الفعل من أحد من أمته يجوز أن يكون في زمنه ويجوز أن يكون بعده بأن يفعل أحد هذا وأعلم النبي ﷺ بذلك أنه سيكون كذا وأخبره بذلك في صورة الكائن لأن الذي يخبره عن المستقبل كالواقع لأنه مخبر صادق وكل ما يخبره من المغيبات الآتية كائن لا محالة. والثاني: قوله وأما الإسلام فقد أمر بقتل الكلاب لا يقوم به دليل على مدعاه لأن أمره بقتل الكلاب في أول الإسلام ثم نسخ ذلك بإباحة الانتفاع بها للصيد وللماشية والزرع ولا

شك أن الإباحة بعد التحريم نسخ لذلك التحريم ورفع لحكمه. والثالث: دعوى الخصوص تحكم ولا دليل عليه لأن تخصيص العام بلا دليل إلغاء لحكمه الذي تناوله فلا يجوز والعجب من النووي رحمه الله أيضاً أنه ادعى عموم الحديث المذكور للحيوان المحترم وهو أيضاً لا دليل عليه وأصل الحديث مبني على إظهار الشفقة لمخلوقات الله تعالى من الحيوانات وإظهار الشفقة لا ينافي إباحة قتل المؤذي من الحيوانات ويفعل في هذا ما قاله ابن التيمي لا يمتنع إجراؤه على عمومه يعني فيسقي ثم يقتل لأنا أمرنا بأن نحسن القتلة ونهينا عن المثلة فعلى قول مدعي الخصوص الكافر الحربي والمرتد الذي استمر على ارتداده إذا قدما للقتل وكان العطش قد غلب عليهما ينبغي أن يأثم من يسقيهما لأنهما غير محترمين في ذلك الوقت ولا يميل قلب شفوق فيه رحمة إلى منع السقي عنهما يسقيان ثم يقتلان. (عمدة القاري: ۹/ ۷۶، باب فضل سقى الماء من كتاب المساقاة، ط: دار الحديث، ملتان). والله ﷻ اعلم.

په تارو سره د غاښو د تړلو حکم

سوال: د يو سړي د غاښو ښکاره شکل او صورت خراب سوی دئ او هغه ډېر مضبوط والی يې هم ختم سوي دئ، نو هغه سړي د غاښو د ښايست او د مضبوطولو له پاره غاښونه په تار تړي، نو شرعاً د دې اجازه سته او که نه؟ همدا ډول د مصنوعي غاښو لګول روا دي او که نه؟

الجواب: د غاښو تړل په تار سره او يا پوښ وراغوستل د مضبوطي له پاره روا دی هو که يوواقعي ضرورت نه وي، نو خالي د ښايست له پاره بايد ونه لګول سي:

په در مختار کي راځي:

ولايشد سنه المتحرک بذهب بل بفضة وجوزهما محمد ويتخذ أنفاً منه لأن الفضة تنتنه. وفي رد المحتار: قوله المتحرك قيد به لما قال الكرخي إذا سقطت ثنية رجل فإن أبا حنيفة رحمه الله يكره أن يعيدها ويشدها بفضة أو ذهب ...وخالفه أبو يوسف رحمه الله فقال: لا

بأس به...زاد في التاترخانية قال بشر: قال أبو يوسف رحمه الله: سألت أبا حنيفة رحمه الله عن ذلك في مجلس آخر فلم ير بإعادتها بأساً قوله وجوزهما محمد رحمه الله أي جوز الذهب والفضة أي جوز الشد بهما...قوله لأن الفضة تنتنه...وإشار إلى الفرق للإمام بين شد السن واتخاذ الأنف فجوز الأنف من الذهب لضرورة نتن الفضة لأن المحرم لايباح إلا لضرورة ...وأصل ذلك ما روى الطحاوي بإسناده إلى عرفجة بن سعد أنه أصيب أنفه يوم الكلاب في الجاهلية فاتخذ أنفاً من ورق فأنتن عليه فأمره النبي ﷺ أن يتخذ أنفاً من ذهب ففعل. (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ٣۶٢، سعيد).

په عالمگيري كي رائحي:

قال محمد رحمه الله تعالى، في الجامع الصغير: ولا يشد الأسنان بالذهب ويشدها بالفضة يريد به إذا تحركت الأسنان وخيف سقوطها فأراد صاحبها أن يشدها، يشدها بالفضة ، ولا يشدها بالذهب ، وهذا قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى، وقال محمد رحمه الله تعالى: يشدها بالذهب أيضًا...وذكر الحاكم في المنتقى لو تحركت سن رجلٍ وخاف سقوطها فشدها بالذهب أو بالفضة لم يكن به بأس عند أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله تعالى. (الفتاوى الهندية:۵/ ٣٣۶).

په كفايت المفتي كي رائحي:

د غاښو د يو خرابي له امله د زرو پوښ ور اغوندي روا دي او خالى د ښايست له پاره وراغوستل مكروه دي. (كفايت المفتى:٩/ ١۵٧، دار الاشاعت).

په فتاوى محموديه كي رائحي:

كه چيري بيله پوښه د غاښ پاته كېدل ناممكن ؤ، نو بيا د زرو پوښ ور اچول روا دي، كه د غسل په وخت كي هغه نه را خلاصيدل نو پروا نه لرى او لمونځ هم په روا دئ او د زرو په پوښ كي اختلاف دئ، نو غوره دا دي چي له دې څخه پرهېز وسي. (فتاوى محموديه:۵/ ٨٢، جامعه فاروقيه).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د مصنوعي اعضاؤ په لګولو کي هيڅ پروا نه سته لکه سترګه او غاښ او داسي نور که د هغه مقصد علاج وي او که د دې له پاره وي چي بد ښکاره نه سم. د حضرت عرفجه ﷺ روايت دئ چي هغه د سپينو زرو پزه جوړه کړه مګر په هغه کي بوئ پيدا سو، نو نبي کريم ﷺ د سرو زرو د پزي جوړلو اجازه ورکړه، همدا رنګه فقهاؤ د سرو يا سپينو زرو د غاښ اېښودلو او يا د زرو په تار سره د تړلو اجازه ورکړې ده. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۳۲۶، ط: نعیمیه دیوبند). والله ﷻ اعلم.

د ښايست له پاره د اندامو د(جراحي عمليات) حکم

سوال: انساني اندامونه مثلاً بدن مخ او داسي نور د ښايسته او مزين جوړولو له پاره جراحي عمليات کول روا دي او که نه؟ او دغه هغو عيبو ته هم شامل دي چي د يو حادثي له امله يا د ولادت يا سپين ږېرتوب له امله را منځ ته کيږي، همدا رنګه د ليزر په واسطه د جسم نرم کول روا دي او که نه؟ همدا رنګه که د سرطان له امله يو تی ختم سو، نو د غوښي او يا بل شی د لګولو څه حکم دئ؟

الجواب: په انساني اندامو داسي تصرف کول چي هغه خاص د زينت او ښايست له پاره وي روا نه دي هو د عيبونو ازاله روا ده مثلاً د مات غاښ پر ځای بل غاښ لګوی روا دي ځکه چي دغه د عيب ازاله ده همدا رنګه وتلی غاښونه برابروي هم روا دي مصنوعی غوږ او پزه لګول هم روا دی، تر څو چي عيب لېري سي مګر د غاښو تر منځ فاصله پيدا کول روا نه ده ځکه چي دا ده په خيال کي حسن دئ چي هغه ته فرضي حسن ويلای سو د حقيقت سره د دې هيڅ تعلق نه سته.

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د اسلام نقطه نظريه دا ده چي جسم د الله تعالی امانت او د تخليق اظهار دئ چي په هغه کي د يو شرعي او فطري ضرورت څخه پرته يو بدلون روا نه دئ، نو له همدې امله رسول الله ﷺ د مصنوعي وريښتانو څخه او د غاښو تر منځ د فاصلې څخه د ښايست له پاره منع کړې ده او پر هغه يې لعنت ويلي دئ او هغه يې په خلقت کي تغير بللی دئ، نو ځکه د ښايست له پاره په جسم کي دغه ډول آپريشن او تبديلي په جسم کي روا نه ده لکه څنګه چي نن سبا د پزی او تيانو په اړه کيږي.

په حديث شريف کي راځي:

لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات. (بخاری).

د الله تعالی لعنت دي وي پر هغه ښځو چې خالونه لګوي او چې ورلګوي يې او پر هغه ښځو چې وربښتان کاږي.

همدا رنګه حضرت ابو ريحانه رضی الله عنه څخه مروي دي:

أن رسول الله صلى الله عليه وسلم حرم الوشر. (نسائی:۲/ ۲۸۱).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د غاښو د نوک دار جوړولو څخه منع فرمايلی ده.

مګر هو که د عام فطرت څخه خلاف يو اندام زيات وي، مثلاً د پنځو پر ځای شپږ ګوتي، نو د آپريشن په ذريعه هغه لېرې کولای سي:

إذا أراد الرجل أن يقطع إصبعًا زائدةً أو شيئًا آخر قال نصير رحمه الله تعالى: إن كان الغالب على من قطع مثل ذلك الهلاك فإنه لا يفعل وإن كان الغالب هو النجاة فهو في سعةٍ من ذلك. (الفتاوی الهندية:۵/ ۳۶۰). (جديد فقهی مسائل:۱/ ۲۱۲). والله تعالى اعلم.

تمت بالخير

تمت الكتاب